من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

فتح الهداية

شرح

هدایة

د اول ټول پاره په آسانه معیاري پښتو
د هدایې یوه جامع شرحه

ژباړه او ترتیب

مولوي حبیب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربیه

صداقت کتبخانه
کندهار

وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ [القرآن]

فتح الهداية

پښتو شرح

هدايه

د اول ځل لپاره په آسانه معياري پښتو
د هدايې يوه جامع شرحه

د حديثونو تخريج
د متن بشپړ اعراب
صرفي تحقيق
د لغاتو حل

پر فقهي او ضروري معلوماتو
مشتمله يوه جامع مقدمه

تعيين د قول راجح
د هري جملې تر څنګ ژباړه
د عنواناتو اضافه
صورت د مسئلې

دیارلسم ټوک

باب القسامة تا كتاب الخنثى

زباړه او ترتيب:
مولوی حبيب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربيه

صداقت کتب خانه - کندهار

فهرس

كِتَابُ الْوَصَايَا

بَابٌ فِيْ صِفَةِ الْوَصِيَّةِ

فَصْلٌ فِيْ اِعْتِبَارِ حَالَةِ الْوَصِيَّةِ

بَابُ الْعِتْقِ فِيْ مَرَضِ الْمَوْتِ



بَابُ الْقَسَامَةِ

(دا) باب د قسامت (امکرر قسم اخیستلو) په بیان کې) دی

د قسامت لغوي او اصطلاحي معنى: قسامت د افعال (أَقْسَمَ) له باب څخه اسم دی کوم چې د مصدر (إِقْسَام) پر ځای مستعمل دی چې د هغه معنیٰ ده: قسم اخیستل (قسم کول). او د شریعت په اصطلاح کې د قسامت معنیٰ ده "أَيْمَانٌ مُكَرَّرَةٌ تُقْسِمُ أَهْلُ مَحَلَّةٍ وُجِدَ فِيهَا قَتِيلٌ بِهِ جِرَاحَةٌ أَوْ أَثَرُ ضَرْبٍ وَلَا يُعْلَمُ مَنْ قَتَلَهُ" په لنډه وینا: "أَيْمَانٌ يَحْلِفُهَا أَهْلُ الْمَحَلَّةِ الْمُتَّهَمُونَ بِالْقَتْلِ". مفهوم یې څرګند دی. یعني که په یو کلي او محله کې یو مقتول کس ومیندل سي چې پر هغه د زخم یا د وهلو (یعني د قتل) آثار وي او قاتل یې معلوم نه سي. نو په کومه محله کې چې هغه میندل سوی وي. په هغه محله کې به له پنځوسو (۵۰) خلګو څخه قسم اخیستل کیږي. چې هغوی به په داسي الفاظو سره قسم اخلي "بِاللّٰهِ ما قتلناه ولا نعلم له قاتلًا" چې په خدای قسم نه موږ هغه قتل کړی دی او نه موږ د هغه څه قاتل پېژنو.

د قسامت سبب: وجود القتیل. یعني مقتول پیدا کېدل (چې په یو محله او یو ځای کې مقتول کس ومیندل سي).

د قسامت رکن: له پنځوسو خلګو څخه په انفرادي توګه قسم اخیستل (چې هر فرد به جلا قسم اخلي).

د قسامت شرط: قسم اخیستونکي افراد به عاقل. بالغ او آزاد وي.

وجه د مناسبت: مخکې تېر دې د قتل. جنایت او دیت احکام بیان سول او دا ښکاره خبره ده چې ځیني وخت د قتل کونکي کس (قاتل) یقیني معلومات او خبر نه وي او صحیح درک یې نه معلومیږي چې د هغه په وجه د دیت په وجوب کې ستونزه وي او د هغه ازاله د قسامت په ذریعه کیږي. نو په دې مناسبت مصنف رَحِمَهُ الله د کتاب الدیات په اختتام کې باب القسامة هم بیان کړی دی چې په دې سره کتاب الدیات کامل او بشپړ وګرځي. (احسن الهدایه)

د قسامت بیان

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي: وَإِذَا وُجِدَ الْقَتِيْلُ فِي مَحَلَّةٍ او كله چي په يو محله كي يو مقتول پيدا سي وَلَا يُعْلَمُ مَنْ قَتَلَهُ او دا معلومه نه سي چي هغه چا قتل كړى دى اُسْتُحْلِفَ خَمْسُوْنَ رَجُلًا مِنْهُمْ نو د هغه محلې رالا له پنځوسو خلكو څخه به قسم اخيستل كيږي يَتَخَيَّرُهُمُ الْوَلِيُّ چي هغوى به [د مقتول] ولي اختياروي بِاللهِ مَا قَتَلْنَاهُ وَلَا عَلِمْنَا لَهُ قَاتِلًا [او هغوى به داسي قسم اخلي] په الله قسم! نه موږ هغه قتل كړى دى او نه موږ د هغه څه قاتل پېژنو وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: إِذَا كَانَ هُنَاكَ لَوْثٌ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي كه هلته يو قرينه موجوده وي اُسْتُحْلِفَ الْأَوْلِيَاءُ خَمْسِيْنَ يَمِيْنًا نو [د مقتول] له وليانو څخه به پنځوس قسمونه اخيستل كيږي وَيُقْضَى لَهُمْ بِالدِّيَةِ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ او [تر قسم وروسته] د دوى لپاره به پر مدعىٰ عليه د ديت فيصله كيږي عَمَدًا كَانَتِ الدَّعْوَى أَوْ خَطَأً [برابره ده] دعوىٰ د عمد وي او كه د خطاء وي وَقَالَ مَالِكٌ او امام مالك رَحِمَهُ الله فرمايي يُقْضَى بِالْقَوَدِ إِذَا كَانَتِ الدَّعْوَى فِي الْقَتْلِ الْعَمَدِ چي د قصاص فيصله به كيږي كله چي دعوىٰ د قتل عمد وي وَهُوَ أَحَدُ قَوْلَيِ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو څخه يو قول دى.

اللغات: ﴿قتيل﴾ پر وزن د فعيل په معنىٰ مفعول سره دى: قتل كړى سوى. مقتول. ﴿استحلف﴾ د استفعال له بابه د ماضي مجهولي صيغه ده: له چا څخه قسم اخيستل. ﴿لَوْث﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي چي له هغوى څخه ځيني دا دي: شبهه. قرينه (داسي قرينه [نښه] كوم چي پر يو امر او پر يو شي دلالت وكړي بغير له قطعي دليل څخه). د امام شافعي رَحِمَهُ الله وغيره په نېز د لوث مراد به په را رواني عبارت كي ذكر سي. ﴿الْقَوَد﴾ قصاص.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه يو په محله يا كوڅه كي داسي مقتول وميندل سي چي د هغه قاتل معلوم نه وي او پر هغه مقتول د قتل آثار موجود وي يعني د هغه پر بدن زخم يا د وهلو نښې وي او د مقتول ولي د هغه محلې (يا كوڅې) پر خلكو د قتل دعوىٰ وكړي چي دا تاسي قتل كړى دى. نو زموږ په نېز د مقتول ولي ته دا حق سته چي له هغه محلې والا وو څخه پنځوس كسان اختيار كړي او له هغو څخه په مذكوره الفاظو قسم واخلي كوم چي په عبارت كي ذكر سوه. تر قسم اخيستلو

وروسته د هغو له ذمې څخه قصاص ساقطيږي او د هغو پر عاقله وو ديت واجبيږي. برابره ده د قتلِ عمد دعوىٰ وي او که د قتلِ خطاء وي، په هر صورت کې زموږ په نيز همدا حکم دی.

په دې سلسله کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله رايه دا ده چې که د مقتول کس او محلې والا په هکله د قتل څه قرينه (لوث) موجود وي، نو بيا به اول د مقتول له وليانو (مدعيانو) څخه پنځوس قسمونه اخيستل کيږي او هغوی به داسې قسم اخلي چې "په الله قسم! همدې محلې والا هغه قتل کړی دی". که د مقتول وليان قسم واخلي، نو بيا پر هغه محلې والا د دوی لپاره ديت واجبيږي. برابره ده د قتلِ عمد دعوىٰ وي او که د قتلِ خطاء (د قتلِ خطاء په صورت کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله همدا يو قول دی چې ديت واجبيږي. لېکن د عمد په صورت کې د امام شافعي رَحِمَهُ الله دوه قوله نقل سوي دي چې د يوه قول مطابق قصاص او د بل قول مطابق ديت واجبيږي. او که د مقتول ولي [مدعي] له قسم څخه انکار وکړي، نو بيا به له محلې والا څخه قسم اخيستل کيږي. که هغوی قسم واخلي نو بري کيږي يعني بيا پر هغو نه قصاص سته او نه ديت، خو که محلې والا له قسم څخه انکار وکړي، نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله د يوه قول مطابق قصاص او د بل قول مطابق ديت واجبيږي او زموږ په نيز ديت واجبيږي. او که هيڅ قرينه [لوث] نه وي، نو بيا به هغه طريقه اختيارول کيږي کوم چې زموږ مذهب دی).

وقال مالك إلخ: د امام مالک رَحِمَهُ الله په نيز که د مدعي دعوىٰ د قتلِ عمد وي (يعني په هغه صورت کې کله چې مدعي [د مقتول ولي] له قسم څخه انکار وکړي. په دې صورت کې که د هغه دعوىٰ د قتلِ عمد وي)، نو مدعي چې له مدعىٰ عليهم (اهلِ محلة) څخه کوم کس اختيار کړي يا په بله وېنا دا چې پر کوم يوه دعوىٰ ثابته کړي، له هغه څخه به قصاص اخيستل کيږي. همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو څخه يو قول دی (لکه څه مخکې چې موږ ذکر کړه). (احسن الهدايه، اشرف الهدايه)

د "لَوث" وضاحت

> وَاللَّوْثُ عِنْدَهُمَا او د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز لوث [قرينه] دا ده أَنْ يَكُوْنَ هُنَاكَ عَلَامَةُ الْقَتْلِ عَلَىٰ وَاحِدٍ بِعَيْنِهِ چې هلته پر يو معيّن کس د قتل نښه موجوده وي أَوْ ظَاهِرٌ يَشْهَدُ لِلْمُدَّعِيْ مِنْ عَدَاوَةٍ ظَاهِرَةٍ يا ظاهر حال د مدعي په حق کې ګواه وي يعني [د قاتل او د مقتول تر مينځ] ظاهري دښمني وي أَوْ شَهَادَةِ عَدْلٍ يا [د قتل په هکله] د يوه عادل کس ګواهي وي أَوْ جَمَاعَةٍ غَيْرِ عُدُوْلٍ أَنَّ أَهْلَ الْمَحَلَّةِ قَتَلُوْهُ يا د څو نا عادله خلکو ګواهي وي پر دې خبره چې محلې والا وو هغه قتل کړی دی

وَإِنْ لَمْ يَكُنِ الظَّاهِرُ شَاهِدًا لَهُ او كه ظاهر حال د مدعي لپاره ګواه نه وي فَمَذْهَبُهُ مِثْلُ مَذْهَبِنَا نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب زموږ د مذهب په شان دی غَيْرَ أَنَّهُ لَا يُكَرِّرُ الْيَمِيْنَ خو هغه قسم نه مکرر كوي بَلْ يَرُدُّهَا عَلَى الْوَلِيِّ بلكې [د مقتول] پر ولي يې واپس كوي فَإِنْ حَلَفُوْا نو كه هغوى قسم واخلي لَا دِيَةَ عَلَيْهِمْ نو پر هغو [محلې والا] باندې ديت نشته.

اللغات: ﴿عداوة﴾ دښمني.

تشريح: په تېر عبارت كې چې كوم لفظ د "لَوْث" راغلى دى. دلته د هغه وضاحت كوي فرمايي چې د امام مالك او امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د "لوث" تشريح دا ده چې د هغه محلې په خلكو كې پر يو معين كس د قتل نښه (نښاني) موجوده وي په دې توګه چې د هغه پر توره د وينو اثر وي (توره يې په وينه لړلې وي) يا مثلاً د هغه د ټوپک ګولې. د مقتول تر بدن وتلې وي. يا په هغه محله كې د يو معين كس او مقتول تر مينځ عداوت او دښمني وي نو په دې حواله سره ظاهر حال د مدعي (ولي المقتول) په حق كې شاهد وي چې همدا دښمن د هغه قاتل دى. يا يو عادل كس د هغه محلې والا په خلاف د قتل ګواهي وركړي. يا يو غير عادل جماعت دا ګواهي وركړي چې همدې محلې والا د مقتول قاتلان دي. نو دا صورتونه په "لوث" (قرينه) كې داخل دي او په دې ټولو صورتونو كې به له مدعيانو (يعنې د مقتول له وليانو) څخه قسم اخيستل كيږي.

وإن لم يكن إلخ: د دې حاصل دا دى چې كه د قتل په هكله هيڅ لوث يعنې قرينه او نښه موجوده نه وي او ظاهر حال د مدعي په حق كې شاهد نه وي. نو په دې صورت كې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز هم اول به له محلې والا څخه قسم اخيستل كيږي لكه څرنګه چې زموږ په نېز هم دغه حكم دى. لېكن زموږ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله تر مينځ فرق دا دى چې كه د محلې والا شمېر پنځوسو ته نه رسيږي او پنځوس نفره نه پوره كيږي. نو زموږ په نېز به له هغو څخه مكرر قسم اخيستل كيږي تر دې چې پنځوس قسمونه پوره سي. لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز له محلې والا څخه مكرر قسم نه اخيستل كيږي بلكې د پنځوسو شمېر به د مقتول په وليانو سره پوره كول كيږي. مثلاً كه د محلې والا ټوله (۳۵) نفره وي نو د هغو سره به (۱۵) نفره د مقتول وليان يو ځاى كول كيږي او له ټولو څخه به قسم اخيستل كيږي. او تر دې وروسته زموږ په نېز پر محلې والا وو ديت واجبيږي. لېكن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز ديت ساقطيږي. (احسن الهدايه)

د امام شافعي رَحمَهُ الله دليل

لِلشَّافِعِيِّ فِي الْبُدَايَةِ بِيَمِيْنِ الْوَلِيِّ قَوْلُهُ ﷺ لِلْأَوْلِيَاءِ د قسم له ولي څخه [د قسامت] د شروع کولو په هکله د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی د مقتول وليانو ته فَيُقْسِمُ [1] مِنْكُمْ خَمْسُوْنَ أَنَّهُمْ قَتَلُوْهُ چي له تاسي څخه به پنځوس کسان دا قسم اخلي چي دوی [محلي والا] هغه قتل کړی دی وَلِأَنَّ الْيَمِيْنَ تَجِبُ عَلَى مَنْ يَشْهَدُ لَهُ الظَّاهِرُ او ځکه چي قسم پر هغه چا واجبيږي چي د هغه په حق کي ظاهر حال شاهد [ګواه] وي وَلِهٰذَا تَجِبُ عَلَى صَاحِبِ الْيَدِ په همدې وجه قسم پر قبضې والا [قابض] باندي واجبيږي فَإِذَا كَانَ الظَّاهِرُ شَاهِدًا لِلْوَلِيِّ بيا کله چي ظاهر حال [د مقتول] د ولي لپاره شاهد وي يُبْدَأُ بِيَمِيْنِهِ نو د هغه له قسم څخه به شروع کيږي وَرَدُّ الْيَمِيْنِ عَلَى الْمُدَّعِيْ أَصْلٌ لَهُ او يمين پر مدعي واپس کول د امام شافعي رَحِمَهُ الله اصل دی كَمَا فِي النُّكُوْلِ لکه [له يمين څخه] د انکار کولو په صورت کي چي دی غَيْرَ أَنَّ هٰذِهِ دَلَالَةٌ فِيْهَا نَوْعُ شُبْهَةٍ خو دا [يمين] داسي دلالت دی چي په هغه کي يو قسم شبهه ده وَالْقِصَاصُ لَا يُجَامِعُهَا او قصاص د شبهې سره نه جمع کيږي وَالْمَالُ يَجِبُ مَعَهَا حال دا چي مال د شبهې سره جمع کېدای سي فَلِهٰذَا وَجَبَتِ الدِّيَةُ په همدې وجه ديت واجبيږي وَلَنَا قَوْلُهُ ﷺ [2] او زموږ دليل د نبي ﷺ دا فرمان دی: «اَلْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِيْ وَالْيَمِيْنُ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ» بينه پر مدعي ده او قسم پر انکار کونکي دی وَفِيْ رِوَايَةٍ: «عَلَى الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ» او په يوه روايت کي دي: [چي قسم] پر مدعیٰ عليه دی وَرَوَى سَعِيْدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ او سعيد بن مسيب رضي الله عنه روايت کړی دی أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ [3] بَدَأَ بِالْيَهُوْدِ بِالْقَسَامَةِ چي نبي کريم ﷺ له يهودو څخه د قسامت [قسم اخيستلو] شروع وکړه وَجَعَلَ الدِّيَةَ عَلَيْهِمْ لِوُجُوْدِ الْقَتِيْلِ بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ او پر هغو يي ديت لازم وګرځوی. د هغو په مېنځ کي د مقتول د موجودېدلو په وجه [چي مقتول کس د هغو په

---

[1] تخريج: أخرجه الائمة الستة في كتبهم والبيهقي في السنن الكبرىٰ في كتاب القسامة، باب أصل القسامة. حديث رقم:١٦٢٣٦.

[2] تخريج: أخرجه الترمذي في كتاب الأحكام. باب ما جاء في أن البينة على المدعي واليمين على المدعى عليه، حديث رقم:١٣٢١.

[3] تخريج: أخرجه بمعناه ابن أبي شيبة في مصنفه. باب ما جاء في القسامة. حديث رقم:٢٧٨٠٦. (حسن جيد)

مینځ کي میندل سوی وو] وَلِأَنَّ الْيَمِينَ حُجَّةٌ لِلدَّفْعِ دُوْنَ الِاسْتِحْقَاقِ او ځکه چي قسم د دفع لپاره حجت دی، نه د استحقاق لپاره وَحَاجَةُ الْوَلِيِّ إِلَى الِاسْتِحْقَاقِ او د ولي ضرورت استحقاق لره دی وَلِهٰذَا لَا يَسْتَحِقُّ بِيَمِينِهِ الْمَالَ الْمُبْتَذَلَ په همدې وجه مدعي په قسم سره د خرچ کړی سوي مال نه مستحق کیږي فَأَوْلَى أَنْ لَا يَسْتَحِقَّ بِهِ النَّفْسَ الْمُحْتَرَمَةَ نو په درجه اولیٰ به هغه په قسم سره د نفسِ محترم نه مستحق کیږي.

اللغات: ﴿بدایة﴾ د فتح د باب مصدر دی: شروع کول. ﴿نکول﴾ د نصر او ضرب د باب مصدر دی: له قسم څخه انکار کول. ﴿بیّنة﴾ ګواهي. ﴿أظهُر﴾ جمع د ظَهرٌ ده: شا، ملا، او که په صله کي یې خلګ او ضمیر ذکر سي، نو معنیٰ یې ده: په مینځ کي، لکه څرنګه چي ویل کیږي: أقام بین الناس یا بینهم: د دوی په مینځ کي ودرېدی. ﴿مبتذل﴾ د افتعال د باب فاعل دی: خرچ کونکی، صرفونکی.

تشریح: مخکي ذکر سوه چي که د مقتول پر قتل یو قرینه موجوده وي، نو د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي اول به د مقتول له ولیانو څخه قسم اخیستل کیږي (یا په بله وینا دا چي د قسم شروع به د مقتول له ولیانو څخه کیږي)، نو په دې هکله د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل هغه حدیث دی کوم چي په صحاحِ سته وو کي موجود دی چي د هغه څه حصه په عبارت کي ذکر سوې ده، د هغه تفصیل دا دی چي د خیبر له کندو څخه په یو کنده (کدي) کي یو مسلمان مقتول (عبد الله بن سهل ﷺ) پروت ومیندل سو او نبي کریم ﷺ ته د هغه اطلاع ورکول سوه، نو نبي ﷺ اول د مقتول ولیانو ته وفرمایل چي تاسي پنځوس قسمونه واخلئ! او د خپل ملګري (عبد الله بن سهل) د وینې مستحق سئ، نو د مقتول ولیانو وویل چي اې د الله رسوله! د کوم شي په هکله چي موږ ته قطعي علم (خبر) نسته د هغه په باره کي موږ څنګه قسم واخلو، نو نبي ﷺ وفرمایل چي بیا به یهود (اهلِ قلیب) پنځوس قسمونه واخلي او ستاسي څخه به بري او خلاص سي، نو د مقتول ولیانو وویل چي هغوی کافران دي او د کافرانو قسم موږ څنګه قبول کړو!، نو بیا نبي ﷺ د مقتول ولیانو ته د صدقې له اوښانو څخه سل اوښان د فدیې په توګه ورکړه. په دې واقعه سره امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې توګه دلیل نیسي چي دلته نبي ﷺ د مقتول د ولیانو قسم مخکي کړی دی یعني اول یې له هغو څخه د قسم اخیستلو مطالبه کړې ده، نو ځکه د مقتول د ولیانو قسم به د محلې والا له قسم څخه مخکي کیږي.

ولأن اليمين إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دی، حاصل یې دا دی چې ظاهرِ حال د کوم چا په حق کې ګواه وي، قسم پر هغه واجبیږي، همدا وجه ده چې پر قابض قسم واجبیږي چې ظاهر حال د هغه په حق کې ګواه وي (ځکه چې شی د هغه په قبضه کې وي)، او په قسامت کې ظاهرِ حال د مدعي په حق کې ګواه وي، او مدعي د مقتول ولیان دي، نو ځکه هم پر هغو به قسم واجب وي او له هغو څخه به د قسم شروع کیږي.

وردّ اليمين إلخ: د دې حاصل دا دی چې د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز چې څرنګه یو اصل دا دی چې که محلې والا له قسم اخیستلو څخه انکار وکړي نو له مدعي څخه تر قسم اخیستلو وروسته به د دیت فیصله کیږي. نو همداسې د هغه په نېز دا هم یو اصل دی چې که د محلې والا شمېر پنځوسو ته نه رسیږي او پنځوس نفره نه پوره کیږي. نو په دې صورت کې به له محلې والا وو څخه مکرر قسم نه اخیستل کیږي بلکې، د پنځوسو شمېر به په مدعي سره یعنې د مقتول په ولیانو سره پوره کول کیږي او د هغو پر قسم به د دیت د وجوب فیصله کول کیږي (لکه مخکې چې ذکر سوه).

غیر أن هذه دلالة إلخ: او که سوال وسي چې بیا خو امام شافعي رَحِمَهُ الله ته پکار دي چې د عمد په صورت کې یې د قصاص د وجوب فیصله کړې وای، نو د دې جواب دا دی چې په یمین (قسم) سره چې پر قتل کوم دلالت قایمیږي هغه د دومره درجې دلالت او علامت نه وي چې په هغه سره قصاص ثابت سي، په همدې وجه امام شافعي رَحِمَهُ الله د قتلِ عمد په صورت کې هم دیت واجب کړی دی، نه قصاص؛ ځکه د یمین په ذریعه په ثابت سوي حکم کې څه نا څه شبهه وي او قصاص په شبهې سره ساقطیږي.

ولنا قوله ﷺ إلخ: زموږ په نېز حکم دا وو چې اول به له محلې والا (مدعیٰ علیهم) څخه قسم اخیستل کیږي، نو په دې هکله زموږ دلیل دا دوه روایتونه دي: ① "البيّنة على المدعي واليمين على من أنكر" ② او بل د حضرت سعید بن مسیّب رضي الله عنه دا روایت دی "أنّ النبي ﷺ بدأ باليهود بالقسامة إلخ". په اول روایت کې نبي کریم ﷺ د "واليمين على من أنكر" په فرمان سره په قولي توګه او په دویم روایت کې په "بدأ باليهود بالقسامة إلخ" سره په فعلي توګه له مدعیٰ علیه څخه د قسم شروع کړې ده کوم چې د دې خبرې څرګند دلیل دی چې دلته به اول له مدعیٰ علیه څخه قسم اخیستل کیږي.

ولأن اليمين إلخ: دا زموږ عقلي دليل دی. حاصل يې دا دی چې يمين (قسم) حُجتِ دافعه دی نه حُجتِ مُثبِته (يعني په قسم سره دعوی وغيره دفع کيږي. په ثابتيږي نه). او دلته مدعي (يعني د مقتول ولي) ته حُجتِ مُثبِته مدعي دی يعني هغه د قصاص يا د ديت د استحقاق او ثابتېدلو مدعي دی. حال دا چې مدعیٰ عليه پر ځان د دې استحقاق د دفع کېدلو يعني د قصاص يا ديت د نه واجبېدلو مدعي دی. نو ځکه په دې حواله سره هم قسم پر مدعیٰ عليه اصلا لازميږي او هم له هغه شخصه به قسم اخيستل مفيد وي او له مدعي شخصه به د قسم اخيستلو هيڅ فايده نه وي: ځکه کله چې د مدعي په قسم سره مال هم نه ثابتيږي يعني که مدعي د مال دعوی کړې وي نو په دې دعوی کې د هغه قسم هيڅ فايده نه کوي او په قسم اخيستلو سره مدعي د مال نه مستحق کيږي. نو هغه به د نفسِ محترم (يعني د قصاص) په درجه اولیٰ نه مستحق کيږي: ځکه چې د نفس مقام او مرتبه له مال شخه ډېره لوړه ده.

له اهلِ محله څخه د پنځوسو خلکو د اختيارولو حق چا ته حاصل دی؟

وَقَوْلُهُ يَتَخَيَّرُهُمُ الْوَلِيُّ إِشَارَةٌ او د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا قول "يتخيرهم الولی" و دې طرف ته اشاره ده إِلَى أَنَّ خِيَارَ تَعْيِينِ الْخَمْسِينَ إِلَى الْوَلِيِّ چې اله محلې څخه | څخه د پنځوسو کسانو د متعينولو اختيار ولي لره دی لِأَنَّ الْيَمِينَ حَقُّهُ ځکه چې قسم د هغه حق دی وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ يَخْتَارُ مَنْ يَتَّهِمُهُ بِالْقَتْلِ او ښکاره ده چې [د مقتول] ولي به هغه څوک اختياروي کوم چې په قتل کولو سره متهم [تورن] وممي أَوْ يَخْتَارُ صَالِحِيْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ يا ولي به د محلې والا نېکان [ديندار کسان] اختياروي لِمَا أَنَّ تَحَرُّزَهُمْ عَنِ الْيَمِينِ الْكَاذِبَةِ أَبْلَغُ التَّحَرُّزِ ځکه چې د دروغو له قسم څخه د نېکانو بچ کېدل به کامل بچ کېدل وي [يعني هغوی به په کامله توګه د دروغو له قسم څخه ځان ساتي] فَيَظْهَرُ الْقَاتِلُ نو قاتل به ښکاره سي وَفَائِدَةُ الْيَمِينِ النُّكُوْلُ او د قسم فايده [له قسم څخه] انکار کول دي [نو مطلوب به حاصل سي] فَإِنْ كَانُوا لَا يُبَاشِرُوْنَ وَيَعْلَمُوْنَ بيا که محلې والا وو قتل نه وي کړی او دوی [په قاتل] خبر وي يُفِيْدُ يَمِيْنَ الصَّالِحِ عَلَى الْعِلْمِ بِأَبْلَغَ مِمَّا يُفِيْدُ يَمِيْنُ الطَّالِحِ نو [په قاتل] په خبرېدلو باندې به د نېک کس قسم له هغه شخصه زيات فايده وکړي کوم چې د بدکاره کس قسم فايده کوي [يعني که د محلې والا په قاتل خبر وي. نو له دوی څخه د نېک کس قسم به په دې خبر باندې د بدکاره کس له قسم څخه زيات مفيد وي] وَلَوِ اخْتَارُوْا أَعْمٰی أَوْ مَحْدُوْدًا فِي قَذْفٍ او که د مقتول وليان ړوند [نابينا] يا محدود فی

القذف کس اختیار کړي جَازَ نو [هم] جائز دي لِأَنَّهُ يَمِينٌ وَلَيْسَ بِشَهَادَةٍ ځکه چې دا قسم دی او ګواهي نه ده.

اللغات: ﴿يتخير﴾ د تفعل د باب مضارع ده: اختيارول. منتخب کول. ﴿يمين﴾ قسم. ﴿تحرز﴾ د تفعل د باب مصدر دی: ځان ساتل. ډډه کول. بچ کېدل. ﴿نکول﴾ د ضرب او نصر د باب مصدر دی: له قسم څخه انکار کول. ﴿طالح﴾ د دې لفظ يوه معنیٰ ده: فاسد. بدکاره. ﴿القذف﴾ د ضرب د باب مصدر دی: د زنا تهمت لګول (پر ښځي د زنا تور لګول). ﴿محدود في﴾ هغه کس چې په دروغو پر يو چا د زنا تهمت ولګوي خو هغه ثابت نه کړی سي چې د هغه په وجه حد پرې جاري کړی سي.

﴿شهادة﴾ ګواهي.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د قسم اخيستلو لپاره چې له اهلِ محله څخه کوم پنځوس کسان اختيارول کيږي، د هغوی د متعينولو اختيار د مقتول وليانو لره دی: ځکه قسم د همدوی حق دی. ځکه چې د هغه سره د دوی د قصاص يا د ديت حق تړلی دی. لهذا په دې سلسله کي به د تعيين وغيره اختيار هم دوی لره وي: ځکه د مقتول وليان به د خپل حق د ساتلو او ترلاسه کولو لپاره داسي کسان اختياروي کوم چي په قتل سره متهم وي لکه فاسقان او پايلوچان: ځکه زياتره وخت همداسي خلک د قتل کارونه کوي، لهذا د دوی په اختيارولو سره به په قسم اخيستلو کي په آسانه توګه د قاتل درک معلوم سي. يا د مقتول وليان به د قسم لپاره د محلې ديندار خلک اختياروي: ځکه ديندار حضرات د دروغو له قسم څخه په تينګه ځان ساتي او حقيقي حال بيانوي چي په دې سره به د قاتل پته معلومه سي. او د قسم اخيستلو فايده به دا وي چي که محلې والا قسمونه واخلي يا له قسم اخيستلو څخه انکار وکړي. په دې هر يوه صورت کي به مطلوب ژر تر ژره حاصل سي او معامله به ختمه سي.

فإن كانوا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که محلې والا قتل نه وي کړی لېکن په قاتل خبر وي. نو په دې صورت کي هم د هغه محلې له ديندار خلکو څخه قسم اخيستل به زيات مفيد وي: ځکه ښکاره خبره ده چي د دیندارانو قسم به د بدکارانو له قسم څخه زيات رښتونی او پاک وي.

ولو اختاروا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د مقتول وليان يو نا بينا يا محدود في القذف کس د قسم لپاره اختيار کړي. نو دا هم جائز دي: ځکه دا قسم دی او ګواهي نه ده. او نا بينا او محدود في القذف که څه هم د ګواهی اهل نه دي. لېکن د قسم اخيستلو اهل دي.

تر قسم اخیستلو وروسته د دیت د وجوب بیان

قَالَ: وَإِذَا حَلَفُوْا فرمايي او كله چي هغوی قسم واخلي قُضِيَ عَلٰى أَهْلِ الْمَحَلَّةِ بِالدِّيَةِ نو پر محلې والا وو به د دیت فیصله کول کیږي وَلَا يُسْتَحْلَفُ الْوَلِيُّ او له ولي څخه به قسم نه اخیستل کیږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تَجِبُ الدِّيَةُ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي دیت نه واجبیږي لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] فِي حَدِيْثِ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَهْلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څکه نبي ﷺ د عبد الله بن سهل رضي الله عنه په حدیث کي فرمایلي دي «تُبَرِّئُكُمُ الْيَهُوْدُ بِأَيْمَانِهَا» چي یهود به په خپلو قسمونو سره ستاسي څخه بري سي وَلِأَنَّ الْيَمِيْنَ عُهِدَ فِي الشَّرْعِ مُبَرِّئًا لِلْمُدَّعٰى عَلَيْهِ لَا مُلْزِمًا او څکه چي په شریعت کي قسم د مدعیٰ علیه بري کونکی پېژندل سوی دی كَمَا فِي سَائِرِ الدَّعَاوٰى لکه څرنګه چي په ټولو دعوه ګانو کي دي وَلَنَا: أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ جَمَعَ [2] بَيْنَ الدِّيَةِ وَالْقَسَامَةِ فِي حَدِيْثِ ابْنِ سَهْلٍ وَفِي حَدِيْثِ زِيَادِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ او زموږ دلیل دا دی: چي نبي کريم ﷺ د عبد الله بن سهل رضي الله عنه په حدیث کي او د زید بن ابو مریم رضي الله عنه په حدیث کي د دیت او قسامت تر مینځ جمع کړې ده [یعني قسامت او دیت یې دواړه لازم کړي دي] وَكَذَا جَمَعَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بَيْنَهُمَا عَلٰى وَادِعَةَ او همدارنګه حضرت عمر رضي الله عنه پر وادعه قبیلې د دیت او قسامت تر مینځ جمع کړې ده وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: "تُبَرِّئُكُمُ الْيَهُوْدُ" مَحْمُوْلٌ عَلَى الْإِبْرَاءِ عَنِ الْقِصَاصِ وَالْحَبْسِ او د نبي ﷺ دا فرمان له قصاص او قید څخه پر بري کېدلو محمول دی وَكَذَا الْيَمِيْنُ مُبَرِّئَةٌ عَمَّا وَجَبَ لَهُ الْيَمِيْنُ او همدارنګه قسم له هغه شي څخه بري کونکی دی چي د هغه لپاره قسم واجب وي وَالْقَسَامَةُ مَا شُرِعَتْ لِتَجِبَ الدِّيَةُ إِذَا نَكَلُوْا او قسامت [قسم اخیستل] د دې لپاره نه دي مشروع سوي چي دیت واجب سي کله چي دوی [محلې والا] له قسم څخه انکار وکړي [یعني چي تر نکول وروسته د دوی لپاره دیت واجب سي] بَلْ شُرِعَتْ لِيَظْهَرَ الْقِصَاصُ بِتَحَرُّزِهِمْ عَنِ الْيَمِيْنِ الْكَاذِبَةِ فَيُقِرُّوْا بِالْقَتْلِ بلکي د دې لپاره مشروع سوی دی چي د درواغو له قسم څخه د دوی د ځان ساتلو په وجه قصاص

---

[1] تخریج: أخرجه البخاري في كتاب الأدب، باب اكرام الكبير، حديث رقم:۶۱۴۲. ومسلم في كتاب القسامة، حديث رقم:۱، ۲، ۴. (احسن الهدايه)

[2] تخریج: أخرجه البيهقي بمعناه في السنن الكبرىٰ، كتاب القسامة، باب اصل القسامة، حديث رقم:۱۶۳۵۱. (احسن الهدايه)

ښکاره سي نو دوی به د قتل اقرار وکړي فَإِذَا حَلَفُوْا نو کله چي دوی قسم واخلي حَصَلَتِ الْبَرَاءَةُ عَنِ الْقِصَاصِ نو له قصاص څخه بري کېدل [خلاصېدل] حاصل سوه ثُمَّ الدِّيَةُ تَجِبُ بِالْقَتْلِ الْمَوْجُوْدِ مِنْهُمْ ظَاهِرًا بیا دیت د هغه قتل په وجه واجبیږي کوم چي ظاهراً د دوی له طرفه موجود سوی [واقع سوی] وي لِوُجُوْدِ الْقَتِيْلِ بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ د دوی په مینځ کي د مقتول د موجودېدلو په وجه لَا بِنُكُوْلِهِمْ نه [له قسم څخه] د دوی د انکار په وجه [یعني دیت د دوی د انکار په وجه نه واجبیږي] أَوْ وَجَبَتْ بِتَقْصِيْرِهِمْ فِي الْمُحَافَظَةِ یا په ساتنه [او څارنه] کي د دوی د کوتاهي [لاپروایي] کولو په وجه دیت واجبیږي كَمَا فِي الْقَتْلِ الْخَطَإِ لکه څرنګه چي په قتل خطاء کي دي.

اللغات: ﴿حلفوا﴾ د ضرب له بابه د جمع مذکر غائب ماضي صیغه ده: قسم کول، قسم اخیستل. ﴿عُهِدت﴾ د سمع له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صیغه ده، د دې باب یوه معنیٰ ده: پېژندل. ﴿حبس﴾ د ضرب د باب مصدر دی: بندول (بندي کول)، قیدول. ﴿تقصیر﴾ د تفعیل مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: کوتاهي کول، د وس او قدرت لرلو باوجود لازم شُده کار نه کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي په کومه محله کې مقتول کس مېندل سوی وي، که د هغه محلې پنځوس کسان دا قسم وکړي چي "بالله ما قتلناه ولا نعلم له قاتلاً"، نو زموږ په نېز د هغو له ذمې څخه قصاص ساقطیږي او دیت پرې واجبیږي، او د مقتول له ولیانو څخه به قسم نه اخیستل کیږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز حُکم دا دی چي که محلې والا قسم واخلي، نو بیا له دوی څخه قصاص هم ساقطیږي او دیت هم ساقطیږي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل د عبد الله بن سهل رضي الله عنه د حدیث هغه حصه ده چي په هغه کي دا جمله مذکوره ده "تُبَرِّئُكُمُ الْيَهُوْدُ بِأَيْمَانِهَا" یعني که تاسي قسمونه نه اخلی نو بیا به یهود قسمونه واخلي او ستاسي څخه به بري سي، او ښکاره خبره ده چي برائت په همغه صورت کي ثابتیږي کله چي هغوی له قصاص او دیت دواړو څخه بري سي. نو څکه زموږ (د امام شافعي) په نېز په مذکوره صورت کي نه قصاص واجبیږي او نه دیت واجبیږي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دی چې په شريعت کې چې په کومو ځايو کې له مدعیٰ عليه شخصه قسم اخيستل کيږي هلته تر قسم وروسته مدعیٰ عليه بري کول کيږي او تر قسم وروسته پر مدعیٰ عليه هيڅ شی نه لازمول کيږي. نو ځکه په قسامت کې به هم مدعیٰ عليه تر قسم وروسته د مدعي له دعوې او مطالبې شخصه بري کول کيږي او پر هغه به ديت نه واجبيږي.

ولنا إلخ: زموږ مذهب ذکر سو چې کله محلې والا قسم واخلي نو له هغو شخصه قصاص خو ساقطيږي ليکن ديت پر هغو واجب پاتيږي. نو په دې هکله زموږ نقلي دليلونه دا حديثونه دي:

①... د عبد الله بن سهل رضي الله عنه حديث چې په هغه کې نبي ﷺ دا جمله فرمايلې ده "أَتَحْلِفُوْنَ خَمْسِيْنَ يَمِيْنًا وَتَسْتَحِقُّوْنَ دَمَ صَاحِبِكُمْ" او بيا د همدې په آخر کې دي "فَوَدَاهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِمِائَةٍ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ" چې تر قسم وروسته نبي کريم ﷺ د مقتول وليانو ته د صدقې سل اوښان په ديت کې ورکړه.

②... دويم دليل د زياد بن ابو مريم رضي الله عنه هغه حديث دی چې په هغه کې نبي ﷺ ديت او قسامت سره جمع کړي دي.

③... دريم دليل هغه واقعه ده کوم چې د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې د "همدان" قبيلې په يو ښاخ "وادعه" کې پېښه سوې وه او په هغه کې حضرت عمر رضي الله عنه ديت او قسامت سره جمع کړه. له دې دريو دليلونو شخصه دا خبره ښکاره سوه چې د قسامت او ديت اجتماع ممکنه ده او د نبي ﷺ په زمانه کې داسې سوي دي. نو ځکه تر قسامت (قسم اخيستلو) وروسته به پر محلې والاوو ديت واجبيږي.

وقوله ﷺ إلخ: د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل د عبد الله بن سهل رضي الله عنه د حديث دا جمله وه "تُبْرِئُكُمُ الْيَهُوْدُ" او برائت همغه وخت ثابتيږي چې له دې شخصه برائت عن الدية هم مراد سي. نو د دې په جواب کې فرمايي چې له دې شخصه برائت عن الدية مرادول صحيح نه دي. بلکې دا حديث له قصاص او قيد شخصه پر بري کېدلو محمول دی (چې يهود په قسمونو سره له قصاص او بند شخصه بري سي). او له ديت شخصه د بري کېدلو په هکله حديث ساکت دی. نو ځکه موږ وايو چې تر قسم وروسته محلې والا له ديت شخصه نه بري کيږي.

وكذا اليمين مبرئة إلخ: دا د امام شافعي رَحِمَهُ الله د عقلي دليل جواب دی. حاصل يې دا دی چې دا موږ هم تسليموو چې يمين (قسم) د مدعیٰ عليه د بري کولو لپاره مشروع سوی دی. ليکن يمين صرف

له هغه شي څخه مدعیٰ علیه بري کوي کوم شي لره چي هغه شامل وي او د کوم مقصد لپاره چي له مدعیٰ علیه څخه قسم اخیستل کیږي. او یمین چي کوم مقصد او کوم شي لره شامل نه وي. له هغه څخه مدعیٰ علیه نه بري کوي. او په مذکوره مسئله کي د یمین مقصد دا وو چي محلې والا د دروغو له قسم څخه ډډه وکړي او د قتل اقرار وکړي او قصاص ثابت سي. لېکن کله چي محلې والا وو قسم واخیستی نو د هغو له ذمې څخه قصاص ساقط سو. خو څرنګه چي مقتول د دوی په محله کي مېندل سوی دی. نو ځکه ظاهراً د هغه قتل د همدوی وطرف ته منسوب کیږي او دوی که څه هم له قصاص څخه بچ کیږي لېکن له دیت څخه نه سي بچ کېدلای او دیت خامخا پرې واجبیږي.

پر محلې والا (اهل محله) باندي د دیت واجبېدلو بل دلیل دا دی چي پر دوی باندي لازمه وه چي د خپلي محلې او په محله کي د راتلونکو کسانو څارنه او ساتنه وکړي. لېکن هلته د قتل معاملې دا ښکاره کړه چي دوی د هغه په حفاظت کي غفلت او لا پروایي کړې ده. نو څرنګه چي په قتلِ خطاء کي دیت په حفاظت کي د لا پروایي کولو په وجه واجبیږي. نو همداسي به دلته هم په حفاظت کي د لا پروایي کولو په وجه پر محلې والا وو دیت واجبیږي.

له قسم اخیستلو څخه د انکار کونکي کس حکم

وَمَنْ أَبَى مِنْهُمُ الْيَمِينَ او له دوی (اهل محله) څخه چي څوک له قسم څخه انکار وکړي حُبِسَ حَتَّى يَحْلِفَ نو هغه به قیدول کیږي تر دې چي قسم واخلي لِأَنَّ الْيَمِينَ فِيهِ مُسْتَحَقَّةٌ لِذَاتِهَا تَعْظِيمًا لِأَمْرِ الدَّمِ ځکه په دې کي د وینې د امر د تعظیم په وجه بذات خود قسم واجب دی وَلِهَذَا يُجْمَعُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الدِّيَةِ په همدې وجه د قسم او دیت تر مېنځ جمع کول کیږي بِخِلَافِ النُّكُولِ فِي الْأَمْوَالِ په خلاف په مالونو کي (له قسم څخه) د انکار کولو لِأَنَّ الْيَمِينَ بَدَلٌ عَنْ أَصْلِ حَقِّهِ ځکه (په مالونو کي) قسم د هغه د اصل حق بدل دی وَلِهَذَا يَسْقُطُ بِبَذْلِ الْمُدَّعَى په همدې وجه د دعوه داره مال په خرچ کولو سره قسم ساقطیږي وَفِيمَا نَحْنُ فِيهِ لَا يَسْقُطُ بِبَذْلِ الدِّيَةِ او په کومه مسئله کي چي موږ یو په دې کي په دیت خرچ کولو (ورکولو) سره قسم نه ساقطیږي.

اللغات: ﴿أَبَى﴾ د فتح د باب ماضي ده: انکار کول. ﴿دم﴾ وینه. مراد: خون. قتل. ﴿مُدَّعَى﴾ د تفعیل د با مفعول دی: دعوه کړی سوی. دعوه داره. ﴿بذل﴾ د نصر د باب مصدر دی: خرچ کول (خرچول). ورکول.

تشریح: مسئله: دا ده چي که د هغه محلې له خلکو څخه یو کس یا څو کسان له قسم څخه انکار وکړي، نو هغوی به قیدول کیږي او د قسم اخیستلو تر وخته به په بندیخانه کي ساتل کیږي؛ ځکه د قسامت په باب کي یمین اصل او مقصود دی او د وینې د حفاظت او تعظیم په خاطر بذات خود واجب دي، په همدې وجه خو قسم او دیت دواړه سره جمع کول کیږي (یعني تر قسم اخیستلو وروسته دیت راجبول کیږي)، نو ځکه له قسم څخه انکار کونکي به آزاد نه پرېښوول کیږي بلکي د قید او بند سزا به ورکول کیږي.

د دې په خلاف که پر مال د قسم اخیستلو مسئله وي او مدعیٰ علیه له قسم څخه انکار وکړي، نو هغه به نه قیدول کیږي او پر هغه به دعوه داره مال واجبول کیږي؛ ځکه په مال کي یمین (قسم) د مدعي د حق یعني د مال بدل وي، اصل نه وي، لهذا کله چي مدعي ته د هغه مُدعیٰ مال ورکول سي نو یمین ساقطیږي، لیکن په مذکوره مسئله کي یمین اصل دی، بدل نه دی، نو ځکه د مال یعني د دیت ورکولو باوجود هم له محلې والا وو څخه یمین نه ساقطیږي.

مخکنی حکم په کومو صورتونو کي جاري کیږي

هٰذَا الَّذِيْ ذَكَرْنَا إِذَا ادَّعَى الْوَلِيُّ الْقَتْلَ عَلٰى جَمِيْعِ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ دا تفصیل کوم چي موږ ذکر کړی هغه وخت دی کله چي ولي پر ټوله محلې والا وو د قتل دعویٰ کړې وي وَكَذَا إِذَا ادَّعٰى عَلَى الْبَعْضِ لَا بِأَعْيَانِهِمْ او همدارنګه کله چي هغه له دوی څخه پر بعضو غیر معیّنو دعویٰ کړې وي وَالدَّعْوٰى فِي الْعَمَدِ أَوِ الْخَطَإِ او دعویٰ [برابره ده] په عمد کي وي یا په خطاء کي وي لِأَنَّهُمْ لَا يَتَمَيَّزُوْنَ عَنِ الْبَاقِيْ ځکه بعضِ غیرِ معیّن له پاتو کسانو څخه نه سي بېلېدلای وَلَوِ ادَّعٰى عَلَى الْبَعْضِ بِأَعْيَانِهِمْ أَنَّهُ قَتَلَ وَلِيَّهُ عَمَدًا أَوْ خَطَأً او که ولي له محلې والا وو څخه پر بعضو معیّنو دعویٰ کړې وي چي هغه [بعضِ معیّن] زما ولي عمداً یا خطاءً قتل کړی دی فَكَذٰلِكَ الْجَوَابُ نو همدغه حکم دی يَدُلُّ عَلَيْهِ إِطْلَاقُ الْجَوَابِ فِي الْكِتَابِ پر همدې باندي دلالت کوي په قدوري [متن] کي د جواب [حکم] اطلاق وَهٰكَذَا الْجَوَابُ فِي الْمَبْسُوْطِ او همدغسي جواب دی په مبسوط کي.

اللغات: ﴿لا يتميّزون﴾ د تفعّل له بابه د جمع مذکر غائب ماضي صیغه ده: جلا کېدل، بېلېدل، علیحده کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که د مقتول ولي پر ټوله اهل محله د قتل دعوی کړې وي، یا هغه د اهلِ محله پر بعضِ غیرِ معین یا یې پر بعضِ معیّن دعوی کړې وي (یعني هغه له محلې والا وو څخه پر بعضو کسانو دعوی کړې وي او هغه بعضي یې متعیّن کړي وي یا یې متعیّن کړي نه وي)، په دې دریو سره صورتونو کي هاغه حکم دی کوم چې مخکي بیان سو یعني پر مدعیٰ علیهم (محلې والا وو) باندي قسامت او دیت دواړه واجب دي برابره دعوی د قتلِ عمد دعوی وي او که د قتلِ خطاء وي؛ پاته سوه په ټوله اهلِ محله وو باندي د دعوې کولو مسئله خو ښکاره ده، همدارنګه کله چې دعوی پر بعضِ غیرِ معیّن وي، نو په دې صورت کي هغه بعض غیرِ معین د محلې له نورو کسانو څخه بېلول او متعیّنول نا ممکن وي، نو ځکه پر هر یوه به دیت او قسامت واجب وي.

ولو ادّعی إلخ: د دې حاصل دا دی چې که ولي په هغه محلې والا وو کي پر یو معیّن کس دا دعوی کړې وي چې دغه کس زما ورور قتل کړی دی، نو په دې صورت کي هم پر محلې والا وو قسامت او دیت واجبیږي او یوازې پر مدعیٰ علیه (معیّن کس) دا نه واجبیږي؛ ځکه د امام قدوري رَحِمَهُ الله اطلاق پر همدې دلالت کوي چې هغه د باب په شروع کي مطلقاً فرمایلي دي "وإذا وُجِدَ القتیلُ فی محلة لا یعلم من قتله، استحلف خمسون رجلًا منهم"، په دې عبارت کي د ټوله اهل محله یا د بعضِ غیر معیّن یا د بعضِ معین هیڅ قید او تفصیل نسته، لهذا دا خبره څرګنده سوه چې په دې دریو سره صورتونو کي پر محلې والا وو قسامت او دیت دواړه واجب دي، او په مبسوط کي هم دغه حکم ذکر سوی دی یعني پر بعضِ معیّن د دعوې کولو په صورت کي قسامت او دیت واجبیږي، همدا ظاهر روایت دی، خو له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت له دې څخه بغیر نقل سوی دی چې هغه به په راروان عبارت کي ذکر سي.

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د غیرِ ظاهر الروایة والا قول

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ فِيْ غَيْرِ رِوَايَةِ الْأُصُوْلِ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت [نقل سوی دی] دی په غیرِ د روایت د اُصولو کي أَنَّ فِي الْقِيَاسِ تَسْقُطُ الْقَسَامَةُ وَالدِّيَةُ عَنِ الْبَاقِينَ مِنْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ چې د قیاس مطابق له پاته محلې والا وو څخه قسامت او دیت ساقطیږي وَيُقَالُ: لِلْوَلِيِّ أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟ او ولي ته به ویل کیږي: آیا ستا لپاره بینه نسته؟ فَإِنْ قَالَ: لَا نو که هغه ووایي: چې نسته يُسْتَحْلَفُ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ عَلَى قَتْلِهِ يَمِينًا وَاحِدَةً نو له مدعیٰ علیه څخه به د هغه پر قتل یو قسم

اخيستل کيږي وَوَجْهُهُ أَنَّ الْقِيَاسَ يَأْبَاهُ او د دې وجه [دليل] دا دی چې قياس د دې [قسم او ديت اخيستلو] انکار کوي لِاحْتِمَالِ وُجُودِ الْقَتْلِ مِنْ غَيْرِهِمْ د دې احتمال په وجه چې قتل به له محلې والا شخصه بغير د بل چا له طرفه سوی وي وَإِنَّمَا عُرِفَ بِالنَّصِّ فِيمَا إِذَا كَانَ فِي مَكَانٍ يُنْسَبُ إِلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِمْ او په نص سره دا [قسامت او ديت] په هغه صورت کې پېژندل سوي دي کله چې مقتول په داسې ځای کې وي چې هغه ځای د مدعیٰ عليهم [اهل محله وغيره] وطرف ته منسوب وي وَالْمُدَّعِي يَدَّعِي الْقَتْلَ عَلَيْهِمْ او مدعي پر هغو د قتل دعویٰ کوي وَفِيمَا وَرَاءَهُ بَقِيَ عَلَى أَصْلِ الْقِيَاسِ او له دې شخصه بغير په بل صورت کې دا پر اصل قياس باقي دي وَصَارَ كَمَا إِذَا ادَّعَى الْقَتْلَ عَلَى وَاحِدٍ مِنْ غَيْرِهِمْ او دا داسې سوه لکه کله چې هغه [د مقتول ولي] له محلې والا شخصه بغير پر بل چا د قتل دعویٰ کړې وي.

اللغات: ﴿بيّنة﴾ گواهي. حجت او دليل.

تشريح: له ظاهر روايت شخصه بغير يو روايت له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله شخصه دا نقل سوی دی چې که د مقتول ولي پر بعض معيّن دعویٰ کړې وي (يعني د محلې والا وو پر يوه معيّن کس يا پر څو معينو کسانو يې د قتل دعویٰ کړې وي). نو په دې صورت کې قياساً پر ټوله اهل محله وو قسامت او ديت نه واجبيږي. بلکې له مدعیٰ عليه (بعض معين) شخصه بغير له نورو اهل محله وو شخصه ديت ساقطيږي. او ولي ته به ويل کيږي چې که ستا سره د مدعیٰ عليه په خلاف بيّنه وي نو هغه پېش کړه! کنې وروايه. نو که ولي ووايي چې زما سره بيّنه نسته. نو له مدعیٰ عليه (بعض معين) شخصه به د دې قتل په هکله قسم اخيستل کيږي.

ووجهه إلخ: د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دغه قول دليل دا دی چې کله د مقتول ولي پر بعض معين د قتل دعویٰ کړې که. نو بيا له ټولې محلې والا وو شخصه قسم او ديت اخيستل خلاف القياس دي: ځکه کېدلای سي چې همدې معين کس به هغه مقتول قتل کړی وي يا بل چا به هغه قتل کړی او دلته به يې غورځولی وي. لهذا ټولې محلې والا مجرمان ګڼل او پر ټولو قسامت او ديت واجبول خلاف القياس دی. او کوم نص چې د قسامت او ديت واجبونکی دی. هغه نص پر هغه صورت محمول دی کله چې مقتول کس د مدعیٰ عليه په محله کې مېندل سوی وي او د مقتول ولي پر هغو د قتل دعویٰ هم کوي. او څرنګه چې دلته د مدعي دعویٰ پر ټوله محلې والا وو نه ده بلکې پر بعض معين ده. نو ځکه دا صورت به له مورد نص شخصه خارج وي او دلته به حکم پر اصل قياس باقي پاته وي. يعني د

قیاس مطابق به پر ټوله اهل محله وو قسامت او دیت نه واجبیږي. د دې مثال داسې دی لکه د مقتول ولي چې له اهل محله ځخه بغیر پر بل چا د قتل دعوی کړې وي. نو په دې صورت کې هم پر اهل محله وو قسامت او دیت نه واجبیږي. همداسې به په مذکوره مسئله کې هم پر هغو قسامت او دیت نه واجبیږي.

د قسامت او دیت د واجبېدلو په هکله د استحسان حکم

وَفِي الِاسْتِحْسَانِ تَجِبُ الْقَسَامَةُ وَالدِّيَةُ عَلَى أَهْلِ الْمَحَلَّةِ او په استحسان کې پر محلې والا وو قسامت او دیت واجبیږي لِأَنَّهُ لَا فَصْلَ فِي إطْلَاقِ النُّصُوصِ بَيْنَ دَعْوَى وَدَعْوَى ځکه د نصوصو په اطلاق کې د یوې دعوې او بلې دعوې تر مینځ هیڅ فرق نسته فَنُوجِبُهُ بِالنَّصِّ لَا بِالْقِيَاسِ نو ځکه موږ په نص سره دا [قسامت او دیت] واجبوو. نه په قیاس سره بِخِلَافِ مَا إذَا ادَّعَى عَلَى وَاحِدٍ مِنْ غَيْرِهِمْ په خلاف د هغه صورت کله چې ولي له دوی [اهل محله] ځخه بغیر پر بل یوه دعوی کړې وي لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ نَصٌّ ځکه چې په دې سلسله کې هیڅ نسته فَلَوْ أَوْجَبْنَاهُمَا نو که موږ دا دواړه [قسامت او دیت] واجب کړو لَأَوْجَبْنَاهُمَا بِالْقِيَاسِ نو موږ به هغوی په قیاس سره واجبوو وَهُوَ مُمْتَنِعٌ حال دا چې دا ممنوع دي.

اللغات: ﴿فصل﴾ د دې لفظ یوه معنیٰ ده: فرق او توپیر.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې استحساناً په مذکوره دریو سره صورتونو کې پر اهل محله وو قسامت او دیت دواړه واجبیږي: ځکه په کومو نصوصو کې چې قسامت او دیت دواړه یو ځای جمع ذکر سوي دي هغه ټوله مطلق نصوص دي یعني په هغوی کې دا قید او تفصیل نسته چې که په ټوله اهل محله وو باندې د قتل دعوی وي نو دا حکم دی او که په بعضي اهل محله وو باندې د قتل دعوی وي نو دا حکم دی. بلکې علی الاطلاق یو حکم دی یعني د قسامت او دیت وجوب. لهذا کله چې په نصوصو کې علی الاطلاق قسامت او دیت دواړه واجب کړل سوي دي. نو موږ هم په هر یوه صورت کې دواړه واجب کړي دي.

د دې په خلاف که د مقتول ولي له اهل محله وو ځخه بغیر پر بل چا د قتل دعوی کړې وي. نو په دې صورت کې موږ هم د دې قائل یو چې پر اهل محله وو قسامت او دیت نه واجبیږي: ځکه په دې صورت کې پر اهل محله وو د قسامت او دیت د واجبېدلو په هکله هیڅ نص نسته. اوس که په دې صورت کې هم پر اهل محله وو قسامت او دیت واجب کړل سي. نو ښکاره خبره ده چې د هغه واجبول

به په قیاس سره وي او په قیاس سره د دې شیانو واجبول ممنوع دي (په بله وینا دا چې قیاس دلته باطل دی. ځکه مقیس علیه خپله خلاف القیاس دی).

له محلې والا څخه بغیر پر بل چا د قتل د دعوې کولو حکم

ثُمَّ حُكْمُ ذٰلِكَ أَنْ يَثْبُتَ مَا ادَّعَاهُ إِذَا كَانَ لَهُ بَيِّنَةٌ بيا د دې حکم دا دی چې مدعي د کوم شي دعوی کړې ده هغه دعوی ثابته سي کله چې د مدعي لپاره بینه وي وَإِنْ لَمْ تَكُنْ او که بینه نه وي اِسْتَحْلَفَهُ يَمِيْنًا وَاحِدَةً نو مدعي به له مدعی علیه څخه یو قسم اخلي لِأَنَّهُ لَيْسَ بِقَسَامَةٍ ځکه چې دا قسامت نه دی لِانْعِدَامِ النَّصِّ وَامْتِنَاعِ الْقِيَاسِ د نص د نشتوالي او د قیاس د ممتنع والي په وجه ثُمَّ إِنْ حَلَفَ بیا که مدعی علیه قسم واخلي بَرِئَ نو هغه بري کیږي وَإِنْ نَكَلَ او که [له قسم څخه] انکار وکړي وَالدَّعْوٰى فِي الْمَالِ حال دا چې دعوې د مال په هکله وي ثَبَتَ بِهِ نو د انکار په وجه دعوی ثابتیږي وَإِنْ كَانَ فِي الْقِصَاصِ او که دعوی په قصاص کې وي فَهُوَ عَلَى الْاِخْتِلَافِ مَضٰى فِي كِتَابِ الدَّعْوٰى نو دا پر هغه اختلاف دی کوم چې په کتابُ الدعوی کې تېر سو.

اللغات: ﴿مضٰی﴾ د ضرب د باب ماضي ده: تېر بدل.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې کله مدعي (یعني د مقتول ولي) له محلې والا څخه بغیر پر بل چا قتل دعوی کړې وي، نو د دې څه حکم دی؟، فرمایي چې که د مدعي سره بینه وي، نو په دې بینه سره د مدعي دعوی ثابتیږي، او که بینه ور سره نه وي، نو مدعي به له مدعی علیه څخه یو قسم اخلي او پر همدې یوه قسم به اکتفا کیږي؛ ځکه دا قسامت نه دی، ځکه چې د قسامت لپاره نص ته ضرورت دی او نص دلته معدوم دی او په قیاس سره د قسامت ثبوت ممتنع او محال دی.

ثم إن حلف إلخ: فرمایي که چیرې مدعی علیه قسم واخلي، نو هغه له قصاص او دیت دواړو څخه بري کیږي او پر هغه هیڅ ضمان نه لازمیږي، او که هغه له قسم څخه انکار وکړي نو د دې دوه صورتونه دي: ① که دعوی د مال وي، نو مدعی علیه د انکار په وجه (د مدعي لپاره) مال ثابتیږي، ② او که دعوی د قصاص وي، نو په دې کې د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله اختلاف دی، د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز قصاص واجبیږي او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز قصاص خو نه واجبیږي، لیکن دیت واجبیږي، لکه څرنګه چې په کتابُ الدعوی کې د دې تفصیل تېر سوی دی.

که محلې والا پنځوس کسان نه پوره کيږي نو د قسم طريقه

قَالَ: وَإِنْ لَمْ تَكْمُلْ أَهْلُ الْمَحَلَّةِ فرمايي: او که محلې والا [پنځوس] پوره نه سي كُرِّرَتِ الْأَيْمَانُ عَلَيْهِمْ حَتَّى تَتِمَّ خَمْسِيْنَ نو پر هغوبه قسمونه مکررول کيږي تر دې چي پنځوس پوره سي لِمَا رُوِيَ أَنَّ عُمَرَ رضي الله عنه لَمَّا قَضٰى فِي الْقَسَامَةِ ځکه روايت سوی دی چي کله حضرت عمر رضي الله عنه د قسامت فيصله کوله وَافٰى إِلَيْهِ تِسْعَةٌ وَأَرْبَعُوْنَ رَجُلًا نو هغه ته نهه څلوېښت [۴۹] سړي راغلل فَكَرَّرَ الْيَمِيْنَ عَلٰى رَجُلٍ مِنْهُمْ حَتّٰى تَمَّتْ خَمْسِيْنَ نو حضرت عمر رضي الله عنه له هغوی [۴۹ سړيو] څخه پر يوه کس قسم مکرر کړی تر دې چي پنځوس پوره سول ثُمَّ قَضٰى بِالدِّيَةِ بيا حضرت عمر رضي الله عنه د ديت فيصله وکړه وَعَنْ شُرَيْحٍ وَالنَّخَعِيِّ مِثْلُ ذٰلِكَ او له حضرت شريح او حضرت نخعي رَحِمَهُمَا الله څخه هم داسي نقل سوي دي وَلِأَنَّ الْخَمْسِيْنَ وَاجِبٌ بِالسُّنَّةِ او ځکه چي پنځوس په سنت [حديث] سره ثابت دي فَيَجِبُ إِتْمَامُهَا مَا أَمْكَنَ نو ځکه د هغه پوره کول واجب دي تر څو چي ممکنه وي وَلَا يُطْلَبُ فِيْهِ الْوُقُوْفُ عَلَى الْفَائِدَةِ او په دې کي به پر فايدې واقف کېدل نه طلب کول کيږي لِثُبُوْتِهَا بِالسُّنَّةِ ځکه چي پنځوس په سنت سره ثابت دي ثُمَّ فِيْهِ اِسْتِعْظَامُ أَمْرِ الدَّمِ بيا په دې کي دويني [خون] د امر تعظيم هم سته فَإِنْ كَانَ الْعَدَدُ كَامِلًا. نو که [د پنځوسو] شمېر پوره وي فَأَرَادَ الْوَلِيُّ أَنْ يُكَرِّرَ عَلٰى أَحَدِهِمْ او ولي اراده وکړي چي له دوی څخه پر يوه قسم مکرر کړي فَلَيْسَ لَهُ ذٰلِكَ نو ولي ته دا حق نسته لِأَنَّ الْمَصِيْرَ إِلَى التَّكْرَارِ ضَرُوْرَةُ الْإِكْمَالِ ځکه د تکرار وطرف ته رجوع کول [د پنځوسو شمېر] د پوره کولو د ضرورت په خاطر دي.

اللغات: ﴿لم تكمل﴾ د جحد صيغه ده، له سمع، نصر او کرُم ټولو بابونو څخه راځي: پوره کېدل. ﴿كُرّرت﴾ د تفعيل له بابه د ماضي صيغه ده: مکرر کول. دوباره کول. ﴿وافٰى﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده. د دې باب څو معناوي دي: راتلل. ناڅاپه راتلل. پوره حق ورکول. ﴿استعظام﴾ د استفعال مصدر دی. د دې باب يوه معنیٰ ده: لوی ګڼل (دعظمت په نظر ورته کتل).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که د محلې والا شمېر له پنځوسو څخه کم وي. نو د دې شمېر د پوره کولو لپاره به له محلې والا څخه مکرّر (دوباره) قسم اخيستل کيږي: په دې هکله اول دليل دا

روايت دی چي کله حضرت عمر ﷛ ته د قسامت د فيصلې په وخت کي يو کم پنځوس کسان حاضر سول، نو حضرت عمر ﷛ له هغو څخه تر قسم اخيستلو وروسته د هغو له يوه کس څخه دوباره قسم واخيستی چي پنځوس قسمونه پوره سي، همداسي له قاضي شريح رَحِمَہُ الله او له ابراهيم نخعي رَحِمَہُ الله څخه هم د قسم د تکرار روايات نقل سوي دي کوم چي په بنايه وغيره کي په تفصيل سره ذکر سوي دي. (بنايه ۱۲/ ۴۲)

په دې هکله عقلي دليل دا دی چي د پنځوسو شمېر په سنت يعني په حديث سره ثابت دی. لهذا حتی الامکان د هغه پوره کول واجب دي چي په حديث عمل وسي، او په حديث د عمل کولو په وجه به دې خبري ته هيڅ پاملرنه او توجه نه کيږي چي "د قسم په تکرار سره تحصيل د حاصل لازميږي او په دې کي هيڅ فايده نسته"؛ ځکه د دې فايده د حديث اتباع ده او د ويني (خون) د امر تعظيم دی، او همدا اهم فوائد دي.

فإن كان العدد كاملًا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که محلې والا پنځوس کسان پوره وي او بيا د مقتول ولي په هغوی کي له يوه څخه مکرر قسم اخيستل وغواړي، نو ولي ته د دې حق او اختيار نسته؛ ځکه د قسم تکرار د ضرورت په خاطر ثابت دی چي د پنځوسو شمېر پوره سي. او کوم شی چي د ضرورت پر بناء ثابت وي د هغه په هکله قاعده دا ده چي هغه صرف د ضرورت په اندازه ثابتيږي. لهذا کله چي دلته پنځوس کسان پوره دي او هيڅ ضرورت نسته، نو ځکه بلا وجه به قسم نه مکرر ول کيږي.

پر نا اهله کسانو قسامت نسته

قَالَ: وَلَا قَسَامَةَ عَلَى صَبِيٍّ وَلَا مَجْنُونٍ فرمايي: او پر بچي او لېوني قسامت نسته لِأَنَّهُمَا لَيْسَا مِنْ أَهْلِ الْقَوْلِ الصَّحِيحِ ځکه دوی دواړه د صحيح قول اهل نه دي وَالْيَمِينُ قَوْلٌ صَحِيحٌ حال دا چي قسم صحيح قول دی. قَالَ: وَلَا امْرَأَةٍ وَلَا عَبْدٍ فرمايي: او نه پر ښځي او غلام قسامت سته لِأَنَّهُمَا لَيْسَا مِنْ أَهْلِ النُّصْرَةِ ځکه دوی دواړه د نصرت [مدد] کولو له اهل څخه نه دي وَالْيَمِينُ عَلَى أَهْلِهَا حال دا چي قسم پر هغه چا دی چي د نصرت اهل وي.

اللغات: ﴿صبي﴾ بچی، هغه کوچنی کوم چي د هلک والي تر وخته رسېدلی نه

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي پر بچي، لېوني، ښځي او غلام باندي قسامت نسته. يعني د دې کسانو قسامت لره اعتبار نسته؛ ځکه قسم صحيح قول ته وايي. همدارنګه قسامت پر هغه چا

واجبیږي کوم چې د مدد کولو اهلیت لري. او دلته اول دوه یعني بچی او لیونی د قول صحیح او صحیح خبري تکلم نه سي کولای. او آخري دوه (ښځه او غلام) که څه هم د قول صحیح تکلم کولای سي لیکن د مقتول کس وغیره مدد نه سي کولای. نو ځکه په قسامت کي د دوی قسم لره اعتبار نسته.

په کومو صورتونو کي پر محلې والا وو قسامت او دیت نسته؟

قَالَ: وَإِنْ وُجِدَ مَيِّتًا لَا أَثَرَ بِهِ فرمايي: او که څوک مړ ومیندل سي چي پر هغه [د قتل] اثر نه وي فَلَا قَسَامَةَ وَلَا دِيَةَ نو نه قسامت سته او نه دیت سته لِأَنَّهُ لَيْسَ بِقَتِيلٍ ځکه چي هغه مقتول نه دی إِذِ الْقَتِيلُ فِي الْعُرْفِ مَنْ فَاتَتْ حَيَاتُهُ بِسَبَبٍ يُبَاشِرُهُ حَيٌّ ځکه په عرف عام کي مقتول هغه کس دی چي ژوندیې په داسي سبب سره فوت سوی وي کوم چي ژوندي کس ترسره کړی وي وَهٰذَا مَيِّتٌ حَتْفَ أَنْفِهِ او دا کس په خپل [طبعي] مرګ مړ سوی دی وَالْغَرَامَةُ تَتْبَعُ فِعْلَ الْعَبْدِ او تاوان د بنده د فعل تابع دی وَالْقَسَامَةُ تَتْبَعُ احْتِمَالَ الْقَتْلِ او قسامت د قتل د احتمال تابع دی ثُمَّ يَجِبُ عَلَيْهِمُ الْقَسَمُ بیا پر هغو قسم واجبیږي فَلَا بُدَّ مِنْ أَنْ يَكُونَ بِهِ أَثَرٌ يُسْتَدَلُّ بِهِ عَلَى كَوْنِهِ قَتِيلًا نو ضروري ده چي پر مړي داسي اثر [نښه] وي چي په هغه سره د مړي پر مقتول کېدلو دلیل ونیول سي وَذٰلِكَ بِأَنْ يَكُونَ بِهِ جِرَاحَةٌ أَوْ أَثَرُ ضَرْبٍ أَوْ خَنْقٍ او هغه اثر دا دی چي پر مړي زخم وي یا د وهلو یا د خپه کولو اثر وي وَكَذَا إِذَا كَانَ خَرَجَ الدَّمُ مِنْ عَيْنِهِ أَوْ أُذُنِهِ او همدارنګه کله چي د هغه له سترګي یا غوږ څخه وینه وتلې وي لِأَنَّهُ لَا يَخْرُجُ مِنْهَا إِلَّا بِفِعْلٍ مِنْ جِهَةِ الْحَيِّ عَادَةً ځکه له دې دواړو څخه عادتاً وینه نه وځي مګر د ژوندي کس له طرفه دیو فعل په وجه بِخِلَافِ مَا إِذَا خَرَجَ مِنْ فِيهِ أَوْ دُبُرِهِ أَوْ ذَكَرِهِ په خلاف د هغه صورت کله چي د مړي له خولې یا د هغه له دُبر یا ذکر څخه وینه وتلې وي لِأَنَّ الدَّمَ يَخْرُجُ مِنْ هٰذِهِ الْمَخَارِجِ عَادَةً بِغَيْرِ فِعْلِ أَحَدٍ ځکه له دې لارو څخه عادتاً وینه وځي بغیر دیو چا له فعل څخه وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي الشَّهِيدِ او موږ دا په بابُ الشهید کي ذکر کړي دي.

اللغات: ﴿حتف أنفه﴾ طبعي مرګ. په خپل مرګ. (یعني په قتل سره نه دی مړ سوی. بلکي په طبعي مرګ سره د هغه ساه وتلې ده). ﴿غرامة﴾ جرمانه. تاوان. ﴿خنق﴾ د ضرب د باب مصدر دی: د نصر ماضي ده:

غاړه خپه کول. تر ستوني نيول. ﴿القَسَم﴾ د الله تعالیٰ قسم. جمع: أَقسَام. ﴿أثر﴾ د دې لفظ له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: نښه (نښان). علامت. ﴿دُبر﴾ د شا لاره. مقعد (کونه).

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل واضح او آسانه دی چې د هغه مختصره تشريح دا ده چې که په يو محله کې داسې مړی وميندل سي چې د هغه پر بدن د قتل. ضرب او خنق هيڅ اثر نه وي او نه د هغه له سترګي يا غوږ څخه وينه وتلې وي. نو پر هغه محلې والا وو نه قسامت واجبيږي او نه ديت؛ ځکه د قسامت او ديت تعلق د مقتول سره دی او دا کس مقتول نه دی: ځکه مقتول هغه کس ته وايي چې په داسې سبب مړ سوی وي چې هغه سبب ژوندي کس ترسره کړی وي (يا په بله وينا دا چې ژوندي کس هغه وژلی وي). او په مذکوره مسئله کې دغه کس په خپل مرګ مړ سوی دی او په خپل مرګ مړ کېدونکی کس نه پر چا د قسامت مستحق کيږي او نه د تاوان: ځکه تاوان د بنده د فعل په وجه واجبيږي او دلته د بنده فعل معدوم دی. همدارنګه (پر اهل محله وغيره باندي) قسامت د قتل د احتمال په وجه واجبيږي (چي کېدای سي دا کس به دغه محلې والا وو يا نورو قتل کړی وي) او د قتل د احتمال لپاره د مړي پر بدن د قتل يو نښه موجودېدل ضروري دي. يعني د زخم. يا د وهلو وغيره نښه. يا د مړي له سترګي يا غوږ څخه وينه وتل ضروري دي: ځکه دا شيان د بنده له فعل څخه بغير نه واقع کيږي. لهذا که چيري له دې نښو څخه يو نښه وي. نو قسامت او ديت به واجبيږي. کنې نه به واجبيږي. همدا وجه ده چې که د مړي له خولې يا د هغه د شا يا د مخ له لاري (دُبر او ذکر) څخه وينه وتلې وي. نو په دې صورت کې پر محلې والا وو قسامت نسته: ځکه له دې ځايو څخه د چا له فعل او حرکت څخه بغير هم وينه وځي. لهذا دا وينه به د قتل نښه نه وي او په دې سره به مړی مقتول نه ګڼل کيږي او کله چې داسې مړی مقتول نه دی. نو ځکه پر محلې والا وو به نه قسامت واجبيږي او نه ديت. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې مخکې په "باب الشهيد" کې مورږ د دې بيان کړی دی.

په کومو صورتونو کې پر محلې والا وو قسامت او ديت سته؟

وَلَوْ وُجِدَ بَدَنُ الْقَتِيْلِ او که د مقتول [بشپړ] بدن پيدا سي أَوْ أَكْثَرُ مِنْ نِصْفِ الْبَدَنِ يا له نيمايي بدن څخه زيات بدن [پيدا سي] أَوِ النِّصْفُ وَمَعَهُ الرَّأْسُ يا نيم بدن د سر سره [پيدا سي] فِيْ مَحَلَّةٍ په يوه محله کي فَعَلٰى أَهْلِهَا الْقَسَامَةُ وَالدِّيَةُ نو پر هغه محلې والا وو قسامت او ديت [واجب] دي وَإِنْ وُجِدَ نِصْفُهُ مَشْقُوْقًا بِالطُّوْلِ او که د هغه نيم بدن پيدا سي کوم چې په اوږدول سره څيرل سوی وي أَوْ وُجِدَ أَقَلُّ مِنَ النِّصْفِ وَمَعَهُ الرَّأْسُ يا له نيمايي بدن څخه کم د سر سره پيدا سي أَوْ وُجِدَ يَدُهُ أَوْ

رِجْلُهُ أَوْ رَأْسُهُ یا د مقتول لاس یا پښه یا سر پیدا سي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِمْ نو پر هغو هیڅ شی نسته لِأَنَّ هٰذَا حُكْمٌ عَرَفْنَاهُ بِالنَّصِّ ځکه دا داسي حکم دی کوم چي موږ په نص سره پېژندلی دی وَقَدْ وَرَدَ بِهِ فِي الْبَدَنِ او نص د دې حکم په هکله په بدن کي وارد سوی دی إِلَّا أَنَّ لِلْأَكْثَرِ حُكْمَ الْكُلِّ تَعْظِيمًا لِلْآدَمِيِّ خو د انسان د تعظیم په خاطر [د هغه] اکثره لره حکم د کُل دی.

اللغات: ﴿مشقوق﴾ د نصر له بابه مفعول دی: څیرل سوی. دوه ځایه کړل سوی. ﴿آدمي﴾ انسان.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که په یو محله کي د مقتول ټوله بدن، یا له نیم بدن څخه زیات بدن یا نیم بدن د سر (رأس) سره ومیندل سي. نو په دې ټولو صورتونو کي پر هغه محلې والا وو قسامت او دیت واجبیږي، د دې په خلاف که د مقتول داسي نیم بدن ومیندل سي کوم چي په اوږدول پرېکړل سوی وي، یا له نیم بدن څخه کمه حصه د سر (رأس) سره ومیندل سي. یا د مقتول لاس یا پښه یا سر ومیندل سي. نو په دې صورتونو کي پر محلې والا وو قسامت او دیت نه واجبیږي: ځکه د قسامت او دیت وجوب خلاف القیاس په نص سره ثابت دی. او کوم څه چي خلاف القیاس ثابت وي هغه له مورد نص څخه نه متجاوز کیږي، او مورد نص ټوله بدن دی، نو ځکه د نیم بدن او د بعضې حصې په صورتونو کي پر محلې والا وو قسامت او دیت نه واجبیږي لیکن د اکثره بدن د وجود په صورت کي پر محلې والا وو قسامت واجبیږي؛ ځکه د انسان د تعظیم په خاطر د "للأكثر حكم الكل" پر بناء اکثر لره د کُل درجه ورکول سوې ده، نو څرنګه چي په یو محله کي د مقتول د ټوله بدن د پیدا کېدلو په صورت کي پر محلې والا وو قسامت او دیت واجبیږي، همداسي به د اکثره بدن د پیدا کولو په وجه هم پر هغو قسامت او دیت واجبیږي.

د قسامت واجبېدلو او نه واجبېدلو په هکله قاعدهٔ کلیه

بِخِلَافِ الْأَقَلِّ په خلاف د اقلّ [کمي حصې] لِأَنَّهُ لَيْسَ بِبَدَنٍ وَلَا مُلْحَقٍ بِهِ ځکه اقلّ نه بدن دی او نه د بدن سره ملحق دی فَلَا تَجْرِي فِيهِ الْقَسَامَةُ نو ځکه په هغه کي به قسامت نه جاري کیږي وَلِأَنَّا لَوِ اعْتَبَرْنَاهُ او ځکه که چیري موږ د اقلّ اعتبار وکړو تَتَكَرَّرُ الْقَسَامَتَانِ وَالدِّيَتَانِ بِمُقَابَلَةِ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ نو د یوه نفس په مقابله کي به دوه قسامتونه او دوه دیتونه مکرّر [واجب] سي وَلَا تَتَوَالَيَانِ حالانکي دا دواړه [قسامت او دیت] نه پرلپسې کیږي وَالْأَصْلُ فِيهِ أَنَّ الْمَوْجُودَ الْأَوَّلَ إِنْ كَانَ بِحَالٍ او په دې باره کي قاعدهٔ کلیه دا ده چي اوله پیدا سوې حصه که په داسي حال سره وي لَوْ وُجِدَ الْبَاقِي تَجْرِي فِيهِ

الْقَسَامَةُ چي که پاته حصه پيدا سي نو په هغه [پاته حصه] کي قسامت جاري کيږي لَا تَجِبُ فِيْهِ نو په هغه [موجود اول] کي قسامت نه واجبيږي وَإِنْ كَانَ بِحَالٍ لَوْ وُجِدَ الْبَاقِيْ لَا تَجْرِيْ فِيْهِ الْقَسَامَةُ او که هغه [موجود اول] په داسي حال سره وي چي که پاته حصه پيدا سي نو په هغه [پاته حصه] کي قسامت نه جاري کيږي تَجِبُ نو قسامت واجبيږي وَالْمَعْنٰى مَا أَشَرْنَا إِلَيْهِ او وجه هغه ده کوم ته چي موږ اشاره وکړه [أن تکرار القسامة والدية في نفس واحدة غير مشروع] وَصَلَاةُ الْجِنَازَةِ فِيْ هٰذَا تَنْسَحِبُ عَلٰى هٰذَا الْأَصْلِ او د جنازې لمونځ په دې هکله پر همدغه قاعدهٔ کليه متفرع کيږي لِأَنَّهَا لَا تَتَكَرَّرُ ځکه چي د جنازې لمونځ نه مکرر کيږي.

اللغات: ﴿لا تتواليان﴾ ذ تفاعل له بابه د تثنيه غائب نفي صيغه ده: پرلپسې کېدل. ﴿تنسحب﴾ د انفعال له بابه د واحد مؤنث صيغه ده: کشېدل. مراد: متفرع کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که په يو محله کي د مقتول د بدن کمه حصه وميندل سي، نو پر محلې والا وو قسامت او ديت ځکه نه واجبيږي چي اقل حصه خو نه بدن دی او نه هغه د بدن سره ملحق ده او قسامت په بدن کي جاري کيږي، نو ځکه په اقل کي قسامت نه جاري کيږي. او په اقل کي د قسامت نه واجبېدلو يوه وجه دا هم ده چي که موږ په اقل حصه کي قسامت او ديت واجب کړو او بيا د بدن د اکثره حصې د پيدا کېدلو په وخت کي هم قسامت او ديت واجب کړو، نو د يوه نفس په مقابله کي به دوه قسامتونه او دوه ديتونه واجب سي، حال دا چي پرلپسې دوه قسامتونه او ديتونه واجبېدل د نص خلاف دي، نو په دې وجه هم په هغه کي قسامت او ديت نه واجبيږي.

والأصل إلخ: له دې ځايه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله قاعدهٔ کليه بيانوي فرمايي چي د مقتول د بدن کومه حصه چي ميندل سوې وي. که چيري هغه په دې اندازه وي چي که له هغه شخصه بغير د بدن ما بقي (ورکه) حصه وميندل سي نو په هغه (ما بقي) کي قسامت جاري کېدلای سي، نو په اوله ميندل سوې حصه کي به قسامت نه جاري کيږي. او که اوله حصه په دې اندازه وي چي په ما بقي حصه کي قسامت نه سي جاري کېدلای، نو په اوله حصه کي به قسامت جاري کيږي.

د دغه قاعدې حاصل دا دی چي قسامت صرف په يوه حصه کي جاري کيږي او په هغه کي هيڅکله تکرار نه کيږي؛ ځکه يوازي په يوه مقتول او په يوه نفس کي تکرار مشروع نه دی. په "والمعنى ما أشرنا إليه" سره صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله همدې ته اشاره کړې ده.

وصلاة الجنازة إلخ: د دې حاصل دا دی چې د جنازې د لمانځه حکم هم پر دغه قاعده متفرع دی. یعني د مړي د بدن کومه حصه چې مېندل سوې وي، که چیرې هغه په دې اندازه وي چې له هغه څخه بغیر د بدن پاته (ورکه) حصه د جنازې د لمانځه قابله وي او پر هغه د جنازې لمونځ کول صحیح وي. نو پر اوله مېندل سوې حصه به د جنازې لمونځ نه کیږي. او که پاته حصه د جنازې د لمانځه قابله نه وي او لمونځ پرې کول صحیح نه وي، نو پر اوله حصه به د جنازې لمونځ کیږي؛ ځکه چې د جنازې لمونځ هم مکرّر نه کیږي.

د جنین یا مړه بچي په صورت کې د قسامت او دیت حکم

وَلَوْ وُجِدَ فِيهِمْ جَنِينٌ أَوْ سِقْطٌ لَيْسَ بِهِ أَثَرُ الضَّرْبِ او که په اهلِ محله کې یو جنین یا نا بشپړ بچی ومیندل سي چې پر هغه د وهلو اثر [نښه] نه وي فَلَا شَيْءَ عَلَى أَهْلِ الْمَحَلَّةِ نو پر محلې والا وو هیڅ شی نسته لِأَنَّهُ لَا يَفُوقُ الْكَبِيرَ حَالًا ځکه جنین د حالت په اعتبار د لوی کس څخه بالا نه دی وَإِنْ كَانَ بِهِ أَثَرُ الضَّرْبِ وَهُوَ تَامُّ الْخَلْقِ او که پر هغه د وهلو اثر وي او هغه بشپړ خلقت والا وي وَجَبَتِ الْقَسَامَةُ وَالدِّيَةُ عَلَيْهِمْ نو پر اهلِ محله وو قسامت او دیت واجبیږي لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ تَامَّ الْخَلْقِ يَنْفَصِلُ حَيًّا ځکه ښکاره همدا ده چې بشپړ خلقت والا [له مور څخه] ژوندی جلا کیږي وَإِنْ كَانَ نَاقِصَ الْخَلْقِ او که هغه ناقص [نا بشپړ] خلقت والا وي فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِمْ نو پر هغو هیڅ شی نسته لِأَنَّهُ يَنْفَصِلُ مَيِّتًا لَا حَيًّا ځکه ناقص خلقت والا مړ [له مور څخه] جلا کیږي، نه ژوندی.

اللغات: ﴿جنین﴾ د مور په نس کې موجود بچی. یعني کوچنی چې تر څو د مور په نس کې وي هغه ته "جَنِين" وایي. ﴿سِقْط﴾ سَقط او سُقط: نا بشپړ بچی کوم چې تر وخت مخکې ساقط سي. یعني هغه کوچنی چې محض خلقت یې ښکاره سوی وي او د مور له نس څخه ولوېږي. ﴿لا یفوق﴾ د نصر له بابه د نفي صیغه ده: پورته کېدل، بالا کېدل. ﴿تام الخلق﴾ بشپړ خلقت والا، مکمل جسم والا. ﴿ینفصل﴾ د انفعال د باب مضارع ده: جلا کېدل، بېلېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که په یو محله کې داسې مړ جنین یا نا بشپړ کوچنی (سقط) ومیندل سي چې د هغه پر بدن د وهلو اثر وغیره نه وي، نو پر هغه محلې والا وو قسامت او دیت نه واجبیږي؛ ځکه د جنین او سقط بدني حالت د لوی کوچني او سړي له حالت څخه کمزوری وي او د لوی په نسبت په هغه کې دا احتمال زیات وي چې په خپل مرګ به مړ سوی وي. او دا مُسلمه خبره ده

چي که لوی کوچنی یا سړی مړ ومیندل سي او د هغه پر بدن د وهلو اثر وغیره نه وي. نو پر محلې والا وو هیڅ شی نه واجبیږي. نو ځکه د جنین او سقط په صورت کي به په درجه اولی پر هغو هیڅ شی نه واجبیږي.

ها! که چیري د جنین پر بدن د وهلو اثر وي او هغه کامل خلقت والا وي. نو په دې صورت کي پر محلې والا وو قسامت او دیت واجبیږي: ځکه اوس ښکاره همدا ده چي دا تام الخلق بچی به له خپلي مور څخه ژوندی بېل سوی او پیدا سوی وي او بیا به دیو چا د وهلو او وار کولو وجه هغه مړ سوی وي ځکه چي د هغه پر بدن د وهلو او وژلو آثار سته. نو ځکه پر محلې والا وو د هغه دیت واجبیږي.

او که هغه جنین ناقص خلقت والا وي. نو پر محلې والا وو هیڅ شي نه واجبیږي که څه هم د هغه پر بدن د وهلو اثر موجود وي: ځکه د ناقص الخلق کېدلو په وجه غالب گومان همدا دی چي دا بچی به د مور له نس څخه مړ پیدا سوی وي او د محلې یو کس یا بل چا به هغه وژلی نه وي او دلته به یې غورځولی وي.

که مقتول پر چارپای ومیندل سي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِذَا وُجِدَ الْقَتِيلُ عَلَىٰ دَابَّةٍ يَسُوقُهَا رَجُلٌ فرمایي: او کله چي مقتول پر یو چارپای ومیندل سي او یو سړی هغه چارپاری (د شا لخوا) شړي فَالدِّيَةُ عَلَىٰ عَاقِلَتِهِ دُونَ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ نو دیت د هغه پر عاقله وو دی. نه پر محلې والا وو لِأَنَّهُ فِي يَدِهِ ځکه چي مقتول د هغه (سائق) په قبضه کي دی فَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَ فِي دَارِهِ نو داسي سو لکه مقتول چي د هغه په کور کي وي وَكَذَا إِذَا كَانَ قَائِدَهَا أَوْ رَاكِبَهَا او همداسي (حکم) دی کله چي هغه د چارپای کشونکی وي یا پر چارپای سنپور وي فَإِنِ اجْتَمَعُوا بیا که دا کسان (سائق. قائد او راکب) سره جمع سي فَعَلَيْهِمْ نو دیت پر دوی ټولو (واجب) دی لِأَنَّ الْقَتِيلَ فِي أَيْدِيهِمْ ځکه چي مقتول د دوی په قبضه کي دی فَصَارَ كَمَا إِذَا وُجِدَ فِي دَارِهِمْ نو داسي سو لکه مقتول چي د دوی په کور کي ومیندل سي.

اللغات: ﴿دابة﴾ چارپای (سپارلي). څاروی. ﴿یسوق﴾ د نصر له بابه د مضارع صیغه ده: چارپای د شا لخوا شړل (مشه کول). بیول. ﴿عاقلة﴾ د قاتل متعلقین او نژدې قریبان او قومیان (خاندان والا). ﴿قائد﴾ د نصر د باب فاعل دی: کشونکی. یعني د مخ لخوا د چارپای کشونکی او بیونکی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړي د محلې سره چارپای (یامثلاً موټر) روان کړی وي او پر هغه چارپاي (یاموټر کي) مقتول ومیندل سي، نو د مقتول دیت د سائق (بېونکي) پر عاقله وو دی. نه پر محلې والا وو: ځکه مقتول کس د سائق په قبضه کي دی. لهذا د هغه دیت به د سائق عاقله اداء وي. نه محلې والا. د دې مثال داسي دی لکه د سائق په خپل کور کي چي مقتول ومیندل سي. نو په دې صورت کي هم د سائق پر عاقله وو دیت واجبیږي او پر محلې والا وو نه واجبیږي.

وكذا إلخ: فرمايي کوم حکم چي د سائق دی يعني هغه کس کوم چي د شا لخوا په چارپای پسې وي، هغه حکم د قائد هم دی کوم چي د مخ لخوا چارپای کشوي او هغه حکم د سپاره کس هم دی.

فإن اجتمعوا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د چارپای سره یو سائق وي او بل قائد وي او بل پر چارپای سپور (راکب) وي، بیا پر هغه چارپای یو مقتول ومیندل سي، نو پر دوی ټولو دیت واجبیږي: ځکه مقتول د دوی ټولو په قبضه کي دی، لهذا څرنګه چي په هغه صورت کي پر دوی دیت واجب دی چي مقتول د دوی په کورو کي میندل سوی وي. نو همداسي به د دوی په قبضه کي د مقتول د موجودېدلو په صورت کي هم پر دوی د مقتول دیت واجبیږي.

د دوو کلو او آبادیو تر مینځ پر چارپای د مقتول میندل کېدلو حکم

قَالَ: وَإِنْ مَرَّتْ دَابَّةٌ بَيْنَ الْقَرْيَتَيْنِ وَعَلَيْهَا قَتِيلٌ فرمايي: او که یو چارپای د دوو کلو تر مینځ تېر سي او پر هغه یو مقتول [اېښوول سوی] وي فَهُوَ عَلَى أَقْرَبِهِمَا نو دیت له هغوی دواړو څخه پر نژدې کلي والا [واجب] دی لِمَا رُوِيَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أُتِيَ بِقَتِيلٍ وُجِدَ بَيْنَ قَرْيَتَيْنِ [1] ځکه روایت سوی دی چي نبي ﷺ ته یو داسي مقتول راوړل سو کوم چي د دوو کلو تر مینځ میندل سوی وو فَأَمَرَ أَنْ يُذْرَعَ نو نبي ﷺ د ګز کولو [ګزولو] حکم وکړی وَعَنْ عُمَرَ رضي الله عنه أَنَّهُ لَمَّا كُتِبَ إِلَيْهِ فِي الْقَتِيلِ الَّذِي وُجِدَ بَيْنَ وَادِعَةَ وَأَرْحَبَ او له حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دی کله چي دوی ته د هغول مقتول په هکله خط لیکل سوی وو کوم چي د [همدان د دوو قبیلو] وادعه او أرحب تر مینځ میندل سوی وو كَتَبَ بِأَنْ يَقِيسَ بَيْنَ قَرْيَتَيْنِ نو حضرت عمر رضي الله عنه ولیکل چي د دواړو کلو مینځ دي اندازه کړی سي فَوُجِدَ الْقَتِيلُ إِلَى وَادِعَةَ أَقْرَبَ نو مقتول وادعه ته زیات نژدې ومیندل سو فَقَضَى عَلَيْهِمْ بِالْقَسَامَةِ

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى، كتاب القسامة، باب ما روي في القتيل يوجد بين قريتين، حديث رقم: ١٦٥٣١.

نو حضرت عمر ﷛ پر هغو [اهل وادعه] باندي د قسامت فیصله وکړه قِيلَ: هٰذَا مَحْمُولٌ عَلىٰ مَا
ویل سوي دي: چي دا [پر أقرب د دیت فیصله کول] پر هغه صورت محمول دي إِذَا كَانَ بِحَيْثُ يَبْلُغُ
أَهْلَهُ الصَّوْتُ کله چي مقتول پر داسي ځای وي چي اهلِ أقرب ته آواز رسېدلای سي لِأَنَّهُ إِذَا كَانَ
بِهٰذِهِ الصِّفَةِ ځکه کله چي مقتول په داسي صفت سره [او پر داسي موقع] وي يَلْحَقُهُ الْغَوْثُ نو هغه ته
مدد رسېدلای سي فَتُمْكِنُهُمُ النُّصْرَةُ نو د هغوی [اهل أقرب] لپاره مدد کول ممکن وي وَقَدْ قَصَّرُوا
حال دا چي [دلته] هغو کوتاهي [او لا پروايي] کړې ده.

اللغات: ﴿قريتين﴾ تثنیه د قَرْيَةٌ: غټ کلی، قبصه، هغه سیمه او علاقه چي يو بل ته نژدې ډېري ودانۍ (استوګنځی) او کورونه کښېي جوړ سوي وي. ﴿يذرع﴾ د فتح د باب مضارع مجهول ده: ګزول، په ذراع (ګز) سره اندازه کول. ﴿يقيس﴾ د ضرب د باب مضارع ده: د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: اندازه کول، ناپول. ﴿غوث﴾ مدد، مرسته، مراد: مدد کونکی، غاروسي (فریادرس). ﴿قصروا﴾ د تفعیل له بابه د جمع مذکر غائب ماضي صیغه ده: کوتاهي او لا پروايي کول، د قدرت باوجود لازم کار نه کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو داسي چارپای چي پر هغه مقتول وميندل سي د دوو کلو تر مينځ روان وي او د چارپای سره څوک نه وي، نو په دې صورت کي د نژدې کلي والا پر خلکو د مقتول ديت واجبېږي يعني کوم کلی چي چارپای ته نژدې وي، مثلاً که چارپای له يوه کلي څخه شل قدمه او له بل کلي څخه څلوېښت قدمه لیري وي، نو د شلو قدمو پر فاصله چي کوم کلی واقع دی د هغه پر خلکو د مقتول دیت واجب دی: په دې هکله اول دلیل په عبارت کي مذکوره حدیث دی چي نبي کريم ﷺ ته يو داسي مقتول راوړل سو کوم چي د دوو کلو تر مينځ ميندل سوی وو. نو نبي ﷺ کريم د هغه دوو کلو د فاصلې د ګزولو حکم وکړی او پر نژدې کلي والا يې ديت واجب کړی.

دوېم دلیل د حضرت عمر ﷛ هغه خط دی کوم چي د "وادعه" او "ارحب" تر مينځ د پيدا کېدونکي مقتول په هکله حضرت عمر ﷛ ليکلی وو او په هغه کي يې داليکلي وه چي مقتول ته کوم کلی زيات نژدې وي، د هغه پر اهل دې ديت واجب کړی سي، نو تر اندازه کولو وروسته معلومه سوه چي "قريه وادعه" مقتول ته زياته نژدې ده، لهذا د هغې پر خلکو ديت واجب کړی سو: له دې

دواړو دلیلونو څخه دا خبره څرګنده سوه چي مقتول کوم کلي ته زیات نژدې وي، د هغه پر خلګو به دیت واجبول کیږي.

قیل هذا إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د بعضي فقهاؤ رایه دا ده چي پر کلي والا وو د دیت واجبولو لپاره دا ضروري ده چي هغه کلی به د مقتول چارپای ته دومره نژدې وي چي له هغه څخه د مقتول آواز کلي والا ته رسېدلای سي، ځکه صرف په همدې صورت کي د کلي د خلګو لپاره مقتول ته لاس رسی او د هغه مدد کول ممکن دي او صرف په همدې صورت کي د هغو له طرفه په حفاظت او مدد کي کوتاهي او لا پروایي ثابتیږي چي د هغه پر بناء به دوی دیت اداء کوي. لېکن که نژدې کلي ته آواز نه سي رسېدلای، نو بیا پر هغو دیت نه واجبیږي، لېکن دا د بعضي حضراتو قول دی. په همدې وجه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله هغه په "قِيلَ" سره بیان کړی دی. او ظاهر روایت اول قول دی.

د یو انسان په کور کي د مقتول میندل کېدلو حکم

قَالَ: وَإِنْ وُجِدَ الْقَتِيلُ فِي دَارِ إِنْسَانٍ فرمایي: او که مقتول د یو انسان په کور کي ومیندل سي فَالْقَسَامَةُ عَلَيْهِ نو قسامت پر هاغه [واجب] دی لِأَنَّ الدَّارَ فِي يَدِهِ ځکه چي کور د هاغه په قبضه کي دی وَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ او دیت د ده پر عاقله وو [واجب] دی لِأَنَّ نُصْرَتَهُ مِنْهُمْ وَقُوَّتَهُ بِهِمْ ځکه د ده مرسته له هغو څخه ده او د ده قوت په هغو سره دی [یعني عاقله د ده مرستة کوونکي دي او د هغو په وجه ده ته قوت حاصل دی].

اللغات: ﴿عاقله﴾ متعلقین او نژدې قریبان او قومیان (خاندان والا). ﴿نُصْرَة﴾ مدد او کومک. امداد.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د یو چا په کور کي مقتول ومیندل سي، نو قسامت صرف د کور پر مالک واجبیږي، او دیت به د هغه عاقله اداء کوي؛ قسامت ځکه د کور پر مالک واجبیږي چي کور د هاغه په قبضه او ملکیت کي دی او د مقتول قتل د هاغه په ملکیت کي واقع سوی دی (لهذا هغه تنها د اهلِ محلې په درجه کي دی)، نو ځکه د مقتول ضامن به هم هاغه وي. او دا دیت به ځکه د هغه عاقله اداء کوي چي همدا عاقله د هغه مرسته کونکي او لاس نیونکي دي او په همدوی سره هغه طاقتمن او قدرتمن شمېرل کیږي.

د محلې په مالکانو او اوسېدونکو کې پر کوم چا قسامت واجبېږي؟

قَالَ: وَلَا تَدْخُلُ السُّكَّانُ فِي الْقَسَامَةِ مَعَ الْمُلَّاكِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ فرمايي: د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په قسامت کې د مالکانو سره اوسېدونکي نه داخلېږي وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ او همدا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ ۞ : هُوَ عَلَيْهِمْ جَمِيْعًا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې ديت پر اوسېدونکو او مالکانو ټولو باندې [واجب] دی لِأَنَّ وِلَايَةَ التَّدْبِيْرِ كَمَا تَكُوْنُ بِالْمِلْكِ ځکه د تدبير ولايت چې څرنګه د ملکيت [مالک کېدلو] په ذريعه وي تَكُوْنُ بِالسُّكْنٰى همداسې د استوګنې [اوسېدلو] په ذريعه وي أَلَا تَرٰى أَنَّهُ ﷺ ❶ جَعَلَ الْقَسَامَةَ وَالدِّيَةَ عَلَى الْيَهُوْدِ آيا ته نه ګورې! چې نبي ﷺ پر يهودو قسامت او ديت واجب کړي وه وَإِنْ كَانُوْا سُكَّانًا بِخَيْبَرَ که څه هم هغوی په خيبر کې اوسېدونکي وه [مالکان نه وه] وَلَهُمَا: أَنَّ الْمَالِكَ هُوَ الْمُخْتَصُّ بِنُصْرَةِ الْبُقْعَةِ دُوْنَ السُّكَّانِ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې د ځمکې د نصرت سره صرف د ځمکې مالک خاص دی. نه اوسېدونکي لِأَنَّ سُكْنَى الْمُلَّاكِ أَلْزَمُ ځکه د مالکانو استوګه زياته دوام والا وي وَقَرَارُهُمْ أَدْوَمُ او د هغو بقاء زياته دائمي وي فَكَانَتْ وِلَايَةُ التَّدْبِيْرِ إِلَيْهِمْ لهذا د تدبير ولايت به همدوی ته حاصل وي فَيَتَحَقَّقُ التَّقْصِيْرُ مِنْهُمْ نو [په حفاظت کې] کوتاهي [او لاپروايي] به د همدوی له طرفه ثابته وي وَأَمَّا أَهْلُ خَيْبَرَ فَالنَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَقَرَّهُمْ عَلٰى أَمْلَاكِهِمْ او پاته سو اهل خيبر نو نبي کريم ﷺ هغوی پر خپلو ملکيتونو باقي پرې اينبي وه وَكَانَ يَأْخُذُ مِنْهُمْ عَلٰى وَجْهِ الْخَرَاجِ او له هغو څخه به يې د خراج په توګه اخيستنه کوله.

اللغات: ﴿سُكَّان﴾ جمع د سَاكِنٌ ده: اوسېدونکي. ﴿سكنٰى﴾ اوسېدنه. استوګنه (استوګه) ﴿بقعة﴾ د ځمکې ټوټه (ټوکره). قطعه. ﴿ألزم﴾ د سمع له بابه اسم تفضيل دی: زيات ثابت. زيات دائم (دوام والا). ﴿أقرّ﴾ د افعال د باب ماضي ده. د دې باب له معناوو څخه يوه معنىٰ ده: باقي پرېښوول. برقرار ساتل.

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله. انظر للتفصيل القول الراجح [ج۲، ص: ۳۶۵]

❶ تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى، كتاب القسامة، باب أصل القسامة، حديث رقم: [illegible]

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که په يو کلي کې ځيني داسې خلک وي کوم چې د دې کلي د ځمکو اصلي مالکان وي او ځيني داسې خلک وي کوم چې بغير له ملکيته د کرايې وغيره په توګه دلته اوسيږي (يعني عارضي اوسېدونکي)، بيا په دې کلي کې يو مقتول وميندل سي. نو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز صرف پر مالکانو قسامت او ديت واجبيږي او پر اوسېدونکو (کرايه دارانو) ديت نه واجبيږي.

لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز پر اوسېدونکو او مالکانو دواړو قسامت او ديت واجبيږي: ځکه د قسامت تعلق د تدبير د ولايت سره دی او په دې ولايت او اختيار کې ټوله سره برابر دي ځکه د تدبير ولايت په ملکيت (مالک کېدلو) سره هم حاصليږي او په او په سکنیٰ (اوسېدلو) سره هم حاصليږي. **لهذا څرنګه چې پر مالکانو قسامت** او ديت واجب دي. نو همداسې به پر عارضي اوسېدونکو هم دا شيان واجب وي، همدا وجه ده چې نبي کريم ﷺ د خيبر پر يهودو قسامت او ديت واجب کړی وو. حال دا چې هغوی د خيبر د ځمکو مالکان نه وه بلکې هلته استوګن وه. که پر اوسېدونکو قسامت او ديت نه واجبېدلای نو د خيبر پر يهودو به نبي ﷺ هغه نه واجبولای. معلومه سوه چې پر اوسېدونکو هم دا شيان واجبيږي.

ولهما إلخ: د طرفينو رَحِمَهُمَا الله د دليل حاصل دا دی چې د ځمکې نصرت او څارنه د ځمکې د مالک سره خاص ده. او د اوسېدونکو تعلق ور سره نسته: ځکه د اوسېدونکو (کرايه دارانو) په اوسېدنه کې دوام او قرار نه وي. بلکې د موسمي مرغانو په څېر هغوی هم کورونه او استوګې بدلوي. د دوی په خلاف د مالکانو په اوسېدنه کې دوام او ابديت وي او هغوی استوګه نه بدلوي. لهذا حقيقي تدبير او نصرت و حفاظت به د همدې مالکانو سره متعلق وي او صرف د همدوی له طرفه به د مقتول او محلې په حفاظت او څارنه کمي او لا پروايي ثابته وي. نو ځکه قسم او ديت به صرف له همدوی څخه اخيستل کيږي. نه له اوسېدونکو (کرايه دارانو) څخه.

وأما أهل خيبر إلخ: امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په خپل دليل کې دا اهلِ خيبر واقعه پېش کړې وه. دلته د هغه جواب ورکوي فرمايي چې اهل خيبر عارضي اوسېدونکي (سکان) ګڼل صحيح نه دي: ځکه هغوی اوسېدونکي نه وه بلکې مالکان وه او نبي ﷺ هغوی پر خپلو ملکيتونو او ځمکو باقي پرې ايښي وه. او کوم څه چې يې له هغو څخه اخيستل. هغه يې د خراج په توګه ځني اخيستل. لهذا د اهل خيبر په واقعه سره دليل نيول او پر عارضي اوسېدونکو قسامت او ديت واجبول صحيح نه دي.

د محلې پر کومو مالکانو قسامت واجبيږي؟

قَالَ: وَهُوَعَلٰى أَهْلِ الْخُطَّةِ دُوْنَ الْمُشْتَرِيْنَ فرمايي: او هغه [وجوب د قسامت او ديت] په اهل خطه وو باندې دی. نه په رانيونکو باندې وَهٰذَا قَوْلُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ ® : الْكُلُّ مُشْتَرِكُوْنَ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دوی ټوله [په قسامت او ديت کې] مشترک دي لِأَنَّ الضَّمَانَ إِنَّمَا يَجِبُ بِتَرْكِ الْحِفْظِ مِمَّنْ لَهُ وِلَايَةُ الْحِفْظِ ځکه ضمان د هغه کس له طرفه د حفاظت پرېښوولو په وجه واجبيږي چې هغه لره د حفاظت کولو ولايت [او اختيار] حاصل وي وَبِهٰذَا الطَّرِيْقِ يُجْعَلُ جَانِيًا مُقَصِّرًا او په همدې توګه هغه [من له ولاية الحفظ] جنايتکاره او قصور واره ګرځول کيږي وَالْوِلَايَةُ بِاعْتِبَارِ الْمِلْكِ او د حفاظت ولايت د ملکيت [مالک والي] په اعتبار سره وي وَقَدِ اسْتَوَوْا فِيْهِ او په ملکيت کې دوی ټوله سره برابر دي وَلَهُمَا: أَنَّ صَاحِبَ الْخُطَّةِ هُوَالْمُخْتَصُّ بِنُصْرَةِ الْبُقْعَةِ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چې همدا صاحب خطه [جاګيردار] د ځمکې په نصرت سره مختص دی هُوَالْمُتَعَارَفُ همدا متعارف ده وَلِأَنَّهُ أَصِيْلٌ وَالْمُشْتَرِيْ دَخِيْلٌ او ځکه چې صاحب خطه اصيل دی او مشتري دخيل دی وَوِلَايَةُ التَّدْبِيْرِ إِلَى الْأَصِيْلِ او د تدبير ولايت اصيل ته حاصل وي وَقِيْلَ: أَبُوْحَنِيْفَةَ بَنٰى ذٰلِكَ عَلٰى مَا شَاهَدَ بِالْكُوْفَةِ او ويل سوي دي: چې امام صاحب رَحِمَهُ الله دا [مسئله] پر هغه حالت بناء کړې ده چې دوی په کوفه کې د هغه مشاهده کړې وه [يعني امام صاحب رَحِمَهُ الله د کوفې پر عُرف او حالت د دې مسئلې بنياد ايښی دی].

اللغات: ﴿اهل خطة﴾ د يو وطن او علاقې د فتح کولو په وخت کې چې امام او واکمن کومې ځمکې او جايدادونه خلګو ته په تقسيم وزکړي وي چې همدوی يې اول مالکان وي. هغو ته "اهل خطه" وايي او د هغو د نشتوالي په صورت کې بيا د هغو اولاد او نسل ته اهل خطه وايي. داسې

® القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، كما ذكر في الكتاب. [illegible] قال الأستاذ [illegible] حفظه الله تعالى: والعمل على قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله أوفق في هذا الزمان، لأن الثلاث [illegible] من أهل [illegible] القسامة على الثلاث القديمة دون الحديثة، لازدياد الفساد في البلاد [illegible]. وأشار إلى هذا العلامة [illegible] حسب [illegible] والظاهر أن هذا الرأي في الظروف الحاضرة هي الأولى بالاتباع. [القول الراجح ج٢ ص [illegible]]

ځمکي او جایداد ته "جاګیر" او خاوند ته یې "جاګیردار" وایي. او له مشترین (رانیونکو) څخه مراد هغه خلک دي کوم چي وروسته راغلي وي او دا ځمکه او جایداد یې اخیستلی وي او د امام له طرفه هغو ته دا ځمکه ابتداءً نه وي ورکول سوې. په لنډه وینا دا چي اهلِ خِطه د ځمکو هغو مالکانو ته وایي چي په شروع کي د امام له طرفه هغه ځمکي ورکول سوي وي. او مشترین هغو مالکانو ته وایي چي په رانیولو سره د ځمکو مالکان سوي وي. ﴿مقصر﴾ د تفعیل د باب فاعل دی: کوتاهي او لا پروایي کونکی. د قدرت لرلو برسېره د لازم کار پرېښوونکی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي د امام صاحب او امام محمد رَحِمَهُمَا الله په نېز په اهل محله کي صرف پر هغو مالکانو قسامت او دیت واجبیږي کوم چي اهلِ خطه (جاګیرداران) وي. نه پر مشترینو (رانیونکو). لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر اهلِ خطه او مشترینو ټولو باندي قسامت او دیت واجبیږي. ځکه دواړه فریقه مالکان دي او دواړو ته د حفاظت ولایت حاصل دی. لهذا د حفاظت او څارني د پرېښوولو په وجه به د دواړو فریقو (اهل خطه او مشترینو) له طرفه کوتاهي او لا پروایي ثابته وي. نو ځکه ضمان به هم پر دواړو فریقو واجب وي.

د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي متعارف همدا ده چي د دې علاقې او ځمکي د حفاظت اصل ذمه واران اهلِ خطه دي. او ځکه چي اهلِ خطه اصیل دي او مشترین دخیل دي او "ولایت تدبیر" (د تدبیر ولایت) اصیل لره حاصل وي، نه دخیل لره. لهذا د حفاظت د پرېښوولو کوتاهي او لا پروایي به صرف د اهلِ خطې له طرفه ثابته او موجوده وي نو صرف پر هغو به قسامت او دیت واجبیږي.

وقیل: أبوحنیفة إلخ: فرمایي چي د ځیني حضراتو رایه دا ده چي امام صاحب رَحِمَهُ الله په کوفه کي د دې لیدنه کړې وه چي کوفیانو صرف اهلِ خطه د "ولایتِ تدبیر" مالکان شمېرل او مشترین یې له هغه څخه بري ګڼل. نو امام صاحب رَحِمَهُ الله دا مسئله د خپلي لیدني او مشاهدې مطابق وضع کړه او مشترین یې له قسامت او دیت څخه بري کړل.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

قَالَ: وَإِنْ بَقِيَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ فرمایي: او که له دوی څخه صرف یو پاته وي فَكَذٰلِكَ نو همداسي [حکم] دی يَعْنِيْ مِنْ أَهْلِ الْخُطَّةِ یعني له اهلِ خطه وو [جاګیردارنو] څخه [صرف یو پاته وي] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی وَإِنْ لَمْ يَبْقَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ او که له دوی څخه یو هم پاته نه

وي بِأَنْ بَاعُوا كُلُّهُمْ په دې توګه چي دوی ټولو خرڅ کړي وي فَهُوَعَلَى الْمُشْتَرِيْنَ نو هغه [قسامت او دیت] پر رانیونکو دي لِأَنَّ الْوِلَايَةَ انْتَقَلَتْ إِلَيْهِمْ ځکه چي ولایت د دوی وطرف ته منتقل سو أَوْ خَلَصَتْ لَهُمْ یا د دوی لپاره خالص سو [یعني ولایت فقط د دوی سره خاص دی] لِزَوَالِ مَنْ يَتَقَدَّمُهُمْ أَوْ يُزَاحِمُهُمْ د هغه خلګو د لیري کېدلو [نه پاتېدلو] په وجه کوم چي له دوی څخه مخکي دي یا د دوی مزاحم [مقابل] دي [یعني اهل خطه].

اللغات: ﴿خلصت﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: خالص کېدل.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که په یو کلي او محله کي له اهلِ خطه وو (جاګیردارانو) څخه صرف یو کس پاته وي. بیا په هغه کلي کي یو مقتول ومیندل سي. نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز صرف پر هغه یوه جاګیردار قسامت او دیت واجبیږي. ځکه چي هم هاغه د تدبیر ولي دی.

ها! که له اهلِ خطه وو څخه یو هم پاته نه وي په دې توګه چي ټولو خپلي ځمکي او جایدادونه خرڅ کړي وي. نو په دې صورت کي پر خریدارانو (مشترینو) قسامت او دیت واجبیږي: ځکه اوس اهلِ خطه له دې ځایه کوچېدلي دي او د هغو په تګ سره د مشترینو په حق کي مزاحمت هم معدوم سوی دی او تقلمیت هم ختم سوی دی (ځکه ښکاره خبره ده چي کله اهل خطه دلته موجود ول نو هغوی د مشترینو مزاحم ول او هغو ته حق د تقدم حاصل وو. او د ځمکو په خرڅولو او کوچېدلو سره د تقدم او مزاحمت زایل سول). او هلِ خطه وو ته چي کوم "ولایت تدبیر" حاصل وو. هغه اوس د مشترینو نقل سو. نو ځکه اوس به صرف همدا مشترین (رانیونکي) د قسامت او دیت ذمه واره وي. (احسن الهدایه)

که د یو چا په کور کي مقتول ومیندل سي نو څه حکم دی؟

وَإِذَا وُجِدَ قَتِيْلٌ فِيْ دَارٍ او کله چي په یو کور کي یو مقتول ومیندل سي فَالْقَسَامَةُ عَلٰى رَبِّ الدَّارِ وَعَلٰى قَوْمِهٖ نو قسامت د کور پر مالک او د هغه پر قوم [عاقله وو] باندي دی وَتَدْخُلُ الْعَاقِلَةُ فِي الْقَسَامَةِ إِنْ كَانُوْا حُضُوْرًا او عاقله [په دې شرط] په قسامت کي داخلیږي که چیري هغوی حاضر وي وَإِنْ كَانُوْا غُيَّبًا او که هغوی غائب وي فَالْقَسَامَةُ عَلٰى رَبِّ الدَّارِ يُكَرَّرُ عَلَيْهِ الْأَيْمَانُ نو قسامت د کور پر مالک دی چي قسمونه به پر هغه مکرر ول کیږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا [حکم] د

طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نبز دى وَقَالَ أَبُويُوسُف ﷺ: لَا قَسَامَةَ عَلَى الْعَاقِلَةِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې پر عاقله وو قسامت نشته لِأَنَّ رَبَّ الدَّارِ أَخَصُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ ځکه د کور مالک د دې کور سره تر بل چا زيات خاص دى فَلَا يُشَارِكُهُ غَيْرُهُ فِيهَا نو ځکه بل څوک به د دهغه سره په دې قسامت کې نه شريکيږي كَأَهْلِ الْمَحَلَّةِ لَا يُشَارِكُهُمْ فِيهَا عَوَاقِلُهُمْ لکه محلي والا چې د دهغو سره په قسامت کې د دهغو عاقلې نه شريکيږي وَلَهُمَا: أَنَّ الْحُضُورَ لَزِمَتْهُمْ نُصْرَةُ الْبُقْعَةِ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چې پر حاضرينو د ځمکې نصرت لازم دى كَمَا تَلْزَمُ صَاحِبَ الدَّارِ لکه څرنګه چې د کور پر مالک لازم دى فَيُشَارِكُونَهُ فِي الْقَسَامَةِ لهذا حاضر عاقله به په قسامت کې د کور د مالک سره شريکيږي.

اللغات: ﴿حضور﴾ جمع د حَاضِرٌ ده: موجود. ﴿غيب﴾ جمع د غَائِبٌ ده: نا موجود. ﴿ربّ الدار﴾ د کور مالک. ﴿نُصْرَة﴾ مدد او کومک، امداد.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دى که د زيد په کور کې يو مقتول وميندل سي او د مقتول ولي د کور په مالک (زيد) باندي د قتل دعوىٰ وکړي، نو بالاتفاق د کور پر مالک قسامت واجب دى. لېکن د دهغه پر قوم او عاقله وو د قسامت په وجوب کې زموږ د امامانو اختلاف دى. د طرفينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا دى چې که د کور د مالک عاقله په دې کلي يا په ښار کې موجود وي، نو د کور د مالک سره پر هغو هم قسامت واجب دى. لېکن که هغوى موجود نه وي، نو بيا صرف د کور پر مالک قسامت واجب دى چې د کور پر مالک به قسم مکررول کيږي او پنځوس قسمونه به ځني اخيستل کيږي.

د دې په خلاف امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چې قسامت صرف د کور پر مالک واجب دى. پر عاقله وو واجب نه دى؛ ځکه د کور په ملکيت کې د کور مالک منفرد دى او د دهغه د عاقله وو فرد په هغه کې ور سره شريک نه دى، لهذا د ګور حفاظت او څارنه به هم يوازې د کور د مالک ذمه واري وي او په حفاظت کې د کوتاهي او لا پروايي کولو په وجه به صرف د دهغه مؤاخذه کيږي. لکه پر اهلِ محله وو چې کوم قسامت واجبيږي په هغه کې د اهل محلې عاقله نه ور سره شريک کيږي. نو همداسې به د کور پر مالک په واجبيدونکې قسامت کې هم د هغه عاقله نه ور سره شريک کيږي.

ﷺ القول الراجح: قول أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله. كما ذكر في الكتاب "القول الراجح" [ج:۲، ص:۳۶۷]

ولهما أن الحضور إلخ: د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي له عاقلې والا څخه چي کوم کسان حاضر او موجود وي، پر هغو د ځمکي حفاظت او نصرت لازم دی، او په هغه ځمکه کي د کور د مالک کور هم شامل دی، لهذا په کور کي د مقتول د پیدا کېدلو په وجه به د حاضرو عاقله وو له طرفه هم په حفاظت کي لا پروایي او کوتاهي ثابته وي، نو ځکه د کور د مالک سره به هغوی هم په قسامت کي شریکان کیږي.

که په مشترک کور کي مقتول ومیندل سي نو د ضمان طریقه

قَالَ: فَإِنْ وُجِدَ الْقَتِيْلُ فِيْ دَارٍ مُشْتَرَكَةٍ فرمایي: او که مقتول په داسي مشترک کور کي ومیندل سي نِصْفُهَا لِرَجُلٍ چي د هغه کور نیمه حصه دیوه سړي وي وَعُشْرُهَا لِرَجُلٍ او لسمه یې د بل سړي وي وَلِآخَرَ مَا بَقِيَ او پاته حصه یې د بل [درېیم] سړي وي فَهُوَ عَلَى رُءُوْسِ الرِّجَالِ نو ضمان د هغه خلکو د رؤسْ [افرادو] مطابق دی لِأَنَّ صَاحِبَ الْقَلِيْلِ يُزَاحِمُ صَاحِبَ الْكَثِيْرِ فِي التَّدْبِيْرِ ځکه لږ حصې والا په تدبیر کي د زیاتي حصې والا مزاحم دی فَكَانُوْا سَوَاءً فِي الْحِفْظِ وَالتَّقْصِيْرِ نو په حفاظت او کوتاهي [او لا پروایي] کولو کي به دوی ټوله سره برابر وي فَيَكُوْنُ عَلَى عَدَدِ الرُّءُوْسِ بِمَنْزِلَةِ الشُّفْعَةِ نو ځکه ضمان به د رؤسْ [افرادو] د شمېر مطابق وي د شفعي په څېر.

اللغات: ﴿عُشر﴾ لسمه حصه (لسمه)، ﴿رؤس﴾ سرونه، افراد، عدد رؤس: د افرادو تعداد.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که په یو داسي کور کي مقتول ومیندل سي کوم چي د څو خلکو تر مینځ مشترک وي او د هغه شریکانو ملکیتونه یو له بل څخه جلا وي یعني یو شریک د نیم کور مالک وي او یو د ثلث او یو د ربع، نو دیت د عدد رؤس مطابق واجبیږي، یعني پر دوی ټولو په مشترکه توګه دیت واجبیږي، او د دوی د ملکیتونو په اعتبار هره دیت نه واجبیږي چي د نیم کور مالک به نیم دیت ورکوي او ثلث والا به ثلث دیت او ربع والا به ربع دیت ورکوي، بلکي څرنګه چي د مشترک کور تر څنګ په خرڅېدونکي کور کي د عدد رؤس مطابق هر شریک ته شفعه حاصلیږي، نو همدغسي د عدد رؤس په اعتبار سره پر هر شریک دیت واجبیږي او د ملکیتونو تفاوت د دیت په وجوب کي نه مؤثر کیږي.

په رانیول سوي کور کي له قبضې څخه مخکي د مقتول د پیدا کېدلو په صورت کي دیت پر چا واجبیږي؟

قَالَ: وَمَنِ اشْتَرَىٰ دَارًا فرمايي: او څوک چي يو کور رانيسي وَلَمْ يَقْبِضْهَا حَتّٰى وُجِدَ فِيهَا قَتِيلٌ او پر کور قبضه نه وکړي تر دې چي په هغه کي يو مقتول وميندل سي فَهُوَ عَلٰى عَاقِلَةِ الْبَائِعِ نو ديت د بائع پر عاقله وو دی [د "هُوَ" ضمير يا "مذکور" يعني ديت يا "وجوب د ديت" ته راجع دی] وَإِنْ كَانَ فِي الْمَبِيعِ خِيَارٌ لِأَحَدِهِمَا او که په بيع کي د يوه عاقد [مشتري يا بائع] لپاره خيار وي فَهُوَ عَلٰى عَاقِلَةِ الَّذِي فِي يَدِهِ نو ديت د هغه کس پر عاقله وو دی چي د هغه په قبضه کي [کور] وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی وَقَالَا: إِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ خِيَارٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي که په بيع کي خيار نه وي فَهُوَ عَلٰى عَاقِلَةِ الْمُشْتَرِيْ نو ديت د مشتري پر عاقله وو دی وَإِنْ كَانَ فِيهِ خِيَارٌ او که په بيع کي خيار وي فَهُوَ عَلٰى عَاقِلَةِ الَّذِي تَصِيرُ لَهُ نو ديت د هغه يوه پر عاقله وو دی چي کور د هغه وګرځي [يعني که مشتري کور واخلي او د کور مالک سي نو ديت د هغه پر عاقلې دی، کني د بائع پر عاقلې دی] لِأَنَّهُ إِنَّمَا أُنْزِلَ قَاتِلًا بِاعْتِبَارِ التَّقْصِيرِ فِي الْحِفْظِ ځکه هغه [مالک] په حفاظت کي د کوتاهي کولو په وجه د قاتل په درجه ګرځول سوی دی وَلَا يَجِبُ إِلَّا عَلٰى مَنْ لَهُ وِلَايَةُ الْحِفْظِ او ضمان نه واجبيږي مګر په هغه چا باندي چي هغه لره د حفاظت ولايت حاصل وي وَالْوِلَايَةُ تُسْتَفَادُ بِالْمِلْكِ او د حفاظت ولايت په ملکيت سره حاصليږي وَلِهٰذَا كَانَتِ الدِّيَةُ عَلٰى عَاقِلَةِ صَاحِبِ الدَّارِ دُونَ الْمُوْدَعِ په همدې وجه ديت د کور د مالک پر عاقله وو واجبيږي، نه د مودَع وَالْمِلْكُ لِلْمُشْتَرِيْ قَبْلَ الْقَبْضِ فِي الْبَيْعِ الْبَاتِّ او په قطعي بيع کي تر قبضې مخکي هم ملکيت د مشتري لپاره ثابتيږي وَفِي الْمَشْرُوطِ فِيهِ الْخِيَارُ يُعْتَبَرُ قَرَارُ الْمِلْكِ او په هغه بيع کي چي خيار پکښې شرط وي د ملکيت د قرار اعتبار کول کيږي كَمَا فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ لکه په صدقهٔ فطر کي [چي د ملکيت د قرار حالت معتبر دی].

اللغات: ﴿تستفاد﴾ د استفعال له بابه د مضارع مجهولي صيغه ده: حاصلول او ترلاسه کول.

﴿مودَع﴾ د افعال د باب مفعول دی: چا ته چي امانتاً يو شی ايښوول سوي وي. په امانت يو څه ورکول

سوي وي. ﴿بَاتّ﴾ د ضرب د باب اسم فاعل دی: قطعي، حتمي (کوم څه چې په حتمي او يقيني توګه نافذ وي). مراد ځني نافذه سوې بيع (بيع تام) ده چې په هغه کې خيار شرط نه وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو څوک (مثلاً زيد) کور رانيسي او پر هغه قبضه نه وکړي. بيا په هغه کور کې يو مقتول وميندل سي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دې مقتول ديت د بائع پر عاقله وو لازميږي: ځکه د هغه په نېز د ضمان مدار پر قبضه دی او دلته مشتري تر اوسه پر دې کور قبضه نه ده کړې، نو ځکه کوم يو چې قابض دی يعني بائع د هغه پر عاقله وو به ديت واجبيږي. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په مذکوره صورت کې د مشتري پر عاقله وو ديت واجبيږي: ځکه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د ديت واجبېدلو مدار پر ملکيت دی او په رانيولو سره مشتري ته ملکيت حاصل سوی دی.

او که په بيع کې يوه عاقد يعني مشتري يا بائع لره خيلږ (اختيار) شرط وي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه يوه پر عاقله وو ديت واجبيږي کوم چې في الحاله پر کور قابض وي. لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د ديت حکم موقوف پاتيږي او په آينده کې چې کور د کوم يوه ملکيت ته راسي. د هغه پر عاقله وو ديت واجبيږي.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې د ضمان واجبېدلو تعلق په حفاظت کې د تقصير او لا پروايي کولو سره دی (لکه مخکې چې ضمناً ذکر سوه): ځکه په همدې حفاظت کې د لا پروايي کولو په وجه من له ولاية الحفظ قاتل شمېرل کيږي. او ولاية الحفظ په ملکيت سره حاصليږي (يعني د حفاظت کولو ولايت او اختيار مالک ته حاصليږي). نو ځکه موږ وايو چې که په بيع کې خيار شرط نه وي نو څرنګه چې په دې صورت کې په رانيولو سره مشتري د کور مالک کيږي. نو ځکه د هاغه پر عاقله وو به ديت واجبيږي. او که په بيع کې خيار شرط وي نو په دې صورت کې ملکيت بر قرار او موقوف پاتيږي او په حتمي توګه يوه ته ملکيت نه حاصليږي. نو موږ په هغه کې د ملکيت د قرار په اعتبار کولو سره د ديت حکم موقوف کړی دی او فيصله مو دا کړې ده چې په آينده کې کوم هو مالک سي. د هغه پر عاقله وو ديت واجبيږي. همدا وجه ده چې که يو کور مثلاً زيد ته په وديعت ورکول سوی دي او بيا په هغه کور کې مذکوره قصه پېښه سي. نو ضمان د کور پر مالک واجبيږي. نه پر مودَع (زيد). د دې مثال داسې دی لکه څنګه چې په صدقهٔ فطر کې کيږي چې که څوک د اختر په ورځ په خيلږ شرط سره خپل غلام خرڅ کړي، نو د خيار په وخت کې د هغه غلام صدقهٔ فطر پر يوه هم نه واجبيږي (نه پر بائع او نه پر مشتري). بلکې تر خيار وروسته چې کوم يو د غلام مالک سي. پر هاغه د

غلام صدقهٔ فطر واجبیږي. نو همداسي دلته هم که چیري بیع بشرط الخیار وي، نو تر خیار وروسته چي کوم یو د کور مالک سي، د هاغه پر عاقله وو به دیت واجبیږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل

وَلَهُ: أَنَّ الْقُدْرَةَ عَلَى الْحِفْظِ بِالْيَدِ لَا بِالْمِلْكِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي پر حفاظت قدرت لرل په قبضه سره وي، نه په ملکیت سره أَلَا يَرَى أَنَّهُ يَقْتَدِرُ عَلَى الْحِفْظِ بِالْيَدِ بِدُونِ الْمِلْكِ آیا نه ګوري! چي انسان له ملکیت څخه بغیر [یوازي] په قبضه سره پر حفاظت قادر کیږي وَلَا يَقْتَدِرُ بِالْمِلْكِ بِدُونِ الْيَدِ او له قبضې څخه بغیر [یوازي] په ملکیت سره نه قادر کیږي وَفِي الْبَاتِّ الْيَدُ لِلْبَائِعِ قَبْلَ الْقَبْضِ او په قطعي بیع کي [د مشتري] تر قبضې مخکي د بائع قبضه وي وَكَذَا فِيمَا فِيهِ الْخِيَارُ لِأَحَدِهِمَا قَبْلَ الْقَبْضِ او همداسي به [د بائع قبضه وي] په هغه بیع کي چي په هغه کي تر قبضې مخکي د یوه [بائع یا مشتري] لپاره خیار وي لِأَنَّهُ دُونَ الْبَاتِّ ځکه چي دا [خیار والا بیع] له قطعي بیع څخه لاندي [د کمي درجې] ده وَلَوْ كَانَ الْمَبِيعُ فِي يَدِ الْمُشْتَرِي وَالْخِيَارُ لَهُ او که مبیع د مشتري په قبضه کي وي او خیار هغه لره وي فَهُوَ أَخَصُّ النَّاسِ بِهِ تَصَرُّفًا نو دا مشتري د تصرف په اعتبار تر ټولو خلکو د دې مبیع سره زیات خاص دی وَلَوْ كَانَ الْخِيَارُ لِلْبَائِعِ او که خیار د بائع لپاره وي فَهُوَ فِي يَدِهِ مَضْمُونٌ عَلَيْهِ بِالْقِيمَةِ نو مبیع د مشتري په قبضه کي مضمون بالقیمة ده كَالْمَغْصُوبِ لکه غصب کړی سوی شی فَتُعْتَبَرُ يَدُهُ نو ځکه د مشتري قبضه به معتبره وي إِذْ بِهَا يَقْدِرُ عَلَى الْحِفْظِ ځکه د همدې قبضې په وجه مشتري پر حفاظت قادر کیږي.

اللغات: ﴿ید﴾ لاس، مراد: قبضه. ﴿أخصّ﴾ د نصر له بابه اسم تفضیل دی: زیات خاص. زیات خصوصیت لرونکی.

تشریح: دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دی، حاصل یې دا دی چي کوم شی د انسان په قبضه کي وي او انسان د هغه مالک نه وي، نو هم انسان د هغه شي پر حفاظت کولو قدرت لري، یعني د قبضې په وجه انسان پر حفاظت او څارنه قادر کیږي، لېکن که قبضه نه وي او ملکیت وي یعني شی د انسان په قبضه کي نه وي او انسان د هغه مالک وي، نو انسان د هغه پر حفاظت قادر نه وي، او دلته په مذکوره مسئله کي چي کله په قطعي بیع (بیع بدون شرط الخیار) کي د مشتري له قبضې څخه مخکي پر مبیع

(کور) د بائع قبضه ده. نو ښکاره ده چې په دې صورت کې خو دیت د بائع پر عاقله وو لازم دی. او په کوم صورت کې چې بیع قطعي نه وي او په هغه کې د یوه لپاره خیار شرط وي (یعنې بیع بشرط الخیار وي)، نو په هغه کې به په درجه اولیٰ پر مبیع (کور) د بائع قبضه وي او دیت به د بائع پر عاقله وو لازم وي: ځکه بیع بشرط الخیار له قطعي بیع څخه لاندې او کمتره ده.

ولوکان المبیع إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مبیع د مشتري په قبضه کې وي او هغه ته په بیع کې خیار هم حاصل وي، نو مشتري په دې مبیع کې تر هر چا زیات د تصرف حقدار دی: ځکه قبضه او ملکیت دواړه شیان د هغه په حق کې جمع دي. لهذا د مبیع سره اړوند اُمور (ضمان او دیت وغیره) به پر هاغه لازم وي.

ولوکان الخیار للبائع إلخ: فرمایي چې که مبیع د مشتري په قبضه کې وي او خیار بائع ته حاصل وي، نو څرنګه چې (د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز) اصل مدار پر قبضه دی. نو ځکه دا مبیع د مشتري په قبضه کې مضمون بالقیمت ده. یعنې که مبیع د مشتري په قبضه کې هلاک سي نو پر هغه د مبیع د قیمت ضمان واجبیږي. لکه څرنګه چې مغصوب شی د غاصب په قبضه کې مضمون بالقیمت وي. لنډه دا چې شرعاً قبضه معتبره سوه ځکه د قبضې په وجه څوک د شي پر حفاظت قادر کیږي نو ځکه د حفاظت پر ښنوولو په وجه پر هغه ضمان واجبیږي (خلاصه دا چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دلته د ضمان واجبدلو مدار پر قبضه دی او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز پر ملکیت دی).

که د قابض په کور کې مقتول ومیندل سي نو د دیت حکم

قَالَ: وَمَنْ كَانَ فِيْ يَدِهٖ دَارٌ فرمایي: او د چا په قبضه کې چې یو کور وي فَوُجِدَ فِيْهَا قَتِيْلٌ او په هغه کې یو مقتول ومیندل سي لَمْ تَعْقِلْهُ الْعَاقِلَةُ نو عاقله به د هغه دیت نه اداء کوي حَتّٰى تَشْهَدَ الشُّهُوْدُ أَنَّهَا لِلَّذِيْ فِيْ يَدِهٖ تر دې چې ګواهان ګواهي ورکړي چې دا کور د هاغه دی د چا په قبضه کې چې دی لِأَنَّهٗ لَا بُدَّ مِنَ الْمِلْكِ لِصَاحِبِ الْيَدِ حَتّٰى تَعْقِلَ الْعَوَاقِلُ عَنْهُ ځکه د قبضې والا لپاره ملکیت [د کور مالک کېدل] ضروري دي چې عاقلې د هغه له طرفه دیت اداء کړی سي وَالْيَدُ وَإِنْ كَانَتْ دَلِيْلًا عَلَى الْمِلْكِ او قبضه که څه هم د ملکیت دلیل ده لٰكِنَّهَا مُحْتَمَلَةٌ لیکن هغه محتمله ده فَلَا تَكْفِيْ لِإِيْجَابِ الدِّيَةِ عَلَى الْعَاقِلَةِ نو ځکه هغه [قبضه] به پر عاقله وو د دیت واجبولو لپاره کافي نه وي كَمَا لَا تَكْفِيْ لِاسْتِحْقَاقِ الشُّفْعَةِ بِهٖ فِي الدَّارِ الْمَشْفُوْعَةِ لکه څرنګه چې په مشفوعه کور کې د شفعې د مستحق

کېدلو لپاره قبضه کافي نه ده فَلَابُدَّ مِنْ إِقَامَةِ الْبَيِّنَةِ نو ځکه د بینې پېشول ضروري دي.

اللغات: ﴿يد﴾ لاس. مراد: قبضه. ﴿لم تعقل﴾ د ضرب له بابه د جحد صيغه ده. د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: ديت اَداء کول (ديت ورکول). ﴿شهود﴾ جمع د شَاهِدٌ ده: ګواه.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د زيد په قبضه کې يو کور وي بيا په هغه کې يو مقتول وميندل سي. نو تر څو چې ګواهان د دې خبرې ګواهي ورنه کړي چې کوم څوک پر دې کور قابض دی (یعني زید) هاغه د دې کور مالک دی. نو تر هغه وخته پوري د قابض (زيد) پر عاقله وو د مقتول ديت نه واجبيږي: ځکه کله چې عاقله د قابض له طرفه د دې کور د مقتول ديت ورکوي نو د هغه لپاره دا ضروري ده چې قابض به د دې کور مالک وي او د ملکيت (مالک کېدلو) خبر په بينه او ګواهی سره حاصليږي: نو ځکه بغير له بينې به عاقله د قابض له طرفه ديت نه اداء کوي
او پاته سوه د قابض قبضه نو هغه که څه هم د ملکيت دليل ده لېکن خالص دليل نه ده. بلکې په هغه کې احتمال دی چې هغه به عاريتاً قبضه وي (يعني کور به يو چا عاريتاً ورکړی وي) او د عاريت په توګه به هغه پر کور قابض وي. اصل مالک به يې نه وي. لهذا کله چې د قابض په قبضه کې احتمال دی. نو ځکه دا يوازي قبضه به پر عاقله د ديت واجبولو لپاره کافي نه وي. لکه څرنګه چې په يوازي قبضه سره څوک په مشفوعه کور کې د شفعې نه مستحق کيږي يعني که مثلاً د خالد په قبضه کې يو کور وي او د دې کور څنګ ته بل کور خرڅ سي او خالد په هغه کور کې د شفعې دعویٰ وکړي لېکن مشتري انکار وکړي او ووايي چې خالد د دې کور مالک نه دی پر کوم چې قابض دی. نو تر څو چې خالد پر خپل ملکيت بينه پېش نه کړي. تر هغه وخته پوري خالد محض د قبضې په وجه د شفعې نه مستحق کيږي. نو همداسې په مذکوره مسئله کې هم محض د قبضې په وجه د قابض عاقله به د هغه په مقبوضه کور کې د ميندل سوي مقتول ديت نه اداء کوي او د ديت اداء کولو لپاره به د کور پر ملکيت بينه پېشول ضروري وي.

په کښتی (بېړی) کې د مقتول د ميندل کېدلو په صورت کې د قسامت او ديت حکم

قَالَ: وَإِنْ وُجِدَ قَتِيلٌ فِي سَفِينَةٍ فرمايي: او که مقتول په يو کښتی کې وميندل سي فَالْقَسَامَةُ عَلَى مَنْ فِيهَا مِنَ الرُّكَّابِ وَالْمَلَّاحِينَ نو قسامت پر هغه کسانو واجب دی کوم چې په کښتی کې وي يعني سواره [سپاره] او کښتی چلونکي لِأَنَّهَا فِي أَيْدِيهِمْ ځکه کښتی د همدوی په قبضه کې ده وَاللَّفْظُ يَشْمَلُ أَرْبَابَهَا او لفظ (مَنْ فِيهَا) د کښتی مالکانو لره شامل دی حَتَّى تَجِبُ عَلَى الْأَرْبَابِ

الَّذِيْنَ فِيْهَا وَعَلَى السُّكَّانِ تر دې چي قسامت واجبيږي پر هغه مالکانو [هم] کوم چي په کښتۍ کي دي او پر اوسېدونکو [سوارانو هم] وَكَذَا عَلٰى مَنْ يَمُدُّهَا او همدارنګه پر هغه خلګو کوم چي کښتۍ کشوي وَالْمَالِكُ فِي ذٰلِكَ وَغَيْرُ الْمَالِكِ سَوَاءٌ او په دې کي مالک او غير مالک ټوله سره برابر دي وَكَذَا الْعَجَلَةُ او همدارنګه ګاډۍ [يعني د ګاډۍ او ټانګې هم دغه حکم دی] وَهٰذَا عَلٰى مَا رُوِيَ عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ ظَاهِرٌ او دا [يعني په قسامت کي مالک او غير مالک ټوله سره برابرېدل] د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د روايت مطابق خو ښکاره دي وَالْفَرْقُ لَهُمَا أَنَّ السَّفِيْنَةَ تُنْقَلُ وَتُحَوَّلُ او د طرفينو رَحِمَهُمَا الله لپاره وجه د فرق دا ده چي کښتۍ [له يوه ځايه بل ځای ته] نقلول کيږي او وړل کيږي فَيُعْتَبَرُ فِيْهَا الْيَدُ دُوْنَ الْمِلْكِ نو ځکه په هغې کي به د قبضې اعتبار کيږي، نه د ملکيت كَمَا فِي الدَّابَّةِ لکه څرنګه چي په چارپای کي کيږي بِخِلَافِ الْمَحَلَّةِ وَالدَّارِ په خلاف د محلې او کور لِأَنَّهَا لَا تُنْقَلُ ځکه چي دا نه نقلول کيږي.

اللغات: ﴿سفينة﴾ کښتۍ، بېړۍ. ﴿رکّاب﴾ جمع د رَاكِبٌ: سپور (سوار). ﴿ملاح﴾ کښتۍ چلونکی، کښتۍ بان. ﴿العجلة﴾ ارابه، پايه او ټېر. مراد: د آس وغيره ګاډۍ (ټانګه). ﴿دابة﴾ چارپای، څاروی.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که په يو کښتۍ کي مقتول وميندل سي، نو په هغه کښتۍ کي چي څومره خلګ وي، پر هغوی ټولو قسامت او ديت واجبيږي برابره ده سواره (سپاريان) وي او که ملاحين او مالکان وي، بلکه وينا دا چي د قسامت او ديت په وجوب کي مالکان او مسافران ټوله برابر شريکان دي (همدا حکم د موټر، ګاډۍ، بس وغيره هم دی). او دا حکم د طرفينو او د امام ابو يوسف رَحِمَهُمُ الله په اجماع سره دی.

سوال: مخکي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله مسلک دا ذکر سو چي د کور وغيره پر مالکانو قسامت واجبيږي، نه پر سُکّان (اوسېدونکو)، صرف د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز سُکّان او مالکان په حکم کي سره برابر وه، نو دلته دا حکم څنګه اجماعي سو؟.

جواب: د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول وجه خو ښکاره ده ځکه هغه پر خپل مخکيني أصول دی. او پر طرفينو رَحِمَهُمَا الله مذکوره اعتراض وارديږي، نو هغو د دې جواب دا ورکړی دی چي کور او محله

له یوه ځایه بل ځای ته نه نقلول کیږي او کښتۍ نقلول کیږي (یا په بله وینا دا چي کور له اشیاءِ غیرِ منقوله وو څخه دی او کښتۍ له اشیاءِ منقوله او محوله وو څخه ده. او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر سُکانو د قسامت او دیت وجوب صرف په غیرِ منقوله شیانو کي جاري کیږي). نو ځکه د چارپای په څېر په کښتۍ کي هم د ملکیت اعتبار نه دی سوی بلکي صرف د ظاهري قبضې اعتبار سوی دی، او پر کښتۍ د دوی ټولو قبضه ده. برابره ده هغه سپاریان دي او که مالکان دي.

وکذا العجلة إلخ: فرمایي چي کوم حکم د کښتۍ او بېړۍ دی، هغه د ګاډۍ هم دی.

دِ یو مسجد په محله کي د میندل سوي مقتول د قسامت حکم

قَالَ: وَإِنْ وُجِدَ فِيْ مَسْجِدِ مَحَلَّةٍ فرمایي: او که د محلې په مسجد کي مقتول ومیندل سي فَالْقَسَامَةُ عَلَىٰ أَهْلِهَا نو قسامت د هغه محلې پر خلکو واجبیږي لِأَنَّ التَّدْبِيْرَ فِيْهِ إِلَيْهِمْ ځکه د مسجد په باره کي تدبیر [نظم او انتظام] همدوی ته حاصل دی وَإِنْ وُجِدَ فِي الْمَسْجِدِ الْجَامِعِ أَوِ الشَّارِعِ الْأَعْظَمِ او که په جامع مسجد یا په لوی سړک [عمومي لاره] کي مقتول ومیندل سي فَلَا قَسَامَةَ فِيْهِ نو په دې کي قسامت نسته وَالدِّيَةُ عَلَىٰ بَيْتِ الْمَالِ او دیت پر بیت المال دی لِأَنَّهُ لِلْعَامَّةِ لَا يَخْتَصُّ بِهِ وَاحِدٌ مِنْهُمْ ځکه دا [جامع مسجد او عام سړک] د عامو خلکو لپاره وي چي د هغه سره د دوی یو سړی خاص نه وي وَكَذَا الْجُسُوْرُ لِلْعَامَّةِ او همدارنګه پُلونه د عامو خلکو لپاره وي وَمَالُ بَيْتِ الْمَالِ مَالُ عَامَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ او بیت المال د عامو مسلمانانو مال دی.

اللغات: ﴿شارع﴾ سړک. عمومي لاره. ﴿جسور﴾ جمع د جَسْرٌ او جِسْرٌ ده: پُل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که د محلې په مسجد کي مقتول ومیندل سي، نو د هغه دیت پر اهل محله وو واجبیږي؛ ځکه د محلې د مسجد نظم او انتظام د اهل محلې په غاړه دی. لهذا د محلې د مسجد د مقتول دیت به هم پر اهل محلې واجب وي.

وإن وجد إلخ: د دې حاصل دا دی چي که په جامع مسجد کي یا پر عام سړک مقتول ومیندل سي یا پر یو پُل باندي مقتول ومیندل سي، نو د دغه مقتول په باره کي قسامت نسته، خو پر بیت المال د هغه دیت واجبیږي؛ ځکه جامع مسجد، یا عام سړک یا پُل د یو مخصوص کس په ملکیت کي نه وي بلکي هر خاص او عام ته له دې شیانو څخه د استفاده کولو حق او اختیار وي، او څرنګه چي بیت

المال هم د عامو مسلمانانو دی، نو ځکه د دغه مقتول دیت به له همدې بیت المال څخه اداء کول کیږي.

په دې سلسله کي د حضرت علي رضي الله عنه فرمان هم دلیل دی چي هغه په عرفات کي د میندل سوي مقتول په هکله حضرت عمر رضي الله عنه ته فرمایلي وه "یا أمیرَ المؤمنین! لا یبطل دم امرأ مسلم إن علمتَ قاتله. وإلا فأعط دیته من بیت المال" (اې امیر المؤمنین! د هیڅ یو مسلمان کس وینه باطله او ضایع کیږي نه. که تاسي د هغه قاتل پیژنی نو سمه ده. کنې له بیت المال څخه د هغه دیت اداء کړئ). (نتائج ۱۲ / ۲۳۷)

په بازار کي د میندل سوي مقتول د قسامت او دیت حکم

وَلَوْ وُجِدَ فِي السُّوْقِ او که مقتول په بازار کي ومیندل سي إِنْ كَانَ مَمْلُوْكًا نو که هغه بازار ادیو چا په ملکیت کي وي فَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ تَجِبُ عَلَى السُّكَّانِ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دیت پر اوسېدونکو واجبیږي وَعِنْدَهُمَا عَلَى الْمَالِكِ او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز پر مالک [واجبیږي] وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَمْلُوْكًا او که هغه بازار [د چا] په ملکیت کي نه وي كَالشَّوَارِعِ الْعَامَّةِ الَّتِيْ بُنِيَتْ فِيْهَا لکه هغه عام سړکونه چي بازارونه پکښي جوړول کیږي فَعَلَى بَيْتِ الْمَالِ نو [دیت] پر بیت المال دی لِأَنَّهُ لِجَمَاعَةِ الْمُسْلِمِيْنَ ځکه چي دا بازار د مسلمانانو د ټولني [عامو مسلمانانو] لپاره دی.

اللغات: ﴿شوارع﴾ جمع د شَارِعٌ ده: سړک. عمومي لاره. ﴿بنیت﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: جوړول. تعمیرول.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که په یو بازار (او مارکېټ) کي مقتول ومیندل سي. نو دې ته به کتل کیږي چي هغه بازار (یا مارکېټ) د چا په ملکیت کي دی. که نه؟ که اول صورت وي. یعني هغه بازار د یو چا په ملکیت کي وي (یا په بله وینا دا چي بازار خپل مالک لري). نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د بازار پر مالک دیت واجبیږي. او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز د بازار پر اوسېدونکو دیت واجبیږي. برابره ده هغوی د بازار له مالکانو څخه وي که نه وي. او که دویم صورت وي یعني بازار د یو چا په ملکیت کي نه وي لکه په عامو لارو کي جوړ سوي بازارونه. نو په دې صورت کي به د مقتول دیت له بیت المال څخه اداء کول کیږي؛ ځکه چي دا بازار هم د عامو مسلمانانو دی او بیت المال هم د عامو مسلمانانو دی. نو ځکه مذکوره دیت به له همدې بیت المال څخه اداء کول کیږي.

په زندان کي د میندول سوي مقتول د قسامت او دیت حکم

وَلَوْ وُجِدَ فِي السِّجْنِ او که مقتول په زندان [بندیخانه] کي ومیندل سي فَالدِّيَةُ عَلٰى بَيْتِ الْمَالِ نو دیت پر بیتُ المال [واجب] دی وَعَلٰى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ الدِّيَةُ وَالْقَسَامَةُ عَلٰى أَهْلِ السِّجْنِ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د قول مطابق دیت او قسامت پر زندان والا [واجب] دي لِأَنَّهُمْ سُكَّانٌ ځکه همدوی [د زندان] اوسېدونکي دي وَوِلَايَةُ التَّدْبِيرِ إِلَيْهِمْ او د تدبیر ولایت [او اختیار] همدوی لره دی وَالظَّاهِرُ أَنَّ الْقَتْلَ حَصَلَ مِنْهُمْ او ښکاره دا ده چي قتل د همدوی له طرفه حاصل سوی دی وَهُمَا يَقُولَانِ: إِنَّ أَهْلَ السِّجْنِ مَقْهُورُونَ او طرفین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي د زندان والا [زندانیان] مغلوبه کړل سوي دي فَلَا يَتَنَاصَرُونَ نو ځکه دوی مدد نه سي کولای فَلَا يَتَعَلَّقُ بِهِمْ مَا يَجِبُ لِأَجْلِ النُّصْرَةِ نو د دوی سره به هغه حکم نه متعلق کیږي کوم چي د مدد په وجه واجبیږي وَلِأَنَّهُ بُنِيَ لِاسْتِيفَاءِ حُقُوقِ الْمُسْلِمِينَ او ځکه چي زندان د مسلمانانو د حقوقو د اخیستلو لپاره جوړ سوی دی فَإِذَا كَانَ غُنْمُهُ يَعُودُ إِلَيْهِمْ لهذا کله چي د زندان منفعت مسلمانانو ته راجع کیږي فَغُرْمُهُ يَرْجِعُ عَلَيْهِمْ نو د هغه تاوان به [هم] پر دوی راجع کیږي قَالُوا: وَهٰذِهِ فُرَيْعَةُ الْمَالِكِ وَالسَّاكِنِ مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي: او دا مسئله د مالک او اوسېدونکي [د مسئلې] فرع ده وَهِيَ مُخْتَلَفٌ فِيهَا بَيْنَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ او په هغه [د مالک او ساکن په مسئله] کي د امام صاحب او امام ابو یوسف رَحِمَهُمَا الله تر مینځ اختلاف دی.

اللغات: ﴿سجن﴾ زندان، جېل، بندیخانه، جمع: سُجُون. ﴿سكّان﴾ جمع د سَاكِنٌ ده: اوسېدونکی. ﴿غنم﴾ منفعت، غنیمت. ﴿غرم﴾ تاوان، جرمانه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که په زندان او بندیخانه کي مقتول ومیندل سي، نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د هغه دیت پر بیتُ المال واجبیږي. او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز د هغه دیت او قسامت پر بندیانو (زندانیانو) واجبیږي، ځکه مخکي ذکر سوه چي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نیز په داسي صورت کي پر اوسېدونکو (سُکّانو) باندي یت واجبیږي او د زندان اوسېدونکي خو همدا بندیان دي او په زندان کي د تدبیر ولایت او اختیار همدوی ته حاصل دی، لهذا د زندان د مقتول دیت به هم پر بندیانو او قیدیانو واجب وي، او بل دا چي په زندان کي صرف بندیان اوسیږي. نو ښکاره همدا ده

چي د قتل کار به د همدوی له طرفه ترسره سوی وي، نو ځکه د هغه ضمان او تاوان به پر همدوی واجب وي.

وهما يقولان إلخ: د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي په زندان کي بندي کړل سوي خلک خپله مغلوبه او مدد ته محتاجه وي او د چا نصرت نه سي کولای. لهذا د زندان د مقتول دیت او تاوان کوم چي د نصرت پر ښوولو په وجه واجبیږي، هغه به پر دې بندیانو واجب نه وي بلکي د زندان د مقتول دیت به پر بیت المال واجب وي؛ ځکه زندان د عامو مسلمانانو د حق اخیستلو لپاره جوړول کیږي او د زندان سره د عامو مسلمانانو نفع متعلق وي، نو ځکه د زندان سره متعلق ضمان او تاوان به هم د مسلمانانو سره متعلق وي او د همدې مسلمانانو له بانک (بیت المال) څخه به اداء کول کیږي.

قالوا وهٰذه إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمايي چي مشايخو د زندان والا مسئله د مالک او ساکن (اوسېدونکي) د مسئلې فرع ګرځولې ده او د مالک او ساکن په مسئله کي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی، د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نيز په هغه مسئله کي پر ساکن (اوسېدونکي) ضمان واجب دي؛ نو ځکه دلته هم د هغه په نېز د زندان پر سکّانو یعني پر بندیانو ضمان واجب دی، او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په هغه مسئله کي پر مالک ضمان واجب دی. نو ځکه دلته هم د هغه په نېز د زندان پر مالکانو یعني پر عامة المسلمين ضمان واجب دی چي دا ضمان (دیت) به د مسلمانانو له بیت المال څخه اداء کول کیږي.

په دښت او صحرا کي د میندل سوي مقتول د قسامت او دیت حکم

قَالَ: وَإِنْ وُجِدَ فِي بَرِّيَّةٍ فرمایي: او که مقتول په یو داسي دښت کي ومیندل سي لَيْسَ بِقُرْبِهَا عِمَارَةٌ چي هغه ته نژدې څه آبادي [ودانۍ] نه وي فَهُوَ هَدَرٌ نو هغه هدر [او ضایع] دی وَتَفْسِيرُ الْقُرْبِ مَا ذَكَرْنَا مِنْ اِسْتِمَاعِ الصَّوْتِ او د قُرب [نژدې والي] تفسیر هاغه دی کوم چي موږ ذکر کړی یعني آواز اورېدل لِأَنَّهُ إِذَا كَانَ بِهٰذِهِ الْحَالَةِ ځکه کله چي مقتول پر دې حالت وي لَا يَلْحَقُهُ الْغَوْثُ مِنْ غَيْرِهِ نو هغه ته د بل چا مدد نه سي رسېدلای فَلَا يُوصَفُ أَحَدٌ بِالتَّقْصِيرِ نو ځکه هیڅوک به په کوتاهي [او لاپروايي] کولو سره نه متصف کیږي وَهٰذَا إِذَا لَمْ تَكُنْ مَمْلُوكَةً لِأَحَدٍ او دا حکم هغه وخت دی کله چي هغه دښت د يو چا په ملکیت کي نه وي أَمَّا إِذَا كَانَتْ لیکن که هغه [د یو چا په ملکیت کي] وي فَالدِّيَةُ وَالْقَسَامَةُ عَلٰى عَاقِلَتِهِ نو دیت او قسامت د دښت د مالک پر عاقله وو [واجب] دي.

اللغات: ﴿بریّة﴾ دښت. صحرا. بیابان. ﴿عمارة﴾ آبادي. وداني. ﴿هدر﴾ بې بدلې. ضایع. باطل. ویل کیږي: دَمُهُ هَدر: د هغه خون ضایع سو (بدله یې چا نه واخیستل). ﴿قُرب﴾ نژدېکت. نژدې والی. ﴿غوث﴾ کومک او مدد. کومکي او غاورسي.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که په یو دښت کې مقتول ومیندل سي او هغه دښت د هیچا په ملکیت کې نه وي او نه هغه ته دومره نژدې یو آبادي (وداني) وي چې له هغه ځایه د مقتول آواز آبادۍ ته رسېدلای سي نو په دې صورت کې د مقتول وینه هدر او ضایع کیږي او پر هیچا هم د هغه قسامت او دیت نه واجبیږي، ځکه کله چې دښت ته هیڅ آبادي (وداني) نژدې نه وي نو په دې صورت کې مقتول ته هیڅ کومکي او غاورسي نه سي راتللای چې د هغه حفاظت وکړي. لهذا په نه ورتګ او حفاظت نه کولو کې د هیچا له طرفه تقصیر او لا پروایي نه ده سوې، نو ځکه د دې مقتول وینه (خون) هدر کیږي.

لیکن که هغه دښت د یو چا په ملکیت کې وي، نو بیا د دښت د مالک پر عاقله وو قسامت او دیت واجبیږي.

د دوو کلو یا د دریاب په مینځ کې د میندل سوي مقتول د قسامت او دیت حکم

وَإِنْ وُجِدَ بَيْنَ قَرْيَتَيْنِ او که مقتول د دوو کلو تر مینځ ومیندل سي كَانَ عَلَى أَقْرَبِهِمَا نو ضمان [دیت] د هغوی دواړو پر نژدې کلي والا دی وَقَدْ بَيَّنَّاهُ او موږ [مخکي] د دې بیان کړی دی وَإِنْ وُجِدَ فِي وَسَطِ الْفُرَاتِ يَمُرُّ بِهِ الْمَاءُ او که مقتول د دریاء فرات په مینځ کې ومیندل سي چې اوبو اخیستی وي فَهُوَ هَدَرٌ نو هغه هدر دی لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي يَدِ أَحَدٍ وَلَا فِي مِلْكِهِ ځکه دریاء فرات نه د یو چا په قبضه کې دی او نه د یو چا په ملکیت کې دی.

اللغات: ﴿فرات﴾ د یو مشهوره دریاب نوم دی کوم چې په عراق او داسي نورو هیوادونو کې تېر سوی دی.

تشریح: دا مسئله مخکي تېره سوې ده چې که مقتول د دوو کلو تر مینځ ومیندل سي. نو په دې صورت کې پر نژدې کلي والا وو قسامت او دیت واجبیږي چې د هغه دلیل هم مخکي بیان سو.

-ویمه مسئله دا ده چې که د لوی دریاب مثلاً د دریاء فرات په مینځ کې یو مقتول ومیندل سي چې د اوبو څپو اخیستی وي. نو د داسي مقتول وینه (خون) هدر او ضایع دی یعني د هغه دیت پر هیچا واجب نه دی: ځکه دریاء فرات خو نه د چا په قبضه کې دی او نه پر هغه د چا ملکیت دی. او ذلته په همدې دوو شیانو سره ضمان (دیت) واجبیږي. لهذا کله چې دا دواړه شیان (قبضه او ملکیت) معدوم دي. نو ضمان به هم واجب نه وي.

د دریاب پر غاړه د مېندل سوي مقتول د قسامت او دیت حکم

وَإِنْ كَانَ مُحْتَبَسًا بِالشَّاطِئِ او که مقتول د دریاب په غاړه کي ایسار [او پساو] وي فَهُوَ عَلٰى أَقْرَبِ الْقُرٰى مِنْ ذٰلِكَ الْمَكَانِ نو ضمان پر هغه کلي والا [واجب] دی کوم چي دې ځای ته ډېر نژدې وي عَلَى التَّفْسِيْرِ الَّذِيْ تَقَدَّمَ د هغه تفسیر مطابق کوم چي مخکي تېر سو [یعني چي له دې ځای څخه کلي ته آواز رسېدلای سي] لِأَنَّهٗ أَخَصُّ بِنُصْرَةِ هٰذَا الْمَوْضِعِ ځکه چي هغه [نژدې کلي والا] د دې ځای د نصرت سره خاص دي فَهُوَ كَالْمَوْضُوْعِ عَلَى الشَّطِّ نو هغه [مقتول] داسي دی لکه د دریاب پر غاړه [څنډه] ایښوول سوی وَالشَّطُّ فِيْ يَدِ مَنْ هُوَ أَقْرَبُ مِنْهُ او غاړه [څنډه] د هغه چا په قبضه کي ده کوم چي غاړي ته نژدې دي أَلَا تَرٰى أَنَّهُمْ يَسْتَقُوْنَ مِنْهُ الْمَاءَ وَيُوْرِدُوْنَ بَهَائِمَهُمْ فِيْهَا آیا ته نه ګورې! چي هغوی له دې ځای څخه اُوبه وړي او هلته خپل څارویان راولي بِخِلَافِ النَّهْرِ الَّذِيْ يُسْتَحَقُّ بِهِ الشُّفْعَةُ په خلاف د هغه نهر چي د هغه په ذریعه [خلک] د شفعي مستحق کیږي لِاخْتِصَاصِ أَهْلِهَا بِهِ ځکه دا شفعي والا خلک مختص دي د هغه نهر سره لِقِيَامِ يَدِهِمْ عَلَيْهِ ځکه پر هغه نهر د دوی قبضه ده فَتَكُوْنُ الْقَسَامَةُ وَالدِّيَةُ عَلَيْهِمْ نو ځکه قسامت او دیت به پر همدوی [واجب] وي.

اللغات: ﴿محتبس﴾ د افتعال د باب فاعل دی: راګر ځول سوی. بند او ایسار. پساو، ﴿الشاطئ﴾ د دریاب او والې غاړه (څنډه)، کناره. ژی. او همدا د الشَّطّ معنیٰ ده. ﴿قُریٰ﴾ جمع د قریةٌ ده: غټ کلی. قبصه. هغه سیمه چي یو بل ته نژدې ډېري وداني (استوګنځی) او کورونه کښې جوړ سوي وي. ﴿یستقون﴾ د استفعال له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صیغه ده: د اوبو طلب کول. له ځاه وغیره څخه اوبه را اخیستل او وړل. ﴿یوردون﴾ د افعال له بابه مخکني صیغه ده: واردول او حاضرول، راوړل. ﴿بهائم﴾ جمع د بَهِيْمَةٌ ده: چارپای.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که دیو دریاب په غاړه (کناره) کي مقتول ومېندل سي. نو کوم کلی چي دې غاړي ته زیات نژدې وي، د هغه کلي پر خلکو د دغه مقتول قسامت او دیت واجبیږي. په دې شرط چي هغه کلی پر دومره فاصله وي چي له دې غاړي څخه هلته د مقتول آواز رسېدلای سي. صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په "علی التفسیر الذي تقدّم" سره همدې د آواز رسېدلو وطرف ته اشاره کړې ده. لنډه دا چي داسي مقتول پر غاړه (څنډه) باندي د ایښوول سوي مقتول په څېر دی. او د

درياب غاړه (څنډه) د همدې کلي والا په قبضه کې ده. نو ځکه د مذکوره مقتول ديت به هم پر هغو واجب وي: ځکه چې د دې ځای او د مقتول نصرت او څارنه د همدوی ذمه واري وه. لیکن دوی په دې هکله کوتاهي او لا پرواييي کړې ده. نو ځکه د هغه تاوان به هم دوی زغمي. او د دې خبرې دليل چې دا غاړه د نږدې کلي والا په قبضه کې ده دا دی چې دغه کلي والا له همدې ځای څخه اوبه وړي او همدلته خپل څارويان راولي او اوبوي. ښکاره خبره ده چې که دا غاړه د دوی په قبضه کې نه وای. نو دوی ته به دومره اختيار نه وای. معلومه سوه چې د دې غاړې سره همدوی مختص دی. نو دلته د ميندل سوي مقتول ديت به پر همدوی واجب وي.

بخلاف النهرالخ: يعني که د کوچني نهر (والې) پر غاړه يو مقتول وميندل سي چې په هغه نهر (واله) کې څو خلک شريکان وي او د شرکت په وجه د شفعې مستحقين وي. نو د دې مقتول قسامت او ديت پر همدوی واجب دی: ځکه پر کوچنۍ والې د همدوی قبضه وي او همدوی د هغه سره مختص وي. نو ځکه هلته د ميندل سوي قسامت او ديت به پر همدوی واجب وي.

که ولي د مقتول د محلې پر يو معيّن کس د قتل دعوىٰ وکړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِنِ ادَّعَى الْوَلِيُّ عَلٰى وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ بِعَيْنِهٖ فرمايي: او که [د مقتول] ولي له محلې والا وو څخه پر يو معيّن کس [د قتل] دعوىٰ وکړي لَمْ تَسْقُطِ الْقَسَامَةُ عَنْهُمْ نو له محلې والا وو څخه قسامت نه ساقطيږي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ او مورږ دا [مخکې] ذکر کړي دي وَذَكَرْنَا فِيهِ الْقِيَاسَ وَالِاسْتِحْسَانَ او په دې کې مورږ قياس او استحسان ذکر کړي دي.

تشریح: صورت د مسئلې بالکل واضح دی او تقريباً ۱۲ - ۱۳ صفحې مخکې د دې پوره تفصيل تېر سوی دی.

که د مقتول ولي له محلې والا وو څخه بغير پر بل چا د قتل دعوىٰ وکړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِنِ ادَّعٰى عَلٰى وَاحِدٍ مِنْ غَيْرِهِمْ فرمايي: او که [د مقتول] ولي له اهل محلې څخه بغير پر بل چا [د قتل] دعوىٰ کړې وي سَقَطَتْ عَنْهُمْ نو له هغو [اهل محله] څخه قسامت ساقطيږي وَوَجْهُ الْفَرْقِ قَدْ بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ او وجه د فرق مورږ مخکې بيان کړې ده وَهُوَ أَنَّ وُجُوبَ الْقَسَامَةِ عَلَيْهِمْ دَلِيلٌ عَلٰى أَنَّ الْقَاتِلَ مِنْهُمْ او هغه دا چې پر اهل محله وو د قسامت وجوب د دې خبرې دليل دی چې قاتل له

همدوی څخه دی فَتَعْيِيْنُهُ وَاحِدًا مِنْهُمْ لَا يُنَافِي ابْتِدَاءَ الْأَمْرِ نو له دوی څخه د یوه کس متعینول د امر د شروع منافي نه دي لِأَنَّهُ مِنْهُمْ ځکه چي هغه [متعین سوی کس] له همدوی څخه دی بِخِلَافِ مَا إِذَا عَيَّنَ مِنْ غَيْرِهِمْ په خلاف د هغه صورت کله چي ولي له اهلِ محلې څخه بغیر بل څوک متعین کړی وي لِأَنَّ ذٰلِكَ بَيَانُ أَنَّ الْقَاتِلَ لَيْسَ مِنْهُمْ ځکه دا [بل څوک متعینول] د دې خبري وضاحت کول دي چي قاتل له اهل محلې څخه نه دی وَهُمْ إِنَّمَا يَغْرَمُوْنَ إِذَا كَانَ الْقَاتِلُ مِنْهُمْ او دوی [اهل محله] همغه وخت ضامن کیږي کله چي قاتل له دوی څخه وي لِكَوْنِهِمْ قَتَلَةً تَقْدِيْرًا ځکه [په دې صورت کي] دوی تقدیراً قاتلان دي حَيْثُ لَمْ يَأْخُذُوْا عَلٰى يَدِ الظَّالِمِ په دې حیثیت سره چي دوی د ظالم لاس نه دی نیولی وَلِأَنَّ أَهْلَ الْمَحَلَّةِ لَا يَغْرَمُوْنَ بِمُجَرَّدِ ظُهُوْرِ الْقَتِيْلِ بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ او ځکه چي محض د محلې والا په مینځ کي د مقتول د ښکاره کېدلو په وجه محلې والا نه ضامن کیږي إِلَّا بِدَعْوَى الْوَلِيِّ مگر د ولي په دعویٰ سره [ضامن کیږي] فَإِذَا ادَّعَى الْقَتْلَ عَلٰى غَيْرِهِمْ نو کله چي ولي له دوی څخه بغیر پر بل چا قتل دعویٰ وکړه اِمْتَنَعَ دَعْوَاهُ عَلَيْهِمْ نو پر اهل محله وو د هغه دعویٰ ممتنع سوه وَسَقَطَ لِفَقْدِ شَرْطِهِ او تاوان ساقط سو د تاوان د شرط د نشتوالي په وجه [چي هغه شرط د ولي دعویٰ ده].

اللغات: ﴿يغرمون﴾ د سمع له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صیغه ده: ضامن کېدل، ضمان (تاوان) پرې لازمېدل، تاوان اداء کول. ﴿قتلة﴾ جمع د قَاتِلٌ ده: قتل کونکی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که په یو محله کي مقتول ومیندل سي او د مقتول ولي د هغه محلې له خلکو څخه بغیر پر یو بل جلا سړي د قتل دعویٰ وکړي. نو په دې صورت کي له هغه محلې والا وو څخه قسامت او دیت دواړه ساقطیږي: ځکه کله چي له محلې والا څخه بغیر په بل چا باندي د قتل دعوی سوې ده، نو د محلې والا هر فرد له دغه دعوې څخه خارج دی. لهذا د دوی پر هیڅ فرد به هم قسامت او دیت واجب نه وي. ها! که چیري د مقتول ولي پر هغه محلې والا وو د قتل دعویٰ کړې وي نو بیا قسامت او دیت پر دوی ټولو واجبیږي چي له دوی څخه به پنځوس افراد قسم اخلي (لکه مخکي چي ذکر سوه)؛ ځکه پر محلې والا وو د قسامت وجوبَ د دې خبري دلیل دی چي قاتل له همدوی څخه یو کس دی همداسي کله چي ولي له مځلې والا وو څخه یو کس متعین کړی وي نو

هم پر دوی تېوله قسامت او دیت واجبېږي: ځکه د شروع په صورت کي (یعني کله چي ولي پر ټوله محلې والاوو د قتل دعویٰ کړې وي) هم ټوله محلې والا قاتلان شمېرل سوي دي او په دویم صورت کي (یعني کله چي ولي له دوی څخه یو کس متعین کړی وي) هم تقدیراً دوی ټوله قاتلان دي: ځکه پر دوی دا لازم وه چي د قاتل لاس ونیسي او هغه له ظلم او قتل څخه را وګرځوي.

بخلاف ما إذا عيّن إلخ: یعني کله چي ولي له محلې والاوو څخه بغیر بل څوک متعیّن کړی وي او قاتل بل څوک وي. نو په دې صورت کي خو هغه محلې والا نه حقیقتاً د مقتول قاتلان دي او نه تقدیراً. نو ځکه په دې صورت کي پر دوی نه قسامت واجبېږي او نه دیت: او په دې صورت کي پر دوی د دیت نه واجبېدلو یوه وجه دا هم ده چي پر محلې والاوو فقط په محله کي د مقتول مېندل کېدلو په وجه دیت نه واجبېږي. بلکي هغه وخت واجبېږي کله چي د مقتول ولي پر دوی د قتل دعویٰ کړې وي. او دلته ولي پر بل چا د قتل دعویٰ کړې ده. نو ځکه اوس ولي پر محلې والاوو دعویٰ نه سي کولای کنې د هغه په دعویٰ کي تناقض لازمېږي. نو دلته پر محلې والاوو د تاوان واجبېدلو شرط مفقود دی. نو ځکه پر دوی دیت نه واجبېږي.

که یو قوم جنګ سره وکړي او په دې مېنځ کي یو مقتول ومېندل سي نو د قسامت او دیت حکم

قَالَ: وَإِذَا الْتَقَى قَوْمٌ بِالسُّيُوفِ فرمایي: او کله چي یو قوم په خپل مېنځ کي په تورو سره وجنګېږي فَأَجْلَوْا عَنْ قَتِيلٍ بیا هغوی [خپل تر شا] یو مقتول پرېږدي فَهُوَ عَلَى أَهْلِ الْمَحَلَّةِ نو هغه [د دیت وجوب] پر محلې والاوو دی لِأَنَّ الْقَتِيلَ بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ ځکه مقتول د دوی تر مېنځ [مېندل سوی] دی وَالْحِفْظُ عَلَيْهِمْ او [د هغه] حفاظت پر دوی [ضروري] وو إِلَّا أَنْ يَدَّعِيَ الْأَوْلِيَاءُ عَلَى أُولَئِكَ مګر دا چي ولیان پر هغوی [جنګ کوونکو] باندي د قتل دعویٰ وکړي أَوْ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ بِعَيْنِهِ یا له هغوی څخه پر یو متعیّن کس [د قتل دعویٰ وکړي] فَلَمْ يَكُنْ عَلَى أَهْلِ الْمَحَلَّةِ شَيْءٌ نو بیا پر محلې والاوو هیڅ شی نسته لِأَنَّ هَذِهِ الدَّعْوَى تَضَمَّنَتْ بَرَاءَةَ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ عَنِ الْقَسَامَةِ ځکه چي دا دعویٰ له قسامت څخه د محلې والا بري کېدلو لره متضمنه ده قَالَ: وَلَا عَلَى أُولَئِكَ حَتَّى يُقِيمُوا الْبَيِّنَةَ فرمایي: او نه پر هغو [جنګ کوونکو] باندي [دیت او قسامت] سته تر دې چي د مقتول ولیان بینه پېش کړي لِأَنَّ بِمُجَرَّدِ الدَّعْوَى لَا يَثْبُتُ الْحَقُّ ځکه یوازي په دعوې سره حق نه ثابتېږي لِلْحَدِيثِ الَّذِي رَوَيْنَاهُ د هغه

حديث په وجه کوم چي موږ روايت کړی أَمَا يَسْقُطُ بِهِ الْحَقُّ عَنْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ خو د دعوې په وجه له اهلې محلې څخه حق ساقطيږي لِأَنَّ قَوْلَهُ حُجَّةٌ عَلَى نَفْسِهِ ځکه د مدعي [ولي المقتول] قول د هغه پر خپل ځان حجت دی.

اللغات: ﴿التقى﴾ د افتعال د باب ماضي ده: يو د بل سره مخامخ کېدل، يو د بل سره يو ځای کېدل، مقابله کول. ﴿أجلوا﴾ د افعال د باب ماضي ده. د دې باب څو معناوي دي: وتل، ايستل. پرېښوول، لکه څرنګه چي ويل کيږي: أجلى الرجل منزله: فلانکي سړي د بيري په وجه خپل کور پرېښووی. أجلوا عن القتيل: دوی خپل تر شا مقتول پرېښووی او وتښتېدل. ﴿تضمنت﴾ د تفعل له بابه ماضي ده: ضمناً شاملېدل، مشتمل کېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د يو قوم او جماعت افراد (د قوميت وغيره پر بناء) په خپل مينځ کي جګړه وکړي او کله چي دوی د جنګ له ځای څخه جلا او ولاړ سي نو هلته يو مقتول وميندل سي. نو د دې حکم دا دی چي که چيري د مقتول وليان پر جنګ کونکو يا د هغو پر يو معين کس د قتل دعوی نه وکړي، نو د دې مقتول ديت پر محلې والا وو لازميږي: ځکه مقتول د همدوی په مينځ کي ميندل سوی دی او پر همدوی د هغه حفاظت ضروري وو. خو هغو په حفاظت کي کوتاهي او لا پروايي کړې ده. نو ځکه همدوی به د هغه ضمان اداء کوي. لېکن که د مقتول وليان پر جنګ کونکو يا د هغو پر يو معين کس د قتل دعوی وکړي. نو بيا پر محلې والا وو قسامت او ديت نه واجبيږي: ځکه په جنګ کونکو (مقاتلينو) باندي د قتل دعوی د دې خبري دليل دی چي قاتل له محلې والا وو څخه نه دی او د دې قتل سره د محلې والا وو هيڅ تعلق نسته. نو ځکه په دې صورت کي پر دوی قسامت او ديت نه واجبيږي. لېکن تر څو چي د مقتول وليان د جنګ کونکو په خلاف بينه پېش نه کړي. تر هغه وخته پوري په جنګ کونکو (مقاتلينو) باندي قسامت او ديت نه واجبيږي. ځکه بغير له بينې يوازي په دعوی سره حق نه ثابتيږي: ځکه په حديث کي ذکر سوي دي "البيّنة على المدعى واليمين على من أنكر" يعني بيّنه پېشول پر مدعي لازم دي او قسم اخيستل پر منکر. لهذا تر څو چي مدعي يعني د مقتول وليان د جنګ کونکو په خلاف پر قتل بينه پېش نه کړي. تر هغه وخته پوري پر دوی قسامت او ديت نه واجبيږي. لېکن په جنګ کونکو باندي د دعوې کولو په وجه له

محلي والا وو ځکه د مدعي حق یعني قسامت او دیت ساقطیږي: ځکه د دې حق سقوط د مدعي د دعوې په وجه سوی دی او د مدعي قول د هغه د خپل حق په اسقاط کي حجت دی. لهذا دا دعوی هیڅ بینې ته محتاجه نه ده او له بینې څخه بغیر هم (د مدعي د قسامت او دیت حق) ساقطیږي.

په ایسار سوي لښکر کي د مېندل کېدونکي مقتول د قسامت او دیت حکم

وَلَوْ وُجِدَ قَتِيْلٌ فِيْ مُعَسْكَرٍ او که یو مقتول په [داسي] لښکرځای کي ومیندل سي أَقَامُوْا بِفَلَاةٍ مِنَ الْأَرْضِ لَا مِلْكَ لِأَحَدٍ فِيْهَا کوم چي په یو داسي ډګر کي مقیم [تم سوی] وي چي هغه د هیچا په ملکیت کي نه وي فَإِنْ وُجِدَ فِيْ خِبَاءٍ أَوْ فُسْطَاطٍ نو که مقتول په یو خېمه یا کېږدۍ کي ومیندل سي فَعَلَى مَنْ يَسْكُنُهَا الدِّيَةُ وَالْقَسَامَةُ نو پر هغو خلکو کوم چي په هغه [خیمه وغیره] کي اوسیږي دیت او قسامت [واجب] دي وَإِنْ كَانَ خَارِجًا مِنَ الْفُسْطَاطِ او که مقتول له خېمې څخه بهر [مېندل سوی] وي فَعَلَى أَقْرَبِ الْأَخْبِيَةِ نو پر دې نژدې خېمې والا وو [واجب] دي اِعْتِبَارًا لِلْيَدِ عِنْدَ انْعِدَامِ الْمِلْكِ د ملکیت د نشتوالي په صورت کي د قبضې په اعتبار کولو سره.

اللغات: ﴿معسکر﴾ لښکر ځای (لښکر ګاه). چوڼۍ. ﴿فلاة﴾ خالي میدان. ډګر. ﴿خباء﴾ خېمه. کوچنۍ خېمې او کوچني تمبو ته وایي. جمع: أَخْبِيَة. ﴿فسطاط﴾ لویه خېمه. کېږدۍ. (معجم لغة العربية المعاصرة)

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو لښکر په دښت او بیابان کي مقیم او دمه وي او هغه دښت د یوچا په ملکیت کي نه وي. بیا د دې لښکر په یو خېمه او دمه ځای کي مقتول ومیندل سي. نو په کومه خېمه او ځای کي چي مقتول میندل سوی وي، د هغه پر اوسېدونکو قسامت او دیت واجبیږي. او که له خېمو څخه بهر مقتول میندل سوی وي، نو کومه خېمه چي تر ټولو زیاته نژدې وي. د هغه پر اوسېدونکو قسامت او دیت واجبیږي: ځکه مخکي دا خبره تېره سوه چي د دیت او قسامت وجوب د ملکیت سره متعلق کیږي او چیري چي ملکیت معدوم وي، هلته بیا قبضه د ملکیت قائم مقام منل کیږي او قسامت او دیت د قابض سره متعلق کیږي. او څرنګه چي دلته خېمه وغیره د اوسېدونکو په قبضه کي دي، نو ځکه پر همدوی به قسامت او دیت واجبول کیږي.

که لښکر د خپل ښمن سره جګړه وکړه او بیا یو مقتول ومیندل سو نو د قسامت او دیت حکم

وَإِنْ كَانَ الْقَوْمُ لَقُوْا قِتَالًا او که قوم [لښکر] د دښمن سره قتال [جنګ] کړی وي وَوُجِدَ قَتِيلٌ بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ او د دوی په مینځ کي یو مقتول ومیندل سي فَلَا قَسَامَةَ وَلَا دِيَةَ نو نه قسامت سته او نه دیت لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ الْعَدُوَّ قَتَلَهُ ځکه ښکاره همدا ده چي دښمن هغه قتل کړی دی فَكَانَ هَدَرًا نو دا به هدر وي وَإِنْ لَمْ يَلْقَوْا عَدُوًّا او که قوم [لښکر] د دښمن سره قتال نه وي کړی فَعَلَى مَا بَيَّنَّاهُ نو دا پر هاغه تفصیل دی کوم چي موږ بیان کړی وَإِنْ كَانَ لِلْأَرْضِ مَالِكٌ او که د ځمکي یو مالک وي فَالْعَسْكَرُ كَالسُّكَّانِ نو بیا لښکر دا وسېدونکو په شېر دي فَيَجِبُ عَلَى الْمَالِكِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دیت پر مالک واجبیږي خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ په خلاف د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ او دا [څه مخکي] موږ ذکر کړه.

اللغات: ﴿قِتَال﴾ د مفاعلې باب مصدر دی: جنګ (جګړه) کول. ﴿هَدَر﴾ او هَدْر د ضرب له بابه اسم مصدر دی: ضایع. باطل. بلا بدله. ﴿عسکر﴾ لښکر.

تشریح: مسئله: دا ده که په یو ځای کي لښکر د دښمن سره جنګ او مقاتله وکړي. بیا هلته په دوی کي یو مقتول ومیندل سي. نو پر لښکریانو قسامت او دیت نه واجبیږي: ځکه دلته غالب ګومان همدا دی چي دا مقتول د دښمن له طرفه وژل سوی دی نو ځکه د هغه وینه او خون به هدر وي. او که جنګ واقع نه سي. بلکي لښکر یو ځای مقیم او دمه وي. بیا یو مقتول پکښې ومیندل سي. نو د دې بیان څه مخکي تېر سو.

او که دا ځای او میدان (چیري چي لښکر والا مقیم وي) د یو چا په ملکیت کي وي. نو په دې صورت کي لښکر والا د سُکّان (اوسېدونکو) په حکم کي دي. چي په هغه کي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله اختلاف وو. یعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر مالک ضمان واجبیږي. او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله پر مالک او اوسېدنکو (لښکریانو) ټولو باندي ضمان واجبیږي.

که مُستحلف په بل چا د قتل دعویٰ وکړي (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَإِذَا قَالَ الْمُسْتَحْلَفُ فرمایي: او کله چي قسم اخیستلی سوی کس ووایي (یعني له چا څخه چي د قتل نه کولو قسم اخیستل سوی وي. هغه ووایي) قَتَلَهُ فُلَانٌ چي هغه (مقتول) فلانکي قتل کړی دی اُسْتُحْلِفَ بِاللهِ مَا قَتَلْتُ نو له هغه څخه دي داسي قسم واخیستل سي چي په الله قسم ما هغه نه دی قتل کړی وَلَا عَرَفْتُ لَهُ قَاتِلًا غَيْرَ فُلَانٍ او نه له فلانکي څخه بغیر زه د هغه بل قاتل پېژنم لِأَنَّهُ يُرِيدُ إِسْقَاطَ الْخُصُومَةِ عَنْ نَفْسِهِ بِقَوْلِهِ ځکه چي هغه (مُستحلف) په خپل قول سره له خپل ځانه د خصومت ساقطول غواړي فَلَا يُقْبَلُ نو د هغه قول به نه قبلول کیږي فَيُحْلَفُ عَلَىٰ مَا ذَكَرْنَا نو ځکه په هغه توګه به قسم اخلي کوم چي موږ ذکر کړه لِأَنَّهُ لَمَّا أَقَرَّ بِالْقَتْلِ عَلَىٰ وَاحِدٍ ځکه کله چي هغه پر یوه کس د قتل اقرار وکړی صَارَ مُسْتَثْنًى عَنِ الْيَمِينِ نو هغه کس (مقر علیه) له قسم څخه مستثنیٰ سو فَبَقِيَ حُكْمُ مَنْ سِوَاهُ نو له هغه (مقر علیه) څخه د ماسوا حکم باقي پاته سو فَيَحْلِفُ عَلَيْهِ نو ځکه پر هغه (ماسوا) به (هم) قسم اخلي.

اللغات: ﴿مُسْتَحْلَف﴾ د استفعال د باب مفعول دی: له کوم چا څخه چي قسم اخیستلی سوی وي. له چا چي څخه قسم اخیستلی کیږي. ﴿خصومة﴾ تنازع او دعویٰ (خصومة په اصل کي دې ته وایي چي یو سړی پر بل چا د حق دعویٰ کوي او هغه له حق څخه انکار کوي).

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که د قتل د تحقیق او تفتیش په وخت کي مثلاً له زید څخه قسم واخیستلی سي او هغه داسي قسم واخلي چي په الله قسم! دا مقتول فلانکي کس قتل کړی دی. نو محض په دې وینا سره هغه نه خلاصیږي بلکي د دې قسم د بشپړولو او مؤکد کولو لپاره به له هغه (زید) څخه په داسي الفاظو قسم اخیستل کیږي "بِاللهِ مَا قَتَلْتُ وَلَا عَرَفْتُ لَهُ قَاتِلًا غَيْرَ فُلَانٍ" یعني په الله قسم! نه ما هغه قتل کړی دی او نه زه له فلانکي څخه بغیر بل څوک د هغه قاتل پېژنم": ځکه کله چي هغه قسم واخلي چي فلانکي قتل کړی دی نو دا قسم تر اوسه نا بشپړ دی: ځکه کېدای سي چي فلانکي خو قتل کړی وي. خو د هغه سره به دئ (زید) خپله هم شامل وي یا مثلاً د ده پلار وغیره به ور سره شامل وي. نو ځکه د قسم د تکمیل لپاره به اوس په مذکوره الفاظو قسم ځني اخیستل کیږي.

سوال: په مذکوره قسم کي خو پر فلانکي د قتل اقرار نسته؟.

جواب: پر هغه خو مخکي د قتل اقرار سوی دی، لهذا اوس فلانکي (فلان) له قسم څخه مستثنیٰ سو او د قسم حکم له هغه څخه ما سوا پر نورو باقي پاته سو، نو ځکه اوس به له مُستحلَف (زید) څخه پر نورو قسم اخیستل کیږي چي دا پوره څرګنده سي چي نور کسان په دې قتل کي ور سره شریک دي که نه. او د دې طریقه هاغه ده کوم چي موږ ذکر کړه.

که له محلې والا څخه دوه کسان پر بل چا د قتل ګواهي ور کړي (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَإِذَا شَهِدَ اثْنَانِ مِنْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ عَلَىٰ رَجُلٍ مِنْ غَيْرِهِمْ فرمایي: او کله چي له محلې والا وو څخه دوه کسان د داسي چا په خلاف کوم چي له دوی [محلې والا] څخه نه وي دا ګواهي ور کړي أَنَّهُ قَتَلَ چي هغه مقتول قتل کړی دی لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمَا نو د هغه دواړو ګواهي به نه قبلول کیږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ او دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دي وَقَالَا: تُقْبَلُ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چي ګواهي به یې قبلول کیږي لِأَنَّهُمْ كَانُوا بِعُرْضَةِ أَنْ يَصِيْرُوا خُصَمَاءَ ځکه دوی [محلې والا] په دې نښه سوي وه چي همدوی به خصم وګرځي [یا په بله ویناداچي محلې والا د خصم جوړېدلو پر نښه وه؛ ځکه په محله کي د مقتول میندل کېدلو په وجه اصلاً محلې والا (د ولي القتل) خصم ګرځېدل] وَقَدْ بَطَلَتِ الْعُرْضَةُ بِدَعْوَى الْوَلِيِّ الْقَتْلَ عَلَىٰ غَيْرِهِمْ او دا [د دوی] نښه کېدل پر بل چا د ولي د قتل د دعوې کولو په وجه باطل سوه فَتُقْبَلُ شَهَادَتُهُمْ نو ځکه د دوی ګواهي به قبلول کیږي كَالْوَكِيْلِ بِالْخُصُوْمَةِ إِذَا عُزِلَ قَبْلَ الْخُصُوْمَةِ لکه د خصومت کولو وکیل چي کله له خصومت څخه معزوله کړی سي وَلَهُ: أَنَّهُمْ خُصَمَاءُ بِإِنْزَالِهِمْ قَاتِلِيْنَ لِلتَّقْصِيْرِ الصَّادِرِ مِنْهُمْ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي دوی [محلې والا] خصم دي د کوتاهي [او لاپروایي] په وجه کوم چي له دوی څخه صادره سوې ده فَلَا تُقْبَلُ شَهَادَتُهُمْ وَإِنْ خَرَجُوْا مِنْ جُمْلَةِ الْخُصُوْمِ نو ځکه د دوی ګواهي به نه قبلول کیږي که څه هم دوی د خصمونو له ډولې څخه وتلي دي كَالْوَصِيِّ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْوِصَايَةِ بَعْدَ مَا قَبِلَهَا لکه وصي چي کله له وصایت [وصي کېدلو] څخه ووځي د وصایت له قبلولو څخه وروسته ثُمَّ شَهِدَ بیا ګواهي

ورکړي [نو ګواهي يې نه قبلول کيږي] قَالَ ﷺ: وَعَلٰى هٰذَيْنِ الْأَصْلَيْنِ يَتَخَرَّجُ كَثِيْرٌ مِّنَ الْمَسَائِلِ مِنْ هٰذَا الْجِنْسِ او پر همدې دوو اصلونو د دغه جنس زيات مسائل متفرع کيږي.

اللغات: ﴿عُرْضَة﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: هدف او نښه. نښانه لکه څرنګه چي ويل کيږي: هو عُرضة للناس: هغه د خلکو د اعتراضاتو نښه ده. وجعلتُه عُرضةً: ما هغه خپل نښه او هدف وګرځوی. ﴿خصماء﴾ جمع د خَصمٌ ده: د جنګ او دعوې يو طرف والا (يو فريق). يعني مدعي ته هم ويل کيږي او مدعیٰ عليه ته هم. ﴿وكيل بالخصومة﴾ د خصومت کولو او دعوې پېشولو وکيل (کوم چي د مدعي يا مدعیٰ عليه پر ځای د قاضي مخ ته د دعوی ثابتولو يا ردولو لپاره حاضر سي). ﴿عزل﴾ د ضرب له بابه ماضي مجهوله ده: معزوله کول. برطرفه کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د محلې او کلي له خلکو څخه دوه کسان د بل ځای او بلې محلې پر يو کس د قتل ګواهي ورکړي چي هغه فلانکي سړي (مثلاً سليم) دا مقتول قتل کړی دی کوم چي زموږ د محلې نه دی. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د دوی ګواهي به نه قبلول کيږي او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز به قبلول کيږي.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي که څه هم دا محلې والا د خصم کېدلو لپاره پر نښه وه او د قتل شبهه پر دوی وه چي همدوی به خصم وګرځي (يعني قسامت او ديت به پر همدوی واجب سي). لېکن اوس چي کله د مقتول ولي (د دوی د ګواهي په وجه) له دوی څخه بغير پر بل چا د قتل دعویٰ وکړه نو اوس د دوی د خصم کېدلو احتمال او شبهه ختم سوه. او د دوی دا ګواهي د يو بل کس په هکله ده کوم چي د دوی د محلې نه دی. نو ځکه د دغه په هکله به د دوی ګواهي قبلول کيږي.

د دې مثال داسي دی لکه يو سړی (مثلاً خالد) چي يو څوک وکيل بالخصومت جوړ کړي نو هغه د خپل مؤکل (خالد) ګواه نه سي جوړېدلای. لېکن که مؤکل (خالد) هغه له خصومت کولو څخه مخکي معزوله کړي نو اوس هيڅ شبهه پاته نه سوه لهذا اوس هغه ګواه جوړېدلای سي او ګواهي به يې قبلول کيږي، نو همداسي په مذکوره مسئله چي کله محلې والا خصم پاته نه سوه. نو اوس به د هغو ګواهي قبلول کيږي.

وله أنهم خصماء إلخ: دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دی، حاصل يې دا دی چي محلې والا وو د محلې او مقتول په حفاظت او څارنه کي کوتاهي او لا پروايي کړې ده ځکه مقتول د دوی په محله کي مېندل سوی دی حال دا چي پر دوی حفاظت واجب وو. نو د دې تقصير او لا پروايي کولو په وجه دوی د قتل

کونکو په درجه کې سول او خصم وګرځېدل. او دا جلا خبره ده چې اوس پر بل چا (سليم) د دوی د ګواهي ورکولو او پر هغه (سليم) د ولي د دعوې کولو په وجه دوی د خصم له فهرس څخه ووتل. خو په شروع کې چې کوم شي د دوی له ګواهي څخه مانع وو. هغه مانع او شبهه اوس هم پاتې ده. نو ځکه د دوی ګواهي به باطله وګرځول کيږي.

او د دې مثال داسې دی لکه يو سړی چې د يو بچي وصي وي. بيا د بچي بالغ کېدلو په وجه هغه له وصي کېدلو څخه خارج سي (ځکه د بلوغت په وجه وصايت ختميږي). نو اوس که دا بچی پر هغه سړي يو ګواهي ورکړي نو د هغه ګواهي هم نه قبلول کيږي: ځکه په شروع کې يعني د هغه کس د وصي کېدلو په حالت کې د دې بچي ګواهي مقبوله نه وه نو وروسته هم نه قبلول کيږي. همدغسې په مذکوره مسئله کې هم په شروع کې د دې محلې والا وو ګواهي مقبوله نه وه نو ځکه وروسته به هم د عدم قبوليت دا معامله باقي پاته وي او ګواهي به يې نه قبلول کيږي.

(خلاصه د کلام دا چې اوس دوی د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په اتفاق خصم نه دي لېکن صاحبينو دوی پر وکيل قياس کړي دي او امام صاحب پر وصي).

قال رَحِمَهُ اللهُ إلخ: صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: دا دواړه داسې اصلونه دي چې پر هغوی د دغه جنس ډېرې مسئلې متفرع کيږي. له دواړو اصلونو څخه اول ① اصل (قاعده کليه) دا ده چې که يو څوک په يو معامله کې خصم وي نو په هغه معامله کې بالاجماع د هغه ګواهي مقبوله نه ده (يعني نه به قبلول کيږي). ② دويم اصل دا دی چې که يو څوک د خصم کېدلو پر نښه وي. بيا د هغه نښه کېدل باطل سي (خصم نه وګرځي) او بيا هغه ګواهي ورکړي. نو د هغه ګواهي بالاجماع مقبوله او معتبره ده. له دغه دوو اصلونو څخه امام صاحب رَحِمَهُ الله اول صل اختيار کړی دی نو ځکه هغه دلته بالکل ګواهي نا مقبوله ګرځولې ده. او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دويم اصل اختيار کړی دی او د دوی ګواهي يې مقبوله او معتبره منلې ده. (احسن الهدايه بحواله عنايه)

که دوه کسان د خپلې محلې پر يو معيّن کس د قتل ګواهي ورکړي (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَلَوِ ادَّعٰى عَلٰى وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ بِعَيْنِهِ فرمايي: او که د مقتول ولي له محلې والا وو څخه پر يو معيّن کس (د قتل) دعوی وکړي فَشَهِدَ شَاهِدَانِ مِنْ أَهْلِهَا عَلَيْهِ بيا له محلې والا څخه دوه ګواهان پر هغه ګواهي ورکړي لَمْ تُقْبَلِ الشَّهَادَةُ نو ګواهي به نه قبلول کيږي لِأَنَّ الْخُصُومَةَ قَائِمَةٌ مَعَ الْكُلِّ ځکه خصومت د ټوله محلې والا سره قائم دی عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ د هغه تفصيل مطابق کوم

چي موږ بیان کړی وَالشَّاهِدُ يَقْطَعُهَا عَنْ نَفْسِهِ او ګواه له خپل ځان څخه دا خصومت ختموي فَكَانَ مُتَّهَمًا نو هغه به [په خپل ګواهۍ کي] تورن وي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّ الشُّهُوْدَ يَحْلِفُونَ بِاَللَّهِ مَا قَتَلْنَاهُ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي ګواهان به داسي قسم اخلي چي په الله قسم موږ هغه نه دی قتل کړی وَلَا يَزْدَادُوْنَ عَلٰى ذٰلِكَ او دوی به پر دې اضافه نه کوي [یعني په قسم کي به د مذکوره جملې سره بله جمله "ولاعرفنا له قاتلًا" نه اضافه کوي] لِأَنَّهُمْ أَخْبَرُوْا أَنَّهُمْ عَرَفُوا الْقَاتِلَ ځکه دوی خو [مخکي لا] دا خبر ورکړی دی چي دوی قاتل پېژني.

اللغات: ﴿متهم﴾ د افتعال د باب اسمِ مفعول دی: تورن. تهمتي (تومتي). هغه کس چي پر هغه يو تهمت وي.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د مقتول ولي د محلې په خلکو کي پر يو معلوم سړي د قتل دعوی وکړي. بيا له همدې محلې والا وو څخه دوه کسان د هغه سړي په خلاف د قتل کولو ګواهي ورکړي، نو د هغو ګواهي به نه قبلول کيږي؛ ځکه کله چي په محله کي پر يوه سړي د قتل دعوی سوې ده نو ګواکي ټوله محلې والا متهم دي او خصومت او دعوی د ټولو سره قائم ده، او دغه دوه کسان د خپل ګواهۍ په ذريعه له خپل ځان څخه د خصومت او دعوې ليري کول غواړي. لهذا دوی په خپل ګواهۍ کي متهم او تورن دي او د متهم ګواهي نه قبلول کيږي؛

وعن أبي يوسف إلخ: له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي د دوی ګواهي خو به نه قبلول کيږي لکه څرنګه چي ذکر سوه. ليکن د دوی له دغه ګواهۍ څخه دا خو معلومه سوه چي دوی دواړه قاتل پېژني. لهذا کله چي د اهلِ محلې په قسامت کي له دوی څخه قسم اخيستل کيږي. نو فقط په دې الفاظو سره به قسم ځني اخيستل کيږي "بالله ما قتلناه" چي "په الله قسم! موږ دا مقتول نه دی قتل کړی". يعني د محلې د نورو کسانو په څېر له دوی څخه به په داسي الفاظو پوره قسم نه اخيستل کيږي چي "بالله ما قتلناه ولا عرفنا له قاتلًا"؛ ځکه چي د دوی په حق کي آخري جملې "ولا عرفنا له قاتلًا" ته ضرورت پاته نه سو؛ ځکه دوی خو مخکي لا دا ګواهي ورکړې ده چي د مقتول قاتل فلانکی دی. نو ځکه په قسم کي به دوی صرف له خپل طرفه د قتل نفي کوي او اضافه به نه کوي.

په يو محله او قبيله کې زخمي کېدونکی کس که تر بستر کېدلو وروسته مړ سي نو د قسامت او ديت حکم.

قَالَ: وَمَنْ جُرِحَ فِي قَبِيلَةٍ فرمايي: او څوک چې په يو قبيله کې زخمي کړی سي فَنُقِلَ إِلَى أَهْلِهِ بيا دئ خپل کورنۍ ته نقل کړی سي فَمَاتَ مِنْ تِلْكَ الْجِرَاحَةِ بيا دئ له هاغه زخم څخه مړ سي فَإِنْ كَانَ صَاحِبَ فِرَاشٍ حَتَّى مَاتَ نو که دئ [تر زخمي کېدلو وروسته] صاحب فراش [بستري] وي تر دې چې مړ سي فَالْقَسَامَةُ وَالدِّيَةُ عَلَى الْقَبِيلَةِ نو قسامت او ديت پر قبيلې والا [واجب] دي وَهٰذَا قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ او دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ*: لَا قَسَامَةَ وَلَا دِيَةَ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چې قسامت او ديت نسته لِأَنَّ الَّذِي حَصَلَ فِي الْقَبِيلَةِ وَالْمَحَلَّةِ مَا دُونَ النَّفْسِ ځکه په قبيله يا محّله کې له نفس [قتل] څخه کم [يعني زخمي کول] حاصل سوي دي وَلَا قَسَامَةَ فِيهِ او په ما دون النفس کې قسامت نسته فَصَارَ كَمَا إِذَا لَمْ يَكُنْ صَاحِبَ فِرَاشٍ نو دا داسې سو لکه هغه چې صاحب فراش نه سو وَلَهُ: أَنَّ الْجُرْحَ إِذَا اتَّصَلَ بِهِ الْمَوْتُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د زخمي کولو سره چې کله مرګ متصل سي صَارَ قَتْلًا نو هغه [زخمي کول] قتلول ګرځي وَلِهٰذَا وَجَبَ الْقِصَاصُ او په همدې وجه قصاص واجبېږي فَإِنْ كَانَ صَاحِبَ فِرَاشٍ نو که هغه صاحب فراش سي أُضِيفَ إِلَيْهِ نو قتل د هغه زخمي کولو وطرف ته مضاف کېږي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ او که هغه صاحب فراش نه سي احْتَمَلَ أَنْ يَكُونَ الْمَوْتُ مِنْ غَيْرِ الْجُرْحِ نو دا احتمال سته چې مرګ به له زخمي کولو څخه بغير [په بله وجه] وي فَلَا يَلْزَمُ بِالشَّكِّ نو ځکه د شک په وجه به هغه [قسامت او ديت] نه لازمېږي.

اللغات: ﴿صاحب فراش﴾ د بستر خاوند. بستري. هغه کس چې زخم يا مرض يې دومره سخت وي چې له ولاړي څخه يې ايستلی وي او هغه خپل بستر لازم نيولی وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړی په يو قبيله يا په يو محله او علاقه کې زخمي کړی سي. بيا هغه خپل کور ته يووړل سي او هغه مسلسل صاحب فراش او بستري وي تر دې چې د هاغه

---

* القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، كما ذكر في الكتاب "القول الراجح" [ج:٢، ص:٣٦٩]

مخکیني زخم په وجه مړ سي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي په کومه قبیله او محله کي هغه زخمي کړی سوی وي، پر هغه قبیلې او محلې قسامت او دیت واجبیږي. لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز پر هغه قبیلې او محلې نه قسامت واجبیږي او نه دیت.

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي د قسامت او دیت وجوب د قتل سره متعلق دی او په مذکوره مسئله کي هغه په قبیله او محله کي صرف زخمي کړی سوی دی، قتل کړی سوی نه دی. نو څرنګه چي د صاحبِ فراش نه کېدلو په صورت کي که هغه مړ سوي وای، نو بالاتفاق پر هغه قبیلې قسامت او دیت نه واجبېدی، نو همداسي به په مذکوره صورت کي هم پر هغه قبیلې قسامت او دیت نه واجبیږي.

ولہ أن الجرح إلخ: دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دی، حاصل یې دا دی چي د قتل د وقوع لپاره د زخمي کېدلو سره فوراً (سمدستي) د انسان مړ کېدل ضروري نه دي، بلکي تر زخمي کېدلو وروسته که یو څوک د مرګ تر وخته پوري صاحب فراش پاته سي او بیا له هاغه زخم څخه مړ سي، نو هغه زخمي کول قتلول شمېرل کیږي، په همدې وجه خو د داسي زخمي کولو په وجه پر جارح قصاص واجبیږي. لهذا که څوک په قبیله کي زخمي کړی سي او بیا د مرګ تر وخته پوري هغه صاحبِ فراش پاته وي، نو پر هغه قبیلې به قسامت او دیت واجبیږي او د هغه مرګ به د مخکیني زخم وطرف ته منسوب کیږي. ها! که مجروح کس صاحبِ فراش پاته نه سي بلکي جوړ او روغ سي او بیا مړ سي، نو په دې صورت کي پر قبیلې قسامت او دیت نه واجبیږي؛ ځکه په دې مرګ کي احتمال پیدا سو چي کېدای سي هغه به له مخکیني زخم څخه بغیر په بله وجه مړ سوی وي او یا کېدای سي د هغه زخم په وجه به مړ سوی وي، لهذا د شک په وجه به قسامت او دیت نه واجبیږي.

که تر زخمي کېدلو وروسته د ژوند رمق پکښې پاته وي او بیا یوه ورځ یا دوې ورځي وروسته مړ سي نو د قسامت او دیت حکم

وَلَوْأَنَّ رَجُلًا مَعَهُ جُرْحٌ بِهِ رَمَقٌ او که د یو سړي سره داسي زخم وي [یعني داسي زخمي سوی وي] چي په هغه کي څه ساه پاته وي حَمَلَهُ إِنْسَانٌ إِلَى أَهْلِهِ [او] یو انسان هغه خپلي کورنۍ ته وړی وي فَمَكَثَ يَوْمًا أَوْيَوْمَيْنِ ثُمَّ مَاتَ بیا هغه یوه یا دوې ورځي [ژوندی] پاته سي بیا مړ سي لَمْ يَضْمَنِ الَّذِيْ حَمَلَهُ إِلَى أَهْلِهِ فِيْ قَوْلِ أَبِيْ يُوْسُفَ نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د قول مطابق هغه انسان [حامل] نه ضامن کیږي چي هغه [زخمي سړی] یې خپلې کورنۍ ته وړی دی وَفِيْ قِيَاسِ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ يَضْمَنُ او د امام

صاحب رَحِمَهُ الله د قول د قیاس مطابق هغه [حامل] ضامن کیږي لِأَنَّ يَدَهُ بِمَنْزِلَةِ الْمَحَلَّةِ ځکه چې د هغه [حامل] قبضه د محلې په درجه کې ده فَوُجُودُهُ جَرِيحًا فِي يَدِهِ كَوُجُودِهِ فِيهَا نو مقتول د زخمي کېدلو په حالت کې د هغه په قبضه کې موجودېدل داسې دي لکه مقتول [د زخمي کېدلو په حالت کې] په محله کې موجودېدل وَقَدْ ذَكَرْنَا وَجْهَيِ الْقَوْلَيْنِ فِيمَا قَبْلَهُ مِنْ مَسْأَلَةِ الْقَبِيلَةِ او موږ مخکې د قبیلې والا په مسئله کې د دواړو قولونو وجهې [دلیلونه] ذکر کړي دي.

اللغات: ﴿رمق﴾ پاته ساه (آخرنی ساه)، وروستنی سلګی. ﴿جريح﴾ پر وزن د فعیل په معنیٰ د مفعول سره دی: زخمي کړی سوی، ټپي. ﴿يد﴾ لاس. قبضه.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی په یو محله او قبیله کې د زخمي کېدلو په حالت کې پروت ومیندل سي او په هغه کې څه ژوند پاته وي او یو څوک (مثلاً زید) پر هغه رحم وکړي او کور ته یې یووسي او هغه یوه ورځ یا دوې ورځې ژوندی وي بیا مړ سي. نو د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز راوړونکی کس (زید) نه ضامن کیږي او د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول د قیاس مطابق هغه ضامن کیږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې د حامل (زید) قبضه د محلې قائم مقام ده او مجروح د حامل په لاس او قبضه کې موجودېدل داسې دي لکه هغه چې په محله کې وي او مخکې ذکر سوه چې که څوک په محله کې زخمي کړی سوی او کور ته یووړل سي او بیا هغه صاحب فراش سي تر دې چې مړ سي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز محلې والا ضامن کیږي. نو همداسې به دلته حامل هم ضامن کیږي.

او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل هم هلته ذکر سوی دی. لهذا راګرځولو ته یې ضرورت نسته.

په خپل کور کې د مقتول میندل کېدلو په صورت کې د دیت حکم

وَلَوْ وُجِدَ رَجُلٌ قَتِيلًا فِي دَارِ نَفْسِهِ او که یو سړی په خپل کور کې مقتول ومیندل سي فَدِيَتُهُ عَلَى عَاقِلَتِهِ لِوَرَثَتِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو دیت یې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه پر عاقله وو د هغه د وارثانو لپاره [واجب] دی [یعني عاقله به دیت د هغه وارثانو ته ورکوي] وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ وَزُفَرُ: لَا شَيْءَ فِيهِ امام ابو یوسف او امام محمد او امام زفر رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چې په دې کې هیڅ شی نسته لِأَنَّ الدَّارَ فِي يَدِهِ حِينَ وُجِدَ الْجَرِيحُ ځکه کور په هغه وخت کې د ده په قبضه کې دی کله چې دئ

زخمي کړی سوی ومینډل سو فَيُجْعَلُ كَأَنَّهُ قَتَلَ نَفْسَهُ نو داسي به گرځول کیږي گواکي ده خپله خپل ځان قتل کړی دی فَيَكُونُ هَدَرًا نو ځکه [د ده وینه] به هدر وي وَلَهُ: أَنَّ الْقَسَامَةَ إِنَّمَا تَجِبُ بِنَاءً عَلَى ظُهُورِ الْقَتْلِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي قسامت د قتل ښکاره کېدلو پر بناء واجبیږي وَلِهٰذَا لَا يَدْخُلُ فِي الدِّيَةِ مَنْ مَاتَ قَبْلَ ذٰلِكَ په همدې وجه [د عاقله وړ] هغه کس په دیت کي نه داخلیږي کوم چي له قتل ښکاره کېدلو څخه مخکي مړ سوی وي وَحَالَ ظُهُورِ الْقَتْلِ الدَّارُ لِلْوَرَثَةِ او د قتل ښکاره کېدلو په وخت کي کور د وارثانو دی فَتَجِبُ عَلَى عَاقِلَتِهِمْ نو ځکه دیت به د وارثانو پر عاقله وړ واجبیږي بِخِلَافِ الْمُكَاتَبِ إِذَا وُجِدَ قَتِيلًا فِي دَارِ نَفْسِهِ په خلاف د مکاتب کله چي هغه په خپل کور کي مقتول ومینډل سي لِأَنَّ حَالَ ظُهُورِ قَتْلِهِ بَقِيَتِ الدَّارُ عَلَى حُكْمِ مِلْكِهِ ځکه د قتل ښکاره کېدلو په وخت کي کور د هغه د ملکیت پر حکم پاته دی فَيَصِيرُ كَأَنَّهُ قَتَلَ نَفْسَهُ نو داسي به وګرځي گواکي هغه خپله خپل ځان قتل کړی دی فَيُهْدَرُ دَمُهُ نو ځکه د هغه وینه [خون] به هدر وي.

اللغات: ﴿عاقلة﴾ متعلقین او نژدې قریبان او قومیان (خاندان والا). ﴿هَدَر﴾ او هَدْرٌ د ضرب له بابه اسم مصدر دی: ضایع. باطل. بلا بدله.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو سړی په خپل کور کي مقتول ومینډل سي نو د هغه دیت واجبیږي. که نه؟ په دې باره کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د هغه دیت د هغه پر عاقله وړ باندي واجبیږي او دا دیت به د هغه وارثانو ته ور کول کیږي. لیکن د صاحبینو او د امام زفر رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د داسي مقتول دیت نه واجبیږي بلکي د هغه وینه (خون) هدر او ضایع کیږي.

همدا د امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله مسلک دی (بنايه). د دې حضراتو دلیل دا دی چي په کوم وخت کي دا سړی زخمي کړی سوی دی په هغه وخت کي کور د ده په ملکیت کي وو. نو گواکي زخمي کول د ده د ذات وطرف ته مضاف سوه او دا کس ځان وژونکی (خود کشه) سو. او د ځان وژونکي وینه (خون) ضایع کیږي. نو ځکه د دې سړي وینه به هم ضایع کیږي چي د هغه په بدله کي به هیڅ شی نه واجبیږي.

وله أن القسامة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک ذکر سو چي د داسي مقتول پر عاقله وو دیت واجبیږي، په دې هکله د هغه دلیل دا دی چي د قسامت او دیت وجوب د قتل پر ظهور او وجود باندي مبني کیږي او تر قتل مخکي چي کوم حالت وي د هغه حالت سره دا وجوب نه متعلق کیږي (یا په بله وینا دا چي قسامت او دیت د زخمي کېدلو په حالت کي نه واجبیږي. بلکي د قتل د ظهور او وقوع په وخت کي واجبیږي)، همدا وجه ده که د قتل تر ظهور مخکي له عاقله وو څخه یو کس مړ سي نو هغه کس له دیت څخه بري کیږي (یعني پر هغه د مقتول دیت نه واجبیږي). له دې څخه هم معلومه سوه چي د قسامت او دیت وجوب د قتل پر وجود او ظهور مبني دی او په مذکوره مسئله کي د قتل د ظهور په وخت کي هغه کور د وارثانو کرځېدلی دی ځکه تر مرګ وروسته د انسان ملکیت ختمیږي او د هغه هر څه ملکیت د وارثانو وطرف ته منتقل کیږي، نو ځکه د دې مقتول دیت به د وارثانو پر عاقله وو باندي واجبیږي او وارثانو ته به ورکول کیږي.

د دې په خلاف که یو مکاتب په خپل کور کي مقتول ومیندل سي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه وینه (خون) هدر او ضایع کیږي او د هغه پر عاقله وو د هغه دیت نه واجبیږي؛ ځکه د قتل د ظهور په وخت کي هغه مکاتب د خپل کور مالک دی او د هغه په مرګ سره عقد کتابت نه باطلیږي نو ګواکي قتل د هغه د ذات وطرف ته مضاف سو لهذا دا مکاتب د ځان وژونکي په درجه کي سو، او د ځان وژونکي وینه (خون) هدر کیږي، نو ځکه د هغه وینه به هم هدر وي.

که په یو کور کي دوه خلک وي.او بیا له هغوی څخه یو مقتول ومیندل سي نو د دیت حکم

وَلَوْأَنَّ رَجُلَيْنِ كَانَا فِي بَيْتٍ وَلَيْسَ مَعَهُمَا ثَالِثٌ او که دوه خلک په یو کور کي وي او د دوی سره دریم کس نه وي فَوُجِدَ أَحَدُهُمَا مَذْبُوحًا بیا له دوی څخه یو ذبح کړی سوی ومیندل سي قَالَ أَبُوْيُوْسُفَ: يَضْمَنُ الْآخَرُ الدِّيَةَ نو امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چي هغه بل یو [دویم کس] د دیت ضامن کیږي وَقَالَ مُحَمَّدٌ ❁: لَا يَضْمَنُهُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د دیت نه ضامن کیږي لِأَنَّهُ

❁ القول الراجح: قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله، ويثبت من كلام العلامة ابن عابدين رَحِمَهُ الله ترجيح قول محمد رَحِمَهُ الله حيث قال: وعندي أن قول محمد أقوىٰ مدركاً، إذ قد يقتله غير الثاني وكثيراً ما وقع. قال المفتي غلام قادر النعماني: ويمكن التطبيق بين القولين بأن يحمل قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله فيما إذا كانا في الدار قبل القتل، فالظاهر بعد القتل أن القتل صادر من صاحبه. و أن يحمل قول محمد رَحِمَهُ الله فيما إذا لم يعلم أحد أنهما كانا في الدار قبل القتل وعلم الناس بعد خروج أحدهما، لأنه يمكن أن الخارج دخل بعد القتل ولم يقتل. [القول الراجح ج:۲، ص:۳۷۰]

يَحْتَمِلُ أَنَّهُ قَتَلَ نَفْسَهُ ځکه دا احتمال سته چي هغه به خپل ځان خپله قتل کړی وي وَيَحْتَمِلُ أَنَّهُ قَتَلَهُ الْآخَرُ او دا احتمال هم سته چي بل يوه به قتل کړی وي فَلَا يَضْمَنُهُ بِالشَّكِّ نو ځکه د شک په وجه به د ديت نه ضامن کيږي وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ الْإِنْسَانَ لَا يَقْتُلُ نَفْسَهُ د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي ښکاره همدا ده چي انسان خپل ځان نه قتل کوي فَكَانَ التَّوَهُّمُ سَاقِطًا نو توهم ساقط سو كَمَا إِذَا وُجِدَ قَتِيلٌ فِي مَحَلَّةٍ لکه کله چي په يو محله کي مقتول وميندل سي.

اللغات: ﴿مذبوح﴾ د فتح د باب مفعول دی: ذبح کړی سوی (حلال سوی).

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که په يو کور کي دوه خلک استوګن وي او بل درېيم هيڅوک ور سره نه وي، بيا له هغه دوو څخه يو کس مذبوح او مقتول وميندل سي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دويم کس د ديت ضامن کيږي، لیکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دويم کس د ديت نه ضامن کيږي: د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د ديت واجبېدلو لپاره د قاتل معلومېدل او متعين کېدل ضروري دي او دلته قاتل معلوم نه دی: ځکه دا احتمال سته چي دغه کس به ځان وژنه (خودکشي) کړې وي او دا احتمال هم سته چي دويم کس به هغه قتل کړی وي، لهذا کله چي قاتل متعين نه دی. نو ښکاره ده چي د شک په وجه پر دويم کس ضمان او ديت نه سي واجبول کېدای.

ولأبي يوسف إلخ: د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي ښکاره همدا ده چي يو انسان (خصوصاً مسلمان) خپل ځان نه قتل کوي او له حرام مرګ څخه په ټينګه ځان ساتي. لهذا د هغه په حق کي د ځان وژني احتمال او وهم ساقط سو او دويم کس قاتل متعين سو. نو ځکه پر هغه به ديت واجبيږي. مثال يې دا دی لکه په يو محله کي چي مقتول وميندل سي نو که څه هم په هغه کي هم د ځان وژني احتمال سته چي هغه به خپل ځان خپله وژلی وي. خو د انسان د ظاهر حال په اعتبار کولو سره دا احتمال ساقط دی او پر محلې والا وو د هغه ديت واجب دی (لکه مخکي چي ذکر سوه). نو همداسي په مذکوره مسئله کي هم د ذبح کړی سوي کس پر ملګري (دويم کس) باندي د هغه ديت واجبيږي.

که د يوې ښځې په جاګير کې مقتول وميندل سي نو د قسامت او ديت حکم

وَلَوْ وُجِدَ قَتِيلٌ فِي قَرْيَةٍ لِامْرَأَةٍ او که چیري د یوې ښځې په کلي کي مقتول ومیندل سي فَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ عَلَيْهَا الْقَسَامَةُ نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نیز پر هغه ښځې قسامت [واجب] دی تُكَرَّرُ عَلَيْهَا الْأَيْمَانُ چي پر هغې به قسمونه مکررول کیږي وَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهَا أَقْرَبِ الْقَبَائِلِ إِلَيْهَا فِي النَّسَبِ او دیت د ښځي پر هغه عاقله وو [واجب] دی کوم چي د نسب په اعتبار سره هغې ته تر ټولو نژدې وي وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ[◎]: عَلَى الْعَاقِلَةِ أَيْضًا او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چي قسامت هم پر عاقله وو [واجب] دی لِأَنَّ الْقَسَامَةَ إِنَّمَا تَجِبُ عَلَى مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النُّصْرَةِ ځکه قسامت پر هغه چا واجبیږي کوم چي د نصرت له اهل څخه وي وَالْمَرْأَةُ لَيْسَتْ مِنْ أَهْلِهَا او ښځه د نصرت له اهل څخه نه ده فَأَشْبَهَتِ الصَّبِيَّ نو ښځه د بچي [کوچني] سره مشابه سوه وَلَهُمَا: أَنَّ الْقَسَامَةَ لِنَفْيِ التُّهْمَةِ د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چي قسامت [مکرر قسمونه اخیستل] د تهمت لیري کولو لپاره وي وَتُهْمَةُ الْقَتْلِ مِنَ الْمَرْأَةِ مُتَحَقِّقَةٌ او [دلته] د ښځي له طرفه د قتل تهمت موجود دی قَالَ الْمُتَأَخِّرُونَ متأخرینو ویلي دي إِنَّ الْمَرْأَةَ تَدْخُلُ مَعَ الْعَاقِلَةِ فِي التَّحَمُّلِ فِي هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ چي په دې مسئله کي ښځه [هم] د دیت په زغملو [اداء کولو] کي د عاقله وو سره داخلیږي لِأَنَّا نُنْزِلُهَا قَاتِلَةً ځکه موږ هغه د قتل کونکې په درجه کرځولې ده ایا په بله وینا دا چي موږ هغه قاتله ګڼلې ده او وَالْقَاتِلُ يُشَارِكُ الْعَاقِلَةَ او قتل کونکی [په دیت اداء کولو کي] د عاقله وو سره شریک کیږي.

اللغات: ﴿قرية﴾ غټ کلی. قبصه. هغه سیمه او علاقه چي یو بل ته نژدې ډېري ودانۍ (استوګنځی) او کورونه پکښې جوړ سوي وي. ﴿تُكرر﴾ د تفعیل له بابه د مضارع مجهولي صیغه ده: مکررول. یو کار دوباره کول. څو ځله کول. ﴿التحمل﴾ د تفعل د باب مصدر دی: پورته کول (تاوان پورته کول). زغمل (برداشت کول).

تشریح: مختصراً د عبارت حاصل دا دی چي مخکي ذکر سوه چي ښځه او بچی. مجنون او غلام د قسامت اهل نه دي لهذا د مقتول میندل کېدلو په صورت کي به له ښځي څخه قسم نه اخیستل کیږي: لېکن که یو ښځه د ټوله کلي مالکه او مشره وي او د کلي ټوله خلک د هغې تر حکم لاندي وي او بیا په هغه کلي کي مقتول ومیندل سي. نو په دې صورت کي هم امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله پر خپل مخکیني اُصول دی کوم چي مخکي ذکر سو چي ښځه له اهل قسامت څخه نه ده: ځکه ښځه له اهل نصرت څخه نه ده. نو ځکه پر ښځي قسامت واجب نه دی بلکي د ښځي پر عاقله وو قسامت او دیت واجب دی.

◎ القول الراجح. قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله. انظر لمنتصر الكتاب القول الراجح [ج:۲. ص:۲۷۱]

او طرفین رَحِمَهُمَا الله له خپل مخکینیٔ أصول څخه اونښتي دي او ویلي یې دي چې قسامت صرف پر ښځې واجب دی خو دیت د ښځې پر عاقله وو واجب دی.

ولهما أن القسامة إلخ: دا د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دی. حاصل یې دا دی چې د قسامت مدار پر نصرت نه دی بلکې د قتل د تهمت لیرې کولو لپاره دی او څرنګه چې دا ښځه د کلي مالکه ده. لهذا د قتل تهمت موجود دی. نو ځکه قسامت به هم واجب وي.

قال المتأخرون إلخ: دلته دا سوال واردیږي چې کله عاقله دیت اداء کوي. نو آیا دا ښځه به هم په دیت اداء کولو کې د هغو سره شریکه کیږي. که نه؟. نو متأخرینو فرمایلي دي چې ښځه هم د هغو سره په دې کې داخلیږي: ځکه ښځه د قتل کونکي په درجه کې ده او قاتل د دیت په اداء کولو کې د عاقله وو سره شریک کیږي. نو ځکه دا ښځه به هم د خپلو عاقله وو سره شریکه کیږي.

د یو داسې سړي په ځمکه کې د مقتول میندل کېدلو د دیت حکم کوم چې له کلي والا څخه جلا وي

وَلَوْ وُجِدَ رَجُلٌ قَتِيلًا فِيْ أَرْضِ رَجُلٍ إِلَى جَانِبِ قَرْيَةٍ او که یو سړی مقتول ومیندل سي د سړي په داسې ځمکه کې کوم چې د کلي یو طرف ته وي لَيْسَ صَاحِبُ الْأَرْضِ مِنْ أَهْلِهَا [او] د ځمکې خاوند له هغه کلي والا وو څخه نه وي قَالَ: هُوَ عَلَى صَاحِبِ الْأَرْضِ نو فرمایي: چې دیت د ځمکې پر خاوند [واجب] دی لِأَنَّهُ أَحَقُّ بِنُصْرَةِ أَرْضِهِ مِنْ أَهْلِ الْقَرْيَةِ ځکه د ځمکې خاوند د خپلې ځمکې د نصرت زیات حقدار دی له کلیوالو څخه [یعني د کلیوالو په نسبت هغه د دې ځمکې د نصرت او حفاظت زیات حقدار دی].

اللغات: پر وزن د فعیل په معنیٰ مفعول سره دی: قتل کړی سوی. مقتول. ﴿نصرة﴾ مدداو کومک. امداد کول.

تشریح: **مسئله:** دا ده که د یو سړي (مثلاً د خالد) ځمکه د کلي په یو طرف کې وي لیکن د ځمکې مالک (خالد) له هغه کلي والا وو څخه جلا اوسیږي او په هغو کې داخل نه وي. او بیا په دې ځمکه کې یو مقتول ومیندل سي، نو د مقتول دیت د ځمکې پر مالک (خالد) واجبیږي. پر کلیوالو (اهل قریه) باندې نه واجبیږي: ځکه د کلي والا وو په نسبت د ځمکې مالک د خپلې ځمکې د حفاظت او نصرت زیات حقدار دی. نو ځکه د هغه په ځمکه کې د دواقع کېدونکي جرم ضمان به هم پر هاغه لازم وي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



كِتَابُ الْمَعَاقِلِ

(أَيْ هٰذَا كِتَابٌ فِيْ بَيَانِ أَهْلِ الْمَعَاقِلِ)

دا کتاب داهلِ معاقل په بیان کې دی

تشریح: مخکې تر دې دیات بیان کړل سول، اوس له دې ځایه من علیهم الدیات بیانول کیږي (یعني پر کومو کسانو چې دیت واجبیږي)، لـه معاقـلُ ځخـه اهـل معاقـل (عواقـل) مـراد دي، خـو دعـامو مصنفینو رَحِمَهُمُ الله عادت دا دی چې دا بحذف المضاف بیانوي. دمعاقل نور وضاحت او تفصیل خپله صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله بیان کړی دی.

د "معاقل" لغوي تحقیق

الْمَعَاقِلُ جَمْعُ مَعْقَلَةٍ معاقل جمع د معقلةٌ ده وَهِيَ الدِّيَةُ او معقلةٌ دیت دی وَتُسَمَّى الدِّيَةُ عَقْلًا او دیت ته [په دې وجه] عقل ویل کیږي لِأَنَّهَا تَعْقِلُ الدِّمَاءَ مِنْ أَنْ تُسْفَكَ أَيْ تُمْسِكُ ځکه چې دیت وینه منع کوي له دې ځخه چې هغه [په ناحقه] وبهیږي

اللغات: ﴿عقل﴾ د ضرب د باب مصدر دی. عَقَلَ يَعْقِلُ عَقْلًا: منع کول، نیول. او عقلِ انساني ته هم په دې وجه عقل ویل کیږي چې انسان له بدیو او بدو خبرو ځخه راګرځوي. ﴿تمسك﴾ د افعال د باب مضارع ده: نیول، راګرځول.

تشریح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د "معاقل" وضاحت کوي فرمایي چې دا د "مَعْقَلَةٌ" جمع ده چې د هغه معنیٰ ده "دیت"، او دیت ته عقل ځکه ویل کیږي چې د عقل معنیٰ ده "منع کول او نیول". او دیت وینه له بهېدلو او ضایع کېدلو ځخه منع کوي او د هغه په وجه د مقتول وینه (خون) ضایع نه ځي. او له همدې عقل ځخه دیت اداء کونکو متعلقینو ته "عاقله" ویل کیږي.

دیت په کوم جنایت کي او پر چا او کله واجبیږي؟

قَالَ: وَالدِّيَةُ فِيْ شِبْهِ الْعَمَدِ وَالْخَطَإِ وَكُلُّ دِيَةٍ تَجِبُ بِنَفْسِ الْقَتْلِ عَلَى الْعَاقِلَةِ فرمايي: او دیت په شبه عمد او خطاء کي او هر هغه دیت کوم چي د نفسِ قتل په وجه واجب سي پر عاقله وو دی وَالْعَاقِلَةُ الَّذِيْنَ يَعْقِلُوْنَ يَعْنِيْ يُؤَدُّوْنَ الْعَقْلَ وَهُوَ الدِّيَةُ او عاقله هغه کسان دي کوم چي عقل يعني ديت اداء کوي وَقَدْ ذَكَرْنَاهُ فِي الدِّيَاتِ او دا موږ په کتاب الديات کي ذکر کړي دي وَالْأَصْلُ فِيْ وُجُوْبِهَا عَلَى الْعَاقِلَةِ او پرعاقله وو د دیت واجبېدلو په هکله اصل قَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِيْ حَدِيْثِ حَمَلِ بْنِ مَالِكٍ ﷜ لِلْأَوْلِيَاءِ د نبي کريم ﷺ دا فرمان دی د حمل بن مالک ﷜ په حديث کي «قُوْمُوْا فَدُوْهُ» تاسي ولاړ سئ او د هغه دیت اداء کړئ! وَلِأَنَّ النَّفْسَ مُحْتَرَمَةٌ لَا وَجْهَ إِلَى الْإِهْدَارِ او ځکه چي نفس محترم دی چي د هغه د ضايع کولو هيڅ وجه [او صورت] نسته وَالْخَاطِئُ مَعْذُوْرٌ او خطاء کاره [خطاء جرم کونکی] معذوره دی وَكَذَا الَّذِيْ تَوَلَّى شِبْهَ الْعَمَدِ نَظَرًا إِلَى الْآلَةِ او همدارنګه آلې ته په کتلو سره هغه کس [هم معذوره دی] کوم چي د شبهِ عمد متولي [مرتکب] وي [ځکه هلته آله (لکړه وغيره) د تأديب لپاره وي او هغه نه وسله وي او نه د وسلې په درجه کي وي] فَلَا وَجْهَ إِلَى إِيْجَابِ الْعُقُوْبَةِ عَلَيْهِ نو پر هغه د عقوبت واجبولو هيڅ وجه نسته وَفِيْ إِيْجَابِ مَالٍ عَظِيْمٍ إِجْحَافُهُ وَاسْتِئْصَالُهُ او د زيات مال په واجبولو کي د هغه سخت تاواني کول او د هغه هلاکول سته فَيَصِيْرُ عُقُوْبَةً نو دا [د مال واجبول] به سزا وګرځي فَضُمَّ إِلَيْهِ الْعَاقِلَةُ تَحْقِيْقًا لِلتَّخْفِيْفِ نو ځکه د تخفيف ثابتولو لپاره به د هغه سره عاقله هم ضمول کيږي [يوځای کول کيږي] وَإِنَّمَا خُصُّوْا بِالضَّمِّ او عاقله ځکه په ضم سره خاص کړل سوي دي لِأَنَّهُ إِنَّمَا قَصَّرَ لِقُوَّةٍ فِيْهِ وَتِلْكَ بِأَنْصَارِهِ ځکه چي قاتل د خپل قوت په وجه کوتاهي [او خطا] کړې ده او دا قوت هغه ته د خپل مددګارانو په وجه [حاصل] دی وَهُمُ الْعَاقِلَةُ او [دا نسان] مددګاران عاقله دي فَكَانُوْا هُمُ الْمُقَصِّرِيْنَ فِيْ تَرْكِهِمْ مُرَاقَبَتَهُ نو همدوی د هغه [قاتل] د نګرانی په پرېښوولو کي کوتاهي [او لاپروايي] کونکي سوه فَخُصُّوْا بِهِ نو ځکه همدوی په ضمّ سره خاص کړل سوي دي.

اللغات: ﴿محترم﴾ د افتعال د باب مفعول دی: د احترام او درناوي وړ. داسي څه چي د هغه خيال ساتل پر انسان لازم وي او پر هغه تېرى كول نا روا وي. ﴿إجحاف﴾ د افعال د باب مصدر دی: د دې باب څو معناوي دي: په تاوان ور رسولو كي سختي كول، ختمول او له بېخه كښل. په داسي شي سره مكلف كول كوم چي د انسان په وس كي نه وي. ﴿استئصال﴾ او استيصال: له بېخه كښل. وېجاړول. له منځه وړل. ﴿ضمّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: يو شی د بل شي سره يو ځای كول. ضمول. ﴿قصّر﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: كوتاهي او لا پروايي كول. ﴿مراقبة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: نګراني او چوكيداري كول. كتل او څارل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي هر هغه ديت كوم چي ابتداءً د نفسِ قتل په وجه واجبېږي. هغه پر عاقله وو دی (يا په بله وينا دا چي د كوم قتل موجب چي صرف ديت وي. هغه پر خودي قاتل نه واجبېږي بلكي د هغه پر عاقله وو واجبېږي چي هغه قتلِ خطاء او قتلِ شبه عمد دی). او كوم ديت چي د نفسِ قتل په وجه نه، بلكي له قتلِ عمد څخه د صلح وغيره په وجه واجب سي يا كوم ديت چي پر قاتل پلار واجب سي (يعني قاتل د مقتول پلار وي). نو دا ديت خپله د قاتل په مال كي واجبېږي. لهذا د قتلِ خطاء او د شبه عمد ديت د قاتل په عاقله وو باندي واجبېږي: د دې دليل هغه حديث دی چي يو جزء يې په كتاب كي ذكر سو. پوره واقعه داسي ده چي د حمل بن مالک بن نابغه رضي الله عنه دوې ښځي وې چي له هغوی څخه يوه حامله وه او بيا دا حامله ښځه د خپلې بنې (دويمي ښځي) له طرفه د خېمې په لرګي ووهل سوه چي په دې وجه د هغې حمل ساقط سو. نو په دې واقعه كي نبي كريم ﷺ د وهونكي ښځي وليانو ته وفرمايل "قُومُوا فَدُوْهُ" يعني ولاړ سئ! او د هغه ديت اداء كړئ!. له دې فرمان څخه دا ښكاره سوه چي د قتلِ خطاء او قتلِ شبه عمد ديت پر قاتل نه دی. بلكي د هغه پر عاقله وو دی.

ولأن النفس إلخ: په دې هكله عقلي دليل دا دی چي د انسان نفس محترم دی او د دې نفس قتل او دا وينه (خون) نه سي هدر او ضايع كول كېدلای. لېكن بل طرف ته په قتل خطاء او قتل شبهه كي قاتل هم معذوره دی ځكه د هغه قصد او نيت د قتل نه وي. او س ښكاره خبره ده چي كه موږ په داسي قتلونو كي پر قاتل ديت واجب كړو. نو هغه به بالكل خالي لاسی او دېوالي سي لهذا د خاطي قاتل د بېچ كولو په خاطر موږ دا ديت د هغه پر عاقله وو واجب كړی دی چي په دې سره قاتل له هلاكت څخه وژغورل سي.

وإنما خُصّوا إلخ: او پاته سو دا سوال چي له عاقله وو څخه بغير پر بل چا ولي دا ديت نه دی واجب كړی سوی او فقط عاقله (متعلقين او خانداني والا) د دې كار لپاره خاص كړل سوي دي؟ نو جواب يې دا دی چي قاتل چي كوم دا خطاء او لا پروايي كړې ده. هغه د طاقت او قدرت پر بنياد صادره سوې ده. او

طاقت او قدرت انسان ته د خپلو متعلقینو او خاندان والا په وجه حاصل وي (یا په بله وینا دا چې مجرم یوازي د خپل ذات په باور د جرم ارتکاب نه کوي بلکې هغه خپل تر شا د خپلو متعلقینو یا خانداني قوت محسوسوي). نو ځکه همدوی به د دې خطاء ذمه واره وي او د دوی د یوه فرد جرم به د همدوی جرم شمېرل کېږي او د هغه تاوان او دیت به پر دوی واجبېږي.

د عاقله وو تعریف او وضاحت

قَالَ: وَالْعَاقِلَةُ أَهْلُ الدِّيْوَانِ إِنْ كَانَ الْقَاتِلُ مِنْ أَهْلِ الدِّيْوَانِ فرمايي: او عاقله اهلِ دیوان [اهلِ دفتر] دي که چیرې قاتل له اهلِ دیوان څخه وي يُؤْخَذُ مِنْ عَطَايَاهُمْ فِي ثَلَاثِ سِنِيْنَ د هغو له عطیاتو څخه به په دریو کالو کې دیت اخیستل کیږي وَأَهْلُ الدِّيْوَانِ أَهْلُ الرَّايَاتِ وَهُمُ الْجَيْشُ الَّذِيْنَ كُتِبَتْ أَسَامِيْهِمْ فِي الدِّيْوَانِ او اهلِ دیوان بیرغونو والا دي چې د هغوی نومونه په دفتر [ریجسټر] کې لیکل سوي وي وَهٰذَا عِنْدَنَا او دا [حکم چې دیت پر اهلِ دیوان دی] زموږ په نېز دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: اَلدِّيَةُ عَلَى أَهْلِ الْعَشِيْرَةِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې دیت پر خاندان والا [واجب] دی لِأَنَّهُ كَانَ كَذٰلِكَ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ځکه د نبي کريم ﷺ په زمانه کې همداسې وه وَلَا نَسْخَ بَعْدَهُ او له نبي کريم ﷺ څخه وروسته نسخ نسته [چې دا حکم منسوخ کړی سي] وَلِأَنَّهُ صِلَةٌ او ځکه چې دیت خو یو صله ده وَالْأَوْلٰى بِهَا الْأَقَارِبُ او د صلې زیات لایق قریبان دي وَلَنَا قَضِيَّةُ عُمَرَ رضي الله عنه فَإِنَّهُ لَمَّا دَوَّنَ الدَّوَاوِيْنَ او زموږ دلیل د حضرت عمر رضي الله عنه فیصله ده چې کله هغه دفترونه [ریجسټرونه] تدوین [مرتب] کړل جَعَلَ الْعَقْلَ عَلٰى أَهْلِ الدِّيْوَانِ نو دیت یې پر اهلِ دیوان باندې مقرر کړی وَكَانَ ذٰلِكَ بِمَحْضَرٍ مِنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مِنْ غَيْرِ نَكِيْرٍ مِنْهُمْ او دا د صحابه وو په موجودیت کې د هغو له څه نکیر څخه بغیر سوي وه وَلَيْسَ ذٰلِكَ بِنَسْخٍ او دا نسخ نه ده بَلْ هُوَ تَقْرِيْرُ بلکې دا د معنیٰ په اعتبار سره [د مخکیني حکم] اثبات دی لِأَنَّ الْعَقْلَ كَانَ عَلٰى أَهْلِ النُّصْرَةِ ځکه چې دیت [د مجرم] پر اهلِ نصرت [مدد ګارانو] باندې دی وَقَدْ كَانَتْ بِأَنْوَاعٍ او نصرت [مدد] په څو قسمونو سره کیږي بِالْقَرَابَةِ ① د قرابت په وجه وَالْحِلْفِ ② او د حلف [یعني د نصرت د تړون] په وجه وَالْوَلَاءِ ③ او [د آزادولو] د ولاء په وجه وَالْعَدِّ او د شمېرولو په وجه [چې انسان د یو قوم له افرادو څخه شمېرل کیږي]

وَفِي عَهْدِ عُمَرَ رضي الله عنه قَدْ صَارَتْ بِالدِّيْوَانِ او د حضرت عمر رضي الله عنه په دور کي نصرت د دېوان په وجه وو [چي اهلِ دیوان به یو د بل نصرت کاوه] فَجَعَلَهَا عَلَىٰ أَهْلِهِ اتِّبَاعًا لِلْمَعْنَىٰ نو حضرت عمر رضي الله عنه هغه پر اهلِ دیوان باندي مقرر کړی د معنیٰ په اتباع کولو سره.

اللغات: ﴿دیوان﴾ هغه دفتر (ریجسټر) چي په هغه کي د فوج او عسکرو نومونه، پتـه او کوائف لیکل سوي وي. د اهلِ دیوان وضاحت مصنف رَحِمَهُ الله کړی دی. نن وخت کي د اهلِ دیوان ترجمه دا هم کېدلای سي چي د یوې ادارې کارکونکي افراد. هَم پېشه خلک. ﴿صِلَة﴾ د "وَصَلَ يَصِلُ" له باب څخه مصدر دی (په آخر کي یې هاء له واو محذوفه څخه عوض ده): عطیه (ورکړه)، احسان، انعام، صله رحمي، جمع: صِلَات، ﴿عشیرة﴾ خاندان، نژدې قریبان. ﴿نکیر﴾ انکار. ﴿حِلْف﴾ (د حاء په کسره سره): د دې لفظ څو معناوي دي: تړون او وعده، دوستي، هغه دوست او ملګری چي د نصرت کولو او بې وفایي نه کولو قسم واخلي. جمع: أَحْلَاف. او د حَلِیْف معنیٰ ده: حلف او تړون کونکی. لازم ملګری. جمع: حُلَفَاء. ﴿عهد﴾ د دې لفظ ډېري معناوي دي چي له هغوی څخه یې یوه معنیٰ "زمانه" ده، او نوري معناوي صاحب د مصباح دا نقل کړي دي: وفاء، امان، ذمه، دوستي، وصیت، میثاق، قسم، شاهي فرمان.

تشریح: مخکي دا ذکر سوه چي په قتلِ خطاء او قتلِ شبهه کي د قاتل پر عاقله وو دیت واجبیږي. دلته صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د دې وضاحت کوي چي له عاقله وو څخه مراد کوم کسان دي؟ نو فرمایي چي زموږ په نېز له عاقله وو څخه مراد اهلِ دیوان (یا په بله وینا اهلِ تعلق او هم پېشه خلک) دي. اهلِ دیوان په اصل کي هغو کسانو ته وایي چي د فوج او عسکرو په دفتر (ریجسټر) کي یا مثلاً د یوې ادارې د کار کوونکو افرادو په دفتر او لیسټ کي د هغو نومونه درج سوي وي (کوم چي په یوه اداره کي کار کوي). نو په دفتر او لیسټ کي چي د کومو افرادو نومونه درج وي کوم چي یو د بل متعلقین وي. هغوی یو د بل عاقله دي. ځکه که له دوی څخه پر یوه فرد څه واقعه راسي. نو هغه له همدې خپلو افرادو او ملګرو څخه د مدد طلب کوي. لهذا که له دوی څخه یوّ داسي فعل صادر سي چي د هغه په وجه دیت واجبیږي. نو هغه به پر همدې اهلِ دېوان او اهلِ تعلق واجبیږي (او که د چا اهلِ دیوان نه وي

او هغه په هيڅ اداره او څانګه کي هيڅ وظيفه او متعلقين نه لري. يا اهلِ ديوان وي خو د هغو مرسته د ديت اداء کولو لپاره کافي نه وي نو بيا اهلِ خاندان "خاندان والا" د هغه عاقله کيږي).

د امام شافعي په نيز دا ديت د قاتل پر خاندان والا (يعني د هغه پر قريبانو او نږدې توميانو) باندي واجبيږي: د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د نبي ﷺ په دور کي همدا طريقه رواج وه. لکه څرنګه چي حضرت شعبي دا حديث نقل کړی دی "جعل رسول الله ﷺ عَقْلَ قريشٍ على قريشٍ وعَقْلَ الأنصارِ على الأنصار" (يعني نبي کريم ﷺ د قريشو ديت پر قريشو او د انصارو ديت پر انصارو مقرر کړی). او نبي کريم ﷺ خاتم النبيين چي تر هغه وروسته د وحي سلسله منقطع ده. نو ځکه په دې حکم او طريقه کي د نسخ وغيره احتمال نسته او د نبوي دور په څېر اوس هم ديت د قاتل پر خاندان والا وو (قريبانو) باندي واجب دی.

ولأنه صلة إلخ: د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دی چي ديت د صله رحمي او خپلوی په توګه عاقله اداء کوي او د صله رحمي زيات لايق او حقداره د انسان خپل قريبان او قوم والا دي. نو ځکه په دې حواله سره هم پر همدوی ديت واجبيږي.

ولنا قضية عمر إلخ: زموږ مسلک ذکر سو چي عاقله "اهلِ ديوان" دي او ديت پر هغو واجبيږي. په دې هکله زموږ دليل د حضرت عمر رضي الله عنه فيصله ده چي کله هغه دفترونه (ريجسترونه) مرتب کړل نو ديت يې پر اهلِ ديوان باندي مقرر کړی او هيڅ يوه صحابي پر دې نکير نه وکړی. لنډه دا چي پر اهل ديوان د ديت واجبېدلو په هکله د صحابه وو اجماع ده. او اجماع له شرعي حجتونو څخه يو حجت دی.

وليس ذلك بنسخ إلخ: او دا پر اهلِ ديوان د ديت مقرر کول د نبوي حکم لپاره نسخ نه ده لکه څرنګه چي امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي، بلکي دا معناً د دې حکم اثبات دی: ځکه د ديت واجبېدلو مدار پر نصرت دی يعني ديت پر اهل نصرت (د انسان پر مددګارانو) باندي واجبيږي او د نصرت (مدد) څو قسمونه دي ① د قرابت په وجه هم نصرت کيږي. ② د حلف په وجه هم نصرت کيږي. يعني کوم خلګو چي يو د بل د نصرت کولو عهد او تړون کړی وي چي دې ته "عقدِ موالاة" وايي. ③ او کله نصرت د آزادولو د ولاء پر بناء کيږي، يعني پر دې بناء چي سړي (مالک) ته د خپل آزاد کړی سوي غلام ولاء (ميراث) حاصلېږي نو پر دې بناء له هغه (مالک) څخه د نصرت طلب کيږي. ④ او کله نصرت پر دې بناء کيږي چي انسان په يو قوم کي د اوسېدلو په وجه له هغو څخه شمېرل کيږي. لنډه دا چي د نصرت دغه بېلابېل انواع او قسمونه وه او د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي

نصرت د دېوان په وجه وو (څکه دیوانونه او دفترونه په هغه وخت کي مرتب سول. نو د ضرورت په وخت کي به همدا اهل دیوان یو د بل مرسته کوله) او دا نصرة بالدیوان له دې څخه مخکي ثابت نه وو. نو د معنیٰ په رعایت کولو سره حضرت عمر ﷛ پر اهلِ دیوان دیت واجب کړې. لهذا د هغه داعمل د حکمِ اصلي (نبوي حکم) نسخ نه ده. بلکي د حکمِ اصلي د معنیٰ لحاظ دی یعني د معنیٰ په اعتبار سره د هغه اتباع ده.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلِهٰذَا قَالُوا په همدې وجه فقهاؤ فرمایلي دي لَوْكَانَ الْيَوْمَ قَوْمٌ تَنَاصُرُهُمْ بِالْحِرَفِ چي که نن سبا یو قوم داسي وي چي د هغوی یو د بل مدد کول د پېشو [کسب کری] په وجه وي فَعَاقِلَتُهُمْ أَهْلُ الْحِرْفَةِ نو د هغو عاقله پېشې والا دي وَإِنْ كَانَ بِالْحِلْفِ او که [تناصر] د حلف [تړون] په وجه وي فَأَهْلُهُ نو عاقله حلف والا دي وَالدِّيَةُ صِلَةٌ كَمَا قَالَ او دیت صله ده لکه څرنګه چي امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایلي دي لٰكِنَّ إِيجَابَهَا فِيمَا هُوَ صِلَةٌ وَهُوَ الْعَطَاءُ أَوْلىٰ مِنْهُ فِي أُصُولِ أَمْوَالِهِمْ لیکن دیت په داسي مال کي واجبول کوم چي صله یعني عطاء ده اولیٰ دي د دوی په اصل مالونو کي له دیت واجبولو څخه [یعني دیت د عاقله وو د صلې (عطیې) په مال کي واجبول زیات غوره دي له دې څخه چي د هغو په اصل مال کي واجب کړی سي څکه دیت خپله یو صله (عطیه) ده] وَالتَّقْدِيرُ بِثَلَاثِ سِنِينَ مَرْوِيٌّ عَنِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او د دریو کالو اندازه له نبي کریم ﷺ څخه روایت سوې ده وَمَحْكِيٌّ عَنْ عُمَرَ ﷛ او له حضرت عمر ﷛ څخه نقل سوې ده وَلِأَنَّ الْأَخْذَ مِنَ الْعَطَاءِ لِلتَّخْفِيفِ او څکه چي له عطیې څخه اخیستل د تخفیف په وجه دي وَالْعَطَاءُ يَخْرُجُ فِي كُلِّ سَنَةٍ مَرَّةً وَاحِدَةً او عطیه په هر کال کي یو وار راوځي.

اللغات: ﴿تناصر﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو د بل کومک او مدد کول. ﴿حِرَف﴾ جمع د حِرْفَةٌ ده: پېشه، کسب. ﴿حِلف﴾ د دې وضاحت مخکي تېر سو. ﴿تقدیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: اندازه ټاکول، مقرر کول. ﴿تخفیف﴾ مخکنی صیغه ده: سپکتیا او آساني کول.

تشریح: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د احنافو د مسلک نور تائید کوي فرمایي چي له مخکیني څلورو صورتونو څخه بغیر د نصرت او تعاون نور صورتونه هم کېدلای سي. لهذا که نن سبا د

بعضي خلکو په مینځ کې یو د بل نصرت او مدد کول د کسب او پېشې پر بنیاد وي (مثلاً په یو مارکیټ کې رواج دا وي چې د هغه ټوله کسبګر یو د بل مدد کوي) نو دوی ټوله یو د بل عاقله کیږي. او که د نصرت او تعاون مدار پر حلف او موالات وي یعني بعضي خلکو په خپل مینځ کې یو د بل د نصرت او دوستي کولو تړون کړی وي. نو دوی یو د بل عاقله کیږي.

او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره بالکل پر ځای ده چې دیت صله ده. لهذا دا صله (دیت) به په هغه مال کې واجبول اولی وي کوم چې د صلې قابل وي. نو ځکه مونږ دیت د اصل مالونو پر ځای په صلاتو (عطیاتو) کې واجب کړی دی او کوم عطیات چې د حکومت (سرکار) له طرفه ورکول کیږي د ځان او د اهل وعیال له خرچ څخه بغیر هغوی هم په صلاتو کې داخلیږي. لهذا په همدې عطیاتو کې دیت واجب کړی سو.

والتقدیربثلاث إلخ: او پاته سو دا سوال چې دیت به په دریو کالو کې ولې اداء کول کیږي؟ نو جواب یې دا دی چې دا اندازه له نبي کریم ﷺ څخه روایت سوې ده او له حضرت عمر رضی الله عنه څخه نقل سوې ده. او څرنګه چې له عطیاتو څخه د دیت اخیستل د تخفیف په غرض دي (یعني د تخفیف او آساني کولو په خاطر دیت د عاقله ؤ په عطیاتو کې واجب کړی سوی دی. نه د هغو په اصل مال کې). او تخفیف په هغه صورت کې ښه ثابتیږي چې کله دیت په دریو کالو کې (په حصه. خصه سره) څني واخیستل سي. نو په دې وجه دیت په دریو کالو کې واجب کړی سوی دی،

د دریو کالو د مودې حیثیت او تفصیل

فَإِنْ خَرَجَتِ الْعَطَايَا فِي أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثِ سِنِيْنَ أَوْ أَقَلَّ بیا که عطیات له دریو کالو څخه په زیاته موده کې راووځي یا [له هغه څخه] په کومه موده کې أُخِذَ مِنْهَا نو دیت به له هغه عطیاتو څخه اخیستل کیږي لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ د مقصود حاصلېدلو لپاره وَتَأْوِيلُهُ إِذَا كَانَتِ الْعَطَايَا لِلسِّنِيْنَ الْمُسْتَقْبِلَةِ بَعْدَ الْقَضَاءِ او د امام قدوري رَحِمَهُ الله د قول تأویل دا دی چې کله عطیات د را روانو کلونو وي د قاضي تر فیصلې وروسته [یعني د قاضي تر فیصلې وروسته د آینده کلونو عطیات پېشکي ورکول سوي وي] حَتَّى لَوِ اجْتَمَعَتْ فِي السِّنِيْنَ الْمَاضِيَةِ قَبْلَ الْقَضَاءِ ثُمَّ خَرَجَتْ بَعْدَ الْقَضَاءِ تر دې چې که د قاضي تر فیصلې مخکې د تېرو کلونو عطیات جمع سوي وي بیا د قاضي تر فیصلې وروسته راووځي لَا يُؤْخَذُ مِنْهَا نو له هغه عطیاتو څخه به دیت نه اخیستل کیږي لِأَنَّ الْوُجُوْبَ بِالْقَضَاءِ ځکه [پر عاقله وو د دیت]

واجبیدل د قاضي په فیصله سره وي عَلیٰ مَا نُبَيِّنُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالیٰ د هغه تفصیل مطابق چې موږ به یې انشاء الله [وروسته] بیان کړو.

اللغات: ﴿عطایا﴾ جمع د عَطِيَّةٌ ده: ورکړه (بخشش)، هبه. او هغه مال او رزق کوم چې د فوج (سپاهیانو) لپاره په کال کې ټاکل سوی وي او له بیت المال څخه د کاله ورکول کیږي.

تشریح: څرنګه چې عادت دا وو چې له میاشتنانه تنخا او روزینې څخه بغیر چې کوم کالنی عطیه او انعام به فوج او کارکونکو ته ورکول کېده. هغه به په کال کې یو وار ورکول کېده. نو له هغه عطیاتو څخه به په هر کال کې د دیت ثلث (درېیمه حصه) اخیستل کېده چې په دریو کالو کې پوره دیت اداء سي.

لېکن که هغه د دریو کالو عطیات له دریو کالو څخه په زیاته موده مثلاً په شپږو کالو کې ورکول کیږي. نو بیا به په شپږو کالو کې دیت څني اخیستل کیږي یعني د کاله یو سدس (شپږمه حصه) به څني اخیستل کیږي، او که له دریو کالو څخه په کمه موده مثلاً صرف په یوه کال کې د دریو کالو عطیات ورکول سي. نو ټوله دیت به د همدې یوه کال له عطیاتو څخه اخیستل کیږي؛ ځکه مقصود او مطلوب دا دی چې دیت د دوی له عطیاتو څخه واخیستل سي (د تخفیف په توګه چې پر دوی بوج رانه سي). او دلته همداسي دي.

لېکن په دغه عطیاتو کې دوې خبرې یاد ساتل پکار دي: ① یوه دا چې په دې عطیاتو کې دیت هغه وخت واجبیږي کله چې قاضي پر اهلِ دیوان د دیت فیصله کړې وي نو د قاضي تر فیصلې وروسته دا عطیات هغو ته ورکول سوي وي. ② او دویمه خبره دا چې دا عطیات به د را روانو کلونو لپاره پېشګي ورکول سوي وي؛ او د دې وجه دا ده چې د عاقله په تعین کې کلام دی. نو د هغو تعین به د قاضي په فیصله سره کیږي.

لهذا که د مخکیني څو کلونو عطیات بند وي او بیا د قاضي تر فیصلې وروسته ورکول سي. نو له هغه عطیاتو څخه به دیت نه اخیستل کیږي؛ ځکه دویم شرط نسته. (اشرف الهدایه)

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَلَوْ خَرَجَ لِلْقَاتِلِ ثَلَاثُ عَطَايَا فِيْ سَنَةٍ وَاحِدَةٍ او که د قاتل لپاره په یوه کال کې درې عطیات را ووځي مَعْنَاهُ فِي الْمُسْتَقْبِلِ د دې مطلب دا دی [د قاضي تر فیصلې وروسته] په مستقبل کې [یعني د را روانو دریو کلونو عطیات راووځي] يُؤْخَذُ مِنْهَا كُلُّ الدِّيَةِ نو ټوله دیت به له هغه عطیاتو څخه اخیستل کیږي لِمَا ذَكَرْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی [اشارة إلى قوله: لأن الوجوب بالقضاء] وَإِذَا كَانَ جَمِيْعُ

الدِّيَةِ فِي ثَلَاثِ سِنِيْنَ او كله چې توله ديت په دريو كالو كې وي فَكُلُّ ثُلُثٍ مِنْهَا فِي سَنَةٍ نو د ديت هر ثلث به په يوه كال كې [واجب] وي وَإِنْ كَانَ الْوَاجِبُ بِالْفِعْلِ ثُلُثَ دِيَةِ النَّفْسِ أَوْ أَقَلَّ او كه د فعل [جرم] په وجه د نفس د ديت ثلث يا [تر ثلث] كم واجب وي كَانَ فِي سَنَةٍ وَاحِدَةٍ نو هغه په يوه كال كې [واجب] دى وَمَا زَادَ عَلَى الثُّلُثِ إِلَى تَمَامِ الثُّلُثَيْنِ او [د ديت] كوم مقدار چې له يوه ثلث څخه زيات وي د دوو ثلثونو تر بشپړتيا پورې فِي السَّنَةِ الثَّانِيَةِ [نو هغه له يوه ثلث څخه زيات مقدار] په دوېم كال كې [واجب دى] وَمَا زَادَ عَلَى ذٰلِكَ إِلَى تَمَامِ الدِّيَةِ او كوم مقدار چې له دوو ثلثونو څخه زيات وي د ديت تر بشپړتيا پورې فِي السَّنَةِ الثَّالِثَةِ [نو هغه] په درېيم كال كې [واجب دى].

تشريح: په دې عبارت كې له قاتل څخه يوازې قاتل مراد نه دى بلكې عاقله مع القاتل مراد دي. او د عبارت مطلب دا دى چې كه د قاضي تر قضاء وروسته اهل ديوان ته په مخكې د دريو كال عطيات وركول سي، نو بيا به درې كال تاخير نه كول كېږي بلكې له هغه څخه به سملستي ديت اخيستل كېږي: دليل يې مخكې تېر سو.

وروسته فرمايي چې په كوم صورت كې نفس خطاءً قتل كړى سوى وي، نو هلته پوره ديت واجبېږي او په هر كال كې به د ديت يو ثلث (درېيمه حصه) اخيستل كېږي. ليكن كه ديت واجب نه وي بلكې ارش واجب وي كوم چې د ما دون النفس جنايت په عوض كې واجبېږي (مثلاً يو سړي خطاءً ديو چا لاس پرېكړى وي چې د هغه په وجه ارش واجب وي)، په داسې صورت كې به په يوه كال كې څومره مقدار اخيستل كېږي؟، نو فرمايي چې كه د ارش مقدار د ديت ثلث وي يا تر هغه كم وي. نو هغه توله ارش به په همدې اول كال كې اخيستل كېږي.

او كه ارش له ثلث څخه زيات وي په دې شرط چې له ثلثان څخه اضافه نه وي، نو يو ثلث به اول كال او پاته ارش به دوېم كال اخيستل كېږي.

او كه د ارش مقدار له ثلثان (يعني د ديت له دو ثلثونو) څخه هم زيات وي. نو يو ثلث به يو كال او دوېم ثلث به بل كال او پاته مقدار به درېيم كال اخيستل كېږي. (اشرف الهدايه)

دیت برابره ده پر عاقله وو وي، که پر قاتل په هر صورت کي په دريو کالو کي واجب دی

وَمَا وَجَبَ عَلَى الْعَاقِلَةِ مِنَ الدِّيَةِ او کوم دیت چي په عاقله وو باندي واجب وي أَوْ عَلَى الْقَاتِلِ بِأَنْ قَتَلَ الْأَبُ ابْنَهُ عَمْدًا يا په قاتل باندي واجب وي په دې توګه چي پلار خپل زوی عمداً قتل کړي وي فَهُوَ فِي مَالِهِ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ نو دا دیت [زموږ په نېز] د قاتل په مال کي په دريو کالو کي [واجب] دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: مَا وَجَبَ عَلَى الْقَاتِلِ فِي مَالِهِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي کوم دیت د قاتل په مال کي واجب وي فَهُوَ حَالٌّ نو هغه في الحاله [واجب] دی لِأَنَّ التَّأْجِيلَ لِلتَّخْفِيفِ لِتَحَمُّلِ الْعَاقِلَةِ ځکه [د دريو کالو] مهلت ورکول [د عاقله وو په حق کي] د تخفيف په وجه دي. د عاقله وو د تحمل په وجه [چي ديت دوی په غاړه اخيستی دی او دوی یې اداء کوي] فَلَا يَلْحَقُ بِهِ الْعَمْدُ الْمَحْضُ نو ځکه خالص عمد به د هغه سره نه لاحقول کيږي وَلَنَا: أَنَّ الْقِيَاسَ يَأْبَاهُ او زموږ دليل دا دی: چي قياس [د نفس په بدله کي] د مال واجبولو انکار کوي وَالشَّرْعُ وَرَدَ بِهِ مُؤَجَّلًا او شريعت د مؤجل مال واجبولو په باره کي وارد سوی دی [يعني په شريعت کي ديت د دريو کالو په أجل (نېټه) کي واجب کړی سوی دی] فَلَا يَتَعَدَّاهُ نو دا [د مال واجبول] به له هغه [مورد شرع (تأجيل)] ځخه نه متعدي کيږي.

اللغات: ﴿حالّ﴾ نقد (نغد)، حالي (في الحاله او فوراً اداء کېدونکی). ﴿تأجيل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مؤجل کول. وخت او نېټه ورکول، مهلت ورکول. ﴿تحمّل﴾ د تفعل د باب مصدر دی: زغمل (برداشت کول). په خپله ذمه اخيستل. ﴿مؤجّل﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: د کوم شي لپاره چي يو نېټه (موده) ټاکل سوې وي، نېټه داره. پر يو موده موقوف.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز ديت به په دريو کالو کي اداء کول کيږي برابره ده ديت د قاتل په عاقله وو باندي واجب وي او که خودي پر قاتل واجب وي. مثلاً پلار قصداً خپل زوی قتل کړی وي نو په پلار باندي په دريو کالو کي ديت واجب دی. ليکن امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي چي د قاتل په مال کي واجبېدونکی ديت في الحاله او سمدستي واجبيږي او په هغه کي به تاخير نه کيږي؛ ځکه د عاقله وو په حق کي چي کوم تأخير ثابت دی هغه د تخفيف پر بناء ثابت دی چي عاقله خپله مجرمان نه دي او د صله رحمی په توګه ديت اداء کوي. حال دا چي قاتل خپله

مجرم او جنایتکاره وي. لهذا عمد محض به د هغه سره نه لاحقول کیږي بلکي پر قاتل به في الحاله دیت واجبول کیږي او په هغه کې به د تأخیر اجازه نه ورکول کیږي.

ولنا أن القياس إلخ: په دې هکله زموږ دليل دا دی چي د قتلِ نفس په بدله کې مال واجبول خلاف القياس دي ځکه د نفس او مال تر مينځ هيڅ مناسبت نسته. لیکن له هدر او ضیاع څخه د نفسِ محترم دبچ کولو په خاطر د هغه په بدله کي مال واجب کړی سوی دی. او څرنګه چي دا مال (دیت) په قتلِ خطاء کي مؤجل (نیته داره) واجب سوی دی (چي د هغه لپاره درې کاله نېته ټاکل سوې ده). نو ځکه په قتلِ عمد کي به هم هغه مؤجل واجبیږي او معجل به نه وي: ځکه قاعده دا ده چي "ما ثبت على خلاف القياس لا يتعدىٰ إلىٰ غيره".

که لس خلک خطاءً یو څوک قتل کړي نو هر کس به څومره دیت اداء کوي؟

وَلَوْقَتَلَ عَشَرَةٌ رَجُلًا خَطَأً او که چیري لس کسان یو سړی خطاءً قتل کړي فَعَلٰى كُلِّ وَاحِدٍ عُشْرُ الدِّيَةِ فِي ثَلَاثِ سِنِيْنَ نو پر هر یوه د دیت لسمه حصه په درېو کالو کي [واجب] ده اِعْتِبَارًا لِلْجُزْءِ بِالْكُلِّ پر کُل [ټوله دیت] باندي د جزء په قیاسولو سره إِذْ هُوَبَدَلُ النَّفْسِ ځکه دا [عُشر (جزء) هم] د نفس بدل دی وَإِنَّمَا يُعْتَبَرُ مُدَّةُ ثَلَاثِ سِنِيْنَ مِنْ وَقْتِ الْقَضَاءِ بِالدِّيَةِ او د درېو کالو موده د دیت د فیصلې کولو له وخت څخه معتبر کیږي لِأَنَّ الْوَاجِبَ الْأَصْلِيَّ الْمِثْلُ ځکه چي اصلي واجب مثل [نفس] دی وَالتَّحَوُّلَ إِلَى الْقِيمَةِ بِالْقَضَاءِ او د قیمت [دیت] وطرف ته منتقل کېدل د قضاء په ذریعه کیږي فَيُعْتَبَرُ اِبْتِدَاؤُهَا مِنْ وَقْتِهِ نو ځکه د هغه د مودې ابتداء به د قضاء له وخت څخه معتبره وي كَمَا فِي وَلَدِ الْمَغْرُوْرِ لکه څرنګه چي د مغرور [دوکه کړی سوي خاوند] په بچي کي کیږي.

اللغات: ﴿عُشر﴾ لسمه حصه. ﴿التحوّل﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: اوښتل. نقل کېدل (منتقل کېدل). ﴿مغرور﴾ د نصر له باب څخه اسمِ مفعول دی: دوکه کړی سوی (چا ته چي دوکه ورکول سوې وي). وَلَدُ الْمَغْرُوْر" (د دوکه کړی سوي پلار بچی) ځکه د ده پلار ته د ده مور (مینځې) دوکه ورکړې وي.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که لس کسان خطاءً یو کس قتل کړي. نو پر دوی هر یوه د دیت لسمه حصه په درېو کالو کي واجبیږي (یعني په دې صورت کي به هم په درېو کالو کي هر یو خپله لسمه حصه اداء کوي): ځکه د دیت لسمه حصه هم د ټوله دیت په څېر د نفس بدل ده او ټوله دیت په درېو

کالو کې اداء کول کیږي. لهذا پر کُل د جُزء په قیاسولو سره به عُشرِ دیت هم په دریو کالو کې اداء کول کیږي.

وانما یعتبرالخ: د دې حاصل دا دی چې د کُل دیت په څېر د عشرِ دیت ورکولو ابتداء به هم د قاضي د دیت له فیصلې څخه وروسته کیږي یعني کله چې قاضي پر ټولو مجرمانو د دیت فیصله وکړي. تر هغه وروسته به د دریو کالو په موده کې مذکوره دیت اداء کول کیږي: د دې وجه دا ده چې د نفس په عوض کې اصل واجب خو مثل یعني نفس دی (چې د هغه په بدله کې هم نفس کې قتل کړی سي). لیکن په قتلِ خطاء کې د خطاء د عذر په وجه د نفس په عوض کې مال (دیت) واجب کړی سوی دی او دا مال د قاضي په قضاوت سره واجبیږي. لهذا د دې وجوب موده به هم د قاضي تر قضاوت وروسته معتبره شمېرل کیږي.

کما فی ولد المغرور الخ: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د مذکوره مسئلې د وضاحت لپاره یو مثال پېش کړی دی. حاصل یې دا دی چې که ښځه د یو سړي سره نکاح وکړي او خپل د آزادۍ دعویٰ وکړي چې زه آزاده ښځه یم او بیا له دې سړي څخه د هغې بچی وسي. بیا یو بل څوک پر هغې د مینځې والي دعویٰ وکړي چې دا خو زما مینځه ده او مینځه له سړي څخه واپس واخلي، نو د دې سړي دا بچی آزادیږي او داسي بچي ته ولد المغرور وایي (ځکه پلار ته یې دده مور دوکه ورکړې وه چې زه آزاده یم) او دې مغرور (پلار) ته به د بچي قیمت ورکول کیږي. او دا قیمت د قضاء د ورځي معتبر کیږي یعني د هغه ورځي قیمت به ورکول کیږي په کومه ورځ چې د دې سړي د مغرور کېدلو او د بچيٰ د ولد المغرور کېدلو فیصله وسي. نو څرنګه چې د ولد المغرور په مسئله کې د قضاء د ورځي قیمت معتبر دی. نو همداسي به په مذکوره مسئله کې هم د قضاء ورځ معتبره وي او د دریو کال ابتداء به د قضاء له ورځي څخه کیږي.

که د مجرم اهلِ دیوان او متعلقین نه وي نو د هغه عاقله څوک دي؟

قَالَ: وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ الدِّيوَانِ فرمایي: او څوک چې له اهلِ دیوان څخه نه وي فَعَاقِلَتُهُ قَبِيلَتُهُ نو د هغه عاقله د هغه قبیله ده لِأَنَّ نُصْرَتَهُ بِهِمْ ځکه د هغه نصرت د همدوی په وجه وي وَهِيَ الْمُعْتَبَرَةُ فِي التَّعَاقُلِ او همدا نصرت په عاقله کېدلو کې معتبر دی.

اللغات: ﴿اهل الدیوان﴾ د دې وضاحت مخکې تېر سو. ﴿تعاقل﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو د بل دیت اداء کول. عاقله کېدل.

تشریح: **صورت د مسئلي**: دا دی که یو سړی له اهلِ دیوان څخه نه وي (یعني هغه د فوج او عسکرو په یو دسته یا په یو اداره او ځانګه کې هیڅ وظیفه نه لري چې د هغه دستې یا اداري افراد او متعلقین یې عاقله سي). نو په دې صورت کې خپلي قبیلې او خاندان والا د هغه عاقله کیږي: ځکه د هغه د نصرت مدار دی پر قبیلې والا دي او د همدوی په وجه هغه ته نصرت او قوت حاصل دی. او په عاقله کېدلو همدا نصرت معتبر دی. نو ځکه د اهلِ دیوان د نشتوالي په صورت کې همدا قبیلې والا د هغه عاقله کیږي چې د هغه له طرفه به عقل (دیت) اداء کوي.

د دیت طریقه او تفصیل

قَالَ: وَتُقْسَمُ عَلَيْهِمْ فِي ثَلَاثِ سِنِيْنَ او دیت به پر قبیلې والا په دریو کالو کې تقسیمول کیږي لَا يُزَادُ الْوَاحِدُ عَلَى أَرْبَعَةِ دَرَاهِمَ فِي كُلِّ سَنَةٍ په هر کال کې به له یوه کس څخه پر څلورو زیات دراهم نه اخیستل کیږي وَيَنْقُصُ مِنْهَا او له څلورو څخه کمول کېدای سي قَالَ ﷺ: كَذَا ذَكَرَهُ الْقُدُورِيُّ فِي مُخْتَصَرِهِ صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي: چې امام قدوري رَحِمَهُ الله په خپل مختصر کې همداسې بیان کړي دي وَهٰذَا إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ يُزَادُ عَلَى أَرْبَعَةٍ مِنْ جَمِيعِ الدِّيَةِ او دا [قول د امام قدوري] اشاره ده ودې ته چې له ټوله دیت څخه پر څلورو درهمو اضافه کېدلای سي [یعني په دریو کالو کې تر څلورو زیات دراهم څني اخیستل کېدای سي] وَقَدْ نَصَّ مُحَمَّدٌ عَلَى أَنَّهُ لَا يُزَادُ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْ جَمِيعِ الدِّيَةِ فِي ثَلَاثِ سِنِيْنَ عَلَى ثَلَاثَةٍ أَوْ أَرْبَعَةٍ حال دا چې امام محمد رَحِمَهُ الله د دې خبري صراحت کړی دی [یعني دا یې صراحتاً بیان کړې ده] چې پر یوه کس به له ټوله دیت څخه په دریو کالو کې پر دریو یا څلورو درهمو اضافه نه کول کیږي فَلَا يُؤْخَذُ مِنْ كُلِّ وَاحِدٍ فِي كُلِّ سَنَةٍ إِلَّا دِرْهَمٌ أَوْ دِرْهَمٌ وَثُلُثُ دِرْهَمٍ نو له هر یوه څخهٔ به په هر کال کې صرف یو درهم یا یو درهم او د درهم دریمه حصه اخیستل کیږي وَهُوَ الْأَصَحُّ او همدا زیاته صحیح ده.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې کله پر قبیلې او خاندان والا باندې دیت تقسیمول کیږي نو (د امام محمد رَحِمَهُ الله د تصریح مطابق) د دریو کالو په موده کې به هر کال له دوی هر یوه څخه یا صرف یو درهم اخیستل کیږي چې مجموعه درې درهمه سي یا له هر یوه څخه به یو درهم او د درهم یو ثلث (دریمه حصه) اخیستل کیږي چې مجموعه څلور درهمه سي: ځکه له یوه فرد څخه تر څلورو درهمو زیات اخیستل جائز نه دي. که څه هم له څلورو څخه د کمولو ګنجایش سته لېکن د زیاتوب ګنجایش او اختیار نسته.

فرمایي چي د امام قدوري رَحِمَهُ الله له کلام څخه په ښکاره دا معلومیږي چي په دریو کالو کي له هر یوه څخه تر څلورو زیات دراهم اخیستل کېدای سي؛ ځکه هغه خو داسي فرمایلي دي چي له یو هر یوه څخه په یوه کال کي تر څلورو زیات دراهم نه سي اخیستل کېدای. نه په دریو کالو کي. او دا د مام محمد رَحِمَهُ الله د تصریح خلاف دي او زیات صحیح (و مختار عند الفقهاء) هغه دي کوم چي امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایلي دي. (اشرف الهدایه)

که د قاتل خاندان د دیت اداء کولو لپاره کافي نه وي نو څه به کیږي؟

قَالَ: وَإِنْ لَمْ تَتَّسِعِ الْقَبِيلَةُ لِذٰلِكَ فرمایي: او که چیري قبیله د هغه [دیت اداء کولو لپاره] ګنجایش نه لري ضُمَّ إِلَيْهِمْ أَقْرَبُ الْقَبَائِلِ نو د هغو سره به تر ټولو نژدې [بله] قبیله یوځای کول کیږي مَعْنَاهُ نَسَبًا د دې [اقرب] مطلب دا دی چي د نسب په اعتبار سره [تر ټولو ورته نژدې] وي كُلُّ ذٰلِكَ لِمَعْنَى التَّخْفِيفِ دا ټوله د تخفیف په وجه دي [چي په دې سره د قبیلې والا (عاقله وو) په حق کي تخفیف ثابت سي] وَيُضَمُّ الْأَقْرَبُ فَالْأَقْرَبُ عَلٰى تَرْتِيبِ الْعَصَبَاتِ او تر ټولو نژدې بیا نژدې به د عصباتو د ترتیب مطابق ور سره یوځای کول کیږي الْإِخْوَةُ ثُمَّ بَنُوهُمْ ثُمَّ الْأَعْمَامُ ثُمَّ بَنُوهُمْ [یعني اول ورونه بیا د هغو زامن بیا اکاګان بیا د هغو زامن وَأَمَّا الْآبَاءُ وَالْأَبْنَاءُ فَقِيلَ: يَدْخُلُونَ لِقُرْبِهِمْ او کوم چي [د قبیلې والا] پلرونه او زامن دي نو ویل سوي دي: چي د نژدېکت په وجه هغوی په عاقله کي داخلیږي وَقِيلَ: لَا يَدْخُلُونَ او ویل سوي دي: چي نه داخلیږي لِأَنَّ الضَّمَّ لِنَفْيِ الْحَرَجِ حَتّٰى لَا يُصِيبَ كُلَّ وَاحِدٍ أَكْثَرُ مِنْ ثَلَاثَةٍ أَوْ أَرْبَعَةٍ ځکه [د قبیلې والا سره نور کسان] یوځای کول د تکلیف لیري کولو لپاره دي [یعني] چي هر یوه ته له دریو یا څلورو درهمو څخه زیات نه ورسیږي [یعني چي د قبیلې پر هر فرد له دریو یا څلورو څخه زیات دراهم لازم نه سي] وَهٰذَا الْمَعْنٰى إِنَّمَا يَتَحَقَّقُ عِنْدَ الْكَثْرَةِ او دغه معنیٰ د زیاتوب په وخت کي ثابتیږي [چي ضم کړل سوي کسان زیات وي] وَالْآبَاءُ وَالْأَبْنَاءُ لَا يَكْثُرُونَ او پلرونه او زامن زیات نه وي.

اللغات: ﴿تتسع﴾ د افتعال د باب مضارع ده: وسعت او ګنجايش لرل. پراخ کېدل. ﴿ضُمّ﴾ د نصر له باب څخه ماضي مجهوله ده: یو شی د بل شي سره یو ځای کول. ضمول. ﴿تخفيف﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: سپکتيا او آساني کول. آساني پيدا کول. ﴿حرج﴾ تکليف. ستونزه.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي که د قاتل قبيله او خاندان کوچنی وي او د ديت اداء کولو لپاره کافي نه وي، نو د قبيلې والا سره به بل هغه خاندان شاملول کيږي کوم چي د نسب په اعتبار سره هغو ته ډېر نژدې وي چي په دې سره د قبيلې والا په حق کي تخفيف ثابت سي. او دا نژدې نسب والا خاندان به د هغه ترتيب مطابق ور سره شاملول کيږي کوم ترتيب چي په عصباتو کي ذکر سوی دی. يعني اول به د قبيلې والا سره د هغو ورونه شاملول کيږي. بيا وراره ګان. بيا اکاګان او بيا د هغو زامن.

وأما الآباء إلخ: او پاته سوه د قبيلې والا پلرونه او زامن هغوی په دې عاقله کي شامليږي. که نه؟ نو فرمايي چي په دې باره کي دوه قوله دي: ① يو قول دا دی چي هغوی هم په عاقله کي داخليږي: ځکه د ديت مدار پر قربت او نصرت دي او دا کسان تر ټولو نژدې قربان دي. ② دويم قول دا دی چي پلرونه او زامن په عاقله کي نه داخليږي: ځکه د قبيلې والا سره نور کسان ځکه شامل کړل سوي دي چي د هغوی شمېر زيات سي او پر هر فرد له دريو يا څلورو څخه زيات دراهم نه پرېوځي. او دا مقصد همغه وخت حاصليږي کله چي د عاقلې د افرادو شمېر زيات سي، او پلرونه او زامن خو زيات نه وي چي په هغو سره دا مقصد پوره حاصل سي. نو ځکه په عاقله وو کي به د هغو داخلول او شاملول بې ځايه وي. (أَقُولُ: فِيهِ كَلَامٌ، وَهُوَ أَنَّ عَدَمَ كَثْرَةِ الْآبَاءِ مُسَلَّمٌ، وَأَمَّا عَدَمُ كَثْرَةِ الْأَبْنَاءِ كَكَثْرَةِ الْإِخْوَةِ فَمَمْنُوعٌ، كَيْفَ وَإِخْوَتُهُ أَبْنَاءُ أَبِيهِ. فَإِذَا جَازَ أَنْ يَكْثُرَ أَبْنَاءُ أَبِيهِ فَلِمَ لَا يَجُوزُ أَنْ يَكْثُرَ أَبْنَاءُ نَفْسِهِ فَتَأَمَّلْ! (فتح القدير))

که اهل ديوان (اهل دفتر) د ديت اداء کولو لپاره کافي نه وي نو څه به کيږي؟

وَعَلَى هٰذَا حُكْمُ الرَّايَاتِ إِذَا لَمْ يَتَّسِعْ لِذٰلِكَ أَهْلُ رَايَةٍ او د بېرغونو والا [اهلِ دواوين] حکم پر همدغه طريقه دی کله چي د هغه [ديت اداء کولو] لپاره بېرغ والا [اهلِ ديوان] ګنجايش نه لري ضُمَّ إِلَيْهِمْ أَقْرَبُ الرَّايَاتِ نو د هغو سره به تر ټولو نژدې بېرغ والا يو ځای کول کيږي يَعْنِي أَقْرَبَهُمْ نُصْرَةً إِذَا حَزَبَهُمْ أَمْرٌ الْأَقْرَبَ فَالْأَقْرَبَ يعني چي دوی ته د نصرت په اعتبار سره تر ټولو نژدې وي، کله چي دوی ته يو معامله پېښه سي. د اقرب فالاقرب په اعتبار سره [به ور سره يوځای کول کيږي] وَيُفَوَّضُ ذٰلِكَ إِلَى

الْإِمَامِ او دا کا به امام ته سپارل کیږي لِأَنَّهُ هُوَ الْعَالِمُ بِهِ ځکه همدا امام په دې خبر وي ثُمَّ هٰذَا كُلُّهُ عِنْدَنَا بیا دا ټوله تفصیل زموږ په نېز دی وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ يَجِبُ عَلٰى كُلِّ وَاحِدٍ نِصْفُ دِينَارٍ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز پر هر یوه نیم دینار واجبیږي فَيُسَوَّىٰ بَيْنَ الْكُلِّ نو د ټولو تر مینځ به برابري کول کیږي لِأَنَّهُ صِلَةٌ ځکه چي دا صله ده فَيُعْتَبَرُ بِالزَّكَاةِ نو ځکه هغه به پر زکاة قیاسول کیږي وَأَدْنَاهَا ذٰلِكَ او د زکاة ادنیٰ مقدار نیم دینار دی إِذْ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ عِنْدَهُمْ نِصْفُ دِينَارٍ ځکه د صحابه وو په نېز پنځه درهمه نیم دینار دی وَلٰكِنَّا نَقُولُ: هِيَ أَحَطُّ رُتْبَةً مِنْهَا لیکن موږ [په جواب کي] وایو: چي دیت له زکاة څخه کمي مرتبې والا دی أَلَا تَرىٰ أَنَّهَا لَا تُؤْخَذُ مِنْ أَصْلِ الْمَالِ آیا ته نه ګوري! چي دیت له اصل مال څخه نه اخیستل کیږي فَيُنْتَقَصُ مِنْهَا تَحْقِيقًا لِزِيَادَةِ التَّخْفِيفِ نو د زیات تخفیف ثابتولو لپاره به دیت له زکاة څخه کم کیږي.

اللغات: ﴿رایات﴾ جمع د رَایَةٌ ده: د فوج بیرغ (جنډه)، د لیدني لپاره درول سوي نښه. ﴿حَزَبَ﴾ د نصر د باب ماضي ده: رسېدل، پېښېدل، لاحق کېدل. ﴿أحطّ﴾ د نصر له بابه د اسمِ تفضیل صیغه ده: زیات کنم، زیات ټیټ، ډېر کمي رتبې والا. ﴿ینتقص﴾ د افتعال د باب مضارع ده: کمېدل (کم کېدل).

تشریح: فرمایي چي که مخکینۍ صورت په اهلِ دېوان (اهلِ دفتر) کي پېښ سي یعني د فوج دیوې دستې افراد یا د یوې ادارې افراد چي د هغوی نومونه په یوه دفتر (ریجسټر) کي درج وي که چیرې هغوی د دیت اداء کولو لپاره کافي نه وي، نو د هغو سره به نور اهلِ دیوان یعني د فوج د بلې دستې افراد یا د بلې ادارې افراد یو ځای کول کیږي کوم چي د نصرت او مدد په اعتبار سره هغو ته زیات نژدې وي.

او د عصباتو په څېر په هغو کي به هم د أقرب فالأقرب ترتیب جاري کیږي.

ویفوّض إلخ: فرمایي چي دا کار یعني نور اهلِ دیوان ور سره یو ځای کول او د أقرب فالأقرب د تقدیم او ضم کار به امام ته سپارل کیږي، ځکه په داسي أمورو او د دې افرادو په نسب او تعلق امام ښه واقف وي نو هغه به په دې باره کي ښه ترتیب او د دیت اداء کولو آسانه لار برابره کړي. صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي مذکوره تفصیلات زموږ د مسلک مطابق دي.

وعند الشافعي إلخ: او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز چي پر عاقله وو د ديت كوم مقدار واجبيږي. هغه پر هريوه نيم دينار يعني پنځه درهمه دي او د ديت په اداء كولو كي به د عاقله وو سره پلرونه او زامن تو له شريكان كيږي: د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي ديت يو صله ده. لهذا هغه به پر زكاة قياسول كيږي. او د زكاة اقل نصاب يعني په دوو سوو درهمو كي پنځه درهمه پر صاحب نصاب واجب دي. لهذا په ديت كي به د عاقلې پر هر فرد پنځه درهمه واجبول كيږي يا نصف دينار به پرې واجبول كيږي. او د صحابه وو رضوان الله عليهم اجمعين په دور كي نيم دينار او پنځه درهمه سره برابر وه.

ولكنا نقول إلخ: په دې سره د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل او قياس جواب وركوي فرمايي چي د ديت مقام او رُتبه له زكاة څخه ټيټه او كمتره ده: ځكه زكاة په اصل مال كي واجبيږي حال دا چي ديت په اضافي مال او صلاتو كي واجبيږي: نو ځكه د ديت د كم رُتبه والي او ناقصوالي د ښكاره كولو لپاره دا ضروري ده چي د هغه مقدار د زكاة له مقدار څخه كم وي. په همدې وجه موږ (احنافو) د ديت مقدار له پنځو درهمو څخه كم كړی دی او درې يا څلور درهمه مو ټاكلی دی چي له زكاة څخه د هغه كموالی او ټيټوالی هم ښكاره سي او په هغه كي پر اداء كونكو (عاقله وو) تخفيف هم ثابت سي.

كه قاتل د اهل عطاء پر ځای له اصحاب الارزاق څخه وي نو څه حكم دی؟

وَلَوْ كَانَتْ عَاقِلَةُ الرَّجُلِ أَصْحَابَ الرِّزْقِ او كه چيري د قاتل سړي عاقله رزق والا وي [چي له بيت المال څخه رزق (جيره) وركول كيږي] يُقْضَى بِالدِّيَةِ فِي أَرْزَاقِهِمْ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ فِي كُلِّ سَنَةٍ الثُّلُثُ نو د دوی په ارزاقو كي به په دريو كالو كي د ديت فيصله كول كيږي په هر كال كي د يوه ثلث [دريمي حصې] لِأَنَّ الرِّزْقَ فِي حَقِّهِمْ بِمَنْزِلَةِ الْعَطَاءِ قَائِمٌ مُقَامَهُ ځكه د دوی په حق كي رزق د عطيې په درجه كي دی [او] د عطيې قائم مقام دی إِذْ كُلٌّ مِنْهُمَا صِلَةٌ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ ځكه له دې دواړو څخه هر يو له بيت المال څخه صله ده ثُمَّ يُنْظَرُ إِنْ كَانَتْ أَرْزَاقُهُمْ تَخْرُجُ فِي كُلِّ سَنَةٍ بيا به دې ته كتل كيږي چي كه د دوی رزقونه په هر كال كي [يو وار] را وځي فَكُلَّمَا يَخْرُجُ رِزْقٌ نو څرنګه چي دا رزق راووځي يُؤْخَذُ مِنْهُ الثُّلُثُ نو له هغه څخه به [د ديت] ثلث اخيستل كيږي بِمَنْزِلَةِ الْعَطَاءِ د عطيې په درجه كي [چي له هغه څخه هم په كال كي ثلث اخيستل كيږي] وَإِنْ كَانَ يَخْرُجُ فِي كُلِّ سِتَّةِ أَشْهُرٍ وَخَرَجَ بَعْدَ الْقَضَاءِ او كه رزق په هرو شپږو مياشتو كي را وځي او د قاضي تر فيصلې وروسته را وځي يُؤْخَذُ مِنْهُ سُدُسُ الدِّيَةِ

نو له هغه څخه به د دیت سدس [شپږمه حصه] اخیستل کیږي وَإِنْ كَانَ يَخْرُجُ فِي كُلِّ شَهْرٍ او که په هره میاشت کي را وځي يُؤْخَذُ مِنْ كُلِّ رِزْقٍ بِحِصَّتِهِ مِنَ الشَّهْرِ نو له هر رزق څخه به د میاشتي د حصې په اندازه اخیستل کیږي حَتَّى يَكُونَ الْمُسْتَوْفَى فِي كُلِّ سَنَةٍ مِقْدَارَ الثُّلُثِ چي په هر کال [دوولسو میاشتو] کي اخیستل سوی مقدار [د دیت] ثلث سي وَإِنْ خَرَجَ بَعْدَ الْقَضَاءِ بِيَوْمٍ أَوْ أَكْثَرَ او که رزق د قاضي تر فیصلې وروسته یوه یا زیاتي ورځي [مثلاً دوې. درې ورځي] وروسته را ووځي أُخِذَ مِنْ رِزْقِ ذَلِكَ الشَّهْرِ بِحِصَّةِ الشَّهْرِ نو د هغه میاشتي له رزق څخه به د میاشتي د حصې په اندازه اخیستل کیږي.

اللغات: ﴿عاقلة﴾ د قاتل او مجرم قریبان. یا د هغه متعلقین (اهل دیوان وغیره). ﴿رزق﴾ لفظي معنیٰ یې ده: روزي. او په اصطلاحي معنیٰ کي یې څو اقوال نقل سوي دي: ① هغه مال او وظیفه کوم چي فقراؤ (غریبانو) ته له بیت المال څخه ورکول کیږي. ② هغه تنخا او خرچ کوم چي فوج والا (سپاهیانو) ته د میاشتنه ضروریاتو لپاره ورکول کیږي. (یا په بله وینا هغه مال کوم چي د دولت لخوا خپلو عُمالو ته ورکول کیږي). وفیه أقوالٌ. ﴿العطاء﴾ لفظي معنیٰ یې ده: ورکړه (بخشش) او اصطلاحي معنیٰ یې ده: هغه مال او انعام کوم چي فوج والا (سپاهیانو) ته هغو د خدماتو په عوض کي د کاله ورکول کیږي. ﴿صِلة﴾ د "وَصَلَ يَصِلُ" له باب څخه مصدر دی (په آخر کي یې هاء له واو محذوفه څخه عوض ده): عطیه (ورکړه). احسان. انعام. صله رحمي. جمع: صِلَات، ﴿مستوفیٰ﴾ د استفعال د باب مفعول دی: ترلاسه کړی سوی. اخیستل سوی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که د قاتل عاقله اصحابُ العطایا نه وي بلکي اصحابُ الارزاق وي (یا په بله وینا دا چي د قاتل عاقله هغه خلک وي چي له بیتُ المال څخه رزق او وظیفه ورکول کیږي). نو د هغو له ارزاقو څخه به په دریو کالو کي د دیت فیصله کول کیږي او هر کال به د دیت ثلث (دریمه حصه) څني اخیستل کیږي؛ ځکه د هغو په حق کي رزق د عطاء (عطیې) قائم مقام دی او له عطاء څخه په دریو کالو کي دیت اخیستل کیږي (لکه مخکي چي ذکر سوه). لهذا له رزق څخه به هم په دریو کالو کي دیت اخیستل کیږي.

ثم ینظر الخ: ددې حاصل دا دی چي که دغه اصحاب الارزاق عاقله وو ته په کال کي رزق ورکول کیږي. نو په کال کي به یو وار له هغو څخه د دیت ثلث اخیستل کیږي. او که هغو ته په شپږو

میاشتو کې رزق ورکول کیږي، نو په شپږو میاشتو کې به له هغو څخه د دیت سدس اخیستل کیږي. په دې شرط چې د قاضي تر قضاء وروسته رزق ورکول سوی وي، او که عاقله وو ته هره میاشت رزق ورکول کیږي. نو په هره میاشت کې چې د دیت کوم حساب جوړیږي د هغه مطابق به میاشتانه له رزق څخه دیت اخیستل کیږي یعني هره میاشت به دومره مقدار څني اخیستل کیږي چې په کال (دوولسو میاشتو) کې اخیستل سوی مقدار د دیت یو ثلث جوړیږي.

او که د قاتل عاقله وو ته له بیتُ المال څخه میاشتانه رزق او کالانه عطایا ورکول کیږي نو څه حکم دی؟

وَإِنْ كَانَتْ لَهُمْ أَرْزَاقٌ فِي كُلِّ شَهْرٍ وَأَعْطِيَةٌ فِي كُلِّ سَنَةٍ او که د عاقله وو لپاره په هره میاشت کې ارزاق [مقرر] وي او په هر کال کې عطیات [مقرر] وي فُرِضَتِ الدِّيَةُ فِي الْأَعْطِيَةِ دُونَ الْأَرْزَاقِ نو دیت به په عطیاتو کې مقررول کیږي، نه په ارزاقو کې لِأَنَّهُ أَيْسَرُ ځکه دا زیاته آسانه ده إِمَّا لِأَنَّ الْأَعْطِيَةَ أَكْثَرُ یا خو په دې وجه چې عطیات زیات وي أَوْ لِأَنَّ الرِّزْقَ لِكِفَايَةِ الْوَقْتِ یا ځکه چې رزق [فقط] د وخت د کفایت [ګزارې] لپاره وي فَيَتَعَسَّرُ الْأَدَاءُ مِنْهُ نو له هغه څخه [د دیت] اداء کول به مشکل وي وَالْعَطِيَّاتُ لِيَكُونُوا فِي الدِّيوَانِ قَائِمِينَ بِالنُّصْرَةِ او عطیات د دې لپاره وي چې هغوی [اهلِ دیوان] په دیوان کې پر نصرت قائم پاته وي فَيَتَيَسَّرُ عَلَيْهِمْ نو [له عطیاتو څخه د دیت] اداء کول به پر هغو آسانه وي.

اللغات: ﴿أرزاق﴾ جمع د رِزْقٌ ده او أعطیة جمع د عَطَاء ده، د دواړو وضاحت مخکې وسو.
﴿أیسر﴾ د سمِع او کرُم له باب څخه اسم تفضیل دی: زیاته آسانه. ﴿یتعسّر﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: مشکل او سخت کیدل، ستونزمن کیدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که د قاتل عاقله داسې خلک وي چې هغو ته هره میاشت رزق هم ورکول کیږي او هر کال عطیات هم ورکول کیږي، نو دیت به په عطیاتو کې مقررول کیږي: ځکه د عاقله وو په حق کې شریعت د تخفیف رعایت کړی دی، او د عطیاتو مقدار له رزق څخه زیات وي (ځکه هغه په کال کې یو ځل وي نو د میاشتانه رزق په نسبت زیات ورکول کیږي)، لهذا له عطایا وو څخه دیت اخیستل به د هغو په حق کې آسانه او د تخفیف باعث وي، حال دا چې د رزق مقدار کم وي او هغه صرف د وخت د ګزارې او د ورځني اړتیاوو لپاره ورکول کیږي. نو له هغه څخه دیت

اخیستل په د هغو په حق کي مشکل او د تکلیف باعث وي. نو ځکه پر عاقله وو د تخفیف کولو په خاطر موږ په عطیاتو کي دیت مقرر کړی دی.

والعطيات إلخ: فرمايي چي عطیات په دې وجه فوج او عسکرو ته ورکول کیږي چي هغوی پر نصرت قائم پاته وي او د ضرورت پر مهال د نورو نصرت او مدد وکړی سي. نو دا د عطیاتو مال د هغو له ورځني ضروریاتو څخه زائد او اضافي وي، لهذا د رزق په نسبت له هغه څخه دیت اداء کول آسانه دي او د تکلیف او ستونزي باعث نه دي.

قاتل به هم په عاقله وو کي داخلول کیږي، که نه؟

قَالَ: وَأُدْخِلَ الْقَاتِلُ مَعَ الْعَاقِلَةِ فرمايي: او قاتل به د عاقله وو سره داخلول کیږي فَيَكُونُ فِيمَا يُؤَدِّي كَأَحَدِهِمْ نو قاتل به په اداء کېدونکي دیت کي د عاقله وو د یو فرد په څېر وي لِأَنَّهُ هُوَ الْفَاعِلُ ځکه چي همدا قاتل [د قتل] کار کونکی دی فَلَا مَعْنَى لِإِخْرَاجِهِ وَمُؤَاخَذَةِ غَيْرِهِ نو [له دیت اداء کولو څخه] د هغه ایستلو او له هغه څخه بغیر نور [يعني عاقله] نیولو لره هیڅ معنیٰ [او وجه] نسته وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجِبُ عَلَى الْقَاتِلِ شَيْءٌ مِنَ الدِّيَةِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي پر قاتل د دیت هیڅ حصه هم نه واجبیږي اِعْتِبَارًا لِلْجُزْءِ بِالْكُلِّ فِي النَّفْيِ عَنْهُ پر کُل د جزء په قیاسولو سره له قاتل څخه [د کل] نفي کولو په باره کي وَالْجَامِعُ كَوْنُهُ مَعْذُورًا او علت جامعه د قاتل معذوره کېدل دي [چي خاطي قاتل د خپل خطاء په وجه معذوره دی] قُلْنَا: إِيجَابُ الْكُلِّ إِجْحَافٌ بِهِ موږ [په جواب کي] وایو: چي [پر قاتل] ټوله دیت واجبول د هغه سخت تاواني کول [او هلاکول] دي وَلَا كَذَلِكَ إِيجَابُ الْجُزْءِ او د دیت څه حصه واجبول داسي نه دي [چي هغه سخت تاواني او دېوالي کړي] وَلَوْ كَانَ الْخَاطِئُ مَعْذُورًا او که خطا کونکی معذوره دی فَالْبَرِيءُ مِنْهُ أَوْلَى نو له خطا څخه بري کس [عاقله] خو په درجه اولیٰ [معذوره] دي قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى﴾ [الأنعام: ۱۶۴] ' الله تعالیٰ فرمایلي دي: او نه به باروي [نه اخلي] هیڅ یو ګنهګاره نفس ګناه د بل نفس.

اللغات: ﴿مؤاخذة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: نیول، ملامتول، سزا ورکول. ﴿إجحاف﴾: د دې باب څو معناوي دي: په تاوان ور رسولو کي سختي کول (زښت تاوان ور رسول)، په داسي شي سره مکلف کول کوم چي د انسان په وس کي نه وي. ﴿لا تزر﴾ د ضرب له بابه د نفي صیغه ده: باروِل. پر

ځان اخیستل، درونـد بـار پـر شـا وړل. ﴿وَازِرَةٌ﴾ لـه مخکینـي بـاب څخـه د مؤنـث فاعـل صیغه ده: بارووںکی. بار اخیستونکی. ﴿وِزر﴾ بار (بوج). ګناه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې زموږ په نېز په دیت اداء کولو کې قاتل د عاقله وو سره شریک کیږي او د عاقلې د افرادو په څېر به هغه هم د کاله درې یا څلور درهمه اداء کوي؛ ځکه اصل مجرم او مباشر خو همدا قاتل دی. لهذا دا څنګه کېدلای سي! چې مجرم پرېښوول سي او له غیرِ مجرم یعني له عاقله وو څخه دیت واخیستل سي، نو ځکه زموږ په نېز قاتل د عاقله وو سره شریک کیږي.

امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چې قاتل به په دیت اداء کولو کې د عاقله وو سره نه شریکول کیږي؛ ځکه کله چې شریعت هغه د خپل خطا په وجه معذوره شمېرلی دی او له هغه څخه یې ټول دیت ساقط کړی دی، نو د دیت د څه حصې په اداء کولو کې به هم معذوره شمېرل کیږي او د دیت لږ حصه به هم نه اداء کوي.

قلنا إلخ: صاحب د هدایې د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل او تأویل جواب ورکوي فرمایي چې شریعت له قاتل څخه ټوله دیت ځکه معاف کړی دی چې د ټوله دیت په اداء کولو سره هغه ته زښت تاوان لاحق نه سي او هغه بالکل ډېوالي نه سي، او څرنګه چې د څه دیت په اداء کولو هغه ته تاوان او حرج نه رسیږي؛ نو ځکه د څه دیت په اداء کولو کې به هغه معذوره نه شمېرل کیږي او په دیت اداء کولو کې به د عاقله وو سره شرکت کوي.

او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا خبره چې خاطي قاتل معذوره دی، نو د هغه جواب دا دی چې که دا قاتل معذوره دی نو عاقله خو له هغه څخه زیات معذوره دي (چې په دې قتل کې د هغو هیڅ لاس نسته). حال دا چې الله تعالیٰ فرمایلي دي ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرَىٰ﴾، او دا خلاف دي چې جرم یو وکړي او پوره سزا بل ته ورکول سي. نو ځکه قتل به د عاقله وو سره په دیت اداء کولو کې شریکول کیږي.

له اهل دیوان (اهل دفتر) څخه بچې او ښځې له دیت څخه مستثنیٰ دي

وَلَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ وَالذُّرِّيَّةِ مِمَّنْ كَانَ لَهُ حَظٌّ فِي الدِّيوَانِ عَقْلٌ او پر هغه ښځو او بچیانو چې د هغوی لپاره په دیوان کې حصه [مقرره] وي دیت نسته لِقَوْلِ عُمَرَ رضي الله عنه : لَا يَعْقِلُ مَعَ الْعَاقِلَةِ صَبِيٌّ وَلَا امْرَأَةٌ د حضرت عمر رضي الله عنه [د دې] فرمان په وجه: چې د عاقله وو سره به بچی او ښځه دیت نه اداء کوي وَلِأَنَّ الْعَقْلَ إِنَّمَا يَجِبُ عَلَى أَهْلِ النُّصْرَةِ لِتَرْكِهِمْ مُرَاقَبَتَهُ او ځکه چې دیت پر اهل نصرت واجبیږي. د

قاتل د نګرانۍ پرېښوولو په وجه وَالنَّاسُ لَا يَتَنَاصَرُوْنَ بِالصِّبْيَانِ وَالنِّسَاءِ او خلک په بچیانو او ښځو سره یو د بل مدد نه کوي وَلِهٰذَا لَا يُوْضَعُ عَلَيْهِمْ مَا هُوَ خَلَفٌ عَنِ النُّصْرَةِ وَهُوَ الْجِزْيَةُ په همدې وجه پر بچیانو او ښځو د نصرت خلیفه [بدل] یعني جزیه نه مقررول کیږي.

اللغات: ﴿ذرية﴾ نسل، بچیان. ﴿حظ﴾ حصه. ﴿عقل﴾ دیت. ﴿لا يعقل﴾ د ضرب له باب څخه د نفي صیغه ده: دیت اداء کول، دیت ورکول. ﴿صبي﴾ بچی، هغه کوچنی کوم چې د هلکوالي تر وخته رسېدلی نه وي. ﴿لا يتناصرون﴾ د تفاعل له بابه د نفي صیغه ده: یو د بل مدد کول، مرسته کول. ﴿خلف﴾ خلیفه، قائم مقام.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې پر هغه ښځو او بچیانو هم دیت نشته چې په دیوان (ریجسټر) کې د هغو نومونه درج وي او په دیوان کې یې حصه متعین وي (یا دیو اداري په افرادو کې هغوی درج وي):

ځکه حضرت عمر رضی الله عنه دا فرمان جاري کړی وو چې "لا يعقل مع العاقلة صبي ولا امرأة" یعني په دیت اداء کولو کې به د عاقله وو سره بچی او ښځه نه شاملیږي.

په دې هکله دویم دلیل دا دی چې دیت پر اهلِ نصرت د قاتل د حفاظت پرېښوولو په وجه واجبیږي، حال دا چې ښځې او بچیان له اهلِ نصرت څخه نه دي؛ ځکه قاعده دا ده چې هیڅ یو قوم هم له ښځو او بچیانو څخه د نصرت او مرستې طلب نه کوي، او د دیت تعلق د نصرت سره دی، نو ځکه کله چې هغوی له اهلِ نصرت څخه نه دي نو پر هغو به دیت هم نه واجبیږي. په همدې وجه شریعت ښځې او بچیان د دیت له قائم مقام یعني له جزیې څخه هم بري کړي دي.

که ښځه یا بچی قاتل وي نو څه حکم دی؟

وَعَلٰى هٰذَا لَوْ كَانَ الْقَاتِلُ صَبِيًّا أَوِ امْرَأَةً او پر همدې بناء که قاتل بچی یا ښځه وي لَا شَيْءَ عَلَيْهِمَا مِنَ الدِّيَةِ نو پر دوی دواړو هیڅ دیت نشته بِخِلَافِ الرَّجُلِ په خلاف د سړي لِأَنَّ وُجُوْبَ جُزْءٍ مِنَ الدِّيَةِ عَلَى الْقَاتِلِ بِاعْتِبَارِ أَنَّهُ أَحَدُ الْعَوَاقِلِ ځکه پر قاتل د دیت څه حصه واجبېدل په دې اعتبار سره دي چې قاتل له عاقله وو څخه یو فرد دی لِأَنَّهُ يَنْصُرُ نَفْسَهُ ځکه چې هغه د خپل ځان مدد کوي وَهٰذَا لَا يُوْجَدُ فِيْهِمَا او دا معنیٰ په بچي او ښځه کې نشته وَالْفَرْضُ لَهُمَا مِنَ الْعَطَاءِ لِلْمَعُوْنَةِ لَا لِلنُّصْرَةِ او د بچي او ښځې لپاره له عطیې څخه حصه مقرر کېدل د امداد لپاره وي، نه د نصرت لپاره

كَفَرْضِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ وَالسَّلَامُ وَرَضِيَ اللهُ عَنْهُنَّ لکه د نبي ﷺ د بیبیانو رضی الله عنهن مقرره حصه.

اللغات: ﴿عواقـل﴾ جمع د عَاقِلَةٌ ده؛ قريبان، نـږدې متعلقين (وضاحت يې مخکې تېر سو).

﴿المعونة﴾ د دې لفظ دوې معناوې نقل سوي دي: ① مدد او کومک. ② هغه څه چې په هغه سره د محتاج او غريب مدد کیږي، لکه په څه مال سره د فقير مدد کول. ﴿فَرْض﴾ د دې لفظ له معناوو څخه يوه معنیٰ دَه: حصه او برخه (مقرره او ټاکل سوې حصه) جمع: فرائض. (معجم لغة الفقهاء)

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې مخکې ښځه او بچی چې له ديت اداء کولو څخه مستثنیٰ سوي دي، دا استثناء عام ده يعني ښځه يا بچی برابره ده قاتل وي او که نه وي، په هر صورت کې دوی په ديت اداء کولو کې نه شامليږي او ديت صرف د دوی په عاقله وو باندې واجبيږي، د دې په خلاف که يو سړی (بالغ کس) قاتل وي نو هغه د عاقله وو سره په دينت اداء کولو کې شامليږي او د عاقله وو د يو فرد په څېر پر هغه هم د ديت څه حصه واجبيږي؛ ځکه هغه له اهلِ نصرت څخه دی او د عاقله وو سره د شامليدلو په وجه به هغه د خپل ځان نصرت کونکی وي او د عاقله وو په حق کې به د تخفيف باعث وي، او په بچي او ښځه کې د نصرت دا ماده او منفعت مفقود دی، نو ځکه فقهاؤ د عاقلې له فهرس څخه دوی خارج کړي دي.

والفرض لهما إلخ: فرمايي د بچي او ښځي لپاره چې له بيت المال څخه کومه عطيه ورکول کيږي، هغه د اهلِ نصرت کېدلو پر بنياد نه وي چې دوی نو له اهلِ نصرت څخه دي، بلکې هغه د دوی د معونت او امداد په وجه وي يعني امام (او سرکار) د دوی مدد کول غواړي؛ ځکه دوی په بعضې اُمورو کې په کار راتللای سي، لکه څرنګه چې د نبي کريم ﷺ بيبيانو ته کومه حصه ورکول کېده، هغه د نصرت پر بنياد نه وه، بلکې بناء بر معونت وه.

سوال: مخکې دا مسئله ذکر سوه چې "قال المتأخرون أنّ المرأة تدخل مع العاقلة في التحمل في هذه المسئلة إلخ" او دلته ذکر سوي دي چې ښځه د عاقله وو سره په ديت اداء کولو کې نه داخليږي. نو دا تعارض څنګه راغلی؟.

جواب: هغه مخکينی قول اصل روايت نه دی بلکې د بعضې متأخرينو قول دی او دا مذکوره قول اصل روايت او اصل مذهب دی.

يو ښار والا د بل ښار والا ديت نه سي اداء کولای

وَلَا يَعْقِلُ أَهْلُ مِصْرٍ عَنْ مِصْرٍ آخَرَ او يو ښار والا به د بل ښار له طرفه ديت نه اداء کوي يُرِيْدُ بِهِ أَنَّهُ إِذَا كَانَ لِأَهْلِ كُلِّ مِصْرٍ دِيْوَانٌ عَلٰى حِدَةٍ مراد په دې سره د مصنف رَحِمَهُ الله دا دی چي کله د هر ښار والا لپاره جلا ديوان وي لِأَنَّ التَّنَاصُرَ بِالدِّيْوَانِ عِنْدَ وُجُوْدِهٖ ځکه د ديوان د موجود والي په وخت کي تناصر [يو د بل نصرت کول] د ديوان په ذريعه کيږي وَلَوْ كَانَ بِاعْتِبَارِ الْقُرْبِ فِي السُّكْنٰى او که تناصر په استوګنه کي د نژدېکت په اعتبار سره وي فَأَهْلُ مِصْرِهٖ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِ مِصْرٍ آخَرَ نو د قاتل خپل ښار والا هغه ته له بل ښار والا څخه زيات نژدې دي.

اللغات: ﴿لا يعقل﴾ د نصر له بابه د نفي صيغه ده: ديت اداء کول (ديت ورکول). ﴿تناصر﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو د بل مدد کول. ﴿سکنٰی﴾ استوګنه (اوسېدنه).

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي کوم دوه ښارونه يو بل ته نژدې وي، په هغوی کي د هر ښار اهلِ ديوان جلا وي (يا په بلمونا دا چي په هر ښار کي د فوج او عسکرو دسته يا يو متعينه اداره د بل ښار له دستې او ادارې څخه جلا وي چي د هر يوه د افرادو نومونه او کوائف په عليحده دفتر [ريجسټر] کي درج وي)، نو بيا به يو ښار والا د بل ښار والا ديت نه اداء کوي، بلکي هر ښار والا به خپله دا کار سر ته رسوي؛ ځکه د ديوان (او ادارې) په موجوديت کي د تناصر او تعاون مدار پر همدې ديوان (او اداره) باندي وي، لهذا د ديوان په موجويت کي به د بل ښار والا د قاتل ديت نه اداء کوي.

او که چيري د تناصر مدار د استوګنيز نژدېکت پر بنياد وي، نو د قاتل خپل ښار والا د بل ښار په مقابله کي هغه ته زيات نژدې دي او د بل ښار والا په مقابله کي د هغه د ديت اداء کولو زيات حقداره دي.

که د کلي او د اطرافي علاقې خلک د ديت اداء کولو لپاره کافي نه وي نو څه حکم دی؟

وَيَعْقِلُ أَهْلُ كُلِّ مِصْرٍ مِنْ أَهْلِ سَوَادِهِمْ او هر ښار والا به د خپل اطرافو والا ديت اداء کوي لِأَنَّهُمْ أَتْبَاعٌ لِأَهْلِ الْمِصْرِ ځکه چي هغوی [اطرافو والا] د ښار والا تابع دي فَإِنَّهُمْ إِذَا حَزَبَهُمْ أَمْرٌ اِسْتَنْصَرُوْا بِهِمْ ځکه کله چي هغو ته څه خبره پېښه سي نو له ښار والا وو څخه د مدد طلب کوي فَيَعْقِلُهُمْ أَهْلُ الْمِصْرِ بِاعْتِبَارِ مَعْنَى الْقُرْبِ فِي النُّصْرَةِ نو ځکه همدا ښار والا به د هغو ديت اداء کوي. د نژدېکت او مدد د معنیٰ په اعتبار کولو سره.

اللغات: ﴿سَواد﴾ د ښار اطراف. د صحرا کلي (د صحرا سيمه او علاقه. صحرايي مېنه). ﴿حزبه﴾ د نصر د باب ماضي ده: رسېدل، پېښېدل، لاحق کېدل. ﴿استنصروا﴾ د استفعال له بابه د جمع مذکر غائب ماضي صيغه ده: د مدد او مرستې طلب کول. مدد غوښتل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که په يو کلي او اطرافي سيمه (صحرايي علاقه) کې يو څوک خطاءً قتل سوی وي، خو هغه کلي او سيمي والا د ديت اداء کولو لپاره نا کافي وي، نو دا کلي او سيمه چې د کوم ښار تابع او ور سره مربوط وي، هغه ښار والا به ور سره يو ځای کول کيږي او ديت به اداء کوي؛ ځکه اطرافي کلي او سيمي والا د خپل ښار والا تابع وي او د ضرورت په وخت کې دوی يو له بل څخه د مدد او کومک طلب کوي، لهذا د قُرب او نصرت معنیٰ موجوده ده. نو ځکه همدا ښار والا به د هغو ديت اداء کوي.

که د يو سړي استوګنځی په يوه ښار کې وي او اهل ديوان يې په بل ښار کې استوګن وي نو څه حکم دی؟

وَمَنْ كَانَ مَنْزِلُهُ بِالْبَصْرَةِ وَدِيْوَانُهُ بِالْكُوْفَةِ او د کوم چا کور چې په بصره کې وي او ديوان يې په کوفه کې وي عَقَلَ عَنْهُ أَهْلُ الْكُوْفَةِ نو د هغه له طرفه به کوفې والا ديت اداء کوي لِأَنَّهُ يَسْتَنْصِرُ بِأَهْلِ دِيْوَانِهِ لَا بِجِيْرَانِهِ ځکه چې هغه له خپل اهلِ ديوان څخه د مدد طلب کوي، نه له خپلو همسايه ګانو څخه وَالْحَاصِلُ أَنَّ الِاسْتِنْصَارَ بِالدِّيْوَانِ أَظْهَرُ خلاصه دا ده چې له ديوان [اهلِ ديوان] څخه د مدد طلب کول زيات ښکاره دي فَلَا يَظْهَرُ مَعَهُ حُكْمُ النُّصْرَةِ بِالْقَرَابَةِ وَالنَّسَبِ وَالْوَلَاءِ وَقُرْبِ السُّكْنٰى وَغَيْرِهِ نو ځکه د هغه [نصرة بالديوان] سره به د قرابتې او نسبي او د ولاء او استوګنيز قربت د نصرت حکم نه ښکاره کيږي وَبَعْدَ الدِّيْوَانِ النُّصْرَةُ بِالنَّسَبِ او له ديوان څخه وروسته د نسب نصرت دی عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ د هغه تفصيل مطابق کوم چې موږ [مخکې] بيان کړی وَعَلٰى هٰذَا يَخْرُجُ كَثِيْرٌ مِنْ صُوَرِ مَسَائِلِ الْمَعَاقِلِ او پر همدې اُصول د معاقلو د مسئلو ډېر صورتونه راوځي.

اللغات: ﴿منزل﴾ کور او تېکانه. ﴿ديوان﴾ هغه دفتر (رېجسټر) چې په هغه کې د فوج او عسکرو نومونه، پته او کوائف ليکل سوي وي. د اهلِ ديوان وضاحت مخکې وسو. په نن وخت کې د يوې اداري کارکونکو افرادو او هم پېشه خلکو ته هم اهلِ ديوان ويل کېدای سي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که یو څوک له اهلِ دیوان څخه وي او هغه مثلاً د کندهار اوسېدونکی وي خو د هغه اهلِ دیوان (یا اهلِ اداره) په هلمند کي وي، نو د هغه له طرفه به دیت هلمند والا اداء کوي: ځکه کوم څوک چي له اهلِ دیوان (یا اهلِ اداره) څخه وي، نو هغه اول خپل اهلِ دیوان (او خپلي اداري والا) رانټکوي او تر ټولو مخکي له هغوی څخه مدد غواړي، نه له خپلو همسایه ګانو څخه.

ځکه دا چي د نصرت له مختلفو قسمونو څخه تر ټولو قوي نصرة بالديوان دی، نو د دغه نصرت په موجودیت کي بل نصرت لره اعتبار نسته او هغه ساقط دی، او تر نصرة بالديوان وروسته بیا د نصرة بالنسب نمبر دی، او دا داسي قاعدهٔ کُلیه ده چي ډېر مسائل پرې متفرع کیږي.

که ښاري کس یو جنایت وکړي او نسبي قریبان یې په صحرا کي وي نو څه حکم دی؟

وَمَنْ جَنٰى جِنَايَةً مِنْ أَهْلِ الْمِصْرِ او له ښار والا [ښاريانو] څخه چي څوک یو جرم وکړي وَلَيْسَ لَهُ فِي الدِّيْوَانِ عَطَاءٌ او په دیوان کي د هغه لپاره عطیه [مقرره] نه وي وَأَهْلُ الْبَادِيَةِ أَقْرَبُ إِلَيْهِ او صحرا والا [د نسب په اعتبار سره] هغه ته زیات نژدې وي وَمَسْكَنُهُ الْمِصْرُ او د هغه استوګنځی ښار وي عَقَلَ عَنْهُ أَهْلُ الدِّيْوَانِ مِنْ ذٰلِكَ الْمِصْرِ نو د ده دیت به د هغه ښار اهلِ دیوان اداء کوي وَلَمْ يَشْتَرِطْ أَنْ يَكُوْنَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَهْلِ الدِّيْوَانِ قَرَابَةٌ او امام محمد رَحِمَهُ الله دا شرط نه دی لګولی چي د ده او اهلِ دیوان تر مینځ به قرابت وي قِيْلَ: هُوَ صَحِيْحٌ ویل سوي دي: چي همدا صحیح ده لِأَنَّ الَّذِيْنَ يَذُبُّوْنَ عَنْ أَهْلِ الْمِصْرِ وَيَقُوْمُوْنَ بِنُصْرَتِهِمْ وَيَدْفَعُوْنَ عَنْهُمْ ځکه کوم خلک چي له ښار والا څخه [خلل وغیره] منع کوي او د هغوی نصرت کوي او له هغو څخه دفاع کوي أَهْلُ الدِّيْوَانِ مِنْ أَهْلِ الْمِصْرِ هغه خلک د ښار اهلِ دیوان وي وَلَا يَخُصُّوْنَ بِهِ أَهْلَ الْعَطَاءِ او په دې [دفاع] سره یوازې اهلِ عطاء خاص نه دي [(له اهلِ عطاء څخه مراد اهلِ دیوان وغیرهم دي چي د دولت له طرفه عطیه ورکول کیږي) د دې آخري جملې مطلب دا دی چي اهلِ دیوان یوازې د خپلو ځانو او نورو دولتي عُمالو دفاع او نصرت نه کوي بلکي د ښار د ټوله اوسېدونکو دفاع او نصرت کوي].

اللغات: ﴿جنٰى﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جرم کول. ﴿جناية﴾ جرم. ﴿بادية﴾ صحرا، خالي ډګر چي اوبه وغیره پکښې وي او ودانۍ پکښې نه وي. ﴿يذبّون﴾ د نصر له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صیغه ده: منع کول، دفع کول او لیري کول. ﴿اهل العطاء﴾ هغه فوج (عسکر) او هغه دولتي

عُمال چې د دولت (سرکار) له طرفه په کال کې د هغو لپاره عطیه مقرره وي یعنې د حکومت له طرفه هر کال اضافي مال ورکول کیږي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو جرم کونکی (جنایتکاره) په ښار کې اوسیږي او د هغه نسبي قریبان په صحرا (د ښار په اطرافو) کې استوګن وي، نو په کوم ښار کې چې دئ اوسیږي، د هغه ښار اهلِ دیوان به د ده دیت اداء کوي، برابره ده د مجرم او د اهلِ دیوان تر مینځ څه قرابت وي او که نه وي.
بعضې حضراتو همدا قول صحیح ګرځولی دی: ځکه د ښاریانو نصرت او حمایت کول او له هغو څخه یو مصیبت او ستونزه دفع کول د اهلِ دیوان کار دی، یعنې اهلِ دیوان یوازې د خپلو ځانو او اهلِ عطاء د نصرت ذمه واره نه دي بلکې د ټوله ښار د اوسېدونکو خلکو د حفاظت او نصرت ذمه واره دي.
نو ځکه همدا اهلِ دیوان به د دې مجرم اهلِ نصرت او عاقله وي او همدوی به یې دیت اداء کوي.

د مذکوره مسئلې په هکله بل قول به په را روان عبارت کې ذکر سي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَقِيلَ: تَأْوِيلُهُ إِذَا كَانَ قَرِيبًا لَهُمْ او ویل سوي دي: د دې تأویل دا دی چې کله مجرم د هغو [اهل دیوان] قریب وي وَفِي الْكِتَابِ إِشَارَةٌ إِلَيْهِ او په قدوري [متن] کې همدې طرف ته اشاره ده حَيْثُ قَالَ: وَأَهْلُ الْبَادِيَةِ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِ مِصْرِ په دې حیثیت سره چې هغه فرمایلي دي: او صحرا والا [د نسب په اعتبار سره] هغه مجرم ته له ښار والا څخه زیات نژدې وي وَهٰذَا لِأَنَّ الْوُجُوبَ عَلَيْهِمْ بِحُكْمِ الْقَرَابَةِ او دا ځکه چې پر هغو [د دیت] وجوب د قرابت په حکم سره دی وَأَهْلُ الْمِصْرِ أَقْرَبُ مِنْهُمْ مَكَانًا او د ځای په اعتبار سره ښار والا [هغه مجرم ته] له صحرا والا څخه زیات نژدې دي فَكَانَتِ الْقُدْرَةُ عَلَى النُّصْرَةِ لَهُمْ نو [د مجرم] پر نصرت به قدرت همدې ښار والا لره وي وَصَارَ نَظِيرُ مَسْأَلَةِ الْغَيْبَةِ الْمُنْقَطِعَةِ او دا د غیبت منقطعه د مسئلې نظیر سو.

اللغات: ﴿غیبة﴾ غائب والی (غائب کېدل). غیبة منقطعة: په داسې توګه غائبېدل (ورکېدل) چې د مرګ او ژوند خبر یې چا ته نه وي. ﴿نظیر﴾ مِثل. مثال. مشابه.

تشریح: مخکې چې کوم دا مسئله تېره سوه چې د مذکوره مجرم (جنایتکاره) له طرفه به د ښار اهلِ دیوان دیت اداء کوي که څه هم هغوی د مجرم قریبان نه وي. د هغه په هکله بل قول او تأویل دا دی چې د ښار اهل دیوان به هغه وخت د مذکوره مجرم دیت اداء کوي کله چې هغوی د مجرم قریبان او خپلوان وي که څه هم لیري قریبان یې وي او د صحرا والا د هغه نژدې قریبان وي. ځکه پر ښار والا د دیت

وجوب د قرابت په وجه وي او دلته مجرم که څه هم د قرابت نسبي په اعتبار سره صحرا والا قريبانو ته زيات نژدې دي، لېکن د قرابت مکاني او قرابت مصالحي په اعتبار سره بيا ښار والا قريبانو ته زيات نژدې دی او د هغه ښار والا قريبان د صحرا والا په نسبت د هغه پر نصرت او حمايت زيات قادر دي. نو ځکه همدا ښار والا به د هغه ديت اداء کوي.

وصار نظيرالخ: صاحب د هدايې فرمايي چې مذکوره مسئله د غيبت منقطعه والا د مسئلې مثال ده يعني که د يوې کوچنۍ انجلۍ دوه وليان وي، يو اقرب وي او بل ابعد (يعني يو ولي د هغې نژدې ولي او قريب وي او بل د هغې لېرې ولي وي)، خو اقرب ولي د غيبت منقطعه په توګه غائب وي يعني داسي غائب وي چې هيڅ پته او د ژوند او مرګ هيڅ درک يې نه وي، نو په دې صورت کې د قربت مقام او د قربت مصلحت پر بنياد همدې ابعد ولي ته د هغې د نکاح کولو او داسي نورو ولايت او اختيار حاصلېږي. نو همداسي په مذکوره مسئله کې به همدا ښار والا اهل ديوان د قرابت مکاني پر بنياد د مجرم ديت اداء کوي.

که د صحرا (اطرافو) اوسېدونکی په ښار کې يو جنايت وکړي نو د ديت څه حکم دی؟

> وَلَوْ كَانَ الْبَدْوِيُّ نَازِلًا فِي الْمِصْرِ لَا مَسْكَنَ لَهُ فِيهِ او که صحرا والا [اطرافي] ښار ته راغلی وي [او] په ښار کې د هغه استوګنځی نه وي لَا يَعْقِلُهُ أَهْلُ الْمِصْرِ نو ښار والا به د هغه ديت نه اداء کوي لِأَنَّ أَهْلَ الْعَطَاءِ لَا يَنْصُرُونَ مَنْ لَا مَسْكَنَ لَهُ فِيهِ ځکه اهل عطاء [اهل ديوان] د هغه چا مدد نه کوي چې په ښار کې يې استوګنځی نه وي كَمَا أَنَّ أَهْلَ الْبَادِيَةِ لَا تَعْقِلُ عَنْ أَهْلِ الْمِصْرِ النَّازِلِ فِيهِمْ لکه څرنګه چې صحرا والا د هغه ښار والا ديت نه اداء کوي کوم چې هغو ته راغلی وي لِأَنَّهُ لَا يَسْتَنْصِرُ بِهِمْ ځکه هغه ښار والا له صحرا والا څخه د مدد طلب نه کوي.

اللغات: ﴿بدوي﴾ د صحرا اوسېدونکی، سارايي، اطرافي. ﴿نازل﴾ د ضرب د باب فاعل دی: را شوه کېدونکی، راتلونکی. ﴿يستنصر﴾ د استفعال د باب مضارع ده: د مدد او کومک طلب کول. مرسته غوښتل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که د صحرا او د اطرافو اوسېدونکی کس ښار ته راسي او هلته يو جنايت وکړي، حال دا چې په ښار کې د هغه کور او استوګنځی نه وي. نو ښار والا به د هغه ديت نه اداء کوي؛ ځکه اهل عطاء د هغه خلکو نصرت او مرسته کوي کوم چې په ښار کې استوګنه اختيار کړې وي او د عامو مسافرانو مرسته نه کوي. نو ځکه ښار والا به د مذکوره کس ديت نه اداء

کوي. لکه کله چې یو د ښار اوسېدونکی کس صحرا (د ښار اطرافو) ته ولاړ سي او هلته یو جنایت وکړي. نو صحرا والا د هغه دیت نه اداء کوي؛ ځکه هغه کس د صحرا اوسېدونکی نه دی او نه له صحرا والا څخه د مرستي طلبګار دی. همدغسي ښار ته تلونکی کس او مسافر هم د ښار اوسېدونکی نه وي. نو ځکه ښار والا به د هغه دیت نه اداء کوي.

د ذمیانو د دیت مسئله

وَإِنْ كَانَ لِأَهْلِ الذِّمَّةِ عَوَاقِلُ مَعْرُوفَةٌ يَتَعَاقَلُونَ بِهَا او که د ذمیانو لپاره پېژندل سوي [معلوم] عواقل وي کوم چې دیت پر ځان اخلي [یو د بل دیت اداء کوي] فَقَتَلَ أَحَدُهُمْ قَتِيلًا بیا له دوی څخه یو ذمي یو څوک قتل کړي فَدِيَتُهُ عَلَى عَاقِلَتِهِ بِمَنْزِلَةِ الْمُسْلِمِ نو د مسلمان په څېر د هغه دیت [هم] د هغه پر عاقله وو دی لِأَنَّهُمْ الْتَزَمُوا أَحْكَامَ الْإِسْلَامِ فِي الْمُعَامَلَاتِ ځکه ذمیانو په معاملاتو کي اسلامي احکام پر ځان لازم کړي دي لَا سِيَّمَا فِي الْمَعَانِي الْعَاصِمَةِ عَنِ الْإِضْرَارِ په ځانګړې توګه په هغه مطالبو کي کوم چې له ضرر رسولو څخه بچ کونکي وي وَمَعْنَى التَّنَاصُرِ مَوْجُودٌ فِي حَقِّهِمْ او معنیٰ د تناصر د دوی [ذمیانو] په حق کي موجوده ده.

اللغات: ﴿عواقل﴾ جمع د عَاقِلَةٌ ده: قریبان. او نږدې متعلقین (اهل دیوان وغیره). ﴿یتعاقلون﴾ د تفاعل له بابه د جمع مذکر غائب صیغه ده: دیت پر ځان اخیستل. د دیت په اداء کولو کي شرکت کول. ﴿التزاموا﴾ د افتعال له بابه د جمع مذکر غائب ماضي صیغه ده: پر ځان لازمول. ﴿عاصمة﴾ د ضرب له بابه د مؤنث فاعل صیغه ده: بچ کونکی، ساتونکی. حفاظت کونکی. ﴿إضرار﴾ د افعال د باب مصدر دی: ضرر (نقصان) رسول. ﴿تناصر﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو د بل مدد (کومک) کول.

تشریح: مخکي ذکر سوه چې د ذمیانو په خپل مېنځ کي یو د بل د دیت اداء کولو (تحمل) رواج نسته. لېکن که په دوی کي دا رواج او عادت وي او د ذمي لپاره معلومه عاقله موجوده وي کوم چې د دیت بار پر ځانو اخلي. نو په دې صورت کي که له ذمیانو څخه یو کس بل څوک خطاءً قتل کړي. نو د هغه ذمي پر عاقله وو دیت واجیبږي. لکه مسلمان کس که قتل وکړي. نو د هغه پر عاقله وو دیت واجیبږي: ځکه ذمیانو زموږ سره په معاملاتو کي د اسلامي احکامو التزام کړی دی او خصوصاً هغه معاملات کوم چې له ضرر څخه د بچ کولو لپاره وي لکه حد سرقه. حد قذف. قصاص او دیت وغیره.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُمْ عَاقِلَةٌ مَعْرُوفَةٌ او که د ذمیانو لپاره پېژندل سوې [معلومه] عاقله نه وي فَالدِّيَةُ فِي مَالِهِ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ مِنْ يَوْمِ يُقْضَى بِهَا عَلَيْهِ نو دیت د ذمي په خپل مال کي [واجب] دی په دریو کالو کي له هغه ورځي څخه چي پر ذمي د دیت فیصله سوې وي كَمَا فِي حَقِّ الْمُسْلِمِ لکه څرنګه چي د مسلمان په حق کي دي لِمَا بَيَّنَّا أَنَّ الْوُجُوبَ عَلَى الْقَاتِلِ د هغه دلیل په وجه کوم چي مو ږ بیان کړی چي [د دیت] وجوب پر قاتل دی وَإِنَّمَا يَتَحَوَّلُ عَنْهُ إِلَى الْعَاقِلَةِ أَنْ لَوْ وُجِدَتْ او له قاتل څخه بیا دا وجوب د عاقله وو طرف ته منتقل کیږي که چیري عاقله موجوده وي فَإِذَا لَمْ تُوجَدْ لیکن کله چي عاقله موجوده نه وي بَقِيَتْ عَلَيْهِ فِي مَالِهِ نو دیت پر قاتل باقي پاتیږي د هغه په خپل مال کي بِمَنْزِلَةِ تَاجِرَيْنِ مُسْلِمَيْنِ فِي دَارِ الْحَرْبِ قَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ لکه دوه مسلمان تاجران کوم چي په دار الحرب کي له دوی څخه یو خپل ملګری [مسلمان تاجر] قتل کړي يُقْضَى بِالدِّيَةِ عَلَيْهِ فِي مَالِهِ نو د دیت فیصله پر قاتل د هغه په خپل مال کي کول کیږي لِأَنَّ أَهْلَ دَارِ الْإِسْلَامِ لَا يَعْقِلُونَ عَنْهُ ځکه دارُ الاسلام والا د هغه له طرفه دیت نه اداء کوي وَتَمَكُّنُهُ مِنْ هٰذَا الْقَتْلِ لَيْسَ بِنُصْرَتِهِمْ او د قاتل پر دې قتل قادر کېدل د هغو [دار الاسلام والا] د نصرت په وجه نه دی.

اللغات: ﴿يتحوّل﴾ د تفعل د باب مضارع ده: له یوه حال څخه بل حال ته نقل کېدل (منتقل کېدل). اوښتل. ﴿تمكّن﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: قادر کېدل. قدرت لرل.

تشریح: په تېر عبارت کي ذکر سوه چي که د ذمي لپاره عاقله وي نو د هغه پر عاقله وو دیت واجبیږي. خو که هغه هیڅ عاقله نه لري. نو بیا خپله د قاتل ذمي په مال کي دیت واجبیږي چي هغه به په دریو کي کالو کي په حصه. حصه سره څخني اخیستل کیږي. او درې کاله له هغه وخت څخه شمېرل کیږي کله چي قاضي د دیت واجبېدلو فیصله وکړي: ځکه اصل وجوب پر قاتل وي (یعني اصلا دیت اول پر خودې قاتل واجبیږي) بیا که عاقله موجود وي نو دیت هغوی ته منتقل کیږي او که عاقله موجود نه وي نو دا وجوب پر قاتل باقي پاتیږي. لکه دوه مسلمانان چي د تجارت په غرض دار الحرب ته . لاړ سي. بیا یو مسلمان هغه بل مسلمان قتل کړي. نو د قاتل مسلمان په مال کي دیت واجبیږي. نه د هغه پر عاقله وو. نو همداسي دلته به هم د قاتل ذمي په مال کي دیت واجبیږي.

كافر او مسلمان يو د بل له طرفه ديت نه سي اداء كولای
او كفار يې په خپل مينځ كي اداء كولای سي

وَلَا يَعْقِلُ كَافِرٌ عَنْ مُسْلِمٍ وَلَا مُسْلِمٌ عَنْ كَافِرٍ او ديت به نه اداء كوي يو كافر د مسلمان له طرفه او نه يو مسلمان د كافر له طرفه لِعَدَمِ التَّنَاصُرِ د تناصر د نشتوالي په وجه [چي دوی يو د بل مدد نه كوي] وَالْكُفَّارُ يَتَعَاقَلُوْنَ فِيْمَا بَيْنَهُمْ او كفار په خپل مينځ كي يو د بل ديت اداء كوي وَإِنِ اخْتَلَفَتْ مِلَلُهُمْ كه څه هم د دوی ملتونه سره مختلف وي لِأَنَّ الْكُفْرَ كُلَّهُ مِلَّةٌ وَاحِدَةٌ ځكه ټوله كفر يو ملت دی قَالُوْا: هٰذَا إِذَا لَمْ تَكُنِ الْمُعَادَاةُ فِيْمَا بَيْنَهُمْ ظَاهِرَةً مشايخ رَحِمَهُمُ الله فرمايي: چي دا حكم هغه وخت دی كله چي د كفارو په مينځ كي دښمني ښكاره نه وي أَمَّا إِذَا كَانَتْ ظَاهِرَةً ليكن [د كفارو په مينځ كي] دښمني ښكاره وي كَالْيَهُوْدِ وَالنَّصَارٰى لكه يهود او نصارىٰ يَنْبَغِيْ أَنْ لَا يَتَعَاقَلُوْنَ بَعْضُهُمْ عَنْ بَعْضٍ نو پكار دا ده چي له دوی څخه بعضي د بعضو ديت اداء نه كړي وَهٰكَذَا عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ او همداسي له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوي دی لِانْقِطَاعِ التَّنَاصُرِ د تناصر د منقطع كېدلو په وجه [چي ښكاره دښمني لرونكي كفار يو د بل مدد نه كوي].

اللغات: ﴿تناصر﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: په خپل مينځ كي يو د بل مدد كول. ﴿يتعاقلون﴾ د تفاعل له بابه د جمع مذكر غائب صيغه ده: ديت پر ځان اخيستل، د ديت په اداء كولو كي شركت كول. ﴿مِلَل﴾ جمع د مِلَّةٌ ده: ملت، دين، مذهب. ﴿معاداة﴾ د مفاعلې له بابه اسمِ مصدر دی: دښمني، د يوه دښمن سره د بل دښمن جنګ. ﴿ينبغي﴾ د انفعال د باب مضارع ده: پكار ده. مناسب ده.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د بل چا له طرفه د ديت اداء كولو (يعني د عاقله كېدلو) مدار پر تناصر دی او څرنګه چي د مسلمان او كافر تر مينځ تناصر جاري نه دی، نو ځكه نه به كافر د مسلمان ديت وركوي او نه به مسلمان د يو لعين كافر ديت وركوي. او پاته سوه د كفارو مسئله نو هغوی به په خپل مينځ كي يو د بل ديت اداء كوي په دې شرط چي د دوی په مينځ كي ښكاره دښمني او جنګونه نه وي. كه څه هم د دوی دين او ملت يو له بل څخه جلا وي؛ ځكه كفر د ملتونو د اختلاف باوجود په خپل مينځ كي ملت واحده دی. نو ځكه يو كافر به د بل قاتل كافر ديت اداء كوي.

او كه د هغه كفارو په مينځ كي ښكاره دښمني وي لكه يهود او نصارىٰ چي د هغوی په مينځ كي به هر وخت دښمني او جګړه جاري وه؛ نو ښكاره ده چي په دې صورت كي د كفارو تر مينځ تناصر منقطع

کیږي کوم چي د عاقله کېدلو مدار دی. نو ځکه په دې صورت کي به دوی يو د بل دیت نهٔ اداء کوي.

همدا حکم له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوی دی او مشايخ حضرت هم د دې قائل دي.

د ديت له فيصلې څخه مخکي که د چا اهلِ ديوان بل ښار ته منتقل سي نو څه حکم دی؟

وَلَوْكَانَ الْقَاتِلُ مِنْ أَهْلِ الْكُوْفَةِ او که چيري قاتل له کوفې والا څخه وي وَلَهُ بِهَا عَطَاءٌ او په کوفه کي د هغه لپاره عطيه [مقرره] وي فَحُوِّلَ دِيْوَانُهُ إِلَى الْبَصْرَةِ بيا د هغه ديوان بصرې ته منتقل کړی سي ثُمَّ رُفِعَ إِلَى الْقَاضِي بيا [تر دې وروسته] د قتل مسئله قاضي ته پېش کړل سي فَإِنَّهُ يَقْضِي بِالدِّيَةِ عَلى عَاقِلَتِهِ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ نو قاضي به د ديت فيصله د هغه د بصرې والا پر عاقله وو کوي وَقَالَ زُفَرُ: يَقْضِي عَلى عَاقِلَتِهِ مِنْ أَهْلِ الْكُوْفَةِ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د ديت فيصله به د هغه د کوفې والا پر عاقله وو کوي وَهُوَ رِوَايَةٌ عَنْ أَبِي يُوْسُفَ او همدا له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دی لِأَنَّ الْمُوْجِبَ هُوَ الْجِنَايَةُ ځکه [د ديت] واجبونکی شی هغه جرم دی وَقَدْ تَحَقَّقَ وَعَاقِلَتُهُ أَهْلُ الْكُوْفَةِ او جرم [دلته] په داسي حال کي متحقق سوی دی چي د مجرم عاقله کوفې والا دي وَصَارَ كَمَا إِذَا حُوِّلَ بَعْدَ الْقَضَاءِ او دا داسي سوه لکه د قاضي تر فيصلې وروسته چي ديوان منتقل سوی وي.

اللغات: ﴿حُوِّلَ﴾ د تفعيل د باب ماضي مجهوله ده، حَوَّلَ يُحَوِّلُ تَحْوِيْلًا: اړول، نقلول (منتقل کول). بدلول. ﴿رُفِعَ﴾ د فتح د باب ماضي مجهوله ده، د دې باب څو معناوي دي چي د صلې په بدلون سره يې معنیٰ هم بدليږي: پورته کول، د قاضي په محکمه کي يو مسئله او قضيه پېش کول. رسول. ﴿مُوْجِب﴾ د افعال د باب فاعل دی: واجبونکی، سبب. ﴿تحقق﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: موجودېدل. ثابتېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که چيري قاتل په کوفه کي استوګن وي او د کوفې له اهلِ ديوان څخه وي چي د هغه لپاره د دولت له طرفه عطيه مقرره وي (يا مثلاً هغه په کوفه کي استوګن او د کوفې په يو اداره کي کارکونکی وي). بيا تر اوسه قاضي ته د هغه مسئله پېش کړل سوې نه وي يا په بله وينا قاضي تر اوسه پر هغه د ديت واجبېدلو فيصله کړې نه وي چي د هغه ديوان (يا اداره) له کوفې څخه بصرې ته منتقل کړی سي، تر دې وروسته قاضي ته د هغه مسئله پېش کړل سي، نو په دې صورت کي به

قاضي د هغه پر اهلِ دیوان د دیت فیصله کوي خو سوال دا دی چې دا فیصله به د کوفې پر اهلِ دیوان کوي او که د بصرې پر اهلِ دیوان، نو زموږ مسلک دا دی چې قاضي به د هغه د بصرې پر اهلِ دیوان د دیت فیصله کوي، لیکن امام زفر رَحِمَهُ الله او په یوه روایت کې امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چې قاضي به د کوفې پر اهلِ دیوان د دیت فیصله کوي.

د دې حضراتو دلیل دا دی چې دیت د جرم او جنایت په وجه واجبیږي او دلته چې کله له قاتل شخصه دا جنایت صادر سوی دی. په هغه وخت کې د ده نوم د کوفې په دیوان کې وو، لهذا د همدې کوفې پر اهلِ دیوان به دیت واجبیږي: ځکه که چیرې مخکې قاضي د کوفې پر اهلِ دیوان د دیت فیصله کړې وای او بیا د قاضي تر فیصلې وروسته دېوان بصرې منتقل کړی سوي وای. نو په دې صورت کې بالاتفاق د کوفې پر اهلِ دیوان دیت واجبېدی، لهذا په مذکوره صورت کې هم داسې کېدل پکار دي.

زموږ دلیل

وَلَنَا: أَنَّ الْمَالَ إِنَّمَا يَجِبُ عِنْدَ الْقَضَاءِ او زموږ دلیل دا دی: چې مال د قاضي د فیصلې په وخت کې واجبیږي لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ الْوَاجِبَ هُوَ الْمِثْلُ د هغه دلیل په وجه کوم چې موږ ذکر کړی چې واجب [اصلي] مثل دی وَبِالْقَضَاءِ يَنْتَقِلُ إِلَى الْمَالِ او د قاضي په فیصله سره هغه د مال وطرف ته منتقل کیږي وَكَذَا الْوُجُوبُ عَلَى الْقَاتِلِ او همدارنګه وجوب [اصل] پر قاتل دی وَتَتَحَمَّلُ عَنْهُ عَاقِلَتُهُ او [بیا] د قاتل له طرفه د ده عاقله هغه [وجوبِ دیت] پر ځان اخلي وَإِذَا كَانَ كَذٰلِكَ او کله چې خبره داسې ده يَتَحَمَّلُ عَنْهُ مَنْ يَكُوْنُ عَاقِلَتَهُ عِنْدَ الْقَضَاءِ نو د قاتل له طرفه به همغه کسان دیت پر ځان اخلي کوم چې د قاضي د فیصلې په وخت کې د هغه عاقله وي بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْقَضَاءِ په خلاف د قاضي تر فیصلې وروسته لِأَنَّ الْوَاجِبَ قَدْ تَقَرَّرَ بِالْقَضَاءِ ځکه واجب [دیت] د قاضي په فیصله سره ثابت سوی دی فَلَا يَنْتَقِلُ بَعْدَ ذٰلِكَ لهذا تر دې وروسته به هغه [واجب] نه منتقل کیږي لٰكِنَّ حِصَّةَ الْقَاتِلِ تُؤْخَذُ مِنْ عَطَائِهِ بِالْبَصْرَةِ لیکن د قاتل حصه به د هغه د بصرې والا له عطیې شخه اخیستل کیږي لِأَنَّهَا تُؤْخَذُ مِنَ الْعَطَاءِ ځکه چې دیت له عطیې شخه اخیستل کیږي وَعَطَاؤُهُ بِالْبَصْرَةِ او [اوس] د هغه عطیه په بصره کې [مقرره] ده.

اللغات: ﴿تتحمّل﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: پورته کول، پر ځان اخيستل، زغمل. ﴿تقرّر﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: ثابتېدل، مضبوطېدل.

تشریح: زموږ مسلک مخکې ذکر سو چې په مذکوره مسئله کې د بصرې پر عاقله وو (اهلِ دیوان) باندې دیت واجبيږي او قاضي به پر هغو د دیت فیصله کوي، زموږ د دلیل حاصل دا دی چې په قتلِ خطاء کې چې پر قاتل کوم مال (دیت) واجبيږي، هغه د قاضي د فیصلې په وخت کې واجبيږي. یعني تر څو چې قاضي د قاتل پر عاقله وو د دیت فیصله صادره کړې نه وي، تر هغه وخته پوري دا مال (دیت) نه واجبيږي او بیا دا مال اصل پر قاتل واجبيږي او د قاضي تر فیصلې وروسته د هغه اداء کول پر عاقله وو لازميږي. لهذا په دیت کې اصل رول او کردار د قاضي فیصلې لره وي نو د قاضي د فیصلې په وخت کې که د قاتل عاقله (اهلِ دیوان) د کوفې وي نو پر هغو به دیت واجبيږي او که د بصرې وي نو پر بصرې والا به دیت واجبيږي او څرنګه چې په مذکوره مسئله کې د قاضي تر فیصلې مخکې د قاتل نوم له کوفې څخه منتقل سوی او د بصرې په دیوان (ربجسټر) کې درج سوی دی او اوس د بصرې والا د هغه عاقله ګرځېدلي دي، نو ځکه اوس به همدا د بصرې والا اهلِ دیوان د هغه دیت اداء کوي.

بخلاف ما بعد القضاء إلخ: او پر کومه مسئله چې امام زفر رَحِمَهُ الله وغیره قیاس کړی دی یعني که مخکې قاضي د کوفې پر اهلِ دیوان د دیت فیصله وکړي بیا د هغه تر فیصلې وروسته د قاتل دیوان له کوفې څخه بصرې ته منتقل کړی سي، نو ښکاره ده چې په دې صورت کې مال (دیت) د قاضي په فیصله سره پر کوفې والا واجب سوی دی، لهذا دا وجوب به اوس له دوی څخه نه لیري کول کیږي؛ ځکه دې فعل ته نقل وايي او نقل ناجائز دی ځکه چې په نقل سره د قاضي اوله فیصله ماتیږي. نو ځکه اوس به حتماً همدا کوفې والا اهلِ دیوان د هغه دیت اداء کوي.

لکن حصة القاتل إلخ: خو په مذکوره مسئله کې چې له قاتل څخه په دیت کې کومه حصه اخیستل کیږي، دا به له هغه عطیې څخه اخیستل کیږي کوم چې په بصره کې ور کول کیږي، ځکه دیت له را روانو عطیاتو څخه اخیستل کیږي، او اوس هغه ته په بصره کې عطیه ور کول کیږي. نو ځکه د بصرې له عطیې څخه به د هغه حصه اخیستل کیږي.

د قاضي تر فيصلې وروسته که عاقله دومره کم وي چې د ديت اداء کولو لپاره نا کافي وي نو څه حکم دی؟

بِخِلَافِ مَا إِذَا قَلَّتِ الْعَاقِلَةُ بَعْدَ الْقَضَاءِ عَلَيْهِمْ په خلاف د دغه صورت کله چې پر عاقله وو [د ديت] تر فيصلې وروسته عاقله کم سي حَيْثُ يُضَمُّ إِلَيْهِمْ أَقْرَبُ الْقَبَائِلِ فِي النَّسَبِ نو د دغه عاقله وو سره به ضمول کيږي [يوځای کيږي] تر ټولو نژدې قبيله په نسب کي لِأَنَّ فِي النَّقْلِ إِبْطَالَ حُكْمِ الْأَوَّلِ ځکه په نقل کي د اول حکم [فيصلې] باطلول سته فَلَا يَجُوزُ بِحَالٍ نو ځکه دغه په هيڅ حال کي جائز نه دی وَفِي الضَّمِّ تَكْثِيرُ الْمُتَحَمِّلِينَ لِمَا قُضِيَ بِهِ عَلَيْهِمْ او په ضمولو کي د بار اخيستونکو[ديت اداء کونکو] ډېرول سته د دغه شي په هکله چې پر دوی د دغه فيصله سوې ده [يعني ديت] فَكَانَ فِيهِ تَقْرِيرُ الْحُكْمِ الْأَوَّلِ لَا إِبْطَالُهُ نو په دې [ضم] کي د اول حکم ثابتول سته، نه د دغه باطلول وَعَلَى هَذَا لَوْ كَانَ الْقَاتِلُ مَسْكَنُهُ بِالْكُوفَةِ وَلَيْسَ لَهُ عَطَاءٌ او پر همدغه اصل [دا مسئله متفرع ده چې] که د قاتل استوګنځی په کوفه کي وي او د دغه لپاره عطيه [مقرره] نه وي فَلَمْ يُقْضَ عَلَيْهِ حَتَّى اسْتَوْطَنَ الْبَصْرَةَ بيا پر دغه [تر اوسه] د ديت فيصله نه وي سوې چې دغه بصره خپل وطن وګرځوي قُضِيَ بِالدِّيَةِ عَلَى أَهْلِ الْبَصْرَةِ نو د ديت فيصله به پر بصرې والا کول کيږي وَلَوْ كَانَ قُضِيَ بِهَا عَلَى أَهْلِ الْكُوفَةِ او که د ديت فيصله پر کوفې والا سوې وي لَمْ يَنْتَقِلْ عَنْهُمْ نو [د ديت وجوب] له دغو څخه [بصرې والا] نه منتقل کيږي.

اللغات: ﴿يُضم﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: يو څه د بل څه سره يو ځای کول، ضمول.

﴿متحملين﴾ د تفعل له بابه د جمع فاعل صيغۀ ده: پورته کونکي، پر ځان اخيستونکي.

﴿استوطن﴾ د استفعال د باب ماضي ده: (يوځای) خپل وطن ګرځول، وطن جوړول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله قاضي پر عاقله وو د ديت فيصله وکړي، تر دې وروسته د عاقله وو شمېر کم سي. نو په دې صورت کي به د هغو سره د قاتل نژدې قريبان يوځای کول کيږي کوم چې په نسب کي تر ټولو ورته نژدې وي. او اوس دا فعل نقل نه دی (لکه په مخکيني صورت کي چې د قاضي تر فيصلې وروسته له کوفې والا څخه د ديت وجوب ليري کول نقل دی). بلکي دا فعل ضم دی او نقل که ناجائز دی لېکن ضم جائز دی، ځکه په نقل سره اول حکم او فيصله باطليږي نو ځکه بالکل جائز نه

دی. حال دا چې په ضمّ سره اول حکم نور ثابتیږي، ځکه په ضم سره د دیت اداء کونکو شمېر نور زیاتیږي. نو ځکه ضمّ جائز او صحیح دی.

وعلیٰ هٰذا إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله مذکوره خبره د یو مثال په ذریعه واضحه کوي فرمایي چې مثلاً که یو څوک خطاءً قتل کونکی وي او هغه د کوفې اوسېدونکی وي لېکن په کوفه کې د هغه لپاره عطیه مقرره نه وي (یعني له اهلِ دیوان څخه نه وي) او قاضي تر اوسه د هغه د قتل په هکله پر هغه هیڅ فیصله نه وي کړې چې هغه بصرې ته منتقل سي او بصره خپل وطن وګرځوي، نو اوس به د هغه دیت بصرې والا اداء کوي؛ ځکه اوس هم‌دا بصرې والا د هغه عاقله دي. ها! که چیرې مخکې قاضي پر کوفې والا د دیت فیصلې کړې وي او تر دې وروسته هغه بصره خپل وطن وګرځوي، نو بیا به کوفې والا د هغه دیت اداء کوي، نه بصرې والا؛ ځکه اوس که بصرې والا د هغه عاقله وګرځول سي او په دیت اداء کولو مکلف کړل سي نو نقل لازمیږي (یا په بله وینا دا چې اول حکم او فیصله باطلیږي) او نقل جائز نه دی.

که د صحرا اوسېدونکی (اطرافي) قاتل د قاضي تر فیصلې مخکې په اهل دیوان کې درج سي نو څه حکم دی؟

وَكَذَا الْبَدْوِيُّ إِذَا أُلْحِقَ بِالدِّيْوَانِ بَعْدَ الْقَتْلِ قَبْلَ الْقَضَاءِ او همدارنګه صحرا والا [اطرافي کس] کله چې هغه تر قتل وروسته د قاضي تر فیصلې مخکې د دیوان سره ملحق کړی سي يُقْضٰى بِالدِّيَةِ عَلٰى أَهْلِ الدِّيْوَانِ نو د دیت فیصله به پر دیوان والا کیږي وَبَعْدَ الْقَضَاءِ عَلٰى عَاقِلَتِهِ بِالْبَادِيَةِ لَا يَتَحَوَّلُ عَنْهُمْ او د هغه د صحرا پر عاقله وو تر فیصلې کولو وروسته [د دیت وجوب] له هغو [صحرا والا] څخه منتقل کیږي.

اللغات: ﴿بدوي﴾ د صحرا اوسېدونکی، سارایي، اطرافي. ﴿أُلحِق﴾ د افعال له بابه ماضي مجهول ده: لاحقول، ور سره یو ځای کول، شاملول.

تشریح: دا مسئله هم د مخکنی مسئلو په څېر ده. حاصل یې دا دی چې که یو بدوي کس (کوم چې په صحرا یعني د ښار په اطرافو کې استوګن وي) خطاءً یو څوک قتل کړي او بیا د قاضي له طرفه پر هغه د دیت له فیصلې څخه مخکې هغه له اهلِ دیوان څخه وګرځول سي یا په بله وینا د هغه نوم د ښار د عسکرو او دولتي عُمالو (یا دیو اداري) په دیوان (ربجستر) کې درج کړی سي، نو په دې صورت کې همدا اهلِ دیوان د هغه عاقله کیږي او پر همدوی به د دیت فیصله کول کیږي. لېکن که د قاضي تر

فیصلې وروسته د هغه نوم په دیوان (یا اداره) کې درج کړی سي. نو بیا اهلِ بادیه (صحرا والا) د هغه عاقله کیږي، نه اهلِ دیوان؛ ځکه د قاضي د فیصلې (قضاء) په وخت کې قاتل بدوي دی چې د هغه عاقله اهلِ بادیه دي. لهذا اوس که اهلِ دیوان د هغه عاقله وګرځول سي نو نقل لازمیږي او نقل جائز نه دی (لکه مخکې چې هم ذکر سوه).

که عاقله د قاضي تر فیصلې وروسته اهلِ عطاء وګرځي (حکم او تفصیل)

وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا او دا د هغه صورت په خلاف دی إِذَا كَانَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ قُضِيَ بِالدِّيَةِ عَلَيْهِمْ فِي أَمْوَالِهِمْ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ کله چې یو قوم له صحرا والا [اطرافو] څخه وي چې د هغوی په مالونو کي په دریو کالو کي د دیت فیصله سوې وي ثُمَّ جَعَلَهُمُ الْإِمَامُ فِي الْعَطَاءِ بیا امام هغوی په عطیه [اهلِ عطیه] کي شامل کړي حَيْثُ تَصِيرُ الدِّيَةُ فِي عَطِيَّاتِهِمْ نو دیت د هغو په عطیاتو کي [واجب] ګرځي وَإِنْ كَانَ قُضِيَ بِهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ فِي أَمْوَالِهِمْ که څه هم اول وار د دوی په مالونو کي د دیت فیصله سوې وي لِأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ نَقْضُ الْقَضَاءِ الْأَوَّلِ ځکه په دې کي د اولي فیصلې ماتول نسته لِأَنَّهُ قُضِيَ بِهَا فِي أَمْوَالِهِمْ ځکه د دیت فیصله د دوی په مالونو کي سوې وه وَعَطِيَّاتُهُمْ أَمْوَالُهُمْ او د دوی عطیات خو هم د دوی مالونه دي غَيْرَ أَنَّ الدِّيَةَ تُقْضَى مِنْ أَيْسَرِ الْأَمْوَالِ أَدَاءً خو دیت له هغه مالونو څخه اداء کول کیږي چې له هغوی څخه [دیت] اداء کول ډېر آسانه وي وَالْأَدَاءُ مِنَ الْعَطَاءِ أَيْسَرُ إِذَا صَارُوا مِنْ أَهْلِ الْعَطَاءِ او له عطاء [عطیې] څخه اداء کول ډېر آسانه دي کله چې دوی اهلِ عطاء ګرځېدلي دي إِلَّا إِذَا لَمْ يَكُنْ مَالُ الْعَطَاءِ مِنْ جِنْسِ مَا قُضِيَ بِهِ عَلَيْهِ مګر کله چې د عطاء مال د هغه شه له جنس څخه نه وي چې پر اهلِ عطاء د هغه فیصله سوې وي بِأَنْ كَانَ الْقَضَاءُ بِالْإِبِلِ وَالْعَطَاءُ دَرَاهِمَ په دې توګه چې [د دیت] فیصله په اوښانو سره سوې وي او عطاء دراهم وي فَحِينَئِذٍ لَا تَتَحَوَّلُ إِلَى الدَّرَاهِمِ أَبَدًا نو په دې وخت کي دیت هیڅکله هم د درهمو وطرف ته نه منتقل کیږي لِمَا فِيهِ مِنْ إِبْطَالِ الْقَضَاءِ

الْأَوَّلِ ځکه په دې کې د اولي فیصلې باطلول سته لٰكِنْ يُقْضٰى ذٰلِكَ مِنْ مَالِ الْعَطَاءِ لېکن هغه [اوښان] به د عطاء له مال څخه اداء کول کیږي [په دې توګه چې اوښان به د عطاء په مال سره رانیول کیږي] لِأَنَّهُ أَيْسَرُ ځکه چې دا [د عطاءله مال څخه اداء کول] ډېر آسانه دي.

اللغات: ﴿بادية﴾ صحرا، بېديا، ﴿قُضِيَ﴾ د ضرب له بابه ماضي مجهوله ده: فیصله کول، قضاوت کول. ﴿نقض﴾ د نصر د باب مصدر دی: ماتول، ختمول. ﴿لا تتحوّل﴾ د تفعّل له بابه د نفي صیغه ده: اوښتل، منتقل کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که په صحرا (اطرافي علاقه) کې یو خاندان استوګن وو او له هغو څخه یو کس خطاءً قتل وکړی نو قاضي د هغه پر عاقله وو یعني پر خاندان والا د هغو په مالونو کې دیت واجب کړی کوم چې په دریو کلونو کې اداء کیږي یعني هر کال به د دیت یو ثلث اداء کوي. خو تر دغه فیصلې وروسته داسې پېښ سول چې امام او د ښار واکمن دغه خاندان ټوله په اهل عطاء کې داخل کړی یعني د هغو لپاره مېږ د کاله عطیات مقرر کړل. نو قاضي چې مخکې د دیت واجبېدلو کومه فیصله د دوی په مالونو کې کړې وه، اوس دا دیت د دوی په عطیاتو کې واجبیږي، نه په مالونو کې. او اوس به دوی له همدې عطیاتو څخه په دریو کالو کې دیت اداء کوي. او دلته که څه هم په ښکاره داسې معلومیږي چې دا د اول حکم او فیصلې ماتول او باطلول دي، خو داسې نه ده؛ ځکه چې قاضي د دیت فیصله د دوی په مالونو کې کړې وه او عطیات خو هم د دوی مالونه دي. او مخکې دا اُصول تېر سو چې دیت په هغه مال کې واجبول کیږي چې د عاقله وو لپاره له هغه څخه دیت اداء کول ډېر آسانه وي او ښکاره ده چې له عطیاتو څخه دیت اداء کول له اصل مال څخه د دیت اداء کولو په نسبت ډېر آسانه دي (لکه مخکې چې ذکر سوه). او څرنګه چې اوس دا خاندان له اهلِ عطاء څخه ګرځېدلي دی. نو ځکه د مذکوره اُصول خیال به ساتل کیږي.

ها! که چېرې قاضي د دیت فیصله د دوی په اوښانو سره کړې وي چې تاسې به سل اوښان اداء کوئ! او اوس دوی ته په عطیاتو کې دراهم و کول کیږي. نو اوس دا نه سي کېدلای چې قاضي خپله فیصله بدله کړي او د سلو اوښانو پر ځای د لسو زرو درهمو فیصله وکړي؛ ځکه په دې کې د اولي فیصلې ابطال لازمیږي یعني د قاضي مخکنۍ فیصله باطلیږي او دا نا جائز دي. نو ځکه اوس به پر هغو په همدې اوښانو سره دیت لازم وي چې دلته د هغه غوره او آسانه صورت دا دی چې هغوی دې په مال عطاء یعني په دراهمو سره اوښان رانیسي او دیت دې اداء کړي.

د آزاد کړی سوي غلام عاقله د هغه د مالک قبیله ده

قَالَ: وَعَاقِلَةُ الْمُعْتَقِ قَبِيلَةُ مَوْلَاهُ فرمايي: او د آزاد کړی سوي غلام عاقله د هغه د مالک قبيله ده لِأَنَّ النُّصْرَةَ بِهِمْ ځکه [د هغه] نصرت په همدوی سره دی يُؤَيِّدُ ذٰلِكَ قَوْلُهُ اَلتَّلِيَّالَا: «مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْهُمْ» او د دې تائيد کوي د نبي ﷺ دا فرمان: چي د قوم آزاد کړی سوي غلام له هغه قوم ځخه دی.

اللغات: ﴿معتَق﴾ دافعال د باب مفعول دی: آزاد کړی سوی غلام. ﴿نصرة﴾ مدد (کومک). تقويه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که مالک يو غلام آزاد کړی وي، نو د همدې مالک قبيلې والا د هغه غلام عاقله کيږي؛ ځکه مالک او د هغه غلام دواړو ته د همدې مالک له قبيلې ځخه نصرت او تقويه حاصليږي، او د نبي کريم ﷺ دا فرمان مبارک هم د دې تائيد کوي چي "مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْهُم" يعني د قوم آزاد کړی سوي غلام له هغه قوم ځخه شمېرل کيږي، دا حديث د دې خبري ځرګند دليل دی چي د آزاد کړی سوي غلام عاقله د مالک خاندان والا دي.

د مولى الموالاة قبيله د هغه د مولیٰ قبيله ده

قَالَ: وَمَوْلَى الْمُوَالَاةِ يَعْقِلُ عَنْهُ مَوْلَاهُ وَقَبِيلَتُهُ فرمايي: او د مولى المولاة له طرفه به د هغه مولیٰ او د مولیٰ قبيله ديت اداء کوي لِأَنَّهُ وَلَاءٌ يُتَنَاصَرُ بِهِ ځکه دا داسي ولاء [او خپلوي] ده چي د هغه په وجه يو د بل مدد کيږي فَأَشْبَهَ وَلَاءَ الْعَتَاقَةِ نو دا د ولاء عتاقه سره مشابه سوه وَفِيْهِ خِلَافُ الشَّافِعِيِّ او په دې کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی وَقَدْ مَرَّ فِيْ كِتَابِ الْوَلَاءِ او هغه په کتاب الولاء کي تېر سوی دی.

اللغات: ﴿موالاة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، وَالٰی يُوَالِيْ مُوَالَاةً: دوستي او ملګري کول. نصرت او مدد کول. د ولاء تعلق قائمول، يعني چي يو سړی د بل چا سره دا تړون وکړي چي ما او تا يو د بل دوستان او قريبان وي که زه مړ سوم نو زما ميراث ستا دی او که زه يو جنايت وکړم نو د هغه ديت به ته اداء کوې!. دې ته "عقد موالاة" وايي او د دې عقد کونکي ته "مولى الموالاة" وايي. ﴿مولیٰ﴾ د دې لفظ ځو معناوي دي. دلته مراد: موالاة کونکی کس دی. ﴿وَلاء﴾ د دې لفظ ځو معناوي دي چي له هغوی

شخصه ځیني دا دي: دوستي او نژدېکت، د دوو کسانو تر مینځ د نسبي قرابت په څېر خپلوي، حکمي قرابت. ﴿العتاقة﴾ آزادول، آزاد والي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که د دوو خلکو تر مینځ د موالات تړون سوی وي (یعني یو کس بل کس ته ویلي وي چي ما او تا یو د بل دوستان او ولیان وي که زه مړ سوم نو زما میراث ستا دی او که زه یو جنایت وکړم نو د هغه دیت به ته اداء کوې!. بې ته عقد موالاة وایي او دا زموږ په نېز جائز دی)، نو اوس که له دوی واړو څخه یو کس خطاءً یو څوک قتل کړي، نو دا بل کس او د ده خاندن والا به د هغه دیت اداء کوي؛ ځکه څرنګه چي ولاء عتاقه (دآزادولو ولاء او دوستي) د تناصر ذریعه ده چي د هغه په خاطر آزادونکی مالک او آزاد کړی سوي غلام یو د بل نصرت کوي. همداسي ولاء موالاة هم د تناصر ذریعه ده او عربو به په عقد موالاة کي همداسي معامله کوله، نو ځکه عقد موالاة کونکی کس به د خپل جنایتکاره ملګري له طرفه دیت اداء کوي.

او په دې مسئله کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله اختلاف دی؛ ځکه د هغه په نېز عقد موالاة باطل دی او د دې تفصیل د هدايې په دریېم جلد "کتاب الولاء" کي تېر سوی دی.

د خومره دیت د لازمېدلو په صورت کي عاقله ذمه وار ګرځي

قَالَ: وَلَا تَعْقِلُ الْعَاقِلَةُ أَقَلَّ مِنْ نِصْفِ عُشْرِ الدِّيَةِ فرمایي: او عاقله به د دیت د لسمي حصې د نصف [شلمي حصې] څخه د کم مقدار دیت نه اداء کوي وَتَتَحَمَّلُ نِصْفَ الْعُشْرِ فَصَاعِدًا او د لسمي حصې د نصف مقدار یا [تر هغه] د زیات مقدار دیت تحمل به کوي [اداء کوي] وَالْأَصْلُ فِيهِ حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا مَوْقُوفًا عَلَيْهِ وَمَرْفُوعًا إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ او اصل په دې باره کي د ابن عباس (رض) دا حدیث دی کوم چي پر هغه موقوف دی او تر نبي کریم ﷺ پوري مرفوع دی «لَا تَعْقِلُ الْعَوَاقِلُ عَمْدًا وَلَا عَبْدًا چي عاقلې به دیت نه اداء کوي د عمد او نه د غلام وَلَا صُلْحًا وَلَا اعْتِرَافًا او نه به [دیت اداء کوي] د صلح او نه د اعتراف [اقرار جنایت] وَلَا مَا دُونَ أَرْشِ الْمُوضِحَةِ» او نه به [دیت اداء کوي] د موضحه زخم له ارش څخه د کم مقدار وَأَرْشُ الْمُوضِحَةِ نِصْفُ عُشْرِ بَدَلِ النَّفْسِ او د موضحه زخم ارش [جرمانه] د نفس د بدل نصف عشر [شلمه حصه] ده وَلِأَنَّ التَّحَمُّلَ لِلتَّحَرُّزِ عَنِ الْإِجْحَافِ او ځکه چي د عاقلې تحمل [دیت اداء کول] له سخت تاواني کولو څخه [د قاتل] د بچ کېدلو لپاره دي [چي قاتل له سخت تاوان او تکلیف ما لا یطاق څخه بچ سي] وَلَا إِجْحَافَ فِي الْقَلِيلِ او په لږ مقدار کي سخت

تاواني کول [او تکليف مالا يطاق] نسته ﴿وَإِنَّمَا هُوَ فِي الْكَثِيرِ﴾ او هغه خو په زيات مقدار کې دی ﴿وَالتَّقْدِيرُ الْفَاصِلُ عُرِفَ بِالسَّمْعِ﴾ او [د قليل او کثير تر مينځ] د حدّ فاصل اندازه په سماع [نص] سره معلومه سوې ده.

اللغات: ﴿فصاعدًا﴾ او تر دې زيات. ﴿أرش﴾ تاوان، جرمانه، د ما دون النفس جنايت په بدله کې واجبېدونکې ديت. ﴿موضحة﴾ ژور زخم کوم چې هډوکی ښکاره کړي. ﴿إجحاف﴾ د افعال د باب مصدر دی: په تاوان ور رسولو کې سختي کول، په داسې څه سره مکلف کول کوم چې د انسان په وس کې نه وي. ﴿تقدير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: اندازه کول، مقدار ټاکل. ﴿سمع﴾ مراد: نص، نقلي دليل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې عاقله به هغه جرمانه او هغه ديت نه اداء کوي کوم چې د نفس د ديت له شلمې حصې (نصف عُشر) څخه کم وي بلکې داسې جرمانه او ديت به مجرم او قاتل خپله اداء کوي، ها! که جرمانه او ديت د نفس د ديت شلمه حصه وي يا تر هغه زيات وي نو هغه به عاقله اداء کوي: ځکه دومره مقدار کثير شمېرل کيږي؛ په دې هکله نقلي دليل هغه حديث دی کوم چې په کتاب کې مذکور دی او په هغه کې پنځه احکام ذکر سوي دي (او له هغوی څخه آخري حکم زموږ دليل دی): ① يو حکم دا چې عاقله د قتلِ عمد ذمه واره نه دي، بلکې صرف د قتلِ خطاء ديت به اداء کوي (لکه مخکې چې تېر سوه). ② عاقله د قاتل غلام د ديت ذمه واره نه دي، يعنې که د يو چا غلام يو څوک خطاءً قتل کړي نو د هغه ديت د مالک پر خاندان والا نه واجبيږي، بلکې خپله دا قاتل غلام به د مقتول ولي ته ورکول کيږي. ③ عاقله د صلح عن العمد ذمه واره نه دي، يعنې که قاتل يو څوک عمداً قتل کړی وي او بيا قاتل د مقتول د ولي سره پر مال صلح وکړي، نو هغه مال پر عاقله وو نه واجبيږي، بلکې خپله د قاتل په مال کې واجبيږي. ④ عاقله د قاتل د اقرار ذمه واره نه دي، يعنې که قاتل خپله د قتل اقرار کړی وي او عاقله د هغه تکذيب وکړي، نو پر عاقله وو د هغه ديت نه واجبيږي. ⑤ عاقله د دومره مقدار ديت او جرمانې ذمه واره نه دي کوم چې د موضحه زخم له جرمانې څخه کمه وي، بلکې هغه د قاتل په مال کې واجبيږي، او د موضحه زخم جرمانه د نفس د ديت نصف عشر (دلسمې نيمايي) يعنې د ديت شلمه حصه کيږي. نو له دې څخه معلومه سوه چې تر دې کم مقدار عاقله نه اداء کوي.

په دې هکله عقلي دليل دا دی چې عاقله د قاتل ديت ځکه اداء کوي چې قاتل له سخت تاواني کېدلو څخه بچ سي او قاتل هغه وخت سخت تاواني کيږي کله چې د ديت مقدار زيات وي او که د

دیت مقدار قلیل وي نو دا ستونزه نه پېښیږي، نو ځکه هغه به قاتل اداء کوي. او د قلیل او کثیر مقدار نص دا ښوولی دی چې کوم مقدار د موضحه زخم له جرمانې (نصف عشر) څخه کم وي نو هغه قلیل دی او که تر دې زیات وي نو کثیر دی.

له نصفِ عشر څخه کم مقدار والا دیت او جرمانه به ولې د مجرم په مال کې واجبیږي؟

قَالَ: وَمَا نَقَصَ مِنْ ذٰلِكَ فرمايي: او کوم مقدار چې له هغه [نصف عشر الدية] څخه کم وي يَكُوْنُ فِيْ مَالِ الْجَانِيْ نو هغه به د مجرم په مال کې [واجب] وي وَالْقِيَاسُ فِيْهِ التَّسْوِيَةُ بَيْنَ الْقَلِيْلِ وَالْكَثِيْرِ او قیاس په دې کې دلږ او زیات مقدار تر منځ برابري ده فَيَجِبُ الْكُلُّ عَلَى الْعَاقِلَةِ نو ځکه ټوله دیت به پر عاقله وو واجب وي كَمَا ذَهَبَ إِلَيْهِ الشَّافِعِيُّ لکه څرنګه چې امام شافعي رَحِمَهُ الله همدې طرف ته تللی دی أَوِ التَّسْوِيَةُ فِيْ أَنْ لَا يَجِبَ عَلَى الْعَاقِلَةِ شَيْءٌ یا برابري په دې کې چې پر عاقله وو هیڅ شی واجب نه سي إِلَّا أَنَّا تَرَكْنَاهُ بِمَا رَوَيْنَا خو موږ. هغه [قیاس] پرېښوی د هغه حدیث په وجه کوم چې موږ [څه مخکې] روایت کړی. وَبِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَوْجَبَ أَرْشَ الْجَنِيْنِ عَلَى الْعَاقِلَةِ او د دې حدیث په وجه کوم چې روایت سوی دی چې نبي کریم ﷺ پر عاقله وو د جنین ارش [جرمانه] واجب کړه وَهُوَ نِصْفُ عُشْرِ بَدَلِ الرَّجُلِ او هغه [د جنین ارش] د سړي د دیت نصف عشر [شلمه حصه] ده عَلَى مَا مَرَّ فِي الدِّيَاتِ لکه څرنګه چې دا په کتابُ الدیات کې تېر سوه فَمَا دُوْنَهُ لهذا کوم مقدار چې له [نصف عشر الدية] څخه کم وي يُسْلَكُ بِهِ مَسْلَكُ الْأَمْوَالِ هغه به د اموالو په درجه کې داخلول کیږي [یا په بله وینا د مال په څېر سلوک به ورسره کیږي] لِأَنَّهُ يَجِبُ بِالتَّحْكِيْمِ ځکه چې هغه [تر نصف عشر کم] د حکَم [دربیمګري] په فیصله سره واجبیږي كَمَا يَجِبُ ضَمَانُ الْمَالِ بِالتَّقْوِيْمِ لکه څرنګه چې د مال ضمان [د هغه] په قیمت ټاکلو [قیمت معلومولو] سره واجبیږي فَلِهٰذَا كَانَ فِيْ مَالِ الْجَانِيْ أَخْذًا بِالْقِيَاسِ نو ځکه په قیاس باندې په عمل کولو سره به هغه [تر نصف عشر کم] د مجرم په مال کې [واجب] وي.

اللغات: ﴿جاني﴾ د ضرب د باب فاعل دی: جنایتکاره، مجرم، ګنهکاره. ﴿نقص﴾ د نصر د باب ماضي ده: کمېدل. ﴿أرش﴾ تاوان، جرمانه. ﴿جنين﴾ د مور په نس کې موجود بچی. ﴿يسلك﴾ د

نصر له باب څخه مضارع مجهوله ده. د دې باب څو معناوي دي: داخلېدل. داخلول (لازمي او متعدي).
تګ کول (د لارې په اتباع کولو سره تلل). ﴿مسلك﴾ تګ لاره. لاره. جمع: مسالك. ﴿تحكيم﴾ د
تفعيل د باب مصدر دی: حَكَّمَ يُحَكِّمُ تَحْكِيْمًا: حَكَم جوړول. يعني د فيصله کولو لپاره يو عادل
کس (درمګړی) ټاکل. په لانجمنه مسئله کې څوک خپل حَکَم (فیصله کونکی) جوړول.
﴿تقويم﴾ دا هم د تفعيل د باب مصدر دی: قيمت ټاکل. ربټ لګول. د يو شي اندازه بيانول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې له نصف عشر څخه کم مقدار والا دیت او جرمانه د مجرم په
مال کې واجبېږي او هغه به عاقله نه اداء کوي: ځکه دلته دوه قياسه دي او هغه دواړه يو د بل متعارض
دي: ① يو قياس دا دی چې د مجرم ټوله ديت د هغه پر عاقله وو واجب سي، برابره ده هغه کثير وي
او که قليل وي. لکه څرنګه چې همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک دی. ② دويم قياس دا دی چې
بر عاقله وو بالکل ديت واجب نه سي بلکې پر مجرم واجب سي: ځکه عاقله خپله مجرمان نه دي.
څرنګه چې دا دواړه قياسونه يو د بل متعارض دی. نو ځکه موږ هغوی پرېښوول او په نصوصو مو
عمل وکړی چې له هغوی څخه اول نصّ هغه حديث دی کوم چې په مخکنۍ مسئله کې بيان سو
چې د هغه په آخر کې ذکر سوي دي "وَلَا مَا دُوْنَ أَرْشِ الْمُوْضِحَةِ" او دويم نصّ دا دی چې نبي
کريم ﷺ د جنين ارش په عاقله وو باندې واجب کړی چې هغه د سړي د ديت نصف عشر (شلمه
حصه) کيږي، لهذا له دې څخه هم دا خبره ښکاره سوه چې نصف عشر يا تر هغه زائد مقدار د مجرم او
قاتل په عاقله وو باندې واجبيږي، او کوم مقدار چې له نصف عشر څخه کم وي هغه د قاتل په مال
کې واجبيږي، نو له نصف عشر څخه کم مقدار ته به د اموالو درجه ورکول کيږي ځکه څرنګه چې د
مال (ماليت لرونکي شي) ضمان په تقويم سره واجبيږي، همداسې له نصف عشر څخه کم مقدار په
تحکيم سره واجبيږي. نو ځکه هغه به د مجرم په مال کې واجبول کيږي.

عاقله به په کومو صورتونو کې ديت نه اداء کوي؟

قَالَ: وَلَا تَعْقِلُ الْعَاقِلَةُ جِنَايَةَ الْعَبْدِ فرمايي: او عاقله به د غلام د جنايت ديت نه اداء کوي وَلَا مَا لَزِمَ
بِالصُّلْحِ أَوْ بِاعْتِرَافِ الْجَانِيْ او نه به د هغه مال [ديت اداء کوي] کوم چې په صلح يا د مجرم په اعتراف
سره لازم سي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حديث په وجه کوم چې موږ روايت کړی وَلِأَنَّهُ لَا تَنَاصُرَ بِالْعَبْدِ او
ځکه چې د غلام په ذريعه تناصر نه کيږي وَالْإِقْرَارُ وَالصُّلْحُ لَا يَلْزَمَانِ الْعَاقِلَةَ او [د مجرم] اقرار او
صلح پر عاقله وو نه لازميږي لِقُصُوْرِ الْوِلَايَةِ عَنْهُمْ له دوی څخه د ولايت د قاصر کېدلو په وجه

[يعني پر بل چا د دوی ولايت ناقص دی] قَالَ: إِلَّا أَنْ يُصَدِّقُوْهُ فرمايي: مګر دا چې عاقله د هغه [مجرم] تصديق وکړي لِأَنَّهُ ثَبَتَ بِتَصَادُقِهِمْ ځکه [په دې صورت کې د مال] وجوب د دوی په خپل تصديق سره ثابت سوی دی وَالِامْتِنَاعُ كَانَ لِحَقِّهِمْ او د وجوب ممتنع کېدل د دوی د په حق په وجه وه وَلَهُمْ وِلَايَةٌ عَلَى أَنْفُسِهِمْ او دوی ته پر خپلو ځانو [پوره] ولايت سته.

اللغات: ﴿جناية﴾ جرم، ګناه. ﴿تناصر﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو د بل مدد کول. ﴿تصادق﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: يو د بل تصديق کول، پر يو خبره د دوو يا ډېرو کسانو اتفاق کول.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل واضح او آسانه دی چې عاقله به نه د مالک د غلام ديت اداء کوي، نه د صلح عن القتل او نه د جرم او قتل د اقرار (چې صورتونه يې مخکې ذکر سول)؛ ځکه په تېر متن کې چې کوم حديث ذکر سوی دی په هغه کې په واضحه توګه دا ذکر سوي دي چې عاقله به له دې دريو أمورو څخه د هيڅ يو امر ديت نه اداء کوي.

عقلي دليل دا دی چې د ديت مدار پر تناصر دی، او غلام خو خپله محتاج او بې واکه وي نو هغه به څنګه د بل چا نصرت او مدد وکړي، او د اقرار او صلح تعلق د انسان د خپل ذات سره وي او دا دواړه پر عاقله وو هيڅ شی نه سي واجبولای؛ ځکه پر بل چا د دوی ولايت ناقص دی او نا قص ولايت د إلزام مانع دی. ها! که چيري عاقله خپله د دې اقرار او صلح تصديق وکړي، نو په دې صورت کې د اقرار او صلح مال اداء کول پر دوی واجبيږي؛ ځکه د دوی په حق کې د اقرار صلح نه واجبېدل د دوی د حق په وجه وه، خو دوی په خپل تصديق کولو سره دا ممانعت ختم کړی او دوی ته پر خپل ځانو پوره ولايت حاصل دی، نو ځکه اوس به دا مال پر دوی لازم وي.

د قتل خطاء ديت په کوم صورت کې په عاقله وو باندي وي او په کوم صورت کې په قاتل باندي وي؟

وَمَنْ أَقَرَّ بِقَتْلٍ خَطَأً او څوک چې د قتل خطاء اقرار وکړي وَلَمْ يَرْفَعُوْا إِلَى الْقَاضِيْ إِلَّا بَعْدَ سِنِيْنَ او خلک دا د قتل مسئله قاضي ته پېش نه کړي مګر څو کاله وروسته قُضِيَ عَلَيْهِ بِالدِّيَةِ فِيْ مَالِهِ فِيْ ثَلَاثِ سِنِيْنَ مِنْ يَوْمِ يُقْضٰى نو پر قاتل به په خپل مال کې [د ديت اداء کولو] فيصله کول کيږي په دريو کالو کې له هغه ورځې څخه په کومه ورځ چې فيصله وسي لِأَنَّ التَّأْجِيْلَ مِنْ وَقْتِ الْقَضَاءِ فِي الثَّابِتِ بِالْبَيِّنَةِ ځکه [د دريو کالو] نېټه ورکول د فيصلې له وخت څخه وي په هغه قتل کې کوم چې په بېنه سره ثابت وي فَفِي الثَّابِتِ بِالْإِقْرَارِ أَوْلٰى نو کوم قتل چې په اقرار سره ثابت وي په هغه

کي به په درجه اولیٰ [د دریو کالو تأجیل] وي [لأن الثابت بالبينة أقوىٰ من الثابت بالإقرار، لأن الثابت بها كالثابت معاينةً].

اللغات: ﴿لم یرفعوا﴾ د فتح له باب څخه د جمع مذکر غائب جحد صیغه ده: د دې باب څو معناوي دي چې د صلې په بدلون سره یې معنیٰ هم بدلیږي: پورته کول، د قاضي په محکمه کې یو مسئله او قضیه پیشول، رسول. ﴿تأجیل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مؤجل کول (نیته باره کول)، وخت او نېټه ورکول، مهلت ورکول.

تشریح: **صورت د مسئلې:** دا دی که یو څوک د قتلِ خطاء اقرار وکړي او بیا د هغه قضیه څو کاله وروسته د قاضي دربار ته پېش کړل سي، نو دیت د هغه په مال کې له هغه ورځې څخه واجبیږي په کومه ورځ چې قاضي پر هغه د دیت فیصله وکړي، او دا دیت به په دریو کالو کې اداء کول کیږي: ځکه کله چې په بینه سره د ثابت سوي قتل دیت په دریو کالو کې اداء کول کیږي نو په اقرار سره د ثابت سوي قتل دیت به په درجه اولیٰ په دریو کالو کې اداء کول کیږي.

د قاتل اقرار پر عاقله وو حجت نه دی، همدارنګه
د قاتل او د جنایت د ولي اتفاق هم حجت نه دی

وَلَوْ تَصَادَقَ الْقَاتِلُ وَوَلِيُّ الْجِنَايَةِ او که قاتل او د جنایت ولي اتفاق وکړي عَلَىٰ أَنَّ قَاضِيَ بَلَدِ كَذَا قَضَىٰ بِالدِّيَةِ عَلَىٰ عَاقِلَتِهِ بِالْكُوفَةِ بِالْبَيِّنَةِ پر دې خبره چې د فلانکي ښار قاضي د قاتل د کوفې والا پر عاقله وو د بینې په ذریعه د دیت فیصله کړې ده وَكَذَّبَهُمَا الْعَاقِلَةُ او عاقله د دوی دواړو تکذیب وکړي فَلَا شَيْءَ عَلَى الْعَاقِلَةِ نو پر عاقله وو هیڅ شی نسته لِأَنَّ تَصَادُقَهُمَا لَيْسَ بِحُجَّةٍ عَلَيْهِمْ ځکه د دوی دواړو [یعني د قاتل او ولي الجناية] اتفاق پر عاقله وو حجت نه دی وَلَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي مَالِهِ او پر قاتل په خپل مال کې هیڅ شی نشته لِأَنَّ الدِّيَةَ بِتَصَادُقِهِمَا تَقَرَّرَتْ عَلَى الْعَاقِلَةِ بِالْقَضَاءِ ځکه دیت د دوی دواړو په اتفاق سره د قضاء [د قاضي د فیصلې] په ذریعه پر عاقله وو ثابت سوی دی وَتَصَادُقُهُمَا حُجَّةٌ فِي حَقِّهِمَا او د دوی دواړو اتفاق د دوی په خپل حق کې حجت دی بِخِلَافِ الْأَوَّلِ په خلاف د اول صورت [یعني د اقرار صورت چې الاقرار والصلح لا یلزمان العاقلة] إِلَّا أَنْ يَكُونَ لَهُ عَطَاءٌ مَعَهُمْ مګر دا چې که د قاتل لپاره د عاقله وو سره عطیه [مقرره] وي فَحِينَئِذٍ يَلْزَمُهُ بِقَدْرِ حِصَّتِهِ نو په دې

وخت کي پر قاتل د خپلي حصې په اندازه لازمیږي لِأَنَّهُ فِي حَقِّ حِصَّتِهِ مُقِرٌّ عَلَىٰ نَفْسِهِ ځکه د خپلي حصې په حق کي هغه د خپل ځان په خلاف اقرار کونکی دی وَفِي حَقِّ الْعَاقِلَةِ مُقِرٌّ عَلَيْهِمْ او د عاقله وو په حق کي د هغو په خلاف اقرار کونکی دی.

اللغات: ﴿تصادق﴾ د تفاعل د باب ماضي ده: یو د بل تصدیق کول. پر یو خبره د دوو کسانو اتفاق کول. د یو شي په باره کي د دوو خلکو اقرار کول او پر هغه اتفاق کول. ﴿بیّنة﴾ ګواهي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که قاتل او وليُ الجنایة (دمقتول ولي) دواړه د دې خبرې اقرار او تصدیق وکړي چي مثلاً د بصرې د ښار قاضي د بینې (ګواهی) پر بناء د قاتل پر هغه عاقله وو (اهل دیوان یا قریبانو) باندي د دیت واجبېدلو فیصله وکړه کوم چي په کوفه کي استوګن دي. خو عاقله وو د قاتل او د وليُ الجنایة دواړو تکذیب وکړی، نو پر مذکوره عاقله وو هیڅ شی نه واجبیږي: ځکه دا صرف د دوی دواړو اقرار او اتفاق دی او د دوی اقرار د عاقله وو په حق کي حجت نه دی. لیکن په دې اقرار او اتفاق سره د قاتل فایده کیږي او پر هغه د دیت هیڅ حصّه نه واجبیږي: ځکه د دوی په اقرار سره دا خبره څرګنده سوه چي د دیت وجوب پر عاقله وو دی (که څه هم د عاقله وو د تکذیب په وجه د دې خبرې حتمي ثبوت نه دی سوی). او د قاتل او وليُ الجنایة اقرار د دوی د خپل ذات په حق کي معتبر او مقبول دی، نو ځکه قاتل به له دیت څخه بري کیږي.

بخلاف الأول إلخ: د دې په خلاف په مخکنی مسئله کي چي څرنګه قاتل پر خپل ځان د قتل خطاء او دیت واجبېدلو اقرار کړی دی. نو ځکه هلته د هغه په حق کي د قتل اقرار معتبر دی او د هغه په مال کي دیت واجب دی: ځکه عاقله د مجرم په اقرار سره د ثابتېدونکي قتل دیت نه اداء کوي. (یا په بله وینا دا چي په مخکیني صورت کي هغه پر عاقله وو د قاضي د فیصلې او پر هغو د دیت واجبېدلو اقرار نه دی کړی بلکي پر خپل ځان یې د قتل اقرار کړی دی. نو هغه به په خپل اقرار کي مأخوذ کیږي. او په مذکوره مسئله کي د جنایت ولي [د مقتول ولي] پر قاتل او د هغه پر عاقله وو د دیت واجبېدلو مدعي او مُقر دی او قاتل هم د دې اقرار او تصدیق کوي. خو پر عاقله وو د دوی په اقرار او تصدیق سره دا دیت واجب نه سو. نو څرنګه چي قاتل هم له عاقله وو څخه یو فرد دی. نو ځکه پر هغه به هم دیت نه واجبیږي. او یوازي د هغه له طرفه اقرار ستنه نه).

إلا أن یکون إلخ: یعني په مذکوره مسئله کي خو پر قاتل هیڅ شی نه واجبیږي. لیکن که قاتل له اهل عطاء (اهل دیوان وغیره) څخه وي او د عاقله وو سره د هغه لپاره هم د دولت له طرفه عطیه مقرره وي. نو په دې صورت کي پر قاتل د خپلي حصې په اندازه دیت واجبیږي: ځکه د مذکوره اقرار او تصادق

په صورت کي قاتل د خپل ځان په خلاف هم اقرار کونکی دی او پر عاقله وو هم اقرار کونکی دی، لیکن څرنګه چي د هغه اقرار د خپل ځان په حق کي معتبر دی، نو ځکه پر هغه صرف د خپلي حصې په اندازه مال واجب دی او د عاقله وو په حق کي د هغه اقرار معتبر نه دی، نو ځکه پرُ عاقله وو هیڅ هم واجب نه دي.

د مقتول غلام په بدله کي څه واجبیږي او پر چا واجبیږي؟

قَالَ: وَإِذَا جَنَى الْحُرُّ عَلَى الْعَبْدِ فَقَتَلَهُ خَطَأً فرمايي: او کله چي آزاد پر غلام جنایت وکړي نو هغه خطاءً قتل کړي كَانَ عَلَى عَاقِلَتِهِ قِيمَتُهُ نو د قاتل پر عاقله وو د غلام قیمت [واجب] دی لِأَنَّهُ بَدَلُ النَّفْسِ ځکه چي قیمت د نفس بدل دی عَلَىٰ مَا عُرِفَ مِنْ أَصْلِنَا لکه څرنګه چي دا زموږ له اصل څخه پیژندل سوي ده [یعني دا زموږ معلوم اصل دی] وَفِيْ أَحَدِ قَوْلَيِ الشَّافِعِيِّ تَجِبُ فِيْ مَالِهِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو څخه په یوه قول کي دا قیمت د قاتل په مال کي واجبیږي لِأَنَّهُ بَدَلُ الْمَالِ عِنْدَهُ ځکه د هغه په نېز دا قیمت د مال بدل دی وَلِهٰذَا يُوجِبُ قِيمَتَهُ بَالِغَةً مَا بَلَغَتْ په همدې وجه امام شافعي رَحِمَهُ الله د هغه قیمت که هر څو ته رسیږي هغه واجبوي [یعني که څه هم تر دیت زیات وي].

اللغات: ﴿جنى﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جرم کول. ﴿بالغة ما بلغت﴾ تر کومه چي ورسیږي، یعني څومره چي هم وي (که څه هم تر دیت زیات وي).

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي که آزاد کس خطاءً یو غلام قتل کړي، نو د قاتل پر عاقله وو د غلام قیمت واجبیږي؛ ځکه دا قیمت د غلام د نفس بدل دی او زموږ په نېز قاعده دا ده چي د نفس بدل پر عاقله وو واجبیږي؛ نو ځکه دا قیمت به عاقله اداء کوي.

له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه په یوه قول کي نقل سوي دي چي دا قیمت خپله د قاتل په مال کي واجبیږي، پرعاقله وو نه واجبیږي؛ ځکه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز دا د مال بدل دی (ځکه غلام مال دی) او د مال بدل پر مجرم واجبیږي، نه پر عاقله وو، په همدې وجه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په مذکوره مسئله کي د مقتول قیمت که هر څو ته رسیږي هغه واجبیږي. یعني که څه هم دا قیمت له دیت څخه زیات وي، بیا هم قیمت واجبیږي.

په غلام کي د ما دون النفس د جنايت جرمانه به څوک اداء کوي، جاني او که د هغه عاقله؟

وَمَا دُوْنَ النَّفْسِ مِنَ الْعَبْدِ لَا تَتَحَمَّلُهُ الْعَاقِلَةُ او د غلام ما دون النفس به عاقله پر ځان نه اخلي (یعني د ما دون النفس د جنایت جرمانه به نه اداء کوي) لِأَنَّهُ يُسْلَكُ بِهِ مَسْلَكَ الْأَمْوَالِ عِنْدَنَا څکه زموږ په نیز ما دون النفس د اموالو په درجه کي داخلول کيږي (یا په بله وینا دا چي د ما دون النفس سره د مال په څېر سلوک او لاره اختیارول کيږي) عَلَى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چي دا (مخکي) پيژندل سوي ده وَفِي أَحَدِ قَوْلَيْهِ الْعَاقِلَةُ تَتَحَمَّلُهُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله د یوه قول مطابق عاقله به هغه پر ځان اخلي (اداء کوي) كَمَا فِي الْحُرِّ لکه په آزاد کي (چي عاقله هغه اداء کوي) وَقَدْ مَرَّ مِنْ قَبْلُ او دا مخکي تېره سوې ده.

اللغات: ﴿لا تتحمل﴾ د تفعل له بابه نفي صيغه ده: پورته کول، پر ځان اخيستل، زغمل. ﴿يسلك﴾: داخلېدل، داخلول (لازمي او متعدي)، تګ کول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که آزاد کس د غلام پر ما دون النفس جنایت وکړي مثلاً د هغه د بدن یو غړی او اندام تلف کړي، نو زموږ په نیز د دې تلف سوي اندام ضمان (تاوان) خپله د مجرم (تلفونکي) په مال کي واجبيږي او عاقل به هغه نه آداء کوي، څکه په ما دون النفس کي زموږ په نیز د اموالو معامله جاري کيږي او د اموالو ضمان خپله د قاتل په مال کي واجبيږي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله یو قول دا دی چي د ما دون النفس ضمان د عاقله وو په مال کي واجبيږي او قاتل به هغه نه اداء کوي: لکه د آزاد کس ما دون النفس مثلاً د هغه یو اندام که تلف کړی سي، نو د هغه ضمان به عاقله اداء کوي. نو همداسي د غلام د ما دون النفس ضمان به هم د امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې قول کي عاقله اداء کوي.

د عاقله نه لرونکي دیت په بيت المال کي واجبيږي

قَالَ أَصْحَابُنَا: إِنَّ الْقَاتِلَ إِذَا لَمْ يَكُنْ لَهُ عَاقِلَةٌ زموږ حضراتو ملګرو فرمایلي دي: چي کله د قاتل لپاره هيڅ عاقله نه وي فَالدِّيَةُ فِي بَيْتِ الْمَالِ نو دیت په بيت المال کي (واجب) دی لِأَنَّ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ هُمْ أَهْلُ نُصْرَتِهِ څکه د هغه اهل نصرت (مددګاران) همدا د مسلمانانو جماعت دی وَلَيْسَ بَعْضُهُمْ أَخَصَّ مِنْ بَعْضٍ بِذَلِكَ او د نصرت په هکله دوی بعضي له بعضو څخه خاص نه دي وَلِهَذَا لَوْ مَاتَ په همدې وجه که هغه (د چا عاقله چي نه وي) مړ سي كَانَ مِيرَاثُهُ لِبَيْتِ الْمَالِ نو د هغه ميراث

د بیت المال کیږي فَكَذَا مَا يَلْزَمُهُ مِنَ الْغَرَامَةِ يَلْزَمُ بَيْتَ الْمَالِ نو همداسې پر هغه چې کوم تاوان لازم سي هغه به [هم] پر بیت المال لازم وي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رِوَايَةٌ شَاذَّةٌ أَنَّ الدِّيَةَ فِي مَالِهِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو شاذ روایت دا دی چې دیت د هغه په مال کې [واجب] دی وَوَجْهُهُ أَنَّ الْأَصْلَ أَنْ تَجِبَ الدِّيَةُ عَلَى الْقَاتِلِ او د دې وجه دا ده چې اصل دا دی چې دیت پر قاتل واجب سي لِأَنَّهُ بَدَلُ مُتْلَفٍ ځکه چې دیت د تلف کړی سوی نفس بدل دی وَالْإِتْلَافُ مِنْهُ او تلفول د قاتل له طرفه [واقع سوي] دي إِلَّا أَنَّ الْعَاقِلَةَ تَتَحَمَّلُهَا تَحْقِيقًا لِلتَّخْفِيفِ خو د تخفیف ثابتولو په خاطر عاقله به دیت پر ځان اخلي عَلَى مَا مَرَّ لکه [مخکې] چې تېر سوه فَإِذَا لَمْ يَكُنْ لَهُ عَاقِلَةٌ لهذا کله چې د قاتل لپاره عاقله نه وي عَادَ الْحُكْمُ إِلَى الْأَصْلِ نو حکم به د اصل وطرف ته راګرځي.

اللغات: ﴿بيت المال﴾ د اسلامي دولت خزانه (سرکاري خزانه). هغه دولتي ځای چې د عوامو مالونه پکښې جمع کیږي. ﴿غرامة﴾ تاوان. جرمانه. ﴿مُتْلَف﴾ د افعال د باب مفعول دی: تلف کړی سوی (ضایع کړی سوی). هلاک کړی سوی.

تشریح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چې د هغه آسانه مطلب دا دی چې که يو چا خطاءً يو څوک قتل کړی او قاتل لره هیڅ عاقله نه وه. نو د داسې قاتل دیت به بیت المال اداء کوي: ځکه د عاقلې د نا موجودیت په صورت کې د هغه معاون او مددګاره ټوله مسلمانان دي او څرنګه چې په دې امر کې ټوله برابر شریک او دي او يو له بل څخه فائق او بالا نه دي. نو ځکه د ټوله قوم چې کوم بیت المال دی، له هاغه څخه به د داسې قاتل دیت اداء کول کیږي. همدا وجه ده که داسې کس میراث پرې اېښې وي، نو د هغه میراث بیت المال ته حاصلیږي او په بیت المال کې به اېښوول کیږي.

وعن أبي حنيفة إلخ: له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه يو شاذ روایت دا دی چې په دې صورت کې د قاتل په مال کې دیت واجبیږي: ځکه د دیت اصل وجوب پر قاتل وي خو له سخت تاوان او تکلیف ما لا يطاق څخه د قاتل د بچ کولو په خاطر بیا د هغه اداء کول پر عاقله وو لازمیږي. اوس که د يو چا عاقله نه وي نو مجبوراً حکم د اصل وطرف ته راګرځي او دیت خپله د قاتل په مال کې واجبیږي.

د ملاعنه ښځي بچی که څوک قتل کړی نو دیت به څوک او څنګه اداء کوي؟

وَابْنُ الْمُلَاعَنَةِ تَعْقِلُهُ عَاقِلَةُ أُمِّهِ او د ملاعنه ښځي د ځوی دیت به د هغه د مور عاقله اداء کوي لِأَنَّ نَسَبَهُ ثَابِتٌ مِنْهَا دُونَ الْأَبِ ځکه د هغه نسب د مور سره ثابت دی، نه د پلار سره فَإِنْ عَقَلُوا عَنْهُ نو که دوی [د مور عاقله وو] د هغه له طرفه دیت اداء کړی ثُمَّ ادَّعَاهُ الْأَبُ بیا پلار د هغه [ځوی د نسب] دعویٰ وکړه [او د خپل ځان تکذیب یې وکړی] رَجَعَتْ عَاقِلَةُ الْأُمِّ بِمَا أَدَّتْ عَلَى عَاقِلَةِ الْأَبِ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ نو د مور عاقله به د هغه دیت په باره کي کوم چي یې اداء کړی دی د پلار پر عاقله وو په دریو کالو کي رجوع کوي [یعني په دیت کي اداء کړی سوی مال به د پلار له عاقله وو څخه په دریو کالو کي ویسر اخلي] مِنْ يَوْمِ يَقْضِي الْقَاضِي لِعَاقِلَةِ الْأُمِّ عَلَى عَاقِلَةِ الْأَبِ له هغه ورځي څخه چي قاضي د مور د عاقله وو لپاره د پلار پر عاقلې فیصله وکړي لِأَنَّهُ تَبَيَّنَ أَنَّ الدِّيَةَ وَاجِبَةٌ عَلَيْهِمْ ځکه دا خبره څرګنده سوه چي دیت د پلار پر عاقلې واجب وو لِأَنَّ عِنْدَ الْإِكْذَابِ ظَهَرَ أَنَّ النَّسَبَ لَمْ يَزَلْ كَانَ ثَابِتًا مِنَ الْأَبِ ځکه د کذب څرګندولو په وخت کي [یعني چي پلار د ځان تکذیب وکړی] دا خبره ښکاره سوه چي [د بچي] نسب له شروع څخه د پلار سره ثابت وو حَيْثُ بَطَلَ اللِّعَانُ بِالْإِكْذَابِ ځکه د کذب څرګندولو په وجه لعان باطل سو وَمَتَى ظَهَرَ مِنَ الْأَصْلِ او کله چي نسب له اصل څخه ښکاره [ثابت] سو فَقَوْمُ الْأُمِّ تَحَمَّلُوا مَا كَانَ وَاجِبًا عَلَى قَوْمِ الْأَبِ نو د مور قوم [عاقله وو] هغه دیت پر ځان اخیستی [اداء کړی] دی کوم چي د پلار پر قوم واجب وو فَيَرْجِعُونَ عَلَيْهِمْ نو ځکه دوی به د پلار پر قوم رجوع کوي لِأَنَّهُمْ مُضْطَرُّونَ فِي ذَلِكَ ځکه چي دوی [د مور عاقله] په دې [اداء کولو] کي مجبوره وه.

اللغات: ﴿ملاعنة﴾ د افعال له بابه د واحد مؤنث فاعل صیغه ده: لعان کونکې ښځه. د دې باب لغوي معنیٰ ده: پر یو بل لعنت کول. د لعان تفصیل دا دی چي کله خاوند پر خپلې پاک لمني ښځي د زنا تهمت ولګوي یا له هغې څخه د پیدا کونکي بچي د نسب انکار وکړي چي دا زما بچی نه دی نو شرعي حکم دا دی چي خاوند به لعان کوي او کله چي هغه لعان وکړي نو بیا به ښځه هم لعان کوي. او لعان دا دی چي اول به خاوند څلور دا قسمونه واخلي چي په الله قسم! (زه الله ګواه کوم) چي زه په دې دعویٰ

کې رښتونی یم چې فلانکۍ ښځې زنا کړې ده او پنځم وار به دا وایي چې که زه په خپله دعوىٰ کې دروغجن یم نو پر ما دې د الله لعنت وي؛ تر دې وروسته به ښځه دا څلور قسمونه اخلي چې په الله قسم! فلانکی کس پر ما د زنا په تهمت لګولو کې دروغجن دی او پنځم وار به دا وایي چې که هغه په خپل تهمت لګولو کې رښتونی نو پر ما دې د الله غضب وي. د لعان دا طریقه خپله په قرآن کریم کې ذکر سوې ده. (سورة النور ۱۰ – ۶)

شریح: صورت د مسئلې: دا دی که ښځې او خاوند په خپل مینځ کې لعان وکړی او خاوند د ښځې د بچې نفي وکړې نو قاضي د بچې نسب له پلار څخه نفي کړی او د مور سره یې ثابت کړی، نو اوس د دې بچې نسب د مور سره ثابتیږي، نه د پلار سره، لهذا که دغه بچی یو جنایت وکړی یعني یو څوک یې خطاءً قتل کړی نو د هغه دیت د مور په عاقله وو باندې واجبیږي.

اوس تر دې وروسته که ملاعن خاوند د خپل ځان او لعان تکذیب وکړی او د بچې د نسب دعوىٰ یې وکړه، نو لعان باطلیږي او د بچې نسب د پلار سره ثابتیږي، که څه هم د دې نسب ظهور او ثبوت اوس سوی دی خو په حقیقت کې له شروع څخه د هغه نسب د پلار سره ثابت دی.

لهذا د مور عاقله وو چې کوم دیت اداء کړی وي، هغه به دوی د پلار له عاقلې څخه واپس واخلي، او هغه به د قاضي د فیصلې له وخت څخه په دریو کالو کې دننه ځني اخلي؛ او د دې وجه "چې د مور عاقله به دا دیت د پلار له عاقلې څخه واپس اخلي" دا ده چې کله چې پلار د خپل لعان تکذیب وکړی نو دا خبره څرګنده سوه چې د مجرم بچې اصل نسب د پلار سره ثابت وو نو د هغه اصل دیت د پلار په عاقله وو باندې واجب وو او د مور عاقلې د مجبورۍ په وجه هغه اداء کړی وو، لیکن اوس دا مجبوره ختم سوه، نو ځکه اوس او به د مور عاقله په دیت کې ورکول سوی مال د پلار له عاقلې څخه واپس اخلي. (اشرف الهدایه، احسن الهدایه)

د پورتنۍ مسئلې یو نظیر

وَكَذٰلِكَ إِنْ مَاتَ الْمُكَاتَبُ عَنْ وَفَاءٍ او همدارنګه که چیرې مکاتب له پوره کافي مال څخه مړ سو [یعني تر شا یې دومره مال پرېښووی کوم چې د بدل کتابت اداء کولو لپاره کافي وو] وَلَهُ وَلَدٌ حُرٌّ او د هغه یو آزاد بچی وو فَلَمْ يُؤَدِّ كِتَابَتَهُ حَتّٰى جَنَى ابْنُهُ بیا تر اوسه د هغه کتابت [بدل کتابت] اداء کړی سوی نه وو چې د هغه ځوی جنایت وکړی وَعَقَلَ عَنْهُ قَوْمُ أُمِّهِ او د هغه له طرفه د هغه د مور قوم [عاقله وو] دیت اداء کړی ثُمَّ أُدِّيَتِ الْكِتَابَةُ بیا کتابت اداء کړی سو لِأَنَّهُ عِنْدَ الْأَدَاءِ يَتَحَوَّلُ وَلَاؤُهُ إِلٰى قَوْمِ أَبِيهِ مِنْ وَقْتِ حُرِّيَّةِ الْأَبِ ځکه د کتابت اداء کولو په وخت کې د مکاتب د بچې ولاء د هغه د پلار د قوم

[عاقلې] وطرف ته منتقل کيږي د پلار دآزادۍ له وخت څخه وَهُوَ آخِرُ جُزْءٍ مِنْ أَجْزَاءِ حَيَاتِهِ او هغه وخت د پلار د ژوند له اجزاؤ څخه آخري جزء دی فَتَبَيَّنَ أَنَّ قَوْمَ الْأُمِّ عَقَلُوا عَنْهُمْ نو دا څرګنده سوه چي د مور قوم د پلار د قوم له طرفه ديت اداء کړی دی فَيَرْجِعُونَ عَلَيْهِمْ نو ځکه د مور قوم به پر هغوی رجوع کوي.

اللغات: ﴿وفاء﴾ د ضرب د باب مصدر دی. خپله معنی يې ده: پوره اداء کول. پوره کول. مراد ځني دومره مال دی کوم چي د بدل کتابت د اداء کولو لپاره کافي وي. ﴿يتحوّل﴾ د تفعل د باب مضارع ده: بدلېدل. اوښتل. له يوه حالت څخه بل حالت ته منتقل کېدل. ﴿ولاء﴾ د آزاد کړی سوي غلام ميراث. يعني هغه ميراث کوم چي له آزادېدونکي غلام څخه چاته حاصليږي. يا هغه ميراث چي په عقد موالات سره حاصليږي.

تشريح: دا مسئله د مخکنی مسئلې پر دليل متفرع ده. خاصل يې دا دی که يو مکاتب کس د مکاتبي ښځي سره نکاح وکړه او له دوی څخه يو بچی پيدا سو. بيا د بچي مور (مکاتبه) آزاده کړل سوه او پلار (مکاتب) د خپل مرګ په وخت کي دومره مال پري ايښی وو چي په هغه سره د ده بدل کتابت اداء کېدلای سو. لېکن د بدل کتابت له اداء کولو څخه مخکي د هغه مذکوره بچي يو جنايت وکړی يعني يو څوک يې خطاءً قتل کړی او د بچي د مور قوم (عاقله) د هغه له طرفه ديت اداء کړی. تر دې وروسته د هغه پلار بدل کتابت اداء کړی سو. نو په دې صورت کي هم د مور قوم (عاقله) به د پلار له عاقله وو څخه د ديت په اندازه مال واپس اخلي: ځکه کله چي پلار د بدل کتابت په اندازه مال پرې ايښی وو او د هغه تر اداء مخکي دئ مړ سو او تر مرګ وروسته هغه اداء کړی سو. نو داسي سوه لکه پلار چي د آزادۍ په حالت کي مړ سوی وو او د هغه د قاتل بچي ديت د همدې پلار په عاقله وو باندي واجب وو: ځکه د دوی د ولاء اصل مستحقين همدوی وه. خو څرنګه چي دا ښکاره سوې نه وه نو ځکه د مور قوم د هغه له طرفه ديت ورکړی وو. اوس چي کله دا خبره ښکاره سوه نو کوم چي اصل مستحقين وه. د هغو وطرف ته د ديت د وجوب حکم راوګرځېدی. نو ځکه د مور عاقله به په ديت کي ورکول سوی مال د پلار له عاقلې څخه اخلي.

که یو سړی بچي ته د یوچا د قتل کولو حکم وکړي او بچي هغه قتل کړي نو دیت پر چا دی؟

وَكَذٰلِكَ رَجُلٌ أَمَرَصَبِيًّا بِقَتْلِ رَجُلٍ او همدارنګه [که] یو سړي بچي ته د یو سړي د قتل کولو حکم وکړي فَقَتَلَهُ نو بچي هغه قتل کړي فَضَمِنَتْ عَاقِلَةُ الصَّبِيِّ الدِّيَةَ بیا د بچي عاقله وو د دیت ضمان اداء کړي رَجَعَتْ بِهَا عَلٰى عَاقِلَةِ الْآمِرِ نو د بچي عاقله به په هغه دیت سره د آمر [حکم کونکي] پر عاقلې رجوع کوي إِنْ كَانَ الْأَمْرُ ثَبَتَ بِالْبَيِّنَةِ که چیرې امر [یعني د آمر حکم کول] په ګواهۍ سره ثابت سوی وي وَفِيْ مَالِ الْآمِرِ إِنْ كَانَ ثَبَتَ بِإِقْرَارِهٖ او د آمر په مال کي به رجوع کوي که چیرې امر د هغه په خپل اقرار سره ثابت سوی وي فِيْ ثَلَاثِ سِنِيْنَ مِنْ يَوْمِ يَقْضِيْ بِهَا الْقَاضِيْ عَلَى الْآمِرِ أَوْ عَلٰى عَاقِلَتِهٖ [او دا رجوع به کوي] په دریو کالو کي له هغه ورځي څخه چي قاضي پر آمر یا د هغه پر عاقله وو د دیت فیصله وکړي لِأَنَّ الدِّيَاتِ تَجِبُ مُؤَجَّلَةً بِطَرِيْقِ التَّيْسِيْرِ ځکه د آساني کولو پر طریقه دیتونه نېټه داره [د دریو کالو په نېټه سره] واجبیږي.

اللغات: ﴿ضمنت﴾ د سمع له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: ضامن کېدل (ذمه وار کېدل). ضمان (تاوان) پرې لازمېدل. ضمان ورکول. ﴿بيّنة﴾ ګواهي. ﴿مؤجّلة﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: مؤخر. د کوم شي لپاره چي یو نېټه (موده) ټاکل سوې وي، نېټه داره.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که زید یو بچي (کوچني) ته حکم وکړي چي بچیه! ته فلانکی سړی قتل کړه! او بچي د ده حکم پر ځای کړي او هغه سړی قتل کړي. بیا د بچي عاقله د بچي له طرفه دیت اداء کړي. نو دا عاقله به په دیت کي اداء کړی سوی مال له آمر (زید) یا د هغه له عاقله وو څخه واپس اخلي. چي د هغه تفصیل دا دی چي که د آمر امر (حکم کول) په بینه سره ثابت سوی وي (یعني ګواهانو پر دې ګواهي پېش کړه چي قاتل بچي ته زید حکم کړی وو). نو دا مال به د آمر له عاقله وو څخه اخیستل کیږي. او که د آمر امر د هغه په خپل اقرار سره ثابت سوی وي. نو هغه به د آمر له مال څخه اخیستل کیږي او د قاضي د فیصلې له ورځي څخه به په دریو کالو کي دننه هغه اداء کول کیږي: ځکه دیت چي پر هرچا واجب سي. هغه په هر حال په دریو کلونو کي واجبیږي د دې لپاره چي د من وجب علیه په حق کي آساني او تخفیف ثابت سي چي په آسانه توګه یې هغه اداء کړي.

د پورتنی مسئلو په هکله یو أصول او پر هغه متفرّع کېدونکي څو مسائل

قَالَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ : هٰهُنَا عِدَّةُ مَسَائِلَ ذَكَرَهَا مُحَمَّدٌ مُتَفَرِّقَةً صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: دلته څو مسئلې دي کوم چي امام محمد رَحِمَهُ الله په متفرّقه توګه ذکر کړي دي وَالْأَصْلُ الَّذِىْ يُخَرَّجُ عَلَيْهِ أَنْ يُقَالَ او هغه اصل چي مسائل پرې متفرع کيږي دا دی چي وويل سي حَالُ الْقَاتِلِ إِذَا تَبَدَّلَ حُكْمًا [۱] کله چي د قاتل [مجرم] حالت د حکم په اعتبار سره بدل سي فَانْتَقَلَ وَلَاؤُهُ إِلٰى وَلَاءٍ بِسَبَبِ أَمْرٍ حَادِثٍ بيا د پېښېدونکي امر [پلار آزادېدلو] په وجه د هغه ولاء د بلي ولاء وطرف ته منتقل سي لَمْ تَنْتَقِلْ جِنَايَتُهُ عَنِ الْأَوَّلِ نو د هغه جنايت له اولي عاقلې څخه نه منتقل کيږي قُضِيَ بِهَا أَوْ لَمْ يُقْضَ برابره ده [د قاضي له طرفه] د هغه فيصله سوې وي او که نه وي سوې وَإِنْ ظَهَرَتْ حَالَةٌ خَفِيَّةٌ مِثْلُ دَعْوَةِ وَلَدِ الْمُلَاعَنَةِ [۲] او که چيري [د مجرم] پټ حالت ښکاره سي لکه د ملاعنه ښځي د بچي دعوىٰ کول [چي ملاعن پلار د هغه د نسب دعوىٰ وکړي] حُوِّلَتِ الْجِنَايَةُ إِلَى الْأُخْرٰى نو جنايت د بلي عاقلې وطرف ته منتقل کيږي وَقَعَ الْقَضَاءُ بِهَا أَوْ لَمْ يَقَعْ برابره پر هغه د قاضي فيصله واقع سوې وي او که نه وي واقع سوې وَلَوْ لَمْ يَخْتَلِفْ حَالُ الْجَانِيْ [۳] او که د مجرم حالت مختلف سوی [بدل سوی] نه وي وَلٰكِنَّ الْعَاقِلَةَ تَبَدَّلَتْ لېکن عاقله بدله سي كَانَ الْاِعْتِبَارُ فِيْ ذٰلِكَ لِوَقْتِ الْقَضَاءِ نو په دې کي د قاضي د فيصلې وخت لره اعتبار دی فَإِنْ كَانَ قُضِيَ بِهَا عَلَى الْأُولٰى بيا که پر اوله عاقله د ديت فيصله سوې وي لَمْ تَنْتَقِلْ إِلَى الثَّانِيَةِ نو ديت د دويمي عاقلې وطرف ته نه منتقل کيږي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ قُضِيَ بِهَا عَلَى الْأُولٰى او که پر اوله عاقله د ديت فيصله نه وي سوې فَإِنَّهُ يُقْضٰى بِهَا عَلَى الثَّانِيَةِ نو بيا به د ديت فيصله پر دويمي عاقلې کيږي وَإِنْ كَانَتِ الْعَاقِلَةُ وَاحِدَةً [۴] او که چيري عاقله يوه وي فَلَحِقَهَا زِيَادَةٌ أَوْ نُقْصَانٌ بيا د عاقله وو سره اضافه يا کمي يوځای سي اِشْتَرَكُوْا فِيْ حُكْمِ الْجِنَايَةِ نو عاقلې والا ټوله د جنايت په حکم کي شريکان کيږي قَبْلَ الْقَضَاءِ وَبَعْدَهُ د قاضي له فيصلې څخه مخکي هم او تر هغه وروسته هم إِلَّا فِيْمَا سَبَقَ أَدَاؤُهُ مګر په هغه مقدار کي چي د هغه ادا ئه مخکي سوې وي [يعني د ديت کوم مقدار چي مخکي اداء سوی وي نو په هغه کي دوی ټوله نه شريکان کيږي]

فَمَنْ أَحْكَمَ هٰذَا الْأَصْلَ مُتَأَمِّلًا نو څوک چې دغه اصل مضبوط کړي په تأمّل کولو سره يُمْكِنُهُ التَّخْرِيْجُ فِيْمَا وَرَدَ عَلَيْهِ مِنَ النَّظَائِرِ وَالْأَضْدَادِ نو د هغه لپاره به پر دغه اصل د واردېدونکو امثالو او اضدادو تخريج ممکنه وي.

اللغات: ﴿عِدَّة﴾ څه شمېر. ﴿أحكم﴾ د افعال د باب ماضي ده: (يو کار) په مضبوطي سره کول. مظبوطول. پخول. ﴿متأمّل﴾ د تفعّل د باب فاعل دی: تأمّل کونکی، غور او فکر کونکی. ﴿نظائر﴾ جمع د نَظِيْرٌ ده: مثل، مشابه.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چې دلته (د معاقلُ په هکله) امام محمد رَحِمَهُ الله څو مسئلې په جلا جلا توګه بيان کړي دي، لېکن که د دې ځای په اُصولو او قواعدو ځان پوه کړل سي نو په دې مسئلو او د هغوی په څېر نورو مسئلو باندي پوهېدل به ډېر آسانه وي. نو دلته مصنف رَحِمَهُ الله اصلاً څلور اُصول بيان کړي دي:

(۱)... اول اُصول دا دی چې که د مجرم (قاتل) په حالت کي بدلون راسي يعني د هغه حکم بدل سي، لکه د ولاء د منتقل کېدلو په صورت کي (چې هغه به لاندي ذکر سي)، نو که څه هم ولاء خو منتقل کيږي لېکن جرم (جنايت) نه منتقل کيږي؛ يعني د مجرم د حالت بدلېدلو باوجود هم د هغه په جنايت (جرم) کي هيڅ تغير او بدلون نه راځي او د مجرم پر اولي (مخکنۍ) عاقلې باندي جنايت باقي پاتيږي، برابره ده قاضي پر هغو د ديت فيصله کړې وي، که نه وي.

مثلاً د يو ښځي پلار غلام وي او د هغه مور آزاده وي، بيا هغه ښځي خطاءً يو څوک قتل کړي. نو د ښځي ديت به د مور عاقله اداء کوي او د ښځي ولاء د هغه د مور کيږي، او که پلار آزاد کړی سي نو دا د ښځي ولاء د پلار وطرف ته منتقل کيږي لېکن د ښځي جنايت هغه ته نه منتقل کيږي.

(۲)... دويم اُصول دا دی چې که د مجرم حالت پټ او مخفي وي بيا هغه ښکاره سي. نو دلته (د حالت تر ښکاره کېدلو وروسته) جنايت پر اولي عاقلې باقي نه پاتيږي. بلکي د دويمي عاقلې وطرف ته منتقل کيږي، برابره ده قاضي پر اولي عاقلې د ديت فيصله کړې وي او که نه وي.

لکه د ملاعنه ښځي د مجرم بچي مسئله کوم چي مخکي تېره سوه چي که ملاعن پلار د لعان تکذیب وکړي او د بچي د نسب دعوىٰ وکړي نو پسته حالت ښکاره سو (چي دا بچی د ملاعن پلار خپل بچی دی). نو د بچي جنایت د ملاعن پلار د عاقلې وطرف ته منتقل کیږي.

(۳)... دریم اُصول دا دی چي که بدلون د مجرم په حالت کي نه بلکي د هغه په عاقله وو کي راغلی وي او عاقله بدل سوې وي. نو په دې صورت کي د قاضي د فیصلې (قضاء) د وخت اعتبار کیږي. لهذا که قاضي پر اولي عاقلې د دیت فیصله کړې وي. نو پر دویمي (بدل سوي) عاقلې دیت نه واجبیږي. او که قاضي پر اولي عاقلې د دیت فیصله نه وي کړې. نو پر دویمي (بدل سوي) عاقلې دیت واجبیږي.

لکه د اهلِ کوفه او اهلِ بصره مسئله کوم چي مخکي تېره سوه چي که قاتل له اهلِ کوفه څخه وي بیا د هغه دیوان بصرې ته منتقل کړی سي. نو په دې صورت د قضاء د وخت په اعتبار کولو سره د اهل کوفه یا اهلِ بصره پر عاقله (اهلِ دیوان) باندي دیت واجبیږي.

(۴)... وإذا كانت إلخ: څلورم اُصول دا دی چي که په عاقله وو کي بدلون نه بلکي په هغو کي اضافه یا نقصان (کمي) راسي. د اضافې صورت دا دی چي په عاقله وو کي یو بچی بالغ سي. او د نقصان صورت دا دی چي له هغو څخه یو مړ سي. نو په دې صورت کي د قاضي تر فیصلې وروسته او مخکي هر وخت دوی ټوله د جنایت په حکم کي شریکان کیږي (یعني د قبل القضاء او بعد القضاء په حکم کي هیڅ فرق نه راځي بلکي په دې هر صورت کي د جنایت په حکم او د دیت په وجوب کي ټوله برابر شریکان کیږي).

ها! د دیت کوم مقدار چي اداء سوی وي، هغه له دې حکم څخه مستثنیٰ دی (هغه خو اداء سوی دی) نو د دوی سره د هغه هیڅ تعلق نه پاتیږي یعني په اداء سوي مقدار کي دوی ټوله نه شریکان کیږي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د معاقل په هکله دا څلور اُصول دي. څوک چي په دې اُصولو کي غور او ژور فکر وکړي او په دوی ځان پوه کړي، نو پر دې اُصولو د متفرع کېدونکو مسئلو تحقیق او تخریج به د هغه لپاره ډېر آسانه وي او هغه به په آساني سره د دې مسئلو د نظائرو او اضدادو د حکم تخریج کولای سي.



كِتَابُ الْوَصَايَا

(دا) كتاب د "وصيتونو" (په بيان كي) دى

تشريح: مخكي تر دې صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله كتابُ الديات او كتابُ الجنايات بيان كړل. اوس له دې ځايه كتابُ الوصايا بيانوي. د دوى په مينځ كي وجه د مناسبت په دې توګه ده چي وصيت عموماً د مرګ په وخت كي كيږي (كله چي انسان مرګ ته نژدې سي) او جنايات هم ډېر ځله د جنايتكاره (مجرم) د مرګ ذريعه ګرځي، نو ځكه كتابُ الوصايا تر كتابُ الجنايات وروسته بيان كړى سوى دى.

د وصية تحقيق او اصطلاحي معنىٰ: وَصَايَا جمع د وَصِيَّةٌ ده. د "و ص ى" اصل معنىٰ ده: عهد او وعده اخيستل، له همدې مادې څخه لفظ د وصيت دى، وصيت اسم د اِيْصَاء دى. او د كوم شي وصيت چي وسي (يعني موصىٰ به) پر هغه هم د وصيت اطلاق كيږي.

او د وصيت شرعي معنىٰ ده: تَمْلِيْكٌ مُضَافٌ إِلَىٰ مَا بَعْدَ الْمَوْتِ بِطَرِيْقِ التَّبَرُّعِ. يعني د تبرع او احسان په توګه يو څوك تر خپل مرګ وروسته د يو شي مالك جوړول (يا له يو شي څخه د نفع اخيستلو مالك جوړول).

دلته څو الفاظ ياد ساتل پكار دي:

① **مُوْصِيْ**: وصيت كونكى كس، ② **مُوْصىٰ لَهٗ**: د چا لپاره چي وصيت وسي،

③ **مُوْصىٰ بِهٖ**: د كوم شي وصيت چي وسي (وصيت كړى سوى شى).

د وصيت حكم دا دى چي د چا لپاره وصيت سوى وي (يعني مُوصىٰ لهٗ) هغه د ملك جديد په توګه د وصيت كړى سوى شى (يعني د مُوصىٰ به) مالك كيږي. (بنايه ۱۲/۴۸۴)

د وصيت شرائط: ① مُوصي (وصيت كونكى كس) به د تبرع او احسان كولو اهل وي. يو چا ته به شى تبرعاً وركولاى سي. ② مُوصي به مقروض نه وي. ③ د وصيت كولو په وخت كي به موصىٰ لهٗ ژوندى وي. كه څه هم هغه د مور په نس كي وي (يعني د جنين لپاره هم د يو شي وصيت كول جائز دي) په دې شرط چي د وصيت په وخت كي هغه يقيناً په نس كي موجود وي يعني چي د وصيت له وخت څخه په شپږو مياشتو كي دننه پيدا سي. ④ مُوصىٰ لهٗ به د مُوصي وارث نه وي. ⑤ مُوصىٰ لهٗ به د مُوصي قاتل نه وي. ⑥ مُوصىٰ به شى به د تمليك قابل وي. ⑦ د ميراث له ثلث (درييمي حصې) څخه به د زيات مقدار وصيت نه وي.

بَابٌ فِي صِفَةِ الْوَصِيَّةِ

مَا يَجُوزُ مِنْ ذٰلِكَ وَمَا يُسْتَحَبُّ مِنْهُ وَمَا يَكُونُ رُجُوعًا عَنْهُ

دا باب د وصيت د صفت په بيان کې دی. يعني د جائز وصيت، مستحب وصيت او له وصيت څخه د رجوع کولو په بيان کې دی

د وصيت شرعي حيثيت او دليل

قَالَ [امام قدوري رَحِمَهُ الله] فرمايي الْوَصِيَّةُ غَيْرُ وَاجِبَةٍ وَهِيَ مُسْتَحَبَّةٌ وصيت واجب نه دی او هغه مستحب دی وَالْقِيَاسُ يَأْبَى جَوَازَهَا او قياس د هغه د جواز انکار کوي لِأَنَّهُ تَمْلِيكٌ مُضَافٌ إِلَى حَالِ زَوَالِ مَالِكِيَّتِهِ ځکه وصيت داسې تمليک دی کوم چې د هغه د مالک والي [ملکيت] د زايلېدلو حالت ته منسوب دی وَلَوْ أُضِيفَ إِلَى حَالِ قِيَامِهَا او که دا تمليک د مالکيت د قايموالي [موجودوالي] حالت ته منسوب کړی سي بِأَنْ قِيلَ: مَلَّكْتُكَ غَدًا په دې توګه چې ووېل سي: ما ته سبا مالک جوړ کړې كَانَ بَاطِلًا نو دا باطل دي فَهٰذَا أَوْلَى نو ځکه [دوصيت] دا صورت به په درجه اولیٰ [باطل] وي إِلَّا أَنَّا اسْتَحْسَنَّاهُ لېکن موږ د استحسان پر بناء وصيت جائز ګرځولی دی لِحَاجَةِ النَّاسِ إِلَيْهَا ځکه چې وصيت ته د خلکو ضرورت دی فَإِنَّ الْإِنْسَانَ مَغْرُورٌ بِأَمَلِهِ مُقَصِّرٌ فِي عَمَلِهِ ځکه انسان [په خپل ژوند کې] د خپل اُميد په وجه دوکه کړی سوی وي [او] په خپل عمل کې کوتاهي کوونکی وي فَإِذَا عَرَضَ لَهُ الْمَرَضُ وَخَافَ الْبَيَاتَ نو کله چې ده ته مرض پېښ سي او دئ له هلاکت [مرګ] څخه وېرېږي يَحْتَاجُ إِلَى تَلَافِي بَعْضِ مَا فَرَطَ مِنْهُ مِنَ التَّفْرِيطِ بِمَالِهِ نو دئ د خپل مال په ذريعه د هغه کوتاهي [اولا پروايی] تدارک ته محتاج سي کوم چې له ده څخه مخکې سوې وي عَلَى وَجْهٍ لَوْ مَضَى فِيهِ په دې توګه چې که هغه په دې مرض کې ولاړ سي [مړ سي] يَتَحَقَّقُ مَقْصَدُهُ الْمَآلِيُّ نو د هغه اُخروي مقصد به ثابت [او پوره] سي وَلَوْ أَنْهَضَهُ الْبُرْءُ او که روغتيا هغه پاسوي [يعني روغ او جوړ

سي] يَصْرِفُهُ إِلىٰ مَطْلَبِهِ الْحَالِيّ نو هغه به دا مال په دنیاوي مقصد کي صرف کړي وَفِيْ شَرْعِ الْوَصِيَّةِ ذٰلِكَ او د وصیت په مشروع کولو کي دا مقصد حاصلیږي فَشَرَعْنَاهُ نو ځکه موږ هغه مشروع [په شریعت کي نافذ او روا] کرځولی دی وَمِثْلُهُ فِي الْإِجَارَةِ بَيَّنَّاهُ او د همدې مثل په موږ په اجازه کي بیان کړي دي.

اللغات: ﴿تملیك﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: (دیو شي) مالک کول، مالک جوړول. ﴿مغرور﴾ د ضرب د باب مفعول دی: دوکه کړی سوی، چا ته چي دوکه ورکول سوې وي. ﴿تلافی﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: د فوت سوي شي د نقصان عوض ورکول، جبران، د نقصان بدله ورکول. ﴿فَرَطَ﴾ د نصر د باب ماضي ده، د دې باب څو معناوي دي: مخکي کېدل، کوتاهي کول، له حد څخه تېریدل، تېزي کول او تکلیف ورکول وغیره. او کله چي یې په صله کي مِنْ ذکر سي لکه دلته، نو معنیٰ یې ده: له چا څخه مخکي یو کوتاهي او لا پروایي کېدل، بغیر له سوچ او احساسه څه څني صادرېدل. ﴿تفریط﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، د دې باب هم څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: کوتاهي کول، التفریط (کوتاهي او کمي). ﴿مقصد﴾ بفتح الصاد د ضرب د باب مصدرِ میمي دی په معنیٰ سره د قصد کولو او بکسر الصاد اسمِ مکان دی په معنیٰ سره ځای د قصد. ﴿برء﴾ روغتیا، صحت، جوړښت.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي وصیت واجب او ضروري نه دی چي پر قریبُ الموت کس دي وصیت کول لازم وي، بلکي شریعت هغه ته د استحباب درجه ورکړې ده چي د انسان لپاره وصیت کول مستحب دي، لیکن د قیاس په اعتبار سره وصیت جائز نه دی؛ د قیاس دلیل دا دی چي په وصیت کي د مُوصیٰ لهٗ لپاره په داسي حالت کي ملکیت ثابتول کیږي په کوم حالت کي چي له مُوصي څخه د تملیک (مالک جوړولو) صفت فوت سوی وي (یعني هغه د دې اهل نه وي چي څوک د خپل شي مالک جوړ کړي او په ملکیت کي یې ورکړي) ځکه تر مرګ وروسته د مُوصي ملکیت ختمیږي، حال دا چي اهل کېدل شرط دي چي موصي به د تملیک او تبرّع کولو اهل وي، نو ځکه د ما بعد الموت وطرف ته منسوب کېدونکی وصیت باطل دی. او ښکاره خبره دا ده چي که یو کس بل چا ته ووایي چي ته! ما سبا د فلانکي شي مالک جوړ کړې (تا ته مي سبا خپل دا شی په ملکیت کي درکړی) نو دا تملیک هم باطل دی، حال دا چي په سبا کي هم پر هغه شي د دې کس ملکیت باقي دی (یعني سبا هم هغه د دې شي

مالک دی)، نو کله چې ما بعد الیوم والا تملیک باطل دی. نو ما بعد الموت والا تملیک به په درجه اولیٰ باطل وي.

إلا أنا استحسنا إلخ: خو د خلکو د ضرورت په خاطر د وصیت په مسئله کې مونږ قیاس پرې اینبې دی او بناء بر استحسان مو وصیت جائز ګرځولی دی. او وصیت ته د خلکو ضرورت او حاجت په دې توګه دی چې په دنیا کې انسان په ډېرو اُمیدونو او آرزوګانو کې راګیر وي او د هغوی د پوره کولو په وجه ډېر ځله غلطۍ او کوتاهۍ ځنې صادره سي او ده ته احساس هم نه وي، لېکن په مرض یا بوډاتوب کې د مرګ پر بستره انسان ته د مخکنی غلطۍ احساس وسي او دئ د خپلې ماضي پر غلطۍ او کمۍ پښېمانۍ وکړي او د هغه تلافي کول وغواړي او د هغه لپاره انسان د خپل مال درېیمه حصه وغیره د الله ﷻ په لار کې خرچول غواړي. یا یې خپلو قریبانو او نورو ته ورکول غواړي او دا خیال کوي چې که زه په دې مرض کې مړ سوم نو هغه به مې د آخرت په ښه راسي او که جوړ سوم نو دا مال به فی الحاله په صحیح مصرف او مطلب کې صرف کړم. لو د انسان د غلطیو د تلافۍ او تدارک آسانه لاره وصیت ده او په وصیت کې هم دغسې کېږي، نو ځکه شریعت وصیت جائز ګرځولی دی.

د قیاس جواب او په قرآن او حدیث سره د وصیت ثبوت

وَقَدْ تَبْقَى الْمَالِكِيَّةُ بَعْدَ الْمَوْتِ بِاعْتِبَارِ الْحَاجَةِ او مالک والی [ملکیت] تر مرګ وروسته هم د ضرورت په اعتبار سره باقي پاتېږي كَمَا فِي قَدْرِ التَّجْهِيزِ وَالدَّيْنِ لکه د تجهیز [کفن دفن] او د قرض مقدار وَقَدْ نَطَقَ بِهِ الْكِتَابُ او کتاب الله د وصیت په جواز [جائز کیدلو] سره ګویا دی وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالَى ﴿مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ﴾ [النساء: ۱۲] او هغه د الله تعالیٰ دا فرمان دی: ﴿من بعد وصية إلخ﴾ وَالسُّنَّةُ او سنت [هم د هغه په جواز سره ګویا دی] وَهُوَ قَوْلُ النَّبِيِّ ﷺ [1] او هغه د نبي ﷺ دا فرمان دی «إِنَّ اللهَ تَعَالَى تَصَدَّقَ عَلَيْكُمْ بِثُلُثِ أَمْوَالِكُمْ فِي آخِرِ أَعْمَارِكُمْ الله تعالیٰ پر تاسو په آخري عمرونو کې ستاسې د مالونو درېیمه حصه صدقه کړې ده زِيَادَةً لَكُمْ فِي أَعْمَالِكُمْ تَضَعُونَهَا حَيْثُ شِئْتُمْ» ستاسې په اعمالو کې د زیاتوب [اضافې] په غرض سره چې تاسې هغه [مالونه] ولګوئ

[1] تخریج: أخرجه ابن ماجة في كتاب الوصايا، باب الوصية بالثلث، حديث رقم: ۲۷۰۹.

چیري چي ستاسي خوښه وي أَوْ قَالَ: «حَيْثُ أَحْبَبْتُمْ» او یا نبي ﷺ فرمایلي دي: چیري چي تاسي وغواړئ [یعني په یوه روایت کي د "شئتم" پر ځای "أحببتم" ذکر سوي دي] وَعَلَيْهِ إِجْمَاعُ الْأُمَّةِ او د وصیت پر جواز اجماع [امم] منعقد سوی ده ثُمَّ تَصِحُّ لِلْأَجْنَبِيِّ فِي الثُّلُثِ مِنْ غَيْرِ إِجَازَةِ الْوَرَثَةِ بیا د اجنبي لپاره د مال په درېیمه حصه کي د وارثانو له اجازې څخه بغیر وصیت صحیح کیږي لِمَا رَوَيْنَا د هغه حدیث په وجه کوم چي [اوس] موږ روایت کړی وَسَنُبَيِّنُ مَا هُوَ الْأَفْضَلُ فِيهِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى او موږ به په وصیت کي افضله طریقه ان شاء الله تعالیٰ ژر بیان کړو.

اللغات: ﴿التجهیز﴾ د تفعیل د باب مصدر دی. د دې باب خپله معنیٰ ده: یو شی تیارول. چمتو کول. تجهیز المیت: مړي د ښخولو لپاره تیارول (یعني غسل او کفن ورکول). قدر التجهیز: مراد څني د غسل کفن او دفن خرچ دی (شرح). ﴿أحببتم﴾ د افعال له باب څخه د جمع مذکر مخاطب صیغه ده: محبت او مینه کول. رغبت کول.

تشریح: په مخکنۍ مسئله کي چي د قیاس په دلیل کي دا ویل سوي دي چي تر مرګ وروسته د موصي (مړي) ملکیت ختمیږي. دا موږ نه تسلیموو: ځکه تر مرګ وروسته د کفن دفن خرچ او قرض دا تر ټولو مخکي د مړي له مال څخه اداء کول کیږي. نو که چیري د مړي ملکیت ختمېدای او باقي نه پاتېدای. نو دا اُمور به هم د هغه په مال سره نه ترسره کېدلای. لهذا څرنګه چي د دې اُمورو په ترسره کولو کي د مړي ملکیت باقي پاتیږي. همداسي به د مړي د وصیت په جواز او نافذولو کي هم د هغه ملکیت باقي شمېرل کیږي او د هغه وصیت به جائز او صحیح وي.

له دې څخه علاوه د وصیت د جواز بل واضح دلیل په قرآن او حدیث سره د هغه ثابتېدل دي. په قرآن کریم کي د هغه دلیل دا آیت دی: ﴿فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ﴾.

همدارنګه په حدیث سره د وصیت د جواز دلیل دا دی چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: "إن الله تصدق علیکم بثلث أموالکم في آخر أعمارکم زیادةً لکم في أعمالکم تضعونها حیث شئتم" (یعني الله تعالیٰ پر تاسو په آخري عمرونو کي ستاسي د مالونو درېیمه حصې صدقه کړې ده. د دې لپاره چي د دې مالونو په برکت ستاسي په اعمالو کي اضافه وسي او چي تاسو چیري وغواړئ دا مالونه خرچ کړئ!). او په آخري عمر کي د درېیمي حصې (ثلث المال) وصیت کول کیږي. له دې څخه معلومه سوه چي د وصیت جواز

په شریعت کي موجود او ثابت دی. صاحب د هدایې رَحِمَہُ الله فرمايي چي په يوه روايت کي د "حيث شئتم" پر ځای "حيث أحببتم" ذکر سوي دي.

او بل د وصيت پر جواز د اُمت اجماع هم ده. لهذا کله چي په کتابُ الله او په سنت رسول الله او په اجماع ټولو سره د وصيت جواز ثابت دی. نو بيا که قياس زرځله د هغه انکار وکړي. په هر صورت کي به هغه ثابت او جائز پاتيږي.

ثم تصح إلخ: د دې حاصل دا دی چي د مال په درېيمه حصه (ثلث المال) کي د وصيت کولو لپاره د وارثانو اجازه پکار نه ده بلکي له څه اجازې بغير دا وصيت جائز دی، په دې شرط کله چي وصيت د وارث لپاره نه وي. بلکي د اجنبي کس لپاره وي.

فایده: وصيت پر څلور قسمه دی:

① ... واجب وصيت. لکه د خپل زکاة او کفاراتو د اداء کولو په حق کي وصيت کول.

② ... مکروه وصيت. لکه د فاسق و فاجر لپاره وصيت کول.

③ ... مباح وصيت. لکه د مالدار لپاره وصيت کول.

④ ... او له پورتني قسمونو څخه بغير په نورو کي که څه مُبطل عارض نه وي، نو وصيت مستحب دی. د تفصيل لپاره و ګورئ! (شامي ج: ۵. ص: ۴۱۵)

د وصيت حدّ (مړ کېدونکی کس د يو چا لپاره د خپل څومره مال وصيت کولای سي؟)

قَالَ: وَلَا تَجُوزُ بِمَا زَادَ عَلَى الثُّلُثِ فرمايي: او وصيت جائز نه دی په هغه مقدار سره کوم چي تر درېيمه حصه زيات وي لِقَوْلِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] فِي حَدِيثِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځکه نبي کريم ﷺ د سعد بني ابي ووقاص رضي الله عنه په حديث کي فرمايلي دي «الثُّلُثَ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ» درېيمه حصه [يعني ته د مال د درېيمي حصې وصيت وکړه!] او درېيمه حصه [هم] زياته ده بَعْدَ مَا نَفَى وَصِيَّتَهُ بِالْكُلِّ وَالنِّصْفِ [دا يې وفرمايل] وروسته تر دې چي نبي ﷺ د ټوله مال او نيم مال د وصيت نفي وکړې وَلِأَنَّهُ حَقُّ الْوَرَثَةِ او ځکه چي [د مورث] مال د وارثانو حق دی وَهٰذَا لِأَنَّهُ انْعَقَدَ سَبَبُ الزَّوَالِ إِلَيْهِمْ او دا ځکه چي د زوال سبب د وارثانو طرف ته منعقد سوی دی وَهُوَ اسْتِغْنَاؤُهُ عَنِ الْمَالِ او هغه

[سبب] له مال څخه د مورث [موصي] مستغني کېدل دي فَأَوْجَبَ تَعَلُّقَ حَقِّهِمْ بِهِ لهذا دا [د مورث مستغني کېدل] به د دې مال سره د هغو د حق متعلق کېدل ثابت کړي إِلَّا أَنَّ الشَّرْعَ لَمْ يُظْهِرْهُ فِي حَقِّ الْأَجَانِبِ بِقَدْرِ الثُّلُثِ لیکن شریعت د دریمي حصې په مقدار کې د اجنبي کسانو په حق کې دا استغناء نه ده ښکاره کړې لِيَتَدَارَكَ تَقْصِيرَهُ د دې لپاره چې موصي د هغه خپل کوتاهي [او لا پروايي] تلافي وکړی سي عَلَى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چې [مخکي] موږ بیان کړه وَأَظْهَرَهُ فِي حَقِّ الْوَرَثَةِ او شریعت د وارثانو په حق کې [په دې وجه] دا استغناء ښکاره کړې ده لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّهُ لَا يَتَصَدَّقُ بِهِ عَلَيْهِمْ تَحَرُّزًا عَمَّا يَتَّفِقُ مِنَ الْإِيثَارِ ځکه ښکاره همدا ده چې مورث [موصي] به پر خپلو وارثانو د مال دریمه حصه نه صدقه کوي له هغه ایثار [ترجیح ورکولو] څخه د بچ کېدلو په خاطر کوم چې اتفاقاً واقع کېږي [ځکه که هغه پر یوه وارث د مال دریمه حصه صدقه کړي نو دغه وارث ته پر نورو وارثانو ترجیح ورکول لازمیږي او دا د هغو د خوربدلو سبب ګرځي] عَلَى مَا نُبَيِّنُهُ د هغه تفصیل مطابق چې موږ به یې [څه وروسته] بیان کړو [په دې الفاظو سره: ولأنه يتأذى البعض بإيثار البعض. ففي تجويزه قطيعة الرحم] وَقَدْ جَاءَ فِي الْحَدِيثِ او په حدیث کې راغلي دي «الْحَيْفُ [2] فِي الْوَصِيَّةِ مِنْ أَكْبَرِ الْكَبَائِرِ» چې په وصیت کې ظلم کول له لویو [سترو] ګناهونو څخه لویه ګناه ده وَفَسَّرُوهُ بِالزِّيَادَةِ عَلَى الثُّلُثِ وَبِالْوَصِيَّةِ لِلْوَارِثِ او فقهاوو د حیف تفسیر پر ثلث په زیاتوب کولو او د وارث لپاره په وصیت کولو سره کړی دی [یعني حیف دا دی چې انسان د خپل مال له دریمي حصې څخه د زیات مقدار وصیت وکړي یا د خپل وارث لپاره وصیت وکړي].

اللغات: ﴿ثلث﴾ دریمه حصه. ﴿إيثار﴾ د افعال د باب مصدر دی: ترجیح ورکول. ﴿استغناء﴾ مستغني کېدل (یو شي ته احتیاج نه لرل)، مالداري غوښتل. ﴿حَيف﴾ (بفتح الحاء) ظلم، نا انصافي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې مورث او مړ کېدونکی کس له خپل مال څخه صرف د دریمي حصې وصیت کولای سي او هغه ته دا جائز نه دي چې د خپل مال له دریمي حصې څخه د زیات مقدار وصیت وکړي؛ په دې هکله دلیل د حضرت سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه دا حدیث دی: "قلتُ يا رسول الله (صلى الله عليه وسلم)! إنّ لي مالاً كثيرًا وإنّما ترثني ابنتي أفأوصي بمالي كله. قال لا. قال فالثلثين. قال لا. قال فبالثلث. قال الثلث والثلث كثير إلخ" یعني حضرت سعد رضي الله عنه فرمايي چې ما

[2] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى، كتاب الوصايا، حديث رقم: ١٢٥٨٦، ١٢٥٨٧.

رسول الله ﷺ ته وویل : زما سره ډېر مال دی او صرف زما یوه لور زما وارثه (میراث خوره) ده. نو آیا زه د خپل ټوله مال وصیت وکړم. لنډه دا چې نبي کریم ﷺ په آخر کې ورته وفرمایل چې ته د خپل مال د درېیمې حصې وصیت کولای سې او درېیمه حصه زیاته ده. له دې څخه معلومه سوه چې مورث صرف د مال د درېیمې حصې وصیت کولای سي او له هغه څخه د زیات مقدار وصیت نه سي کولای. ځکه نبي کریم ﷺ د حضرت سعد رضی الله عنه په حق کې د ټوله مال او دوو ثلثو او د نصف مال د وصیت نفي کړې دي.

لأنه حق الورثة إلخ: له درېیمې حصې څخه د زائد مقدار د وصیت نه جائز کېدلو عقلي دلیل دا دی چې کله مورث او موصي مرګ ته نژدې سي نو د هغه د مال سره د وارثانو حق متعلق کېږي او مُوصي له مال څخه مستغني کېږي او د دې استغنا تقاضا دا ده چې د ده په مال کې په هیڅ مقدار سره هم د ده وصیت جائز نه سي او د هر مقدار په حق کې دا استغناء ښکاره سي. خو څرنګه چې شریعت د اجانبو په حق کې په ثلث المال کې دا استغناء نه ده ښکاره کړې د دې لپاره چې مورث د هغه په ذریعه د خپلې غلطۍ او کمۍ تلافي وکړی سي. نو ځکه په ثلث کې خو هغه ته د وصیت اجازه ورکول کېږي او له هغه څخه بغیر د نورو اجازه نه ورکول کېږي. نو ځکه نه له ثلث المال څخه د زائد مقدار وصیت جائز دی او نه د خپل وارث لپاره وصیت جائز دی؛ ځکه که د وارث لپاره وصیت جائز وګرځول سي نو پاته وارثانو ته تکیف ورکول لازمېږي همدارنګه د هغوی دل آزاري او قطع رحمي لازمېږي. حال دا چې قطع رحمي جائز نه ده.

وقد جاء في الحديث إلخ: فرمایي چې له ثلث المال څخه د زائد مقدار د وصیت نه جائز کېدلو او د وارث لپاره د هغه نه جائز کېدلو دلیل دا حدیث هم دی "الحيف فی الوصية من أكبر الكبائر" یعني په وصیت کې ظلم کول له کبیره ګناهونو څخه یوه ګناه او د کبائرو په فهرس کې داخله ده. او په وصیت کې ظلم همدا دی چې انسان دیو چا لپاره د خپل مال له درېیمې حصې څخه د زائد وصیت وکړي یا د وارث لپاره وصیت وکړي.

له درېیمې حصې څخه د زیات مقدار وصیت د وارثانو پر اجازه موقوف دی

قَالَ: إِلَّا أَنْ يُجِيزَهَا الْوَرَثَةُ بَعْدَ مَوْتِهِ وَهُمْ كِبَارٌ فرمایي: مګر دا چې وارثان د مورث [موصي] تر مرګ وروسته د هغه [له ثلث څخه د زیات مقدار] اجازه ورکړي حال دا چې هغوی لویان [بالغان] وي لِأَنَّ الِامْتِنَاعَ لِحَقِّهِمْ ځکه [د وصیت] ممتنع کول د وارثانو د حق په وجه دي وَهُمْ أَسْقَطُوهُ او دوی [په اجازه سره] خپل حق ساقط کړی.

اللغات: ﴿يجيز﴾ د افعال د باب مضارع ده: اجازه ورکول. جائز ګرځول. نافذول.

تشریح: **مسئله:** دا ده چې د مورث لپاره دا جائز نه دي چې د خپل مال له دريمې حصې څخه د زائد مقدار وصیت وکړي. لیکن که هغه داسې وکړي او بیا تر مرګ وروسته ذ هغه وارثان د وصیت اجازه ورکړي او په هغه راضي سي او وارثان بالغان وي. نو بیا جائز دي. ځکه په زائد مقدار کې د وصیت ممتنع کېدل د وارثانو د حق په وجه وه او وارثانو په اجازه ورکولو او راضي کېدلو سره خپل حق ساقط کړی. نو ځکه اوس د وصیت په جواز کې هیڅ شبهه نسته.

له دريمې حصې څخه په زيات مقدار کې د وارثانو د اجازې وخت او تفصيل

وَلَا مُعْتَبَرَ بِإِجَازَتِهِمْ فِيْ حَالِ حَيَاتِهِ او د مورث [موصي] په ژوند کې د وارثانو اجازې لره اعتبار نسته لِأَنَّهَا قَبْلَ ثُبُوْتِ الْحَقِّ ځکه هغه [د موصي په ژوند کې اجازه] له حق ثابتېدلو څخه مخکې [اجازه] ده إِذِ الْحَقُّ يَثْبُتُ عِنْدَ الْمَوْتِ ځکه [د وارثانو] حق [د موصي] د مرګ په وخت کې ثابتېږي فَكَانَ لَهُمْ أَنْ يَرُدُّوْهُ بَعْدَ وَفَاتِهِ نو ځکه وارثانو ته به دا حق وي چې د مورث [موصي] تر مرګ وروسته دا اجازه رد کړي بِخِلَافِ مَا بَعْدَ الْمَوْتِ په خلاف تر مرګ وروسته د اجازې لِأَنَّهُ بَعْدَ ثُبُوْتِ الْحَقِّ ځکه دا اجازه له حق ثابتېدلو څخه وروسته [اجازه] ده فَلَيْسَ لَهُمْ أَنْ يَرْجِعُوْا عَنْهُ نو ځکه وارثانو ته به له هغه څخه د رجوع کولو حق نه وي لِأَنَّ السَّاقِطَ مُتَلَاشٍ ځکه ساقط سوی شی معدوم دی غَايَةُ الْأَمْرِ أَنَّهُ يَسْتَنِدُ عِنْدَ الْإِجَازَةِ آخرا دا [سوال کېدلای سي] چې د وارثانو حق د اجازې په وخت کې مستند کېږي [یعني د هغو حق د موصي د مرضُ الموت وخت ته مستند او منسوب کېږي او د استناد په ګوته د قبل الموت والا اجازې په وخت کې ثابتېږي] لٰكِنَّ الْاِسْتِنَادَ يَظْهَرُ فِيْ حَقِّ الْقَائِمِ لیکن [جواب دا دی چې] استناد د موجود شي په حق کې ښکاره کېږي وَهٰذَا قَدْ مَضٰى وَتَلَاشٰى او دا [قبل الموت اجازه] خو تېره سوې او معدوم سوې ده وَلِأَنَّ الْحَقِيْقَةَ تَثْبُتُ عِنْدَ الْمَوْتِ او ځکه چې حقیقت [ملک حقیقي] د مرګ په وخت کې ثابتېږي وَقَبْلَهُ يَثْبُتُ مُجَرَّدُ الْحَقِّ او تر مرګ مخکې محض حق [حقِ ملک] ثابتېږي فَلَوْ اسْتَنَدَ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ نو که په هر اعتبار سره استناد ثابت سي يَنْقَلِبُ حَقِيْقَةً قَبْلَهُ نو دا حق [حق ملک] به تر مرګ مخکې په حقیقت [ملک حقیقي] سره بدل سي وَالرِّضَا بِبُطْلَانِ الْحَقِّ لَا يَكُوْنُ رِضًا بِبُطْلَانِ الْحَقِيْقَةِ او د حق په باطلېدلو راضي کېدل د حقیقیت [ملک حقیقي] په باطلېدلو راضي کېدل نه دي.

اللغات: ﴿متلاش﴾ د تفاعل د باب فاعل دی: لا شی، ختم او معدوم. ﴿غایـة الأمـر﴾ انتهائي امر. آخري خبره (یعني پـه آخر کي کـم از کـم دا خبره او اعتراض کېدای سي). ﴿یستند﴾ د استفعال د باب مضارع ده. اِسۡتَنَدَ یَسۡتَنِدُ اِسۡتِنَادًا: (د یو شي او یـو حالت وطرف تـه) تکیـه کـول، منسوب کېدل. استصحاب الحال المتأخر إلى الزمن المتقدم. ﴿ینقلب﴾ د انفعال د باب مضارع ده: اوښتل، بدلېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د مال لـه دریـیمي حصې څخه پـه زائـد مقدار کـي د وارثانو اجازه پـه هغه صورت کي معتبره او جائز ده کله چي دوی د مورث تـر مرګ وروسته دا اجـازه ورکـړې وي. لېکن کـه وارثانو د مورث پـه ژوند کـي اجازه ورکړې وي. نو بیا د دوی اجازې لـره اعتبـار نسته: ځکـه د مورث پـه مال کـي د دوی حق د مورث تـر مرګ وروسـته ثابتیږي نو د مرګ لـه وخـت څخـه مخکي اجازه ورکـول لـه حق ثابتېدلو څخه مخکي اجازه ورکـول دي. نو ځکـه لـه قبـل الموت والا اجازې څخه وارثانو تـه د رجوع کولو حق سته. او لـه بعد الموت والا اجازې څخه وارثانو تـه د رجـوع کولو حق نسته: ځکه تر مرګ وروسته د مورث د مال سره د وارثانو حق متعلق سوی دی او اوس هغـو خپل حق پـه اجازه ورکولو سره ساقط کړی دی او ساقط سوی شی معدوم ګرځي، نو ځکـه لـه هغـه څخه به د رجوع کولو حق ورتـه نـه وي.

غایة الأمر إلخ: دا د یو مُقدر سوال جواب دی، سوال دا دی چي څرنګه بعد الموت والا اجازه معتبره ده، همداسي قبل الموت والا اجازه هم معتبره کېدل پکار دي او وارثانو تـه لـه هغـه څخه هـم د رجوع حق نـه حاصلېدل پکار دي: ځکه د مورث (موصي میت) پـه مال کـي چي وارثانو تـه کـوم حق حاصـل دی هغـه د مورث د مرض الموت لـه وخت څخه ورتـه حاصل دی او هغـه وخت تـه مستند (منسوب) دی. نو کله چي د استناد پـه توګه د وارثانو د اجازې پـه وخت کي (قبل الموت) د وارثانو حق ثابت دی. نو بیـا د دوی اجازه معتبره کېده پکار دي.

د جواب حاصل دا دی چي کـه څـه هم د وارثانو حق د مورث (موصي) د مرض لـه وخت څخه د هغه د مال سره متعلق کیږي لېکن یو خو هغو تـه د تصرف اختیار نسته او دویـم دا چي د استناد لپاره د هغه شي بقاء او موجود والی ضروري دی کوم چي د استناد پـه توګه ثابتول کیږي او هغه اجازه ده. حال دا چي کومه اجازه قبل الموت ورکول سوې وه، اوس هغه باقي او قایمه نه ده (یا پـه بله وینا دا چي استناد پـه موجود حق کي ښکاره کیږي او قبل الموت والا اجازه تر مرګ وروسته ختم او معدوم سوې ده لهذا پـه هغه کي به استناد نه ښکاره کیږي)، نو ځکه دا اجازه د استناد پـه طریقه سره هم نه سي ثابتېدلای.

ولأن الحقیقة إلخ: دویـم جواب او دلیـل دا دی چي د مورث تـر مرګ مخکي د وارثانو لپاره صـرف حق ملک (د ملکیت حق) ثابتیږي او پاتـه سو ملکِ حقیقي (حقیقي ملکیت) نو هغـه د مورث د مرګ پـه

وخت کي ثابتیږي. اوس که تاسي د استناد په توګه د مورث تر مرګ مخکي اجازه ثابته کړئ، نو د دي مطلب به دا وي چي د مورث تر مرګ مخکي دي حقِ ملک په ملکِ حقیقي سره بدل سي (یا په بله وینا دا چي تر مرګ مخکي د استناد په توګه که اجازه ثابته کړی سي. نو بعد الموت ثابتېدونکی شی به قبل الموت ثابت سي او حقِ ملک به په ملکِ حقیقي سره بدلېدل لازم سي) حالانکي دا باطل دي.

والرضا ببطلان الحق إلخ: دا په اصل کي د دې سوال جواب دی چي اجازه ورکول د وارثانو د خپل حق په ساقطولو راضي کېدل دي نو دا داسي سو لکه نور إسقاطات او په هغوی کي د رجوع حق نسته، نو ځکه په قبل الموت والا اجازه کي هم وارثانو ته د رجوع حق نه حاصلېدل پکار دي؟ (عنایه). د جواب حاصل دا دی چي د مورث تر مرګ مخکي په اجازه ورکولو سره وارثان صرف د حقِ ملک په باطلولو راضي سوي دي، نه د ملکِ حقیقي، او د حقِ ملک بطلان د ملکِ حقیقي بطلان لره مستلزم نه دی (یعني د حقِ ملک په باطلېدلو سره ملکِ حقیقي نه باطلیږي)، او کله چي ملکِ حقیقي نه دی باطل سوی، نو ځکه هغو ته به د رجوع حق حاصل وي.

د وارث لپاره د وصیت کولو شرعي حیثیت او تفصیل

وَكَذَا إِنْ كَانَتِ الْوَصِيَّةُ لِلْوَارِثِ او همدارنګه که وصیت د وارث لپاره وي وَأَجَازَهُ الْبَقِيَّةُ او پاته وارثان اجازه ورکړي فَحُكْمُهُ مَا ذَكَرْنَاهُ نو د دې حکم هاغه دی کوم چي موږ ذکر کړی وَكُلُّ مَا جَازَ بِإِجَازَةِ الْوَارِثِ او هر هغه تصرف کوم چي د وارث په اجازه سره جائز سي يَتَمَلَّكُهُ الْمُجَازُ لَهُ مِنْ قِبَلِ الْمُوصِي عِنْدَنَا نو زموږ په نیز مجاز لهٗ [موصیٰ لهٗ] د موصي له طرفه د هغه مالک کیږي وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ مِنْ قِبَلِ الْوَارِثِ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز د وارث له طرفه وَالصَّحِيحُ قَوْلُنَا او صحیح زموږ قول دی لِأَنَّ السَّبَبَ صَدَرَ مِنَ الْمُوصِي ځکه چي سبب د موصي له طرفه صادر سوی دی وَالْإِجَازَةُ رَفْعُ الْمَانِعِ او اجازه خو د مانع لیري کول دي وَلَيْسَ مِنْ شَرْطِهِ الْقَبْضُ او د هغه [رفع المانع] شرط قبضه نه ده وَصَارَ كَالْمُرْتَهِنِ إِذَا أَجَازَ بَيْعَ الرَّاهِنِ او دا داسي سو لکه مرتهن کله چي هغه د راهن د بیع اجازه ورکړي.

اللغات: ﴿يتملك﴾ د تفعل د باب مضارع ده: مالک کېدل. مالک جوړېدل. ﴿مُجاز له﴾ د افعال د باب مفعول دی: د چا لپاره چي اجازه ورکول سوي وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که مورث د يو وارث لپاره وصيت وکړي او پاته وارثان اجازه ورکړي او په هغه راضي سي. نو هم مخکینی حکم دی. يعنې د هغو اجازه د مورث (موصي) تر مرګ وروسته معتبره ده. نه مخکې.

اوس دلته سوال دا دی چې موصیٰ لهٗ (مجاز لهٗ) کوم چې د موصیٰ بهٖ (وصيت کړی سوي مال) مالک سوی دی آیا هغه د مُوصِی له طرفه د دې مالک جوړيږي او که د وارث له طرفه؟. نو فرمايي چې هر هغه شی کوم چې د وارث په اجازه سره جائز کيږي. په هغه کې زموږ په نېز حکم دا دی چې موصیٰ لهٗ (مجاز لهٗ) د مُوصِي له طرفه د هغه مالک کيږي او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز موصیٰ لهٗ د وارث له طرفه د هغه مالک کيږي. د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دليل حاصل دا دی چې د مورث په نفسِ مرګ سره وارث د دوه ثلثه مال مالک کيږي نو د مال ملکيت د وارث لپاره ثابتيږي او د وارث په ردولو سره ملکيت نه رديږي. نو د وارث اجازه ورکول به بلا عوضه له خپل ملکيت څخه د مال ايستل وي (فيكون إجازته يكون إخراجاً عن ملكه بغير عوض) او دا هَبه ده چې د هغه لپاره قبضه شرط ده (ځکه هبه په قبضه سره پوره کيږي) چې مال به يې په قبضه او ملکيت کې وي.

لېکن صحيح قول زموږ دی چې موصیٰ لهٗ د موصي له طرفه د موصیٰ بهٖ مالک کيږي: زموږ دليل دا دی چې د ملکيت سبب (يعني وصيت) د موصي له طرفه صادر سوی دی (ځکه وصيت هغه کړی دی). نو ځکه د موصیٰ لهٗ ملکيت به هم د موصي له طرفه ثابتيږي.

والإجازة رفع المانع إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله اجازه له ملکيت څخه إخراج ګرځولی دی (چې د وارث اجازه ورکول بلا عوضه له خپل ملکيت څخه د مال ايستل دي او دا هبه ده)، نو د دې په جواب کې فرمايي چې اجازه له ملکيت څخه د وتلو سبب نه ده، بلکې هغه د مانع رفع کول (د بنديز لیري کول) دي، او د هغه لپاره قبضه شرط نه ده.

لهذا دا خبره ثابت سوه چې د موصیٰ لهٗ ملکيت د موصي له طرفه ثابتيږي او هغه د موصي له طرفه مالک کيږي.

او د دې مثال داسې دی لکه راهن چې مرهون شی خرڅ کړي او مرتهن د دې بيع اجازه ورکړي. نو بيع د راهن له طرفه ثابتيږي، نه د مرتهن له طرفه. يعنې د مشتري ملکيت د راهن له طرفه ثابتيږي (فإجازة المرتهن رفع المانع).

د قاتل لپاره د وصيت کولو حکم

قَالَ: وَلَا تَجُوزُ لِلْقَاتِلِ او د قتل کونکي لپاره وصيت جائز نه دی عَامِدًا كَانَ أَوْ خَاطِئًا برابره ده هغه عمداً قتل کونکی وي او که خطاءً بَعْدَ أَنْ كَانَ مُبَاشِرًا وروسته تر دي چي هغه مباشر [خپله قتل کونکی] وي [او د قتل مُسبب نه وي] لِقَوْلِهِ الطَّيْلا [1]: «لَا وَصِيَّةَ لِلْقَاتِلِ» د نبي ﷺ د دې فرمان په وجه: چي د قاتل لپاره وصيت نسته وَلِأَنَّهُ اِسْتَعْجَلَ مَا أَخَّرَهُ اللهُ تَعَالَى او ځکه چي قاتل د هغه شي ترلاسه کول ژر غوښتي دي [تلوار يې پکښي کړی دی] کوم چي الله تعالیٰ وروسته کړی دی فَيُحْرَمُ الْوَصِيَّةَ نو ځکه له وصيت څخه به محرومول کيږي كَمَا يُحْرَمُ الْمِيرَاثَ لکه څرنګه چي قال له ميراث څخه محرومول کيږي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَجُوزُ لِلْقَاتِلِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي د قاتل لپاره وصيت جائز دی وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا أَوْصَى لِرَجُلٍ او پر همدغه اختلاف دي کله چي يو چا د يو سړي لپاره وصيت کړی وي ثُمَّ إِنَّهُ قَتَلَ الْمُوصِيَ بيا دا سړي هغه وصيت کونکی قتل کړی وي تَبْطُلُ الْوَصِيَّةُ عِنْدَنَا نو زموږ په نيز وصيت باطليږي وَعِنْدَهُ لَا تَبْطُلُ او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز وصيت نه باطليږي وَالْحُجَّةُ عَلَيْهِ فِي الْفَصْلَيْنِ مَا قُلْنَاهُ او په دواړو صورتونو کي د امام شافعي په خلاف حجت هغه دليل دی کوم چي موږ ذکر کړی.

اللغات: ﴿مباشر﴾ د مفاعلي د باب فاعل دی: مرتکب، په خپله عمل کونکی. ﴿استعجل﴾ د استفعال د باب ماضي ده: په تلوار سره د يو شي طلب کول (تلوار پکښي کول)، ژر د يو شي غوښتنه کول. ﴿يُحرَم﴾ د ضرب او سمع له باب څخه مضارع مجهوله ده: محروم کول (محرومول). (مصباح اللغات)

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي زموږ په نيز د قاتل لپاره وصيت جائز نه دی. په دې شرط چي هغه قاتل مباشر وي (يعني په خپل لاس يې قتل کړی وي او د قتل سبب نه وي جوړ سوی ځکه که مباشر نه وي نو د هغه سره حرمان الميراث او د وصيت بطلان نه متعلق کيږي. نو مباشر کېدل شرط دي). برابره ده قاتل عمداً قتل کړی وي او که خطاءً. په هر صورت کي زموږ په نيز د هغه لپاره وصيت جائز نه دی: ځکه په حديث مبارک کي په واضحه توګه ذکر سوي دي چي "لا وصيّة للقاتل" (د قاتل لپاره وصيت جائز نه دی).

[1] القول الراجح: أخرجه دار قطني في السنن، كتاب في الأقضية، حديث رقم: ۴۵۲۵، ۴۵۲۶. والبيهقي في كتاب السنن الكبرى، باب ما جاء في الوصية للقاتل، حديث رقم: ۱۲۶۵۲.

دویم دلیل دا دی چي قاتل د خپل موصي په قتلولو سره د وصیت مال ژر ترلاسه کول غواړي حال دا چي د شریعت حکم او فیصله دا ده چي دا مال د موصي تر مرګ وروسته هغه ته حاصلیږي. لهذا د موصي په قتلولو سره هغه د شرعي حکم صراحتاً مخالفت کوي، لهذا په دې حواله سره هم هغه به له وصیت څخه محروموول کیږي، لکه کله چي قاتل د مورث (مړي) وارث وي، نو هغه له میراث څخه هم د همدې دلیل پر بناء محروموول کیږي.

وعلی هذا الخلاف إلخ: فرمایي که یو چا (مثلاً حامد) له مخکي څخه د یو سړي (زید) لپاره وصیت کړی وي بیا دا سړی (زید) هغه موصي (حامد) قتل کړي. نو هم وصیت جائز نه پاتیږي او باطلیږي: ځکه د قاتل لپاره نه ابتداءً وصیت جائز نه دی او نه بقاءً او انتهاءً.

دا زموږ مسلک دی او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په دواړو صورتونو کي وصیت جائز دی: د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي قاتل له مقتول څخه اجنبي دی، لهذا څرنګه چي د نورو اجانبو لپاره وصیت جائز دی، همداسي د قاتل لپاره هم وصیت جائز دی، لېکن زموږ پېش کړه حدیث "لا وصية للقاتل" د امام شافعي رَحِمَهُ الله په خلاف حجت دی؛ ځکه په دې حدیث کي مطلقاً د قاتل لپاره د وصیت نفي سوې دي او د هغه د اجنبي یا قریب کېدلو هیڅ ذکر پکښي نسته، نو ځکه علی الاطلاق به د قاتل لپاره وصیت جائز نه وي، برابره ده هغه اجنبي وي او که وارث او قریب وي.

په پورتني مسئله کي د وارثانو د اجازت حکم

وَلَوْأَجَازَتْهَاالْوَرَثَةُ فرمایي: او که وارثان د وصیت اجازه ورکړي جَازَعِنْدَأَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز جائز دي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ ❁: لَاتَجُوْزُ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چي جائز نه دي لِأَنَّ جِنَايَتَهُ بَاقِيَةٌ ځکه چي د قاتل جنایت [تر اجازې وروسته هم] باقي پاته دی وَالِامْتِنَاعُ لِأَجْلِهَا حال دا چي [د وصیت] ممتنع کېدل د جنایت په وجه دي وَلَهُمَا: أَنَّ الِامْتِنَاعَ لِحَقِّ الْوَرَثَةِ او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چي [د وصیت] ممتنع کېدل د وارثانو د حق په وجه دي لِأَنَّ نَفْعَ بُطْلَانِهَا يَعُوْدُإِلَيْهِمْ ځکه د وصیت د باطلېدلو نفع وارثانو وطرف ته ګرځي كَنَفْعِ

❁ القول الراجح: قول الطرفين، كما قال العلامة ابراهيم الحلبي رَحِمَهُ الله: ولا لقاتله مباشرةً ولا لوارثه إلّا بإجازة الورثة (ملتقى الأبحر ج:۴، ص:۴۱۸)، وهكذا في الهندية (ج:۶، ص:۹۱). [القول الراجح ج:۲، ص:۲۷۲]

بُطْلَانِ الْمِيْرَاثِ لکه د میراث د باطلېدلو نفع [چې د وارثانو وطرف ته ګرځي] وَلِأَنَّهُمْ لَا يَرْضَوْنَهَا لِلْقَاتِلِ او ځکه چې وارثان د قاتل لپاره په وصیت کولو نه راضي کیږي [چې مورث د قاتل لپاره وصیت وکړي] كَمَا لَا يَرْضَوْنَهَا لِأَحَدِهِمْ لکه څرنګه چې دوی د خپل یوه [وارث] لپاره په وصیت کولو نه راضي کیږي.

اللغات: ﴿امتناع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: منع کېدل، ممانعت. ﴿یرضون﴾ د سمع له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صیغه ده: راضي کېدل، خوښ کېدل.

تشریح: **صورت د مسئلي**: دا دی چې د قاتل لپاره وصیت جائز نه دی. لېکن که وارثان په دې راضي وي او اجازه ورکړي، نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د قاتل لپاره وصیت جائز کیږي. لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د وارثانو د اجازې باوجود هم د قاتل لپاره وصیت نه جائز کیږي: د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې د قاتل لپاره د وصیت نه جائز کېدل د هغه د هغه د جنایت په وجه دي او د وارثانو له اجازې او رضا څخه وروسته هم د هغه جنایت باقي دی. لهذا کله چې بعد الاجازه هم جنایت باقي دی، نو ځکه بعد الاجازه به هم د قاتل لپاره وصیت جائز نه وي.

د طرفینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې د قاتل لپاره د وصیت متمنع کېدل د وارثانو د حق په وجه دي: ځکه د قاتل لپاره د وصیت باطلېدلو فایده وارثانو ته حاصلیږي. لکه څرنګه چې د قاتل لپاره د میراث باطلېدلو فایده وارثانو ته حاصلیږي، او ځکه چې وارثان د قاتل لپاره په وصیت راضي نه وي لکه څرنګه چې دوی د خپل یوه وارث لپاره په وصیت راضي نه وي (چې مورث له دوی څخه صرف د یوه وارث لپاره وصیت وکړي لکه مخکې چې ذکر سوه)، لېکن که دوی د هغه یوه وارث لپاره د وصیت اجازه ورکړي او په راضي سي نو وصیت جائز کیږي، نو همداسې دلته هم که وارثان د قاتل لپاره د وصیت اجازه ورکړي، نو وصیت به جائز کیږي او قاتل به د هغه مستحق کیږي.

د خپل وارث لپاره د وصیت نه جائز کېدلو په هکله نقلي او عقلي دلائل

قَالَ: وَلَا تَجُوْزُ لِوَارِثِهٖ فرمایي: او د خپل وارث لپاره وصیت جائز نه دی لِقَوْلِهِ الطَّيْلاً د نبي ﷺ د فرمان په وجه «اِنَّ اللهَ تَعَالٰی أَعْطٰی ❶ كُلَّ ذِیْ حَقٍّ حَقَّهٗ، أَلَا لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ» بېشکه الله تعالیٰ هر حق والا ته د هغه حق ورکړی دی، خبردار! د وارث لپاره وصیت نسته وَلِأَنَّهٗ يَتَأَذَّی الْبَعْضُ بِإِيْثَارِ الْبَعْضِ او ځکه چي بعضو ته د ترجیح ورکولو په وجه بعضي په تکلیف کیږي فَفِیْ تَجْوِيْزِهٖ قَطِيْعَةُ الرَّحِمِ نو د هغه په جائز ګرځولو کي قطع رحمي سته وَلِأَنَّهٗ حَيْفٌ بِالْحَدِيْثِ الَّذِیْ رَوَيْنَاهُ او ځکه چي هغه [د وارث لپاره وصیت کول] ظلم دی د هغه حدیث پر بناء کوم چي موږ روایت کړی وَيُعْتَبَرُ كَوْنُهٗ وَارِثًا أَوْ غَيْرَ وَارِثٍ وَقْتَ الْمَوْتِ او د هغه [موصیٰ لهٗ] د وارث کېدلو یا نه وارث کېدلو اعتبار به [د مورث (موصي)] د مرګ په وخت کي کیږي لَا وَقْتَ الْوَصِيَّةِ نه [د مورث] د وصیت کولو په وخت کي لِأَنَّهٗ تَمْلِيْكٌ مُضَافٌ إِلٰی مَا بَعْدَ الْمَوْتِ ځکه وصیت داسي تملیک دی کوم چي تر مرګ وروسته وخت ته منسوب دی وَحُكْمُهٗ يَثْبُتُ بَعْدَ الْمَوْتِ او د هغه حکم تر مرګ وروسته ثابتیږي وَالْهِبَةُ مِنَ الْمَرِيْضِ لِلْوَارِثِ فِیْ هٰذَا نَظِيْرُ الْوَصِيَّةِ او د مریض له طرفه خپل وارث ته هبه کول په دې باره کي [چي د هغه وارث کېدلو له د مرګ په وخت کي اعتبار دی] د وصیت په څېر دي لِأَنَّهَا وَصِيَّةٌ حُكْمًا ځکه چي هبه د حکم په اعتبار سره وصیت دی حَتّٰی تَنْفُذَ مِنَ الثُّلُثِ همدا وجه ده چي هبه [د مال] له درېیمي حصې څخه نافذیږي وَإِقْرَارُ الْمَرِيْضِ لِلْوَارِثِ عَلٰی عَكْسِهٖ او د وارث لپاره د مریض اقرار د دې [هبې د حکم] برعکس دی لِأَنَّهٗ تَصَرُّفٌ فِی الْحَالِ ځکه چي دا فی الحاله تصرف دی فَيُعْتَبَرُ ذٰلِكَ وَقْتَ الْإِقْرَارِ نو ځکه دا تصرف به د اقرار په وخت کي معتبر وي.

اللغات: ﴿يتأذیٰ﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: په تکلیف کېدل (په عذابېدل)، چا ته اذیت رسېدل.

﴿إيثار﴾ د افعال د باب مصدر دی: ترجیح ورکول. ﴿حَيف﴾ ظلم، ناانصافي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي څرنګه د قاتل لپاره وصیت کول جائز نه دي، همداسي د خپل وارث لپاره هم وصیت کول جائز نه دي چي مورث (د وارثانو له اجازې پرته) د یوه وارث لپاره

---

❶ تخريج: أخرجه ابو داؤد في كتاب الوصايا، باب ما جاء في الوصية للوارث، حديث رقم: ۲۸۷۰.

وصیت وکړي: ځکه په حدیث "أَلَا لَا وَصِيَّةَ لِلْوَارِثِ" کي د وارث لپاره وصیت کول ممنوع ګرځول سوي دي او د حدیث په اول جزء "إِنَّ اللهَ أَعْطَى كُلَّ ذِيْ حَقٍّ حَقَّهُ" کي دا بنوول سوي ده چي الله پاک د وارثت په ذریعه د مورث په مال کي هر حقدار (وارث) ته خپل حق ورکړی دی. لهذا د وصیت د لاري نه مورث هغه یوه ته ورکولای سي او نه څوک هغه اخیستلای سي.

عقلي دلیل دا دی چي د مورث په مال کي وارثان ټوله برابر شریکان او حقداره دي. او ښکاره خبره ده چي د یوه وارث لپاره په وصیت کولو سره هغه وارث له نورو وارثانو څخه فائق او زیات حق والا ګرځول کیږي او د موصي په دې فعل سره نورو وارثانو ته اذیت او ستونزه کېدلای سي او دا د قطع رحمي سبب جوړېدلای سي، حال دا چي مسلمان ته اذیت رسول حرام دي. لهذا په دې حواله سره هم د وارث لپاره وصیت جائز نه دی.

ولأنه حيف إلخ: یعني د وارث لپاره د وصیت نه جائز کېدلو په هکله مخکي ذکر سوی دا حدیث هم دلیل دی "الحيف في الوصية من أكبر الكبائر" چي په دې حدیث د حیف (ظلم) تفسیر دا سوی دی چي مورث د یوه وارث لپاره وصیت وکړي.

ويعتبر كونه إلخ: او بل دا چي وارث کېدل یا نه وارث کېدل د مرګ په وخت کي معتبر دي. نه د وصیت په وخت کي. همدا وجه ده که مورث د خپل ورور لپاره وصیت وکړي نو څرنګه چي اوس د هغه لپاره وصیت نه جائز کیږي ځکه چي هغه د مورث وارث دی لیکن که تر وصیت وروسته د مورث بچی پیدا سي نو بیا ورور وارث نه پاتیږي لهذا د هغه لپاره مخکینی وصیت جائز پاتیږي که څه هم د وصیت په وخت کي هغه وارث وو.

او د مرګ د وخت اعتبار ځکه سوی دی چي وصیت داسي تملیک دی کوم چي د ما بعد الموت وطرف ته مضاف دی لکه څرنګه چي دا ښکاره خبره ده. نو وارث کېدل به هم په همدې وخت کي معتبر وي. او د وصیت حکم هم تر مرګ وروسته ثابتیږي. لهذا د وارث کېدلو یا نه کېدلو اعتبار به هم د مرګ په وخت کي کیږي. نه د وصیت په وخت کي.

والهبة من المريض إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د مرض الموت مریض د وارث لپاره هبه وکړي. نو د هغه هبه هم جائز نه ده؛ ځکه د مریض هبه هم د وصیت په درجه کي ده. لهذا د وارث لپاره چي څرنګه وصیت کول جائز نه دي همداسي د وارث لپاره هبه کول هم جائز نه دي. او دلته هم د وارث کېدلو اعتبار (دواهب) د مرګ په وخت کیږي؛ ځکه هبه هم حکماً وصیت دی. همدا وجه ده چي څرنګه

وصیت د مال په دریمه حصه کې نافذیږي. همداسې هبه هم صرف د مال په دریمه حصه کې نافذیږي.

وإقرار المریض إلخ: فرمایي که چیرې مریض دیو وارث (مثلاً د زید) لپاره د مال اقرار وکړي، نو ددې حکم د هبې او وصیت د حکم په خلاف دی. یعني د مقرلهٔ (زید) د وارث کېدلو یا نه کېدلو اعتبار به د اقرار په وخت کې کیږي، نه د مریض د مرګ په وخت کې: ځکه چې اقرار حالي تصرّف دی. نو ځکه په هغه کې به د حالي وخت یعني د اقرار د وخت اعتبار کیږي، نه د مرګ د وخت.

په پورتنۍ مسئله کې د ټولو وارثانو یا بعضي وارثانو د اجازت حکم

قَالَ: إِلَّا أَنْ یُجِیزَهَا الْوَرَثَةُ فرمایي: مګر دا چې وارثان د وصیت اجازه ورکړي وَیُرْوَى هٰذَا الِاسْتِثْنَاءُ فِیمَا رَوَیْنَاهُ او دغه استثناء په هغه حدیث کې روایت سوې ده کوم چې موږ روایت کړی وَلِأَنَّ الِامْتِنَاعَ لِحَقِّهِمْ او ځکه چې [د وصیت] ممتنع کېدول د وارثانو د حق په وجه دي فَتَجُوزُ بِإِجَازَتِهِمْ نو ځکه د وارثانو په اجازه سره به وصیت جائز کیږي وَلَوْ أَجَازَ بَعْضٌ وَرَدَّ بَعْضٌ او که بعضي اجازه ورکړي او بعضي یې ردّ کړي تَجُوزُ عَلَى الْمُجِیزِ بِقَدْرِ حِصَّتِهِ نو پر اجازه ورکونکي د هغه د حصې په اندازه وصیت جائز کیږي لِوِلَایَتِهِ عَلَیْهِ ځکه اجازه ورکونکي ته پر خپل ځان ولایت سته وَبَطَلَ فِي حَقِّ الرَّادِّ او د ردونکي [انکار کونکي] په حق کې وصیت باطلیږي.

اللغات: ﴿یجیز﴾ د افعال د باب مضارع ده: اجازه ورکول، جائز ګرځول، نافذول. مُجِیز له همدې باب څخه د فاعل صیغه ده.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د وارث لپاره وصیت جائز نه دی. لېکن که نور وارثان اجازه ورکړي او په دې وصیت راضي سي، نو بیا د وارث لپاره وصیت جائز کیږي: ځکه مخکې چې موږ کوم حدیث ذکر کړی دی په هغه کې دا استثناء هم سوې ده "لا تجوز الوصیة لوارث إلّا أن یشاء الورثة" او د وارث لپاره د وصیت نه جائز کېدل د وارثانو د حق په وجه دي او کله چې وارثان خپله د خپل حق په ساقطولو راضي دي، نو ښکاره ده چې د وصیت جواز به راګرځي او د وارث لپاره به وصیت کول جائز وي. ځکه همدا قاعده ده چې "إذا زال المانع عاد الممنوع".

ولو أجاز إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د وارث لپاره د وصیت کولو په هکله صرف بعضي وارثان اجازه ورکړي او بعضي دا رد او منع کړي، نو کومو وارثانو چې اجازه ورکړې وي، د هغو د حصې په اندازه وصیت جائز دی؛ ځکه هغو ته پر خپلو ځانو ولایت حاصل دی، او کومو وارثانو چې وصیت رد کړی وي د هغو په حصه کې وصیت باطلیږي؛ ځکه د وصیت ممتنع کېدل د هغو د حق په وجه دي او اوس هم هغو خپل حق منع کړی دی.

د مسلمان او ذمي یو د بل لپاره د وصیت کولو حکم

قَالَ: وَيَجُوْزُ أَنْ يُوْصِيَ الْمُسْلِمُ لِلْكَافِرِ وَالْكَافِرُ لِلْمُسْلِمِ فرمایي: او جائز دي چې مسلمان د کافر لپاره او کافر د مسلمان لپاره وصیت وکړي فَالْأَوَّلُ لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى نو اول د الله تعالیٰ د دې فرمان په وجه ﴿لَا يَنْهَاكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ﴾ [الممتحنة: ٨] نه منع کوي الله ﷻ تاسي له هغه خلکو [کفارو] څخه کوم چې د دین په باره کې ستاسي سره جنګېدلي نه وي [چې تاسي د هغه سره نېکګنه او انصاف وکړئ!] وَالثَّانِيْ لِأَنَّهُمْ بِعَقْدِ الذِّمَّةِ سَاوَوُا الْمُسْلِمِيْنَ فِي الْمُعَامَلَاتِ او دویم ځکه چې کفار د ذمي والي د تړون په وجه په معاملاتو کې د مسلمانانو سره برابر سوي دي وَلِهٰذَا جَازَ التَّبَرُّعُ مِنَ الْجَانِبَيْنِ فِيْ حَالَةِ الْحَيَاةِ په همدې وجه د ژوند په حالت کې له دواړو طرفونو څخه تبرع جائز ده فَكَذَا بَعْدَ الْمَمَاتِ نو همداسي به تر مرګ وروسته هم [دا جائز وي] وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ: اَلْوَصِيَّةُ لِأَهْلِ الْحَرْبِ بَاطِلَةٌ او په جامع صغیر کې دي: چې د حربیانو لپاره وصیت کول باطل دي لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى د الله تعالیٰ د دې فرمان په وجه ﴿إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِيْنَ قَاتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ﴾ [الممتحنة: ٩] [بلکې] الله ﷻ تاسي منع کوي له هغو خلکو څخه کوم چې د دین په باره کې ستاسي سره جنګېدلي وي.

اللغات: ﴿عقد الذمة﴾ د ذمي والي تړون (معاهده)، ذمي کېدل. ﴿ساوَوْا﴾ د مفاعلې له باب څخه د جمع مذکر غائب ماضي صیغه ده: برابرېدل، یو د بل مِثل کېدل. ﴿تبرع﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: نېکي او احسان، چا ته بلا عوضه (مفت) یو څه ورکول. داسي کار کول کوم چې د انسان پر ذمه واجب نه وي.

تشریح: په دې عبارت کې له کافر څخه ذمي کافر مراد دی. حاصل د عبارت دا دی چې که مسلمان د ذمي لپاره وصیت وکړي او ذمي د مسلمان لپاره وصیت وکړي، نو جائز دي: ځکه وصیت بو تبرع ده او د قرآن کریم په لاندیني آیت کې د ذمیانو او غیرِ محارب کافرانو سره د بِر او قِسط (ښېګڼې او انصاف)

حکم سوی دی ﴿لَا يَنْهَاكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْا إِلَيْهِمْ﴾. نو په دې آیت سره د ذمیانو لپاره د تبرع او احسان کولو او د دې تر څنګ د هغو لپاره د وصیت کولو جواز ثابت سو.

عقلي دلیل دا دی چې د ذمي والي په تړون او عقد کولو سره ذمیانو زموږ د مسلمانانو سره په معاملاتو کي مساوات او برابري کړې ده. او مسلمانان په خپل مینځ کي یو د بل لپاره وصیت کولای سي. لهذا مسلمان او ذمي به هم یو د بل لپاره وصیت کولای سي. او بل دا چې کله په ژوند کي ذمي او مسلمان یو بل ته تبرع کولای سي، نو تر مرګ وروسته به هم یو د بل سره داسي معامله کولای سي. شرعاً د دې اجازه سته او په دې کي هیڅ قباحت نسته.

وفی الجامع الصغیر الخ: دا د جامع صغیر مسئله ده. حاصل یې دا دی چې هغه کافر کوم چې د مسلمانانو سره جنګیږي او حربي وي، د هغه لپاره مسلمان وصیت نه سي کولای او نه هغه د مسلمان لپاره وصیت کولای سي: ځکه په قرآن کریم کي له دې څخه منع سوې ده ﴿إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قَاتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَأَخْرَجُوْكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوْا عَلٰى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ﴾ (الله ﷻ تاسي د هغه خلکو له دوستۍ څخه منع کوي کوم چې د دین په باره کي ستاسي مسلمانانو سره جنګېدلي وي او له خپلو کورونو څخه یې باسلي وي او ستاسي په ایستلو کي شریکان سوي وي). له دې څخه معلومه سوه چې د حربیانو سره دوستي کول ممنوع دي. همداسي دا هم معلومه سوه چې د هغو لپاره وصیت کول باطل دي. نو د حربي کافر لپاره وصیت کول څنګه جائز کېدلای سي!.

وصیت به کله قبول کیږي؟

قَالَ: وَقَبُوْلُ الْوَصِيَّةِ بَعْدَ الْمَوْتِ فرمایي: او د وصیت قبول تر مرګ وروسته دي فَإِنْ قَبِلَهَا الْمُوْصٰى لَهُ حَالَ الْحَيَاةِ أَوْ رَدَّهَا لیکن که موصیٰ له (د چا لپاره چې وصیت سوی دی هغه) د موصي د ژوند په حالت کي وصیت قبول کړي یا یې رد کړي فَذٰلِكَ بَاطِلٌ نو دا باطل دي لِأَنَّ أَوَانَ ثُبُوْتِ حُكْمِهِ بَعْدَ الْمَوْتِ ځکه د وصیت د حکم ثابتېدلو وخت تر مرګ وروسته دی لِتَعَلُّقِهِ بِهِ ځکه وصیت د مرګ سره متعلق دی فَلَا يُعْتَبَرُ قَبْلَهُ نو ځکه قبول او رد به تر مرګ مخکي معتبر نه وي كَمَا لَا يُعْتَبَرُ قَبْلَ الْعَقْدِ لکه څرنګه چې تر عقد مخکي معتبر نه دي.

اللغات: ﴿آوان﴾ واحد آن: وخت. ګړی. لمحه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د موصي له طرفه کېدونکی وصيت به موصیٰ لهٗ د موصي تر مرګ وروسته قبلوي او وصيت قبلول د موصي تر مرګ وروسته معتبر دي؛ ځکه وصيت د مرګ سره متعلق کيږي او تر همدې مرګ وروسته د هغه حکم ثابتيږي؛ نو ځکه د هغه قبوليت به هم تر مرګ وروسته متحقق او صحيح کيږي. او که تر مرګ مخکې د موصي په ژوند کې موصیٰ لهٗ هغه قبول کړي يا يې رد کړي، نو دا قبول او ردّ باطليږي او دوی لره هيڅ اعتبار نسته. لکه څرنګه چې له عقد وصيت څخه مخکې قبول او ردّ لره هيڅ اعتبار نسته.

د وصيت مستحب مقدار او په کوم صورت کې وصيت نه کول افضل دي؟

قَالَ: وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يُوصِيَ الْإِنْسَانُ بِدُوْنِ الثُّلُثِ فرمايي: او مستحب دا ده چې انسان له درېيمي حصې څخه د کم مقدار وصيت وکړي سَوَاءٌ كَانَتِ الْوَرَثَةُ أَغْنِيَاءَ أَوْ فُقَرَاءَ برابره ده وارثان مالداره وي او که غريبان [تنګلاسي] وي لِأَنَّ فِي التَّنْقِيْصِ صِلَةَ الْقَرِيْبِ بِتَرْكِ مَالِهِ عَلَيْهِمْ ځکه [له درېيمي حصې څخه] په کمولو کې پر خپل قريب صله رحمي کول دي د هغو لپاره د خپل مال پرېښودلو په وجه بِخِلَافِ اسْتِكْمَالِ الثُّلُثِ په خلاف د درېيمي حصې د پوره کولو [چې د پوره ثلث وصيت وکړی سي] لِأَنَّهُ اسْتِيْفَاءُ تَمَامِ حَقِّهِ ځکه دا خو خپل حق پوره ترلاسه کول دي فَلَا صِلَةَ وَلَا مِنَّةَ لهذا [په دې کې] نه صله رحمي سته او نه څه احسان سته ثُمَّ الْوَصِيَّةُ بِأَقَلَّ مِنَ الثُّلُثِ أَوْلَىٰ أَمْ تَرْكُهَا؟ بيا له درېيمي حصې څخه د کم مقدار وصيت کول اولیٰ دي يا وصيت پرېښوول [اولیٰ دي] قَالُوْا: إِنْ كَانَتِ الْوَرَثَةُ فُقَرَاءَ مشايخو فرمايلي دي: که چيرې وارثان غريبان وي وَلَا يَسْتَغْنُوْنَ بِمَا يَرِثُوْنَ او دوی په هغه ميراث سره نه مالداره کيږي کوم چې يې دوی ترلاسه کوي فَالتَّرْكُ أَوْلَىٰ نو بيا وصيت پرېښوول اولیٰ دي [چې مورث د بل چا لپاره وصيت نه وکړي بلکې ټوله مال د وارثانو لپاره پرېږدي] لِمَا فِيْهِ مِنَ الصَّدَقَةِ عَلَى الْقَرِيْبِ ځکه په دې کې پر قريب صله رحمي ده وَقَدْ قَالَ الْعَلَيْهِ‌السَّلَامُ او نبي ﷺ فرمايلي دي «أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ عَلَىٰ ذِي الرَّحِمِ الْكَاشِحِ» [1] غوره صدقه پر کرکه ناکه [او ناخوښی] قريب

---

[1] تخريج: أخرجه البيهقي في السنن الكبرى، كتاب قسم الصدقات، باب يقسم الصدقة على قرابته وجيرانه. حديث رقم: ۱۳۲۲۳.

ده [کوم چي متنفر او زړه بدی وي] وَلِأَنَّ فِيْهِ رِعَايَةَ حَقِّ الْفُقَرَاءِ وَالْقَرَابَةِ جَمِيْعًا او ځکه چي په دې کي د غریبانو او قرابت دواړو رعایت سته.

اللغات: ﴿تنقیص﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: کمول. کمي پکښي راوستل. ﴿مِنّة﴾ منت. احسان. نېکي او ښېګڼه. ﴿کاشح﴾ کرکه ناک او بغض کونکی دښمن. لیري والي اختیارونکی. (مصباح المنیر)

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي شریعت انسان ته په آخري وخت کي د خپل مال په درېیمه حصه کي د تصرف کولو اختیار ورکړی دی (چي انسان د خپلو ګناهونو د تلافی وغیره لپاره وصیت پکښي وکړي). لهذا د خپل مال په ثُلث (درېیمه حصه) کي هغه ته وصیت کول جائز دي؛ لېکن مستحب دا ده چي د ټوله ثُلث وصیت نه وکړي. برابره ده وارثان مالداره وي او که محتاجه وي په هر صورت کي غوره دا ده چي تر ثُلث د کم مقدار وصیت وکړي: ځکه د کم مقدار د وصیت کولو په صورت کي د مُوصي خپل حق (له ثُلث څخه پاته مال) د هغه د وارثانو او قریبانو لپاره پاتېږي. نو په دې کي د ده له طرفه د هغو سره صله رحمي او حُسنِ سلوک ثابتېږي کوم چي غوره او محمود فعل دی. لېکن که هغه د ټوله ثُلث وصیت وکړي نو هغه خپل ټوله حق ترلاسه کړی. لهذا بیا د هغه له طرفه هیڅ صله و احسان او حسنِ سلوک نه ثابتېږي. نو ځکه اولیٰ دا ده چي له ثُلث څخه د کم مقدار وصیت وکړي.

ثم الوصیة إلخ: دلته دا سوال پیدا کېږي چي له ثُلث څخه د کم مقدار وصیت کول اولیٰ دي یا ګردسره وصیت پرېښوول اولیٰ دي، نو د دې جواب د فقهاؤ په ژبه دا دی چي که وارثان غریبان او محتاجه وي او د میراث کوم حصه چي دوی ته حاصلېږي په هغه سره ذوی نه مالداره کېږي او د دوی تنګلاسي په هغه سره نه ختمېږي. نو په داسي صورت کي وصیت نه کول (وصیت پرېښوول) افضل او اولیٰ دي: ځکه په داسي صورت کي که وصیت نه وکړی سي او خپل ټوله مال د خپلو وارثانو او قریبانو لپاره پرېښوول سي نو مورث ته به پر قریب د صدقې او صله رحمی دواړو ثواب حاصل سي او هغه به د دوچنده ثواب مستحق سي: ځکه چي په دې صورت کي د فقیر او قرابت دواړو د حق رعایت سته ځکه د هغه خپل قریب فقیر او محتاجه دی. او په حدیث کي ذکر سوي دي "أفضل الصدقة علیٰ ذی الرحم الکاشح" یعني پر خپل هغه قریب صدقه کول دي زیات فضیلت والا او زیات غوره دي چي له هغه څخه انسان خوشاله نه وي او د دوی په مینځ کي کرکه او نفرت وي: ځکه په دې کي د نفس مخالفت دی. قرابت هم دی او د فقیر د حق رعایت هم دی.

په کوم صورت کې وصیت کول افضل دي؟

وَإِنْ كَانُوْا أَغْنِيَاءَ او که وارثان مالداره [شتمن] وي أَوْ يَسْتَغْنُوْنَ بِنَصِيْبِهِمْ یا دوی [د میراث] په خپله حصه سره مالداره کیږي فَالْوَصِيَّةُ أَوْلٰى نو بیا وصیت کول اولیٰ دي لِأَنَّهُ يَكُوْنُ صَدَقَةً عَلَى الْأَجْنَبِيِّ ځکه [په دې صورت کې] وصیت کول به پر اجنبي کس صدقه وي وَالتَّرْكُ هِبَةٌ مِنَ الْقَرِيْبِ او وصیت پرېښوول به پر قریب هبه وي وَالْأُوْلٰى أَوْلٰى اول [صدقه] غوره ده [له هبې څخه] لِأَنَّهُ يَبْتَغِيْ بِهَا وَجْهَ اللهِ تَعَالٰى ځکه په صدقه سره د الله د رضاء طلب کیږي وَقِيْلَ: فِيْ هٰذَا الْوَجْهِ يُخَيَّرُ او ویل سوي دي: چې په دې صورت کې موصي ته اختیار ورکول کیږي [که وصیت کوي او که یې پرېږدي] لِاشْتِمَالِ كُلٍّ مِنْهُمَا عَلٰى فَضِيْلَةٍ وَهُوَ الصَّدَقَةُ وَالصِّلَةُ ځکه له دې دواړو څخه هر یو پر یو فضیلت مشتمل دی او هغه صدقه ده یا صله ده فَيُخَيَّرُ بَيْنَ الْخَيْرَيْنِ نو ځکه مورث ته به د دواړو ښېګڼو ترمینځ اختیار ورکول کیږي.

اللغات: ﴿یستغنون﴾ د استفعال له بابه د جمع مذکر غائب صیغه ده: مستغني کېدل (احتیاج ختمېدل)، مالداري غوښتل، مراد: مالداره کېدل. ﴿نصیب﴾ حصه، برخه. ﴿یبتغي﴾ د افتعال د باب مضارع ده: طلب کول، لټول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د مورث وارثان (قربان) مالداره وي، یا داسي وي چې په میراث کې کومه حصه دوی ته حاصلیږي په هغه سره دوی مالداره کیږي او تنګلاسي یې ختمیږي، نو په دې صورت کې د مورث لپاره وصیت کول زیات غوره دي چې د بل چا لپاره وصیت وکړي: ځکه په دې صورت کې به هغه پر اجنبي کس صدقه کونکی وي او د وصیت نه کولو په صورت کې به هغه پر قریب هبه کونکی وي، او صدقه کول له هبې څخه زیات غوره دي: ځکه د صدقې مقصد او منشا د الله تعالیٰ رضا حاصلول وي حال دا چې په هبه سره د موهوب لهٔ رضا ترلاسه کیږي. او ښکاره ده چې د الله تعالیٰ رضا د هر چا له رضا څخه مخکي او اولیٰ ده.

وقيل في هذا إلخ: فرمايي چې په مذکوره صورت کې د بعضي فقهاؤ رایه دا ده چې موصي ته اختیار دی برابره ده صدقه اختیاروي او که هبه. ځکه صدقه او هبه دواړه نېک کارونه دي. نو کوم یو چې یې خوښه وي هغه دي اختیار کړي.

موصى لهٗ كله د موصىٰ به مالک کیږي؟

قَالَ: وَالْمُوصٰى بِهٖ يُمْلَكُ بِالْقَبُوْلِ فرمايي: او موصىٰ به [د کوم مال وصيت چي سوی وي] په قبلولو سره په ملکيت کي راځي [يعني د وصيت په قبلولو سره هغه د وصيت قبلونکي (موصىٰ لهٗ) په ملکيت کي داخليږي] خِلَافًا لِزُفَرَ په خلاف د امام زفر رَحِمَهُ الله وَهُوَأَحَدُ قَوْلَيِ الشَّافِعِيِّ او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله له دوو قولونو څخه يو قول دی هُوَيَقُوْلُ: اَلْوَصِيَّةُ أُخْتُ الْمِيْرَاثِ هغه فرمايي: چي وصيت د ميراث خور ده إِذْ كُلٌّ مِنْهُمَا خِلَافَةٌ ځکه له دې دواړو څه هر يو خلافت دی لِمَا أَنَّهُ اِنْتِقَالٌ ځکه چي دا انتقال دی ثُمَّ الْإِرْثُ يَثْبُتُ مِنْ غَيْرِ قَبُوْلٍ بيا ميراث له قبول [قبلولو] څخه بغير ثابتيږي فَكَذٰلِكَ الْوَصِيَّةُ نو همداسي به وصيت هم [بغير له قبلولو څخه ثابتيږي] وَلَنَا: أَنَّ الْوَصِيَّةَ إِثْبَاتُ مِلْكٍ جَدِيْدٍ او زموږ دليل دا دی: چي وصيت د نوي ملکيت ثابتول دي وَلِهٰذَا لَا يَرُدُّ الْمُوْصٰى لَهٗ بِالْعَيْبِ په همدې وجه موصىٰ لهٗ د عيب په وجه [د وصيت شی] نه سي واپس کولای وَلَا يُرَدُّ عَلَيْهِ بِالْعَيْبِ او نه پر موصىٰ لهٗ [د وصيت شی] واپس کول کېدای سي [د دواړو جملو صورتونه به په تشريح کي ذکر سي] وَلَا يَمْلِكُ أَحَدٌ إِثْبَاتَ الْمِلْكِ لِغَيْرِهٖ إِلَّا بِقَبُوْلِهٖ او يو څوک د بل چا لپاره د هغه له قبول څخه بغير د ملکيت ثابتولو مالک نه دی أَمَّا الْوِرَاثَةُ خِلَافَةٌ او پاته سو وراثت خلافت دی [يعني ميراث د وارث لپاره د خلافت (خليفه والي) په توګه ثابتيږي چي د هغه د خپل مورث (مړي) خليفه او نائب دی] حَتّٰى يَثْبُتَ فِيْهَا هٰذِهِ الْأَحْكَامُ همدا وجه ده چي په وراثت کي دغه احکام جاري کيږي [يعني د عيب په وجه د وارث شی واپس کول او وارث ته شی واپس کېدل] فَيَثْبُتُ جَبْرًا مِنَ الشَّرْعِ مِنْ غَيْرِ قَبُوْلٍ [او کله چي وراثت خلافت دی] نو ځکه [د وارث لپاره] له قبول څخه بغير د شريعت له طرفه جبراً ملکيت ثابتيږي.

اللغات: ﴿مُوصىٰ بهٖ﴾ د کوم شي او کوم مال وصيت چي سوی وي. ﴿يُملك﴾ د ضرب د باب مضارع مجهوله ده: مالک کېدل. مالک جوړېدل (يو څه د چا په ملکيت کي داخلېدل). ﴿مُوصىٰ لهٗ﴾ د کوم چا لپاره چي وصيت سوی وي. مُوصىٰ د افعال د باب مفعول دی چي دلته يې د صلې په بدلون سره معنىٰ بدله سوې ده.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې زموږ په نیز موصی لهٔ چې کله د موصي تر مرګ وروسته موصیٰ بهٔ قبول کړي. نو موصیٰ بهٔ د هغه په ملکیت کې داخلیږي او له قبول څخه بغیر موصی لهٔ د موصیٰ بهٔ نه مالک کیږي، حال دا چې د امام زفر رَحِمَهُ الله په نیز موصی لهٔ له قبول څخه بغیر د موصیٰ بهٔ مالک کیږي، همدا د امام شافعي رَحِمَهُ الله یو قول دی. د دې حضراتو دلیل دا دی چې وصیت د میراث خور ده؛ ځکه وصیت او میراث دواړه د خلافت په توګه ثابتیږي او میراث د وارث له قبول څخه بغیر ثابتیږي. لهذا وصیت به هم د موصی لهٔ له قبول څخه بغیر ثابتیږي.

ولنا إلخ: دا زموږ دلیل دی او حاصل یې دا دی چې وصیت د ملک جدید (نوي ملکیت) اثبات دی. همدا وجه ده چې که څوک یو شی رانیسي او بیا دیو چا لپاره د هغه وصیت وکړي او موصی لهٔ (یعني د چا لپاره چې یې وصیت کړی دی) په هغه شي کې یو عیب ووینې. نو موصی لهٔ د دې عیب په وجه هغه شی (مبیع) پر بائع نه شي واپس کولای. او نه پر موصی لهٔ د عیب په وجه مبیع واپس کول کېدای شي مثلاً که یو سړي دیو چا لپاره د خپل مال وصیت وکړي او بیا موصي د هغه مال څخه یو شی خرخ کړي او مشتري په هغه شي کې یو عیب ووینې. نو مشتري موصی لهٔ ته هغه شی نه شي واپس کولای. معلومه سوه چې په وصیت کې د موصی لهٔ لپاره ملک جدید ثابتیږي او د خلافت په توګه هغه نه مالک کیږي او د ملک جدید د ثبوت لپاره چې څوک مالک جوړول کیږي. د هغه قبول (تبلول) شرط دي او د هغه له قبول څخه بغیر هیڅ شی د هغه په ملکیت کې نه داخلیږي، نو ځکه موږ د موصی لهٔ قبول شرط کړی دی چې هغه به موصیٰ بهٔ قبلوي.

او پاته سو وارثت د وصیت په خلاف دی: ځکه هغه د وارث لپاره د خلافت په توګه ثابتیږي. نو ځکه په هغه کې د وارث قبول کول شرط نه دي او په هغه کې قبول او ردّ د شریعت له طرفه جبراً ثابتیږي.

له پورتنی مسئلې څخه يوه استثناء (که تر موصي وروسته موصی لهٗ له وصيت قبلولو څخه مخکي مړ سي نو څه حکم دی؟)

قَالَ: اِلَّا فِیْ مَسْأَلَةٍ وَاحِدَةٍ فرمايي: مګر په يوه مسئله کي وَهِيَ اَنْ يَمُوْتَ الْمُوْصِيْ ثُمَّ يَمُوْتَ الْمُوْصٰى لَهٗ قَبْلَ الْقَبُوْلِ او هغه دا ده چي موصي مړ سي بيا له قبول [وصيت قبلولو] څخه مخکي موصیٰ لهٗ مړ سي فَيَدْخُلُ الْمُوْصٰى بِهٖ فِيْ مِلْكِ وَرَثَتِهٖ اِسْتِحْسَانًا نو موصیٰ بهٖ [د کوم شي وصيت چي سوی وي] د موصیٰ لهٗ د وارثانو په ملکيت کي استحساناً داخليږي وَالْقِيَاسُ اَنْ تَبْطُلَ الْوَصِيَّةُ او قياس دا دی چي وصيت باطليږي لِمَا بَيَّنَّا اَنَّ الْمِلْكَ مَوْقُوْفٌ عَلَى الْقَبُوْلِ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی چي ملکيت پر قبول موقوف دی فَصَارَ كَمَوْتِ الْمُشْتَرِيْ قَبْلَ قَبُوْلِهٖ بَعْدَ اِيْجَابِ الْبَائِعِ نو داسي سو لکه د بائع تر ايجاب وروسته د مشتري له قبول څخه مخکي د مشتري مړ کېدل وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ: اَنَّ الْوَصِيَّةَ مِنْ جَانِبِ الْمُوْصِيْ قَدْ تَمَّتْ بِمَوْتِهٖ تَمَامًا د استحسان دليل دا دی: چي وصيت د موصي له طرفه د هغه د مړ کېدلو په وجه داسي پوره سو لَا يَلْحَقُهُ الْفَسْخُ مِنْ جِهَتِهٖ چي [تر دې وروسته] د موصي له طرفه هغه ته فسخ نه سي لاحق کېدلای وَاِنَّمَا تَوَقَّفَتْ لِحَقِّ الْمُوْصٰى لَهٗ او [تر دې وروسته خو] د موصیٰ لهٗ د حق په وجه وصيت موقوف کيږي فَاِذَا مَاتَ لېکن کله چي موصیٰ لهٗ مړ سو دَخَلَ فِيْ مِلْكِهٖ نو موصیٰ بهٖ د هغه په ملکيت داخليږي كَمَا فِي الْبَيْعِ الْمَشْرُوْطِ فِيْهِ الْخِيَارُ اِذَا مَاتَ قَبْلَ الْاِجَازَةِ لکه په هغه بيع کي چي په هغه کي د مشتري لپاره خيار شرط کړی سوی وي کله چي مشتري له اجازه ورکولو څخه مخکي مړ سي.

اللغات: د موصیٰ لهٗ وغيره تعريف د تېر عبارت په لغاتو کي ذکر سو.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي په عام حالت کي خو زموږ په نېز د وصيت حکم همدا دی چي وصيت (موصیٰ بهٖ) د موصیٰ لهٗ له قبول څخه بغير د هغه په ملکيت کي نه داخليږي. لېکن يو صورت له دې څخه مستثنیٰ دی او په هغه کي موصیٰ لهٗ له قبول څخه بغير هم بناء بر استحسان د وصيت مالک کيږي. هغه صورت دا دی چي موصي د موصیٰ لهٗ لپاره وصيت وکړي او د موصیٰ لهٗ تر قبول مخکي موصي هم مړ سي او موصیٰ لهٗ هم مړ سي، نو په دې صورت کي استحساناً وصيت

(موصی بہ) د موصی لۀ د وارثانو ملکیت ګرځي او دوی د هغه (موصی بہ) وارث کیږي. حال دا چې قیاساً په دې صورت کې هم وصیت باطلیږي او موصی لۀ د وصیت نه مالک کیږي: ځکه د موصی لۀ له طرفه قبول موجود نه سو. حال دا چې د موصی لۀ لپاره د ملکیت ثابتېدل د هغه پر قبولیت موقوف دي. مثال یې دا دی لکه د بائع تر ایجاب وروسته که مشتري له قبول څخه مخکې مړ سي، نو د بائع ایجاب او بیع باطلیږي. نو همداسې قیاساً دلته وصیت باطلیږي.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان دلیل دا دی چې د موصي د مرګ په وجه د هغه له طرفه وصیت کامل او بشپړ وګرځیدی. نو ځکه اوس د هغه له طرفه د وصیت فسخ کولو هیڅ سوال نه پیدا کیږي. ها! اوس د وصیت په پوره کېدلو کې د موصی لۀ قبول (وصیت قبلول) پکار وه او کله چې موصی لۀ مړ سو نو د هغه په مرګ سره دا قبول انتها ته ورسېدی (ګواکې هغه وصیت قبول کړی)؛ ځکه په عامه توګه وصیت قبلول کیږي او ډېر کم ردول کیږي. لهذا د موصی لۀ په مرګ سره د قبول (وصیت قبلولو) اړخ ته تقویه حاصلیږي او موصی بہ د موصی لۀ په ملکیت کې داخلیږي. لکه په بیع کې که د مشتري لپاره خیار شرط وي او بیا مشتري له اجازه ورکولو څخه مخکې مړ سي، نو مرګ د هغه له طرفه اجازه ګڼل کیږي او بیع پوره کول کیږي او د مشتري د وارثانو لپاره د مبیع فیصله کول کیږي.

د یو سړي سره چې څومره مال وي، هغومره مقروض هم وي، د هغه د وصیت حکم

قَالَ وَمَنْ أَوْصٰى وَعَلَيْهِ دَيْنٌ يُحِيطُ بِمَالِهِ فرمایي: او څوک چې وصیت وکړی او پر هغه دومره قرض وي کوم چې د هغه مال لره محیط وي لَمْ تَجُزِ الْوَصِيَّةُ نو وصیت جائز نه دی لِأَنَّ الدَّيْنَ مُقَدَّمٌ عَلَى الْوَصِيَّةِ ځکه چې قرض پر وصیت مخکې دی لِأَنَّهُ أَهَمُّ الْحَاجَتَيْنِ ځکه چې قرض له دوو ضرورتونو څخه اهم ضرورت دی. فَإِنَّهُ فَرْضٌ وَالْوَصِيَّةُ تَبَرُّعٌ ځکه چې د قرض اداء فرض ده او وصیت تبرّع ده وَأَبَدًا يُبْدَأُ بِالْأَهَمِّ فَالْأَهَمِّ او همېشه په زیات اهم شروع کول کیږي بیا چې تر هغه زیات اهم وي إِلَّا أَنْ يُبَرِّئَهُ الْغُرَمَاءُ مګر دا چې قرضخواهان هغه [مقروض] بري کړي لِأَنَّهُ لَمْ يَبْقَ الدَّيْنُ ځکه چې قرض باقي پاته نه سو فَتَنْفُذُ الْوَصِيَّةُ عَلَى الْحَدِّ الْمَشْرُوعِ نو ځکه وصیت به تر هغه حدّ پورې نافذیږي کوم چې مشروع دی لِحَاجَتِهِ إِلَيْهَا ځکه موصي وصیت ته محتاج دی.

اللغات: ﴿یحیط﴾ د افعال د باب مضارع ده: احاطه کول. چار طرفه پرې راګرځېدل. محیط قرض: مثلاً مال لک روپی وي او وصیت هم لک روپی وي یا تر دې زیات وي. ﴿تبرّع﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: نېکي او احسان. چا ته بلا عوضه (مفت) یو څه ورکول. داسي کار کول کوم چي د انسان پر ذمه واجب نه وي. ﴿غرماء﴾ جمع د غَرِیْمٌ ده: د قرض مالک. قرضخواه (قرض غوښتونکی). ﴿مشروع﴾ د فتح د باب مفعول دی: په شریعت کي مطلوب. په شریعت کي جاري او جائز.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که یو مقروض سړی د بل چا لپاره د مال وصیت وکړي او پر هغه دومره قرض باندي وي کوم چي د ده مال لره محیط وي. نو شرعاً د ده وصیت جائز نه دی؛ ځکه پر ده چي کوم محیط قرض باندي دی. هغه د وصیت له جواز څخه مانع دی؛ ځکه قرض پر مړي واجب حق دی چي د هغه اداء کول ضروري دي او له ټولو شیانو څخه مخکي دي (چي هغه به د میراث له تقسیم وغیره څخه مخکي اداء کول کیږي). حال دا چي وصیت محض مستحب او مستحسن دی او قاعده دا ده چي اول له هغه شي څخه شروع کیږي کوم چي زیات اهم وي. نو ځکه د موصي (میت) له مال څخه به تر ټولو مخکي د هغه قرضونه اداء کول کیږي او بیا به بل کار کول کیږي.

ها! که چیري قرضخواه (د قرض مالک) دا موصي له قرض څخه بري کړي او د قرض معامله بالکل ختمه سي. نو په دې صورت کي د مال تر درېیمي حصې (ثلث المال) پوري وصیت نافذېږي؛ ځکه موصي د خپل قصور او کوتاهی د تلافي لپاره وصیت ته محتاج او مجبوره دی او شریعت د مقروض نه کېدلو په صورت کي هغه ته دا حق ورکړی دی.

د بچي (کوچني) د وصیت حکم او د امام شافعي رَحِمَهُ الله مسلک

قَالَ: وَلَا تَصِحُّ وَصِيَّةُ الصَّبِيِّ فرمایي: او د بچي وصیت صحیح نه دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: تَصِحُّ إِذَا كَانَ فِي وُجُوهِ الْخَيْرِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي صحیح دی کله چي د خیر په جهتونو کي وي لِأَنَّ عُمَرَ رضي الله عنه أَجَازَ وَصِيَّةَ يَفَاعٍ أَوْ يَافِعٍ ځکه چي حضرت عمر رضي الله عنه د یفاع یا یافع وصیت جائز وګرځوی وَهُوَ الَّذِي رَاهَقَ الْحُلُمَ او یفاع هغه بچی [هلک] دی کوم چي بلوغ ته نژدې سوی وي وَلِأَنَّهُ نَظَرٌ لَهُ او ځکه چي دا [د بچي وصیت صحیح کېدل] بچي لره مصلحت دی بِصَرْفِهِ إِلَى نَفْسِهِ فِي نَيْلِ الزُّلْفَى چي بچی به د الله د رضا حاصلولو لپاره هغه د خپل ځان وطرف ته صرفوي وَلَوْ لَمْ تَنْفُذْ او که چیري [د بچي] وصیت نافذ نه سي يَبْقَى عَلَى غَيْرِهِ نو مال به پر غیر [د بل چا لپاره] باقي پاته سي

وَلَنَا: أَنَّهُ تَبَرُّعٌ او زموږ دليل دا دی: چي وصيت تبرع دی وَالصَّبِيُّ لَيْسَ مِنْ أَهْلِهِ او بچی د تبرع اهل نه دی وَلِأَنَّ قَوْلَهُ غَيْرُ مُلْزِمٍ او ځکه چي د بچي قول مُلزم [لازمونکی] نه دی وَفِي تَصْحِيحِ وَصِيَّتِهِ قَوْلٌ بِإِلْزَامِ قَوْلِهِ او د بچي د وصيت په صحيح ګرځولو کي د هغه د قول په مُلزم کېدلو قائل کېدل دي وَالْأَثَرُ مَحْمُولٌ عَلَى أَنَّهُ كَانَ قَرِيبَ الْعَهْدِ بِالْحُلُمِ مَجَازًا او اثر محمول دی پر دې چي هغه بچي مجازاً په بلوغ سره قريب العهد وو [يعني د هغه پر بلوغ زيات وخت نه وو تېر سوی او داسي بچي ته هم مجازاً يفاع او هلک ويل کيږي] أَوْ كَانَتْ وَصِيَّتُهُ فِي تَجْهِيزِهِ وَأَمْرِ دَفْنِهِ يا د هغه بچي وصيت د خپل تجهيز او دفن [ښخولو] د کار په هکله وو وَذَلِكَ جَائِزٌ عِنْدَنَا او دا زموږ په نېز جائز دي وَهُوَ يُحْرِزُ الثَّوَابَ بِالتَّرْكِ عَلَى وَرَثَتِهِ او بچی به د خپلو وارثانو لپاره د مال پرېښوولو په وجه ثواب جمع کړي كَمَا بَيَّنَّاهُ لکه [مخکي] چي موږ دا بيان کړه.

اللغات: ﴿وجوه﴾ جمع د وَجْهٌ ده، دا لفظ ډيري معناوي دي چي له هغوی څخه ځيني دا دي: صورت، جهت، لاره، نوع. ﴿يافع﴾ هغه هلک کوم چي احتلام ته نژدې سوی وي. ﴿حُلم﴾ او حُلُم: ① احتلام. ② بلوغ (بلوغ الصبی مبلغ الرجال). ﴿نظر﴾ ① مصلحت (ښېګڼه). ② شفقت. ﴿نَيل﴾ د فتح د باب مصدر دی: حاصلول، ترلاسه کول. ﴿زُلفى﴾ قُرب، تقرّب، رضا، مراد: قُرب الهي او ثواب. ﴿مُلزِم﴾ د افعال د باب فاعل دی: لازمونکی. ﴿يُحرز﴾ د افعال د باب مضارع ده: جمع کول، ذخيره کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي زموږ په نېز د بچي وصيت جائز نه دی. حال دا چي د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز د خير او نېکی په لاره کي د بچي وصيت جائز دی؛ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي حضرت عمر ﷺ ديو قريبُ البلوغ بچي وصيت جائز وګرځوی، کوم چي هغه د اکا د لور (ابنة العمّ) لپاره وصيت کړی وو. دا بچی د "غسّان" اوسېدونکی وو او د هغه وارث په "شام" کي وو. لنډه دا چي حضرت عمر ﷺ د هغه وصيت جائز وګرځوی. له دې څخه معلومه سوه چي د بچي وصيت جائز دی.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا دی چي د بچي د وصيت په جائز ګرځولو کي د هغه ښېګڼه او د هغه سره شفقت دی او وصيت کول د هغه په حق کي نفع مند دي چي د وصيت په ذريعه به

هغه رضاء الهي او ثواب حاصل کړي، او که د بچي وصیت ناجائز کړی سي، نو د هغه مال به هسي پروت وي او اغیار به له هغه شخه نفع اخلي، نو ځکه غوره همدا ده چي د بچي وصیت جائز وګرځول سي د دې لپاره چي د هغه مال له ضایع کېدلو څخه محفوظ او خوندي سي.

ولنا أنه تبرّع إلخ: زموږ دلیل دا دی چي وصیت یو تبرّع او احسان دی (کمامر) او بچی د تبرّع کولو اهل نه دی، نو ځکه د هغه وصیت به هم معتبر نه وي. دویم دلیل دا دی چي د بچي قول مُلزِم (لازمونکی) نه وي (چي د هغه په ذریعه پر یو چا څه شی لازم کړی سي). او که موږ د هغه وصیت جائز وګرځوو نو د هغه د قول مُلزِم کېدل به لازم سي. حال دا چي د هغه قول مُلزِم نه دی. له دې څخه هم معلومه سوه چي د بچي وصیت جائز نه دی.

والأثر محمول إلخ: دبچي د وصیت جائز کېدلو په دلیل کي چي امام شافعي رَحِمَهُ الله د حضرت عمر ﷺ کوم اثر پېش کړی دی، دلته صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د هغه جواب ورکوي فرمایي چي دا اثر پر دې محمول دی چي هغه بچی بالغ سوی وو خو د هغه د بلوغ زیاتي ورځي نه کېدلې، نو د ما کان علیه په اعتبار سره مجازاً هغه ته "یافع" یا "یفاع" وویل سوه.

دویم جواب دا دی چي د هغه بچي وصیت د خپل تجهیز وتکفین لپاره وو، او داسي وصیت زموږ په نېز هم جائز دی.

او د امام شافعي رَحِمَهُ الله دا وینا چي "په وصیت کولو سره به هغه ثواب حاصل کړي" موږ نه تسلیموو؛ ځکه د ثواب حصول یوازي په وصیت کولو سره نه کیږي، بلکي په دې سره هم کیږي چي مال د خپلو وارثانو (قریبانو) لپاره پرېښوول سي چي دا به پر خپلو قریبانو صدقه وي کوم چي زیات ثواب لري: لکه څرنګه چي مخکي هم د دې فضیلت او ترجیح بیان سوه.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله د دلیل جواب او د پورتنی مسئلي نور وضاحت

وَالْمُعْتَبَرُ فِي النَّفْعِ وَالضَّرَرِ النَّظَرُ إِلَى أَوْضَاعِ التَّصَرُّفَاتِ او په نفع او نقصان کي معتبر د تصرفاتو [اصلي] وضعو ته کتل معتبر دي لَا إِلَى مَا يَتَّفِقُ بِحُكْمِ الْحَالِ نه هغه [وضعو] ته چي في الحاله اتفاقاً [دفعتاً] واقع سي اِعْتَبِرْهُ بِالطَّلَاقِ ته پر هغه طلاق قیاس کړه! فَإِنَّهُ لَا يَمْلِكُهُ وَلَا وَصِيَّهُ ځکه بچی [کوچنی] او د هغه وصي د طلاق ملکیت [او اختیار] نه لري وَإِنْ كَانَ يَتَّفِقُ نَافِعًا فِي بَعْضِ الْأَحْوَالِ که څه هم په ځیني حالتونو کي طلاق اتفاقاً نفع مند واقع کیږي. وَكَذَا إِذَا أَوْصَى ثُمَّ مَاتَ بَعْدَ الْإِدْرَاكِ

او همدارنګه کله چي بچي وصيت وکړي بيا تر بلوغ وروسته مړ سي [نو هم دهغه وصيت نه صحيح کيږي] لِعَدَمِ الْأَهْلِيَةِ وَقْتَ الْمُبَاشَرَةِ ځکه د مباشرت [وصيت کولو] په وخت کي اهليت [پکښي] معدوم وو وَكَذَا إِذَا قَالَ او همدارنګه کله چي بچي ووايي إِذَا أَدْرَكْتُ فَثُلُثُ مَالِي لِفُلَانٍ وَصِيَّةٌ کله چي زه بالغ سم نو زما د مال درېيمه حصه د فلانکي لپاره وصيت دی [نو هم وصيت نه صحيح کيږي] لِقُصُورِ أَهْلِيَّتِهِ ځکه د هغه اهليت قاصر [ناقص] دی فَلَا يَمْلِكُهُ تَنْجِيزًا وَتَعْلِيقًا نو ځکه بچی به د وصيت کولو ملکيت نه لري نه د منجّز [في الحاله] وصيت کولو او نه د معلّق وصيت کولو كَمَا فِي الطَّلَاقِ وَالْعَتَاقِ لکه څرنګه چي په طلاق او عتاق کي دي بِخِلَافِ الْعَبْدِ وَالْمُكَاتَبِ په خلاف د غلام او مکاتب لِأَنَّ أَهْلِيَّتَهُمَا مُسْتَتِمَّةٌ ځکه د دوی دواړو اهليت بشپړ دی وَالْمَانِعُ حَقُّ الْمَوْلَى او مانع د مالک حق دی فَتَصِحُّ إِضَافَتُهُ إِلَى حَالِ سُقُوطِهِ نو ځکه د مالک د حق ساقطېدلو حالت ته به د وصيت اضافت صحيح وي.

اللغات: ﴿أوضاع﴾ جمع د وضع ده: صورت، کيفيت. ﴿إدراك﴾ د افعال د باب مصدر دی. مراد: بلوغ ته رسېدل. ﴿مباشرة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو کار په خپله کول. بذاتِ خود کول. ﴿تنجيزًا﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: في الحاله او فوراً (سمدستي) يو کار "کول" يا "کېدل". فوراً واقع کول. له څه تعليق او شرط څخه بغير واقع کول. ﴿تعليقًا﴾ دا هم د تفعيل د باب مصدر دی: مُعلّق کول. ﴿مستتمة﴾ د استفعال له بابه د واحد مؤنث فاعل صيغه ده: کامل او بشپړ. د بشپړتيا غوښتونکی.

تشريح: په تېر عبارت کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله عقلي دليل دا ذکر سو چي د وصيت په جائز ګرځولو کي د بچي ښېګڼه او د هغه سره شفقت دی او وصيت کول د هغه په حق کي نفع مند دي.

دلته صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د هغه جواب ورکوي. حاصل د جواب دا دی چي د نفع او نقصان په هکله د اصلي وضع او د بنيادي حالت اعتبار کول کيږي. حال دا چي وضعاً او اصلاً د بچي افعال مضر او نقصان مند وي (وإثمه أكبر من نفعه). او دفعتاً او اتفاقي نفع لره اعتبار نسته ځکه چي عموماً د بچي افعال نفع مند نه وي. لهذا که دفعتاً د هغه په فعل کي يو فايده وليدل سي. نو هغه فايدې لره به اعتبار نه وي. لکه څرنګه چي طلاق د خپل اصل وضع په اعتبار سره مضر دی نو هغه همېشه مضر ګڼل کيږي که څه هم دفعتاً او اتفاقاً چيري هغه نفع مند ثابتيږي. همدا وجه ده چي نه بچی (کوچنی

هلک) خپلي ښځي ته طلاق ورکولای سي او نه يې د هغه وصي ورکولای سي؛ ځکه د اصل وضع په اعتبار سره طلاق مضر دی.

وکذا إلخ: فرمايي که بچی د يو سړي لپاره وصيت وکړي، بيا تر بلوغ (بالغ کېدلو) وروسته هغه مړ سي، نو دا هغه دا وصيت هم باطل دی؛ ځکه د وصيت له شرطونو څخه يو شرط دا دی چي موصي به د وصيت اهل وي، او په مذکوره صورت کي بچی د وصيت په وخت کي د وصيت اهل نه دی؛ نو ځکه د هغه وصيت باطل دی.

همدارنګه که بچی داسي وصيت وکړي چي کله زه بالغ سم نو زما د مال دريمه حصه د فلانکي لپاره وصيت ده، نو دا د وصيت تعليق دی يعني بچي خپل د بلوغ پر وخت هغه مُعلّق کړی دی او په دې صورت کي هم د هغه وصيت باطل دی؛ ځکه په بچي کي د وصيت اهليت ناقص او ناتمام دی. لنده دا چي په هيڅ توګه هم بچی د وصيت مالک نه دی، لکه څرنګه چي هغه د طلاق او عتاق مالک نه دی.

د بچي په خلاف په غلام او مکاتب کي د وصيت اهليت موجود دی او دوی د وصيت اهل دي، همدا وجه که غلام يا مکاتب دا خبره وکړي چي زما تر آزادۍ وروسته د فلانکي لپاره زما له مال څخه دومره مال وصيت دی، نو دا تعليقاً وصيت صحيح دي، او فی الحاله (تنجيزا) صرف د مالک د حق په وجه دا وصيت نه نافذيږي او کله چي هغه آزاد کړی سي نو بيا نافذيږي، لېکن د غلام والي او مکاتب والي په حالت کي د هغه دا فعل صحيح او جائز دی.

د مکاتب د وصيت حکم

قَالَ: وَلَا تَصِحُّ وَصِيَّةُ الْمُكَاتَبِ فرمايي: او د مکاتب وصيت صحيح نه دی وَإِنْ تَرَكَ وَفَاءً که څه هم هغه [د بدل کتابت لپاره] پوره کافي مال پرې ايښی وي [يعني تر شا يې دومره مال پرې ايښی وي کوم چي د بدلِ کتابت اداء کولو لپاره کافي وي] لِأَنَّ مَالَهُ لَا يَقْبَلُ التَّبَرُّعَ ځکه د مکاتب مال تبرع نه قبلوي وَقِيلَ: عَلَى قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ لَا تَصِحُّ او ويل سوي دي: چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول د مکاتب وصيت صحيح نه دی وَعِنْدَهُمَا تَصِحُّ، رَدًّا لَهَا إِلَى مُكَاتَبٍ يَقُولُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز صحيح دی، د وصيت په ګرځولو سره و هغه مکاتب ته کوم چي داسي وايي كُلُّ مَمْلُوكٍ أَمْلِكُهُ فِيمَا أَسْتَقْبِلُ فَهُوَ حُرٌّ هر هغه مملوک [غلام يا مينځه] چي زه يې په مستقبل کي مالک سم نو هغه آزاد دی ثُمَّ عَتَقَ بيا دا مکاتب آزاد سي فَمَلَكَ بيا [د غلام يا مينځي] مالک سي وَالْخِلَافُ فِيهَا مَعْرُوفٌ عُرِفَ فِي مَوْضِعِهِ

او په دې کې اختلاف معلوم [مشهور] دی کوم چې په خپل ځای کې پېژندل سوی دی.

اللغات: ﴿وفاء﴾ د ضرب د باب مصدر دی. خپله معنیٰ یې ده: پوره اداء کول، پوره کول. مراد ځني دومره مال دی کوم چې د بدل کتابت د اداء کولو لپاره کافي وي.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د مکاتب وصیت تعلیقاً جائز دی لېکن تنجیزاً د هغه وصیت جائز نه دی (کمامرّ)، یعني که د هغه وصیت د هغه پر آزادی مُعلّق وي نو صحیح دی، او که في الحاله وصیت وي نو صحیح نه دی که څه هم هغه د بدل کتابت په اندازه مال پر پرېږدي؛ ځکه وصیت یو تبرّع او احسان دی او د مکاتب مال تبرّع نه قبلوي. د ځینې حضراتو رایه دا ده چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مکاتب وصیت صحیح نه دی، لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه وصیت صحیح دی او د هغه وصیت پر دې صورت قیاسول کیږي کله چې هغه داسې ووایي چې په را روان وخت (مستقبل) کې چې زه د کوم غلام مالک سم هغه آزاد دی او بیا په را روان وخت کې مکاتب آزاد کړی سي او بیا هغه د یو غلام مالک سي، نو غلام آزادیږي، نو څرنګه چې د مکاتب اعتاق صحیح دی، همداسې د هغه وصیت هم صحیح دی. لېکن صاحبینو رَحِمَهُمَا الله ته جواب دا دی چې دا مسئله د مُنجّز وصیت ده او مقیس علیه (یعني صاحبینو چې پر کوم صورت قیاس کړی دی هغه) مُعلّق اعتاق دی، په همدې وجه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې په دې مسئله کې مشهور اختلاف دی او د جامع صغیر په باب الحنث کې د هغه پوره تفصیل ذکر سوی دی او د هغه څه بحث د هدایۀ رابع پر ۶۵۹ صفحه په ۱۳ نمبر حاشیه کې هم سته. (احسن الهدایه)

د حمل او جنین لپاره د وصیت کولو حکم او تفصیل

قَالَ: وَتَجُوزُ الْوَصِيَّةُ لِلْحَمْلِ وَبِالْحَمْلِ فرمایي: او د حمل لپاره وصیت کول او په حمل سره وصیت کول صحیح دي إِذَا وُضِعَ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ وَقْتِ الْوَصِيَّةِ [په دې شرط] کله چې د وصیت له وخت څخه تر شپږو میاشتو په کمه موده کې حمل وزېږول سي أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّ الْوَصِيَّةَ اِسْتِخْلَافٌ مِنْ وَجْهٍ کوم چې اول [د حمل لپاره وصیت کول] دي نو په دې وجه [جائز دی] چې وصیت په یوه اعتبار سره خلیفه جوړول دي لِأَنَّهُ يَجْعَلُهُ خَلِيفَةً فِي بَعْضِ مَالِهِ ځکه وصي هغه حمل [جنین] په خپل بعضې مال کې خلیفه [نائب] جوړوي وَالْجَنِينُ صَلَحَ خَلِيفَةً فِي الْإِرْثِ او جنین په میراث کې د

خلیفه جوړېدلو صلاحیت لري فَكَذَا فِي الْوَصِيَّةِ نو همداسي به په وصیت کي هم هغه خلیفه جوړېدلای سي إِذْ هِيَ أُخْتُهُ ځکه وصیت د میراث خور ده إِلَّا أَنَّهُ يَرْتَدُّ بِالرَّدِّ خو وصیت په ردولو سره رد کیږي لِمَا فِيهِ مِنْ مَعْنَى التَّمْلِيكِ ځکه په هغه کي د تملیک معنیٰ سته بِخِلَافِ الْهِبَةِ په خلاف د هبې لِأَنَّهَا تَمْلِيكٌ مَحْضٌ ځکه هبه خالص تملیک دی وَلَا وِلَايَةَ لِأَحَدٍ عَلَيْهِ لِيُمَلِّكَهُ شَيْئًا او پر جنین هیچا ته ولایت نسته چي هغه دیو شي مالک جوړ کړي وَأَمَّا الثَّانِي فَلِأَنَّهُ بِعَرْضِ الْوُجُودِ او کوم چي دویم [په حمل سره وصیت کول] دي نو په دې وجه [جائز دي] چي حمل د وجود [پیدا کېدلو] پر مقام دی [یعني پیدا کېدلو ته نژدې دی] إِذِ الْكَلَامُ فِيمَا إِذَا عُلِمَ وُجُودُهُ وَقْتَ الْوَصِيَّةِ ځکه [مذکوره] خبره په هغه صورت کي ده کله چي د وصیت په وخت کي د هغه وجود [موجودېدل] معلوم وي [چي هغه د مور په نس کي موجود دی] وَبَابُهَا أَوْسَعُ لِحَاجَةِ الْمَيِّتِ وَعَجْزِهِ او د مړي د ضرورت او عاجزۍ په وجه د وصیت باب ډېر وسیع دی وَلِهَذَا تَصِحُّ فِي غَيْرِ الْمَوْجُودِ كَالثَّمَرَةِ په همدې وجه په غیر موجود شي کي وصیت صحیح دی لکه مېوه [کوم چي د وصیت په وخت کي موجوده نه وي] فَلَأَنْ تَصِحَّ فِي الْمَوْجُودِ أَوْلَى نو په موجود شي کي خو به په درجه اولیٰ وصیت صحیح وي.

اللغات: ﴿حمل﴾ هغه بچی چي د مور په نس (خېټه) کي وي، او همدا د جنین معنیٰ ده. ﴿استخلاف﴾ د استفعال د باب مصدر دی: خلیفه جوړول، قائم مقام کول، نائب کول. ﴿عرض﴾ د دې لفظ ډېر معناوي دي: پېش کېدل وغیره، عرض الوجود: د وجود پر پېشګاه، د وجود پېش کېدلو پر مقام.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي په نس کي د موجود حمل لپاره هم وصیت کول جائز دي او خودي د حمل وصیت کول (حمل په وصیت کي ورکول) هم جائز دي. مثلاً که څوک وصیت وکړي چي زما له مال څخه دومره مال د هغه حمل لپاره دی کوم چي د فلانکۍ ښځي په نس کي دی. یا دا وصیت وکړي چي زما د فلانکۍ مینځي په نس کي چي کوم حمل دی هغه د فلانکي کس لپاره دی. نو دا دواړه صورتونه جائز دي، لېکن شرط دا دی چي د وصیت په وخت کي حمل په نس کي موجود وي. او په نس کي د حمل د وجود علامه دا ده چي د وصیت له وخت څخه تر شپږو میاشتو په کمه موده کي بچی پیدا سي.

أمّا الأول إلخ: يعني د حمل (جنين) لپاره د وصيت جائز کېدلو دليل دا دی چي وصيت من وجه استخلاف دی: ځکه موصیٰ به (جنين) د موصي تر مرګ وروسته د موصیٰ لهٗ په ملکيت کي داخلېږي او موصي ابتداءً موصیٰ لهٗ د وصيت د مال خليفه جوړوي کوم چي د موصي تر مرګ وروسته هغه ته حاصلېږي. او جنين په ميراث کي د خپل مورث خليفه کېدلای سي، لهذا ميراث کوم چي د وصيت خور ده په هغه کي به هم جنين د موصي خليفه کېدلای سي: په وصيت او ميراث کي فرق دا دی چي په وصيت کي د موصي له طرفه تمليک کيږي (يعني هغه يو څوک د خپل څه مال مالک جوړوي) او دا تمليک د شريعت له طرفه جبراً نه ثابتيږي، نو ځکه په هغه کي رجوع کېدلای سي. حال دا چي په ميراث کي مورث ته د رجوع حق حاصل نه دی: ځکه ميراث محض استخلاف دی او شرعاً په هغه کي جبراً ملکيت ثابتېدلای سي.

بخلاف الهبة إلخ: فرمايي چي د حمل لپاره وصيت خو جائز دی. لېکن هبه جائز نه ده: ځکه هبه خالص تمليک دی او په هغه کي استخلاف جاري نه دی او د تمليک (مالک جوړولو) لپاره د موهوب لهٗ موجودېدل ضروري دي. حال دا چي "حمل" تر اوسه ناپيدا شده وي او پر هغه هيچا ته ولايت نه وي. نو ځکه د حمل لپاره هبه صحيح نه ده.

وأما الثاني إلخ: يعني د حمل د وصيت جائز کېدلو دليل دا دی چي مذکوره مسئله د هغه حمل (جنين) په هکله ده چي د هغه د وجود قطعي او يقيني علم وي لکه څرنګه چي په "إذا وضع لأقل إلخ" سره دا خبره واضحه کړی سوه او ښکاره ده چي کله حمل په يقيني توګه موجود او معلوم وي نو په را روان نژدې وخت (مستقل قريب) کي به هغه پيدا هم سي. او د مړي د ضرورت او مجبوری په خاطر شريعت د وصيت باب ډېر وسيع کړی دی. نو ځکه د حمل وصيت هم جائز دی. او فقط دا نه بلکي که څوک دا وصيت وکړي چي زما د باغ مېوه د فلانکي لپاره ده. حال دا چي مېوه د وصيت په وخت کي موجوده نه وي، نو هم وصيت جائز کيږي. لهذا کله چي د هغه مېوي کوم چي معدومه ده وصيت جائز دی. نو د موجود حمل وصيت خو به په درجه اولیٰ جائز وي.

د حامله مینځې په وصیت کې د هغې د حمل د استثنا کولو حکم

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى بِجَارِيَةٍ إِلَّا حَمْلَهَا فرمايي: او څوک چې د مينځې وصيت وکړي مګر د هغې د حمل صَحَّتِ الْوَصِيَّةُ وَالِاسْتِثْنَاءُ نو وصيت او استثناء صحيح کيږي لِأَنَّ اِسْمَ الْجَارِيَةِ لَا يَتَنَاوَلُ الْحَمْلَ لَفْظًا ځکه اسم د جاريه [مينځه] د لفظ په اعتبار سره حمل لره نه شامليږي وَلٰكِنَّهُ يَسْتَحِقُّ بِالْإِطْلَاقِ تَبَعًا ليکن د مطلق والي [مطلق جاريه ويلو] په وجه تبعاً د حمل استحقاق [هم] ثابتيږي فَإِذَا أَفْرَدَ الْأُمَّ بِالْوَصِيَّةِ نو کله چې موصي يوازې [جلا] د مور وصيت وکړی صَحَّ إِفْرَادُهَا يوازې د مور وصيت کول به صحيح وي وَلِأَنَّهُ يَصِحُّ إِفْرَادُ الْحَمْلِ بِالْوَصِيَّةِ او ځکه چې يوازې د حمل وصيت کول صحيح دي فَجَازَ اسْتِثْنَاؤُهُ نو ځکه د هغه استثناء به هم جائز وي وَهٰذَا هُوَ الْأَصْلُ أَنَّ مَا يَصِحُّ إِفْرَادُهُ بِالْعَقْدِ او همدا قاعدهٔ کليه ده چې د کوم شي عقد کول چې يوازې صحيح وي يَصِحُّ اسْتِثْنَاؤُهُ مِنْهُ نو له عقد څخه د هغه استثناء صحيح ده إِذْ لَا فَرْقَ بَيْنَهُمَا ځکه د دې دواړو [صحة عقد او استثناء] ترمينځ فرق نسته وَمَا لَا يَصِحُّ إِفْرَادُهُ بِالْعَقْدِ او د کوم شي عقد کول چې يوازې صحيح نه وي لَا يَصِحُّ اسْتِثْنَاؤُهُ مِنْهُ نو له عقد څخه د هغه استثناء هم صحيح نه ده وَقَدْ مَرَّ فِي الْبُيُوْعِ او دا [قاعدهٔ کليه] په کتاب البيوع کې تېر سوې ده.

اللغات: ﴿لا يتناول﴾ د تفاعل له بابه د نفي صيغه ده: شامليدل (کېدل). مشتمل کېدل. ﴿إفراد﴾ د افعال د باب مصدر دی: يوازې او تنها کول. جلا کول.

تشريح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی کوم چې پر ډېره مشهوره قاعده مبني دی او د هغه قاعدې حاصل دا دی چې کوم شی د بل شي تابع وي او له متبوع څخه بغير يوازې پر هغه تابع شي عقد کېدلای سي، نو له متبوع څخه د هغه تابع استثنا هم جائز ده. او که يوازې پر تابع عقد نه سو کېدلای. نو له متبوع څخه د هغه استثنا هم جائز نه ده. او حمل د مور تابع وي او يوازې پر حمل عقد کېدلای سي. نو ځکه (په وصيت کې) له مور څخه د حمل استثنا هم جائز ده. لهذا که څوک د خپلې مينځې وصيت وکړي او د هغې د حمل وصيت نه وکړي، نو وصيت جائز او صحيح دی او د اعتراض هيڅ موقع نسته: ځکه نوم د "جاريه" صرف د مينځې سره خاص دی او په لفظي اعتبار سره حمل په جاريه کې شامل نه دی.

له وصیت څخه د رجوع کولو حکم

قَالَ: وَيَجُوْزُ لِلْمُوْصِيْ الرُّجُوْعُ عَنِ الْوَصِيَّةِ فرمايي: او وصيت کونکي لره له وصيت څخه رجوع کول جائز دي لِأَنَّهُ تَبَرُّعٌ لَمْ يَتِمَّ ځکه وصيت يو داسي تبرّع ده کوم چي [تر اوسه] تام سوی نه ده فَجَازَ الرُّجُوْعُ عَنْهُ كَالْهِبَةِ نو ځکه له وصيت څخه به رجوع جائز وي لکه هبه [چي له هغه څخه رجوع جائز ده] وَقَدْ حَقَّقْنَاهُ فِيْ كِتَابِ الْهِبَةِ او دا مورږ په كتابُ الهبه کي ثابته کړې ده وَلِأَنَّ الْقَبُوْلَ يَتَوَقَّفُ عَلَى الْمَوْتِ او ځکه چي [د وصيت] قبول [د موصي] پر مرګ موقوف دي وَالْإِيْجَابُ يَصِحُّ إِبْطَالُهُ قَبْلَ الْقَبُوْلِ او له قبول څخه مخکي د ايجاب باطلول صحيح دي كَمَا فِي الْبَيْعِ لکه په بيع کي.

اللغات: ﴿يتوقف﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: موقوف کېدل (موقوف پاتېدل).

تشريح: مسئله: دا ده که موصي له خپل وصيت څخه رجوع کول وغواړي، نو هغه ته د رجوع کولو پوره حق سته؛ ځکه وصيت غير تام تبرّع ده او د تبرّع حکم دا دی چي تر څو هغه تام او پوره سوې نه وي، له هغه څخه رجوع کېدلای سي، لکه هبه چي تر څو تام سوې نه وي (مثلاً موهوب لهٗ تر اوسه پر موهوب شي قبضه نه وي کړې)، نو واهب له هبې څخه رجوع کولای سي، نو همداسي موصي هم له وصيت څخه رجوع کولای سي.

په دې هکله بل دليل دا دی چي د وصيت قبول (قبلول) د موصي پر مرګ موقوف دي (كما مرّ) او له قبول څخه مخکي ايجاب باطلول کېدای سي، لهذا موصي کوم چي ايجاب کونکی دی که د موصیٰ لهٗ له قبول څخه مخکي خپل ايجاب باطل کړي، نو دا ابطال صحيح دی. لکه په بيع کي چي کله يو عاقد ايجاب وکړي او بيا د بل عاقد له قبول څخه مخکي هغه ايجاب کونکی عاقد خپل ايجاب باطل کړي، نو دا ابطال صحيح دی، نو همداسي په مذکوره مسئله کي له وصيت څخه رجوع هم صحيح ده.

د رجوع طريقه او تفصيل

قَالَ: وَإِذَا صَرَّحَ بِالرُّجُوْعِ فرمايي: او کله چي موصي صراحتاً رجوع وکړي أَوْ فَعَلَ مَا يَدُلُّ عَلَى الرُّجُوْعِ يا داسي کار وکړي کوم چي په رجوع باندي دلالت کوي كَانَ رُجُوْعًا نو دا رجوع ګرځي أَمَّا الصَّرِيْحُ فَظَاهِرٌ کوم چي صريح [صراحتاً رجوع کول] دي نو ښکاره ده [چي هغه رجوع ګرځي] وَكَذَا الدَّلَالَةُ او همدارنګه دلالت [دلالتاً رجوع کول هم ښکاره ده] لِأَنَّهَا تَعْمَلُ عَمَلَ الصَّرِيْحِ ځکه دلالت د صريح په

ځېر عمل کوي نَقَامَ مَقَامَ قَوْلِهِ قَدْ أَبْطَلْتُ نو دا [رجوع کول] د موصي د دې قول قائم مقام سو [یعني لکه هغه چي ووایي]: قد أبطلتُ [ما وصیت باطل کړی] وَصَارَ كَالْبَيْعِ بِشَرْطِ الْخِيَارِ او داسي سو لکه د خیار په شرط سره بیع کول فَإِنَّهُ يَبْطُلُ الْخِيَارُ فِيهِ بِالدَّلَالَةِ ځکه په هغه [بیع بشرط الخیار] کي په دلالت سره خیار باطلیږي.

اللغات: ﴿صرّح﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: په ښکاره الفاظو سره ذکر کول. په وضاحت سره بیانول. ﴿یدلّ﴾ د نصر د باب مضارع ده: دلالت کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي موصي ته چي له وصیت ځخه کوم د رجوع حق حاصل دی. د دې رجوع دوې طریقې دي:

① ... یوه دا چي موصي صراحتاً رجوع وکړي او په ښکاره الفاظو داسي ووایي چي ما وصیت باطل کړی.

② ... دویمه طریقه دا چي موصي یو داسي کار وکړي کوم چي پر رجوع دلالت کوي. مثلاً موصي د یو چا لپاره د کور وصیت وکړي چي زما تر مرګ وروسته دا کور د فلانکي دی لیکن بیا موصي هغه کور په کرایه ورکړي، یا مثلاً د یو کپړې وصیت وکړي لیکن بیا هغه کپړه خپله استعمال کړي. نو په دې دواړو صورتونو کي له وصیت ځخه رجوع ثابتیږي، لکه په بیع کي چي کله مشتري د خپل ځان لپاره د خیار شرط لګولی وي، نو څرنګه چي د مشتري په صراحتاً ابطال سره خیار باطلیږي. همداسي په دلالتاً ابطال سره هم خیار باطلیږي.

له وصیت ځخه د رجوع کولو بل صورت او قاعده

ثُمَّ كُلُّ فِعْلٍ لَوْ فَعَلَهُ الْإِنْسَانُ فِي مِلْكِ الْغَيْرِ بیا هر داسي کار چي که هغه انسان د بل چا په ملکیت کي وکړي يَنْقَطِعُ بِهِ حَقُّ الْمَالِكِ نو په هغه سره د مالک حق منقطع کیږي فَإِذَا فَعَلَهُ الْمُوصِي لهذا کله چي موصي داسي کار وکړي كَانَ رُجُوعًا نو دا رجوع ګرځي وَقَدْ عَدَدْنَا هٰذِهِ الْأَفَاعِيلَ فِي كِتَابِ الْغَصْبِ او موږ [مخکي] په کتابُ الغصب کي دا افعال شمېرلي دي.

اللغات: ﴿عددنا﴾ د نصر له بابه د جمع متکلم صیغه ده: شمېرل. ګڼل. ﴿افاعیل﴾ جمع د فعل ده: کار.

تشریح: په دې عبارت کي صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د رجوع عن الوصیة په هکله بل صورت او قاعده بیان کړې ده. حاصل یې دا دی چي هر داسي کار چي که یو څوک هغه د بل چا په ملکیت کي وکړي نو د هغه په وجه له مذکوره شي ځخه د مالک حق ختمیږي. نو داسي کار یو ډول تصرف او

تغیر دی. لهذا که موصي د وصیت په شي (موصی به) کي داسي کار وکړي. نو دا له وصیت څخه د رجوع دلیل دی. مثلاً که څوک اوسپنه غصب کړي او له هغه څخه یو شی جوړ کړي (مثلا توره). نو ښکاره خبره ده چي اوس دا مغصوب شی (اوسپنه) مغصوب منهٔ ته نه سي واپس کول کېدای او غاصب به د هغه ضمان (تاوان) اداء کوي. نو همدغه ډول که موصي د یو چا لپاره د اوسپني وصیت وکړي او بیا موصي له هغه څخه یو شی جوړ کړي. نو د هغه دا فعل هم له وصیت څخه رجوع ده.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي مخکي په کتاب الغصب کي مو د دې افعالو یادونه کړې ده.

د رجوع کولو بل صورت

وَكُلُّ فِعْلٍ يُوجِبُ زِيَادَةً فِي الْمُوصَى بِهِ او هر داسي کار کوم چي په موصی به کي زیاتوب ثابت کړي وَلَا يُمْكِنُ تَسْلِيمُ الْعَيْنِ إِلَّا بِهَا او له هغه څخه بغیر د عین [موصیٰ به] ورسپارل ممکن نه وي فَهُوَ رُجُوعٌ إِذَا فَعَلَهُ نو دا رجوع ده کله چي موصي هغه کار وکړي مِثْلُ السَّوِيقِ يَلُتُّهُ بِالسَّمْنِ لکه نیني چي موصي هغه په غوړیو کي لت پت کړي وَالدَّارِ يَبْنِي فِيهِ الْمُوصِي. او لکه کور چي موصي په هغه کي ځای جوړ کړي وَالْقُطْنِ يَحْشُو بِهِ او لکه پمبه چي موصي په هغه سره یو شی [بالښت وغیره] ډک کړي وَالْبِطَانَةِ يُبَطِّنُ بِهَا او لکه [الاندینۍ] استر چي موصي په هغه سره استر جوړ کړي وَالظِّهَارَةِ يُظَهِّرُ بِهَا او لکه ابره [پاسنی استر] چي موصي په هغه سره ابره جوړه کړي لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُهُ تَسْلِيمُهُ بِدُونِ الزِّيَادَةِ ځکه [دلته] له زیاتوب څخه بغیر د هغه [نینو. کور وغیره] ورسپارل ممکن نه دي وَلَا يُمْكِنُ نَقْضُهَا او نه د زیاتوب ماتول ممکن دي لِأَنَّهُ حَصَلَ فِي مِلْكِ الْمُوصِي مِنْ جِهَتِهِ ځکه دا زیاتوب د موصي له طرفه د موصي په ملکیت کي حاصل سوی دی بِخِلَافِ تَخْصِيصِ الدَّارِ الْمُوصَى بِهَا په خلاف د وصیت کړی سوي کور د چونه کولو وَهَدْمِ بِنَائِهَا او [په خلاف] د وصیت کړی سوی کور د ودانۍ نړولو لِأَنَّهُ تَصَرُّفٌ فِي التَّابِعِ ځکه دا په تابع کي تصرف دی.

اللغات: ﴿یوجب﴾ د افعال د باب مضارع ده: واجبول. ثابتول. ﴿تسلیم﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: ورسپارل. ﴿سویق﴾ نیني. د غنمو او اوربشو وریته سوي او میده سوي دانې (پر اور کباب کړل سوي او میده سوي دانې). د غنمو او اوربشو وریته سوي (کباب سوي) اوړه. ﴿سَمْن﴾ غوړي (د غوا او داسي نورو

غوړي). ﴿قطن﴾ پمبه (پنبه). مالوچ (صفا سوې پنبه چې پنبه دانه څني کښل سوې وي). ﴿يحشو﴾ د نصر د باب مضارع ده: بالښت وغيره په پمبه وو ډکول. په بالښت کي پمبه اچول. ﴿بِطَانَة﴾ د کپړې او جامې لاندينی (دننی) استر. ﴿الظِهَارَة﴾ (بکسر الظاء): د کپړې او جامې پاسنی (بنکاره) استر. صاحب د معجم يې داسي تعريف کړی دی: الظِهَارَة من الثوب ما يُظهر للعين منه ولا يلي الجسد وهو خلاف البِطَانَة. يا په بله وينا دا چې د جامې د مخ استر او د مخ کپړه. ﴿هَدَم﴾ د ضرب د باب مصدر دی: نړول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که موصي په موصیٰ به کي داسي زياتوب (اضافه) وکړي کوم چې له موصیٰ به څخه نه سي جلا کېدای او موصیٰ به له هغه زياتوب څخه بغير موصیٰ لهٗ ته جلا ورسپارل ممکن نه وي، نو دا هم له وصيت څخه د رجوع دليل دی. مثلاً که موصیٰ به نينې وي او بيا موصي هغه په غوړو کي لت پت کړي او په غوړو سره يې خيشتې کړي. يا مثلاً موصیٰ به کور وي (يعني موصي د کور وصيت کړی وي) او بيا موصي په هغه کور کي يو ځای جوړ کړي. يا مثلاً موصیٰ به پمبه (پنبه) وي او موصي په هغه سره بالښت وغيره ډک کړي او داسي نور. نو په دې ټولو صورتونو کي د موصي دا فعل له وصيت څخه رجوع شمېرل کېږي؛ ځکه له دې تصرفاتو څخه بغير موصیٰ به جلا ورسپارل ممکن نه دي.

د دې په خلاف که موصي د وصيت کور چونه کړي. يا په هغه کي يو ځای ونړوي، نو دا له وصيت څخه رجوع نه ده؛ ځکه دا په تابع کي تصرف کول دي او د تابع په تصرف سره پر اصل هيڅ اثر نه لوېږي. نو ځکه په دې صورت کي وصيت برقرار پاتېږي.

د رجوع کولو بل صورت

وَكُلُّ تَصَرُّفٍ أَوْجَبَ زَوَالَ مِلْكِ الْمُوْصِيْ او هر داسي تصرف کوم چې د موصي د ملکيت زائلېدل ثابت کړي فَهُوَ رُجُوْعٌ نو هغه رجوع ده كَمَا إِذَا بَاعَ الْعَيْنَ الْمُوْصٰى بِهٖ لکه کله چې موصي وصيت کړی سوی شی خرڅ کړي ثُمَّ اشْتَرَاهُ بيا هغه رانيسي أَوْ وَهَبَهٗ يا موصي هغه هبه کړي ثُمَّ رَجَعَ فِيْهِ بيا په هغه [هبه] کي رجوع وکړي لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ لَا تَنْفُذُ إِلَّا فِيْ مِلْكِهٖ ځکه وصيت صرف د موصي په خپل ملکيت کي نافذېږي فَإِذَا أَزَالَهٗ نو کله چې موصي هغه [خپل ملکيت] زائل کړی كَانَ رُجُوْعًا نو دا رجوع سوه وَذَبْحُ الشَّاةِ الْمُوْصٰى بِهَا رُجُوْعٌ او د وصيت کړی سوي پسه ذبح کول رجوع ده لِأَنَّهٗ

لِلصَّرْفِ إِلَىٰ حَاجَتِهِ عَادَةً ځکه داسي کول عادتاً په خپل ضرورت کي د صرفولو لپاره وي [يعني پسه ذبح کول وغيره عموماً انسان د خپل ضرورت لپاره کوي] فَصَارَ هٰذَا الْمَعْنٰى أَصْلًا أَيْضًا لهذا دغه معنیٰ هم يوه قاعده وګرځيده وَغَسْلُ الثَّوْبِ الْمُوْصٰى بِهٖ لَا يَكُوْنُ رُجُوْعًا او د وصيت کړی سوي کپړې پرېولل رجوع نه ګرځي لِأَنَّ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُّعْطِيَ ثَوْبَهُ غَيْرَهُ ځکه څوک چي وغواړي چي خپله کپړه بل چا ته ورکړي يَغْسِلُهُ عَادَةً نو عادتاً هغه کپړه پرېولي فَكَانَ تَقْرِيْرًا نو دا به د وصيت ثابتول [او مضبوطول] وي.

اللغات: ﴿أَوجب﴾ د افعال د باب ماضي ده: واجبول. ثابتول. ﴿أزال﴾ د افعال د باب ماضي ده: زائلول. ليري كول. ﴿شاة﴾ اسمِ جنس دی: پسه. وزګړی. بزه. مېږه پر هر يوه يې اطلاق کېږي. ﴿صَرْف﴾ د ضرب د باب مصدر دی: ګرځول. خرچول (مصرفول). ﴿تقرير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ثابتول. باقي ساتل.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که موصي په موصیٰ بهٖ کي داسي تصرف وکړي چي د هغه په وجه له موصیٰ بهٖ څخه د موصي ملکيت زائلېږي. مثلاً موصیٰ بهٖ شی خرڅ کړي يا يې په هبه کي چا ته ورکړي. نو په دې دواړو صورتونو کي وصيت باطلېږي که څه هم وروسته موصي هغه رانيسي يا يې له واهب څخه واپس واخلي: ځکه وصيت د موصي په خپل ملکيت کي نافذېږي او دلته د بيع او هبې په وجه له موصیٰ بهٖ څخه د موصي ملکيت زائل سو. نو ځکه له وصيت څخه رجوع کول به متحقق سي.

وذبح الشاة إلخ: د دې حاصل دا دی چي که موصیٰ بهٖ پسه وي او موصي هغه ذبح کړي. نو دا هم له وصيت څخه رجوع ده: ځکه عموماً انسان د خپل ضرورت لپاره پسه وغيره ذبح کوي. نو ځکه د پسه ذبح کول به رجوع وي، او له همدې څخه دا قاعده هم څرګنده سوه چي هر هغه تصرف کوم چي موصي د خپل ضرورت لپاره په موصیٰ بهٖ کي وکړي. هغه رجوع شمېرل کېږي.

وغسل الثوب إلخ: د دې حاصل دا دی چي که څوک ديو چا لپاره د يو کپړې وصيت وکړي (چي مثلاً زما دا څادر وغيره د فلانکي دي). او بيا هغه کپړه (څادر) پرېولي. نو دا له وصيت څخه رجوع نه ده: ځکه عموماً کله چي يو څوک يو چا ته کپړه ورکوي. نو پرېوللې کپړه ورکوي. لهذا پرېولل به د وصيت لپاره اثبات وي. نه رجوع.

له خپل وصیت څخه د انکار کولو حکم او تفصیل

قَالَ: وَإِنْ جَحَدَ الْوَصِيَّةَ فرمایي: او که څوک د وصیت انکار وکړي لَمْ يَكُنْ رُجُوْعًا نو دا انکار [له وصیت څخه] رجوع نه ګرځي كَذَا ذَكَرَهُ مُحَمَّدٌ همداسي امام محمد رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ ۞: يَكُوْنُ رُجُوْعًا او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چي رجوع ګرځي لِأَنَّ الرُّجُوْعَ نَفْيٌ فِي الْحَالِ وَالْجُحُوْدَ نَفْيٌ فِي الْمَاضِيْ وَالْحَالِ ځکه رجوع فی الحاله [د وصیت] نفي کول دي او جحود په ماضي او حال دواړو کي [د وصیت] نفي کول دي فَأَوْلٰى أَنْ يَكُوْنَ رُجُوْعًا نو ځکه دا جحود [انکار کول] به په درجه اولیٰ رجوع وي وَلِمُحَمَّدٍ: أَنَّ الْجُحُوْدَ نَفْيٌ فِي الْمَاضِيْ او د امام محمد رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي جحود په ماضي کي [د وصیت] نفي کول دي وَالِانْتِفَاءُ فِي الْحَالِ ضَرُوْرَةُ ذٰلِكَ او فی الحاله [د وصیت] منتفي کېدل د هغه [نفی فی الماضي] له ضرورت څخه دي وَإِذَا كَانَ ثَابِتًا فِي الْحَالِ او کله چي [د موصي کذب] فی الحاله ثابت دي كَانَ الْجُحُوْدُ لَغْوًا نو [د موصي] انکار به لغو وي أَوْ لِأَنَّ الرُّجُوْعَ إِثْبَاتٌ فِي الْمَاضِيْ وَنَفْيٌ فِي الْحَالِ یا ځکه چي رجوع په ماضي کي [د وصیت] ثابتول دي او په حال کي نفي کول دي وَالْجُحُوْدَ نَفْيٌ فِي الْمَاضِيْ وَالْحَالِ او انکار په ماضي او حال دواړو کي [د وصیت] نفي کول دي فَلَا يَكُوْنُ رُجُوعًا حَقِيْقَةً نو ځکه هغه به حقیقتاً رجوع نه ګرځي وَلِهٰذَا لَا يَكُوْنُ جُحُوْدُ النِّكَاحِ فُرْقَةً په همدې وجه د نکاح انکار کول فرقت نه ګرځي.

اللغات: ﴿جحد﴾ د فتح د باب ماضي ده: انکار کول. ﴿انتفاء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: نفي کېدل، ختمېدل. ﴿فرقة﴾ جدایي، جلا والی (ښځه او خاوند سره جلا کېدل).

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي که موصي د وصیت انکار وکړي چي ما خو هیڅ وصیت نه دی کړی. نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز په دې سره رجوع نه ثابتیږي: لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ

۞ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وفي الجمع: وبه يفتى ومثله في العيني، ثم نقل عن العيون أن الفتوىٰ على أنه رجوع (اى قول أبي يوسف رَحِمَهُ الله)...ولكن المتون على الأول.... وجعل في الجمع قول محمد رَحِمَهُ الله مختار المشايخ.... وكذا قوله ما أخذ به القانون المصري كما في الفقه الاسلامي.... وهو مختار صاحب الهداية. انظر المراجح ودفع التعارض [القول الراجح ج:۲، ص:۲۷۲]

الله په نيز دا هم رجوع ده: د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي په رجوع کي فی الحاله وصيت نفي کول کيږي. يعني د رجوع حقيقت دا دی چي په رجوع سره په ماضي کي د وصيت اثبات راځي او فی الحاله (د رجوع په وخت کي) وصيت نفي کول کيږي او په دې توګه رجوع ثابتيږي. خو د وصيت د انکار کولو (جحود الوصية) په صورت کي په ماضي کي هم وصيت نفي کول کيږي او په حال کي هم يعني په جحود سره په ماضي او حال دواړو کي د وصيت نفي کول مقصود وي. نو کله چي صرف د حال په نفي سره رجوع ثابتيږي. نو د ماضي او حال دواړو په نفي سره به په درجه اولیٰ رجوع ثابتيږي.

ولمحمد إلخ: دا د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دی او حاصل يې دا دی چي په جحود (انکار کولو) سره په ماضي کي د وصيت نفي کول کيږي او فی الحاله د وصيت منتفي کېدل په ماضي کي د واقع سوي نفي د لوازماتو څخه دي. په بله وينا دا چي د ماضي پر نفي د حال نفي مبني دی. لېکن څرنګه چي په ماضي کي د موصي له طرفه جحود نسته بلکي اثبات دی؛ ځکه مذکوره مسئله په هغه صورت کي فرض کړل سوې ده چي موصي په ماضي کي وصيت کړی وي. لهذا کله چي په ماضي کي جحود نسته. بلکي اثبات سته. نو په حال کي به د موصي جحود لغو وي او د ماضي پر اثبات د نه مبني کېدلو په وجه به دا جحود (انکار) کذب او درواغ وي (ځکه کله چي هغه په ماضي کي وصيت کړی دی لېکن اوس د هغه انکار کوي. نو معلومه خبره ده چي موصي به کاذب وي) او موصي به د دې جحود په وجه رجوع کونکی نه شمېرل کيږي.

أو لأن الرجوع إلخ: د امام محمد رَحِمَهُ الله دويم دليل دا دی چي د رجوع او جحود حقيقت يو له بل څخه بالکل جلا دي، په رجوع کي په ماضي کي (د وصيت) اثبات راځي او په حال کي (د وصيت) نفي راځي او په جحود کي دواړه ځايونه (د وصيت) نفي راځي، نو کله چي د دواړو حقيقت سره جلا دی. نو بيا په جحود او انکار کولو سره څنګه حقيقتاً رجوع ثابتېدلای سي!. همدا وجه ده چي له نکاح څخه انکار کول فرقت او طلاق نه شمېرل کيږي؛ ځکه د دواړو حقيقت سره جلا دی: ځکه د جحود مقصد په ماضي کي د نکاح نفي کول دي او د طلاق مقصد په ماضي کي د نکاح اثبات او فی الحاله د نکاح نفي کول دي. نو څرنګه چي په دې دواړو کي د تقابل په وجه يو د بل پر ځای د استعارې په توګه نه استعمالول کيږي. نو همداسي د انکار او رجوع ترمينځ هم تقابل دی. نو ځکه له دوی څخه به يو د بل پر ځای نه استعمالول کيږي.

خپل وصیت ته "حرام" یا "سود" ویل (حکم او تفصیل)

وَلَوْقَالَ: كُلُّ وَصِيَّةٍ أَوْصَيْتُ بِهَا لِفُلَانٍ او که موصي ووايي: هر هغه وصيت کوم چې ما د فلانکي لپاره کړی دی فَهُوَحَرَامٌ وَرِبًا نو هغه حرام او سُود دی لَايَكُوْنُ رُجُوْعًا نو دا رجوع نه ګرځي لِأَنَّ الْوَصْفَ يَسْتَدْعِي بَقَاءَ الْأَصْلِ ځکه وصف د اصل د باقي والي تقاضا کوي بِخِلَافِ مَاإِذَا قَالَ: فَهِيَ بَاطِلَةٌ په خلاف د هغه صورت کله چې موصي ووايي: [هر هغه وصيت چې د ما فلانکي لپاره کړی دی] نو هغه باطل دی لِأَنَّهُ الذَّاهِبُ الْمُتَلَاشِيْ ځکه باطل هغه دی کوم چې ختم سوی معدوم سوی وي وَلَوْقَالَ: أَخَّرْتُهَا او که ووايي: چې ما وصيت مؤخر کړی لَايَكُوْنُ رُجُوْعًا نو دا رجوع نه ګرځي لِأَنَّ التَّأْخِيْرَ لَيْسَ لِلسُّقُوْطِ ځکه [د وصيت] مؤخر کول [د وصيت] د ساقطېدلو لپاره نه دي كَتَأْخِيْرِ الدَّيْنِ لکه قرض مؤخر کول بِخِلَافِ مَاإِذَا قَالَ: تَرَكْتُ په خلاف د هغه صورت کله چې موصي ووايي: ما [وصيت] پرېښوی لِأَنَّهُ إِسْقَاطٌ ځکه پرېښوول اسقاط [د وصيت ساقطول] دي.

اللغات: ﴿يستدعي﴾ د استفعال د باب مضارع ده: تقاضا کول، غوښتل. ﴿ذاهب﴾ د فتح د باب فاعل دی: تلونکی، ختمېدونکی. ﴿متلاشي﴾ د تفاعل د باب فاعل دی: لاشی کېدونکی، معدوم کېدونکی (نېستېدونکی). ﴿أخرت﴾ د تفعيل له بابه د واحد متکلم ماضي صيغه ده: مؤخر کول، ځنډول، وروسته کول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که موصي ووايي چې د فلانکي لپاره چې ما هر وصيت کړی دی، هغه وصيت حرام او سُود دی (يا مثلاً هغه وايي چې ما د فلانکي لپاره د کومو شيانو وصيت کړی دی. هغه ټوله حرام او سُود دي). نو دا رجوع عن الوصية نه ده او په دې سره رجوع نه ثابتيږي: ځکه چې حرام کېدل او سود کېدل يو وصف دی او وصف د اصل بقاء لره متضمن وي چې اصل (وصيت) به باقي وي. نو ځکه د موصي دا قول به رجوع نه وي. بلکې د وصيت اثبات به وي او مطلب به يې دا وي چې وصيت موجود دی که څه هم هغه سود او حرام دی.

بخلاف إلخ: يعني که موصي داسې ووايي چې "كلّ وصية أوصيتُ بها لفُلان فهي باطلة". نو په دې صورت کې د هغه دا قول رجوع ده: ځکه باطل هغه ته وايي کوم چې معدوم او ختم سي او وصيت په هغه صورت کې معدوم کيږي کله چې موصي له وصيت څخه رجوع وکړي.

ولوقال إلخ: د دې حاصل دا دی چې که موصي ووايي چې ما د فلانکي لپاره وصيت مؤخر او وروسته کړی، نو دا هم رجوع نه ده او په تأخير (مؤخر کولو) سره رجوع نه ثابتيږي: ځکه تأخير د سقوط لپاره نه وي او په تأخير کې د اثبات اړخ غالب وي تر نفي. مثلاً که د قرض مالک له مقروض څخه د قرض اخيستل مؤخر کړي (چې زه درا روان کال پر ځای بل کال قرض در څخه اخلم)، نو په دې سره د قرض اسقاط نه ثابتيږي، نو همداسې به د وصيت په تأخير سره هم د وصيت اسقاط نه ثابتيږي.

بخلاف ما إذا إلخ: فرمايي که موصي داسې ووايي چې ما وصيت پرېښوو ی، نو دا رجوع ده: ځکه پرېښوول اسقاط (يعني د وصيت ساقطول) دي او اسقاط رجوع ده. نو ځکه ترک (پرېښوول) به هم رجوع وي.

د رجوع يو مخصوص صورت او تفصيل

وَلَوْقَالَ: الْعَبْدُ الَّذِىْ أَوْصَيْتُ بِهِ لِفُلَانٍ او که موصي ووايي: هغه غلام چې ما د فلانکي لپاره د هغه وصيت کړی دی فَهُوَلِفُلَانٍ نو هغه غلام [تر دې وروسته] د فلانکي دی كَانَ رُجُوْعًا نو دا رجوع ګرځي لِأَنَّ اللَّفْظَ يَدُلُّ عَلٰى قَطْعِ الشَّرِكَةِ ځکه [مذکوره] لفظ د شرکت پر ختمولو دلالت کوي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَوْصٰى بِهِ لِرَجُلٍ ثُمَّ أَوْصٰى بِهِ لِاٰخَرَ په خلاف د هغه صورت کله چې څوک د يوه سړي لپاره د غلام وصيت وکړي بيا د بل سړي لپاره د هغه وصيت وکړي لِأَنَّ الْمَحَلَّ يَحْتَمِلُ الشَّرِكَةَ ځکه [دلته] محل [غلام] د شرکت احتمال لري وَاللَّفْظُ صَالِحٌ لَهَا او دا لفظ د شرکت صلاحيت لرونکی دی وَكَذَا إِذَا قَالَ: فَهُوَلِفُلَانٍ وَارِثِيْ او همدارنګه کله چې موصي ووايي: [چې ما د فلانکي لپاره د کوم غلام وصيت کړی وو] نو هغه غلام زما د فلانکي وارث دی يَكُوْنُ رُجُوْعًا عَنِ الْأَوَّلِ نو دا له اول څخه رجوع ګرځي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی وَيَكُوْنُ وَصِيَّةً لِلْوَارِثِ او [غلام] د وارث لپاره وصيت ګرځي وَقَدْ ذَكَرْنَا حُكْمَهُ او د دې حکم موږ [مخکې] ذکر کړی دی وَلَوْكَانَ فُلَانٌ الْاٰخَرُ مَيِّتًا حِيْنَ أَوْصٰى او که هغه بل فلانکی [دويم موصیٰ له] د وصيت کولو په وخت کې مړ وي فَالْوَصِيَّةُ الْأُوْلٰى عَلٰى حَالِهَا نو اول وصيت پر خپل حال پاته دی لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ الْأُوْلٰى إِنَّمَا تَبْطُلُ ضَرُوْرَةَ كَوْنِهَا لِلثَّانِيْ ځکه اول وصيت د دې ضرورت په وجه باطليږي چې هغه د دويم

موصی له لپاره دی وَلَمْ يَتَحَقَّقْ حال دا چې [دلته] هغه [د دویم موصی له لپاره وصیت] ثابت نه سو فَيَبْقَى لِلأَوَّلِ نو وصیت د اول موصی له لپاره پاتېه سو وَلَوْكَانَ فُلَانٌ حِيْنَ قَالَ ذٰلِكَ حَيًّا او كه فلان [دويم موصی له] كله چې موصي دا خبره [...فهو لفلان] كړې وي ژوندی وي [یعني كله چې موصي د دویم موصی له لپاره وصیت کړی وي په هغه وخت کي دویم موصی له ژوندی وي] ثُمَّ مَاتَ قَبْلَ مَوْتِ الْمُوصِيْ بیا هغه [دویم موصی له] د موصي تر مرګ مخکي مړ سي فَهِيَ لِلْوَرَثَةِ نو وصیت د موصي د وارثانو لپاره دی لِبُطْلَانِ الْوَصِيَّتَيْنِ ځکه چې دواړه وصیتونه باطل سوه الْأُولٰى بِالرُّجُوْعِ وَالثَّانِيَةُ بِالْمَوْتِ اول وصیت د رجوع په وجه [باطل سو] او دویم وصیت [د موصی له] د مرګ په وجه.

اللغات: ﴿قطع﴾ د فتح د باب مصدر دی: پرېکول (غوڅول)، ختمول. ﴿لم يتحقق﴾ د تفعل له بابه د جحد صیغه ده: موجودېدل. ثابتېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که زید مثلاً د خالد لپاره د یو غلام وصیت کړی وو. بیا نا څاپه د هغه رایه بدله سوه او داسي یې وویل چې ما د خالد لپاره د کوم غلام وصیت کړی وو. هغه غلام تر دې وروسته د فلانکي مثلاً د حامد دی او زه هغه غلام حامد ته په وصیت کي ورکوم. نو د زید (موصي) دا قول او فعل د اول یوه (خالد) په حق کي له وصیت څخه رجوع ده. نو د خالد حق له دې غلام څخه منقطع کیږي: ځکه د موصي دا جمله "العبد الذی إلخ" د شرکت پر قطع دلالت کوي یعني دا ښیي چې هغه دا غلام اوس صرف حامد ته ورکول غواړي او دواړه نه پکښې شریکوي. کنې داسي جمله به یې نه اداء کولای.

د دې په خلاف که زید مثلاً خالد ته یو غلام په وصیت کي ورکړی وو. بیا یې د حامد لپاره هم د هغه غلام وصیت وکړی. نو د دې مطلب دا دی چې اوس موصي (زید) په همدې یوه غلام کي د دواړو لپاره وصیت کوي: ځکه دلته په محل (غلام) کي د شرکت احتمال سته او د وصي جمله د شرکت صلاحیت لري: نو ځکه په دې صورت کي دواړه موصی له (زید او حامد) په غلام کي شریکان کیږي.

وكذا إذا قال إلخ: د دې حاصل دا دی چې که موصي (زید) داسي ووایي چې ما د خالد لپاره د کوم غلام وصیت کړی وو. هغه غلام تر دې وروسته زما د فلانکي وارث مثلاً د حامد دی. نو په دې صورت کي

هم د هغه دا قول له اول موصی ٰلهٗ (خالد) څخه رجوع ده او د هغه حق له غلام څخه منقطع کیږي. نو غلام صرف د وارث (حامد) کیږي: ځکه د موصي دا جمله د شرکت پر قطع دلالت کوي. لهذا اوس هغه غلام صرف د وارث کیږي او دا جلا خبره ده چي کله نور وارثان اجازه ورکړي. نو بیا هغه غلام ده ته حاصلیږي لکه مخکي چي د دې تفصیل تېر سو (وهوأن الورثة بالخيار إن شاءوا أجازوا، وإن شاءوا ردوا).

ولوكان فلان الآخرإلخ: یعني کله چي موصي د دویم موصی ٰلهٗ (حامد) لپاره وصیت کړی وو. که په هغه وخت کي دویم موصی ٰلهٗ ژوندی نه وي بلکي له وصیت څخه مخکي مړ سوی وي. نو د اول موصی ٰلهٗ (خالد) لپاره وصیت باقي پاتیږي او نه باطلیږي: ځکه د اول وصیت باطلېدل د دویم وصیت پر صحت موقوف دي. او دلته د دویم موصی ٰلهٗ د مرګ په وجه دویم وصیت صحیح سوی نه دی. نو ځکه اول وصیت د اول موصی ٰلهٗ په حق کي باقي پاتیږي.

ولوكان فلان إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د وصیت کولو په وخت کي (یا په بله وینا د "العبد الذي أوصيتُ به لفلان فهو لفلان" د ویلو په وخت کي) فلان یعني دویم موصی ٰلهٗ (حامد) ژوندی وي. لېکن بیا هغه له موصي څخه مخکي مړ سي. نو په دې صورت کي دواړه وصیتونه باطلیږي یعني د اول او دویم موصی ٰلهٗ دواړو په حق کي وصیت باطلیږي او د وصیت مال (غلام) د موصي د وارثانو کیږي: ځکه اول وصیت خو د موصي د رجوع کولو په وجه باطل سو او دویم وصیت تر موصي مخکي د موصی ٰلهٗ د مړ کېدلو په وجه باطل سو. نو ځکه په دې صورت کي د وصیت غلام د موصي تر مرګ وروسته د هغه د وارثانو کیږي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



بَابُ الْوَصِيَّةِ بِثُلُثِ الْمَالِ

(دا) باب د مال د درېيمي حصې د وصيت کولو (په بيان کې) دی

تشريح: څرنګه چې د کتابُ الوصا زياتره مسئلې د ثلث المال پر وصيت مبني دي، نو ځکه د کتابُ الوصايا د اولو مسئلو او مقدماتو تر بيان وروسته اوس د ثلث المال د وصيت مسائل بيانول کېږي.

د دوو جلا کسانو لپاره د مال د ثلث (درېيمي حصې) وصيت کول

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى لِرَجُلٍ بِثُلُثِ مَالِهِ فرمايي: او څوک چې د يو سړي لپاره د خپل مال د درېيمي حصې وصيت وکړي وَلِآخَرَ بِثُلُثِ مَالِهِ او د بل يوه لپاره د خپل مال د درېيمي حصې وصيت وکړي وَلَمْ تُجِزِ الْوَرَثَةُ او وارثان اجازه نه ورکړي فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا نو ثلث [درېيمه حصه] د هغوی دواړو تر مينځ [نيم په نيمه] ده لِأَنَّهُ يَضِيقُ الثُّلُثُ عَنْ حَقِّهِمَا ځکه ثلث د هغوی دواړو له حق څخه تنګ دی [يعني په يوه ثلث سره د دواړو حق (ثلث) نه پوره کېږي] إِذْ لَا يُزَادُ عَلَيْهِ عِنْدَ عَدَمِ الْإِجَازَةِ ځکه [د وارثانو] د اجازې نه ورکولو په وخت کې وصيت له يوه ثلث څخه نه سي زياتول کېدای عَلٰى مَا تَقَدَّمَ لکه مخکې چې تېر سوه وَقَدْ تَسَاوَيَا فِيْ سَبَبِ الْاِسْتِحْقَاقِ او هغوی دواړه د مستحق کېدلو په سبب کې سره برابر دي فَيَسْتَوِيَانِ فِي الْاِسْتِحْقَاقِ نو په مستحق کېدلو کې به هم سره برابر وي وَالْمَحَلُّ يَقْبَلُ الشَّرِكَةَ او محل [مال] شرکت قبلوي فَيَكُوْنُ بَيْنَهُمَا نو ځکه ثلث المال به د هغوی دواړو تر مينځ [مشترک] وي.

اللغات: ﴿ثلث﴾ درېيمه حصهٔ، ﴿لم تجز﴾ د افعال له بابه د جحد صيغه ده: اجازه ورکول، جائز ګرځول. ﴿يضيق﴾ د ضرب د باب مضارع ده: تنګېدل. ﴿لا تزاد﴾ د ضرب له بابه د نفي مجهول صيغه ده: زياتول (زياتوب کول)، اضافه کول. ﴿تساويا﴾ د تفاعل له بابه د تثنيه غائب ماضي صيغه ده: برابرېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که څوک د يو سړي مثلاً د خالد لپاره د خپل مال د درېيمي حصې (ثلث المال) وصيت وکړي او د بل سړي مثلاً د حامد لپاره هم د ثلث المال وصيت وکړي. نو که د

موصي (وصیت کونکي) وارثان د دې اجازه ورکړي. نو دا وصیت جائز او صحیح دی. لیکن که وارثان اجازه نه ورکړي لکه څرنګه چې په مذکوره مسئله کې دي او تاسي ته مخکې معلومه سوه چې د اجازې د نشتوالي په وخت کې فقط په یوه ثلث کې وصیت نافذیږي. نو ځکه دلته به د موصي د مال ثلث (دریمه حصه) د دواړو موصی له (خالد او حامد) تر مینځ نیم په نیمه تقسیمیږي؛ ځکه د وارثانو د اجازې د نشتوالي په وجه په بل ثلث کې وصیت نه سي نافذیدلای. او په کوم ثلث کې چې وصیت جائز دی هغه د دوی دواړو له حق (ثلث) څخه تنګ دی او د دوی حق نه پوره کوي. نو ځکه په هغه کې به دواړه شریکان کیږي؛ ځکه د استحقاق په سبب یعني په وصیت کې دوی دواړه شریکان دي. نو ځکه په استحقاق کې به هم دوی دواړه شریکان کیږي او ثلث به د دوی تر مینځ نیم په نیمه تقسیمیږي.

د یوه کس لپاره د ثلث او د بل کس لپاره د سدس د وصیت کولو حکم

وَإِنْ أَوْصَىٰ لِأَحَدِهِمَا بِالثُّلُثِ وَلِلْآخَرِ بِالسُّدُسِ او که موصي له هغوی دواړو څخه د یوه لپاره د ثلث [دریمي حصې] وصیت وکړي او د بل لپاره د سدس [شپږمي حصې] فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا نو ثلث د هغوی دواړو تر مینځ په دریو حصو سره دی [چې ثلث والا ته به دوې حصې او سدس والا ته به یوه حصه ورکول کیږي] لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يُدْلِيْ بِسَبَبٍ صَحِيْحٍ ځکه له دوی دواړو څخه هر یو د صحیح سبب په وجه [خپل حق] راکشوي [د صحیح سبب په وجه استحقاق لري] وَضَاقَ الثُّلُثُ عَنْ حَقَّيْهِمَا او ثلث د دوی دواړو له حق څخه تنګ سوی دی [یعني په یوه ثلث سره د دواړو حق (ثلث او سدس) نه پوره کیږي] فَيَقْتَسِمَانِهِ عَلَىٰ قَدْرِ حَقَّيْهِمَا نو ځکه دوی دواړه به ثلث د خپل حق [حصې] په اندازه سره تقسیموي كَمَا فِيْ أَصْحَابِ الدُّيُوْنِ لکه څرنګه چې په قرضونو والا کې کیږي فَيُجْعَلُ الْأَقَلُّ سَهْمًا وَالْأَكْثَرُ سَهْمَيْنِ نو ځکه اقل به یوه حصه او اکثر به دوې حصې ګرځول کیږي فَصَارَ ثَلَاثَةَ أَسْهُمٍ نو دا ټوله به درې حصې سي سَهْمٌ لِصَاحِبِ الْأَقَلِّ وَسَهْمَانِ لِصَاحِبِ الْأَكْثَرِ یوه حصه د اقل [سدس] والا لپاره او دوې حصې د اکثر [ثلث] والا لپاره.

اللغات: ﴿سدس﴾ شپږمه حصه. ﴿يُدلِي﴾ د افعال د باب مضارع ده. په حاشیه کې یې د دې معنی په "کشیدن" (راکشولو) سره کړې ده. او شارحینو د دې معنی په "استحقاق لرلو" سره کړې ده. په قاموسونو کې چې د دې باب کومې معناوې نقل سوې دي، له هغوی څخه ځینې دا دي: دلیل بیانول.

دلیل ثبتول. وسیله ګرځول. همدارنګه سولاغه څاه ته ور اچول یا راکشول. ﴿أَسْهُم﴾ جمع د سَهْمٌ دی: حصه . برخه.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که یو څوک مثلاً د خالد لپاره د ثلث وصیت وکړي او د حامد لپاره د سدس وصیت وکړي او وارثان د دې وصیت اجازه نه ورکړي. نو په دې صورت کې به یو ثلث درې حصې کول کیږي، دوې حصې به هغه موصی له ته ورکول کیږي چې د هغه لپاره د ثلث وصیت سوی دی (یعني خالد). او یوه حصه به هغه موصی له (حامد) ته ورکول کیږي چې د هغه لپاره د سدس وصیت سوی دی: دلیل دا دی چې موصي د دواړو لپاره وصیت کړی دی. نو ځکه دوی دواړه په صحیح سبب سره د موصی به مستحق دي. او د موصي د مال په کوم مقدار کې چې وصیت جائز دی (یعني یو ثلث)، هغه د دواړو د حق اداء کولو لپاره ناکافي دی. نو ځکه په یوه ثلث کې به دوی دواړه شریکان کیږي او هر یو به د خپل حق په اندازه به له هغه څخه حصه اخلي. یعني ثلث والا (خالد) به دوې حصې اخلي او یوې حصې والا (حامد) به سدس اخلي.

د یوه کس لپاره د ګل مال او د بل لپاره د ثلث (درېیمې حصې) د وصیت کولو حکم او تفصیل

وَإِنْ أَوْصَى لِأَحَدِهِمَا بِجَمِيعِ مَالِهِ او که موصي په دوی دواړو کې د یوه لپاره د خپل ټوله مال وصیت وکړي وَلِلْآخَرِ بِثُلُثِ مَالِهِ او د بل یوه لپاره د خپل مال د درېیمې حصې وصیت وکړي وَلَمْ تُجِزِ الْوَرَثَةُ او وارثان اجازه نه ورکړي فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا عَلَى أَرْبَعَةِ أَسْهُمٍ عِنْدَهُمَا نو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز ثلث د دوی دواړو [موصی لهما] په مینځ کې پر څلورو حصو دی. وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ ﷺ: الثُّلُثُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمایي: چې ثلث د دوی دواړو تر مینځ نیم په نیمه دی وَلَا يَضْرِبُ أَبُو حَنِيفَةَ لِلْمُوصَى لَهُ بِمَا زَادَ عَلَى الثُّلُثِ او امام صاحب رَحِمَهُ الله د موصی له په حق کې د تناسب اعتبار نه کوي له ثلث [درېیمې حصې] څخه په زائد مقدار کې إِلَّا فِي الْمُحَابَاةِ وَالسِّعَايَةِ وَالدَّرَاهِمِ الْمُرْسَلَةِ مګر په محاباة کې او په سعایه کې او په دراهمه مرسله کې.

اللغات: ﴿محاباة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی. د دې باب څو معناوي دي: یو چا ته میلان کول. یو څوک په مال سره خاصول. د یو چا سره په ثمن (قیمت) یا په مبیع کې رعایت کول. یعني یو شی په ډېر کم قیمت سره خرڅول. یا د احسان کولو په قصد له عام رېټ (نرخ) څخه په کمه ورکول. ﴿سعاية﴾ د فتح د باب

مصدر دی: زیار او خواري کښل او ګټه کول (مال ګټل). د بل چا د حق اداء کولو لپاره کسب او مزدوري کول او مال ګټل. یا په بله وینا: د داسي غلام ګټه کول چي د هغه څه حصه آزاده سوې وي (چي هغه ګټه خپل مالک وغیره ته ورکړي او خپل پاته حصه هم آزاده کړي). ﴿ولایضرب﴾ د ضرب له بابه د نفي صیغه ده. صاحب د حاشیې رَحِمَهُ الله د دې لفظ د معناوو تحقیق داسي کړی دی: "ولایضرب [أی لایعطی أبوحنیفة له شیئًا زائدًا] إلخ" یقال: ضرب له فی ماله سهمًا أی جعل، فعلی هذا یکون ما فی "المختصر" علی حذف المفعول أی لایجعل له شیئًا فیه ولا یعطیه، کذا فی "المغرب"، وذکر فیه أیضًا "ضرب فی الجزور بسهم" إذا شرك فیها وأخذ منها نصیبًا، وقال الفقهاء: "فلان یضرب فیه بالثلث" أی یأخذ منه شیئًا بحکم ماله من الثلث. او مورړ چي په عبارت کي د دې لفظ کومه ترجمه نقل کړې ده هغه د اُردو شارحینو ده.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو څوک د خالد لپاره د ټوله مال وصیت وکړي او د حامد لپاره د مال د درېیمي حصې وصیت وکړي او د موصي وارثان د دې وصیت اجازه نه ورکړي. نو په کوم مقدار کي چي وصیت جائز دی یعني ثلثُ المال (د مال درېیمه حصه). د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز به هغه (ثلثُ المال) څلور حصې کول کیږي چي په هغه کي به د کُل والا (خالد) ته درې حصې ورکول کیږي او د ثلث والا (حامد) ته به یوه حصه ورکول کیږي. او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي ثلث المال به د دوی تر مینځ نیم په نیمه تقسیمول کیږي یعني ثلث به دوې حصې کول کیږي او هر موصیٰ لهٗ ته به یوه، یوه حصه ورکول کیږي

ولایضرب إلخ: د دې حاصل دا دی چي په مذکوره صورت کي یعني کله چي موصیٰ لهٗ دوه کسان وي (مثلاً خالد او حامد) او وصیت له ثلث څخه اضافه وي او وارثان د هغه اجازه هم نه ورکړي. نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز قاعده دا ده چي د موصیٰ لهٗ د حق تناسب ته به نه کتل کیږي یا په بله وینا دا چي د دواړو موصیٰ لهٗ (خالد او حامد) د حقوقو د تناسب اعتبار به نه کول کیږي: ځکه د حقوقو تناسب ته د ثلث المال د وصیت په وخت کي کتل کیږي (چي هر یوه ته به د خپل حق په اندازه حصه ورکول کیږي) او که وصیت له ثلث څخه زیات وي، نو بیا به د حقوقو تناسب ته نه کتل کیږي. بلکي دواړه موصیٰ لهٗ به برابر په ثلث کي شریکول کیږي (ځکه د وارثانو د اجازې د نشتوالي په صورت کي صرف په ثلث المال کي وصیت نافذیږي). او ځرنګه چي په مذکوره صورت کي وصیت له ثلث څخه زیات دی (کما هو ظاهر). نو ځکه د مذکوره قاعدې مطابق به د تناسب لحاظ نه کیږي. بلکي دواړه به مساوي شمېرل کیږي چي په یوه ثلث کي به دواړه شریکان کیږي.

لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له پورتني قاعدې څخه درې مسئلې مستثنىٰ دي:
①محاباة فى البيع، ② سعايه (د غلام کټه)، ③ دراهم مرسله. يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په محاباة، سعاية او په دراهم مراسله کې به د حق تناسب ته کتل کيږي او د تناسب اعتبار به کول کيږي.
①... "**محاباة فى البيع**" دلته د دې صورت دا دی چې مثلاً د شاکر دوه غلامان دي چې له هغوی څخه د يوه قيمت يوولس سوه (۱۱۰۰) درهمه دی او د بل قيمت شپږ سوه (۶۰۰) درهمه دی. او شاکر د محاباة او احسان کولو په توګه دا وصيت وکړی چې تاسي له دې دواړو څخه يو غلام صرف په سل درهمه پر خالد خرڅ کړئ! او بل غلام صرف په سل درهمه پر حامد خرڅ کړئ!. او بيا شاکر مړ سو او هغه له دې دواړو غلامانو څخه بغير نور مال هم پرې اينبی دی، نو دا وصيت به ټوله نافذيږي (يعني هر موصىٰ لهٗ به ته غلام صرف په سل درهمه ورکول کيږي). او که شاکر له دوی څخه بغير نور مال نه وي پرې اينبی، نو وصيت به صرف د مال په ثلث کي نافذيږي او هغه ثلث به دواړو موصىٰ له (خالد او حامد) ته د هغو د حق په تناسب سره ورکول کيږي، او دلته د خالد حق زر (۱۰۰۰) درهمه او د حامد حق پنځه سوه (۵۰۰) درهمه دی ځکه کله چې د يوه غلام قيمت (۱۱۰۰) درهمه دی او د بل غلام قيمت (۶۰۰) درهمه دی او شاکر (د محاباة په توګه) دا هر غلام په سل درهمه د ورکولو وصيت کړی دی. نو ګواکي شاکر د خالد لپاره د زرو درهمو او د حامد لپاره د پنځو سوو درهمو وصيت کړی دی چې هغوی مجموعتاً (۱۵۰۰) درهمه کيږي او (۱۵۰۰) درهمو ثلث پنځه سوه (۵۰۰) درهمه کيږي. نو ځکه د دې ثلث (۵۰۰) درهمو دوې حصې به خالد ته ورکول کيږي او يوه حصه به حامد ته ورکول کيږي. او پاته قيمت به د موصي وارثانو ته ورکول کيږي. او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز که دا صورت (محاباة فى البيع) له پورتني قاعدې څخه مستثنىٰ نه وای نو د خالد او حامد هر يوه لپاره به د پنځو سوو درهمو نصف (۲۵۰) درهمه وای او پاته قيمت به د موصي وارثانو ته ورکول کېدای. خو دلته هغه دغه اُصول پرې اينبی دی او د حق د تناسب په اعتبار سره يې ثلث تقسيم کړی دی.
②... "**سعايه**" د دې صورت دا دی چې مثلاً شاکر د خپلو دوو غلامانو د عتق وصيت وکړی (چې زما تر مرګ وروسته دا دواړه غلامان آزاد دي)، او په دوی کې د يوه قيمت دوه زره (۲۰۰۰) درهمه دی او د بل قيمت زر (۱۰۰۰) درهمه دی. خو له دوی څخه بغير د شاکر نور هيڅ مال نسته. نو دا وصيت به يوه ثلث (دريمه حصه) کې نافذيږي (چې هغه ۱۰۰۰ درهمه کيږي) او په باقي دوو ثلثو کې پر دوی دواړو

قيمت واجبيږي چي دوی به د دوو ثلثو د قيمت لپاره سعى او ګټه کوي او هغه به وارثانو ته ورکوي، لېکن هغه يو ثلث به د دوی د قيمت په تناسب سره تقسيميږي، او د دوی قيمت مجموعتاً درې زره درهمه دی چي د هغه ثلث زر (۱۰۰۰) درهمه دی، نو د کوم غلام قيمت چي دوه زره درهمه دی، د هغه له قيمت څخه (۶۶۶) درهمه ساقطيږي او د خپل پاته قيمت لپاره به هغه سعى او ګټه کوي (يعني ۱۳۳۴ درهمه به ګټي) او وارثانو ته به يې ورکوي، او د کوم غلام قيمت چي زر درهمه دی، د هغه له قيمت څخه (۳۳۳) ساقطيږي او خپل پاته قيمت به هغه ګټي او وارثانو ته به يې ورکوي.

②... "**دراهم مرسله**" د دې مطلب دا دی چي وصيت کونکی سړی (مثلاً شاکر) د ثلث او نصف وغيره صراحت نه وکړي چي مثلاً ثلث د خالد دی او نصف د حامد دی، بلکي مطلقاً داسي وصيت وکړي چي زما له طرفه دوه زره درهمه د خالد لپاره وصيت دی او زر درهمه د حامد لپاره، او د موصي (شاکر) سره صرف همدومره مال وي يعني له درې زر درهمو څخه بغير نور مال ور سره نه وي. نو دا وصيت فقط په ثلث يعني په زرو (۱۰۰۰) درهمو کي نافذيږي چي له هغوی څخه به خالد ته (۶۶۶) درهمه ورکول کيږي او حامد ته به (۳۳۳) درهمه ورکول کيږي؛ ځکه دلته په جائز مقدار (ثلث) کي د دوی حق او حصه په همدې اندازه دی.

د صاحبينو او د امام صاحب رَحِمَهُمُ الله دلائل

لَهُمَا فِي الْخِلَافِيَّةِ: أَنَّ الْمُوصِيَ قَصَدَ شَيْئَيْنِ په اختلافي مسئله کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي موصي د دوو شيانو اراده کړې ده الِاسْتِحْقَاقَ وَالتَّفْضِيلَ [يو] داستحقاق او بل د تفضيل [چي يوه موصى له ته پر بل فضيلت او ترجيح ورکړي] وَامْتَنَعَ الِاسْتِحْقَاقُ لِحَقِّ الْوَرَثَةِ او استحقاق د وارثانو د حق په وجه ممتنع سو وَلَا مَانِعَ مِنَ التَّفْضِيلِ او له تفضيل څخه هيڅ مانع نسته فَيَثْبُتُ كَمَا فِي الْمُحَابَاةِ وَأُخْتَيْهَا لکه څرنګه چي په محاباة او د هغه په دوو نظيرونو [سعايه او دراهم مرسله] کي دي وَلَهُ: أَنَّ الْوَصِيَّةَ وَقَعَتْ بِغَيْرِ الْمَشْرُوعِ عِنْدَ عَدَمِ الْإِجَازَةِ مِنَ الْوَرَثَةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي [دلته] د وارثانو د اجازې د نشتوالي په وخت کي وصيت غير مشروع واقع سوی دی إِذْ لَا نَفَاذَ لَهَا بِحَالٍ ځکه په هيڅ حالت کي هم د دې وصيت لفاذ نسته فَبَطَلَ أَصْلًا نو ځکه دا خو به بالكل باطل سو [يعني غير مشروع مقدار باطل سو] وَالتَّفْضِيلُ يَثْبُتُ فِي ضِمْنِ الِاسْتِحْقَاقِ او تفضيل د

استحقاق په ترځ کي ثابتيږي فَبَطَلَ بِبُطْلَانِهِ نو داستحقاق دبطلان په وجه تفضيل باطليږي كَالْمُحَابَاةِ الثَّابِتَةِ فِي ضِمْنِ الْبَيْعِ لکه هغه محاباة کوم چي دبيع په ضمن کي ثابت وي بِخِلَافِ مَوَاضِعِ الْإِجْمَاعِ په خلاف داجماع دمقاماتو [يعني محاباة، سعايه او دراهم مرسله] لِأَنَّ لَهَا نَفَاذًا فِي الْجُمْلَةِ بِدُونِ إِجَازَةِ الْوَرَثَةِ ځکه چي دهغوى [مواضع اجماع] لپاره دوارثانو له اجازې څخه بغير هم فى الجمله نفاذ سته بِأَنْ كَانَ فِي الْمَالِ سَعَةٌ په دې توګه چي [دموصي] په مال کي پراخي وي فَتُعْتَبَرُ فِي التَّفَاضُلِ نو وصيت به د تفاضل په حق کي معتبر دى لِكَوْنِهِ مَشْرُوعًا فِي الْجُمْلَةِ ځکه چي [دلته (په مواضع اجماع کي)] وصيت فى الجمله مشروع دى بِخِلَافِ مَا نَحْنُ فِيهِ په خلاف دهغه مسئلي چي موږ يکښي لګيا يو.

اللغات: ﴿قصد﴾ دنصر دباب ماضي ده: قصد او اراده کول. ﴿تفضيل﴾ فضيلت او فوقيت ورکول، ترجيح ورکول. ﴿سعة﴾ وسعت، پراخي او ګنجايش. ﴿فى الجملة﴾ په يو درجه کي.

تشريح: په مخکني مسئله کي چي دامام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله ترمينځ کوم اختلاف دى يعني دصاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز به ثُلث شلور حصې کول کيږي او دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز به هغه د دواړو موصىٰ لهٗ ترمينځ نيم په نيمه تقسيمول کيږي. په دې کي دصاحبينو رَحِمَهُمَا الله د دليل حاصل دا دى چي په مذکوره مسئله کي موصي (وصيت کونکي) د دوو شيانو اراده کړې ده: ① يو داستحقاق چي هغه يو موصىٰ لهٗ دخپل ټوله مال مستحق کول غواړي (يوه ته خپل ټوله مال ورکول غواړي)، خو دهغه دا اراده دوارثانو دحق په وجه نه سي پوره کېدلاى (ځکه له ثلث څخه بغير د موصي دنور مال سره دوارثانو حق متعلق دى)، ② او دويم دهغه اراده دا ده چي هغه پر يوه موصىٰ لهٗ (حامد) باندي بل موصىٰ لهٗ (خالد) ته ترجيح ورکول غواړي، او دهغه دا اراده پوره کېدلاى سي ځکه چي له تفضيل (ترجيح) څخه هيڅ مانع نسته، نو ځکه د تفضيل اراده به ثابتيږي، لکه څرنګه چي د محاباة، سعايه او دراهم مرسله په دريو مسئلو کي ستاسي (امام صاحب) په نيز هم تفضيل ثابت سوى دى.

وله أن الوصية إلخ: دا دامام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دى. حاصل يې دا دى چي کله وارثانو اجازه نه ورکړه، نو له ثلث (دريمي حصې) څخه دزيات وصيت غير مشروع او ناجائز دى (لکه مخکي چي هم ذکر سوه)، ځکه دوارثانو له اجازې پرته له ثلث څخه په زيات (زائد مقدار) کي د وصيت نافذولو هيڅ

صورت نسته، نو ځکه له ثلث ځخه په زیات کې خو وصیت بالکل باطل سو. او کله چې زیاتوب (زائد مقدار) باطل سو. نو په دواړو کې مساوات پاته سو. همدې ته مصنف رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چې تفضيل باطل سو: ځکه تفضيل د استحقاق په ضمن کې ثابتیږي. او کله چې استحقاق باطل وګرځېدی نو تفضيل هم باطل سو ځکه قاعده همدا ده چې د متضمِّن په باطلېدلو سره متضمَّن هم باطلیږي. د مثال په توګه که په بیع کې محاباة سوی وي او بیا بیع فاسده سي نو محاباة هم فاسدیږي. او که بیع صحيح وي نو محاباة هم صحيح کیږي.

بخلاف الإجماع إلخ: پاته سو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قياس چې هغو دا مذكوره مسئله پر مخکینیو دریو مسئلو (دراهم مرسله، محاباة وغيره) باندې قیاس کړې ده، نو له دې ځایه د هغه تردید کوي چې دا مذکوره مسئله د دراهم مرسله وغيره پر مسئلو باندې قیاسول صحيح نه دي؛ ځکه په دراهم مرسله وغیره کې د وارثانو له اجازې ځخه بغير هم وصيت نافذېدلای سي. په دې توګه چې د موصي په مال کې وسعت وي يعني د موصي سره له موصیٰ به (وصيت کړی سوي مال) ځخه بغير نور هم دومره مال وي کوم چې د ثلث له مقدار ځخه زائد وي او د وصيت په نافذېدلو سره د وارثانو حق نه ضایع کیږي: لهذا په دې دريو مسئلو کې فى الجمله د وصيت نفاذ کېدلای سي او فى الجمله دا وصيت مشروع دی. په همدې وجه په دوی (دراهم مرسله، محاباة وغیره) کې تفضيل معتبر دی. لیکن څرنګه چې په مذکوره مسئله کې د وارثانو د اجازې د نشتوالي په وجه ګردسره وصيت مشروع نه دی. نو تفضيل به چیري معتبر وي! (یا په بله وینا دا چې په مذکوره مسئله او مسائل ثلاثه کې فرق دا دی چې په دې دریو مسئلو کې د مال د وسعت په صورت کې ټوله موصیٰ بهٖ دواړو موصیٰ لهٗ ته حاصلېدلای سي او په مذکوره مسئله کې نه سي ورته حاصلېدلای. نو ځکه په مذکوره مسئله کې د تفاضل اعتبار نه دی سوی او په مسائل ثلاثه کې د تفاضل اعتبار سوی دی چې له ثلث ځخه د زائد مقدار په صورت کې هم د حق د تناسب لحاظ سوی دی).

د پورتنۍ مسئلې په هکله د يو مقدّر سوال جواب

وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا أَوْصٰى بِعَيْنٍ مِنْ تَرِكَتِهِ او دا د هغه صورت په خلاف دي کله چې موصي له خپل ميراث ځخه د يو معین شي [مثلاً د آس] وصيت وکړي وَقِيْمَتُهٗ تَزِيْدُ عَلَى الثُّلُثِ او د هغه [عين] قیمت تر ثلث زیات وي فَإِنَّهٗ يَضْرِبُ بِالثُّلُثِ نو [په دې صورت کې] موصیٰ لهٗ د ثلث مستحق کیږي وَإِنِ احْتَمَلَ أَنْ يَزِيْدَ الْمَالُ که ځه هم دا احتمال سته چې [د موصي] مال به زیات سي فَيَخْرُجُ مِنَ الثُّلُثِ نو عين به له ثلث ځخه ووځي لِأَنَّ هُنَاكَ الْحَقَّ تَعَلَّقَ بِعَيْنِ التَّرِكَةِ ځکه دلته د موصیٰ

لهٗ حق د عين میراث سره متعلق سوی دی بِدَلِيْلِ أَنَّهُ لَوْهَلَكَ وَاسْتَفَادَ مَالًا آخَرَ په دې دليل چي که عين هلاک سي او موصي نور مال حاصل کړي تَبْطُلُ الْوَصِيَّةُ نو وصيت باطليږي وَفِي الْأَلْفِ الْمُرْسَلَةِ لَوْهَلَكَتِ التَّرِكَةُ او په مطلق زرو درهمو [دراهم مرسله] کي که میراث هلاک سي تَنْفُذُ فِيْمَا يُسْتَفَادُ نو وصيت په حاصل کړی سوي مال کي نافذيږي فَلَمْ يَكُنْ مُتَعَلِّقًا بِعَيْنِ مَا تَعَلَّقَ بِهِ حَقُّ الْوَرَثَةِ نو د موصیٰ لهٗ حق بعينهٖ د هغه شي سره متعلق نه سو چي د هغه سره د وارثانو حق متعلق دی.

اللغات: ﴿عين﴾ د دې لفظ ډيري معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: عين شی. معين شی. يعني کوم شی چي موجود وي او په لاس سره مسه کېدلای سي او خوندي کېدلای سي. لکه څمکه. آس او داسي نور. داسي شي ته "عين" (عين شی) وايي. جمع يې "أَعْيَان" راځي. ﴿يضرب﴾ د ضرب د باب مضارع ده. څه مخکي د حاشيې په حواله سره د دې باب د معناوو تحقيق تېر سو. ﴿ثُلُث﴾ او ثُلْث: دريمه حصه. ﴿يستفاد﴾ د استفعال د باب مضارع مجهوله ده: حاصلول (ترلاسه کول). فايده حاصلول.

تشريح: په دې عبارت کي د يو مقدر سوال جواب ورکول سوی دی کوم چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر مسلک وارديږي (په سوال د پوهېدلو لپاره مخکي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په مسلک او قاعده ځان پوه کړئ!).

سوال دا دی چي ستاسي په قول د دراهم مرسله په صورت کي (يعني چي د عين شي وصيت له ثلث څخه زيات وي) که له موصیٰ بهٖ څخه بغير د موصي سره نور مال نه وي نو څرنګه چي په دې صورت کي په ثلث کي وصيت نافذيږي او ستاسي په وينا په هغه کي د دواړو موصیٰ لهٗ د حقوقو د تناسب اعتبار کول کيږي. حال دا چي موږ تاسو ته داسي مثال ښوولای سو چي هلته مذکوره معنیٰ موجوده وي خو بيا هم له ثلث څخه د زيات حق د تناسب اعتبار نه کول کيږي لکه څرنګه چي په مسائل ثلاثه يعني په دراهم مرسله. محاباة وغيره کي د حق د تناسب اعتبار کول کيږي. مثلاً شاکر د خالد لپاره د خپل ټوله آس وصيت وکړی او د حامد لپاره يې د آس د ثلث وصيت وکړی او د آس قيمت د موصي د مال (ميراث) له ثلث څخه زيات وو. او له دې آس څخه بغير د موصي (شاکر) سره نور مال نه وو. نو دلته د حق د تناسب اعتبار او لحاظ کول پکار دي، حال دا چي دلته هم تاسي همدا فرمايلي دي چي دواړه موصیٰ لهٗ (خالد او حامد) په ثلث کي نيم په نيمه شريکان کيږي يعني هر يوه ته به نيم ثلث

ور کول کیږي او د هر یوه د حق د تناسب اعتبار به نه کول کیږي چي له ثلث څخه به خالد ته درېې حصې ور کول کیږي او حامد ته به یوه حصه ور کول کیږي. حال دا چي د مسائل ثلاثه (دراهم مرسله وغیره) وجه دلته هم موجوده ده یعني کېدای سي چي له دې آس څخه بغیر موصي ته نور مال حاصل سي. نو بیا به په ټوله آس (موصیٰ به) کي وصیت جاري کیږي.

د جواب حاصل دا دی چي ستاسي سوال پر ځای دی او هغه وجه دلته موجوده ده. خو بیا هم د دراهم مرسله والا حکم په دې وجه هغه ته نه دی ور کول سوی چي په آس او دراهم مرسله کي فرق دی او هغه فرق دا دی چي د آس والا په صورت کي د موصیٰ لهٗ حق د دې معین آس سره متعلق دی: ځکه که دا آس هلاک سي نو وصیت باطلیږي. که څه هم د آس تر هلاکېدلو وروسته موصي ته نور مال هم حاصل سوی وي. بیا هم وصیت باطلیږي. د موصیٰ لهٗ حق بعینه په دې آس کي وو او کله چي هغه هلاک سو. نو د ده حق هم باطل سو.

خو د دراهم مرسله په صورت کي د موصیٰ لهٗ حق د معینو دراهمو سره متعلق نه وي. لهذا که تر وصیت وروسته مال (میراث) هلاک سي او بیا نور مال حاصل سي. نو بیا هم د موصیٰ لهٗ حق باقي پاته دی. نو له دې څخه معلومه سوه چي په آس کي تر ثلث (درېیمي حصې) پوري د موصیٰ لهٗ حق دې او بعینه د هغه آس له ثلث څخه بغیر په نوره حصه کي د وارثانو حق دی. لیکن د دراهم مرسله په صورت کي بعینه چي د کوم مال سره د وارثانو حق متعلق دی. د هغه سره د موصیٰ لهٗ حق متعلق نه دی. لهذا کله چي د آس او دراهم مرسله والا په صورت کي فرق دی. نو د همدې فرق په وجه د دوارو په حق کي فرق کول سوی دی.

د یو چا لپاره د خپل ځوی د حصې وصیت کول

قَالَ: وَإِذَا أَوْصٰى بِنَصِيْبِ ابْنِهٖ فرمایي: او کله چي د خپل ځوی د حصې وصیت وکړي فَالْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌ نو وصیت باطل دی وَلَوْأَوْصٰى بِمِثْلِ نَصِيْبِ ابْنِهٖ او که د خپل ځوی د حصې د مثل وصیت وکړي (اچي زما د بچي د حصې غوندي حصه...) جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ الْأَوَّلَ وَصِيَّةٌ بِمَالِ الْغَيْرِ ځکه اول وصیت د بل چا د مال وصیت دی لِأَنَّ نَصِيْبَ الْاِبْنِ مَا يُصِيْبُهٗ بَعْدَ الْمَوْتِ ځکه د ځوی حصه هغه ده کوم چي ده ته (د پلار) تر مرګ وروسته ور رسیږي وَالثَّانِيْ وَصِيَّةٌ بِمِثْلِ نَصِيْبِ الْاِبْنِ او دویم

وصیت د خپل ځوی د حصې د مثل وصیت دی وَمِثْلُ الشَّيْءِ غَيْرُهُ او د شي مثل له هغه شخه غیر [او جلا] وي وَإِنْ كَانَ يَتَقَدَّرُ بِهِ که څه هم د مثل اندازه په هغه شي سره کیږي فَيَجُوزُ نو ځکه دا [په دویم صورت کي وصیت] جائز دی وَقَالَ زُفَرُ: يَجُوزُ فِي الْأَوَّلِ أَيْضًا او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په اول صورت کي هم وصیت جائز دی فَنَظَرَ إِلَى الْحَالِ نو امام زفر رَحِمَهُ الله حال ته کتلي دي [یعني هغه دلته د حال اعتبار کړی دی. نه د مآل] وَالْكُلُّ مَالُهُ فِيهِ او په حال کي [في الحالحه] ټول مال د موصي مال دی وَجَوَابُهُ مَا قُلْنَا او د دې جواب هاغه دی کوم چي موږ ذکر کړی [أنّ الأول وصيةٌ بمال الغير].

اللغات: ﴿نصيب﴾ حصه. ﴿يتقدّر﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: اندازه کېدل. مقدار ټاکل کېدل. متعيّن کېدل. ﴿حال﴾ حالي زمانه. اوسنی وخت.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که موصي دیو چا لپاره د خپل ځوی په حصه کي وصیت وکړي او داسي ووايي چي زما ځوی ته چي کومه حصه په میراث کي ورسیږي. هغه د فلانکي لپاره وصیت ده. نو دا وصیت باطل دی: ځکه د ځوی حصه د موصي له مال څخه ځوی ته د موصي تر مرګ وروسته رسیږي او تر مرګ وروسته هغه د ځوی په ملکیت کي داخلیږي او قاعده دا ده چي "التصرف في ملك الغير لا يجوز" (د بل چا په ملکیت کي تصرف کول جائز نه دي) نو ځکه د موصي دا وصیت جائز نه دی.

ولو أوصى بمثل الخ: او که موصي داسي وصیت وکړي چي فلانکي ته دي دومره حصه مال ورکول سي څومره حصه چي زما ځوی ته ورسیږي، نو دا وصیت جائز دی. او که هغه مال تر ثلث کم وي یا ثلث وي. نو دا وصیت به نافذیږي. ځکه دلته موصي د موصیٰ لهٗ حصه د خپل ځوی د حصې مثل او مساوي ګرځولې ده او د خپل ځوی د حصې سره یې د موصیٰ لهٗ د حصې موازنه کړې ده. او د ځوی د حصې وصیت یې نه دی کړی. او دا معلومه خبره ده چي د شي مثل د هغه غیر او له هغه څخه جلا وي. نو ځکه دا وصیت جائز دی.

وقال زفر رَحِمَهُ الله الخ: امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي په اول صورت کي هم وصیت جائز دی یعني کله چي موصي د خپل ځوی د حصې وصیت کړی وي. نو هم وصیت جائز دی: ځکه چي د وصیت په وخت کي موصیٰ به د موصي مال دی. لهذا دا وصیت د مال غیر (بل چا د مال) وصیت نه سو. نو ځکه

به جائز وي. لېکن زموږ له طرفه امام زفر رَحِمَهُ الله ته جواب دا دی چې د وصيت مال خو د موصي تر مرګ وروسته حاصلېږي. لهذا کله چې يې د حاصلېدلو وخت راسي نو هغه مال به د موصي د بچې ګرځېدلی وي. نو ځکه د مال غير د وصيت کېدلو په وجه به دا وصيت جائز نه وي.

د "سهم" (حصې) او د جزء په لفظ سره د وصيت کولو حکم او تفصيل

قَالَ: وَمَنْ أَوْصَى بِسَهْمٍ مِنْ مَالِهِ فرمايي: او څوک چې له خپل مال څخه د يوه سهم [يوې حصې] وصيت وکړي فَلَهُ أَخَسُّ سِهَامِ الْوَرَثَةِ نو د موصیٰ لهٗ لپاره د وارثانو له سهامو څخه اخسّ [کمترين] سهم دی إِلَّا أَنْ يَنْقُصَ عَنِ السُّدُسِ مګر دا چې هغه اخسّ سهم له سدس څخه کم سي فَيُتَمُّ لَهُ السُّدُسُ نو د موصیٰ لهٗ لپاره به سدس پوره کول کيږي وَلَا يُزَادُ عَلَيْهِ او پر سدس به زياتوب نه کيږي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی وَقَالَا: لَهُ مِثْلُ نَصِيبِ أَحَدِ الْوَرَثَةِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې د موصیٰ لهٗ لپاره د يوه وارث د حصې په څېر حصه ده وَلَا يُزَادُ عَلَى الثُّلُثِ او پر ثلث به زياتوب نه کيږي إِلَّا أَنْ يُجِيزَ الْوَرَثَةُ مګر دا چې وارثان اجازه ورکړي لِأَنَّ السَّهْمَ يُرَادُ بِهِ أَحَدُ سِهَامِ الْوَرَثَةِ عُرْفًا ځکه په سهم سره په عُرف کې د وارثانو يو سهم مرادول کيږي لَا سِيَّمَا فِي الْوَصِيَّةِ خصوصاً په وصيت کې وَالْأَقَلُّ مُتَيَقَّنٌ بِهِ او اقل مقدار يقيني وي فَيُصْرَفُ إِلَيْهِ نو ځکه د اقل وطرف ته به ګرځول کيږي إِلَّا إِذَا زَادَ عَلَى الثُّلُثِ مګر دا چې کله اقل له ثلث څخه زيات سي فَيُرَدُّ عَلَيْهِ نو زياتوب به پر وارث واپس کول کيږي لِأَنَّهُ لَا مَزِيدَ عَلَيْهِ عِنْدَ عَدَمِ إِجَازَةِ الْوَرَثَةِ ځکه د وارثانو د اجازې د نشتوالي په وخت کې پر ثلث زياتوب نه کيږي وَلَهُ: أَنَّ السَّهْمَ هُوَ السُّدُسُ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې سهم همدا سدس دی هُوَ الْمَرْوِيُّ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ [1] همدا له ابن مسعود ﷺ څخه روايت سوي دي وَقَدْ رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِيمَا يُرْوَى او هغه دا تر نبي کريم ﷺ پورې مرفوع کړي دي په هغه قول کې کوم چې يې روايت کړی دی [يعني ابن مسعود ﷺ دا په خپل روايت کې مرفوعاً (هم) روايت

[1] تخريج: ذكره الهيثمي في مجمع الزوائد ۴/ ۲۱۳، انظر تحقيق نصب الراية ج:۵، ص:۲۲۸.

کړی دی او ﴿وَلِأَنَّهُ يُذْكَرُ وَيُرَادُ بِهِ السُّدُسُ﴾ او ځکه [کله چي] سهم ذکر کول کیږي [نو] په هغه سره سدس مرادول کیږي ﴿فَإِنَّ إِيَاسًا قَالَ: السَّهْمُ فِي اللُّغَةِ عِبَارَةٌ عَنِ السُّدُسِ﴾ ځکه ایاس رَحِمَهُ الله فرمایلي دي: چي سهم په لغت کي له سدس څخه عبارت دی ﴿وَيُذْكَرُ وَيُرَادُ بِهِ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ الْوَرَثَةِ﴾ او [کله چي] سهم ذکر کول کیږي په هغه سره د وارثانو له سهامو څخه یو سهم مرادول کیږي ﴿فَيُعْطَى مَا ذَكَرْنَا﴾ نو ځکه موصیٰ لهٗ ته به هاغه ورکول کیږي کوم چي موږ ذکر کړي دي ﴿قَالُوا: هٰذَا كَانَ فِي عُرْفِهِمْ﴾ مشایخو فرمایلي دي: چي دا د کوفیانو په عرف کي وه [چي سهم له سدس څخه عبارت دی] ﴿وَفِي عُرْفِنَا السَّهْمُ كَالْجُزْءِ﴾ او زموږ په عرف کي سهم د جزء په څېر دی.

اللغات: ﴿سهم﴾ حصه. برخه. ﴿أخس﴾ خسیس ترین. کمترین (تر ټولو کم). د کمي درجې. ﴿سُدُس﴾ او سُدْس: شپږمه حصه (شپږمه). ﴿تجيز﴾ د افعالْ د باب مضارع ده: اجازه ورکول. جائز ګرځول او نافذول. ﴿لاسيما﴾ په خاصه توګه. په ځانګړي توګه. ﴿أقل﴾ تر ټول کم. ﴿يُصرف﴾ د ضرب د باب مضارع مجهوله ده: ګرځول. اړول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که څوک له خپل مال څخه دیوه سهم وصیت وکړي چي زما له مال څخه یو سهم (یوه حصه) د فلانکي لپاره ده. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي موصیٰ لهٗ ته د وارثانو له سهامو (حصو) څخه چي کوم اخسّ السهام دي یعني سدس. هاغه به ورکول کیږي او که هغه تر سدس کم وي. نو د وارثانو له سهامو څخه به څه اخیستل کیږي او سدس به په پوره کول کیږي. لېکن په هیڅ حالت کي به هم هغه تر سدس نه زیاتول کیږي.

او په مذکوره مسئله کي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز حکم دا دی چي موصیٰ لهٗ ته به هغه حصه ورکول کیږي کوم چي له وارثانو څخه دیوه وارث حصه وي یعني څومره حصه چي یوه وارث ته ورسیږي. هغومره حصه به موصیٰ لهٗ ته هم ورکول کیږي. لېکن د موصیٰ لهٗ حصه به تر ثلث نه زیاتول کیږي. ها! که چیري وارثان دې اجازه ورکړي. نو بیا هغه تر ثلث زیاتول کېدای سي.

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چي په عرف کي له "سهام" څخه دیوه وارث حصه مرادیږي

شخه دیوه وارث حصه مرادیږي او څرنګه چي دلته موصي د سهم واحد (یوې حصې) وصیت کړی دی. نو ځکه له هغه څخه به هم دیوه وارث حصه مرادول کیږي او سهام په نصف. ثلث او ربع غیره کي مشترک وي. نو ځکه له سهم څخه به أقل السهام مرادول کیږي ځکه چي أقل متیقن او متعین وي نو هاغه به موصیٰ لهٔ ته ورکول کیږي. لیکن که دیوه وارث حصه له ثلث څخه زیاته وي. نو موصیٰ لهٔ ته به د ثلث په اندازه حصه ورکول کیږي او تر ثلث زائد مقدار به وارثانو ته ورکول کیږي.

وله أن السهم إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي له سهم څخه به سدس مرادول کیږي: د هغه دلیل دا دی چي له حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه موقوفاً او مرفوعاً دواړه ډوله حدیث روایت سوی دی او دواړه ځایونه له سهم څخه سدس مراد کړی سوی دی: په "مسند بزار" کي له حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه مرفوعاً دا حدیث روایت سوی دی "أن رجلاً أوصى بسهم من ماله، فجعل له النبي صلى الله عليه وسلم السدس" چي یو سړي له خپل مال څخه دیو کس لپاره دیوه سهم (یوې حصې) وصیت وکړی نو نبي کریم ﷺ د هغه کس لپاره سدس مقرر کړی. (بنایه ۵۲۵/۱۲). معلومه سوه چي له سهم څخه سدس مرادول کیږي. د دې تائید د حضرت ایاس بن معاویه رَحِمَهُ الله (قاضي البصره) په فرمان سره هم کیږي چي په هغه کي دي "السهم في اللغة عبارة عن السدس" چي په لغت کي له سهم څخه سدس مراد دی. لهذا په دې حواله سره هم په مذکوره مسئله کي به موصیٰ لهٔ بالسهم ته سدس ورکول کیږي.

قالوا إلخ: مشایخو فرمایلي دي چي له سهم څخه د سدس مراد اخیستل دا د کوفې والا عُرف او اصطلاح ده. په همدې وجه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز له سهم څخه سدس مراد دی. لیکن زموږ په عرف کي سهم د جزء په معنیٰ سره دی او جزء مجهول دی کوم چي قلیل او کثیر دواړو لره شامل دی. نو ځکه اوس به د سهم د مقدار بیان او تعیین د موصي وارثان کوي. نو وارثان چي کوم مقدار متعین کړي. هاغه به موصیٰ لهٔ ته ورکول کیږي.

د مجهول جزء د وصیت کولو په صورت کي د تعیین کولو حق وارثانو لره دی

قَالَ: وَلَوْ أَوْصٰى بِجُزْءٍ مِنْ مَالِهِ فرمایي: او که له خپل مال څخه دیوه جزء وصیت وکړي قِيْلَ لِلْوَرَثَةِ: أَعْطُوْهُ مَا شِئْتُمْ نو وارثانو ته به ویل کیږي: چي موصیٰ لهٔ ته دومره ورکړئ! کوم چي ستاسي خوښه وي لِأَنَّهُ مَجْهُوْلٌ يَتَنَاوَلُ الْقَلِيْلَ وَالْكَثِيْرَ ځکه چي "جزء" مجهول دی کوم چي لږ

او ډېر [تولو] لره شامل دی. غَيْرَ أَنَّ الْجَهَالَةَ لَا تَمْنَعُ صِحَّةَ الْوَصِيَّةِ خو جهالت د وصیت صحیح والی نه منع کوي [د جزء مجهول کېدل د وصیت له صحت څخه مانع نه دی] وَالْوَرَثَةُ قَائِمُوْنَ مُقَامَ الْمُوصِيْ او وارثان د موصي قائم مقام دي فَإِلَيْهِمُ الْبَيَانُ نو وضاحت [او تعیین] به همدي وارثانو لره وي.

اللغات: ﴿یتناول﴾ د تفاعل د باب مضارع ده. د دې له معناوو څخه یوه معنیٰ ده: شاملېدل. ﴿موصی﴾ د افعال د باب فاعل دی: وصیت کونکی. ﴿البیان﴾ د ضرب د باب اسم مصدر دی: وضاحت (څرګندونه). وضاحت کول (څرګندول او ښکاره کول).

تشریح: **صورت د مسئلې**: خو بالکل ښکاره دی چې که موصي د یو سړي لپاره د خپل مال د یوه "جزء" وصیت کړی وي. نو څرنګه چې د "سهم" د وصیت په صورت کې وارثان د خپلې خوښې مطابق موصیٰ لهٔ ته حصه ورکوي. نو همداسې د "جزء" د وصیت په صورت کې هم د ورکولو معامله د وارثانو په خوښې او رایه باندې موقوفه ده. او څرنګه چې وارثان د مورث قائم مقام او ځای ناستي دي. لهذا کوم مقدار چې دوی مناسب وګڼي. هغه به موصیٰ لهٔ ته ورکوي.

د یوه کس لپاره د دوو وصیتونو د کولو طریقه او تفصیل

قَالَ: وَمَنْ قَالَ: سُدُسُ مَالِيْ لِفُلَانٍ فرمایي: او څوک چې ووایي: چې زما د مال سدس [شپږمه حصه] د فلانکي لپاره ده ثُمَّ قَالَ فِيْ ذٰلِكَ الْمَجْلِسِ أَوْ فِيْ مَجْلِسٍ آخَرَ بیا په هاغه مجلس کې یا په بل مجلس کې ووایي لَهُ ثُلُثُ مَالِيْ چې د هغه [فلانکي] لپاره زما د مال ثلث [دریمه حصه] ده وَأَجَازَتِ الْوَرَثَةُ او وارثان اجازه ورکړي فَلَهُ ثُلُثُ الْمَالِ نو د هغه لپاره د مال ثلث [دریمه حصه] ده وَيَدْخُلُ السُّدُسُ فِيْهِ او سدس به دې ثلث کې داخلیږي وَمَنْ قَالَ: سُدُسُ مَالِيْ لِفُلَانٍ او څوک چې ووایي: چې زما د مال سدس د فلانکي لپاره دی ثُمَّ قَالَ فِيْ ذٰلِكَ الْمَجْلِسِ أَوْ فِيْ غَيْرِهِ بیا په هاغه مجلس کې یا په بل مجلس کې ووایي سُدُسُ مَالِيْ لِفُلَانٍ چې زما د مال سدس د فلانکي لپاره دی فَلَهُ سُدُسٌ وَاحِدٌ نو د هغه لپاره یو سدس دی لِأَنَّ السُّدُسَ ذُكِرَ مُعَرَّفًا بِالْإِضَافَةِ إِلَى الْمَالِ ځکه سدس [دلته] معرفه ذکر شوی دی د مال وطرف ته په اضافت کولو سره وَالْمَعْرِفَةُ إِذَا أُعِيْدَتْ يُرَادُ بِالثَّانِيْ عَيْنُ الْأَوَّلِ او معرفه لفظ چې کله راوګرځول سي [دوباره ذکر کړی سي] نو په دویم یوه سره عین اول

مرادول کیږي هُوَ الْمَعْهُوْدُ فِي اللُّغَةِ همدا په لغت کي پېژندل سوی ده.

اللغات ﴿أعيدت﴾ د افعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي مجهولي صيغه ده: راګرځول. یو څه دویم وار کول. ﴿المعهود﴾ د سمع له بابه اسم مفعول دی: معروف او پېژندل سوی، معلوم. په اذهانو کي متعين. مشهوره. ﴿يراد﴾ د افعال د باب مضارع مجهوله ده: مرادول. مراد اخیستل.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که یو څوک مثلاً زید ووايي چي د خالد لپاره زما د مال سدس دی. بیا په هاغه مجلس کي یا په بل مجلس کي دوباره ووايي چي د هغه (خالد) لپاره زما د مال ثلث دی. نو په دې صورت کي موصیٰ لهٗ (خالد) ته فقط ثلث حاصلیږي او د ثلث او سدس مجموعه یعني نصف نه ورته حاصلیږي. نو صرف ثلث به موصیٰ لهٗ ته ورکول کیږي او مخکي والا سدس په همدې ثلث کي داخلیږي. همدارنګه که څوک ووايي چي د خالد لپاره زما د مال سدس دی بیا په هاغه مجلس کي یا په بل مجلس کي ووايي چي د هغه (خالد) لپاره زما د مال سدس دی. یعني په دواړو صورتونو کي موصیٰ به یو شی (سدس) وي، نو په دې صورت کي موصیٰ لهٗ (خالد) ته صرف یو سدس حاصلیږي او هغه ته به دوه سدسه نه ورکول کیږي که څه هم موصي دلته دوه ځله د سدس یادونه کړې ده. د دې مثال داسي دی لکه څوک چي خپل ملګري وغیره ته ووايي چي فلانکي ته زر درهمه ورکړه!. بیا څه وخت یا څو ورځي وروسته ده ته ووايي چي یاره! تا خو نه دي ورکړي. هغه ته زر درهمه ورکړه. نو ښکاره خبره ده چي دلته صرف زر درهمه ورکول کیږي. نه دوزه درهمه. همداسي به په مذکوره مسئله کي هم موصیٰ لهٗ ته صرف سدس ورکول کیږي: د دې دلیل دا دی چي دلته سدس معرفه دی ځکه سدس د مال صفت دی. او مال (مَالِيْ) دلته متکلم ته د مضاف کېدلو په وجه معرفه دی. نو ځکه سدس به هم معرفه وي او د معرفه قاعده دا ده چي کله هغه مکرر ذکر کړی سي. نو له هغه څخه داول عين یعني بعينهٖ اول مرادیږي، نو ګواکي موصي چي دلته دویم ځل "سدس مالی لفلان" ویلي دي. په هغه سره يې داول یوه تأکید او یادښت کړی دی او اول هغه د سدس وصیت کړی دی. نو ځکه موصیٰ لهٗ به ته صرف سدس ورکول کیږي.

د ثلث له وصیت کولو څخه وروسته د دوه ثلثه مال ضایع کېدلو حکم او تفصیل

قَالَ وَمَنْ أَوْصٰى بِثُلُثِ دَرَاهِمِهٖ فرمایي: او څوک چي د خپلو دراهمو د ثلث (دریمي حصې) وصیت وکړي أَوْ بِثُلُثِ غَنَمِهٖ یا د خپلو پسونو د ثلث وصیت وکړي فَهَلَكَ ثُلُثَا ذٰلِكَ بیا د هغه (دراهمو یا

پسونو] دوه ثلثه هلاک سي وَبَقِيَ ثُلُثُهُ او یو ثلث یې باقي پاته سي وَهُوَ يَخْرُجُ مِنْ ثُلُثِ مَا بَقِيَ مِنْ مَالِهِ او هغه پاته سوی ثلث د موصي د ما بقي مال له ثلث څخه وځي فَلَهُ جَمِيْعُ مَا بَقِيَ نو د موصیٰ لهٔ لپاره ټوله مابقی مقدار [ثلث] دی وَقَالَ زُفَرُ* : لَهُ ثُلُثُ مَا بَقِيَ او امام زفر رَحِمَهُ الله فرمایي: چي د هغه لپاره د ما بقی مقدار ثلث دی لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مُشْتَرَكٌ بَيْنَهُمْ ځکه له دې دواړو څخه هر يو د دوی تر مينځ مشترک دی وَالْمَالُ الْمُشْتَرَكُ يُتْوٰى مَا تُوِيَ مِنْهُ عَلَى الشَّرِكَةِ او له مشترک مال څخه چي کوم مقدار هلاک سي هغه پر شرکت [مشترک] هلاکیږي وَيَبْقَى مَا بَقِيَ عَلَيْهَا او کوم مقدار چي پاته سي هغه هم پر شرکت [مشترک] پاتیږي وَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَتِ التَّرِكَةُ أَجْنَاسًا مُخْتَلِفَةً او دا داسي سوه لکه کله چي میراث مختلفه جنسونه وي [مثلاً څه پسونه وي. څه اوښان وغیره وي.....] وَلَنَا: أَنَّ فِي الْجِنْسِ الْوَاحِدِ يُمْكِنُ جَمِيْعُ حَقِّ أَحَدِهِمْ فِي الْوَاحِدِ او زموږ دلیل دا دی: چي په یوه جنس کي له دوی څخه د هر یوه حق په یوه کي جمع کول ممکن دي وَلِهٰذَا يَجْرِيْ فِيهِ الْجَبْرُ عَلَى الْقِسْمَةِ او په همدې وجه په یوه جنس کي پر تقسیم مجبوره کول جاري کېدلای سي وَفِيهِ جَمْعٌ او په تقسیم کي جمع کول سته وَالْوَصِيَّةُ مُقَدَّمَةٌ او وصیت مخکي دی فَجَمَعْنَاهَا فِي الْوَاحِدِ الْبَاقِيْ لهذا موږ هغه په باقي یوه کي جمع کړی وَصَارَتِ الدَّرَاهِمُ كَالدِّرْهَمِ او دراهم د درهم په څېر وګرځېده [لکه موصي چي دیوه درهم وصیت کړی وي] بِخِلَافِ الْأَجْنَاسِ الْمُخْتَلِفَةِ په خلاف د مختلفه جنسونو لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ الْجَمْعُ فِيْهَا جَبْرًا ځکه په هغوی کي جبراً جمع کول ممکن نه دي [یعني په مختلفه جنسونو کي پر تقسیم د مجبوره کولو په اعتبار سره جمع کول ممکن نه دي] فَكَذَا تَقْدِيْمًا نو همداسي په د مقدم کولو په اعتبار سره هم [جمع کول ممکن نه] وي.

اللغات: ﴿غنم﴾ د "غَنَم" لفظ اسمِ جنس دی، واحد یې من غیر لفظه شَاةٌ دی: مذکر او مؤنث دواړو لره شاملیږي، همدارنګه پسونه او وزې ټوله په دې لفظ کي داخل دي (موږ د آسانۍ او کثرت په خاطر د دې ترجمه په پسونو سره کوو) او دې ته د "غَنَم" ویلو وجه دا ده چي پسونه او وزې خو نه د جهاد آلې دي او

* القول الراجح: قول زفر رَحِمَهُ الله، انظر للتفصیل [القول الراجح، ج:۲، ص:۳۷۶]

نه د دفاع آلې دي بلکې د هر چا لپاره غنیمت دي. ﴿يُتوٰى﴾ د سمع د باب مضارع مجهوله ده او تُوِيَ له همدې باب څخه ماضي مجهوله ده: هلاکېدل، ضايع کېدل او بربادېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د يو سړي سره دراهم يا پسونه دي او له هغه څخه بغير د ده سره دومره مال هم سته کوم چې د دراهمو يا پسونو دوه ثلثه دي (يعنې د دراهمو يا پسونو د ثلث دوه چنده دي). بيا دې سړي وصيت وکړی چې زما له دراهمو څخه يا زما له پسونو څخه يو ثلث د فلانکي کس (مثلاً د خالد) لپاره دی. او تر وصيت وروسته دا پېښه سوه چې له ټولو دراهمو يا له ټولو پسونو څخه دوه ثلثه هلاک سوه او صرف يو ثلث باقي پاته سو. مثلاً نهه سوه ۹۰۰ پسونه وه يا نهه سوه ۹۰۰ درهمه وه او له هغوی څخه دوه ثلثه يعنې ۶۰۰ هلاک سوه او صرف ۳۰۰ درهمه پاته سوه او موصي د همدې ۳۰۰ درهمو وصيت کړی وو. نو زموږ په نېز حکم دا دی چې دا ثلث به ټوله موصیٰ لهٗ ته ورکول کيږي، لېکن امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چې موصیٰ لهٗ ته به د ما بقی يعنې د ۳۰۰ درهمو ثلث ورکول کيږي کوم چې ۱۰۰ درهمه دي.

د امام زفر رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د موصي ټوله مال د موصیٰ لهٗ او وارثانو ترمينځ مشترک دی او د مشترک مال په هکله أصول دا دي چې د هغه بقاء او هلاکت دواړه مشترک کيږي. لهذا څرنګه چې تر هلاکېدلو مخکې نهه سوه ۹۰۰ درهمه د موصیٰ لهٗ او وارثانو ترمينځ مشترک وه او موصیٰ لهٗ له هغه څخه د درې سوه ۳۰۰ درهمو حقداره وو. نو همداسې له دغه مشترک مال څخه چې کوم مقدار هلاک سوی دی او کوم مقدار چې پاته دی هغه به هم مشترک وي، او څرنګه چې ما بقي مقدار ۳۰۰ درهمه دی. نو ځکه دا مقدار به د موصیٰ لهٗ او وارثانو ترمينځ مشترک وي او د هغه چې کوم ثلث دی يعنې ۱۰۰ درهمه. هغه به موصیٰ لهٗ ته ورکول کيږي. د دې مثال داسې دی لکه د مړي (ميت) ميراث که چيري مختلفه اجناس وي، مثلاً څه پسونه وي. څه اوښان وي او څه آسونه وي او موصي د هغوی د ثلث وصيت وکړي او بيا له هغوی څخه دوه ثلثه هلاک سي. نو په دې صورت کې به موصیٰ لهٗ ته له هر جنس څخه ثلث ورکول کيږي. نو همداسې به په مذکوره مسئله کې هم هغه ته د ما بقي مقدار ثلث ورکول کيږي.

ولنا أن في إلخ: دا زموږ دلیل هم دی او دامام زفر رَحِمَهُ الله د قیاس جواب هم دی. زموږ دلیل خو په دې توګه دی چې مذکوره مسئله د جنسِ واحد سره متعلق ده. برابره ده هغه پسونه دي او که دراهم دي. او په جنسِ واحد کې څو شریکان سره جمع کول کېدای سي، او په هغه کې که یو شریک د تقسیم غوښتنه وکړي نو د هغه پر غوښتنه قاضي جبراً تقسیم هم کولای سي (یعني نور شریکان پر تقسیم مجبوره کولای سي). لهذا دلته په مذکوره مسئله کې ټوله شریکان یعني موصیٰ لهٗ او وارثان په ۹۰۰ درهمو یا په ۹۰۰ پسونو کې سره شریک دي. خو د موصیٰ لهٗ حق د اصل په توګه (اصلاً) ثابت دی او د وارثانو حق د تابع په توګه (متابعتاً) ثابت دی او قاعده دا ده چې که یو مال د اصل او تابع ترمینځ مشترک وي او بیا له هغه څخه څه مال هلاک سي، نو هلاک سوی مقدار د تابع وطرف ته ګرځول کیږي، لهذا په مذکوره مسئله کې چې کوم دوه ثلثه مال هلاک سوی دی، هغه ګواکي د وارثانو حصه هلاکه سوې ده او ما بقي یو ثلث د موصیٰ لهٗ دی. لهذا هغه به موصیٰ له ته سپارل کیږي.

د دې مثال داسې دی لکه موصي چې د دراهمو پر ځای دیوه درهم وصیت کړی وي چې ما فلانکي ته یو درهم ورکړی دی، او د هغه سره ټوله درې درهمه وي. نو په دې صورت کې که دوه درهمه هلاک سي او فقط یو درهم پاته سي، نو هغه یو درهم به ټوله موصیٰ لهٗ ته ورکول کیږي او له هغه څخه به څه نه را ګرځول کیږي چې صرف د درهم ثلث ورکول سي. نو همداسې به په مذکوره مسئله کې هم موصیٰ لهٗ ته ما بقي ثلث ټوله ورکول کیږي.

د دې په خلاف د اجناسِ مختلفه وو مسئله ده. نو په اجناسِ مختلفه وو کې خو نه جبر کېدلای سي او نه په هغوی کې موصیٰ لهٗ ته پر وارثانو تقدّم حاصلیږي. لهذا دلته د اصل او تابع والا مسئله نه جاري کیږي نو کوم مقدار چې هلاک سي هغه به مشترک هلاکیږي (یعني د وارثانو او موصیٰ لهٗ دواړو له حصې څخه به هلاک شمېرل کیږي) او کوم چې باقي پاته سي هغه به هم مشترک وي. نو ځکه د اجناسِ مختلفه په صورت کې موصیٰ لهٗ ته د ما بقي مقدار ثلث ورکول کیږي.

د پورتنی مسئلي بل صورت

قَالَ: وَلَوْ أَوْصٰى بِثُلُثِ ثِيَابِهٖ فرمایي: او که څوک د خپلو کپړو د ثلث (دریمي حصې) وصیت وکړي فَهَلَكَ ثُلُثَاهَا وَبَقِيَ ثُلُثُهَا بیا د هغه کپړو دوه ثلثه هلاک سي او ثلث یې باقي پاته سي وَهُوَ يَخْرُجُ مِنْ ثُلُثِ مَا بَقِيَ مِنْ مَالِهٖ او هغه پاته سوی ثلث د ما بقي مال له ثلث څخه وځي لَمْ يَسْتَحِقَّ

إِلَّا ثُلُثَ مَا بَقِيَ مِنَ الثِّيَابِ نو موصی لهٔ صرف د ما بقي کپړو د ثلث مستحق کيږي قَالُوْا: هٰذَا إِذَا كَانَتِ الثِّيَابُ مِنْ أَجْنَاسٍ مُخْتَلِفَةٍ مشايخو فرمايلي دي: چې دا [حکم] هغه وخت دی کله چې کپړې مختلفه جنسونو والا وي وَلَوْكَانَتْ مِنْ جِنْسٍ وَاحِدٍ او که کپړې يوه جنس والا وي فَهُوَبِمَنْزِلَةِ الدَّرَاهِمِ نو بيا کپړې د دراهمو په درجه کې دي وَكَذٰلِكَ الْمَكِيْلُ وَالْمَوْزُوْنُ بِمَنْزِلَتِهَا او همدارنګه کَيلي او وزني شی هم د دراهمو په درجه کې دی لِأَنَّهُ يَجْرِيْ فِيهِ الْجَمْعُ جَبْرًا بِالْقِسْمَةِ ځکه چې په هغه [کَيلي او وزني شي] کې د جبر بالتقسيم په اعتبار سره جمع کول جاري کيږي [يعني په هغوی کې پر تقسيم د مجبوره کولو په اعتبار سره جمع کول ممکن دي].

اللغات: ﴿ثياب﴾ جمع د ثَوْبٌ ده: کپړې. ﴿مکيل﴾ پيمانه کېدونکی شی. يعني هغه شی کوم چې په پيمانه (لوښي) سره اندازه کيږي او په پيمانه خرڅيږي. لکه غنم. اوربشې وريجې او داسې نور (ځکه پخوا به دا شيان په پيمانه سره اندازه کېدل او خرڅېدل). ﴿موزون﴾ وزن کېدونکی شی (تلل کېدونکی شی). يعني هغه شی کوم چې په وزن (تول) سره اندازه کيږي او خرڅيږي. ﴿يجري﴾ د ضرب د باب مضارع ده: جاري کېدل. چلېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې د خالد سره مثلاً ډېرې کپړې يا ډېر تانونه پراته دي او خالد د يو سړي (مثلاً د حامد) لپاره د هغه کپړو د يوه ثلث وصيت وکړی. بيا د هغه کپړو دوه ثلثه هلاک او ضايع سول او صرف يو ثلث يې باقي پاته سو. ليکن له هغوی څخه بغير د موصي (خالد) سره نور مال هم سته او هغه مال له باقي مانده کپړو څخه دوچنده زيات دی. نو موصی لهٔ (حامد) ته به څومره حصه ورکول کيږي؟ په دې صورت کې د مشايخو رَحِمَهُمُ الله قول دا دی چې که کپړې مختلفُ الاجناس وي. نوموصی لهٔ ته به د ما بقي کپړو ثلث ورکول کيږي. او که کپړې متحدُ الجنس وي. نو هغوی د دراهمو په درجه کې دي يعني په دې صورت کې به موصی لهٔ ته ما بقی کپړه ټوله ورکول کيږي. همدارنګه که موصیٰ بهٔ کَيلي يا وزني شی وي نو هغه هم په دې صورت کې د دراهمو په درجه کې دی. يعني په دې صورت کې به هم موصی لهٔ ته ما بقي شی ټوله ورکول کيږي؛ ځکه څرنګه چې په دراهمو وغيره کې جبراً تقسيم جائز دي چې د وارثانو او موصی لهٔ حصې سره جمع کول ممکن دي. همدغسې په کَيلي او وزني شيانو کې هم جبراً تقسيم جائز دی او د وارثانو او موصی لهٔ حصې سره جمع کول ممکن دي.

وَلَوْ أَوْصٰى بِثُلُثِ ثَلَاثَةٍ مِنْ رَقِيْقِهٖ او كه څوك د خپلو دريو غلامانو د ثلث [دريمي حصې] وصيت وكړي فَمَاتَ اِثْنَانِ بيا دوه غلامان مړه سي لَمْ يَكُنْ لَهٗ اِلَّا ثُلُثُ الْبَاقِيْ نو د موصى له لپاره صرف د ما بقي غلام ثلث دی وَكَذَا الدُّوْرُ اِذَا كَانَتْ مُخْتَلِفَةً او همدارنګه مختلفه كورونه [يعني همدا حكم د مختلفه كورونو دی] وَقِيْلَ: هٰذَا عَلٰى قَوْلِ اَبِيْ حَنِيْفَةَ وَحْدَهٗ او ويل سوي دي: چي دا يوازي د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر قول دي [يعني په دې مسئله كي د امام او صاحبينو تر مينځ اختلاف دی] لِاَنَّهٗ لَا يُجْبَرُ عَلَى الْقِسْمَةِ فِيْهَا ځكه هغه په دوی [مختلفه كورونو او غلامانو كي] پر تقسيم جبر جائز نه ګڼي وَقِيْلَ: هُوَ قَوْلُ الْكُلِّ او ويل سوي دي: چي دا د ټولو قول دی لِاَنَّ عِنْدَهُمَا لِلْقَاضِيْ اَنْ يَجْتَهِدَ وَيَجْمَعَ ځكه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز قاضي ته دا اختيار سته چي هغه داسي اجتهاد وكړي او جمع وكړي وَبِدُوْنِ ذٰلِكَ يَتَعَذَّرُ الْجَمْعُ او د قاضي له اجتهاد څخه بغير جمع كول ناممكن دي وَالْاَوَّلُ اَشْبَهُ لِلْفِقْهِ الْمَذْكُوْرِ او اول قول [چي په دې مسئله كي اختلاف دی] د مذكوره فقه زيات مشابه دی.

اللغات: ﴿رقيق﴾ خالص غلام، مملوك. ﴿دُوْر﴾ جمع د دَار ده: كور، مكان، د اوسېدلو ځای. ﴿يتعذر﴾ د تفعل د باب مضارع ده: مشكل كېدل، ناممكن كېدل. ﴿فقه﴾ إدراك دقائق الأمور، عقلي دليل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د خالد دري غلامان دي او خالد له هغوی څخه د يوه ثلث يعني د يوه غلام وصيت د حامد لپاره وكړی بيا دوه غلامان مړه سول. يا مثلاً د خالد څو كورونه دي او خالد د حامد لپاره د هغه وصيت وكړی او بيا هغه كورونه خراب او ويجاړ سول او د ثلث په اندازه كورونه پاته سول. نو په دې دواړو صورتونو كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز موصى له (حامد) ته به د ما بقي حصې ثلث وركول كيږي او ټوله ما بقي به نه وركول كيږي. خو له صاحبينو رَحِمَهُمَا الله څخه په دې سلسله كي دوه قوله نقل سوي دي: ① اول قول دا دی چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز حكم دا دی چي موصى له ته به ما بقي ټوله وركول كيږي (نو د اول قول مطابق مذكوره مسئله د امام صاحب او صاحبينو تر مينځ مختلف فيها ده). ② دوېم قول دا دی چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول د امام صاحب رَحِمَهُ الله د مسلك موافق دی يعني موصى له ته به د ما بقي ثلث وركول كيږي (يعني دا مسئله متفق عليها ده).

د اول قول په صورت کي د امام صاحب دليل دا دی چي امام صاحب رَحِمَهُ الله د غلامانو او د کورنو اجناس مختلفه ګڼي او په هغوی کي جبراً تقسيم صحيح نه مني، او د اجناسِ مختلفه په صورت کي موصىٰ لهٗ ته د ما بقی ثلث ورکول کيږي. نو ځکه دلته به هم موصىٰ لهٗ ته د ما بقي ثلث ورکول کيږي.

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دادی چي دا جنسِ واحد دي او په جنسِ واحد کي جبراً تقسيم کېدلای سي او چيري چي جبراً تقسيم کېدلای سي. هلته موصىٰ لهٗ ته ټوله ما بقي حاصليږي. نو ځکه دلته به هم موصىٰ لهٗ ته ټوله حق حاصليږي.

او د دويم قول په صورت کي (يعني که دا مسئله متفق عليها ومنل سي نو) پر صاحبينو اعتراض واردیږي. نو د دويم قول په صورت کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي د دوی په نيز قاضي ته دا اختيار سته چي هغه په خپل اجتهاد سره د شريکانو حصې سره جمع کړي او تر څو چي قاضي اجتهاد نه وکړي تر هغه وخته به جمع ممکنه نه وي. لنډه دا چي د قاضي په اجتهاد سره دلته جمع ممکنه ده. حال دا چي دلته بدون جمع دا مال (غلامان يا کورونه) هلاک سوی دی. نو ځکه په هلاکت او بقاء دواړو کي به شرکت کيږي او موصىٰ لهٗ ته به د ما بقی ثلث ورکول کيږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي اول قول (چي دا مذکوره مسئله مختلف فيها ده) زيات صحيح او د فقه زيات مشابه دی.

د معيَن عدد وصيت کولو حکم او تفصيل

قَالَ: وَمَنْ أَوْصَىٰ لِرَجُلٍ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ/ فرمايي: او څوک چي د يو سړي لپاره د زرو درهمو وصيت وکړي وَلَهُ مَالٌ عَيْنٌ وَدَيْنٌ او د هغه [وصيت کونکي] سره نغد مال [هم] وي او قرض [هم] وي فَإِنْ خَرَجَ الْأَلْفُ مِنْ ثُلُثِ الْعَيْنِ نو که زر درهمه د نغد مال له ثلث څخه وځي دُفِعَ إِلَى الْمُوصَىٰ لَهُ نو زر درهمه به موصىٰ لهٗ ته ورکول کيږي لِأَنَّهُ أَمْكَنَ إِيفَاءُ كُلِّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ مِنْ غَيْرِ بَخْسٍ ځکه [په دې صورت کي] هر حق والا ته د هغه حق ورکول ممکن دي بغير له څه کمی څخه فَيُصَارُ إِلَيْهِ نو ځکه د هغه وطرف ته به رجوع کول کيږي وَإِنْ لَمْ يَخْرُجْ او که زر درهمه [د نغد مال له ثلث څخه] نه وځي دُفِعَ إِلَيْهِ ثُلُثُ الْعَيْنِ نو موصىٰ لهٗ ته به د نغد مال ثلث ورکول کيږي وَكُلَّمَا خَرَجَ شَيْءٌ مِنَ الدَّيْنِ او هر

کله چې د قرض کوم څه مقدار را وځي [یعني د موصي کوم قرض چې خېږي او ترلاسه کول کیږي] أَخَذَ ثُلُثَهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَ الْأَلْفَ نو موصیٰ لهٔ به د هغه ثلث اخلي تر دې چې هغه [موصیٰ لهٔ] زر درهمه ترلاسه کړي لِأَنَّ الْمُوصٰى لَهٗ شَرِيْكُ الْوَارِثِ ځکه چې موصیٰ لهٔ د وارث شریک دی وَفِيْ تَخْصِيْصِهٖ بِالْعَيْنِ بَخْسٌ فِيْ حَقِّ الْوَرَثَةِ او په نغد مال سره د موصیٰ لهٔ په خاص کولو کې د وارثانو په حق کې کمي کول دي لِأَنَّ لِلْعَيْنِ فَضْلًا عَلَى الدَّيْنِ ځکه چې نغد مال لره پر قرض فضیلت [فوقیت] حاصل دی وَلِأَنَّ الدَّيْنَ لَيْسَ بِمَالٍ فِيْ مُطْلَقِ الْحَالِ او ځکه چې قرض په مطلق حال کې [فی الحاله] مال نه دی وَإِنَّمَا يَصِيْرُ مَالًا عِنْدَ الْاِسْتِيْفَاءِ [ځکه] قرض خو د اخیستلو په وخت کې مال ګرځي فَإِنَّمَا يَعْتَدِلُ النَّظَرُ بِمَا ذَكَرْنَاهُ نو [د موصیٰ لهٔ او د وارثانو ترمينځ] نظر په هغه صورت کې معتدل کیږي کوم چې موږ ذکر کړی دی.

اللغات: ﴿مُوصیٰ لهٔ﴾ افعال د باب مفعول دی: د چا لپاره چې وصیت سوی وي (د چا په حق کې چې وصیت سوی وي). ﴿إيفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: (حق) پوره ور کول، اداء کول. ﴿يستوفی﴾ د استفعال د باب مضارع ده: پوره اخیستل، ترلاسه کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که زید دا وصیت وکړی چې زما له مال څخه دي خالد ته زر درهمه ورکول سي او له دغه موصیٰ به یعني له زرو درهمو (ألف) څخه بغیر د زید سره نور مال هم سته چې هغه څه نغد مال دی او څه قرض دی. نو اوس به دې ته کتل کیږي چې د هغه سره نغد مال څومره دی؟ که نغد مال دومره وي چې موصیٰ به (زر درهمه) د هغه ثلث وي (یعني نغد درې زره درهمه وي). نو په دې صورت کې به موصیٰ لهٔ (خالد) ته زر درهمه نغد ور کول کیږي. ځکه له هغه څخه بغیر د موصي (زید) سره داسي نور دوچنده مال سته او له څه کمي څخه بغیر وارثانو ته له هغه څخه حق ور کول کېدای سي.

او که له موصیٰ به څخه بغیر د موصي سره نغد مال زیات نه وي. بلکې صرف همدا زر درهمه ور سره وي. نو په دې صورت کې به موصیٰ لهٔ (خالد) ته پوره زر درهمه نه ور کول کیږي. بلکې کوم زر درهمه چې نغد موجود دي. فی الحاله به د هغه ثلث ور کول کیږي او په باقي مقدار کې به د موصي

لهٔ (خالد) سره د قرض معامله کیږي او هغه ته به دا ویل کیږي چي هر کله هم د موصي قرض خېږي. نو ته له هغه ځخه ثلث اخله! او په دې توګه خپل زر درهمه پوره ترلاسه کړه!.

په مذکوره صورت کي موصیٰ لهٔ ته د پوره زرو درهمو د نه ورکولو وجه دا ده چي موصیٰ لهٔ او وارثان دواړه د مړي (موصي) په میراث کي شریکان دي او څرنګه چي نغد مال له قرض ځخه افضل او غوره دی. نو ځکه که نغد مال (زر درهمه) ټوله موصیٰ لهٔ ته ورکول سي. نو دا به د وارثانو سره ظلم و زیاتوب وي او د دوی په حق کي به کمي او قصور لازم سي. لهذا وارثان او موصیٰ لهٔ چي څرنګه په استحقاق کي شریکان دي. همداسي به په مال اخیستلو کي هم شریکان وي. او شرکت په همغه صورت کي متحقق کیږي کله چي موصیٰ لهٔ ته فی الحاله د نغد مال ثلث ورکول سي.

د دوو کسانو لپاره د ثلث مال تر وصیت کولو وروسته که معلومه سوه چي یو کس مړ دی؟

قَالَ: وَمَنْ أَوْصَى لِزَيْدٍ وَعَمْرٍو بِثُلُثِ مَالِهِ فرمایي: او څوک چي د زید او عمرو لپاره د خپل مال د ثلث وصیت وکړي فَإِذَا عَمْرٌو مَيِّتٌ خو عمرو مړ سوی وي فَالثُّلُثُ كُلُّهُ لِزَيْدٍ نو ثلث ټوله د زید لپاره دی لِأَنَّ الْمَيِّتَ لَيْسَ بِأَهْلٍ لِلْوَصِيَّةِ ځکه مړی د وصیت اهل نه دی فَلَا يُزَاحِمُ الْحَيَّ الَّذِي هُوَ مِنْ أَهْلِهَا نو مړی [عمرو] د هغه ژوندي [زید] نه مزاحم کیږي کوم چي د وصیت اهل دی كَمَا إِذَا أَوْصَى لِزَيْدٍ وَجِدَارٍ لکه کله چي څوک د زید او دېوال لپاره وصیت وکړي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ إِذَا لَمْ يَعْلَمْ بِمَوْتِهِ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ځخه روایت دی چي کله موصي د عمرو په مرګ خبر نه وي فَلَهُ نِصْفُ الثُّلُثِ نو د زید لپاره د ثلث نصف دی لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ عِنْدَهُ صَحِيحَةٌ لِعَمْرٍو ځکه د وصي په نېز [د وصي په ګومان] د عمرو لپاره وصیت صحیح دی فَلَمْ يَرْضَ لِلْحَيِّ إِلَّا نِصْفَ الثُّلُثِ نو موصي به د ژوندي [زید] لپاره صرف د ثلث په نصف راضي وي بِخِلَافِ مَا إِذَا عَلِمَ بِمَوْتِهِ په خلاف د هغه صورت کله چي موصي د عمرو په مرګ خبر وي لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ لِلْمَيِّتِ لَغْوٌ ځکه د مړي لپاره وصیت کول بې ځایه دي فَكَانَ رَاضِيًا بِكُلِّ الثُّلُثِ لِلْحَيِّ نو هغه به د ژوندي [زید] لپاره په ټوله ثلث راضي وي.

اللغات: ﴿لایزاحم﴾ د افعال له بابه د نفي صیغه ده: مزاحم کېدل. مقابل کېدل. تنګي کول. ﴿لغو﴾ بې ځایه او بېکاره. بې نتیجې.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که یو سړی د زید او عَمرو دواړو لپاره د خپل مال د ثلث (درېیمي حصې) وصیت وکړی، لېکن تر وصیت وروسته خبر سو چې عَمرو خو مړ سوی دی، نو په دې صورت کې ټوله موصیٰ بهٖ (ثلث) خالد ته حاصلېږي او یوازې همغه د ټوله ثلث مستحق کېږي. ځکه چې مړی د وصیت قبلولو اهل نه دی، لهذا مړی (عَمرو) د همغه ژوندي کس مزاحم او مقابل نه سي کېدلای کوم چې د وصیت قبلولو اهل دی، د دې مثال داسې دی لکه څوک چې د خالد او دېوال لپاره وصیت وکړي، نو ښکاره خبره ده چې په دېوال کې د وصیت قبلولو هېڅ اهلیت او صلاحیت نه سته، لهذا ټوله وصیت به د زید لپاره وي، نو همداسې په مذکوره مسئله کې هم څرنګه چې حامد مړ سوی دی او په همغه کې د وصیت قبلولو صلاحیت نسته، نو ځکه صرف همدا خالد به د ټوله ثلث مستحق وي.

وعن أبي یوسف إلخ: له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي چې که موصي د حامد په مرګ خبر نه وي او وروسته په خبر سي، نو په دې صورت کې خالد ته صرف نصف ثلث (نیمایي ثلث) حاصلېږي او ټوله ثلث به نه ورکول کېږي؛ ځکه د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د حامد (مړي) لپاره وصیت صحیح دی، لهذا همغه به خالد ته صرف د نصف ثلث په ورکولو راضي وي نو صرف همغه به ورکول کېږي.

بخلاف إلخ: ها! که موصي د حامد په مرګ خبر وي، نو په دې صورت کې ژوندي کس (خالد) ته ټوله موصیٰ بهٖ (ثلث) حاصلېږي، ځکه د مړه کس لپاره وصیت کول لغو او بې ځایه دي، نو ګواکي دلته موصي فقط ژوندي کس ته د ټوله موصیٰ بهٖ په ورکولو راضي دی، نو ځکه دلته به صرف همدې ژوندي کس یعني خالد ته ټوله موصیٰ بهٖ ورکول کېږي.

د پورتنی مسئلې بل صورت

وَإِنْ قَالَ: ثُلُثُ مَالِيْ بَيْنَ زَيْدٍ وَعَمْرٍو او که موصي ووایي: چې زما د مال ثلث [درېیمه حصه] د زید او عمرو تر مینځ ده وَزَيْدٌ مَيِّتٌ حال دا چې زید مړ سوی وي كَانَ لِعَمْرٍو نِصْفُ الثُّلُثِ نو د عمرو لپاره د ثلث نصف [نیمایي ثلث] دی لِأَنَّ قَضِيَّةَ هٰذَا اللَّفْظِ أَنْ يَكُوْنَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفُ الثُّلُثِ ځکه د دې لفظ [یعني د "بَيْنَ"] تقاضا دا ده چې له دوی دواړو څخه د هر یوه لپاره د ثلث نصف وي بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د مخکنۍ مسئلې أَلَا تَرَىٰ أَنَّ مَنْ قَالَ: ثُلُثُ مَالِيْ لِزَيْدٍ وَسَكَتَ آیا ته نه ګورې!

چي كه څوک ووايي: زما د مال ثلث د زيد لپاره دی او چپ پاته سي كَانَ لَهُ كُلُّ الثُّلُثِ نو د هغه [زيد] لپاره ټوله ثلث دی وَلَوْ قَالَ: ثُلُثُ مَالِي بَيْنَ فُلَانٍ وَسَكَتَ او كه داسي ووايي: زما د مال ثلث د فلانكي تر مينځ دی او چپ پاته سي لَمْ يَسْتَحِقَّ الثُّلُثَ نو هغه [فلانكى] د ثلث نه مستحق كيږي.

اللغات: ﴿قضية﴾ تقاضا، مقتضا، حكم او فيصله. ﴿سكت﴾ د نصر د باب ماضي ده: چپ كېدل، خاموش كېدل.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی كه يو څوک داسي ووايي چي زما د مال ثُلث د زيد او عَمرو تر مينځ (مشترک) دی يعني د "لزيدٍ وعمرٍو" پر ځای "بين زيدٍ وعمرٍو" ووايي. حال دا چي عَمرو مړ سوی دی، نو په دې صورت كي ژوندي يعني زيد ته د ثلث نصف حاصليږي او ټوله ثلث نه ورته حاصليږي: ځكه د "بَيْن" لفظ د شركت تقاضا كوي او شركت په همغه صورت كي متحقق كيږي كله چي ژوندي كس (زيد) ته د ثلث نصف حاصل سي. د دې په خلاف په مخكنۍ مسئله كي يعني كله چي موصی "لزيدٍ وعمرٍو" ويلي وي.نو هلته "ل" صرف پر استحقاق دلالت كوي. پر شركت دلالت نه كوي. نو ځكه هلته د عَمرو د مړكېدلو په صورت كي زيد د ټوله ثلث مستحق كيږي. لېكن په مذكوره مسئله كي به زيد صرف په نصف ثلث اكتفا كوي او د ټوله ثلث نه مستحق كيږي.

د دې مثال دا دی لكه څوک چي ووايي "ثلث مالي لزيدٍ" بيا چپ پاته سي او هيڅ نه ووايي. نو زيد د ټوله ثلث مستحق كيږي او كه داسي ووايي "ثلث مالي بين زيدٍ" نو زيد د ټوله ثلث نه مستحق كيږي: ځكه لفظ د "بَيْن" په استحقاق مع الشركة باندي دلالت كوي.حال دا چي "ل" صرف په استحقاق باندي دلالت كوي.

كه د يو چا سره هيڅ مال نه وي او هغه د ثلث مال وصيت وكړي (حكم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى بِثُلُثِ مَالِهِ فرمايي: او كه څوک د خپل مال د ثلث [دريمي حصې] وصيت وكړي وَلَا مَالَ لَهُ حال دا چي د هغه لپاره مال نه وي وَاكْتَسَبَ مَالًا او بيا هغه [موصي] مال وګټي اِسْتَحَقَّ الْمُوْصٰى لَهُ ثُلُثَ مَا يَمْلِكُهُ عِنْدَ الْمَوْتِ نو موصیٰ لهٗ د هغه مال د ثلث مستحق كيږي چي موصي د مرګ په وخت كي د هغه مالک وي لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ عَقْدُ اِسْتِخْلَافٍ مُضَافٌ إِلٰى مَا بَعْدَ الْمَوْتِ ځكه وصيت د خليفه جوړولو يو عقد دی كوم چي تر مرګ وروسته [حالت] ته مضاف دی وَيَثْبُتُ

حُكْمُهُ بَعْدُ او د هغه [وصیت] حکم تر مرګ وروسته ثابتیږي فَيُشْتَرَطُ وُجُودُ الْمَالِ عِنْدَ الْمَوْتِ لَا قَبْلَهُ نو ځکه د مرګ په وخت کې د مال موجودېدل شرط دي نه تر هغه مخکې وَكَذٰلِكَ إِذَا كَانَ لَهُ مَالٌ فَهَلَكَ او همدارنګه کله چې د موصي لپاره مال وي بيا هغه هلاک سي ثُمَّ اكْتَسَبَ مَالًا بيا موصي [نور] مال حاصل کړي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿اکتسب﴾ د افتعال د باب ماضي ده: ګټل. ﴿استخلاف﴾ د استفعال د باب مصدر دی: خليفه جوړول. نائب/قائم مقام جوړول.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که زيد مثلاً د حامد لپاره د خپل مال د درېيمي حصې (ثلث المال) وصيت وکړي. لېکن د وصيت په وخت کي د ده سره مال نه وي او بيا وروسته څه مال وګټي. نو دئ (زيد) چي د مړ کېدلو په وخت کي د څومره مال مالک وي يعني د مرګ په وخت کي چي د ده سره خپل څومره مال وي. د هغه ټوله مال ثلث موصیٰ لهٗ (حامد) ته حاصليږي او د وصيت په وخت کي د موصي سره د مال نشتوالی د وصيت پر صحت هيڅ اثر نه کوي؛ ځکه وصيت عقد استخلاف دی کوم چي تر مرګ وروسته حالت ته مضاف او منسوب دی او د هغه حکم هم تر مرګ وروسته ثابتيږي. لهذا د مرګ په وخت کي که د موصي سره مال وي نو د هغه وصيت صحيح دی. کنې صحيح نه دی.

وكذالك إلخ: يعني که د موصي سره مال موجود وي او هغه له دې مال څخه د يو چا (مثلاً د حامد) لپاره د ثلث وصيت کړی وي. بيا دا مال هلاک سي. لېکن تر مړ کېدلو مخکي موصي مال وګټي. نو په دې صورت کي هم د هغه وصيت صحيح او جائز دی: ځکه د وصيت د صحت لپاره د مرګ په وخت کي د موصي سره د مال موجودېدل شرط دي او دلته د مرګ په وخت کي د هغه سره مال سته. نو ځکه د هغه وصيت هم صحيح دی.

د پسونو د وصيت کولو په صورت کي که ټوله پسونه ضايع سي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ أَوْصٰى لَهُ بِثُلُثِ غَنَمِهِ او که موصي د يو چا لپاره د خپلو پسونو د ثلث [درېيمي حصې] وصيت وکړي فَهَلَكَ الْغَنَمُ قَبْلَ مَوْتِهِ بيا د موصي تر مرګ مخکي پسونه هلاک سي أَوْ لَمْ يَكُنْ لَهُ غَنَمٌ فِي الْأَصْلِ يا په اصل کي د موصي سره هيڅ پسونه نه وي فَالْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌ نو وصيت باطل دی لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّهُ إِيجَابٌ بَعْدَ الْمَوْتِ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی چي دا تر مرګ وروسته وصيت واجبول دي فَيُعْتَبَرُ قِيَامُهُ حِينَئِذٍ نو ځکه په هغه وخت [د مرګ په وخت کي] به د موصیٰ به

[پسونو] د موجودېدلو اعتبار کيږي وَهٰذِهِ الْوَصِيَّةُ تَعَلَّقَتْ بِالْعَيْنِ او دغه وصيت د عين [پسونو] سره متعلق دی فَتَبْطُلُ بِفَوَاتِهِ عِنْدَ الْمَوْتِ نو ځکه د مرګ په وخت کي د دې عين د فوتوالي [نشتوالي] په وجه به وصيت باطليږي وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ غَنَمٌ او که د موصي سره پسونه نه وي فَاسْتَفَادَ بيا موصي پسونه ترلاسه کړي ثُمَّ مَاتَ بيا موصي مړ سي فَالصَّحِيحُ أَنَّ الْوَصِيَّةَ تَصِحُّ نو صحيح دا ده چي [په دې صورت کي] وصيت صحيح کيږي لِأَنَّهَا لَوْ كَانَتْ بِلَفْظِ الْمَالِ ځکه که وصيت د مال په لفظ سره وای تَصِحُّ نو [په مذکوره صورت کي] به وصيت صحيح کېدلای فَكَذَا إِذَا كَانَتْ بِاسْمِ نَوْعِهِ نو همداسي [په هغه صورت کي به هم صحيح کيږي] کله چي وصيت د مال د يو قسم په نوم سره وي [ځکه پسونه د مال يو نوع ده] وَهٰذَا لِأَنَّ وُجُودَهُ قَبْلَ الْمَوْتِ فَضْلٌ او دا ځکه چي تر مرګ مخکي د موصیٰ به موجودېدل فضول دي وَالْمُعْتَبَرُ قِيَامُهُ عِنْدَ الْمَوْتِ او معتبر د مرګ په وخت کي د موصیٰ به موجودېدل دي.

اللغات: ﴿غنم﴾ د "غَنَم" لفظ اسم جنس دی، واحد یې من غیر لفظه شَاةٌ دی: مذکر او مؤنث دواړو لره شامليږي. همدارنګه پسونه او وزې ټوله په دې لفظ کي داخل دي (مونږ د آساني او کثرت په خاطر د دې ترجمه په پسونو سره کوو). ﴿إيجاب﴾ د افعال د باب مصدر دی: واجبول او لازمول. ثابتول. ﴿فوات﴾ د نصر د باب مصدر دی: فوتېدل. ضايع کېدل. ﴿استفاد﴾ د استفعال د باب ماضي ده: حاصلول (ترلاسه کول). فايده حاصلول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک د خپلو پسونو ثلث يو چا ته په وصيت کي ورکړي چي زما تر مرګ وروسته د پسونو دريمه حصه ستا ده او بيا د هغه (موصي) تر مرګ مخکي ټوله پسونه هلاک سي، يا د هغه سره په هيڅ وخت کي هم پسونه نه وي، نه د وصيت په وخت کي او نه د مرګ په وخت، نو د هغه دا وصيت صحيح نه دی: ځکه مخکي دا خبره تېره سوې ده چي د وصيت صحيح کېدلو لپاره (د موصي) د مرګ په وخت کي د مال او موصیٰ به موجودېدل شرط دي. او دلته په دواړو صورتونو کي موصیٰ به معدوم دی، نو ځکه وصيت صحيح نه دی. او بل دا چي دلته موصیٰ به عَين يعني پسونه دي او وصيت د عَين سره متعلق دی. او د مرګ په وخت کي دا عَين معدوم او مفقود دی، حال دا چي د وصيت صحيح کېدلو لپاره د مرګ په وخت کي د عَين قيام او وجود ضروري دی. نو ځکه دلته وصيت باطل دی.

وإن لم يكن له غنم الخ: د دې حاصل دا دی چې که د وصیت په وخت کې د موصي (وصیت کونکي) سره موصیٰ به یعني غنم (پسونه) نه وي، لېکن د مرګ په وخت کې هغه ته دا حاصل سي. نو په دې صورت کې وصیت جائز دی؛ ځکه که وصیت د مال په لفظ سره وای او د مرګ وخت کې د موصي سره مال موجود وای، نو وصیت صحیح کېدی. او غنم (پسونه) د مال یو نوع او قسم دی. لهذا که د مرګ په وخت کې د مال دا قسم موجود وي. نو د هغه وصیت به هم صحیح وي؛ ځکه (د وصیت په باب کې) تر مرګ مخکې د مال موجودېدل او نه موجودېدل سره برابر دي او صرف د مرګ په وخت کې د هغه موجودېدل ضروري دي.

که د یوه پسه وصیت وکړي او پسه نه وي نو د هغه قیمت لازمیږي

وَلَوْقَالَ: لَهُ شَاةٌ مِنْ مَالِيْ او که موصي ووایي: چې د هغه [موصیٰ له] لپاره زما له مال څخه یو پسه دی وَلَيْسَ لَهُ غَنَمٌ حال دا چې د هغه سره پسونه نه وي يُعْطٰى قِيْمَةُ شَاةٍ نو موصیٰ لهٔ ته به د یوه پسه قیمت ورکول کیږي لِأَنَّهُ لَمَّا أَضَافَهُ إِلَى الْمَالِ ځکه کله چې موصي د شاة [پسه] اضافت د مال وطرف ته وکړی عَلِمْنَا أَنَّ مُرَادَهُ الْوَصِيَّةُ بِمَالِيَّةِ الشَّاةِ نو موږ پوه سو چې د موصي مراد د پسه د مالیت وصیت کول دي إِذْ مَالِيَّتُهَا تُوجَدُ فِيْ مُطْلَقِ الْمَالِ ځکه د پسه مالیت په مطلق مال کې موجود وي وَلَوْ أَوْصٰى بِشَاةٍ او که موصي [فقط] د پسه وصیت وکړي وَلَمْ يُضِفْهُ إِلٰى مَالِهِ او د هغه اضافت خپل مال ته نه وکړي [یعني د پسه وصیت د خپل مال وطرف ته منسوب نه کړي] وَلَا غَنَمَ لَهُ او نه د هغه سره پسونه وي قِيْلَ: لَا يَصِحُّ نو ویل سوي ده: چې دا وصیت نه صحیح کیږي لِأَنَّ الْمُصَحِّحَ إِضَافَتُهُ إِلَى الْمَالِ ځکه د وصیت صحیح کونکی شی د مال وطرف ته د موصیٰ به [پسه] اضافت کول دي وَبِدُوْنِهَا تُعْتَبَرُ صُوْرَةُ الشَّاةِ وَمَعْنَاهَا او بغیر له اضافت څخه به د پسه د صورت او معنیٰ اعتبار کول کیږي وَقِيْلَ: تَصِحُّ او ویل سوي دي: چې دا وصیت صحیح کیږي لِأَنَّهُ لَمَّا ذَكَرَ الشَّاةَ وَلَيْسَ فِيْ مِلْكِهٖ شَاةٌ ځکه کله چې موصي [په خپل وصیت کې] پسه ذکر کړی دی او د هغه په ملکیت کې پسه نسته عُلِمَ أَنَّ مُرَادَهُ الْمَالِيَّةُ نو [له دې څخه] معلومه سوه چې د موصي مراد مالیت دی.

اللغات: ﴿شاة﴾ او غَنَم: د تېر عبارت په لغاتو کې یې وضاحت وسو. ﴿مصحّح﴾ د افعال د باب فاعل دی: صحیح ګرځونکی، سمونکی.

تشریح: په دې عبارت کې دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده چي که موصي داسي ووايي: چي فلانکي (مثلاً خالد) ته دي "زما له مال" څخه یو پسه ورکول سي، حال دا چي د هغه سره یو پسه هم نسته، نو د هغه دا وصیت صحیح دی او موصیٰ لهٗ (خالد) ته به د هغه له مال څخه د یوه پسه قیمت ورکول کیږي؛ ځکه دلته موصي موصیٰ بهٖ (پسه) متعیّن کړی دی او د خپل مال وطرف ته یې د هغه اضافت هم کړی دی او دغه اضافت دا ښیي چي د موصي مقصد د پسه مالیت او قیمت ورکول دي او مالیت په هر قسم مال کي وي او د پسه د مالیت اندازه په هر حال کي کېدلای سي، نو ځکه موصیٰ لهٗ ته به د یوه پسه مالیت ورکول کیږي.

(۲)... دویمه مسئله دا ده چي که موصي یوازي د پسه وصیت وکړي او داسي ووایي "له شاةٌ" یا "أُوْصِیْ لفلانٍ بشاةٍ" او خپل مال ته د پسه اضافت نه وکړي، نو په دې صورت کي د مشایخو رَحِمَهُمُ الله دوه قوله دي:

① اول قول دا دی چي دا وصیت صحیح نه دی؛ ځکه د وصیت صحیح کېدلو لپاره د مال وطرف ته د موصیٰ بهٖ (شاة) مضاف کول ضروري وه یعني دا وصیت به هغه وخت وصیت صحیح کېدای کله چي د مال وطرف ته د شاة اضافت او نسبت سوي وای، کنې کله چي د مال وطرف ته د شاة اضافت نه وسي نو هلته عین پسه مقصود وي او د هغه مالیت مقصود نه وي. د عینِ پسه د ښوولو لپاره مصنف رَحِمَهُ الله "صورة الشاة ومعناها" ویلي دي. لنډه دا چي دلته موصیٰ بهٖ عینِ پسه دی او هغه مفقود دی، نو ځکه دا وصیت باطل دی..

② دویم قول دا دی چي وصیت صحیح دی؛ ځکه کله چي دلته موصي په خپل وصیت کي پسه یاد کړی دی او د هغه سره پسه نسته، نو دا ښکاره سوه چي موصي د پسه د مالیت وصیت کول غواړي او مالیت په هر مال کي ترلاسه کېدلای سي، نو ځکه د مخکنۍ مسئلې په څېر دلته هم وصیت صحیح دی.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَلَوْقَالَ: شَاةٌ مِنْ غَنَمِیْ او که موصي ووايي: چي زما له پسونو څخه یو پسه [د فلانکي لپاره دی] وَلَا غَنَمَ لَهُ حال دا چي د هغه سره پسونه نه وي فَالْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌ نو وصیت باطل دی لِأَنَّهُ لَمَّا أَضَافَهُ إِلَى

الْغَنَمِ ځکه کله چې موصي د موصیٰ به [شاة] اضافت د غنم وطرف ته وکړی عَلِمْنَا أَنَّ مُرَادَهُ عَيْنُ الشَّاةِ نو موږ پوه سو چې د موصي مراد عین پسه دی حَيْثُ جَعَلَهَا جُزْءًا مِنَ الْغَنَمِ په دې حیثیت سره چې موصي شاة د غنم يو جزء گرځولی دی بِخِلَافِ مَا إِذَا أَضَافَهُ إِلَى الْمَالِ په خلاف د هغه صورت کله چې موصي د موصیٰ به [شاة] اضافت د مال وطرف ته وکړي وَعَلَىٰ هٰذَا يُخَرَّجُ كَثِيرٌ مِنَ الْمَسَائِلِ او پر همدې قاعده د ډېرو مسئلو تخريج کيږي.

اللغات: ﴿عين﴾ متعيّن. ﴿يخرج﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: تخريج كېدل.

تشريح: **مسئله**: دا ده که موصي داسې ووايي "له شاةٌ من غنمي" چې د فلانکي لپاره زما له پسونو څخه يو پسه دی، حال دا چې دهغه سره يو پسه هم نسته، نو دا وصيت باطل دی؛ ځکه موصي چې د غنم وطرف ته د شاة نسبت وکړی نو دا يې څرګنده کړه چې زما مراد ماليت نه دی بلکې عين پسه دی؛ ځکه هغه دلته شاة د غنم يو جزء ګرځولی دی چې "شاةٌ من غنمي" نو دا د معدوم شي وصيت سو کوم چې د وصيت او مړګ په دواړو وختونو کې معدوم دی. نو ځکه دا وصيت باطليږي.

خو که د مال وطرف ته د شاة اضافت وسي (لکه په مخکيني صورت کې). نو هلته ماليت مقصود وي. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا داسې اصل دی چې پر هغه ډيرې مسئلې متفرّع کيږي. چې له هغوی څخه ځينې مسئلې په حاشيو او شروحو کې مذکوره دي.

كه څوک وصيت وکړي چې زما د مال ثلث د ام ولد مېنځو او د فقراؤ او مساكينو لپاره دی؟

قَالَ: وَمَنْ أَوْصَىٰ بِثُلُثِ مَالِهِ لِأُمَّهَاتِ أَوْلَادِهِ فرمايي: او څوک چې د خپل اُم ولد مېنځو لپاره د خپل مال د ثلث وصيت وكړي وَهُنَّ ثَلَاثٌ او هغوی [أم ولد مينځي] درې وي وَلِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ او د فقيرانو او مسکينانو لپاره [هم وصيت وكړي] فَلَهُنَّ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ مِنْ خَمْسَةِ أَسْهُمٍ نو د اُم ولد مينځو لپاره له پنځو حصو څخه درې حصې دي قَالَ ﷺ: وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: او دا [حکم] د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی وَعَنْ مُحَمَّدٍ ۞ أَنَّهُ يُقْسَمُ عَلَىٰ سَبْعَةِ أَسْهُمٍ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه نقل سوي دي: چې ثلث به پر اوو حصو

۞ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، انظر للترجيح [القول الراجح ج:۲، ص:۳۷۷]

تقسیمول کیږي ﴿لَهُنَّ ثَلَاثَةٌ﴾ د اُم ولد مینځو لپاره به درې حصې وي ﴿وَلِكُلِّ فَرِيقٍ سَهْمَانِ﴾ او د هر فریق لپاره به دوې حصې وي ﴿وَأَصْلُهُ أَنَّ الْوَصِيَّةَ لِأُمَّهَاتِ الْأَوْلَادِ جَائِزَةٌ﴾ او د دې اصل دا دی چې د اُم ولد مینځو لپاره وصیت جائز دی ﴿وَالْفُقَرَاءُ وَالْمَسَاكِينُ جِنْسَانِ﴾ او فقیران او مسکینان دوه اِجلا جنسونه دي ﴿وَفَسَّرْنَاهُمَا فِي الزَّكَاةِ﴾ او موږ په کتاب الزکاة کې د دې دواړو وضاحت کړی دی.

اللغات: ﴿أسهم﴾ جمع د سَهْمٌ ده: حصه. برخه. ﴿فسرنا﴾ د تفعیل له بابه د جمع متکلم صیغه ده: تفسیر کول. وضاحت او تشریح کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د یو سړي (مثلاً د زید) درې اُم ولد مینځې دي او هغه داسې وصیت وکړی چې زما د مال ثلث (دریمه حصه) زما د اُم ولد مینځو (امهات اولاد) لپاره او د فقراؤ او مسکینانو لپاره دی، نو په دې صورت کې د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز ثلث به پنځه حصې کول کیږي، چې له هغه څخه به درې حصې اُمهات اولاد ته ورکول کیږي او دوې حصې به فقراؤ او مسکینانو ته ورکول کیږي. د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز ثلث به پر اوو (۷) حصو تقسیمول کیږي چې له هغه څخه به درې حصې امهات اولاد ته ورکول کیږي، دوې حصې به فقراؤ ته او دوې حصې به مسکینانو ته ورکول کیږي. له همدې څخه دا خبره هم څرګنده سوه چې د اُمهات اولاد (اُم ولد مینځو) لپاره وصیت جائز دی، حال دا چې قیاس له دې څخه انکار کوي چې د دوی لپاره دې وصیت جائز سي؛ ځکه چې وصیت تر مرګ وروسته وخت ته مضاف کیږي او په دې حالت کې په اُم ولد کې عِتق حلول کوي (ځکه اُم ولد د مالک تر مرګ وروسته آزادیږي) نو په همدې حالت کې د هغې لپاره وصیت هم ثابتیږي، لهذا د وصیت ثابتېدلو په وخت کې هغه په یوه درجه کې مینځه پاتیږي او د مینځې لپاره وصیت باطل دی، نو ځکه قیاساً د اُم ولد لپاره وصیت باطل دی. خو استحساناً د هغې لپاره وصیت په دې وجه جائز ګرځول سوی دی چې هغه تر عِتق وروسته د وصیت مستحق کیږي. نه د عتق د حلول په وخت کې؛ ځکه کله چې مالک د هغې لپاره وصیت کوي نو ښکاره همدا ده چې هغه صحیح وصیت کوي. نو د مالک کلام به حتی الامکان پر صحت حمل کول کیږي او استحساناً به د هغه وصیت د اُم ولد په حق کې جائز وي

دويمه خبره دا ده چي فقراء او مساكين دوه جلا جنسونه دي، په همدې وجه د دوى لپاره حصې هم جلا، جلا ټاكل سوي دي، لكه ځرنګه چي په كتاب الزكاة، باب من يجوز دفع الصدقة إليه كي د دې وضاحت سوى دى (حيث قال هناك: الفقير من له أدنى شيء، والمسكين من لا شيء له، وهذا مروي عن أبي حنيفة، وقد قيل: على العكس...).

د امام محمد او شيخينو رَحِمَهُمُ الله دلائل

لِمُحَمَّدٍ: أَنَّ الْمَذْكُورَ لَفْظُ الْجَمْعِ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي كوم [لفظ] ذكر سوى دى [يعني فقراء او مساكين] هغه لفظ د جمع دى وَأَدْنَاهُ فِي الْمِيرَاثِ اثْنَانِ او په ميراث كي د جمع ادنىٰ [اقل فرد] دوه دي نَجِد ذٰلِكَ فِي الْقُرْآنِ همدا مورږ په قرآن كي موندو فَكَانَ مِنْ كُلِّ فَرِيقٍ اثْنَانِ نو ځكه له هر فريق [فقراء او مساكين] ځخه به دوه وي وَأُمَّهَاتُ الْأَوْلَادِ ثَلَاثٌ او أم ولد مينځي درې دي فَلِهٰذَا يُقْسَمُ عَلَى سَبْعَةٍ نو ځكه ثلث به پر اُوو حصو تقسيمول كيږي وَلَهُمَا: أَنَّ الْجَمْعَ الْمُحَلَّى بِالْأَلِفِ وَاللَّامِ يُرَادُ بِهِ الْجِنْسُ د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چي هغه جمع كوم چي په الف او لام سره مزين وي [الف لام پرې داخل وي يعني "الفقراء والمساكين"] په هغه سره جنس مراديږي وَأَنَّهُ يَتَنَاوَلُ الْأَدْنَىٰ مَعَ احْتِمَالِ الْكُلِّ او جنس د كُل د احتمال سره ادنىٰ لره شامليږي لَا سِيَّمَا عِنْدَ تَعَذُّرِ صَرْفِهِ إِلَى الْكُلِّ خصوصاً د كُل وطرف ته د جنس ګرځولو د متعذر كېدلو په وخت كي [يعني خصوصاً منه وخت جنس ادنىٰ لره شامليږي كله چي د كُل وطرف ته د جنس ګرځول (راجع كول) ناممكن وي] فَيُعْتَبَرُ مِنْ كُلِّ فَرِيقٍ وَاحِدٌ نو ځكه له هر فريق ځخه به ديوه اعتبار كول كيږي فَبَلَغَ الْحِسَابُ خَمْسَةً نو حساب به پنځو ته ورسيږي وَالثَّلَاثَةُ لِلثَّلَاثِ او درې حصې به د دريو اُمهات اولاد لپاره وي.

اللغات: ﴿أدنىٰ﴾ كمتر، كمي درجې والا. ﴿مُحلّى﴾ د تفعيل د باب مفعول دى: ښايسته كړى سوى. مزيّن. ﴿لاسيّما﴾ خصوصاً، په ځانګړې توګه. ﴿صرف﴾ د ضرب د باب مصدر دى: د دې باب څو معناوې دي: ګرځول، راجع كول، صرفول، خرچ كول.

تشريح: په دې عبارت کي د پورتنۍ مسئلې په هکله د امامانو دليلونه بيان سوي دي: د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي موصي (زيد) دلته فقراء او مساکين د جمع په لفظ سره ذکر کړي دي او د ميراث په باب کي د جمع ادنیٰ مقدار (اقل فرد) دوه وي. لکه څرنګه چي په دې آيت ﴿فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُ﴾ کي هم له "إِخْوَةٌ" څخه کم از کم دوه کسان مراد دي. نو ځکه د فقراء او مساکين له هر فريق څخه به دوه فرده وي چي د هغوی مجموعه څلور کيږي او درې اُمهات اولاد (ام ولد مينځي) دي. نو ټوله اووه افراد سول چي د هغو لپاره به اووه حصې وي. په همدې وجه امام محمد رَحِمَهُ الله ثُلث پر اُوو حصو تقسيم کړی دی.

د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي موصي دلته "الفقراء والمساکين" دواړه په "الف لام" سره جمع ذکر کړي دي او په داسي جمع سره جنس مراديږي، لهذا له فقراؤ او مساکينو څخه به د دوی جنس مراديږي او دا جنس به د کُل د احتمال سره ادنیٰ لره شامليږي. لېکن څرنګه چي دلته د کُل وطرف ته دا جنس او جمع ګرځول يعني ټولو فقراؤ او مسکينانو ته له وصيت څخه حصه ورکول نا ممکن دي، نو ځکه له فقراء او مساکينو څخه به ادنیٰ يعني واحد مرادول کيږي او د دواړو لپاره به دوې حصې وي او اُمهات اولاد درې دي، نو ځکه ټوله ثُلث به پنځه حصې کول کيږي او د پنځو په حساب سره به تقسيمول کيږي.

که څوک ووايي زما د مال يو ثلث د فلانکي او د مساکينو لپاره دی؟ (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَلَوْ أَوْصَىٰ بِثُلُثِهِ لِفُلَانٍ وَلِلْمَسَاكِينِ فرمايي: او که موصي د فلانکي لپاره او د مسکينانو لپاره د خپل مال د ثلث [دريمي حصې] وصيت وکړي فَنِصْفُهُ لِفُلَانٍ وَنِصْفُهُ لِلْمَسَاكِينِ عِنْدَهُمَا نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه [يو] نصف د فلانکي لپاره دی او د هغه [بل] نصف د مسکينانو لپاره دی وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ ثُلُثُهُ لِفُلَانٍ وَثُلُثَاهُ لِلْمَسَاكِينِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د هغه يو ثلث د فلانکي لپاره دی او د هغه دوه ثُلثه د مسکينانو لپاره دي وَلَوْ أَوْصَىٰ لِلْمَسَاكِينِ او که موصي د مسکينانو لپاره وصيت وکړي لَهُ صَرْفُهُ إِلَىٰ مِسْكِينٍ وَاحِدٍ عِنْدَهُمَا نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز موصي ته فقط پر يوه مسکين د هغه د صرف کولو حق [هم] سته وَعِنْدَهُ لَا يَصْرِفُ إِلَّا إِلَىٰ مِسْكِينَيْنِ او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز موصي هغه نه سي صرف کولای مګر پر دوو مسکينانو بِنَاءً عَلَىٰ

مَا بَيَّنَّاهُ پر هغه قاعدې په بناء کولو سره کوم چې موږ [لږ څه مخکې] بیان کړه.

اللغات: ﴿نصف﴾ نیمه حصه، نیمایي، ﴿صرف﴾ د ضرب د باب مصدر دی، مخکې موږ ذکر کړه چې د دې باب څو معناوې دي: ګرځول، راجع کول، صرفول، خرچ کول.

تشريح: دا مسئله د شیخینو او د امام محمد رَحِمَهُمُ الله پر مخکینې اختلاف مبني ده، حاصل یې دا دی چې که څوک ووایي چې زما د مال ثلث د فلانکي (مثلاً د خالد) لپاره دی او د مساکینو لپاره دی، نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دا ثلث به دوې حصې کول کیږي، یوه به فلانکي (خالد) ته ورکول کیږي او بله حصه به مسکینانو ته ورکول کیږي: ځکه مخکې ذکر سوه چې د دوی په نیز د المساکین الف لام د جنس لپاره دی چې د هغه ادنیٰ واحد دی، نو ځکه د ثلث یوه حصه (نصف) به د مساکینو لپاره وي، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز ثلث به درې حصې کول کیږي چې یوه حصه به فلانکي (خالد) ته ورکول کیږي او دوې حصې مسکینانو ته؛ د هغه دلیل دا دی چې د میراث په جمع کې د جمع ادنیٰ (اقل فرد) دوه دي، نو ځکه د مساکینو لپاره به دوې حصې وي او یوه حصهٔ به د فلانکي (خالد) لپاره وي.

ولو أوصى إلخ: د دې حاصل دا دی چې که موصی یوازې د مساکینو لپاره د ثلث مال وصیت وکړي، نو څرنګه چې د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د المساکین ادنیٰ مقدار واحد دی. نو ځکه د دوی په نیز موصي ټوله ثلث یوه مسکین ته ورکولای سي، لېکن امام محمد رَحِمَهُ الله د المساکین ادنیٰ مقدار دوه دي (لکه څرنګه چې مخکې د دې وضاحت وسو)، نو ځکه موصي لره ضروري ده چې کم از کم دوو مسکینانو ته به دا مال ورکوي.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

قَالَ: وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِمِائَةِ دِرْهَمٍ فرمایي: او څوک چې د یو سړي لپاره د سلو درهمو وصیت وکړي وَلِآخَرَ بِمِائَةٍ او د بل سړي لپاره [هم] د سلو درهمو وصیت وکړي ثُمَّ قَالَ لِآخَرَ: قَدْ أَشْرَكْتُكَ مَعَهُمَا بیا موصي بل [دریم] سړي ته ووایي: چې ما ته د دوی دواړو سره شریک کړې! فَلَهُ ثُلُثُ

كُلِّ مِائَةٍ نو د هغه درېیم کس لپاره د هرو سلو درهمو ثلث دی لِأَنَّ الشَّرِكَةَ لِلْمُسَاوَاةِ لُغَةً ځکه شرکت په لغوي اعتبار سره د مساوات لپاره دی وَقَدْ أَمْكَنَ إِثْبَاتُهُ بَيْنَ الْكُلِّ بِمَا قُلْنَاهُ او د دوی ټولو [دریو] تر مینځ مساوات ثابتول په هغه طریقه سره ممکن دی کوم چې موږ ذکر کړې ده لِاتِّحَادِ الْمَالِ ځکه مال متحد [یو] دی لِأَنَّهُ يُصِيبُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ ثُلُثَا مِائَةٍ ځکه له دوی څخه هر یوه ته د سلو درهمو دوه ثلث رسیږي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَوْصَى لِرَجُلٍ بِأَرْبَعِمِائَةٍ په خلاف د هغه صورت کله چې موصي د یوه سړي لپاره د څلور سوو درهمو وصیت وکړي وَلِآخَرَ بِمِائَتَيْنِ او د بل سړي لپاره د دوو سوو درهمو وصیت وکړي ثُمَّ كَانَ الْإِشْرَاكُ بیا شریک کول واقع سي [یعني موصي د هغوی دواړو سره درېیم کس شریک کړي] لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ تَحْقِيقُ الْمُسَاوَاةِ بَيْنَ الْكُلِّ لِتَفَاوُتِ الْمَالَيْنِ ځکه [په دې صورت کي] د دواړو مالونو د توپیر په وجه د ټولو [دریو کسانو] تر مینځ مساوات ثابتول نا ممکن دي فَحَمَلْنَاهُ عَلَى مُسَاوَاتِهِ كُلَّ وَاحِدٍ بِتَنْصِيفِ نَصِيبِهِ نو ځکه موږ هغه درېیم کس پر مساوات حمل کړی د هر یوه د حصې په نیمایي کولو سره [یعني د نورو دوو کسانو د حصو په نیمولو سره موږ هغه درېیم کس پر مساوات محمول کړی] عَمَلًا بِاللَّفْظِ بِقَدْرِ الْإِمْكَانِ په عمل کولو سره په لفظ [د إشراك] باندي د امکان په اندازه [یعني چې حتی الامکان په لفظ د "أشركتك" باندي عمل وسي].

اللغات: ﴿أشرکت﴾ د افعال له بابه د واحد متکلم صیغه ده: شریک کول (شریکول). ﴿مساواة﴾ برابري. یو د بل سره برابرېدل. ﴿تفاوت﴾ فرق او توپیر. یو له بل څخه جلا کېدل.

تشریح: په دې عبارت کي دوې مسئلې ذکر سوي دي:

(۱)... که زید مثلاً د خالد لپاره د سلو درهمو وصیت وکړي، بیا د حامد لپاره هم د سلو درهمو وصیت وکړي، تر دې وروسته شاکر ته ووایي چې ما د خالد او حامد سره په وصیت کي ته هم شریک کړې!، نو په دې صورت کي دا درې سره کسان په دوه سوه درهمو کي شریک کیږي او هر یوه ته به د هرو سلو درهمو یو ثلث یا په بله وینا دوه ثلثه ورکول کیږي چې په دې توګه د هر یوه حصه تقریباً ۶۶ درهمه کیږي او د شریک (شاکر) حصه به له دې څخه نه کمول کیږي بلکي د نورو دواړو سره به برابرول کیږي: ځکه د شرکت لغوي معنیٰ ده "مساوات" او مال هم متحد دی. یعني د دواړو موصیٰ لهٗ لپاره د سلو سلو درهمو وصیت سوی دی. نو ځکه په دې مقدار کي به درې سره کسان شریکول کیږي.

(۲)... دویمه مسئله دا ده چي زید مثلاً د خالد لپاره د څلور سوه درهمو وصت وکړی او د حامد لپاره یې د دوه سوه درهمو وصیت وکړی، بیا یې شاکر ته وویل چې ما د دوی دواړو سره ته هم په وصیت کې شریک کړې، نو په دې صورت کې د دوی دریو تر مینځ برابري نه سي کېدلای؛ ځکه د خالد او حامد لپاره چې موصي د کوم مقدار وصیت کړی دی، هغه له یو بل څخه متفاوت دي، نو ځکه په دې صورت کي به د شریک (شاکر) پر مساوات عمل کیږي او هغه ته به د دواړو موصیٰ لهٔ (خالد او حامد) له حصو څخه نصف، نصف ورکول کیږي، نو شریک (شاکر) به د موصیٰ لهٔ بالأربع (خالد) څخه دوه سوه درهمه اخلي د دې لپاره چې د هغه سره شرکت او مساوات راسي او د موصیٰ لهٔ بمائتین (حامد) څخه به سل درهمه اخلي د دې لپاره چې د هغه سره مساوات او شرکت ثابت سي او د لفظ د "أَشْرَكْتُكَ" باندې حتی الامکان عمل وسي.

که څوک خپلو وارثانو ته ووايي چې د فلانکي پر ما قرض (باندې) دی نو تاسي د هغه تصديق وکړئ! (د مجهول اقرار حکم او تفصیل)

قَالَ: وَمَنْ قَالَ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ دَيْنٌ فرمايي: او څوک چي ووايي: د فلانکي په ما قرض باندې دی فَصَدِّقُوهُ نو تاسي د هغه تصديق وکړئ! مَعْنَاهُ قَالَ ذٰلِكَ لِوَرَثَتِهِ د دې معنیٰ دا ده چي هغه [موصي] دا خپلو وارثانو ته ووايي [چي تاسي د هغه تصديق وکړئ!] فَإِنَّهُ يُصَدَّقُ إِلَى الثُّلُثِ نو تر ثلث پوري به د هغه [فلانکي] تصديق کیږي وَهٰذَا اِسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَفِي الْقِيَاسِ لَا يُصَدَّقُ او په قياس کي به د هغه تصديق نه کیږي [يعني د قياس تقاضا دا ده چي د هغه فلانکي خبره به نه منل کیږي] لِأَنَّ الْإِقْرَارَ بِالْمَجْهُوْلِ وَإِنْ كَانَ صَحِيْحًا ځکه د مجهول اقرار که څه هم صحيح دی لٰكِنَّهُ لَا يُحْكَمُ بِهِ إِلَّا بِالْبَيَانِ لیکن له بیان [وضاحت کولو] څخه بغير پر مجهول اقرار حکم نه لګول کیږي وَقَوْلُهُ "فَصَدِّقُوْهُ" صَدَرَ مُخَالِفًا لِلشَّرْعِ او د هغه دا قول چي "تاسي د هغه تصديق وکړئ!" د شريعت مخالف صادر سوی دی لِأَنَّ الْمُدَّعِيَ لَا يُصَدَّقُ إِلَّا بِحُجَّةٍ ځکه چي له حجت څخه بغير د مدعي تصديق نه کیږي فَتَعَذَّرَ إِثْبَاتُهُ إِقْرَارًا مُطْلَقًا لهذا د مطلق اقرار په توګه د هغه [مجهول اقرار] ثابتول نا ممکن دي فَلَا يُعْتَبَرُ نو ځکه هغه به معتبر نه وي وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ أَنَّا نَعْلَمُ أَنَّ مِنْ قَصْدِهِ تَقْدِيْمَهُ عَلَى الْوَرَثَةِ د استحسان دليل دا دی چي موږ دا پېژنو چي د هغه [موصي] اراده پر وارثانو د

فلانکي[فلان] مخکي کول دي وَقَدْ أَمْكَنَ تَنْفِيْذُ قَصْدِهٖ بِطَرِيْقِ الْوَصِيَّةِ او د هغه دا اراده نافذول د وصيت په طريقه سره ممکن دي وَقَدْ يَحْتَاجُ إِلَيْهِ مَنْ يَعْلَمُ بِأَصْلِ الْحَقِّ عَلَيْهِ دُوْنَ مِقْدَارِهٖ او داسي مجهول اقرار ته هغه کس محتاجه کيږي کوم چي پر خپل ځان په اصل حق خبر وي. نه د هغه په مقدار [يعني په دي خو خبر وي چي په ما د فلانکي حق (قرض) باندي دی خو په مقدار يې خبر نه وي نو داسي کس مذکوره اقرار ته مجبوره وي] سَعْيًا مِنْهُ فِيْ تَفْرِيْغِ ذِمَّتِهٖ د خپلي ذمې [غاړې] په فارغولو کي له خپل طرفه په کوشش کولو سره [يعني هغه ځکه دې اقرار ته مجبوره وي چي هغه په دې سره د خپلي غاړي خلاصولو کوشش کوي] فَيَجْعَلُهَا وَصِيَّةً جُعِلَ التَّقْدِيْرُ فِيْهَا إِلَى الْمُوْصٰى لَهٗ نو ځکه هغه [موصي] دا داسي وصيت ګرځوي چي په هغه کي [د قرض] مقدار ټاکل موصیٰ لهٗ لره ګرځول سوي [سپارل سوي] وي [چي د قرض مقدار دي موصیٰ لهٗ (فلانکی) وټاکي؛ ځکه چي موصي د قرض په مقدار خبر نه وي] كَأَنَّهٗ قَالَ: إِذَا جَاءَكُمْ فُلَانٌ وَادَّعٰى شَيْئًا نو ګواکي موصي داسي وويل: چي کله تاسو ته فلانکی راسی او د څه شي دعویٰ وکړي فَأَعْطُوْهُ مِنْ مَالِيْ مَا شَاءَ نو زما له مال څخه هغه ته دومره ورکړئ! څومره چي هغه وغواړي وَهٰذِهٖ مُعْتَبَرَةٌ مِنَ الثُّلُثِ خو دغه وصيت له ثلث [دريبمي حصې] څخه معتبر دی فَلِهٰذَا يُصَدَّقُ عَلَى الثُّلُثِ دُوْنَ الزِّيَادَةِ په همدې وجه د فلانکي تصديق به صرف پر ثلث کيږي، نه پر زياتوب [يعني نه له ثلث څخه په زائد مقدار کي].

اللغات: ﴿دين﴾ قرض، پور. ﴿صدّقوه﴾ د تفعيل له بابه د جمع مذکر امر حاضر صيغه ده: تصديق کول. څوک په خپل قول کي رېښتونی ګڼل. ﴿حجّة﴾ دليل. ثبوت. ﴿قصد﴾ د ضرب د باب مصدر دی. له دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: اراده کول. توجه کول. ﴿تقديم﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مخکي کول. ﴿تنفيذ﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: نافذول او جاري کول. پوره کول. ﴿سعي﴾ د فتح له بابه مصدر دی: کوشش او هڅه کول. ﴿تفريغ﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: فارغول. خالي کول.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي که څوک خپلو وارثانو ته داسي ووايي چي د فلانکي (مثلاً خالد) په ما قرض باندي دی، لهذا کله چي هغه راسي او د قرض دعویٰ او مطالبه وکړي، نو د کوم مقدار چي هغه مطالبه وکړي، تاسي د هغه تصديق وکړئ! او هغومره مال ورکړئ!. اوس که هغه راسي او له

وارثانو څخه د قرض مطالبه وکړي. نو قیاس دا دی چي د هغه تصدیق به نه کیږي. لېکن استحسان دا دی چي تر ثلث المال پوري به د هغه تصدیق کیږي.

د قیاس دلیل دا دی چي دلته د قرض هیڅ مقدار نه دی بیان کړی سوی. نو هغه مجهول دی او د مجهول اقرار که څه هم صحیح دی. لېکن له وضاحت کولو څخه بغیر پر هغه هیڅ حکم نه لګول کیږي او په مذکوره مسئله کي موصي د مجهول مقدار له وضاحت کولو څخه بغیر مړ سوی دی. نو دا اقرار مجهول پاته سو. نو ځکه پر هغه به هیڅ حکم نه مرتب کیږي.

وقوله فصدقوه إلخ: یعني موصي چي کوم دا خبره کړې ده چي تاسي د هغه تصدیق وکړئ!. دا هم د مذکوره اقرار لپاره وضاحت او بیان نه سي کېدلای: ځکه د هغه صدور د شریعت خلاف دی: ځکه د شریعت قاعده دا ده چي کله مدعي دعویٰ وکړي نو له حجت او دلیل څخه بغیر به د هغه تصدیق نه کیږي. حال دا چي دلته موصي وایي چي بغیر له حجت څخه تاسي د هغه تصدیق وکړئ!. نو دا خلاف شرع دي. لهذا دا اقرار مطلق اقرار نه سو چي پر هغه د اقرار احکام جاري کړل سي. نو ځکه د قیاس تقاضا دا ده چي دا اقرار غیر معتبر دی او د فلانکي (خالد) تصدیق به بالکل نه کیږي. خو موږ قیاس پرېښوو‌ی او په استحسان مو عمل وکړی.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان د دلیل حاصل دا دی چي په مذکوره مسئله کي د موصي مقصد صرف دا دی چي موصي هغه فلانکی (خالد) تر وارثانو مخکي کول غواړي او موصي ته د دې پوره حق سته: ځکه هغه د خپل مال او جایداد مالک دی. لېکن څرنګه چي هغه د فلانکي د حق په مقدار نا خبره دی (ځکه کله نا کله همداسي پېښه سي چي یو څوک د حق او قرض په مقدار نا خبره وي چي په ما څو قرض باندي دی)، نو ځکه دې خبري ته ضرورت سو چي هغه داسي قسم وصیت وکړي چي په هغه سره د ده له غاړي څخه دا مجهول حق اداء سي او غاړه یې خلاصه سي، نو موصي دا پورتني قسم وصیت ته مجبوره دی چي فلانکی چي څومره مقدار وښیي، تاسي د هغه تصدیق وکړئ!. نو ځکه موږ د ضرورت او مجبورۍ پر بناء استحساناً دا وصیت معتبر وګرځوی. او د موصي د قول حاصل دا سو چي کله تاسو ته فلانکی راسي او پر ما د خپل مال دعویٰ وکړي نو هغه چي څومره مال وغواړي. هغه زما له مال څخه ورکړئ!. نو دا داسي وصیت دی چي په هغه کي د موصیٰ به (حق) د مقدار بیانولو اختیار خپله موصیٰ لهٗ ته ورکړی دی، او د هغه سره دا شرط هم لګول سوی دی چي د موصیٰ لهٗ قول صرف تر ثلث المال پوري معتبر دی او پر ثلث به زیاتوب نه کوي، دا ځکه شرط دي چي تر ثلث زائد مقدار د وارثانو دی او په هغه کي د بل چا هیڅ حق نسته.

که موصي د مجهول اقرار سره نور وصيتونه هم وکړي نو د وارثانو او نورو وصيتو والا (اصحاب الوصايا) تر مينځ به څنګه تقسيم کيږي؟

قَالَ : وَإِنْ أَوْصٰى بِوَصَايَا غَيْرِ ذٰلِكَ فرمايي : او که موصي له هغه شخصه بغير نور وصيتونه وکړي يُعْزَلُ الثُّلُثُ لِأَصْحَابِ الْوَصَايَا نو د وصيتو والا وو لپاره به ثلث جلا کول کيږي وَالثُّلُثَانِ لِلْوَرَثَةِ او د وارثانو لپاره دوه ثلثه لِأَنَّ مِيرَاثَهُمْ مَعْلُوْمٌ ځکه چي د وارثانو ميراث معلوم دی وَكَذَا الْوَصَايَا مَعْلُوْمَةٌ همدارنګه وصيتونه هم معلوم دي وَهٰذَا مَجْهُوْلٌ او دا مجهول حق دی فَلَا يُزَاحِمُ الْمَعْلُوْمَ نو هغه به د معلوم حق نه مزاحم کيږي [ځکه مجهول د معلوم نه سي مزاحم کېدلای] فَيُقَدَّمُ عَزْلُ الْمَعْلُوْمِ نو ځکه د معلوم حق جلا کول به مخکي کول کيږي.

اللغات : ﴿وصايا﴾ جمع وَصِيَّةٌ : وصيتونه. ﴿يعزل﴾ د ضرب له بابه مضارع مجهوله ده. د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده : جلا کول (بېلول)، عليحده کول. ﴿لا يزاحم﴾ د مفاعلې له بابه د نفي صيغه ده : مقابل کېدل.

تشريح : د عبارت حاصل دا دی چي که موصي د فلانکي (خالد) لپاره مجهول اقرار وکړي او له هغه شخصه بغير موصي د نورو خلکو لپاره وصيتونه هم کړي وي، نو په دې صورت کي به د هغه له ميراث څخه تر ټولو مخکي اصحاب الوصايا يعني له فلانکي (خالد) شخصه بغير د هغه نورو خلکو (موصیٰ لهم) لپاره ثلث جلا کول کيږي او پاته دوه ثلثه به د وارثانو لپاره جلا کول کيږي. ځکه د وارثانو حق هم معلوم دی او د موصیٰ لهم حق هم معلوم دی، حال دا چي د فلانکي (خالد) حق مجهول دی او مجهول حق د معلوم حق مزاحم او مقابل نه سي کېدلای. نو ځکه اول به دا کار کيږي چي د اصحاب الوصايا لپاره به ثلث جلا کول کيږي او د وارثانو لپاره دوه ثلثه جلا کول کيږي چي دا معلوم حق خپلو مستحقينو ته ورسيږي.

د اصحابُ الوصايا د ثلث جلا کولو فايده

وَفِي الْإِفْرَازِ فَائِدَةٌ أُخْرٰى او په جلا کولو کي بله فايده [هم] سته وَهُوَ أَنَّ أَحَدَ الْفَرِيْقَيْنِ قَدْ يَكُوْنُ أَعْلَمَ بِمِقْدَارِ هٰذَا الْحَقِّ وَأَبْصَرَ بِهِ او هغه دا چي يو فريق [يعني وارثان يا اصحاب الوصايا] ځيني وخت د دې حق [قرض] په مقدار زيات خبر او زيات پوهېدونکی وي وَالْآخَرُ أَلَدُّ خِصَامًا او بل فريق ډېر

خصومت [او اختلاف] کونکی وي وَعَسَاهُمْ يَخْتَلِفُونَ فِي الْفَضْلِ إِذَا ادَّعَاهُ الْخَصْمُ او کېدای سي چي هغوی [دواړه فریقه] د زائد مقدار په هکله اختلاف وکړي کله چي مدعي [قرض والا] د زائد مقدار دعویٰ وکړي وَبَعْدَ الْإِفْرَازِ يَصِحُّ إِقْرَارُ كُلِّ وَاحِدٍ فِيمَا فِي يَدِهِ مِنْ غَيْرِ مُنَازَعَةٍ او له جلا کولو څخه وروسته د هر فریق اقرار بغیر له نزاع [او جنګ] څخه د هغه مقدار په حق کي صحیح کیږي کوم چي د هغه په قبضه کي دی.

اللغات: ﴿إفراز﴾ د افعال د باب مصدر دی: جلا کول. د یو چا له مال څخه د بل چا مال جلا کول (علیحده کول)، ﴿أبصر﴾ د کرُم او سمع له بابه د اسمِ تفضیل صیغه ده: زیات لیدونکی. زیات پوهېدونکی، ﴿خصام﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: خصومت او جګړه کول. ﴿فضل﴾ د کرُم د باب مصدر دی: زیاتوب. اضافه. زائد مقدار.

تشریح: یعني په پورتنی مسئله کي خو یو د معلوم حق او مجهول حق تقاضا هم دا وه چي معلوم دي جلا کړی سي ځکه چي مجهول د معلوم مزاحم کېدلای نه سي، او د دې سره. سره په دغه جلا کولو بله فایده هم سته او هغه دا چي کېدلای سي له وارثانو او اصحاب الوصایا څخه یو فریق د فلانکي (خالد) په حق زیات خبر وي او دویم فریق هسي اختلاف او جنجال کوي او قصداً د هغه حق کموي مثلاً کله چي فلانکی (خالد) راسي او دعویٰ وکړي چي زما حق (قرض) نهه زره روپۍ دی. نو یو فریق به وایي چي هو! رشتیا وایي همدومره دی. او دویم فریق به وایي چي درواغ وایي د هغه حق خو ګردسره څلور زره روپۍ دی. یا په لنډه وینا دا چي ځیني وخت داسي کیږي چي کله مدعي (خالد) د زیات قرض دعویٰ وکړي نو یو فریق د هغه تصدیق وکړي او بل فریق د هغه تکذیب وکړي او په دې هکله جنګ وجنجال پېښ سي، نو له دې څخه د بچ کېدلو لپاره د هر فریق حصه جلا کول مفید دي او په جلا کولو کي دا فایده ده چي بیا دا صورت نه سي پېښېدلای.

ځکه کله چي د هر فریق (وارثان او اصحاب الوصایا) حصه ور جلا کړل سي نو هر یو به په خپل تصدیق او اقرار کي مأخوذ وي او هیڅ د جنګ و جنجال صورت به نه پېښیږي یعني کله چي حصه جلا کړل سي نو بیا که هر فریق اقرار وکړي یا انکار وکړي، دا به د هغه په خپل مال کي وي او بل فریق به د هغه سره جنګ وجنجال نه کوي.

تر دې وروسته به کومه طریقه اختیارول کیږي، هغه مصنف رَحِمَهُ الله په را روان عبارت کي پېش کړې ده.

هر فريق (اصحاب الوصايا او وارثان) د خپل اقرار مطابق مأخوذ كيږي

وَإِذَا عُزِلَ او كله چي [د اصحاب الوصايا لپاره ثلث او د وارثانو لپاره دوه ثلثه] جلا كړل سي يُقَالُ لِأَصْحَابِ الْوَصَايَا نو وصيتونو والا ته به ويل كيږي صَدِّقُوهُ فِيمَا شِئْتُمْ چي تاسي د هغه [مدعي] تصديق وكړئ! په كوم مقدار كي چي تاسي وغواړئ وَيُقَالُ لِلْوَرَثَةِ او وارثانو ته به ويل كيږي صَدِّقُوهُ فِيمَا شِئْتُمْ چي تاسي د هغه تصديق وكړئ! په كوم مقدار كي چي تاسي وغواړئ لِأَنَّ هٰذَا دَيْنٌ فِي حَقِّ الْمُسْتَحِقِّ وَصِيَّةٌ فِي حَقِّ التَّنْفِيذِ ځكه چي دا د مستحق په حق كي قرض دى [او] د نافذولو په حق كي وصيت دى فَإِذَا أَقَرَّ كُلُّ فَرِيقٍ بِشَيْءٍ نو كله چي هر فريق د يو مقدار اقرار وكړى ظَهَرَ أَنَّ فِي التَّرِكَةِ دَيْنًا شَائِعًا فِي النَّصِيبَيْنِ نو دا خبره ښكاره سوه چي په ميراث كي شايع قرض دى په دواړو حصو كي [يعني داسي قرض كوم چي په دواړو حصو كي شايع او خپور دى] فَيُؤْخَذُ أَصْحَابُ الثُّلُثِ بِثُلُثِ مَا أَقَرُّوا نو ځكه اصحابُ الثلث [اصحاب الوصايا] به د خپل اقرار په ثلث سره مأخوذ كيږي وَالْوَرَثَةُ بِثُلُثَيْ مَا أَقَرُّوا او وارثان به د خپل اقرار په دوو ثلثو سره مأخوذ كيږي تَنْفِيذًا لِإِقْرَارِ كُلِّ فَرِيقٍ فِي قَدْرِ حَقِّهِ د هر فريق د اقرار په نافذولو سره د هغه د حق په مقدار كي [يعني چي د هر فريق د خپل حق په مقدار كي اقرار نافذ كړى سي] وَعَلَىٰ كُلِّ فَرِيقٍ مِنْهُمَا الْيَمِينُ عَلَى الْعِلْمِ او له دي دواړو څخه پر هر فريق پر علم [خبر] قسم اخيستل لازم دي إِنِ ادَّعَى الْمُقَرُّ لَهُ زِيَادَةً عَلَىٰ ذٰلِكَ كه چيري مقرلهٗ له هغه اقرار څخه د زيات مقدار دعوىٰ وكړي لِأَنَّهُ يُحَلَّفُ عَلَىٰ مَا جَرَىٰ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غَيْرِهِ ځكه [دلته] له هر فريق څخه پر هغه [فعل] قسم اخيستل كيږي. كوم چي د هغه او بل فريق په مينځ كي جاري سوى دى.

اللغات: ﴿عزل﴾ د ضرب د باب ماضي مجهوله ده. د دې باب له معناوو څخه يوه معنى ده: جلا كول (بېلول). عليحده كول. ﴿تنفيذ﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: نافول او جاري كول. پوره ول. ﴿شائع﴾ د ضرب د باب اسم فاعل دى: منتشر. خپور.

تشريح: **صورت د مسئلي:** دا دى چي كله د هر فريق حصه جلا كړل سي (يعني اصحاب الوصايا ته يو ثلث او وارثانو ته دوه ثلثه وركول سي)، نو هر فريق ته به حكم كيږي چي په كوم مقدا. كي ستاسي

خوښه وي!. د مدعي (خالد) تصدیق او اقرار وکړئ!. او تر تصدیق به وروسته هر فریق د خپل تصدیق او اقرار مطابق مأخوذ کیږي او یو فریق د بل فریق د تصدیق په وجه نه مأخوذ کیږي. لهذا له اصحاب الوصایا څخه به د دوی د اقرار ثلث اخیستل کیږي او له وارثانو څخه به د دوی د اقرار دوه ثلثه اخیستل کیږي. مثلاً که اصحابُ الوصایا او وارثانو دا اقرار وکړي چې د خالد حق نهه زره روپۍ دی. نو دري زره به اصحابُ الوصایا ورکوي او شپږ زره به وارثان کوي. او که د هر یوه اقرار یو له بل څخه جلا وي (مثلاً اصحابُ الوصایا د نهه زرو اقرار وکړي او وارثان د شپږو زرو) نو هر فریق به د خپل اقرار مطابق مأخوذ کیږي (یعني په مذکوره مثال کې به اصحاب الوصایه نهه زره ورکوي او وارثان څلور زره؛ ځکه د شپږو زرو دوه ثلثه څلور زره کیږي).

سوال: په مخکنۍ مسئله کې (د استحسان په دلیل کې) تاسو وویل چې (د موصي) دغه اقرار وصیت دی او تاسو هغه وصیت ګرځولی دی او د وصیت په نامه مو نافذ کړی دی. نو د هغه د وصیت کېدلو تقاضا خو دا ده چې صرف اصحابُ الوصایا ته د تصدیق او اقرار کولو حکم وسي او صرف له هغو څخه د مدعي (خالد) حق واخیستل سي. لهذا دلته وارثان مأخوذ کول او په هغو هم تصدیق کول او دوه ثلثه ځنې اخیستل به څنګه صحیح وي!، حال دا چې دا اقرار قرض نه دی بلکې وصیت دی؟.

جواب: موږ دا ځکه وصیت ګرځولی دی چې د هغه د نافذولو لاره هواره سي. کنې په حقیقت کې دا قرض دی؛ ځکه مدعي (خالد) دې ته وصیت نه دی ویلی بلکې هغه دې ته خپل قرض ویلی دی. لېکن څرنګه چې دا د وصیت سره مشابه دی، نو ځکه موږ وویل چې دا به فقط په ثلث کې نافذول کیږي، نه تر ثلث په زائد مقدار کې؛ او څرنګه چې دا د قرض سره هم مشابه دی. نو ځکه موږ هغه په ټوله میراث کې شائع ګرځوو او محض هغه وصیت نه ګرځوو چې صرف اصحاب الوصایا مأخوذ کړل سي. نو ځکه موږ وویل چې وارثانو ته به هم د تصدیق حکم کیږي او تر کوم مقداره پوري چې دوی تصدیق وکړي، د هغه دوه ثلثه به له دوی څخه اخیستل کیږي.

د دې اشکال جواب مصنف رَحِمَهُ الله په خپل دې عبارت سره ورکړی دی "لأن هٰذا دينٌ في حق المستحق...إلخ".

<u>وعلى كل فريق منهم إلخ</u>: د دې حاصل دا دی چې که د مدعي دعویٰ د دواړو فریقو د اقرار له مقدار څخه زیاته وي مثلاً د مدعي (خالد) دعویٰ دا وي چې زما حق نولس زره (۱۹۰۰۰) روپۍ دی او دواړه فریقه د نهه زرو (۹۰۰۰) اقرار کوي، نو په دې صورت کې به له دواړو فریقو (اصحاب الوصایا او وارثانو) څخه قسم اخیستل کیږي او دوی به داسې قسم اخلي چې موږ د کوم مقدار اقرار کړی دی په الله قسم! له هغه څخه د زیات مقدار علم او خبر موږ ته نسته. یعني د دوی قسم به پر علم او خبر وي. پر

یقین یعني قطعي قسم به نه وي چي په الله قسم ! د مدعي حق بالکل تر دې زیات نه دی: ځکه اصول دا دی چي پر خپل فعل چي کوم قسم اخیستل کیږي هغه قطعي او یقیني وي او د بل چا پر فعل چي کوم قسم اخیستل کیږي هغه علی العلم وي، قطعي نه وي.

یادونه: له اصحاب الثلث څخه مراد اصحابُ الوصایا دي. او په "عیني" کي کاتب خطاءً د اصحابُ الثلث سره رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ لیکلي دي، کېدای سي هلته کاتب پر اصحاب الثلث د خلفاء ثلاثه وو گومان کړی دی چي دومره خطاو تللی دی.

د خپل وارث او اجنبي یا د ژوندي او مړه یا د قاتل او اجنبي لپاره د وصیت کولو حکم

قَالَ: وَمَنْ أَوْصَىٰ لِأَجْنَبِيٍّ وَلِوَارِثِهِ فرمایي: او څوک چي د اجنبي او خپل وارث لپاره وصیت وکړي فَلِلْأَجْنَبِيِّ نِصْفُ الْوَصِيَّةِ نو د اجنبي لپاره د وصیت [موصیٰ به] نیمه حصه ده وَتَبْطُلُ وَصِيَّةُ الْوَارِثِ او د وارث وصیت باطلیږي لِأَنَّهُ أَوْصَىٰ بِمَا يَمْلِكُ الْإِيصَاءَ بِهِ وَبِمَا لَا يَمْلِكُ ځکه چي موصي د هغه شي وصیت کړی دی چي موصي د هغه د وصیت کولو ملکیت [اختیار] لري او د هغه شي [هم] چي د هغه د وصیت کولو ملکیت نه لري فَصَحَّ فِي الْأَوَّلِ وَبَطَلَ فِي الثَّانِي نو ځکه د هغه وصیت په اول کي صحیح دی او په دویم کي باطل دی بِخِلَافِ مَا إِذَا أَوْصَىٰ لِحَيٍّ وَمَيِّتٍ په خلاف د هغه صورت کله چي موصي د ژوندي او مړي لپاره وصیت وکړي لِأَنَّ الْمَيِّتَ لَيْسَ بِأَهْلٍ لِلْوَصِيَّةِ ځکه چي مړی د وصیت اهل نه دی فَلَا يَصْلُحُ مُزَاحِمًا لهذا مړی [د ژوندي لپاره] د مزاحم جوړېدلو صلاحیت نه لري [یعني هغه د ژوندي مقابل کېدلای نه سي] فَيَكُونُ الْكُلُّ لِلْحَيِّ نو ځکه ټوله وصیت به د ژوندي لپاره سي وَالْوَارِثُ مِنْ أَهْلِهَا او وارث د وصیت اهل دی وَلِهَذَا تَصِحُّ بِإِجَازَةِ الْوَرَثَةِ نو ځکه دا وصیت د وارثانو په اجازه سره صحیح کیږي فَافْتَرَقَا نو دا دواړه [یعني د اجنبي او وارث لپاره وصیت] یو له بل څخه جلا سوه وَعَلَىٰ هَٰذَا إِذَا أَوْصَىٰ لِلْقَاتِلِ وَلِلْأَجْنَبِيِّ او پر همدې [حکم] دي کله چي موصي د قاتل او اجنبي لپاره وصیت وکړي.

اللغات: ﴿إیصاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: وصیت کول. ﴿مزاحم﴾ د مفاعلې د باب فاعل دی: مقابل. ﴿افترقا﴾ د افتعال له بابه د تثنیه غائب ماضي صیغه ده: یو له بله جلا کېدل (فرق او توپیر پکښي راتلل).

تشریح : صورت د مسئلې : دا دی که څوک د اجنبي او وارث دواړو لپاره د مال وصیت وکړي (چې مثلاً زما له مال څخه دي دومره مال فلانکي سړي ته او زما فلانکي ځوی ته ورکول سي). نو د اجنبي په حق کې وصیت جائز دی او د وارث په حق کي وصیت باطل دی؛ ځکه موصي صرف د اجنبي لپاره د وصیت کولو ملکیت (اختیار) لري او د وارث لپاره د وصیت کولو ملکیت نه لري (د نورو وارثانو د حق په وجه). نو ځکه د اجنبي په حق کي وصیت صحیح دی او د وارث په حق کي صحیح نه دی. او اجنبي ته به نصف موصیٰ بهٖ ور کول کیږي (یعني د څومره مال وصیت چې سوی دی د هغه نیمه حصه به ور کول کیږي).

د دې په خلاف که موصي د ژوندي کس او د مړه کس لپاره وصیت وکړي (چې زما له مال څخه دي فلانکي او فلانکي ته دومره مال ور کول سي حال دا چې یو فلانکی مړ دی). نو په دې صورت کي به ژوندي کس ته ټوله موصیٰ بهٖ ورکول کیږي؛ ځکه مړی بالکل د وصیت اهل نه دی. لهذا هغه د ژوندي کس مزاحم کېدلای نه سي او د مزاحمت د نشتوالي په صورت کي موصیٰ لهٗ ته ټوله موصیٰ بهٖ حاصلیږي.

لېکن که د اجنبي او وارث لپاره د وصیت کولو په صورت کي نور وارثان د هغه وارث لپاره د وصیت اجازه ورکړي. نو د هغه په حق کي وصیت صحیح کیږي او همدا د مړي او وارث په مینځ کي وجه د فرق ده.

همدارنګه که څوک د اجنبي او قاتل لپاره وصیت وکړي. نو په دې صورت کي هم د قاتل په حق کي وصیت باطل دی او اجنبي ته به د موصیٰ بهٖ نصف ورکول کیږي.

د خپل وارث او اجنبي لپاره د قرض یا د یو شي د اقرار کولو حکم

وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا إِذَا أَقَرَّ بِعَيْنٍ أَوْ دَيْنٍ لِوَارِثِهٖ وَلِلْأَجْنَبِيِّ او دا [د خپل وارث او اجنبي لپاره وصیت کول] د هغه صورت په خلاف دي کله چي موصي د خپل وارث او اجنبي لپاره د یو عین شي یا قرض اقرار وکړي حَيْثُ لَا يَصِحُّ فِيْ حَقِّ الْأَجْنَبِيِّ أَيْضًا نو دا اقرار د اجنبي په حق کي هم نه صحیح کیږي لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ إِنْشَاءُ تَصَرُّفٍ ځکه چي وصیت د تصرف انشاء ده وَالشِّرْكَةُ تَثْبُتُ حُكْمًا لَهٗ او شرکت د انشاء لپاره د حکم په توګه ثابتیږي فَتَصِحُّ فِيْ حَقِّ مَنْ يَسْتَحِقُّهٗ مِنْهُمَا نو ځکه وصیت به صحیح کیږي له دوی دواړو څخه د هغه کس په حق کي کوم چي د وصیت مستحق دی [یعني اجنبي] وَأَمَّا الْإِقْرَارُ فَإِخْبَارٌ عَنْ كَائِنٍ او پاته سو اقرار نو هغه د تېر سوي امر [مخکي واقع سوي څه] په هکله خبر ورکول دي وَقَدْ أَخْبَرَ بِوَصْفِ الشِّرْكَةِ فِي الْمَاضِيْ حال دا چي مُقِر [اقرار کونکي] په تېر وخت کي د شرکت د وصف خبر ورکړی دی وَلَا وَجْهَ إِلٰى إِثْبَاتِهٖ بِدُوْنِ هٰذَا الْوَصْفِ او له دغه وصف شرکت

څخه بغیر د دې اقرار ثابتولو لره هیڅ صورت نسته لِأَنَّهُ خِلَافُ مَا أَخْبَرَ بِهِ ځکه دا د هغه خبر خلاف دي د کوم چې مُقِر [مخکي] خبر ورکړی دی وَلَا إِلَى إِثْبَاتِ الْوَصْفِ او نه د دې وصف ثابتولو لره هیڅ صورت سته لِأَنَّهُ يَصِيرُ الْوَارِثُ فِيهِ شَرِيكًا ځکه چې په هغه کي به وارث شریک وګرځي وَلِأَنَّهُ لَوْ قَبَضَ الْأَجْنَبِيُّ شَيْئًا او ځکه چې که اجنبي پر یو شي قبضه وکړي كَانَ لِلْوَارِثِ أَنْ يُشَارِكَهُ نو وارث لره به دا حق وي چې په هغه کي د اجنبي سره شریک سي فَيَبْطُلُ فِي ذَلِكَ الْقَدْرِ نو په هغه مقدار کي به قبضه باطله سي ثُمَّ لَا يَزَالُ يَقْبِضُ وَيُشَارِكُهُ الْوَارِثُ بیا چې اجنبي هر کله قبضه کوي او اورث به د هغه سره شریک کیږي حَتَّى يَبْطُلَ الْكُلُّ تر دې چې ټوله اقرار به باطل سي فَلَا يَكُونُ مُفِيدًا نو ځکه دا اقرار به مفید نه وي وَفِي الْإِنْشَاءِ حِصَّةُ أَحَدِهِمَا مُمْتَازَةٌ عَنْ حِصَّةِ الْآخَرِ بَقَاءً وَبُطْلَانًا او په انشاء [یعني په وصیت] کي له دوی څخه د هر یوه حصه د بل یوه له حصې څخه جلا ده د بقاء او بطلان دواړو په اعتبار سره [د بقاء په اعتبار سره د اجنبي په حق کي او د بطلان په اعتبار سره د وارثانو په حق کي].

اللغات: ﴿عین﴾ د دې لفظ ډیري معناوي دي چې له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: عین شی، معین شی. یعني کوم شی چې موجود وي او په لاس سره مسه کېدلای سي او خوندي کېدلای سي، لکه څمکه، آس او داسي نور. ﴿إنشاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: په وجود کي راوستل، پیدا کول، ایجادول (خلقول)، ابتداء کول. ﴿إنشاء تصرّف﴾ یو عقد چې تر اوسه سوی نه وي او مخکي موجود نه وي. په وجود کي د هغه راوستلو او د هغه ثابتولو ته "انشاء تصرف" وایي. ﴿كائن﴾ له "كَانَ. يَكُوْنُ" څخه د اسم فاعل صیغه ده: کوم چې سوی وي، کېدونکی. ﴿قدر﴾ مقدار. ﴿ممتازة﴾ د افتعال له بابه واحد مؤنث مفعول دی: جلا او بېل، علیحده.

تشریح: مخکي ذکر سوه چې که څوک د اجنبي (پردي کس) لپاره او د خپل وارث لپاره د مال وصیت وکړي. نو دا وصیت د اجنبي په حق کي صحیح دی که څه هم د وارث په حق کي دا وصیت باطل دی. لېکن که څوک د اجنبي لپاره او د خپل وارث لپاره د یو عین شي (مثلاً د آس) اقرار وکړي یا د قرض اقرار وکړي. نو دا اقرار مطلقاً باطل دی. یعني نه د وارث لپاره صحیح دی او نه د اجنبي لپاره. معلومه سوه چې په وصیت او اقرار کي فرق دی.

او هغه فرق دا دی چې وصیت د یو نوي تصرف انشاء ده کوم چې مخکې نه وو او په وصیت کې چې کوم شرکت کیږي، هغه اصلاً نه کیږي، بلکې د انشاء تصرف لپاره د حکم په توګه ثابتیږي (یا په بله وینا دا چې په وصیت کې شرکت اصالتا نه ثابتیږي. بلکې هغه د انشاء او نوي تصرف حکم جوړیږي او په وصیت کې ثابتیږي). نو په وصیت کې چې چیري تصرف نه صحیح کیږي، هلته شرکت هم نه صحیح کیږي، او څرنګه چې د خپل وارث لپاره د موصي وصیت صحیح نه دی. نو ځکه هلته شرکت هم نه صحیح کیږي او کله چې شرکت نه صحیح کیږي، نو یوازي اجنبي پاته سو چې هغه ته به نصف موصیٰ بهٖ ور کول کیږي (لکه مخکې چې ذکر سوه)؛ ځکه د اجنبي په حق کې وصیت جائز او صحیح دي. همدا بیان صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په دې الفاظو "فتصح في حق من يستحقه إلخ" سره کړی دی.

او پاته سو اقرار. نو په هغه کې که د مُقر (اقرار کونکي) له طرفه د شرکت وضاحت وکړی سي. نو په نفسِ اقرار کې شرکت ثابتیږي او اصلاً واقع کیږي؛ ځکه اقرار په تېر سوي وخت کې د یو کار او د یو شي خبر ورکولو ته وایي او کله چې په ماضي کې په اقرار کې اشتراک وي. نو په حال کې به هم هغه اقرار مشترک پاتیږي، او که چیري په حال کې اقرار د شرکت له وصف څخه خالي کړی سي، نو دا به د مقر د اقرار او د هغه د خبر خلاف وي، او که په اقرار کې شرکت باقي وساتل سي نو دا هم صحیح نه ده؛ ځکه د وصیت په څېر د وارث لپاره اقرار هم صحیح نه دی او په دې صورت کې یوه خرابي دا لازمیږي چې اجنبي هر کله پر یو شي قبضه وکړي نو د اقرار د مشترک کېدلو په وجه وارث د هغه شریک کیږي او اقرار باطلیږي او تر څو چې له سره اقرار د دواړو په حق کې باطل نه وګرځوو، تر هغه وخته دا خرابي لازمیږي، نو ځکه په مذکوره مسئله کې مورږ د وارث او اجنبي دواړو په حق کې اقرار باطل ګرځولی دی. د دې په خلاف په انشاء تصرف یعني په وصیت کې شرکت په اصل او حقیقت کې داخل نه دی او په هغه کې د اجنبي او وارث هر یوه حصه له بل یوه څخه جلا او بېله ده، لهذا د یوه یعني د وارث د حصې باطلېدل د بل یوه یعني د اجنبي د حصې باطلېدلو لره مستلزم نه دي. نو ځکه د اجنبي په حق کې وصیت صحیح دی او هغه ته به خپل نصف موصیٰ بهٖ ور کول کیږي.

د دريو داسي کپړو (ټانو) د وصيت حکم چي له هغوی څخه يو غوره، يو مينځوی او بل ردي وي

قَالَ: وَمَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثَةُ أَثْوَابٍ فرمايي: او د چا لپاره چي دري کپړې وي جَيِّدٌ وَوَسَطٌ وَرَدِيٌّ يوه ښه او بله مينځوی او بله بده [کمزوري] کپړه فَأَوْصَى بِكُلِّ وَاحِدٍ لِرَجُلٍ بيا هغه د هري کپړې وصيت د يوه. يوه سړي لپاره وکړي فَضَاعَ ثَوْبٌ بيا يوه کپړه ضايع سي وَلَا يُدْرَى أَيُّهَا هُوَ او دا معلومه نه کړی سي چي هغه [ضايع سوې کپړه] له هغوی څخه کومه يوه ده [يعني دا معلومه نه سي چي جيد. که وسط او که ردي کپړه ضايع سوې ده] وَالْوَرَثَةُ تَجْحَدُ ذٰلِكَ او وارثان د دې انکار کوي فَالْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌ نو وصيت باطل دی وَمَعْنَى جُحُوْدِهِمْ أَنْ يَقُوْلَ الْوَارِثُ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ بِعَيْنِهِ او د وارثانو د انکار کولو معنیٰ دا ده چي وارث له دوی [دريو کسانو] څخه هر يوه ته بعينه داسي ووايي الثَّوْبُ الَّذِيْ هُوَ حَقُّكَ قَدْ هَلَكَ چي هغه کپړه کوم چي ستا حق وه هغه هلاکه سوه فَكَانَ الْمُسْتَحِقُّ مَجْهُوْلًا نو مستحق [موصیٰ لهٗ] به مجهول وي وَجَهَالَتُهٗ تَمْنَعُ صِحَّةَ الْقَضَاءِ وَتَحْصِيْلَ الْمَقْصُوْدِ او د مستحق مجهول کېدل د قضاء صحت او د مقصود حاصلول منع کوي فَبَطَلَ نو ځکه دا وصيت به باطليږي.

اللغات: ﴿أثواب﴾ جمع د ثَوْبٌ ده: کپړه. ټوکر (مجازاً ټان ته هم ويل کيږي. لکه مخکي چي په اوله هدايه کي ذکر سوه. دلته کپړه او ټان دواړه مراد کېدلای سي). ﴿جيّد﴾ ښه. ﴿رديء﴾ او ردي: بد. خراب. کمي درجې والا.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي ديو سړي مثلاً د زيد سره د کپړې دري ټانونه دي. له هغوی څخه يوه غوره او شانداره ټان دی چي د هغه قيمت دوه زره روپۍ دي او بل مينځوی ټاوان دیٰ چي هغه نه ډېر ښه دی او نه خراب دیٰ او قيمت يې زر روپۍ دی او بل کمزوری ټان دی چي د هغه قيمت پنځه سوه روپۍ دي. او مالک (زيد) د دريو کسانو لپاره د هغه دريو ټانو وصيت وکړی. مثلاً د ښه ټان وصيت يې د خالد لپاره او د مينځوي ټان د حامد لپاره او د کمزوري ټان وصيت يې د شاکر لپاره وکړی. تر دې وروسته له هغه ټانو څخه يوه ټان ضايع سو لېکن دا معلومه نه کړی سوه چي کوم ټان ضايع سوی دی يعني هغه ضايع سوی ټان جيد او ښه ټان وو. که مينځوی او که خراب ټان وو. او د موصي (زيد) وارثانو دې دريو کسانو (موصیٰ لهم) ته وويل يعني هر يوه ته يې جلا جلا وويل چي ستا کوم حق وو. هغه ضايع او هلاک سو. نو څرنګه چي په دې صورت کي مستحق مجهول دی او دا

معلومه نه ده چې کوم تان ضايع سوی دی، او کله چې مستحق مجهول دی، نو ځکه قاضي هم هيڅ فيصله نه سي کولای او نه په هغه سره د موصي (زيد) مقصد حاصلېدلای سي، نو ځکه وصيت به باطل گرځول کيږي، له دې څخه علاوه بله چاره نسته.

د مذکوره وصيت له باطلېدلو څخه د بچ کېدلو طريقه

قَالَ: إِلَّا أَنْ يُسَلِّمَ الْوَرَثَةُ الثَّوْبَيْنِ الْبَاقِيَيْنِ فرمايي: مگر دا چې وارثان باقي دواړه کپړې [تانونه] ور وسپاري فَإِنْ سَلَّمُوا نو که وارثان يې ورسپاري زَالَ الْمَانِعُ نو مانع زائل سو وَهُوَ الْجُحُودُ او مانع [د وارثانو] انکار کول وو فَيَكُونُ لِصَاحِبِ الْجَيِّدِ ثُلُثَا الثَّوْبِ الْأَجْوَدِ نو بنه کپړې [جيد تان] والا لپاره به د بنه کپړې دوه ثلثه وي وَلِصَاحِبِ الْأَوْسَطِ ثُلُثُ الْجَيِّدِ وَثُلُثُ الْأَدْوَنِ او د مينځوی کپړې والا لپاره به د بنه کپړې يو ثلث او د ادنیٰ [ردي] کپړې يو ثلث وي وَلِصَاحِبِ الْأَدْوَنِ ثُلُثَا الثَّوْبِ الْأَدْوَنِ او د ادنیٰ [ردي] کپړې والا لپاره به د ادنیٰ [ردي] کپړې دوه ثلثه وي لِأَنَّ صَاحِبَ الْجَيِّدِ لَا حَقَّ لَهُ فِي الرَّدِيْءِ بِيَقِيْنٍ ځکه په ردي کپړه کې په يقيني توگه د صاحب جيّد هيڅ حق نسته لِأَنَّهُ إِمَّا أَنْ يَكُوْنَ وَسَطًا أَوْ رَدِيْئًا ځکه چې هغه ردي کپړه به يا مينځوی کپړه وي يا به [واقعتا] ردي وي وَلَا حَقَّ لَهُ فِيْهِمَا او صاحب جيد لره په دې دواړو کې حق نسته [ځکه چې د هغه صرف په جيد تان کې دی] وَصَاحِبُ الرَّدِيْءِ لَا حَقَّ لَهُ فِي الْجَيِّدِ الْبَاقِيْ بِيَقِيْنٍ او د بدې کپړې والا لره په باقي جيّده کپړه [تان] کې په يقيني توگه هيڅ حق نسته لِأَنَّهُ إِمَّا أَنْ يَكُوْنَ جَيِّدًا أَوْ وَسَطًا ځکه چې هغه به يا [واقعتا] جيّده کپړه وي يا به مينځوی وي وَلَا حَقَّ لَهُ فِيْهِمَا او صاحب ردي لره په دې دواړو کې حق نسته وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ الرَّدِيْءُ هُوَ الرَّدِيْءُ الْأَصْلِيُّ او دا احتمال سته چې دا [باقي] ردي کپړه به [واقعتا] هغه اصلي ردي کپړه وي فَيُعْطٰى مِنْ مَحَلِّ الْاِحْتِمَالِ نو ځکه صاحب ردي ته به له محلِ احتمال څخه ورکول کيږي وَإِذَا ذَهَبَ ثُلُثَا الْجَيِّدِ وَثُلُثَا الْأَدْوَنِ او کله چې د جيّد دوه ثلثه او د ادنیٰ [ردي] دوه ثلثه ختم سول لَمْ يَبْقَ إِلَّا ثُلُثُ الْجَيِّدِ وَثُلُثُ الرَّدِيْءِ نو باقي پاته نه سوه مگر صرف د جيد يو ثلث او د ردي يو ثلث فَيَتَعَيَّنُ حَقُّ صَاحِبِ الْوَسَطِ فِيْهِ بِعَيْنِهِ ضَرُوْرَةً نو ضرورتا د صاحب وسط [مينځوي تان والا] حق به په هغه کې متعين سي.

اللغات: ﴿أجود﴾ بهترین. تر ټولو ښه. ﴿أدون﴾ کمترین. تر ټولو کمې درجې والا. ﴿ردیء﴾ او ردي: بد. خراب. کمې درجې والا.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې مذکوره وصیت هغه وخت باطلیږي کله چې وارثان هر یوه ته انکار وکړي. لیکن که وارثان ما بقي دوه تانونه هغو ته وسپاري. نو څرنګه چې اوس مانع لیرې سو. نو ځکه اوس وصیت له بطلان څخه بچ کیږي او هغه صحیح کیږي. او کله چې وصیت صحیح دی.

نو په ما بقي دوو تانو کي درې سره موصیٰ لهم (خالد. حامد او شاکر) شریکان کیږي. او د هغه صورت به داوي چې په ما بقي دوو تانو کي چې کوم یو جیّد (ښه) تان وي. له هغه څخه به صاحب جیّد (خالد) ته دوه ثلثه ورکول کیږي او چې کوم یو ردّي (کمزوری) تان وي. له هغه څخه به صاحبِ ردي (شاکر) ته دوه ثلثه ورکول کیږي او پاته سو صاحبِ وسط (یعني حامد). نو هغه ته به یو ثلث له ښه تان او یو ثلث له ردي تان څخه ورکول کیږي.

او د داسي تقسیم کولو وجه او دلیل دا دی چې په ما بقي دوو تانو کي چې کوم یو ردّي تان دی. په هغه کي دوه احتمال دي: ① کیدای سي چې واقعتاً هم هغه ردّي تان وي. ② کیدای سي چې هغه اوسط وي او ردّي تان به هغه وي کوم چې ضایع سوی دی. او د صاحبِ جیّد (خالد) حق صرف په جیّد تان کي دی. نو د دې دوو احتمالونو باوجود خالد ته په دې ردّي تان کي حق نه حاصلیږي. بلکي د ده حق صرف په هغه تان کي دی کوم چې اوس وخت جیّد او ښه تان دی. نو ځکه ده ته به صرف له جیّد څخه دوه ثلثه ورکول کیږي.

او پاته سو صاحبِ ردّي (شاکر). نو په جیّد تان کي خو د هغه حق نسته: ځکه په دې جیّد تان کي هم دوه احتماله دي: ① کیدای سي چې په حقیقت کي هم هغه جیّد تان وي. ② کیدای سي چې په حقیقت کي هغه اوسط تان وي. او له دې دواړو څخه په یوه کي هم د صاحب ردي حق نَسته. ځکه د هغه حق صرف په ردي تان کي دی. او په ردي تان کي هم دوه احتماله دي لکه څه مخکي چې ذکر سوه چې کیدای سي هغه به واقعتاً هم ردي وي یا کیدای سي هغه به اوسط وي. نو څرنګه چې په هغه کي د ردي والي احتمال هم سته. نو ځکه موږ صاحبِ ردّي ته له هغه څخه دوه ثلثه ورکړل.

او پاته سو صاحبِ وسط (حامد) نو څرنګه چې د هغه حق په مینځوي تان کي دی او دلته هغه معدوم دی او صرف جیّد او ردّي تان سته او له دې هر یوه څخه دوه ثلثه صاحبِ جید او صاحب ردي ته ورکول سوي دي او له دوی څخه صرف یو. یو ثلث پاته دي. نو ځکه موږ وویل چې صاحب وسط ته به یو ثلث له جیّد تان څخه او یو ثلث له ردّي تان څخه ورکول کیږي.

د مشترک جایداد د يوې مُعيّنې حصې د وصيت کولو حکم او تفصیل

قَالَ: وَإِذَا كَانَتِ الدَّارُ بَيْنَ رَجُلَيْنِ فرمايي: او کله چې کور د دوو کسانو تر مينځ مشترک وي أَوْصٰى أَحَدُهُمَا بِبَيْتٍ بِعَيْنِهٖ لِرَجُلٍ [او] له دوی څخه يو کس د يوې معيّنې خونې وصيت د يو سړي لپاره وکړي فَإِنَّهَا تُقْسَمُ نو کور به تقسيمول کيږي فَإِنْ وَقَعَ الْبَيْتُ فِي نَصِيْبِ الْمُوْصِيْ نو که هغه خونه د موصي په حصه کې واقع سي فَهُوَ لِلْمُوْصٰى لَهٗ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز هغه خونه د موصیٰ لهٗ لپاره ده وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ ❁ نِصْفُهُ لِلْمُوْصٰى لَهٗ او د امام محمد رَحِمَهُ الله د هغې نيمه حصه [نيمه خونه] د موصیٰ لهٗ لپاره ده وَإِنْ وَقَعَ فِيْ نَصِيْبِ الْآخَرِ او که هغه خونه د بل شریک په حصه کې واقع سي [او د موصي په حصه کې رانه سي] فَلِلْمُوْصٰى لَهٗ مِثْلُ ذَرْعِ الْبَيْتِ نو د موصیٰ لهٗ لپاره د هغه خونې د پيمايش [مقدار] په مثل حصه ده [يا په بله وينا دا چې د موصیٰ لهٗ لپاره د هغه خونې د گزونو په اندازه حصه ده] وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَأَبِيْ يُوْسُفَ او دا د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: مِثْلُ ذَرْعِ نِصْفِ الْبَيْتِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چې [د موصیٰ لهٗ لپاره] د نيمې خونې د پيمايش په اندازه حصه ده لَهٗ: أَنَّهٗ أَوْصٰى بِمِلْكِهٖ وَبِمِلْكِ غَيْرِهٖ د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې موصي د خپل ملکيت او د بل چا [خپل ملګري] د ملکيت وصيت کړی دی لِأَنَّ الدَّارَ بِجَمِيْعِ أَجْزَائِهَا مُشْتَرَكَةٌ ځکه چې کور د خپل ټولو اجزاوو سره [د دواړو تر مينځ] مشترک دی فَيَنْفُذُ الْأَوَّلُ وَيَتَوَقَّفُ الثَّانِيْ نو ځکه اول [کې به وصيت] نافذيږي او دويم [کې به د ملګري پر اجازه وصيت] موقوف کيږي وَهُوَ إِنْ مَلَكَهٗ بَعْدَ ذٰلِكَ بِالْقِسْمَةِ الَّتِيْ هِيَ مُبَادَلَةٌ او موصي که څه هم تر وصيت وروسته د هغه تقسيم په ذريعه د خونې مالک سوی دی کوم چې مبادله ده لَا تَنْفُذُ الْوَصِيَّةُ السَّابِقَةُ [لیکن بیا هم] مخکينی وصيت نه نافذيږي كَمَا إِذَا أَوْصٰى بِمِلْكِ الْغَيْرِ ثُمَّ اشْتَرَاهُ لکه کله چې څوک د بل چا د ملکيت وصيت وکړي بيا هغه رانيسي ثُمَّ إِذَا اقْتَسَمُوْهَا وَوَقَعَ الْبَيْتُ فِيْ نَصِيْبِ الْمُوْصِيْ بيا کله چې دوی کور تقسيم کړي او خونه د موصي په حصه کې واقع سي تَنْفُذُ الْوَصِيَّةُ فِيْ

❁ القول الراجح: قول الشيخين رَحِمَهُمَا الله، لأن قولهما قول المتون، انظر للترجيح [القول الراجح ج:۲، ص:۳۷۸]

عَيْنِ الْمُوصٰى بِهٖ نو وصيت په عين موصىٰ به کي نافذيږي وَهُوَنِصْفُ الْبَيْتِ او هغه نيمه خونه ده وَإِنْ وَقَعَ فِي نَصِيبِ صَاحِبِهٖ او که [په تقسيم کي] خونه د موصي د ملګري په حصه کي واقع سي لَهُ مِثْلُ ذَرْعِ نِصْفِ الْبَيْتِ نو د موصىٰ لهٗ لپاره د نيمي خوني د پېمايش په مثل حصه ده تَنْفِيذًا لِلْوَصِيَّةِ فِي بَدَلِ الْمُوصٰى بِهٖ عِنْدَ فَوَاتِهٖ د دې لپاره چي د موصىٰ به په بدل کي وصيت نافذ کړی سي د هغه د فوتېدلو په وخت کي كَالْجَارِيَةِ الْمُوصٰى بِهَا إِذَا قُتِلَتْ خَطَأً لکه هغه مينځه چي د هغې وصيت سوی وي کله چي هغه خطاءً قتل کړله سي تَنْفُذُ الْوَصِيَّةُ فِي بَدَلِهَا نو وصيت د هغې په بدل کي نافذيږي بِخِلَافِ مَا إِذَا بِيْعَ الْعَبْدُ الْمُوصٰى بِهٖ په خلاف د دې صورت کله چي هغه غلام خرڅ کړی سي چي د هغه وصيت سوی وي حَيْثُ لَا تَتَعَلَّقُ الْوَصِيَّةُ بِثَمَنِهٖ نو وصيت د هغه د ثمن سره نه متعلق کيږي لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ تَبْطُلُ بِالْإِقْدَامِ عَلَى الْبَيْعِ ځکه چي پر بيع د اقدام کولو په وجه وصيت باطليږي عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ لکه څرنګه چي [مخکي] موږ بيان کړه [في مسائل الرجوع عن الوصية بقوله: وإذا صرح بالرجوع. أو فعل ما يدل على الرجوع كان رجوعا] وَلَا تَبْطُلُ بِالْقِسْمَةِ او د تقسيم کولو په وجه وصيت نه باطليږي.

اللغات: ﴿ذَرْع﴾ د دې لفظ څو معناوي دي: د لاس غوړېدل. مقدار. اوږدول. وذَرْعُهٗ كَذَا: يعني د هغه اوږدول دومره دی. ﴿موصٰى بهٖ﴾ د کوم شي وصيت چي سوی وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو کور د دوو کسانو تر مينځ مشترک وي او له دوی څخه يو شريک د يو چا مثلاً د خالد لپاره د يوې معلومي خوني (کوټې) وصيت وکړي. نو کله چي وصيت کونکی شريک (موصي) مړ سي نو دا کور به پر دوو حصو تقسيمول کيږي. اوس که د وصيت والا خونه (موصىٰ به کوټه) د موصي شريک په حصه کي راسي، نو موصىٰ لهٗ (خالد) ته به هغه ټوله خونه ورکول کيږي او که هغه خونه د موصي د ملګري (بل شريک) په حصه کي راسي. نو بيا به د هغه خوني په اندازه ځمکه يا ځای موصىٰ لهٗ (خالد) ته ورکول کيږي. دا حکم د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دی.

او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي که د وصيت والا خونه د موصي په حصه کي راسي. نو موصىٰ لهٗ ته به د خوني نصف حصه (نيمه خونه) ورکول کيږي او که هغه خونه د موصي د ملګري په حصه کي راسي. نو موصىٰ لهٗ ته به د نيمي خوني په اندازه ځمکه يا ځای ورکول کيږي.

له إلخ: د امام محمد رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې د وصیت په وخت کې دا خونه د موصي او د هغه د ملګري تر مینځ مشترکه وه؛ ځکه دا خونه د کور جزء ده او کور د خپل ټولو اجزاؤ سره د دواړو شریکانو تر مینځ مشترک دی، نو ګواکې موصي د خپل او د بل چا د (مشترک) ملکیت وصیت کړی دی. نو ځکه دا وصیت به صرف د هغه په خپله حصه یعني په نیمه خونه کې نافذیږي او د هغه د ملګري په حصهٔ کې به وصیت د ملګري پر اجازه موقوف پاته وي، نو ځکه امام محمد رَحِمَهُ الله په دې صورت کې موصیٰ لهٗ صرف د نیمي خوني (نصف بیت) حقدار ګرځولی دی.

وهوإن ملكه إلخ: په دې سره د یو مقدر سوال جواب ورکول سوی دی. سوال دا دی چې موصي که څه هم د وصیت په وخت کې د دې خوني مالک نه دی (ځکه چې خونه د دواړو تر مینځ مشترکه ده)، لیکن تر تقسیم وروسته چې کله دا خونه د موصي په حصه کې راسي، نو هغه یې مالک سو. لهذا اوس په ټوله خونه کې وصیت نافذېدل او ټوله خونه موصیٰ لهٗ ته ورکول پکار دي؟ حال دا چې امام محمد رَحِمَهُ الله په دې صورت کې هم موصیٰ لهٗ صرف د نیمي خوني حقدار ګرځولی دی.

د دې په جواب کې امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چې موصي که څه هم تر تقسیم وروسته د دې خوني مالک کیږي خو تقسیم من وجه مبادله ده او تر مبادلې یعني تر بیع و شراء وروسته که څوک د موصیٰ بهٖ مالک سي، نو په هغه موصیٰ بهٖ کې مخکینی وصیت نه نافذیږي، نو همداسي په مذکوره مسئله کې به هم په هغه ټوله خونه کې د موصي وصیت نه نافذیږي، بلکې د خوني په کومه حصه کې چې په اوله ورځ وصیت نافذ سوی وو، صرف په هاغه حصه کې به اوس هم وصیت نافذیږي یعني په نیمه خونه (نصف بیت) کې، او که هغه خونه د موصي د ملګري په حصه کې راسي، نو موصیٰ لهٗ ته به د نیمي خوني په اندازه ځمکه یا ځای ځکه ورکول کیږي؛ ځکه چې د موصیٰ بهٖ د فوتېدلو په صورت کې د هغه په بدل کې وصیت نافذیږي او څرنګه چې دلته د بل شریک په حصه کې خونه راغلې ده او عین موصیٰ بهٖ فوت سوی دی د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز، نو ځکه د هغه په بدل یعني د کور په بله حصه کې به وصیت نافذیږي او له بلې حصې څخه به موصیٰ لهٗ ته د نیمي خوني په اندازه حصه ورکول کیږي.

د دې مثال داسي دی لکه څوک چې د یو چا لپاره د مینځي وصیت وکړي. بیا هغه مینځه خطاء قتل کړله سي، نو څرنګه چې اوس موصیٰ بها (مینځه) فوت سوه، لهذا اوس د هغې په بدل کې

وصيت نافذيږي، نو همدغسي په مذکوره مسئله کي به هم د موصىٰ بهٖ (خوني) په بدل کي وصيت نافذيږي.

د دې په خلاف که موصي د وصيت غلام (عبد موصىٰ بهٖ) خرڅ کړي، نو وصيت باطليږي او د هغه په بدل (ثمن) کي وصيت نه نافذيږي؛ ځکه د غلام پر بيع اقدام کول له وصيت څخه د رجوع کولو دليل دی، او پاته سو تقسيم خو نه رجوع ده او نه د رجوع دليل دی.

د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل

وَلَهُمَا: أَنَّهُ أَوْصَى بِمَا يَسْتَقِرُّ مِلْكُهُ فِيْهِ بِالْقِسْمَةِ او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي موصي د هغه شي وصيت کړی دی چي په تقسيم سره په هغه کي د ده ملکيت پخيږي [ثابتيږي] لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّهُ يَقْصِدُ الْإِيْصَاءَ بِمِلْكٍ مُنْتَفَعٍ بِهِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ ځکه ښکاره همدا ده چي موصي د داسي ملکيت د وصيت کولو قصد کړی دی چي له هغه ملکيت څخه په هر اعتبار نفع اخيستل کېدای سي وَذٰلِكَ يَكُوْنُ بِالْقِسْمَةِ او دا مقصد [پوره نفع اخيستل] په تقسيم سره کېدلای سي لِأَنَّ الْاِنْتِفَاعَ بِالْمُشَاعِ قَاصِرٌ ځکه له مشترک شي څخه نفع اخيستل ناقص وي وَقَدِ اسْتَقَرَّ مِلْكُهُ فِيْ جَمِيْعِ الْبَيْتِ إِذَا وَقَعَ فِيْ نَصِيْبِهِ] او کله چي خونه د موصي په حصه کي راغله نو په ټوله خونه کي د هغه ملکيت پوخ [ثابت] سو فَتَنْفُذُ الْوَصِيَّةُ فِيْهِ نو ځکه په هغه [ټوله خونه] کي به وصيت نافذيږي وَمَعْنَى الْمُبَادَلَةِ فِيْ هٰذِهِ الْقِسْمَةِ تَابِعٌ او په دغه تقسيم کي د "مبادله" معنىٰ تابع ده وَإِنَّمَا الْمَقْصُوْدُ الْإِفْرَازُ او [اصل] مقصود [د حصو] جلا کول دي تَكْمِيْلًا لِلْمَنْفَعَةِ د دې لپاره چي منفعت پوره کړی سي وَلِهٰذَا يُجْبَرُ عَلَى الْقِسْمَةِ فِيْهِ په همدې وجه په دې کي پر تقسيم جبر کېدلای سي وَعَلَى اعْتِبَارِ الْإِفْرَازِ يَصِيْرُ كَأَنَّ الْبَيْتَ مِلْكُهُ مِنَ الْاِبْتِدَاءِ او د إفراز په اعتبار سره داسي ګرځي ګواکي هغه خونه له شروع څخه د موصي ملکيت ده.

اللغات: ﴿يستقر﴾ د استفعال د باب مضارع ده: پخېدل او مضبوطېدل، ثابتېدل. ﴿مشاع﴾ د ضرب د باب اسم مفعول دی، د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنىٰ ده: مشترک شی. ﴿إفراز﴾ د افعال د باب مصدر دی: جلا کول، د يو چا له مال څخه د بل چا مال جلا کول (عليحده کول).

تشريح: په دې عبارت کې د شيخينو رَحِمَهُمَا الله دليل بيان سوی دی. حاصل يې دا دی چې موصي چې د کومې خونې وصيت کړی دی. د هغه په هکله د موصي غالب ګومان همدا دی چې دا خونه به په تقسيم کې زما په حصه کې راځي او زما ملکيت به پکښې ثابتيږي؛ ځکه پر وصيت اقدام کول د دې خبرې واضح دليل دی چې موصي د داسې ملکيت وصيت کول غواړي چې موصیٰ لهٔ له هغه څخه کما حقهٔ او په هره توګه نفع اخيستلای سي. او موصیٰ لهٔ هغه وخت له موصیٰ بهٖ (خونې) څخه کما حقهٔ فايده اخيستلای سي کله چې په تقسيم کې هغه خونه د موصي په حصه کې راسي. ځکه له دې څخه بغير هغه خونه مشترکه پاتيږي او له مشترک شي څخه په کامله توګه نفع اخيستل نا ممکن دي. او بل دا چې کله د موصي ملګري ته دا معلومه سي چې زما ملګري د فلانکۍ خونې وصيت کړی دی، نو د تقسيم په وخت کې به د هغه رعايت وکړي او داسې تقسيم به وکړي چې موصیٰ بهٖ خونه د هغه د ملګري (موصي) په حصه کې راسي. نو په دې حواله سره هم په هغه خونه کې تر تقسيم وروسته د موصي ملکيت يقيني دی، نو ځکه په ټوله خونه کې به وصيت نافذيږي.

ومعنى المبادلة إلخ: امام محمد رَحِمَهُ الله تقسيم مبادله ګرځولې وه چې صرف په نيمه خونه کې يې وصيت صحيح ګرځولی وو. نو دلته د هغه جواب ورکوي چې دا موږ نه تسليموو؛ ځکه په تقسيم کې که څه هم د "مبادله" معنیٰ سته لېکن د هغه تر څنګ په تقسيم کې د "إفراز" اړخ او معنیٰ هم سته او په جنسِ واحد کې د إفراز اړخ غالب وي. او څرنګه چې کور او خونه دواړه متحد الجنس دي. نو ځکه دلته به د إفراز اړخ غالب وي او د مبادلې اړخ به مغلوب وي. په همدې وجه په مذکوره مسئله کې پر تقسيم جبر (مجبوره کول) جائز دي. حال دا چې که په تقسيم کې د مبادلې معنیٰ غالبه وای. نو پر تقسيم مجبوره کول به جائز نه وای. نو د جبر جائز کېدل دا ښيي چې په وصيت کې د إفراز معنیٰ غالبه ده او چې د وصيت خونه (موصیٰ بهٖ کوټه) له شروع يعني د وصيت له وخت څخه د موصي په ملکيت کې ده او په هغه ټوله خونه کې وصيت صحيح او نافذ دی.

وَإِنْ وَقَعَ فِي نَصِيبِ الْآخَرِ او كه هغه خونه د بل شريک په حصه کې واقع سي تُنْفَذُ فِي قَدْرِ ذُرْعَانِ جَمِيعِهِ مِمَّا وَقَعَ فِي نَصِيبِهِ نو وصيت به د هغه خونې د ټولو ګزونو په اندازه د موصي په حصه [ځمکه] کې نافذول کيږي [يعني د هغه خونې په اندازه ځمکه به د موصي له حصې څخه موصیٰ لهٗ ته ورکول کيږي] إِمَّا لِأَنَّهُ عِوَضُهُ يا په دې وجه چې هغه حصه [ځمکه] د خونې عوض ده [يعني موصیٰ لهٗ ته ورکول سوې ځمکه د هغه خونې عوض ده] كَمَا ذَكَرْنَاهُ لکه څرنګه چې [مخکې] موږ ذکر کړه أَوْ لِأَنَّ مُرَادَ الْمُوصِي مِنْ ذِكْرِ الْبَيْتِ التَّقْدِيرُ بِهِ يا ځکه چې د خونې په ذکر کولو سره د موصي مراد د هغه خونې په ذريعه اندازه بيانول دي تَحْصِيلًا لِمَقْصُودِهِ مَا أَمْكَنَ د دې لپاره چې د موصي مقصود حاصل کړی سي تر څو چې ممکنه وي [يعني چې حتی الامکان د هغه مقصود حاصل او پوره کړی سي] إِلَّا أَنَّهُ يَتَعَيَّنُ الْبَيْتُ إِذَا وَقَعَ فِي نَصِيبِهِ لیکن کله چې هغه خونه د موصي په حصه کې راسي نو [د موصیٰ لهٗ لپاره] هغه خونه متعين کيږي جَمْعًا بَيْنَ الْجِهَتَيْنِ التَّقْدِيرِ وَالتَّمْلِيكِ د دې لپاره چې د دواړو اړخونو يعني تقدير او تمليک تر مينځ جمع وسي وَإِنْ وَقَعَ فِي نَصِيبِ الْآخَرِ او که هغه خونه د بل شريک په حصهٔ کې واقع سي عَمِلْنَا بِالتَّقْدِيرِ نو موږ په تقدير [د تقدير په اړخ] عمل کوو أَوْ لِأَنَّهُ أَرَادَ التَّقْدِيرَ عَلٰى اِعْتِبَارِ أَحَدِ الْوَجْهَيْنِ يا ځکه چې موصي د يوې وجهې په اعتبار کولو سره د تقدير اراده کړې ده وَالتَّمْلِيكَ بِعَيْنِهِ عَلٰى اِعْتِبَارِ الْوَجْهِ الْآخَرِ او د بلې وجهې په اعتبار کولو سره يې د تمليک اراده کړې ده كَمَا إِذَا عَلَّقَ عِتْقَ الْوَلَدِ وَطَلَاقَ الْمَرْأَةِ بِأَوَّلِ وَلَدٍ تَلِدُهُ أَمَتُهُ لکه کله چې څوک د بچي آزادېدل او د ښځې طلاق معلق کړي پر هغه بچي کوم چې يې د وينځه اول وزېږوي فَالْمُرَادُ فِي جَزَاءِ الطَّلَاقِ مُطْلَقُ الْوَلَدِ وَفِي الْعِتْقِ وَلَدٌ حَيٌّ نو [په دې صورت کې] د طلاق په جزاء کې مطلق بچی مراد دی او د آزادۍ په حق کې ژوندی بچی مراد دی.

اللغات: ﴿ذُرعان﴾ جمع د ذِرَاعٌ ده: شرعي ګز. کوم چې يو لاس کيږي (له څنګلې څخه د مينځوی ګوتې تر سره). ﴿تمليك﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مالک جوړول. مالک کول. ﴿علّق﴾ د تفعيل د باب ماضي ده: معلق کول. مشروط کول.

تشریح: دا عبارت هم د شیخینو رَحِمَهُمَا الله د دلیل سره متعلق دی، حاصل یې دا دی چې که د وصیت خونه (موصی بهٖ کوټه) د موصي د ملکرې په حصه کي راسي، نو په دې صورت کي به د موصی له حصې څخه موصیٰ لهٗ ته د هغه خوني د ځمکي په اندازه ځمکه ورکول کیږي: ځکه چې دا ځمکه د مذکوره خوني عوض او بدل ده او څرنګه چې دلته د اصل خوني تسلیم ناممکن دی (ځکه چې هغه د موصي د ملکري په حصه کي رغلې ده)، نو ځکه اوس به د هغې پر ځای بدل ور سپارل کیږي.

أو لأن إلخ: یا د دې وجه دا ده چې د موصي اصل مقصد موصیٰ لهٗ ته د هغه خوني په اندزه ځمکه ورکول دي، یعني د موصي مراد او مقصود بعینهٖ د هغه خوني وصیت کول نه دي، بلکي د هغې په مثل د ځمکي وصیت کول یې مراد دي او د خوني ذکر محض د تقدیر په توګه دی یعني د موصیٰ بهٖ (ځمکي) د اندازې بیانولو لپاره دی چې د خوني په ذکر سره د ځمکي اندازه معلومه وي.

او دلته ځکه له خوني څخه تقدیر مراد کړی سو چې حتی الامکان د موصي د مقصد رعایت وکړی سي.

سوال: کله چې له خوني څخه تقدیر او اندازه مراد ده، نو باید کله چې هغه خونه دموصي په حصه کي راسي نو موصي یا د هغه وارثانو ته دا اختیار هم حاصلېدل پکار دي چې بعینهٖ هغه خونه موصیٰ لهٗ ته نه ورکړي بلکي د هغه پر ځای د خوني په اندازه ځمکه ورکړي، حال دا چې په دې صورت کي (یعني کله چې خونه دموصي په حصه کي راسي) تاسي دا حکم متعیّن کړی دی چې اوس به بعینهٖ هغه خونه موصیٰ لهٗ ته ورکول کیږي، نو دا حکم خو د تقدیر خلاف دی؟.

جواب: دلته دواړه احتماله سته. دا هم کېدلای سي چې د خوني په ذکر کولو سره د موصي مراد تقدیر (اندازه بیانول) وي، او دا هم کېدلای سي چې د هغه مراد بعینهٖ د همدې خوني مالک جوړول وي (یعني د هغه مقصد موصیٰ لهٗ ته بعینهٖ همدا خونه ورکول وي). لهذا دلته دا دواړه احتماله او دواړه اړخونه سته. نو کله چې دا حصه د موصي په حصهٔ کي راغله، نو د دویم احتمال پر بناء موږ وویل چې بعینهٖ همدا خونه به موصیٰ لهٗ ته ورکول کیږي. د دې لپاره چې په مذکوره وصیت کي د تقدیر او تملیک دواړو رعایت وسي. یعني دواړي خبري پر یوه ځای په هغه کي جمع سي. او که هغه خونه د موصي د ملګري په حصه کي راسي، نو هلته موږ د تقدیر په احتمال باندي عمل کړی دی.

أو لأنه أراد إلخ: یعني یا دا هم کېدلای سي چې د وصیت په وخت کي د موصي خپل مراد او مقصد دا وي چې که دا خونه زما په حصه کي راغله، نو بعینهٖ همدا خونه به ورکول کیږي او که دا خونه زما په

حصه کي نه راغله. نو د هغې په اندازه څمکه به ورکول کیږي. یعني د وصیت په وخت کي د موصي اراده تقدیر او تملیک دواړه کېدلای سي.

کما إذا علق إلخ: په دې سره صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د دې آخري جواب نظير او مثال پېښوي. یعني دا جواب چي کېدلای سي د وصیت په وخت کي د موصي مراد دا وي چي که دا خونه زما په حصه کي راغله. نو بعینه همدا خونه به ورکول کیږي او که زما په حصه کي نه راغله نو د هغې په اندازه څمکه به ورکول کیږي.

فرمایي چي د دې مثال دا دی چي د زید یوه ښځه ده او یوه یې مینځه ده او زید هغه مینځه خالد ته په نکاح ورکړې ده. او زید وویل چي زما مینځه کله اول بچی وزېږوي نو هغه بچی آزاد دی او زما ښځه پر ما طلاقه ده. نو کله چي هغه بچی پیدا سي نو آزادیږي او د زید ښځه طلاقیږي.

نو دلته طلاق او عتق دواړه جلا مرادونه دي. یعني د طلاق واقع کېدلو لپاره مطلق بچی مراد دی یعني بچی برابره ده ژوندی پیدا سي او که مړ. په هر صورت کي طلاق واقع کیږي. او د آزادی واقع کېدلو لپاره ژوندی بچی مراد دی. یعني که هغه مینځه ژوندی بچی وزېږوي نو بچی آزادیږي. کنې که هغه بچی مړ پیدا سي. نو نه آزادیږي. نو له دې څخه معلومه سوه چي د زید مراد په اول بچي سره د طلاق په حق کي مطلق بچی دی او د عتق په حق کي ژوندی بچی دی. نو همدغسي په مذکوره مسئله کي که هغه خونه د موصي په حصه کي راسي. نو د موصي مراد همدا خونه ده او که د موصي په حصه کي نه راسي. نو د موصي مراد د خوني په اندازه څمکه ده.

په پورتني مسئله کي د تقسیم طریقه

ثُمَّ إِذَا وَقَعَ الْبَيْتُ فِيْ نَصِيْبِ غَيْرِ الْمُوْصِيْ بیا کله چي هغه خونه د غیر موصي [بل شریک] په حصه کي راسي وَالدَّارُ مِائَةُ ذِرَاعٍ وَالْبَيْتُ عَشَرَةُ أَذْرُعٍ او کور سل گزه وي او خونه لس گزه وي يُقْسَمُ نَصِيْبُهُ بَيْنَ الْمُوْصٰى لَهٗ وَبَيْنَ الْوَرَثَةِ عَلٰى عَشَرَةِ أَسْهُمٍ نو د موصي حصه به د موصیٰ لهٗ او وارثانو تر مینځ پر لسو حصو [برخو] تقسیمول کیږي تِسْعَةٌ مِنْهَا لِلْوَرَثَةِ وَسَهْمٌ لِلْمُوْصٰى لَهٗ چي له هغوی څخه به نهه حصې د وارثانو لپاره وي او یوه حصه د موصیٰ لهٗ لپاره وَهٰذَا عِنْدَ مُحَمَّدٍ او دا د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دي فَيَضْرِبُ الْمُوْصٰى لَهٗ بِخَمْسَةِ أَذْرُعٍ نِصْفِ الْبَيْتِ نو موصیٰ لهٗ به د نیمي خوني په حساب سره پنځه گزه اخلي وَلَهُمْ بِنِصْفِ الدَّارِ سِوَى الْبَيْتِ او د وارثانو لپاره به له خوني څخه ما سوا نیم کور وي وَهُوَ خَمْسَةٌ وَأَرْبَعُوْنَ او هغه [له خوني څخه ما سوا نیم کور] پنځه

څلوېښت ګزه دي فَيُجْعَلُ كُلُّ خَمْسَةٍ سَهْمًا نو هر پنځه ګزه به يوه حصه [برخه] ګرځول کيږي فَيَصِيْرُ عَشَرَةً نو [ټوله] به لس حصې سي وَعِنْدَهُمَا يُقْسَمُ عَلَى أَحَدَ عَشَرَ سَهْمًا او د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د موصي حصه به پر لسو حصو [برخو] تقسيمول کيږي لِأَنَّ الْمُوصٰى لَهُ يَضْرِبُ بِالْعَشَرَةِ وَهُمْ بِخَمْسَةٍ وَأَرْبَعِيْنَ ځکه چي موصىٰ لهٗ د لسو ګزو په حساب سره اخلي او وارثان يې د پنځه څلوېښت ګزو [په حساب سره اخلي] فَتَصِيْرُ السِّهَامُ أَحَدَ عَشَرَ نو [ټوله] حصې به يوولس حصې سي لِلْمُوصٰى لَهُ سَهْمَانِ وَلَهُمْ تِسْعَةٌ د موصىٰ لهٗ لپاره به دوې حصې وي او د وارثانو لپاره به نهه حصې وي.

اللغات: ﴿يضرب﴾ د ضرب د باب مضارع ده: په عربي ژبه کي ځيني الفاظ او بابونه لسګونه معناوي لري لکه لفظ د "عَيْن" چي په سلهاوو معناوو سره مستعمل دی، نو د ضرب د باب هم ډېري معناوي نقل سوي دي. چي له هغوی څخه يې ځيني دا دي: اخيستل، يو څوک په يو څه کي شريکول (شريک ګرځول)، ټاکل او مقررول. (مغرب، معجم الوسيط). ﴿ذرع﴾ ګز (شرعي ګز). ﴿أسهم﴾ جمع د سَهْمٌ ده: حصه، برخه.

تشريح: کله چي دا معلومه سوه چي که مذکوره خونه (موصىٰ بهٖ کوټه) د موصي د ملګري په حصه کي راسي. نه د موصي په حصه کي، نو څرنګه چي په دې صورت کي هغه خونه د موصي د لاسه ووتله نو ځکه اوس به موصىٰ لهٗ ته د موصي له حصې څخه د هغه خوني په اندازه ځمکه ورکول کيږي. نو د دې تقسيم طريقه به څنګه وي؟ که څه هم دا مسئله خپله ښکاره ده خو بيا هم مصنف رَحِمَهُ الله ذکر کړې ده چي ښه واضحه سي.

د عبارت حاصل: څرنګه چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا وو چي په مذکوره صورت کي به موصىٰ لهٗ ته د نيمي خوني په اندازه ځمکه ورکول کيږي، لهذا که ټوله کور سل ګزه وو او خونه لس ګزه وه. نو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز موصىٰ لهٗ ته به پنځه ګزه ورکول کيږي. يعني د موصي په حصه کي پنځوس ګزه راغله او نيمه خونه پنځه ګزه ده. نو ځکه پنځه ګزه به د موصي له حصې څخه موصىٰ لهٗ ته ورکول کيږي. او پاته پنځه څلوېښت ګزه به د موصي د وارثانو لپاره پاته سي.

همدا تقسیم په بله وینا دا چي د موصي حصه (پنځوس ګزه) به لس حصې کړل سي او له هغوی شخه به نهه حصې د موصي وارثانو ته او یوه حصه موصی له ته ورکول سي؛ په دې توګه چي له پنځوسو شخه پنځه شلوېښت ګزه نهه(۹) حصې کیږي او له پنځوسو شخه پنځه ګزه یوه حصه (لسمه حصه) کیږي. دا تفصیل د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز دی چي تقسیم به پر لسو حصو (لسو سهامو) باندي کول کیږي او هر پنځه ګزه به یوه حصه (یو سهم) ګرځول کیږي.

وعندهما يقسم إلخ: څرنګه چي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز په پورتني مذکوره صورت کي موصی له ته د ټولي خوني په اندازه ځمکه ورکول کیږي. نو د هغو په نېز د تقسیم طریقه دا ده چي که ټوله کور سل ګزه وو او خونه ټوله لس ګزه وه نو د موصي په حصه کي چي کوم پنځوس ګزه راسي. هغوی به یوولس (۱۱) حصې کول کیږي او له هغوی شخه به نهه (۹) حصې وارثانو او دوې (۲) حصې موصی له ته ورکول کیږي.

یعني پنځوس ګزه به پنځه پنځوس (۵۵) ګزه ګرځول کیږي. لس ګزه به د موصی له او پنځه شلوېښت ګزه به د وارثانو کیږي؛ ځکه ټوله خونه لس ګزه ده. لهذا دا لس ګزه به پر مذکوره طریقه موصی له ته ورکول کیږي.

تفصیل یې دا دی چي موصي ګواکي د موصی له لپاره د لسو ګزو وصیت کړی دی او ټوله کور سل ګزه دی. کله چي له سلو شخه لس ګزه ووځي. نو نیوي (۹۰) ګزه پاته سوه کوم چي د دواړو شریکانو (یعني د موصي او د هغه د ملګري) تر مینځ مشترک دي او د هر یوه حصه پنځه شلوېښت ګزه سوه. خو څرنګه چي د موصي د ملګري حصه نه سي کمول کېدای بلکي پوره به ورکول کیږي. نو ځکه هغه ته خو به خپل پنځوس ګزه ټوله ورکول کیږي. خو ما بقي پنځوسو ګزو ته چي کله د ولرثانو د پنځه شلوېښت ګزو او د موصی له د لسو ګزو په حساب سره وکتل سوه او هره حصه پنځه ګزه وه نو اصل به (۵۵) ګزه ګرځول کیږي چي ټوله یوولس حصې سي. او له هغه شخه د موصی له لپاره دوې حصې دي کوم چي لس ګزه کیږي.

یادونه: دلته مصنف رَحِمَهُ الله طول لا طائل اختیار کړی دی چي د هغه په وجه حساب ستونزمن سوی دی. لهذا د شیخینو رَحِمَهُمَا الله پر مسلک د تقسیم غوره طریقه دا ده چي د موصي دا پنځوس ګزه به پر پنځو حصو تقسیم کړی سي چي له هغه شخه به موصی له ته یوه حصه یعني لس ګزه ورکول سي او ما بقي شلور حصې یعني شلوېښت ګزه به وارثانو ته ورکول سي. د شیخینو رَحِمَهُمَا

الله د مسلک لپاره همدا غوره طريقه ده. او پاتـه سو امام محمد رَحِمَهُ الله خو مجبوراً پر لسو حصو تقسيم کړي دی ځکه چي د هغه په نيز موصی لهٔ ته نيمه خونه (نصف بيت) ورکول کيږي. لېکن د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز پوره خونه هغه ته ورکول کيږي. نو ځکه دلته به پر پنځو حصو تقسيم کول کيږي. (زيلعي ج: ۶. ص: ۱۹۴)

که په پورتنی مسئله کي د وصيت پر ځای اقرار وي نو څه حکم دی؟

وَلَوْكَانَ مَكَانَ الْوَصِيَّةِ إِقْرَارٌ او که چيري د وصيت پر ځای اقرار وي قِيْلَ: هُوَعَلَى الْخِلَافِ نو ويل سوي دي: چي دا [هم] پر اختلاف دي وَقِيْلَ: لَا خِلَافَ فِيْهِ لِمُحَمَّدٍ او ويل سوي دي: چي په دې کي د امام محمد رَحِمَهُ الله اختلاف نسته وَالْفَرْقُ لَهُ أَنَّ الْإِقْرَارَ بِمِلْكِ الْغَيْرِ صَحِيْحٌ او د امام محمد رَحِمَهُ الله لپاره وجه د فرق دا ده چي د بل چا د ملکيت اقرار کول صحيح دي حَتّٰى إِنَّ مَنْ أَقَرَّ بِمِلْكِ الْغَيْرِ لِغَيْرِهِ همدا وجه ده چي که څوک له خپل ځان څخه بغير د يو چا لپاره د بل چا د ملکيت اقرار وکړي ثُمَّ مَلَكَهُ بيا مُقر د هغه مالک سي يُؤْمَرُ بِالتَّسْلِيْمِ إِلَى الْمُقَرِّلَهُ نو مُقر به مقر لهٔ ته په ورسپارولو سره امر کول کيږي [يعني مُقر ته به حکم کول کيږي چي مُقربه و مُقر لهٔ ته وسپاره!] وَالْوَصِيَّةُ بِمِلْكِ الْغَيْرِ لَا تَصِحُّ او د بل چا د ملکيت وصيت کول صحيح نه دی حَتّٰى لَوْمَلَكَهُ بِوَجْهٍ مِنَ الْوُجُوْهِ همدا وجه ده چي که موصي په يو توګه د موصیٰ به مالک سي ثُمَّ مَاتَ بيا موصي مړ سي لَا تَصِحُّ وَصِيَّتُهُ وَلَا تَنْفُذُ نو [بيا هم] د هغه وصيت نه صحيح کيږي او نه نافذيږي.

اللغات: ﴿يؤمر﴾ د نصر د باب مضارع مجهوله ده: امر کول، حکم ورته کول. ﴿تسليم﴾ د تفعيل د باب مصدر دي: ورسپارل، ورکول. ﴿مقر لهٔ﴾ د چا لپاره چي (د ملکيت) اقرار سوی وي. ﴿لا تنفذ﴾ د نصر له بابه د نفي صيغه ده: نافذېدل او جاري کېدل، پوره کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که يو کور د دوو کسانو تر مينځ مشترک وي او له دوی څخه يو شريک د يو سړي مثلاً د خالد لپاره د يوې خوني اقرار وکړي، نو د شيخينو رَحِمَهُمَا الله په نيز مقر لهٔ (خالد) ته به ټوله خونه ورکول کيږي، او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه په دې هکله دوه قوله نقل سوي دي: ① مقر لهٔ (خالد) ته به نيمه خونه ورکول کيږي، ② او دويم قول دا دی چي هغه په دې مسئله

کي د شیخینو رَحِمَهُمَا الله سره دی او په دې کي د هغه اختلاف نشته؛ او د عدمِ اختلاف وجه دا ده چي د بل د چا د ملکیت اقرار صحیح دی، همدا وجه ده که یو سړی د بل چا د ملکیت (مثلاً د بل چا د آس) اقرار وکړي او بیا وروسته دا مُقِر سړی د مُقَربِهٖ (آس) مالک سي، نو ده ته به حکم کول کیږي چي مقربهٖ (آس) مقرلهٗ ته وسپاره! ځکه چي د ده اقرار صحیح وو. او پاته سو وصیت د دې په خلاف دی ځکه د بل چا د ملکیت وصیت کول صحیح نه دي، همدا وجه ده که موصي وروسته د موصیٰ بهٖ مالک سي، نو بیا هم د هغه مخکینی وصیت نه صحیح کیږي او نه نافذیږي، نو ځکه په وصیت او اقرار کي د امام محمد رَحِمَهُ الله رایه جلا، جلا ده.

د بل چا د معیَن مال وصیت کولو حکم او تفصیل

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى مِنْ مَالِ رَجُلٍ لِآخَرَ بِأَلْفٍ بِعَيْنِهٖ فرمایي: او څوک چي د یو سړي له مال څخه د بل چا لپاره د معیّنو زرو درهمو وصیت وکړي فَأَجَازَ صَاحِبُ الْمَالِ بَعْدَ مَوْتِ الْمُوصِيْ بیا د مال مالک د موصي تر مرګ وروسته اجازه ورکړي فَإِنْ دَفَعَهُ نو که هغه موصیٰ لهٗ ته مال ورکړي [یعني موصیٰ لهٗ ته هغه زر درهمه ورسپاري] فَهُوَ جَائِزٌ نو جائز دي وَلَهُ: أَنْ يَمْنَعَ او هغه [د مال مالک ته] دا اختیار هم سته چي له ورکولو [ورسپارلو] څخه انکار وکړي لِأَنَّ هٰذَا تَبَرُّعٌ بِمَالِ الْغَيْرِ ځکه دا [د موصي فعل] د بل چا په مال سره تبرّع کول دي فَيَتَوَقَّفُ عَلٰى إِجَازَتِهٖ نو ځکه هغه به د مال د مالک پر اجازه موقوف وي وَإِذَا أَجَازَ او کله چي هغه اجازه ورکړي يَكُوْنُ تَبَرُّعًا مِنْهُ أَيْضًا نو دا به د هغه [صاحب المال] له طرفه هم تبرّع وي فَلَهُ أَنْ يَمْتَنِعَ مِنَ التَّسْلِيْمِ نو ځکه د مال مالک [صاحب المال] ته دا حق سته چي له ورسپارولو څخه منع سي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَوْصٰى بِالزِّيَادَةِ عَلَى الثُّلُثِ په خلاف د هغه صورت کله چي موصي [د مال] پر درییمي حصې د زیات مقدار وصیت وکړي وَأَجَازَتِ الْوَرَثَةُ او وارثان اجازه ورکړي لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ فِيْ مَخْرَجِهَا صَحِيْحَةٌ ځکه چي دا وصیت په خپل مخرج کي صحیح دی لِمُصَادَفَتِهَا مِلْكَ نَفْسِهٖ ځکه وصیت د هغه په خپل ملکیت کي واقع سوی دی وَالْاِمْتِنَاعُ لِحَقِّ الْوَرَثَةِ او د وصیت منع کېدل د وارثانو د حق په وجه وه فَإِذَا أَجَازُوْهَا نو کله چي وارثانو اجازه

ورکړه سَقَطَ حَقُّهُمْ نو د هغو حق ساقط سو فَنَفَذَ مِنْ جِهَةِ الْمُوْصِيْ نو ځکه د موصي له طرفه دا وصیت نافذ سو.

اللغات: ﴿دفع﴾ د فتح د باب ماضي ده. د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: ورکول او ورسپارل. اداء کول. ﴿تبرع﴾ د تفعل د باب مصدر دی: احسان کول. بلا عوضه (مفت) شی ورکول. داسي کار کولَ کوم چي د انسان پر ذمه واجب نه وي لکه وصیت. هبه او داسي نور. ﴿مصادفة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: لاحق کېدل او متصل کېدل. واقع کېدل. يو شی د بل شي سره مخامخ کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي مثلاً د حامد مال د امانت په توګه د خالد سره پروت دی او خالد د حامد له اجازې بغیر د شاکر لپاره له دې مال څخه د زرو روپو وصیت وکړی (چي زما تر مرګ وروسته دي له دغه مال څخه زر روپۍ شاکر ته ورکول سي). نو دا وصیت د مال د مالک يعني د حامد پر اجازه موقوف کيږي. نو که د موصي (خالد) تر مرګ وروسته مالک د هغه اجازه ورکړي او موصیٰ بهٖ يعني زر روپۍ موصیٰ لهٗ ته وسپاري او هغه قبضه پرې وکړي، نو دا وصیت صحیح او نافذيږي: ځکه د موصي دا فعل د هبې په درجه کي دی او د هبې د پوره کېدو لپاره پر موهوب شي د موهوب لهٗ قبضه کول ضروري دي (يعني هبه هغه وخت پوره نافذيږي کله چي موهوب لهٗ کس پر موهوب شي قبضه وکړي). نو همدغسي په مذکوره مسئله کي د وصیت د پوره کېدو لپاره پر موصیٰ بهٖ شي د موصیٰ لهٗ قبضه کول ضروري دي، او تر څو چي د مال مالک (حامد) موصیٰ لهٗ ته موصیٰ بهٖ ونه سپاري، تر هغه وخته مالک ته د وصیت ردولو او منع کولو پوره حق سته: ځکه چي دا د مالک (حامد) له مال څخه هبه ده. لهذا دا به د هغه پر اجازه موقوف وي او هغه ته به د اجازه ورکولو او نه ورکولو دواړو حق وي او کله چي هغه اجازه ورکړي. نو دا فعل به د هغه له طرفه هم تبرع وي او خپله هغه ته به هم د دې ثواب حاصل سي.

بخلاف ما إذا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که خپله د مال مالک له خپل مال څخه تر دریمي حصې د زیات مال وصیت وکړي او وارثان اجازه ورکړي. نو صحیح دي: ځکه دلته وصیت له شروع څخه صحیح دی: ځکه موصي په خپل ملکیت کي وصیت کړی دی. لېکن څرنګه چي هغه د موصیٰ بهٖ مقدار زیات کړی دی او هغه زائد مقدار د وارثانو حق دی (ځکه سړي ته صرف د خپل مال په ثلث کي د وصیت حق سته)، نو ځکه دا وصیت به د وارثانو پر اجازه موقوف وي او کله چي وارثان اجازه ورکړي. نو دا به صحیح وي: ځکه د دې منع کېدل د وارثانو د حق په وجه دي او په اجازه ورکولو سره وارثانو خپل دا حق ساقط کړی. نو ځکه اوس به صحیح کيږي.

د میراث تر تقسیم وروسته که یو وارث د ثلث مال وصیت وکړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِذَا اقْتَسَمَ الِابْنَانِ تَرِكَةَ الْأَبِ أَلْفًا فرمایي: او کله چې دوه ځامن د پلار میراث زر درهمه تقسیم کړي ثُمَّ أَقَرَّ أَحَدُهُمَا لِرَجُلٍ أَنَّ الْأَبَ أَوْصٰى لَهُ بِثُلُثِ مَالِهِ بیا له دوی څخه یو ځوی د یو سړي لپاره [د مال] اقرار وکړي چې [زموږ] پلار د هغه لپاره د خپل مال د درېیمې حصې وصیت کړی وو فَإِنَّ الْمُقِرَّ يُعْطِيهِ ثُلُثَ مَا فِي يَدِهِ نو اقرار کونکی ځوی به هغه سړي [مقر لهٔ] ته د هغه مال ثلث ورکوي کوم چې د ده په قبضه کې دی وَهٰذَا اِسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَالْقِيَاسُ أَنْ يُعْطِيَهُ نِصْفَ مَا فِي يَدِهِ او قیاس دا دی چې مُقِر ځوی به د هغه مال نیمه حصه ورکوي کوم چې د ده په قبضه کې دی وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی لِأَنَّ إِقْرَارَهُ بِالثُّلُثِ لَهُ تَضَمَّنَ إِقْرَارَهُ بِمُسَاوَاتِهِ إِيَّاهُ ځکه د مُقِر له طرفه د موصیٰ لهٔ لپاره د ثلث اقرار کول متضمن دي د ده اقرار کولو لره د خپل ځان سره د هغه [موصیٰ لهٔ] د مساوات [یعنې مُقِر چې د موصیٰ لهٔ لپاره د ثلث مال اقرار کړی دی. هغه دې خبرې لره متضمن دی چې زما او د موصیٰ لهٔ [مُقر لهٔ] حصه سره مساوي او برابره ده] وَالتَّسْوِيَةُ فِي إِعْطَاءِ النِّصْفِ لِيَبْقٰى لَهُ النِّصْفُ او برابري د نیمې حصې په ورکولو کې ده چې د مُقِر لپاره نیمه حصه پاته سي وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّهُ أَقَرَّ لَهُ بِثُلُثٍ شَائِعٍ فِي التَّرِكَةِ د استحسان دلیل دا دی چې مُقِر د داسې ثلث اقرار کړی دی کوم چې په میراث کې شائع دی وَهِيَ فِي أَيْدِيهِمَا او میراث د دوی دواړو [ځامنو] په قبضه کې دی فَيَكُونُ مُقِرًّا بِثُلُثِ مَا فِي يَدِهِ نو ځکه هغه [مُقِر ځوی] به د خپل مقبوضه مال د ثلث اقرار کونکی وي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَقَرَّ أَحَدُهُمَا بِدَيْنٍ لِغَيْرِهِ په خلاف د هغه صورت کله چې له دوی څخه یو ځوی د بل چا لپاره د قرض اقرار وکړي لِأَنَّ الدَّيْنَ مُقَدَّمٌ عَلَى الْمِيرَاثِ ځکه چې قرض پر میراث مخکې وي فَيَكُونُ مُقِرًّا بِتَقَدُّمِهِ نو ځکه هغه به د دې بل چا د مخکې کېدلو اقرار کونکی وي فَيُقَدَّمُ عَلَيْهِ نو ځکه هغه به پر مُقِر ځوی [وارث] باندې مخکې کول کېږي.

اللغات: ﴿تضمّن﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: متضمن کېدل. ضمناً شاملېدل. ﴿مُقِرّ﴾ د افعال د باب فاعل دی: اقرار کونکی. ﴿مساواة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: برابري. یو د بل سره برابرېدل.

﴿تسوية﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: برابري کول، يو د بل سره برابرول. ﴿يُقدّم﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده: مقدّم کول، مخکي کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي د زيد مثلاً دوه ځامن دي: خالد او حامد. بيا زيد وفات سو او زر درهمه ميراث يې پرېښوودی چي هغه دواړو ځامنو په خپل مينځ کي تقسيم کړی او تر تقسيم وروسته يوه ځوی ووېل چي مرحوم پلار د فلانکي سړي مثلاً د شاکر لپاره د ثلث مال وصيت کړی وو. نو په دې صورت کي د استحسان تقاضا دا ده چي کوم ځوی د شاکر لپاره د وصيت اقرار کړی دی، هغه به له خپلي حصې (يعني له پنځو سوو درهمو) څخه يو ثلث مُقَرلهٗ (شاکر) ته ورکوي او کوم ځوی چي اقرار نه دی کړی، هغه بري الذمی دی يعني هغه به هيڅ هم نه ورکوي بلکي صرف مُقِر ځوی به يې ورکوي؛ ځکه قاعده دا ده چي کوم يو مُقِر وي، صرف هاغه په خپل اقرار کي مأخوذ کيږي او د يوه اقرار د بل په حق کي نه معتبر کيږي.

د قياس تقاضا دا ده چي مُقِر ځوی به مُقَرلهٗ ته د خپلي حصې نصف مال (دوه نيم سوه درهمه) ورکوي، نه ثلث. همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی؛ دليل يې دا دی چي د مُقِر له طرفه د مُقَرلهٗ لپاره د ثلث مال اقرار کول دې خبري لره متضمن دی چي د مُقَرلهٗ او د مُقِر حصه سره برابره ده او برابري په همغه صورت کي ثابتيږي کله چي مُقِر د خپلي حصې نصف (نيمه حصه) و مقرلهٗ ته ورکړي. لېکن دلته قياس پرېښوول سوی دی او په استحسان عمل سوی دی؛ او د استحسان دليل دا دی چي مُقِر د مقرلهٗ لپاره د داسي ثلث اقرار کړی دی کوم چي په ټوله ميراث کي شائع دی او د پلار ميراث د دواړو ځامنو په قبضه کي دی او يو ځوی د اقرار نه کولو په وجه بری الذمه دی. نو ځکه مُقِر ځوی به د خپلي حصې ثلث مُقَرلهٗ ته ورکوي.

بخلاف ما إذا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که مُقِر ځوی د يو چا لپاره پر خپل پلار د لازم سوي قرض اقرار وکړي (چي زما په پلار باندي مثلاً د شاکر قرض باندي دی)، نو په دې صورت کي به د مُقِر له حصې څخه پوره قرض اداء کول کيږي که څه هم د مُقِر ټوله حصه په قرض کي ختمه سي؛ ځکه قرض پر ميراث مخکي وي يعني قرضخواه (د قرض مالک) پر وارثانو (ځامنو او نورو) باندي مخکي کول کيږي يعني د مړي له ميراث څخه تر ټولو مخکي د هغه قرض اداء کول کيږي. لهذا د يو سړي لپاره د قرض اقرار کول په حقيقت کي د دې خبري اقرار کول دي چي هغه سړی (مقرلهٗ) د مړي د ميراث تر ټولو مخکي او زيات حقدار دی. نو ځکه د مړي په ميراث کي به تر ټولو مخکي د هغه حق ور کول کيږي.

مُوصیٰ لهٗ د وارثانو سره شريک کيږي

أَمَّا الْمُوْصٰى لَهٗ بِالثُّلُثِ شَرِيْكُ الْوَارِثِ او پاته سو هغه کس چې د هغه لپاره د ثلث وصيت سوی وي [هغه] د وارث شريک دی فَلَا يُسَلَّمُ لَهٗ شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَسْلَمَ لِلْوَرَثَةِ ثُلُثَاهُ نو هغه ته به هيڅ شی نه سپارل کيږي مګر [په هغه صورت کې] چې د وارثانو لپاره د ميراث دوه ثلثه سالم پاته سي وَلِأَنَّهٗ لَوْ أَخَذَ مِنْهُ نِصْفَ مَا فِيْ يَدِهٖ او ځکه چې که هغه [موصیٰ لهٗ] له مُقر څوی څخه د هغه د مقبوضه مال نصف واخلي فَرُبَّمَا يُقِرُّ الِابْنُ الْآخَرُ بِهٖ أَيْضًا نو کېدای سي چې دويم څوی هم د هغه اقرار وکړي فَيَأْخُذُ نِصْفَ مَا فِيْ يَدِهٖ نو موصیٰ لهٗ به د هغه [دويم مُقر څوی] د مقبوضه مال نصف هم اخلي فَيَصِيْرُ نِصْفَ التَّرِكَةِ نو هغه [اخيستل سوی مال] به نيم ميراث وګرځي فَيُزَادُ عَلَى الثُّلُثِ نو هغه به تر ثلث زيات سي.

اللغات: ﴿موصٰى لهٗ﴾ د افعال د باب مفعول دی: د چا لپاره چې وصيت سوی وي. ﴿لا يُسلّم﴾ د تفعيل له بابه د نفي مضارع صيغه ده: ورسپارل. ورکول. ﴿يَسْلَمُ﴾ د سمع له بابه د مضارع صيغه ده: سالم پاتېدل، د يو چا لپاره يو شی مخصوص کېدل (خاص کېدل). ﴿التَّرِكَة﴾ (د راء په کسره سره) او التِرْكَة: مړی چې کوم مالونه پرې اېښي وي هغه ته "ترکه" ويل کيږي. ميراث. ﴿يزداد﴾ د افتعال د باب ماضي ده: زياتېدل. اضافه کېدل.

تشريح: مخکې ذکر سوه چې که مُقر څوی د يو چا لپاره د قرض اقرار کړی وي (يعني مقر لهٗ قرضخواه وي)، نو هغه به پر وارثانو مخکې کول کيږي، لېکن که د يو چا لپاره يې د ثلث مال وصيت کړی وي (يعني مقرلهٗ موصیٰ لهٗ وي)، نو په دې صورت کې به هغه پر وارثانو نه مخکې کول کيږي بلکې د وارثانو لپاره د دوو ثلثو تر پرېښودلو وروسته به هغه ته څه ورکول کيږي: ځکه موصیٰ لهٗ فقط د ثلث مال مستحق دی نو که چيري موږ هغه ته د مُقر څوی له حصې څخه نصف (نيمه حصه) ورکړو او بيا د مړي دويم څوی هم د هغه په حق کې اقرار وکړي او د هغه له حصې څخه هم نصف ورکول سي نو دا به تر ثلث زيات سي او نصف ميراث به سي، حال دا چې د هغه حق فقط ثلث دی. نه نصف. نو ځکه موصیٰ لهٗ ته صرف تر ثلث المال پوري د مال ورکولو اجازه سته او هغه ته به تر ثلث زيات نه ورکول کيږي.

د داسي مینځي وصیت کول کوم چي د موصي تر وفات وروسته بچی وزیږوي (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى لِرَجُلٍ بِجَارِيَةٍ فرمایي: او څوک چي د یو سړي لپاره د یوې مینځي وصیت وکړي فَوَلَدَتْ بَعْدَ مَوْتِ الْمُوْصِیْ وَلَدًا بیا مینځه د موصي تر مرګ وروسته یو بچی وزیږوي وَكِلَاهُمَا يَخْرُجَانِ مِنَ الثُّلُثِ او دوی دواړه [مینځه او بچی] [د میراث] له ثلث څخه وځي [یعني د دواړو قیمت دومره وي چي د میراث له ثلث (دریمي حصې) څخه وځي یعني په میراث کي له دوی څخه بغیر دوه ثلثه یا تر دې زائد مال موجود وي] فَهُمَا لِلْمُوْصٰى لَهٗ نو [په دې صورت کي] دوی دواړه د موصیٰ لپاره دي لِأَنَّ الْأُمَّ دَخَلَتْ فِي الْوَصِيَّةِ أَصَالَةً وَالْوَلَدُ تَبَعًا ځکه مور اصالةً په وصیت کي داخله ده او بچی تبعاً [د مور د تابع په توګه] پکښي داخل دی حِيْنَ كَانَ مُتَّصِلًا بِالْأُمِّ ځکه چي هغه د مور سره متصل وو فَإِذَا وَلَدَتْ قَبْلَ الْقِسْمَةِ نو کله چي مینځي تر تقسیم مخکي بچی وزیږوي وَالتَّرِكَةُ قَبْلَهَا مُبْقَاةٌ عَلٰى مِلْكِ الْمَيِّتِ او میراث تر تقسیم مخکي د مړي پر ملکیت باقي پاته وي حَتّٰى يُقْضٰى بِهَا دُيُوْنُهٗ همدا وجه ده چي له هغه څخه د مړي قرضونه اداء کول کیږي دَخَلَ فِي الْوَصِيَّةِ نو بچی به [هم] په وصیت کي داخلیږي فَيَكُوْنَانِ لِلْمُوْصٰى لَهٗ نو ځکه دوی دواړه [بچی او مینځه] به د موصیٰ لهٗ لپاره وي وَإِنْ لَمْ يَخْرُجَا مِنَ الثُّلُثِ او که دوی دواړه له ثلث څخه نه وځي ضَرَبَ بِالثُّلُثِ نو موصیٰ لهٗ به ثلث اخلي وَأَخَذَ مَا يَخُصُّهٗ مِنْهُمَا جَمِيْعًا او له دوی دواړو څخه به هغه مقدار اخلي کوم چي د ده سره خاص وي [یعني له دواړو څخه به نصف ثلث اخلي] فِيْ قَوْلِ أَبِيْ يُوْسُفَ وَمُحَمَّدٍ د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په قول کي وَقَالَ أَبُوْ حَنِيْفَةَ۞: يَأْخُذُ ذٰلِكَ مِنَ الْأُمِّ او امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمایي: چي موصیٰ لهٗ به [اول] له مور څخه ثلث اخلي فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ بیا که څه مقدار پاته سي أَخَذَهٗ مِنَ الْوَلَدِ نو هغه به له بچي څخه اخلي.

اللغات: ﴿مُبْقَاة﴾ د افعال له بابه د واحد مؤنث مفعول صیغه ده: باقي ساتل سوی، باقي پاته کړی سوی. ﴿يُقْضٰى﴾ د ضرب د باب مضارع مجهوله ده، د دې باب له معناوو څخه یوه معنیٰ ده: اداء کول. ﴿فضل﴾ د نصر د باب ماضي ده: اضافه کېدل، زیاتېدل، زائد پاتېدل.

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، انظر للتوضيح [القول الراجح ج:۲، ص:۳۷۹]

تشریح : مسئله: دا ده که زید مثلاً د حامد لپاره د خپلې مینځې وصیت وکړی چې زما تر مرګ وروسته دې زما دا مینځه حامد ته ورکول سي. بیا د موصي (زید) تر مرګ وروسته مینځې بچی وزېږوی. نو تر ټولو مخکې به دې ته کتل کیږي چې د موصي (زید) په میراث کې له هغه مینځې او بچي څخه بغیر نور دوه ثلثه یا تر دې زائد مال سته که نه؟، که چیرې له دوی څخه بغیر د موصي په میراث کې دوه ثلثه مال وي. نو موصیٰ لهٗ ته به مینځه او بچی دواړه ورکول کیږي، ځکه مینځه اصالتاً په وصیت کې داخلیږی او بچی تبعاً داخلیږي؛ ځکه بچی د وصیت په وخت کې د مور سره متصل وو. لهذا د مور په متابعت کې به هغه هم په وصیت کې داخلیږي. او تر تقسیم مخکې د مړي میراث د مړي په ملکیت کې شمېرل کیږي، په همدې وجه له میراث څخه تر ټولو مخکې د مړي قرضونه اداء کول کیږي، نو ځکه تر وصیت وروسته پیدا کېدونکی بچی به هم د مړي په میراث کې شامل وي او د مور سره به په وصیت کې داخلیږي.

وإن لم یخرجا إلخ: د دې حاصل دا دی چې که دا مور او بچی له دوو ثلثو څخه نه وځي یعني له دوی دواړو څخه بغیر د موصي په میراث کې دوه ثلثه یا تر دې زائد مال نه وي، نو په دې صورت کې به موصیٰ لهٗ د مینځې او بچي دواړو څخه ثلث اخلي یعني له هر یوه څخه به نیم ثلث اخلي. لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز موصیٰ لهٗ به اول خپل حق یعني ثلث له مینځې څخه اخلي او که په هغه سره ثلث پوره نه سي نو بیا به ما بقی مقدار له بچي څخه اخلي. امام محمد رَحِمَهُ الله د دې یو مثال هم پېش کړی دی چې هغه به په را روان عبارت کې ذکر سي.

د جامع الصغیر په مثال سره د پورتنی اختلافي مسئلې وضاحت

وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ عَيَّنَ صُورَةً وَقَالَ او په جامع صغیر کې امام محمد رَحِمَهُ الله یو صُورت متعین کړی دی او فرمایلي یې دي رَجُلٌ لَهُ سِتُّ مِائَةِ دِرْهَمٍ وَأَمَةٌ تُسَاوِي ثَلَاثَ مِائَةِ دِرْهَمٍ چې د یو سړي سره شپږه سوه درهمه او یوه مینځه ده چې د دریو سوو درهمو سره مساوي ده [یعني د مینځې مالیت درې سوه درهمه دی] فَأَوْصَى بِالْجَارِيَةِ لِرَجُلٍ ثُمَّ مَاتَ نو هغه د یو سړي لپاره د دې مینځې وصیت وکړی بیا موصي مړ سو فَوَلَدَتْ وَلَدًا يُسَاوِي ثَلَاثَ مِائَةِ دِرْهَمٍ قَبْلَ الْقِسْمَةِ بیا مینځې تر تقسیم مخکې یو بچی وزېږوی چې هغه د دریو سوو درهمو سره مساوي وو فَلِلْمُوصَى لَهُ الْأُمُّ وَثُلُثُ الْوَلَدِ عِنْدَهُ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د موصیٰ لهٗ لپاره مور [مینځه] او د بچي ثلث [درېیمه حصه]

ده وَعِندَهُمَا لَهُ ثُلُثَا كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز د موصیٰ لهٗ لپاره له دواړو څخه د هر يوه دوه ثلثه دي.

اللغات: ﴿عيّن﴾ د تفعيل د باب ماضيده: معيّن كول، متعيّنول. ﴿جارية﴾ مينځه. ﴿مُوصٰى لهٗ﴾ د افعال د باب مفعول دی: د چا لپاره چي وصيت سوی وي.

تشريح: په مخکني مسئله کي چي د امام صاحب او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله تر مينځ کومه مختلف فيها مسئله بيان سوې ده، دلته د هغه مثال ذکر کوي چي د هغه تفصيل دا دی چي د يو سړي سره مثلاً د زيد سره شپږ سوه درهمه او يوه مينځه ده چي د هغې ماليت درې سوه درهمه دی او زيد د خالد لپاره د هغه مينځي وصيت وکړی. بيا د موصي (زيد) تر مرګ وروسته او د ميراث تر تقسيم مخکي هغې مينځي يو بچی وزېږوی او د هغه بچي ماليت هم درې سوه درهمه دی. نو اوس د مړي (زيد) ټوله ميراث ۱۲۰۰ درهمه سو چي د هغه ثلث ۴۰۰ درهمه کيږي، نو په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز موصیٰ لهٗ (خالد) ته به مينځه ورکول کيږي چي د هغې ماليت درې سوه درهمه دی. خو څرنګه چي تر اوسه د موصیٰ لهٗ حق يعني ثلث (۴۰۰ درهمه) نه دی پوره سوی، نو ځکه بچي چي ماليت يې درې سوه درهمه دی د هغه يو ثلث (يعني سل درهمه) به ورکول کيږي چي دا ټوله به څلورمه درهمه سي کوم چي د مذکوره ميراث (يعني د ۱۲۰۰ درهمو) يو ثلث دی (ځکه د ۱۲۰۰ درهمو يو ثلث ۴۰۰ درهمه کيږي).

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز موصیٰ لهٗ ته به د مينځي او بچي دواړو دوه، دوه ثلثه ورکول کيږي او د دوی هر يوه دوه ثلثه دوه سوه درهمه کيږي، لهذا د دواړو دوه ثلثه څلور سوه درهمه دي کوم چي د مذکوره ميراث يو ثلث دی.

په پورتني مسئله کي د امامانو دلائل

لَهُمَا مَا ذَكَرْنَا أَنَّ الْوَلَدَ دَخَلَ فِي الْوَصِيَّةِ تَبَعًا حَالَةَ الِاتِّصَالِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل هغه دی کوم چي موږ ذکر کړی چي بچی [د مور] سره د متصل کېدلو په حالت کي په وصيت کي تبعاً داخل دی فَلَا يَخْرُجُ عَنْهَا بِالِانْفِصَالِ نو ځکه د منفصل کېدلو په وجه به بچی له وصيت څخه نه وځي كَمَا فِي الْبَيْعِ وَالْعِتْقِ لکه څرنګه چي په بيع او عتق کي دي فَتَنْفُذُ الْوَصِيَّةُ فِيهِمَا عَلَى السَّوَاءِ مِنْ غَيْرِ تَقْدِيمِ الْأُمِّ نو ځکه په دوی دواړو [مور او بچي] کي به په برابرۍ سره وصيت نافذيږي بغير د مور له

مخکې کولو څخه وَلَهُ: أَنَّ الْأُمَّ أَصْلٌ وَالْوَلَدُ تَبَعٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې مور اصل دی او بچی [د هغې] تابع دی وَالتَّبَعُ لَا يُزَاحِمُ الْأَصْلَ او تابع د اصل نه مزاحم کیږي فَلَوْ نَفَّذْنَا الْوَصِيَّةَ فِيهِمَا جَمِيعًا نو مونږ که چیرې په مور او بچي دواړو کې وصیت نافذ کړو تَنْتَقِضُ الْوَصِيَّةُ فِي بَعْضِ الْأَصْلِ نو د اصل [مور] په بعضې حصه کې به وصیت مات سي وَذَلِكَ لَا يَجُوزُ او دا جائز نه دی بِخِلَافِ الْبَيْعِ په خلاف د بیع لِأَنَّ تَنْفِيذَ الْبَيْعِ فِي التَّبَعِ لَا يُؤَدِّي إِلَى نَقْضِهِ فِي الْأَصْلِ ځکه په تابع [بچي] کې د بیع نافذول په اصل [مور] کې د بیع ماتېدلو سبب نه ګرځي بَلْ يَبْقَى تَامًّا صَحِيحًا فِيهِ بلکې په اصل [مور] کې بیع تام او صحیح پاتېږي إِلَّا أَنَّهُ لَا يُقَابِلُهُ بَعْضُ الثَّمَنِ خو د اصل په مقابله کې د ثمن بعضې حصه نه سي راتللای ضَرُورَةَ مُقَابَلَتِهِ بِالْوَلَدِ د دې ضرورت په چې هغه [د ثمن بعضې حصه] د بچي په مقابله کې راځي إِذَا اتَّصَلَ بِهِ الْقَبْضُ کله چې د بچي سره قبضه متصله سي [د پوره جملې حاصل دا دی چې کله پر بچي قبضه وسي نو څرنګه چې د ثمن څه حصه د بچي په مقابله کې راغله. نو د اصل (مور) په مقابله کې چې کوم ثمن وو په هغه کې څه کمي راغله] وَلَكِنَّ الثَّمَنَ تَابِعٌ فِي الْبَيْعِ لیکن په بیع کې ثمن تابع دی حَتَّى يَنْعَقِدَ الْبَيْعُ بِدُونِ ذِكْرِهِ وَإِنْ كَانَ فَاسِدًا همدا وجه ده چې د ثمن له ذکر څخه بغیر هم بیع منعقد کیږي که څه هم هغه فاسده وي هَذَا إِذَا وَلَدَتْ قَبْلَ الْقِسْمَةِ دا هغه وخت دي کله چې مینځې تر تقسیم مخکې بچی زېږولی وي فَإِنْ وَلَدَتْ بَعْدَ الْقِسْمَةِ لیکن که هغې تر تقسیم وروسته بچی زېږولی وي فَهُوَ لِلْمُوصَى لَهُ نو هغه بچی د موصیٰ له لپاره دی لِأَنَّهُ نَمَاءُ خَالِصِ مِلْكِهِ ځکه چې هغه بچی خالص د ده د ملکیت نما [وده] ده لِتَقَرُّرِ مِلْكِهِ فِيهِ بَعْدَ الْقِسْمَةِ ځکه چې تر تقسیم وروسته په هغه بچي کې د موصیٰ له ملکیت ثابت [او مستحکم] سو.

اللغات: ﴿اتصال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: متصل کېدل. جوختېدل. ﴿انفصال﴾ د انفعال د باب مصدر دی: جلا کېدل. بېلېدل. ﴿لا یزاحم﴾ د مفاعلې له بابه د نفي صیغه ده: مقابل کېدل. مقابله کول. ﴿نفذّنا﴾ د تفعیل له بابه د جمع متکلم ماضي صیغه ده: نافذول. جاري کول. ﴿نماء﴾ وده. اضافه و زیاتوب.

تشریح: په دې عبارت کې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د مخکښې مذکوره مسئلې په هکله د دواړو فریقو دلیلونه بیان کړي دي (او تېر د جامع صغیر عبارت د مذکوره مسئلې لپاره مثال وو). د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله د دلیل حاصل دا دی چي بچی د وصیت په وخت کي د مور سره متصل دی او په وصیت کي داخل دی که څه هم تبعاً داخل دی. لهذا کله چي بچی د اتصال په حالت کي په وصیت کي داخل دی. نو د انفصال په حالت کي به له وصیت څخه نه ایستل کیږي. لکه څوک چي حامله مینځه رانیسي یا یې خرڅه کړي. نو ښکاره ده چي د مور سره بچی (حمل) هم په بیع کي داخلیږي. همدارنګه که څوک حامله مینځه آزاده کړي، نو د مور سره بچی هم آزادیږي او تر ولادت وروسته پر بچي د عبدیت او رقیت حکم نه راګرځي (یعني بچی غلام نه ګرځي). نو همدغسي په مذکوره مسئله کي هم بچی کوم چي د وصیت په وخت کي د مور سره متصل وو. هغه به په وصیت کي داخل شمېرل کیږي، نه خارج، لهذا کله چي مور او بچی دواړه په وصیت کي داخلیږي نو موصیٰ لهٗ به له دواړو څخه خپل حق (ثلث) اخلي او مور به پر بچي نه مخکي کول کیږي یعني صرف له مور څخه به خپل حق یعني ثلث نه اخلي.

وله إن الأمر إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دلیل خاصل دا دی چي په وصیت کي مور اصل ده او بچی د هغې تابع دی او دا مسلمه خبره ده چي تابع د اصل نه مزاحم کیږي. نو څکه په مذکوره مسئله کي به بچی په وصیت کي د خپل مور مزاحم او مقابل نه وي او وصیت به په اصل یعني په مور کي نافذیږي. څکه که د صاحبینو د مسلک په څېر موږ هم په مور او بچي دواړو کي وصیت نافذ کړو. نو بچی به د اصل یعني د مور مزاحم سي او د مور په بعضي حصه کي به وصیت باطل سي. حال دا چي په اصل کي د وصیت باطلېدل خلاف اصول دي. نو څکه زموږ په نېز اولاً به په اصل یعني په مور

کي وصيت نافذيږي او که په هغه سره د موصیٰ لهٔ حق يعني ثلث پوره نه سي. نو بيا به ما بقي مقدار له بچي څخه اخيستل کيږي.

بخلاف البيع إلخ: په دې سره د امام صاحب رَحِمَهُ الله له طرفه د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله د قياس جواب ورکول سوی دی. حاصل يې دا دی چي مذکوره مسئله د بيع پر مسئلې قياسول صحيح نه دي: ځکه د بيع په صورت کي چي په تابع (بچي) کي بيع نافذ کړی سی نو په اصل (مور) کي د بيع پر صحت او ساليمت هيڅ اثر نه لوېږي او په اصل (مور) کي د مخکي په څېر بيع صحيح او سالمه پاتيږي ها! پر ثمن څه فرق لوېږي چي په تابع کي د بيع په نافذولو سره له اصل (مور) څخه څه ثمن کميږي او د تابع په مقابله کي هغه څه ثمن راځي، خو په ثمن کي د فرق راتللو په وجه پر بيع هيڅ اثر نه لوېږي: ځکه په بيع کي ثمن تابع وي او د ثمن له ذکر او تعيّن څخه بغير هم بيع منعقد کيږي که څه هم هغه فاسده بيع ګڼل کيږي. لېکن د بيع منعقد کېدل د دې خبري دليل دی چي په بيع کي ثمن تابع دی او په تابع کي په فرق راتللو سره په اصل بيع کي هيڅ فرق نه راځي. نو ځکه د وصيت مذکوره مسئله پر هغه قياسول صحيح نه دي: ځکه په مذکوره مسئله کي که موږ په تابع (بچي) کي وصيت نافذ کړو. نو د اصل (مور) په وصيت کي به فرق راسي او د پوره مينځي پر ځای به صرف د هغې دوه ثلثه موصیٰ بهٔ وګرځي. نو ځکه د وصيت په مسئله کي موږ په تابع کي د وصيت له تنفيذ او تصحيح څخه اجتناب کړی دی.

هذا إلخ: فرمايي چي مذکوره ټوله تفصيلات په هغه صورت کي دي کله چي مينځي (د موصي) د ميراث تر تقسيم مخکي بچی زېږولی وي (لکه په شروع کي چي ذکر سوه). لېکن که مينځي تر تقسيم وروسته بچی زېږولی وي. نو په دې صورت کي بلا شبهه هغه بچی د موصیٰ له کيږي او په دې کي هيڅ خبره او نزاع نسته: ځکه په دې صورت کي بچی خالص د موصیٰ لهٔ د ملکيت نماده نو خالص د هغه حق دی. ځکه تر تقسيم وروسته په بچي کي د موصیٰ لهٔ ملکيت مستحکم او مضبوط سو. نو ځکه اوس بل چا ته په هغه کي د څه لاس وهلو اجازه نسته. فقط والله أعلم وعلمه أتم



فَصْلٌ فِيْ اِعْتِبَارِ حَالَةِ الْوَصِيَّةِ

(دا) فصل د وصیت د حالت په اعتبار کولو کي دی

تشریح: مخکي دا خبره ذکر سوه چي که وارثان د وصیت اجازه نه ورکړي، نو وصیت فقط په ثلث مال کي نافذیږي او له ثلث څخه په زیات مقدار کي نه نافذیږي. او په دې فصل کي د دې احکام بیانول کیږي چي په وصیت کي د وصیت د ایجاب وخت معتبر دی او که د موصي د مرګ حالت معتبر دی. او څرنګه چي وصیت موصوف او متبوع دی او د هغه حالت تابع او صفت دی او صف له موصوف څخه مؤخر وي. نو د دې قاعدې په رعایت کولو سره صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله وصیت مخکي کړی دی او د هغه حالت یې وروسته بیان کړی دی.

په مرضُ الموت کي د اجنبیه (پردۍ) ښځي لپاره د قرض اقرار کول یا د یو شي وصیت او هبه کول او بیا نکاح ورسره کول (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَإِذَا أَقَرَّ الْمَرِيْضُ لِامْرَأَةٍ بِدَيْنٍ فرمایي: او کله چي مریض د یوې ښځي لپاره د قرض اقرار وکړي أَوْ أَوْصٰى لَهَا بِشَيْءٍ یا د هغې لپاره د یو شي وصیت وکړي أَوْ وَهَبَ لَهَا یا هغې ته یو شی هبه کړي ثُمَّ تَزَوَّجَهَا ثُمَّ مَاتَ بیا مریض د هغې سره نکاح وکړي او بیا مریض مړ سي جَازَ الْإِقْرَارُ وَبَطَلَتِ الْوَصِيَّةُ وَالْهِبَةُ نو اقرار جائز دی او وصیت او هبه باطله ده لِأَنَّ الْإِقْرَارَ مُلْزِمٌ بِنَفْسِهِ ځکه چي اقرار بذات خود لازمونکی دی وَهِيَ أَجْنَبِيَّةٌ عِنْدَ صُدُوْرِهِ او د اقرار صادرېدلو په وخت کي هغه ښځه اجنبیه [پردۍ] ده وَلِهٰذَا يُعْتَبَرُ مِنْ جَمِيْعِ الْمَالِ او په همدې وجه اقرار له ټوله مال څخه معتبر کیږي وَلَا يَبْطُلُ بِالدَّيْنِ او د قرض په وجه اقرار نه باطلیږي إِذَا كَانَ فِيْ حَالَةِ الصِّحَّةِ أَوْ فِيْ حَالَةِ الْمَرَضِ کله چي اقرار د صحت په حالت کي وي یا د مرض په حالت کي وي إِلَّا أَنَّ الثَّانِيَ يُؤَخَّرُ عَنْهُ خو دویم [د حالتِ مرض والا] به له اول [حالتِ صحت والا] څخه وروسته کول کیږي بِخِلَافِ الْوَصِيَّةِ په خلاف د وصیت لِأَنَّهَا إِيْجَابٌ عِنْدَ الْمَوْتِ ځکه وصیت د مرګ په وخت کي ایجاب دی [في الحاله

ایجاب نه دی] وَهِيَ وَارِثَةٌ عِنْدَ ذٰلِكَ او دا ښځه [د مریض] د مرګ په وخت کي [د هغه] وارثه ده وَلَا وَصِيَّةَ لِلْوَارِثِ او د وارث لپاره وصیت نسته وَالْهِبَةُ وَإِنْ كَانَتْ مُنَجَّزَةً صُوْرَةً او [د مریض] هبه که څه هم د صورت په اعتبار سره منجزه وي فَهِيَ كَالْمُضَافِ إِلٰى مَا بَعْدَ الْمَوْتِ حُكْمًا خو هغه د حکم په اعتبار سره داسي وي لکه تر مرګ وروسته وخت ته مضاف [په لنډه وینا دا چي د مریض هبه حکماً د وصیت په درجه کي ده] لِأَنَّ حُكْمَهَا يَتَقَرَّرُ عِنْدَ الْمَوْتِ ځکه د هبې حکم تر مرګ وروسته ثابتیږي أَلَا تَرٰى أَنَّهَا تَبْطُلُ بِالدَّيْنِ الْمُسْتَغْرِقِ آیا ته نه ګورې! چي د مستغرق قرض په وجه هبه باطلیږي وَعِنْدَ عَدَمِ الدَّيْنِ تُعْتَبَرُ مِنَ الثُّلُثِ او د قرض د نشتوالي په صورت کي هبه [د مال] له دریمي حصي څخه معتبره کیږي.

اللغات: ﴿ملزم﴾ د افعال د باب فاعل دی: لازمونکی. ﴿منجزة﴾ د افعال د باب له بابه د واحد مؤنث مفعـول صـیغه ده: فـوراً واقـع کېـدونکی (هغه شـی کـوم چـي سمدستـي واقـع کیـږي)، غیـر معلـق. ﴿المستغرق﴾ د استفعال د باب مفعول دی: ډوب کړی سوی. دین مستغرق: هغه قرض چي ټوله میراث ونیسي (د ټوله میراث په اندازه وي).

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی که یو مریض کس (مثلاً خالد) د یوې اجنبیه ښځي لپاره د څه مال اقرار وکړی. یا یې د هغې لپاره د یو شي وصیت وکړی. یا هغې ته یې یو شی هبه کړی: بیا یې د هغې سره نکاح وکړه او تر دې وروسته مریض (خالد) وفات سو. نو د مذکوره ښځي په حق کي صرف د هغه اقرار صحیح کیږي او هبه او وصیت دواړه شیان باطلیږي. د اقرار د صحت دلیل دا دی چي اقرار بذات خود مُلزم یعني په مُقِر (خالد) باندي د مال لازمونکی دی او دا لزوم علی الفور دی او تر مرګ وروسته وخت ته مضاف نه دی. او ښکاره ده چي په کوم وخت کي هغه مریض (خالد) اقرار کړی دی. په هغه وخت کي هغه د مقرلها ښځي سره نکاح نه ده کړې او هغه ښځه اجنبیه وه او د اجنبیه ښځي لپاره اقرار صحیح دی. نو ځکه دا اقرار صحیح دی او د مُقر له ټوله مال څخه معتبر دی.

او که پر دغه مړ سوي مُقِر (خالد) قرض باندي وي، نو د قرض په وجه دا اقرار نه باطلیږي. برابره ده د حالت صحت وي او که د حالت مرض وي په هر صورت کي اقرار صحیح دی. خو د حالت صحت والا قرض به د حالت مرض والا پر قرض مخکي کول کیږي.

بخلاف الوصية إلخ: په مذکوره مسئله کي وصیت ځکه باطل دی چي په وصیت کي کوم تملیک کیږي هغه ما بعد الموت وخت ته مضاف وي (یا په بله وینا دا چي وصیت والا د موصي تر مرګ وروسته د

موصی به مالک کیږي). او دلته ما بعد الموت او عند الموت هغه ښځه د موصي (خالد) منکوحه ښځه ده او د هغه وارث نه ده. او د وارث لپاره وصیت جائز نه دی. نو ځکه په مذکوره مسئله کي وصیت باطل دی.
او د وصیت سره هبه هم باطله ده: ځکه دا د مرض الموت والا مریض هبه ده او د مرض الموت د مریض هبه که څه هم صورتاً او ظاهراً منجزه (فی الحاله واقع کېدونکې) وي. لیکن د حکم او معنیٰ په اعتبار سره هغه ما بعد الموت ته مضاف کیږي او د وصیت په درجه کي وي. ځکه چي د هغې استحکام او تقرر د مرګ په وخت کیږي. همدا وجه دا ده چي که پر مړي محیط قرض باندي وي. نو هبه باطلیږي او که قرض نه وي. نو د وصیت په څېر هبه هم له ثلث مال څخه نافذیږي. نو ځکه په دې حواله سره هبه د وصیت په درجه کي ده او د مذکوره ښځي لپاره وصیت باطل دی. نو ځکه هبه به هم باطلیږي.

که په مرضُ الموت کي د کافر ځوی لپاره د قرض اقرار یا هبه او وصیت وکړي (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَإِذَا أَقَرَّ الْمَرِيضُ لِابْنِهِ بِدَيْنٍ فرمایي: او کله چي مریض د خپل ځوی لپاره د قرض اقرار وکړي وَابْنُهُ نَصْرَانِيٌّ حال دا چي د هغه ځوی نصراني وي أَوْ وَهَبَ لَهُ یا د هغه [نصراني ځوی] لپاره هبه وکړي أَوْ أَوْصَى لَهُ یا د هغه لپاره وصیت وکړي فَأَسْلَمَ الِابْنُ قَبْلَ مَوْتِهِ بیا ځوی د ده تر مرګ مخکي اسلام راوړي بَطَلَ ذَلِكَ كُلُّهُ نو دا ټوله باطلیږي أَمَّا الْهِبَةُ وَالْوَصِيَّةُ فَلِمَا قُلْنَا إِنَّهُ وَارِثٌ عِنْدَ الْمَوْتِ کوم چي هبه او وصیت دی نو د هغه دلیل په وجه [باطلیږي] کوم چي موږ ذکر کړی چي ځوی [د اسلام راوړلو] په وجه [د پلار] د مرګ په وخت کي وارث دی وَهُمَا إِيجَابَانِ عِنْدَهُ أَوْ بَعْدَهُ او هبه او وصیت د مرګ په وخت کي یا تر مرګ وروسته ایجابونه دي وَالْإِقْرَارُ وَإِنْ كَانَ مُلْزِمًا بِنَفْسِهِ او اقرار که څه هم بذاتِ خود لازمونکی دی وَلَكِنَّ سَبَبَ الْإِرْثِ وَهُوَ الْبُنُوَّةُ قَائِمٌ وَقْتَ الْإِقْرَارِ لیکن د ارث [وارث کېدلو] سبب یعني بنوّت [ځوی والی] د اقرار په وخت کي موجود دی فَيُعْتَبَرُ فِي إِيرَاثِ تُهْمَةِ الْإِيثَارِ نو [د ارث د سبب] اعتبار به کول کیږي د ایثار په تهمت پیدا کولو کي بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ په خلاف د مخکني مسئلې [یعني چي مریض د یوې ښځي لپاره اقرار وکړي بیا د هغې سره نکاح وکړي. نو اقرار نه باطلیږي] لِأَنَّ سَبَبَ الْإِرْثِ الزَّوْجِيَّةُ ځکه چي [هلته] د ارث سبب زوجیت [نکاح کول] دي وَهِيَ طَارِئَةٌ او زوجیت [هلته] وروسته واقع کېدونکی دی [یعني د اقرار په وخت کي د سړي او ښځي تر مینځ نکاح نه وه] حَتَّى لَوْ كَانَتِ الزَّوْجِيَّةُ قَائِمَةً وَقْتَ الْإِقْرَارِ تر دې چي که د اقرار په وخت کي زوجیت موجو

وي وَهِيَ نَصْرَانِيَّةٌ حال دا چي هغه ښځه نصرانيه وي ثُمَّ أَسْلَمَتْ قَبْلَ مَوْتِهِ بيا هغه د مُقِر خاوند تر مرګ مخکي اسلام راوړي لَا يَصِحُّ الْإِقْرَارُ نو اقرار نه صحيح کيږي لِقِيَامِ السَّبَبِ حَالَ صُدُورِهِ ځکه د اقرار صادر يدلو په حالت کي دارث سبب قائم (موجود) دی.

اللغات: ﴿أسلم﴾ د افعال د باب ماضي ده: اسلام راوړل، مسلمان کېدل. ﴿إيجاب﴾ د افعال د باب مصدر دی: واجبول، ثابتول. ﴿بنوّة﴾ ځوی والی (زوی والی)، زوی کېدل. ﴿زوجيّة﴾ زواج، سړی او ښځه سره يو ځای کېدل (يو د بل خاوند او ښځه کېدل)، واده، نکاح.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چي مثلاً زيد په مرض الموت مبتلا دی او د هغه يو ځوی دی کوم چي نصراني دی. هغه د خپل ځوی لپاره د قرض اقرار وکړی، يا هغه ته يې يو شی هبه کړی، يا د هغه لپاره يې د يو شي وصيت وکړی. او د پلار (خالد) تر مرګ مخکي د هغه نصراني ځوی مسلمان سو. نو څرنګه چي اوس هغه ځوی د خپل پلار وارث سوی دی. نو ځکه اوس د هغه په حق کي د پلار اقرار، هبه او وصيت ټوله باطل دي؛ د هبې او وصيت د باطلېدلو دليل خو هغه مخکينی دی چي تر مرګ مخکي د اسلام راوړلو په وجه دا نصراني ځوی د خپل پلار وارث وګرځېدی. نو ځکه د "لا وصية للوارث" په روی سره د هغه په حق کي وصيت او هبه دواړه باطل دي." وهما إيجابان عنده أو بعده" يعني وصيت او هبه دواړه په يوه درجه کي دي چي په دواړو کي داسي ايجاب کيږي چي په هغه کي تمليک د مرګ په وخت کي يا تر مرګ وروسته ثابتيږي، دلته صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د "تمليك مضاف إلى زوال الأهلية" په لحاظ سره "عِنْدَه" (عند الموت) ويلي دي او د "التركة مبقاء على ملك الميت بعد الموت" په لحاظ سره يې "أو بَعْدَه" ويلي دي.

والإقرار إلخ: په مخکني مسئله کي د خاوند له طرفه د ښځي په حق کي اقرار معتبر او صحيح وو، ليکن د دغه ځوی په حق کي اقرار هم باطل دی؛ د دې وجه دا ده چي ځوی ته کوم ميراث حاصليږي. هغه د ځوی د مسلمان کېدلو په وجه نه ورته حاصليږي، بلکي په دې وجه ورته حاصليږي چي د هغه د مورث (خالد) ځوی دی او د اقرار په وخت کي هم هغه د مورث ځوی وو، او په هغه وخت کي مورث د ځوی په حق کي په اقرار کولو سره ځوی ته پر خپلو نورو وارثانو ترجيح ورکول غواړي. نو ځکه د دې ترجيح (ايثار) د تهمت ختمولو لپاره د دغه ځوی په حق کي اقرار هم باطل ګرځول سوی دی.

د دې په خلاف په مخکنۍ مسئله کې د ښځې په حق کې د مُقر اقرار صحیح دی: ځکه د اقرار په وخت کې هغه ښځه اجنبیه ده او اوس هغه د نکاح په وجه د خپل خاوند وارثه ګرځېدلې ده او د اقرار په وخت کې نکاح او زوجیت معدوم وو. همدا وجه ده که دا ښځه د اقرار په وخت کې د مقر ښځه وي که څه هم نصرانیه وي او وروسته مسلمانه سي. نو د هغې په حق کې هم اقرار باطلیږي. ځکه چې اوس د هغې په حق کې سبب ارث (د وارث کېدلو سبب) او د ترجیح تهمت موجود دی.

د غلام یا مکاتب څوی لپاره د اقرار، هبې او د وصیت کولو حکم او تفصیل

وَكَذَا لَوْكَانَ الِابْنُ عَبْدًا أَوْ مُكَاتَبًا فَأُعْتِقَ او همدارنګه که چیري څوی غلام یا مکاتب وي بیا هغه آزاد کړی سي [نو په دې صورت کي هم اقرار. وصیت او هبه باطلیږي] لِمَا ذَكَرْنَا د هاغه دلیل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَذُكِرَ فِي كِتَابِ الْإِقْرَارِ او [د مبسوط] په کتاب الاقرار کي ذکر سوي دي إِنْ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ دَيْنٌ که چیري پر غلام قرض نه وي يَصِحُّ نو اقرار صحیح کیږي لِأَنَّهُ أَقَرَّ لِمَوْلَاهُ وَهُوَ أَجْنَبِيٌّ ځکه [په دې صورت کي] مُقر د غلام د مالک لپاره اقرار کړی دی او مالک اجنبي دی وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ او که پر غلام قرض وي لَا يَصِحُّ نو اقرار نه صحیح کیږي لِأَنَّهُ إِقْرَارٌ لَهُ وَهُوَ ابْنُهُ ځکه [په دې صورت کي] اقرار د غلام لپاره اقرار دی [نه د هغه د مالک لپاره] او غلام د مُقر څوی دی وَالْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌ لِمَا ذَكَرْنَا أَنَّ الْمُعْتَبَرَ فِيهَا وَقْتُ الْمَوْتِ او وصیت د هغه دلیل په وجه باطل دی کوم چي موږ ذکر کړی چي په وصیت کي د مرګ وخت معتبر دی وَأَمَّا الْهِبَةُ فَيُرْوَى أَنَّهَا تَصِحُّ او کوم چي هبه ده نو روایت سوی دی [یعني یو روایت دا دی] چي دا هبه صحیح کیږي لِأَنَّهَا تَمْلِيكٌ فِي الْحَالِ ځکه هغه فی الحاله تملیک [مالک جوړول] دی وَهُوَ رَقِيقٌ او [فی الحاله] هغه غلام دی وَفِي عَامَّةِ الرِّوَايَاتِ هِيَ فِي مَرَضِ الْمَوْتِ بِمَنْزِلَةِ الْوَصِيَّةِ او په عام روایت کي دي چي په مرض الموت کي هبه د وصیت په درجه کي ده فَلَا تَصِحُّ نو ځکه دا هبه نه صحیح کیږي.

اللغات: ﴿یُروی﴾ د ضرب له بابه مضارع مجهوله ده: روایت کېدل. نقل کېدل. ﴿تملیك﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مالک جوړول. مالک کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که د یو سړي څوی غلام وي یا مکاتب وي او پلار د هغه لپاره اقرار یا هبه یا وصیت وکړي او بیا هغه څوی آزاد کړی سی، نو د هغه په حق کي هم دا ټوله باطلیږي:

ځکه د اقرار په وخت کې سبب ارث یعني بنوّت (ځوی والی) موجود دی. په "لما ذکرنا" سره صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله همدې دلیل او علت ته اشاره کړې ده

وذکر فی کتاب الإقرار إلخ: د دې حاصل دا دی چې د جامع صغیر له عبارت ځخه خو همدا معلومیږي چې په مذکوره صورت کې د اقرار، وصیت او هبې ټولو حکم برابر دی یعني ټوله باطل دي. لیکن د مبسوط په کتاب الاقرار کې دي چې که پر غلام ځوی قرض باندې نه وي، نو بیا اقرار صحیح کیږي: ځکه دا اقرار به د غلام لپاره نه وي. بلکې د هغه د مالک لپاره به وي او مالک اجنبي دی.
او که چیرې پر هغه قرض باندې وي نو بیا اقرار نه صحیح کیږي: ځکه دا اقرار به د مالک لپاره نه وي. بلکې د غلام لپاره به وي او غلام د مقر ځوی دی او د ځوی لپاره اقرار صحیح نه دی.

والوصیة إلخ: یعني د غلام او مکاتب ځوی لپاره وصیت ځکه باطل دی چې په وصیت کې د مرګ وخت لره اعتبار وي او د مرګ په وخت کې موصی لهٔ (غلام وغیره) د آزاد کېدلو په وجه د موصي وارث دی. نو ځکه د هغه په حق کې وصیت باطل دی.
او د هبې په باره کې دوه روایتونه نقل سوي دي: ① یو دا چې د غلام او مکاتب ځوی لپاره هبه جائز ده: ځکه په هبه کې تملیک فی الحاله کیږي (یعني موهوب لهٔ کس فی الحاله د موهوب شي مالک کول کیږي). او څرنګه چې دلته فی الحاله موهوب لهٔ غلام دی او د واهب وارث نه دی، نو ځکه د هغه په حق کې هبه صحیح ده. ② دویم روایت دا دی چې د هغه په حق کې هبه هم صحیح نه ده: ځکه دا د مرضُ الموت هبه ده او د مرضُ الموت هبه د وصیت په درجه کې وي. حال دا چې د غلام یا مکاتب ځوی په حق کې د پلار وصیت باطل دی. نو ځکه د هغه هبه به هم باطله وي. همدا عام روایت دی.

د شل وشوټ او د فالج او سل ناروغی والا د هبې حکم او د مرضُ الموت وضاحت

قَالَ: وَالْمُقْعَدُ فرمایي: او شل وشوټ [کوم چې پر ولاړېدلو قدرت نه لري] وَالْمَفْلُوْجُ او فالج وهلی وَالْأَشَلُّ او په لاس شل وَالْمَسْلُوْلُ او سِل وهلی [چې سږي یې خراب وي] إِذَا تَطَاوَلَ ذٰلِكَ کله چې دا مرض اوږد سي [ومدة التطاول مقدرة بالسنة] وَلَمْ يُخَفْ مِنْهُ الْمَوْتُ او له هغه څخه د مرګ بېره نه وي فَهِبَتُهُ مِنْ جَمِيْعِ الْمَالِ نو د داسې کس هبه له ټوله مال څخه [معتبره] ده لِأَنَّهُ إِذَا تَقَادَمَ الْعَهْدُ ځکه کله چې زمانه پخوانی سي [یعني زیات وخت تېر سي] صَارَ طَبْعًا مِنْ طِبَاعِهِ نو دا مرض د هغه له

طبیعتونو څخه یو طبیعت وګرځي وَلِهٰذَا لَا يَشْتَغِلُ بِالتَّدَاوِیْ په همدې وجه هغه په علاج کولو نه مشغولیږي وَلَوْصَارَ صَاحِبَ فِرَاشٍ بَعْدَ ذٰلِكَ او که هغه تر دې وروسته د بستر خاوند (بستري) وګرځي فَهُوَ كَمَرَضٍ حَادِثٍ نو دا د نوي مرض په شان دی.

اللغات: ﴿مُقعد﴾ پر کونه ناست. شل وشوټ. کوم چې پر ولاړېدو قدرت نه لري. ﴿مفلوج﴾ د فالج په مرض مبتلا کس. فلج وهلی. چې د بدن یوه حصه او یو طرف بې حسه او بې حرکته وي (حاشیه. معجم الوسیط). ﴿أشلّ﴾ شل. چې لاس یا بل اندام یې بې حسه او بې حرکته وي چې هیڅ کار او حرکت نه کوي. ﴿مسلول﴾ سل وهلی. د سل په مرض مبتلا کس. او سل هغه مرض دی چې د انسان سږي پکښې خراب سي کوم چې انسان ډېر ضعیفه کوي آن تر دې چې هغه وژني. السِّل: مرض يُصيب الرئة يهزل صاحبه ويضنيه ويقتله (معجم الوسيط). ﴿تطاول﴾ د تفاعل د باب ماضي ده. د دې باب له معناوو څخه یوه معنیٰ ده: اوږد عمر والا کېدل. پر یو شي ډېر وخت تېرېدل. زیات وخت کېدل. ﴿التداوي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: دوایي او درملنه کول. علاج کول. ﴿صاحب فراش﴾ د بستر خاوند. بستري. هغه کس چې مَرَض او تکلیف یې دومره سخت سي چې له ولاړي څخه یې وباسي او هغه بستر لازم ونیسي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که یو څوک شل وشوټ وي چې پر ولاړېدلو قادر نه وي. یا د فالج په مرض اخته وي. یا په لاسونو شل وي. یا سِل وهلی وي (یعني سږي یې خراب سوي وي) او د دې یې ډېر وخت کیږي (چې کم از کم یو کال یې کیږي) لیکن له هغه څخه د مرګ خطر نه وي. نو داسي مرضونه مرضُ الموت نه شمېرل کیږي (ځکه مرضُ الموت هغه دی چې له هغه څخه د مرګ او هلاکت بېره غالب وي). لهذا که داسي کس د یو چا لپاره هبه وکړي. نو د هغه هبه له ټوله مال څخه نافذیږي؛ ځکه داسي کس روغ شمېرل کیږي. ځکه کله چې د دې مرضونو ډېر وخت وسي. نو بیا مریض د هغه په زغملو عادت سي او هغه د ده لپاره طبعي شی وګرځي. په همدې وجه مریض یې په علاج و معالجه پروا نه کوي. لهذا د هغه تصرف به له ټوله مال څخه معتبر وي. او که تر دې مرض وروسته هغه کس صاحب فراش وګرځي او بستره لازم ونیسي. نو بیا دا نوی مرض شمېرل کیږي او په دې وخت کي د هغه تصرف فقط له ثلث المال څخه معتبر کیږي.

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَإِنْ وَهَبَ عِنْدَ مَا أَصَابَهُ ذٰلِكَ وَمَاتَ مِنْ أَيَّامِهِ او که چیرې مریض هبه وکړي په هغه وخت کې [کله] چې په دې مرضونو مبتلا وي او [بیا] په هاغه ورځو کې مړ سي فَهُوَ مِنَ الثُّلُثِ إِذَا صَارَ صَاحِبَ فِرَاشٍ نو دا هبه له دریمې حصې څخه [معتبره] ده کله چې هغه د بستر خاوند [بستري] ګرځېدلی وي لِأَنَّهُ يُخَافُ مِنْهُ الْمَوْتُ ځکه چې له دې څخه د مرګ بېره سته وَلِهٰذَا يَتَدَاوٰى په همدې وجه هغه علاج کوي فَيَكُوْنُ مَرَضَ الْمَوْتِ نو دا به د مرګ مرض وي.

اللغات: ﴿أصاب﴾ د افعال د باب ماضي ده: د دې باب ډیرې معناوې دي چې له هغوی څخه ځینې دا دي: رسېدل (یو چا ته مرض وغیره رسېدل)، لګېدل، واردېدل، رسول. ﴿صاحب﴾ د تېر عبارت په لغاتو کې د دې وضاحت وسو.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک په مخکینې مرضونو مبتلا وي یعنې شل وشوټ وي یا د فالج او سِل په مرض مبتلا وي...او په دې حالت کې یو چا ته یو شی هبه کړي او بیا مړ سي. نو که چیرې هغه د دې مرضونو په دوران کې صاحبِ فراش ګرځېدلی وي او بیا مړ سوی وي. نو دا مرض الموت شمېرل کیږي او د هغه هبه له ثلث المال څخه نافذیږي؛ ځکه د صاحبِ فراش کېدلو په وجه د مرګ خطره له همدې مرض څخه ده. له همدې کبله د صاحبِ فراش کېدلو په حالت کې انسان په علاج او درملنه مشغولیږي، نو ځکه دا مرض الموت شمېرل سوی دی. او په مرض الموت کې د انسان تصرّف فقط په ثلث کې معتبر کیږي. نو ځکه د دغه کس تصرّف به هم صرف په ثلث المال کې معتبر وي.



بَابُ الْعِتْقِ فِيْ مَرَضِ الْمَوْتِ

(دا) باب د مرګ په مرض کي د (غلام) آزادولو (په بیان کي) دی

تشریح: څرنګه چي په مرضُ الموت کي آزادول د وصیت په درجه کي دي: ځکه آزادونکی (مُعتِق) په داسي زمانه کي تبرّع کوي چي د هغه د مال (میراث) سره د وارثانو حق متعلق سوی دی، نو ځکه صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله دا باب په کتابُ الوصایا کي بیان کړي دي. خو څرنګه چي صریح وصیت اصل دی او عتق يې فرع دی، نو ځکه له صریح وصیت څخه يې هغه مؤخّر کړی دی.

په مرضُ الموت کي غلام آزادول یا بیع محاباة کول یا هبه کول (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَمَنْ أَعْتَقَ فِيْ مَرَضِهِ عَبْدًا فرمایي: او څوک چي په خپل مرض کي یو غلام آزاد کړي أَوْ بَاعَ وَحَابَى یا [دیو کس سره] بیع وکړي او [په بیع کي] محاباة وکړي أَوْ وَهَبَ یا هبه وکړي فَذٰلِكَ كُلُّهُ جَائِزٌ نو دا ټول جائز دي وَهُوَ مُعْتَبَرٌ مِنَ الثُّلُثِ او دا له ثلث [د مال له دریېمي حصې] څخه معتبر دي وَيُضْرَبُ بِهِ مَعَ أَصْحَابِ الْوَصَايَا او هغه کس به د وصیتونو والا سره په ثلث کي شریک کیږي وَفِيْ بَعْضِ النُّسَخِ: فَهُوَ وَصِيَّةٌ مَكَانَ قَوْلِهِ جَائِزٌ او په ځیني نسخو کي د "جائزٌ" پر ځای "فهو وصيّةٌ" دي وَالْمُرَادُ الِاعْتِبَارُ مِنَ الثُّلُثِ وَالضَّرْبُ مَعَ أَصْحَابِ الْوَصَايَا او له دې څخه مراد له ثلث څخه معتبر کېدل او د وصیتونو والا سره شریک کېدل دي لَا حَقِيْقَةُ الْوَصِيَّةِ نه حقیقي وصیت [یعني له دې څخه اصلي وصیت مراد نه دی] لِأَنَّهَا إِيْجَابٌ بَعْدَ الْمَوْتِ ځکه وصیت تر مرګ وروسته [واقع کېدونکی] إیجاب دی وَهٰذَا مُنَجَّزٌ غَيْرُ مُضَافٍ او دا [تصرف یعني اعتاق وغیره] سمدستي واقع کېدونکی دي کوم چي [د مرګ وطرف ته] مضاف نه دي وَاعْتِبَارُهُ مِنَ الثُّلُثِ لِتَعَلُّقِ حَقِّ الْوَرَثَةِ او دا له ثلث څخه معتبر دی د وارثانو د حق متعلق کېدلو په وجه.

اللغات: ﴿أعتق﴾ د افعال د باب ماضي ده: آزادول. ﴿حابٰى﴾ محاباة کول. د محاباة څو معناوي دي: یو چا ته میلان کول. یو څوک په مال سره خاصول. دیو چا سره په ثمن یا مبیع کي دېر بنه کول.

یعني بائع (دوکاندار) ته پر ارزانه شي ډېر قیمت ورکول. یا یو شی په ډېر کم (ارزانه) قیمت سره خرڅول. دلته همدا آخري معنیٰ مراد ده: په ډېر ارزانه قیمت سره خرڅول. ﴿منجّز﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: فوراً واقع کېدونکی. غیر معلق. غیر مشروط.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک په مرضُ الموت کي خپل غلام آزاد کړي. یا په مرض الموت کي د یو چا سره بیع وکړي او په بیع کي محاباة ورسره وکړي مثلاً د پنځو زرو روپو شی په پنځه سوه روپی ورکړي. یا په مرضُ الموت کي یو چا ته هبه وکړي. نو دا هر تصرف صحیح او جائز دی او هغه به د مال (میراث) له ثلث څخه نافذیږي او د کوم چا لپاره چي یې دا تصرف کړی دی (یعني آزادېدونکی غلام. مشتري. موهوب لهٗ). هغوی په همدې ثُلث المال کي د اصحاب الوصایا سره شریک کېږي (یعني د کومو کسانو لپاره چي مریض وصیتونه کړي وي. د هغو سره په ثلث کي شریکان کېږي).
(خو د دې مطلب دا نه دی چي دوی د اصحابُ الوصایا سره برابر شریکان کېږي؛ لأن العتق المنفذ فی المرض مقدم علی الوصیة بالمال فی الثلث).

وفی بعض النسخ إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي د قدوري په بعضي نسخو کي د "فذلك کله جائز" پر ځای د "فهو وصیّة" عبارت درج دی او د دواړو مطلب یو دی یعني د مریض دا تصرفات جائز دي او د وصیت په څېر به له ثلث المال څخه هغوی نافذیږي.

والضرب إلخ: فرمایي چي دلته کوم څه ویل سوي دي چي موهوب لهٗ یا مشتري وغیره د اصحاب الوصایا سره شریک کېږي یا فهو وصیة. د هغه مطلب دا نه دی چي مذکوره تصرف وصیت دی: ځکه وصیت داسي تملیک دی کوم چي تر مرګ وروسته وخت ته مضاف کېږي. حال دا چي هبه او بیع سملستي نافذېدونکي تصرّفات دي، نو ځکه د فهو وصیة مطلب دی: فهو کالوصیة باعتبار النفاذ من ثلث المال، یعني په ثلث المال کي د نافذېدلو په اعتبار سره هغه د وصیت په څېر دی (چي دواړه له ثلث المال څخه نافذیږي). او له ثلث المال څخه د هغه د نافذېدلو وجه دا ده چي په مرض الموت کي د مریض د مال سره د وارثانو حق متعلق کېږي، او د کوم مال سره چي د وارثانو حق متعلق کېږي. په هغه کي مالک صرف له ثلث المال څخه تبرع کولای سي.

د مرضُ الموت د تصرّفاتو حکم

وَكَذٰلِكَ مَا ابْتَدَأَ الْمَرِيْضُ إِيْجَابَهُ عَلٰى نَفْسِهِ او همدارنګه هر هغه تصرف چي مريض پر خپل ځان د هغه د واجبولو ابتداء کړې وي كَالضَّمَانِ وَالْكَفَالَةِ لکه ضمان او کفاله فِيْ حُكْمِ الْوَصِيَّةِ [نو هغه تصرف] د وصيت په حکم کي دی لِأَنَّهُ يُتَّهَمُ فِيْهِ كَمَا فِي الْهِبَةِ ځکه چي هغه په دې کي [داسي] متهم کيږي لکه ځرنګه چي [په هبه کي متهم کيږي] وَكُلُّ مَا أَوْجَبَهُ بَعْدَ الْمَوْتِ او هر هغه عقد کوم چي مريض تر مرګ وروسته واجب کړی وي فَهُوَ مِنَ الثُّلُثِ نو هغه له ثلث ځخه [معتبر] دی وَإِنْ أَوْجَبَهُ فِيْ حَالِ صِحَّتِهِ که څه هم د خپل صحت په حالت کي يې د هغه ايجاب کړی وي اِعْتِبَارًا بِحَالَةِ الْإِضَافَةِ دُوْنَ حَالَةِ الْعَقْدِ د اضافت د حالت په اعتبار کولو سره، نه د عقد د حالت په اعتبار کولو سره وَمَا نَفَّذَهُ مِنَ التَّصَرُّفِ او مريض چي کوم تصرف نافذ کړی وی فَالْمُعْتَبَرُ فِيْهِ حَالَةُ الْعَقْدِ نو معتبر په هغه کي د عقد حالت دی فَإِنْ كَانَ صَحِيْحًا نو که [د عقد په حالت کي] هغه روغ رمټ وي فَهُوَ مِنْ جَمِيْعِ الْمَالِ نو د هغه تصرف له ټوله مال ځخه [معتبر] دی وَإِنْ كَانَ مَرِيْضًا او که هغه مريض [ناروغه] وي فَمِنَ الثُّلُثِ نو له ثلث ځخه [معتبر] دی وَكُلُّ مَرَضٍ صَحَّ مِنْهُ او هر هغه مرض چي له هغه ځخه مريض روغ رمټ سي فَهُوَ كَحَالِ الصِّحَّةِ نو هغه د روغتيا د حالت په څېر دی لِأَنَّ بِالْبُرْءِ تَبَيَّنَ أَنَّهُ لَا حَقَّ فِيْ مَالِهِ ځکه د جوړېدلو [روغېدلو] په وجه دا خبره ځرګنده سوه چي د هغه په مال کي د هيچا حق نسته.

اللغات: ﴿ابتدأ﴾ د افتعال د باب ماضي ده: شروع کول، پېل کول. ﴿برء﴾ مصدر دی: له فتح، سمع او کرُم ټولو ځخه راځي: جوړېدل، روغېدل، شفاء ترلاسه کول. ﴿تبيّن﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: ځرګندېدل، واضح کېدل.

تشريح: په دې عبارت کي دوې خبري بيان سوي دي:

(۱)... اوله خبره دا ده چي که په مرضُ الموت کي مريض ابتداءً پر خپل ځان يو شی واجب کړي، مثلاً مريض د يو چا ضامن او ذمه واره سي يا د يو چا کفيل جوړ سي، نو دا شيان هم د وصيت په څېر له ثلث المال ځخه معتبر کيږي يعني لکه ځرنګه چي د مريض وصيت له ثلث المال ځخه نافذيږي:

ځکه تر ثلث د زائد ضمان یا کفالت په واجبولو کي انسان همداسي متهم کیږي، څرنګه چي په هبه وغیره کي هغه متهم کیږي.

(۲)...دویمه خبره دا ده چي هر هغه تصرف کوم چي مریض تر مرګ وروسته واجب کړي لکه وصیت. نو هغه له ثلث المال څخه معتبر کیږي. برابره ده مریض هغه خپل د صحت (روغتیا) په حالت کي کړی وي او که د مرض په حالت کي: ځکه په داسي تصرف (وصیت وغیره) کي د اضافت حالت لره اعتبار وي، نه د عقد حالت لره. او څرنګه چي وصیت تر مرګ وروسته حالت ته مضاف کیږي او تر مرګ وروسته تملیک پکښي ثابتیږي حال دا چي تر مرګ وروسته د مړي د مال سره د وارثانو حق متعلق کیږي. نو ځکه هغه به له ثلث المال څخه نافذیږي.

او هغه تصرف کوم چي مریض مُنجّز او ستمدسي واقع کړي او د مرګ وطرف ته یې مضاف نه کړي. په هغه کي د عقد حالت لره اعتبار دی، لکه اعتاق، هبه او داسي نور. نو که د داسي تصرف د عقد په وخت کي هغه کس روغ وي. نو دا تصرف له ټوله مال څخه معتبر کیږي او که د عقد په وخت کي هغه مریض وي. نو دا تصرف له ثلث المال څخه معتبر کیږي.

وکل مرض إلخ: دا یوه بله قاعده ذکر کوي، حاصل یې دا دی چي له کوم مرض څخه مریض روغ وجوړ سيْ او شفاء حاصله کړی. نو هغه د مرض حالت (د تصرف په حق کي) د صحت حالت شمېرل کیږي. لهذا که مریض د مرض په حالت کي یو تصرف وکړي او بیا روغ سي. نو د هغه تصرف له ټوله مال څخه معتبر کیږي: ځکه د صحت او روغېدلو په وجه دا خبره څرګنده سوه چي د هغه د مال سره د هیڅا حق متعلق سوی نه دی.

د محاباة او عتق د جمع کېدلو په صورت کي محاباة مخکي دی او که عتق؟

قَالَ: وَإِنْ حَابَى ثُمَّ أَعْتَقَ وَضَاقَ الثُّلُثُ عَنْهُمَا فرمايي: او که مریض محاباة وکړي بیا آزادول وکړي او ثلث له دي دوارو څخه تنګ وي فَالْمُحَابَاةُ أَوْلَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز محاباة اولیٰ دی وَإِنْ أَعْتَقَ ثُمَّ حَابَى او که آزادول وکړي بیا محاباة وکړي فَهُمَا سَوَاءٌ نو بیا دا دواړه [عتق او محاباة] سره برابر دي وَقَالَا ❁: الْعِتْقُ أَوْلَى فِي الْمَسْأَلَتَيْنِ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي

❁ القول الراجح: قول أبی حنيفة رَحِمَهُ الله، كما قال العلامة ابراهيم الحلبی رَحِمَهُ الله: فإن أعتق وحابى و ضاق الثلث عنهما، فالمحاباة اولى إن قدمت، وهما سواء إن أخرت (ملتقى ج:۴، ص:۴۳۷)، وكذا فی الكنز والدر المختار. [القول الراجح ج:۲، ص:۳۸۰]

په دواړو مسئلو کي عتق اولیٰ دی وَالْأَصْلُ فِيهِ أَنَّ الْوَصَايَا إِذَا لَمْ يَكُنْ فِيهَا مَا جَاوَزَ الثُّلُثَ او قاعده کلیه په دې باره کي دا ده چي په وصیتونو کي چي کله یو وصیت له ثلث څخه متجاوز [زائد] نه وي فَكُلٌّ مِنْ أَصْحَابِهَا يَضْرِبُ بِجَمِيعِ وَصِيَّتِهِ فِي الثُّلُثِ نو له وصیتونو والا څخه هر کس په ثلث کي د خپل ټوله وصیت سره شریک کیږي لَا يُقَدَّمُ الْبَعْضُ عَلَى الْبَعْضِ [او] بعضي به پر بعضونه مخکي کول کیږي إِلَّا الْعِتْقَ الْمُوْقَعَ فِي الْمَرَضِ ماسوا ① د هغه عتق [آزادی] کوم چي په مرض کي واقع کړی سوی وي وَالْعِتْقَ الْمُعَلَّقَ بِمَوْتِ الْمُوْصِيْ كَالتَّدْبِيرِ الصَّحِيحِ ② او هغه عتق کوم چي د موصي پر مرګ مُعلق وي لکه صحیح تدبیر [په صحیح توګه مدبر جوړول] وَالْمُحَابَاةَ فِي الْبَيْعِ إِذَا وَقَعَتْ فِي الْمَرَضِ ③ او په بیع کي محاباة کله چي هغه په مرضُ الموت کي واقع سوی وي لِأَنَّ الْوَصَايَا قَدْ تَسَاوَتْ ځکه ټوله وصیتونه سره برابر دي وَالتَّسَاوِيْ فِيْ سَبَبِ الْاِسْتِحْقَاقِ يُوْجِبُ التَّسَاوِيَ فِيْ نَفْسِ الْاِسْتِحْقَاقِ او د استحقاق په سبب کي سره برابرېدل په نفسِ استحقاق کي سره برابرېدل واجبوي.

اللغات: ﴿حابیٰ﴾ محاباة کول. د محاباة څو معناوي دي: یو چا ته میلان کول. یو څوک په مال سره خاصول. د یو چا سره په ثمن یا مبیع کي ډېر بښه کول. یعني بائع (دوکاندار) ته پر ارزانه شي ډېر قیمت ورکول. یا یو شی په ډېر کم (ارزانه) قیمت سره خرڅول. ﴿التدبیر الصحیح﴾ تَدْبِيْر د تفعیل د باب مصدر دی چي د هغه معنیٰ ده: غلام زمدبر جوړول. د غلام آزادي پر خپل مرګ معلقه کول یعني داسي ورته ویل چي زما تر مرګ وروسته ته آزاد یې!. تدبیر پر دوه قسمه دی: تدبیر صحیح: دا دی چي مالک د غلام آزادي صرف پر مرګ معلقه کړی. او تدبیر فاسد: دا دی چي یو زائد قید ور سره ولګوي چي زما تر مرګ (مثلاً) یو کال وروسته دا غلام آزاد دی. نو د یوه کال د قید لګولو په وجه تدبیر فاسدیږي. ﴿جاوز﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: له حد څخه تېرېدل. زیاتېدل. ﴿التساوي﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو د بل سره برابرېدل. برابري.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي که مریض اول بیع محاباة وکړي او بیا یو څوک آزاد کړي (یعني اول محاباة او بیا اعتاق وکړي)، حال دا چي د میراث ثلث (دریمه حصه) د دې دواړو شیانو د اداء او نفاذ لپاره نا کافي وي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز په دې صورت کي محاباة اولیٰ دی یعني اول به

محاباة په ثلث کې جاري کول کیږي. بیا که له څه ثلث څخه مقدار پاتـه سي. نو بیا به په هغه کې عتق نافذول کیږي. خو که مریض اول یو څوک آزاد کړي بیا بیع محاباة وکړي (یعني اول اعتاق او بیا محاباة وکړي). نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نبـز دواړه مساوي او سره برابر دي او غلام او مشتري دواړه په برابره توګه په ثلث کې شریکان کیږي.

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نبـز دلته په دواړو صورتونو کې عتق اولیٰ دی او په ثلث کې به اول عتق نافذول کیږي. تر دې وروسته د محاباة نمبر راځي.

والاصل فیه إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله دلته یوه قاعده بیانوي. حاصل یې دا دی چې که یو چا په خپل مال کې د څو خلکو لپاره وصیتونه کړي وي لیکن هیڅ وصیت هم د میراث له ثلث څخه متجاوز او زیات نه وي. نو ټوله اصحابُ الوصایا (موصیٰ لهم) په ثلث کې برابر شریکان کیږي او یو هم له بل څخه نه بالا کیږي. مثال یې دا دی چې د زید ټوله میراث مثلاً دوولس زره (۱۲۰۰۰) درهمه دي او زید له هغه څخه د خالد لپاره د زر درهمو وصیت کړی دی، د حامد لپاره یې د دوو زرو درهمو وصیت کړی دی، د شاکر لپاره یې هم د دو زرو درهمو وصیت کړی دی او د سالم لپاره یې د دریو زرو درهمو وصیت کړی دی چې د دوی ټولو مجموعه اته زره درهمه کیږي او د میراث ثلث څلور زره (۴۰۰۰) درهمه دي. او له دغه وصیتونو څخه هیڅ وصیت هم له ثلث څخه زائد نه دی. نو څکه د قاعدې پر بناء ټولو شریکان (خالد. حامد. شاکر. سالم) په ثلث یعني په څلور زره درهمو کې شریکان کیږي او د تقسیم طریقه به یې دا وي چې د هر موصیٰ لهٗ لپاره چې د څومره مقدار وصیت سوی دی. هغه ته به د هاغه مقدار نصف ورکول کیږي. مثلاً د کومو کسانو لپاره چې د دوو زرو درهمو وصیت سوی دی (یعني حامد او شاکر). هغو ته به زر. زر درهمه ورکول کیږي. او د کوم یوه لپاره چې د دریو زرو درهمو وصیت سوی دی (یعني سالم). هغه ته به پنځلس سوه ورکول کیږي. او د کوم یوه لپاره چې د زرو درهمو وصیت سوی دی. هغه ته به پنځه سوه درهمه ورکول کیږي چې دا ټوله به مجموعتاً څلور زر درهمه سي کوم چې د میراث (۱۲۰۰۰ درهمو) ثلث دی.

إلّا العتق إلخ: د دې حاصل دا دی چې د وصیتونو حکم خو همدا دی کوم چې موږ پورته بیان کړی. لیکن که د وصیت سره یو ځای د مذکوره لاندیني دریو شیانو یو شی جمع سي. نو بیا به دا شی مخکې کول کیږي یعني په ثلث کې به اول هغه نافذول کیږي او تر هغه وروسته چې کوم مقدار پاته سي. په هغه کې به وصیت نافذول کیږي: ① د مرضُ الموت اعتاق. ② د مرضُ الموت تدبیر. ③ د مرضُ الموت محاباة. نو که موصي په مرضُ الموت کې یو غلام آزاد کړی وي. نو له میراث څخه به اول هغه غلام ایستل کیږي. بیا به وصیتونه نافذول کیږي. همدرنګه که موصي صحیح تدبیر کړی

وي يعني خپل غلام يې مدبر جوړ کړی وي (يا په بله وینا دا چې د غلام آزادي يې پر خپل مرګ معلقه کړې وي)، نو بيا به اول دا تدبير نافذول کيږي. همدارنګه که موصي په بيع کي محاباة کړې وي. نو له ثلث څخه به اول محاباة نافذول کيږي. تر هغه وروسته پاته مقدار به اصحاب الوصايا ته ورکول کيږي.

د دې په خلاف که موصي عتق او محاباة سره جمع کړي وي. نو په دې صورت کي د محاباة يا عتق د مخکي کولو په هکله د صاحبينو او د امام صاحب رَحِمَهُمُ الله اختلاف دی کوم چې په شروع کي ذکر سو.

د پورتنی مسئلې دليل (يعني پر وصيتونو د مرضُ الموت د عتق وغيره د مخکې کېدلو وجه)

وَإِنَّمَا قُدِّمَ الْعِتْقُ الَّذِيْ ذَكَرْنَاهُ آنِفًا او عتق [ځکه] مخکي کړی سوی دی کوم چې څه مخکي مو ږ ذکر کړ لِأَنَّهُ أَقْوَى ځکه چې عتق زيات قوي دی فَإِنَّهُ لَا يَلْحَقُهُ الْفَسْخُ مِنْ جِهَةِ الْمُوصِيْ ځکه عتق لر د موصي له طرفه فسخ نه سي لاحق کېدلای وَغَيْرُهُ يَلْحَقُهُ او له عتق څخه بغير نورو [وصيتونو] لره فسخ لاحق کېدلای سي وَكَذٰلِكَ الْمُحَابَاةُ لَا يَلْحَقُهَا الْفَسْخُ مِنْ جِهَةِ الْمُوصِيْ او همدارنګه محاباة هم دی چې هغه لره د موصي له طرفه فسخ نه سي لاحق کېدلای وَإِذَا قُدِّمَ ذٰلِكَ او کله چې دوی [عتق و محاباة] مخکي کړل سوه فَمَا بَقِيَ مِنَ الثُّلُثِ بَعْدَ ذٰلِكَ نو تر دوی وروسته چې له ثلث څخه کوم مقدار باقي پاته سي يَسْتَوِيْ فِيهِ مَنْ سِوَاهُمَا مِنْ أَهْلِ الْوَصَايَا په هغه کي له دوی څخه بغير نورو وصيتونو والا برابر شريک کيږي وَلَا يُقَدَّمُ الْبَعْضُ عَلَى الْبَعْضِ او بعضي به پر بعضو نه مخکي کول کيږي.

اللغات: ﴿قُدِّمَ﴾ د تفعيل د باب ماضي مجهوله ده: مقدّم کيدل. مخکي کول کېدل. ﴿آنفًا﴾ څه ګړی مخکي. اوس وخت. دا لفظ همېشه د ظرفيت پر بناء منصوب وي.

تشريح: دلته د مخکنی مسئلې دليل بيانوي چې د مرضُ الموت عتق. تدبير او محاباة به ولي پر نورو وصيتونو مخکي کول کيږي؟ د دليل حاصل دا دی چې عتق خو به ځکه مخکي کول کيږي چې عتق اقوىٰ دی او د هغه د اقوىٰ کېدلو دليل دا دی چې که تر عتق وروسته موصي د عتق فسخ کول وغواړي. نو هغه نه سي فسخ کولای. او له عتق څخه بغير نور چې کوم وصيتونه دي هغه فسخ کېدلای سي. يعني که موصي له هغه وصيتونو څخه رجوع وکړي نو رجوع صحيح ده. او تدبير هم په عتق کي داخل دی.

او پاته سو محاباة، نو هغه هم له نورو وصيتونو څخه اقوىٰ دى: ځکه که موصي وغواړي چي په بيع کي محاباة فسخ کړم. نو هغه نه سي فسخ کولاى. لنډه دا چي عتق او محاباة تر نورو وصيتونو مخکي دى. او له عتق او محاباة څخه وروسته که د ثلث څه مقدار پاته سي. نو په هغه کي به نور اصحاب الوصايا برابر شريک کيږي او يوه ته به پر بل ترجيح نه ورکول کيږي.

د صاحبينو او د امام صاحب رَحِمَهُمُ اللهُ دلائل

لَهُمَا فِي الْخِلَافِيَّةِ: أَنَّ الْعِتْقَ أَقْوٰى په اختلافي مسئله کي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چي عتق زيات قوي دى لِأَنَّهُ لَا يَلْحَقُهُ الْفَسْخُ ځکه چي هغه لره فسخ نه سي لاحق کېدلاى وَالْمُحَابَاةُ يَلْحَقُهَا او محاباة لره فسخ لاحق کېدلاى سي وَلَا مُعْتَبَرَ بِالتَّقْدِيمِ فِي الذِّكْرِ او په ذکر کي مقدم کېدلو [مخکي ذکر کېدلو] لره هيڅ اعتبار نسته لِأَنَّهُ لَا يُوجِبُ التَّقَدُّمَ فِي الثُّبُوتِ ځکه چي دا [تقديم فى الذکر] په ثبوت کي تقدم [مخکي کېدل] نه واجبوي وَلَهُ: أَنَّ الْمُحَابَاةَ أَقْوٰى او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي محاباة زيات قوي دى. لِأَنَّهَا تَثْبُتُ فِي ضِمْنِ عَقْدِ الْمُعَاوَضَةِ ځکه چي محاباة د عقد معاوضه [بيع] په ترڅ کي ثابتيږي فَكَانَ تَبَرُّعًا بِمَعْنَاهُ لَا بِصِيغَتِهِ نو ځکه محاباة به د خپل معنىٰ په اعتبار سره تبرّع وي. نه د صيغې [لفظ] په اعتبار سره وَالْإِعْتَاقُ تَبَرُّعٌ صِيغَةً وَمَعْنًى او اعتاق د صيغې او معنىٰ دواړو په اعتبار سره تبرّع ده فَإِذَا وُجِدَتِ الْمُحَابَاةُ أَوَّلًا نو کله چي اول وار محاباة موجود سي دَفَعَ الْأَضْعَفَ نو هغه به زيات ضعيف [يعني عتق] ليري کړي وَإِذَا وُجِدَ الْعِتْقُ أَوَّلًا وَثَبَتَ او کله چي اول وار عتق موجود سي او ثابت سي وَهُوَ لَا يَحْتَمِلُ الدَّفْعَ حال دا چي عتق [د محاباة] د ليري کولو احتمال نه لري كَانَ مِنْ ضَرُورَتِهِ الْمُزَاحَمَةُ نو د هغه له ضروورياتو څخه به مزاحمت وي.

اللغات: ﴿عتق﴾ د ضرب د باب مصدر دى: آزادېدل. آزادي. ﴿تقديم﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: مخکي کول. مقدم کول. ﴿محاباة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دى. د دې لفظ څو معناوي دي لکه مخکي چي ذکر سوه: په بيع کي ديو چا سره په ثمن يا مبيع کي ډېر نښه کول. يعني بائع (دوکاندار) ته پر ارزانه شي ډېر قيمت ورکول. يا يو شى په ډېر کم (ارزانه) قيمت سره خرڅول.... ﴿مزاحمة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دى: مزاحم کېدل. يو د بل مقابل کېدل.

تشریح: څه مخکې دا مسئله ذکر سوه چې که موصي اعتاق او محاباة سره جمع کړي نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز محاباة به له عتق څخه مخکې کول کیږي او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز عتق به مخکې کول کیږي؛ په دې هکله د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې عتق له محاباة څخه اقوىٰ دی: ځکه عتق خو نه د مُعتِق له طرفه فسخ قبلوي او نه د مُعتَق له طرفه فسخ قبلوي. او محاباة که څه هم د موصي له طرفه فسخ نه قبلوي لېکن د مشتري له طرفه هغه فسخ کېدلای سي. مثلاً که موصي او د هغه وارثان د محاباة اجازه نه ورکړي او هغوی مشتري ته د عقد فسخ کولو حکم وکړي. نو مشتري به هغه فسخ کوي: معلومه سوه چې محاباة فسخ کېدلای سي او کله چې فسخ کېدلای سي. نو د هغه په مقابله کې به عتق یقیناً اولیٰ او اقوىٰ وي: ځکه په هغه کې په هیڅ توګه هم فسخ نه سي کېدلای.

ولا معتبر إلخ: د دې حاصل دا دی چې که مریض اول محاباة وکړي او بیا یو غلام آزاد کړي (یعني محاباة تر اعتاق مخکې ذکر کړي)، نو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز محاباة به له اعتاق څخه نه مخکې کول کیږي؛ ځکه په تقدیم و تأخیر کې د حقیقي او باطني معنیٰ اعتبار کیږي او موږ مخکې دا بیان کړه چې د باطني معنیٰ په اعتبار سره اعتاق له محاباة څخه اقوىٰ دی، نو ځکه د مخکې ذکر کولو پر بنیاد هم محاباة به له اعتاق څخه نه مخکې کول کیږي. په همدې وجه یې فرمایلي دي "العتق أولى في المسئلتين أي سواء كان العتق مقدمًا في الذكر أو موخرًا".

لنډه دا چې صاحبینو په عتق او محاباة کې عتق اولیٰ او مقدّم ګرځولی دی او د هغه بنیاد یې پر قابل فسخ کېدلو او نه کېدلو ایښی دی (چې عتق قابلِ فسخ نه دی). او امام صاحب رَحِمَهُ الله محاباة مقدّم ګرځولی دی او هغه به په بل اعتبار سره محاباة ته ترجیح ورکړي ده چې هغه به لاندې ذکر سي.

وله إلخ: دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دی. حاصل یې دا دی چې محاباة له عتق څخه اقوىٰ دی: ځکه محاباة د عقد بیع په ضمن کې ثابتیږي چې هغه (عقد بیع) ته مصنف رَحِمَهُ الله عقد معاوضه ویلي دي. نو محاباة د خپل لفظ او صیغې په اعتبار سره تبرّع نه ده بلکې د لفظ په اعتبار سره محاباة عقد بیع ده. خو د معنیٰ په اعتبار سره محاباة تبرّع ده. او اعتاق د لفظ او معنیٰ ټولو په اعتبار سره تبرع ده. نو له دې څخه معلومه سوه چې محاباة اقوىٰ دی: ځکه چې عقد معاوضه (عقد بیع) له خالص تبرّع څخه اقوىٰ وي.

لهذا كله چي أقوىٰ يعني محاباة مخكي واقع سي. نو هلته به أضعف يعني عتق تلل وغواړي او اقوىٰ به هغه ته ديكه وركړي او ليري به يې كړي. او كله چي د محاباة مخ ته هغه نه تېنګېږي نو ثابت به څنګه سي!.

او كه اول عتق واقع سي او بيا محاباة. نو څرنګه چي عتق أضعف دی. نو په دې وجه عتق محاباة نه سي ديكه كولای. لهذا دلته د دې دواړو په مينځ كي مزاحمت ثابت سو. او كله چي په دواړو كي مزاحمت ثابت سو. نو مجبوراً وويل سوه چي دواړه سره برابر او مساوي دي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر اصول متفرع كېدونكي دوه جزئيات

وَعَلٰى هٰذَا قَالَ أَبُوْحَنِيْفَةَ: إِذَا حَابٰى ثُمَّ أَعْتَقَ ثُمَّ حَابٰى پر همدې أصول امام صاحب رَحِمَهُ الله فرمايلي دي: كله چي مريض محاباة وكړي بيا آزادول وكړي بيا محاباة وكړي قُسِمَ الثُّلُثُ بَيْنَ الْمُحَابَاتَيْنِ نِصْفَيْنِ نو ثلث به د دواړو محاباتونو تر مينځ نيم په نيمه تقسيمول كيږي لِتَسَاوِيْهِمَا ځكه دواړه سره برابر دي ثُمَّ مَا أَصَابَ الْمُحَابَاةَ الْأَخِيْرَةَ بيا چي كوم مقدار آخري [دويم] محاباة ته رسېدلی وي قُسِمَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْعِتْقِ نو هغه به د [دويم] محاباة او عتق تر مينځ تقسيمول كيږي لِأَنَّ الْعِتْقَ مُقَدَّمٌ عَلَيْهَا ځكه عتق پر هغه [دويم محاباة] مخكي دی فَيَسْتَوِيَانِ نو ځكه دواړه به سره برابر وي وَلَوْ أَعْتَقَ ثُمَّ حَابٰى ثُمَّ أَعْتَقَ او كه مريض آزادول وكړي بيا محاباة وكړي بيا آزادول وكړي قُسِمَ الثُّلُثُ بَيْنَ الْعِتْقِ الْأَوَّلِ وَالْمُحَابَاةِ نو ثلث به د اول عتق او محاباة تر مينځ تقسيمول كيږي وَمَا أَصَابَ الْعِتْقَ او كوم مقدار چي [اول] عتق ته رسېدلی وي قُسِمَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْعِتْقِ الثَّانِيْ نو هغه به د اول عتق او دويم عتق تر مينځ تقسيمول كيږي وَعِنْدَهُمَا الْعِتْقُ أَوْلٰى بِكُلِّ حَالٍ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په هر حالت كي عتق اولیٰ دی.

اللغات: ﴿حابٰى﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده. څه مخكي يې معنیٰ ذكر سوه. ﴿يستويان﴾ د استفعال له بابه د تثنيه غائب مضارع صيغه ده: سره برابر بدل.

تشريح: د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلك دا وو چي كه موصي اول محاباة وكړي او بيا اعتاق. نو محاباة به له عتق څخه مخكي كول كيږي او كه اول اعتاق وكړي او بيا محاباة. نو په دواړو كي به مساوات كيږي. پر همدې أصول په متفرع كولو سره دلته د امام صاحب رَحِمَهُ الله يو قول نقل كوي چي كه

مریض بیع محاباة وکړي بیا اعتاق وکړي (یعني غلام آزاد کړي) او بیا بیع محاباة وکړي. نو څرنګه چې په دې صورت کې دوه محاباة سره جمع دي. نو ځکه د میراث ثلث به د دواړو تر مینځ نیم په نیمه تقسیمول کیږي، او دلته تر دویم محابات مخکې عتق دی. نو ځکه په دواړو کې به مساوات کیږي نو د دویم محاباة لپاره چې کوم نیم ثلث دی. هغه به د عتق او دویم محاباة تر مینځ تقسیمول کیږي.

ولوأعتق إلخ: دا دویمه مسئله ده کوم چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر مسلک متفرّع ده. هغه دا چې که مریض یو غلام آزاد کړي بیا بیع محاباة وکړي او بیا یو غلام آزاد کړي. نو په دې صورت کې به ثلث د اول عتق او محاباة تر مینځ تقسیمول کیږي، او د اول عتق لپاره چې د ثلث کوم مقدار دی. هغه به د اول عتق او دویم عتق تر مینځ تقسیمول کیږي: ځکه دواړه مساوي دي.

صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې دا تفصیل او تقسیم د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول مطابق دی. کنې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز په هر حالت کې یو حکم دی یعني صرف عتق اولیٰ دی او هغه به تر محاباة مخکې کول کیږي.

داسي وصیت کول چې زما له طرفه دي په دومره مال سره غلام آزاد کړی سي
یا په هغه سره دي حج وکړی سي، بیا څه مال ضایع سي؟

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى بِأَنْ يُعْتَقَ عَنْهُ بِهٰذِهِ الْمِائَةِ عَبْدٌ فرمایي: او څوک چې دا وصیت وکړي چې د هغه له طرفه [یعني زما له طرفه] دي په دغه سلو درهمو سره یو غلام آزاد کړی سي فَهَلَكَ مِنْهَا دِرْهَمٌ بیا له هغه [سلو درهمو] څخه یو درهم هلاک سي لَمْ يُعْتَقْ عَنْهُ بِمَا بَقِيَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په ما بقي درهمو سره به د موصي له طرفه غلام نه آزادول کیږي وَإِنْ كَانَتْ وَصِيَّتُهُ بِحَجَّةٍ او که د هغه وصیت د حج په هکله وي [چې په دغه دراهمو سره دي زما له طرفه حج وکړی سي] يُحَجُّ عَنْهُ بِمَا بَقِيَ مِنْ حَيْثُ يَبْلُغُ نو د هغه له طرفه به په ما بقي درهمو سره حج کول کیږي چیري چې رسېدلای سي وَإِنْ لَمْ يَهْلِكْ مِنْهَا او که له هغه [سلو درهمو] څخه څه هلاک نه سي وَبَقِيَ شَيْءٌ مِنَ الْحَجَّةِ او له حج څخه څه شی [څه دراهم] پاته سي يُرَدُّ عَلَى الْوَرَثَةِ نو هغه [ما بقی] به پر وارثانو واپس کول کیږي وَقَالَا: يُعْتَقُ عَنْهُ بِمَا بَقِيَ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چې د هغه له طرفه به په ما بقي درهمو سره غلام آزادول کیږي لِأَنَّهُ وَصِيَّةٌ بِنَوْعِ قُرْبَةٍ ځکه چې دا د یو قسم قربت

وصيت دى فَيَجِبُ تَنْفِيذُهَا مَا أَمْكَنَ نو د هغه نافذول واجب دي تر څو چي ممكنه وي اِعْتِبَارًا بِالْوَصِيَّةِ بِالْحَجِّ د حج پر وصيت په قياس كولو سره.

اللغات: ﴿يُحَجّ﴾ د نصر له بابه مضارع مجهوله ده: حج كول. ﴿تنفيذ﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: نافذول، جاري كول، پوره كول.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دى كه يو څوک خپلو وارثانو ته سل درهمه وركړي او دا وصيت وكړي چي په دې دراهمو سره زما له طرفه تاسي يو غلام رانيسئ او آزاد يې كړئ!. نو كه په دې صورت كي له هغه دراهمو څخه يو څو دراهم يا مثلاً يو درهم هلاک او ضايع سي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په مابقي دراهمو سره د دغه موصي له طرفه به غلام نه آزادول كيږي چي په مابقي ۹۹ درهمو سره غلام رانيول سي او آزاد كړى سي. د دې په خلاف كه موصي دا وصيت كړى وي چي زما له طرفه دي په دې دارهمو سره حج وكړى سي او بيا يو څو دراهم هلاک سي. نو كه په مابقي درهمو سره حج ممكن وي. نو حج به اداء كول كيږي. كه چيري دومره مقدار دراهم پاته وي چي مثلاً له كندهار څخه په هغومره مقدار حج كېدلاى سي او موصي د كندهار اوسېدنكى دى نو له كندهار څخه به حج كول كيږي، او كه له كندهار څخه حج نه سي په كېدلاى خو له كابل څخه هغومره مقدار د حج لپاره كافي دى، نو د كندهار پر ځاى له كابل څخه به حج كول كيږي (خلاصه د كلام داده چي د حج په صورت كي د يو څو دراهمو هلاكېدل وصيت نه باطلوي او د موصي له طرفه به حج كول كيږي).

او د حج په صورت كي كه هيڅ درهم هلاک نه سي او بيا تر حج وروسته څه دراهم پاته سي، نو هغه به وارثانو ته واپس كول كيږي.

حاصل دا چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د اعتاق او حج په وصيتونو كي فرق دى. لېكن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې دواړو وصيتونو كي هيڅ فرق نسته. بلكي څرنګه چي د يو څو دراهمو تر هلاكېدلو وروسته د حج وصيت باقي پاتيږي او د موصي له طرفه په مابقي دراهمو سره حج كول كيږي. همداسي د يو څو دراهمو د هلاكېدلو په صورت كي به د وصيت اعتاق هم باقي پاتيږي او د موصي له طرفه به په مابقي دراهمو سره غلام رانيول كيږي او آزادول كيږي: ځكه څرنګه چي حج قربت او عبادت دى، همداسي غلام آزادول هم يو قربت او عبادت دى او په دې حواله دواړه سره برابر دي، نو ځكه د وصيت په نافذولو كي به هم دواړه سره برابر او مساوي وي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل او د اختلاف بنياد

وَلَهُ: أَنَّهُ وَصِيَّةٌ بِالْعِتْقِ لِعَبْدٍ يُشْتَرىٰ بِمِائَةٍ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي دا د داسي غلام د آزادېدلو په هکله وصيت دى کوم چي په سلو درهمو رانيول سوى وي [يا په بله وينا دا چي موصي خاص د سلو درهمو والا د غلام آزادولو وصيت کړى دى] وَتَنْفِيْذُهَا فِيمَنْ يُشْتَرىٰ بِأَقَلَّ مِنْهُ تَنْفِيذٌ بِغَيْرِ الْمُوصىٰ لَهُ [نو] په داسي غلام کي د دغه وصيت نافذول کوم چي له سلو درهمو څخه په کمه رانيول سوى وي له هغه موصىٰ لهٗ غلام څخه بغير د بل غلام لپاره وصيت نافذول دي [ځکه موصىٰ لهٗ د سلو درهمو والا غلام دى] وَذٰلِكَ لَايَجُوْزُ او دا جائز نه دي بِخِلَافِ الْوَصِيَّةِ بِالْحَجِّ په خلاف د حج د وصيت کولو لِأَنَّهَا قُرْبَةٌ مَحْضَةٌ وَهِيَ حَقُّ اللهِ تَعَالىٰ ځکه چي حج خالص عبادت دى کوم چي د الله تعالىٰ حق دى وَالْمُسْتَحَقُّ لَمْ يَتَبَدَّلْ او مستحَق [واجب شده حج] نه دى بدل سوى [په بله وينا دا چي موصي پر ځان کوم حج واجب کړى دى چي زما له طرفه دي حج وسي. د دراهمو د کمېدلو په وجه په هغه کي هيڅ تبديلي نه ده راغلې: ځکه چي هغه قربت محضه دى او د الله تعالىٰ حق دى. په خلاف د غلام] فَصَارَ كَمَا إِذَا أَوْصىٰ لِرَجُلٍ بِمِائَةٍ نو دا داسي سوه لکه څوک چي د يو سړي لپاره د سلو درهمو وصيت وکړي فَهَلَكَ بَعْضُهَا بيا له هغه څخه بعضي هلاک سي يَدْفَعُ الْبَاقِيَ إِلَيْهِ نو باقي مانده به هغه سړي [موصىٰ لهٗ] ته ورکول کيږي وَقِيْلَ: هٰذِهِ الْمَسْأَلَةُ بِنَاءٌ عَلىٰ أَصْلٍ آخَرَ مُخْتَلَفٍ فِيْهِ او ويل سوي دي: چي دغه مسئله پر بل اصل [أصول] مبني ده چي په هغه کي [هم] اختلاف سوى دى وَهُوَ أَنَّ الْعِتْقَ حَقُّ اللهِ تَعَالىٰ عِنْدَهُمَا او هغه دا ده چي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز عتق د الله تعالىٰ حق دى حَتّٰى تُقْبَلَ الشَّهَادَةُ عَلَيْهِ مِنْ غَيْرِ دَعْوىٰ تر دې چي پر عتق به [د غلام] له دعوې څخه بغير هم بيِّنه [گواهي] قبلول کيږي فَلَمْ يَتَبَدَّلِ الْمُسْتَحَقُّ نو مستحَق بدل نه سو وَعِنْدَهُ حَقُّ الْعَبْدِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز عتق د بنده حق دى حَتّٰى لَا تُقْبَلَ الْبَيِّنَةُ عَلَيْهِ مِنْ غَيْرِ دَعْوىٰ تر دې چي پر هغه به [د غلام] له دعوې څخه بغير بيِّنه نه قبلول کيږي فَاخْتَلَفَ الْمُسْتَحَقُّ نو مستحَق بدل سو وَهٰذَا أَشْبَهُ او دا [يعني دا مسئله پر مذکوره أصول مبني کېدل] د صحت زيات مشابه دي.

اللغات: ﴿قربة﴾ نېکي، د نېکۍ کار (داسې کار چې په هغه سره د الله نژدېکت حاصلول کېږي)، عبادت.

﴿يُدفع﴾ د فتح د باب مضارع مجهوله ده. د دې باب يوه معنیٰ ده: ورکول، اداء کول.

تشريح: په دې عبارت کې د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل بيان سوی دی، د دليل حاصل دا دی چې په مذکوره مسئله کې موصی د داسې غلام آزادولو وصيت کړی دی چې د هغه قيمت سل (۱۰۰) درهمه دي، لهذا که موږ د (۹۹) درهمو والا په غلام کې وصيت نافذ کړو، نو د موصي مقصد به فوت سي او هغه چې کوم غلام موصیٰ لهٗ متعيّن کړی دی په هغه کې به تبديلي راسي او له هغه څخه بغير د بل قيمت په غلام کې به وصيت نافذ سي، حال دا چې وارثانو ته په دې کې د هېڅ تبديلي کولو حق نسته. نو ځکه که له سلو څخه صرف يو درهم کم سي، نو موږ د موصي له طرفه د اعتاق العبد (غلام آزادولو) اجازه نه ورکوو.

د دې په خلاف د حج مسئله ده. نو د حج په مسئله کې "مُستحَق" (واجب شده) يعني "حج" په هېڅ صورت کې هم نه بدلېږي؛ ځکه حج خالص قربت دی او د الله تعالیٰ حق دی چې په هغه کې هېڅ تبديلي نه سي کېدلای، لهذا وصيت پر حج قياسول صحيح نه دي، او د حج وصيت داسې دی لکه يو مريض چې دا وصيت وکړي چې زما له مال څخه دې فلانکي (مثلاً خالد) ته سل درهمه ورکول سي لېکن بيا له هغه څخه يو څو دراهم هلاک او کم سي، نو هم مابقی دراهم موصیٰ لهٗ (خالد) ته ورکول کېږي او وصيت نافذېږي؛ ځکه دلته موصیٰ لهٗ فلانکی (خالد) دی او په هغه کې هېڅ تبديلي نه ده راغلې، نو همداسې د حج په مسئله کې هم په مستحَق (حج) کې تبديلي نه ده راغلې، نو ځکه د دراهمو د کمېدلو په صورت کې به په حج کې هم وصيت نافذېږي، لېکن د اعتاق العبد (غلام آزادولو) په صورت کې وصيت نه سي نافذ کېدلای؛ ځکه په هغه کې د مستحَق (واجب شده غلام) تبديلي لازمېږي کوم چې د موصي د مراد خلاف دي.

وقيل هٰذه المسألة إلخ: يعني د بعضي حضراتو قول دا دی چې دا مسئله په حقيقت کې پر هغه أصول مبني او متفرّع ده کوم چې د صاحبينو او امام صاحب رَحِمَهُمُ الله تر مينځ مختلف فيه دي او هغه أصول دا دي چې د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز عتق (اعتاق) حقُ الله دی او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز هغه حق العبد دی، او په حقُ الله کې د گواهۍ د قبلولو لپاره بالاتفاق دعویٰ شرط نه ده، او په حق العبد کې د گواهۍ د قبلولو لپاره دعویٰ شرط ده. لهذا کله چې عتق د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز حقُ الله دی او په حقُ الله کې په مستحَق کې تبديلي نه سي کېدلای. نو ځکه د هغو په نيز د حج د مسئلې په څېر د

غلام په مسئله کې به هم وصیت نافذول کیږي چې په ما بقی (۹۹) درهمو سره به غلام رانیول کیږي او آزادول کیږي. نو صاحبینو دلته عتق پر حج قیاس کړی دی. ځکه په حج کې هم مستحق نه بدلیږي.

د دې په خلاف د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز عتق حق العبد دی: او په حق العبد کې تبدیلي کېدلای سي. لهذا د (۹۹) درهمو والا غلام به د (۱۰۰) درهمو والا له غلام څخه جلا وي او د هغه په رانیولو سره به د موصي وصیت او د هغه مراد نه پوره کیږي. صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې پر دغه اُصول دا مسئله او اختلاف متفرّع کول زیات صحیح او غوره دي.

په مرض الموت کې د اعتاق یو صورت

قَالَ: وَمَنْ تَرَكَ ابْنَيْنِ فرمایي: او څوک چې [تر شا] دوه ځامن پرېږدي وَمِائَةَ دِرْهَمٍ وَعَبْدًا قِيمَتُهُ مِائَةُ دِرْهَمٍ او [په میراث کې] سل درهمه او یو داسې غلام پرېږدي چې د هغه قیمت سل درهمه وي وَقَدْ كَانَ أَعْتَقَهُ فِي مَرَضِهِ حال دا چې هغه غلام یې په خپل مرضُ الموت کې آزاد کړی وي فَأَجَازَ الْوَارِثَانِ ذَلِكَ بیا دواړه وارثان [ځامن] د دې اجازه ورکړي لَمْ يَسْعَ فِي شَيْءٍ نو غلام به هیڅ سعی [او ګټه] نه کوي لِأَنَّ الْعِتْقَ فِي مَرَضِ الْمَوْتِ وَإِنْ كَانَ فِي حُكْمِ الْوَصِيَّةِ ځکه په مرض الموت کې عتق که څه هم د وصیت په حکم کې دی وَقَدْ وَقَعَتْ بِأَكْثَرَ مِنَ الثُّلُثِ او وصیت [دلته] له ثلث څخه په زائد مقدار کې واقع سوی دی إِلَّا أَنَّهَا تَجُوزُ بِإِجَازَةِ الْوَرَثَةِ خو هغه [له ثلث څخه د زائد مقدار وصیت] د وارثانو په اجازه سره جائز کیږي لِأَنَّ الِامْتِنَاعَ لِحَقِّهِمْ ځکه د وصیت ممتنع کېدل د وارثانو د حق په وجه وي وَقَدْ أَسْقَطُوهُ او هغو خپل حق ساقط کړی دی.

اللغات: ﴿أجاز﴾ د افعال د باب ماضي ده: اجازه ورکول، جائز ګرځول. ﴿لم يَسْعَ﴾ د فتح له بابه د جحد صیغه ده: سعی او کوشش کول، خواري کښل. یعني کسب او مزدوري کول او د خپل پاته حصې د آزادولو لپاره مال ګټل. ﴿ثلث﴾ درېیمه حصه. ﴿امتناع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: منع کېدل، ممانعت.

تشریح: مخکې دا اُصول تېر سو چې د وصیت نافذېدلو محل ثلث المال دی، خو که وصیت له ثلث المال څخه زائد وي او وارثان د هغه اجازه ورکړي، نو دا له ثلث څخه د زائد مقدار وصیت به هم نافذول کیږي. پر همدغه اصول دلته یوه مسئله پېش کوي:

صورت د مسئلې دا دی چې د مړي (مثلاً د خالد) دوه ځامن وارثان دي او د هغه په میراث کې مثلاً سل درهمه نغد موجود دي او د سلو درهمو یو غلام دی (یعني ټوله میراث ۲۰۰ درهمه دی). لیکن مړي (خالد) هغه غلام په خپل مرض الموت کې آزاد کړی دی. نو په دې صورت کې د اُصول مطابق د هغه آزادي د میراث (۲۰۰ درهمو) په ثلث یعني په (۶۶) درهمو کې نافذیږي او د باقي حصې (۳۳ درهمو) لپاره به غلام سعی او کټه کوي او دواړو وارثانو ته به (۳۳) درهمه ورکوي: ځکه چې دلته وصیت له ثلث المال څخه زائد دی یعني عتق له ثلث څخه په زائد مقدار کې نافذ سوی دی او له ثلث څخه زائد مقدار د وارثانو حق دی. ها! که چیرې وارثان (دواړه ځامن) په ټوله غلام کې د عتق نافذېدلو اجازه ورکړي. نو بیا پوره غلام آزادیږي او پر غلام هیڅ سعی او کټه نه لازمیږي: ځکه دا عتق په مرض الموت کې د کېدلو په وجه د وصیت په درجه کې دی او وصیت له ثلث څخه په زائد مقدار کې نه نافذیږي. لیکن که وارثان اجازه ورکړي نو نافذیږي: ځکه له ثلث څخه په زائد مقدار کې د وصیت نافذېدل د وارثانو د حق په وجه ممتنع وي او دلته وارثانو په اجازه ورکولو سره خپل دا حق ساقط کړی دی. نو ځکه دلته به بغیر له سعی کولو پوره غلام آزادیږي.

که موصی بالعتق غلام یو جرم وکړي او د هغه په بدله کې غلام ورکول سي (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى بِعِتْقِ عَبْدِهٖ ثُمَّ مَاتَ فرمایي: او څوک چې د خپل غلام د آزادېدلو وصیت وکړي بیا هغه مړ سي فَجَنٰى جِنَايَةً وَدُفِعَ بِهَا بیا غلام یو جنایت وکړي او غلام د هغه جنایت په بدله کې ورکول سي بَطَلَتِ الْوَصِيَّةُ نو وصیت باطلیږي لِأَنَّ الدَّفْعَ قَدْ صَحَّ ځکه [د جنایت په بدله کې غلام] ورکول صحیح سوه لِمَا أَنَّ حَقَّ وَلِيِّ الْجِنَايَةِ مُقَدَّمٌ عَلٰى حَقِّ الْمُوْصِيْ ځکه د جنایت د ولي حق د موصي پر حق مخکې دی فَكَذٰلِكَ عَلٰى حَقِّ الْمُوْصٰى لَهٗ نو همداسې به د موصیٰ لهٗ پر حق هم [مخکې] وي لِأَنَّهٗ يَتَلَقَّى الْمِلْكَ مِنْ جِهَتِهٖ ځکه موصیٰ لهٗ د موصي له طرفه ملکیت حاصلوي إِلَّا أَنَّ مِلْكَهٗ فِيْهِ بَاقٍ خو په غلام کې د موصي ملکیت باقي دی وَإِنَّمَا يَزُوْلُ بِالدَّفْعِ او دا ملکیت [د غلام] په ورکولو سره زائلیږي فَإِذَا خَرَجَ بِهٖ عَنْ مِلْكِهٖ بیا کله چې په ورکولو سره غلام د موصي له ملکیت څخه ووتلی بَطَلَتِ الْوَصِيَّةُ نو وصیت باطل سو كَمَا إِذَا بَاعَهُ الْمُوْصِيْ أَوْ وَارِثُهٗ بَعْدَ مَوْتِهٖ لکه کله چې موصي یا د هغه وارث د موصي تر مرګ وروسته دا غلام خرڅ کړي فَإِنْ فَدَاهُ الْوَرَثَةُ او که وارثان د

دې غلام فدیه ورکړي كَانَ الْفِدَاءُ فِي مَالِهِمْ نو فدیه به د وارثانو په مال کې [لازم] وي لِأَنَّهُمْ هُمُ الَّذِيْنَ الْتَزَمُوْهُ ځکه چې همدوی هغه [فدیه ورکول] پر ځان لازم کړي دي وَجَازَتِ الْوَصِيَّةُ او وصیت جائز کیږي لِأَنَّ الْعَبْدَ طَهُرَ عَنِ الْجِنَايَةِ بِالْفِدَاءِ ځکه د فدیه ورکولو په وجه غلام له جنایت څخه پاک سو كَأَنَّهُ لَمْ يَجْنِ ګواکي هغه [ګردسره] جنایت کړی نه دی فَتَنْفُذُ الْوَصِيَّةُ نو ځکه وصیت به نافذیږي.

اللغات: ﴿جنی﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جنایت کول، جرم کول. ﴿دُفِعَ﴾ د فتح د باب ماضي مجهوله ده. د دې باب یوه معنیٰ ده: ورکول (ورسپارل). ﴿یتلقّٰی﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: حاصلېدل، حاصلول او ترلاسه کول. ﴿التزموه﴾ د افتعال له بابه د جمع مذکر غائب ماضي صیغهٔ ده: پر ځان لازمول، پر خپله ذمه اخیستل. ﴿طهر﴾ د کرُم د باب ماضي ده: پاکېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې یو سړي مثلاً زید په خپل مرضُ الموت کي وارثانو ته دا وصیت کړی وو چې تاسي زما فلانکی غلام آزاد کړئ! خو د موصي تر مرګ وروسته هغه غلام یو جنایت وکړي مثلاً د حامد لاس یې پرېکړی او وارثانو هغه غلام د جنایت ولي (حامد) ته ورکړی، نو موصي (زید) چې د دې غلام د آزادولو کوم وصیت کړی وو، دا وصیت باطلیږي؛ ځکه چې دغه جنایتکاره غلام د جنایت په بدله کي د جنایت ولي (حامد) ته ورکول صحیح دي؛ ځکه د جنایت د ولي حق د موصي له حق څخه مخکي دی. او د ورکولو په وجه له دې غلام څخه د موصي (زید) ملکیت زائلیږي او کله چې ملکیت زائل سو، نو ښکاره ده چې په دې غلام کي د موصي وصیت هم باطلیږي. او کله چې د موصي ملکیت ختم سو، نو د موصیٰ لهٗ (غلام) حق هم ختمیږي؛ ځکه موصیٰ لهٗ ته د موصي له طرفه ملکیت حاصلیږي، لهذا کله چې موصي خپله مالک نه دی، نو بل به څنګه مالک کړي!.

إلّا إن ملکه إلخ: دا د یو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چې ستاسي دا وینا مناسب نه ده "چې کله د جنایت په بدله کي غلام د جنایت ولي ته ورکول سي نو بیا وصیت باطلیږي" (یعني تر دفع العبد وروسته وصیت باطل ګرځول صحیح نه دي)؛ ځکه وصیت خو تر جنایت وروسته سمدستي باطلیږي مخکي تر دې چې هغه غلام د جنایت ولي ته ورکول سي، لهذا د وصیت باطلېدلو حکم قبل الدفع (تر ورکولو مخکي) لګول پکار دي، حال دا چې تاسي بعد الدفع دا حکم لګولی دی.

د دې جواب دا دی چې له غلام څخه تر هغه وخته پورې د موصي ملکیت نه زائلیږي تر څو چې دا غلام د جنایت ولي ته ور نه کول سي او قبل الدفع په هغه کې د موصي ملکیت باقي پاتیږي، په دې وجه موږ قبل الدفع د وصیت باطلېدلو حکم نه دی لګولی. ها! کله چې وارثان دا غلام د جنایت ولي ته ورکړي، نو هغه د موصي له ملکیت څخه وځي او په هغه کې وصیت باطلیږي. لکه کله چې موصي دا غلام په خپل ژوند کې خرڅ کړي، یا د موصي تر مرګ وروسته وارثان هغه خرڅ کړي. نو په دې صورتونو کې هم وصیت باطلیږي؛ ځکه په دې صورتونو کې غلام مشتري ته ورکول کیږي. له دې څخه معلومه سوه چې تر دفع (ورکولو) وروسته هغه غلام د موصي له ملکیت څخه وځي او په هغه وخت کې وصیت پکښې باطلیږي.

فإن فداه إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د مړي وارثان دا جنایتکاره غلام د جنایت ولي ته ور نه کړي بلکې د هغه پر ځای فدیه ورکړي، نو دا فدیه د وارثانو له مال څخه نافذیږي او هغوی په دې سلسله کې متبرّع شمېرل کیږي؛ ځکه پر هغوی فدیه ورکول لازم نه وه او په خپله خوښه هغوی دا کار کړی دی. او بغیر له وجوب څخه په خپل خوښه سوی کار تبرّع وي، نو ځکه دا فدیه به د وارثانو له طرفه تبرّع وي او تر فدیه ورکولو وروسته به په دې غلام کې د موصي وصیت جائز کیږي او نافذیږي؛ ځکه په فدیه ورکولو سره غلام له جنایت څخه پاک صاف سو او غلام داسې وګرځېدی ګواکې هغه جنایت کړی نه دی. لهذا اوس د هغه د وصیت لاره بالکل پاکه سوه.

د غلام آزادولو یو صورت او د هغه حکم او تفصیل

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى بِثُلُثِ مَالِهِ لِآخَرَ فرمایي: او چا چې د بل چا لپاره د خپل مال د دریمي حصې وصیت وکړی فَأَقَرَّ الْمُوْصٰى لَهُ وَالْوَارِثُ أَنَّ الْمَيِّتَ أَعْتَقَ هٰذَا الْعَبْدَ بیا موصیٰ لهٗ او وارث (دواړو) اقرار وکړي چې مړي (موصي) دا غلام آزاد کړی دی فَقَالَ الْمُوْصٰى لَهٗ: أَعْتَقَهٗ فِي الصِّحَّةِ لیکن موصیٰ لهٗ وویل: چې مړي هغه په (حالت د) صحت کې آزاد کړی دی وَقَالَ الْوَارِثُ أَعْتَقَهٗ فِي الْمَرَضِ او وارث وویل: چې مړي هغه په (حالت د) مرض کې آزاد کړی دی فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْوَارِثِ نو قول د وارث معتبر دی وَلَا شَيْءَ لِلْمُوْصٰى لَهٗ إِلَّا أَنْ يَفْضُلَ مِنَ الثُّلُثِ شَيْءٌ او د موصیٰ لهٗ لپاره هیڅ شی نسته مګر دا چې له ثلث څخه څه مقدار زائد پاته سي أَوْ تَقُوْمَ لَهُ الْبَيِّنَةُ أَنَّ الْعِتْقَ فِي الصِّحَّةِ یا د موصیٰ لهٗ لپاره پر دې خبره بینه پېش سي چې عتق په (حالت د) د صحت کې (واقع سوی) دی لِأَنَّ الْمُوْصٰى لَهٗ

يَدَّعِيْ اِسْتِحْقَاقَ ثُلُثِ مَا بَقِيَ مِنَ التَّرِكَةِ بَعْدَ الْعِتْقِ ځکه موصیٰ لهٔ تر عتق وروسته د ما بقی میراث د ثلث د مستحق کېدلو دعویٰ کوي لِأَنَّ الْعِتْقَ فِي الصِّحَّةِ لَيْسَ بِوَصِيَّةٍ ځکه په [حالت د] صحت کي عتق وصیت نه دی وَلِهٰذَا يَنْفُذُ مِنْ جَمِيْعِ الْمَالِ په همدې وجه دا عتق له ټوله مال څخه نافذیږي وَالْوَارِثُ يُنْكِرُهُ او وارث [ددې] انکار کوي لِأَنَّ مُدَّعَاهُ الْعِتْقُ فِي الْمَرَضِ ځکه چي د وراث دعویٰ په مرض کي د آزادېدلو ده وَهُوَ وَصِيَّةٌ او دا [په مرض الموت کي د غلام آزادول] وصیت دی وَالْعِتْقُ فِي الْمَرَضِ مُقَدَّمٌ عَلَى الْوَصِيَّةِ بِثُلُثِ الْمَالِ او په مرضُ الموت کي عتق د ثلث مال پر وصیت مخکي دی فَكَانَ مُنْكِرًا نو وارث به منکر وي وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُنْكِرِ مَعَ الْيَمِيْنِ او قول د منکر معتبر دی د قسم سره وَلِأَنَّ الْعِتْقَ حَادِثٌ او ځکه چي عتق حادث [نوی واقع کېدونکی] دی وَالْحَوَادِثُ تُضَافُ إِلٰى أَقْرَبِ الْأَوْقَاتِ او حادث شیان د اقربُ الاوقات [نژدې ترین وخت] وطرف ته مضاف کیږي لِلتَّيَقُّنِ بِهَا ځکه چي دا اقربُ الاوقات متیقن وي فَكَانَ الظَّاهِرُ شَاهِدًا لِلْوَارِثِ نو ظاهر حال به د وارث لپاره ګواه وي فَيَكُوْنُ الْقَوْلُ قَوْلَهُ مَعَ الْيَمِيْنِ نو ځکه قول به د هغه معتبر وي د قسم سره إِلَّا أَنْ يَفْضُلَ شَيْءٌ مِنَ الثُّلُثِ عَلٰى قِيْمَةِ الْعَبْدِ مګر دا چي د غلام پر قیمت له ثلث څخه څه زائد سي لِأَنَّهُ لَا مُزَاحِمَ لَهُ فِيْهِ ځکه په هغه [زائد مقدار] کي د موصیٰ لهٔ هیڅ مزاحم نسته أَوْ تَقُوْمَ لَهُ الْبَيِّنَةُ أَنَّ الْعِتْقَ فِي الصِّحَّةِ یا د موصیٰ لهٔ پر دې خبره بیِّنه [ګواهي] پېښه سي چي عتق په صحت کي [واقع سوی] دی لِأَنَّ الثَّابِتَ بِالْبَيِّنَةِ كَالثَّابِتِ مُعَايَنَةً ځکه کوم شی په بیِّنه سره ثابت سوی وي هغه داسي دی لکه په عیني لیدنه سره ثابت سوی شی وَهُوَ خَصْمٌ فِي إِقَامَتِهَا لِإِثْبَاتِ حَقِّهِ او موصیٰ لهٔ به د خپل حق ثابتولو لپاره په دې بیِّنه پېشولو کي خصم [مدعي] وي.

اللغات: ﴿يفضل﴾ د نصر د باب مضارع ده: زائد پاتېدل. اضافه کېدل. زیاتېدل. ﴿بيّنة﴾ ګواهي. حجت او دلیل. ﴿حادث﴾ د نصر د باب فاعل دی: نوی واقع کېدونکی (پېښېدونکی). نوی پیدا کېدونکی. وروسته واقع سوی. ﴿خصم﴾ مخالف. د دې لفظ اطلاق کله پر مدعي کیږي او کله پر مدعیٰ علیه. دوی یو د بل خصم دي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که زید مثلاً د خالد لپاره د خپل ثلث مال وصیت وکړی او بیا موصي یعني زید مړ سو او د زید سره یو غلام هم وو. او د هغه غلام په هکله موصیٰ لهٗ (خالد) او د موصي وارث دا اقرار وکړی چي موصي (زید) هغه آزاد کړی وو. لېکن د اعتاق په وخت کي د دواړو اختلاف سو. موصیٰ لهٗ وویل چي موصي (زید) هغه د صحت په حالت کي آزاد کړی وو او وارث وویل چي نه! موصي هغه د مرض په حالت کي آزاد کړی وو. نو په دې اختلاف کي د وارث قول معتبر دی او د موصیٰ لهٗ (خالد) لپاره هیڅ هم نسته. ها! که چیري له ثلث څخه څه مقدار زائد پاته سي. یا موصیٰ لهٗ (خالد) پر خپل قول بینه پېش کړي چي عتق د صحت په حالت کي واقع سوی دی. نو په دې صورت کي د هغه قول معتبر دی.

لأن الموصٰی لهٗ إلخ: د موصیٰ لهٗ (خالد) په مقابله کي د وارث د قول معتبر کېدلو دلیل بیانوي. حاصل یې دا دی چي دلته موصیٰ لهٗ مدعي دی او وارث منکر دی؛ ځکه موصیٰ لهٗ دا دعویٰ کوي چي د عتق تر نافذېدلو وروسته چي د میراث کوم مقدار پاته سي زه د هغه د ثلث مستحق یم ځکه چي عتق د صحت په حالت کي واقع سوی دی. او وارث له دې څخه منکر دی ځکه د وارث دعویٰ دا ده چي عتق په مرضُ الموت کي واقع سوی دی یعني موصي دا غلام په مرضُ الموت کي آزاد کړی دی او په مرض الموت کي آزادول وصیت دی او د مرض الموت عتق پر نورو وصیتونو مخکي کېږي. خلاصه د کلام دا چي د وارث مطلب دا دی چي د موصیٰ لهٗ لپاره هیڅ شی نسته. نو وارث منکر وشمېرل سو او د منکر قول مع الیمین معتبر کېږي.

ولأن العتق حادث إلخ: دا د وارث د قول معتبر کېدلو دوېم دلیل دی. حاصل یې دا دی چي دلته له مخکي څخه خو عتق نسته. معلومه سوه چي دا عتق حادث دی او قاعده دا ده چي د حادث اضافت د اقربُ الاوقات وطرف ته کېږي؛ ځکه په دې اضافت کي چي څومره تیقّن دی. هغه د بعد الاوقات وطرف ته په اضافت کولو کي نسته. او اقربُ الاوقات د مرض حالت دی. نو په دې اعتبار سره هم ظاهر حال د وارث لپاره ګواه سو. نو ځکه د وارث قول به مع الیمین معتبر وي.

خو که په ثلث کي د عتق له نافذولو څخه وروسته څه مقدار زائد پاته سو. نو هغه به موصیٰ لهٗ (خالد) ته ورکول کېږي؛ ځکه په دې زائد مقدار کي اوس د هغه هیڅ مزاحم نسته.

يا دا چي موصیٰ لهٗ (خالد) بينه پېش کړي چي عتق د صحت په حالت کي واقع سوی دی.
نو بيا د موصیٰ لهٗ قول معتبر دی: ځکه د بينې په ذريعه چي کومه خبره ثابته سي. هغه داسي ده لکه معاينةً چي ثابته سوې وي.

وهوخصم فی إقامتها إلخ: دا د يو مقدر سوال جواب دی. سوال دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خو عتق حقّ العبد (د غلام حق) دی او په حقّ العبد کي چي تر څو د غلام له طرفه دعویٰ نه وي سوې. تر هغه وخته پوري بينه (گواهي) نه سي پېشول کېدلای (لکه مخکي چي ذکر سوه چي په حق العبد کي د گواهي پېشولو لپاره دعویٰ شرط ده). حال دا چي دلته د غلام له طرفه دعویٰ نسته. نو دلته به (د موصیٰ لهٗ) بينه پېشول څنگه صحيح وي؟.

د دې جواب دا دی چي موږ دلته موصیٰ لهٗ مدعي (خصم) گرځولی دی. نه غلا او صرف همدا موصیٰ لهٗ د وارث خصم دی. نه غلام، او د هغه له طرفه دعویٰ موجوده ده او تر دعوې وروسته بينه پېشول صحيح دي: ځکه چي دلته موصیٰ لهٗ د خپل حق ثابتولو لپاره بينې پېشولو ته محتاج او ضرورت مند دی: نو د بينې پېشولو په هکله به همدا موصیٰ لهٗ خصم او مدعي گرځول کيږي.

د اعتاق يو بل صورت او د هغه حکم او تفصيل

قَالَ: وَمَنْ تَرَكَ عَبْدًا فرمايي: او چا چي [خپل ترشا] يو غلام پرېښودی فَقَالَ لِلْوَارِثِ: أَعْتَقَنِيْ أَبُوْكَ فِي الصِّحَّةِ نو هغه غلام وارث ته وويل: چي ستا پلار په [حالت د] صحت کي زه آزاد کړی وم وَقَالَ رَجُلٌ: لِيْ عَلٰى أَبِيْكَ أَلْفُ دِرْهَمٍ او يو بل سړي وويل: چي زما ستا په پلار زر درهمه [قرض] باندي دي فَقَالَ: صَدَقْتُمَا نو وارث [ځوی] وويل: چي تاسي دواړو رښتيا وويل فَإِنَّ الْعَبْدَ يَسْعٰى فِيْ قِيْمَتِهِ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز غلام به په خپل قيمت کي سعی [او کټه] کوي وَقَالَا: يَعْتِقُ وَلَا يَسْعٰى فِيْ شَيْءٍ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي غلام آزاديږي او هغه به هيڅ سعی نه کوي لِأَنَّ الدَّيْنَ وَالْعِتْقَ فِي الصِّحَّةِ ظَهَرَا مَعًا بِتَصْدِيْقِ الْوَارِثِ فِيْ كَلَامٍ وَاحِدٍ ځکه قرض او عتق په [حالت د] صحت کي دواړه يو ځای ښکاره سوي دي په يوه کلام [صدقتما] سره د وارث د تصديق کولو په وجه فَصَارَا كَأَنَّهُمَا كَانَا مَعًا نو دا دواړه داسي سوه گواکي دواړه يو ځای وه

وَالْعِتْقُ فِي الصِّحَّةِ لَا يُوجِبُ السِّعَايَةَ او په [حالت د] صحت کې آزادېدل [پر غلام] سعی کول نه واجبوي وَإِنْ كَانَ عَلَى الْمُعْتِقِ دَيْنٌ که څه هم پر آزادونکي کس قرض باندې وي وَلَهُ: أَنَّ الْإِقْرَارَ بِالدَّيْنِ أَقْوَى او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د قرض اقرار زيات قوي دی لِأَنَّهُ يُعْتَبَرُ مِنْ جَمِيعِ الْمَالِ ځکه چې قرض له ټوله مال څخه معتبر کيږي وَالْإِقْرَارُ بِالْعِتْقِ فِي الْمَرَضِ يُعْتَبَرُ مِنَ الثُّلُثِ او په [حالت د] مرض کې د آزادېدلو اقرار له ثلث مال څخه معتبر کيږي وَالْأَقْوَى يَدْفَعُ الْأَدْنَى او اقوی شی ادنیٰ شی دفع کوي فَقَضِيَّتُهُ أَنْ يَبْطُلَ الْعِتْقُ أَصْلًا نو د دې دفع کولو تقاضا دا ده چې عتق بالکل باطل سي إِلَّا أَنَّهُ بَعْدَ وُقُوعِهِ لَا يَحْتَمِلُ الْبُطْلَانَ خو [ځرنګه] عتق تر خپل واقع کېدلو وروسته د باطلېدلو احتمال نه لري فَيُدْفَعُ مِنْ حَيْثُ الْمَعْنَى بِإِيجَابِ السِّعَايَةِ نو ځکه د معنیٰ په اعتبار په سعايه واجبولو سره به عتق دفع کول کيږي وَلِأَنَّ الدَّيْنَ أَسْبَقُ او ځکه چې قرض مخکې دی لِأَنَّهُ لَا مَانِعَ لَهُ مِنَ الْإِسْنَادِ ځکه چې [د قرض] له اسناد [او منسوب کولو] څخه هيڅ مانع نسته فَيَسْتَنِدُ إِلَى حَالَةِ الصِّحَّةِ نو ځکه د قرض استناد [او نسبت] به د صحت د حالت وطرف ته کيږي [د حالت صحت وطرف ته به قرض منسوب کيږي] وَلَا يُمْكِنُ إِسْنَادُ الْعِتْقِ إِلَى تِلْكَ الْحَالَةِ او د دغه [صحت د] حالت وطرف ته د عتق اسناد کول ممکن نه دي لِأَنَّ الدَّيْنَ يَمْنَعُ الْعِتْقَ فِي حَالَةِ الْمَرَضِ مَجَانًا ځکه قرض په حالت د مرض کې مفت آزادېدل منع کوي [يعني په حالت د مرض کې له مفت او بلا عوضه آزادېدلو څخه قرض مانع دی] فَتَجِبُ السِّعَايَةُ نو ځکه [پر غلام] به سعی کول واجب وي.

اللغات: ﴿يسعٰی﴾ د فتح د باب مضارع ده: سعی او کوښښ کول. خواري کښل او مال ګټل. ﴿قضية﴾ تقاضا. مقتضا. ﴿إيجاب﴾ د افعال د باب مصدر دی: واجبول. لازمول. ﴿أسبق﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات مخکې. تر ټولو مخکې. ﴿يستند﴾ د استفعال د باب مضارع ده. اِسْتَنَدَ يَسْتَنِدُ اِسْتِنَادًا: (د يو شي او يو حالت وطرف ته) تکيه کول. منسوب کېدل. ﴿مجانا﴾ مفت. بلا عوضه. په وړيا توګه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې يو سړي مثلاً زيد مړ سو او هغه په خپل ميراث کې يو غلام پرېښودی. بيا هغه غلام د مړي (زيد) ځوی ته وويل چې ستا پلار د خپل صحت په زمانه کې زه آزاد کړی وم. تر دې وروسته يو بل کس راغلی او د مړي ځوی ته يې وويل چې زما ستا په پلار زر درهمه

قرض باندي دی. او د مړي ځوی د دواړو تصديق وکړی چي صَدَقْتُمَا تاسي دواړه رښتيا واياست. نو په دې صورت کي غلام آزاديږي او پر مړي زر درهمه قرض ثابتيږي. لېکن په دې صورت کي دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز پر غلام دخپل قيمت په اندازه سعی او کټه کول واجبيږي چي هغه به دمړي وارث (ځوی) ته ورکوي. لېکن دصاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز دا غلام بغير له سعی کولو څخه مفت (بلا عوضه) آزاديږي او هغه به يوه اټاني هم ګټه او سعی نه کوي.

دصاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چي کله دمړي (زيد) ځوی په يوه خبره "صَدَقْتُمَا" سره د غلام او قرضخواه دواړو تصديق وکړی. نو دا څرګنده سوه چي عتق او قرض دواړه يو ځای او د صحت په حالت کي واجب سوي دي. او د صحت په حالت کي واقع کېدونکی عتق پر غلام سعی او ګټه کول نه واجبوي که څه هم مُعتَق مقروض وي. نو ځکه په مذکوره مسئله کي به غلام بغير له سعی کولو څخه آزاديږي.

ولہ أن الإقرار إلخ: دامام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي د قرض اقرار او قرض له عتق څخه اقوىٰ دی. همدا وجه ده چي که څوک دمرض په حالت کي د قرض اقرار وکړي نو دا اقرار له ټوله مال څخه معتبر ګڼل کيږي او په ټوله مال کي به نافذيږي، او که څوک دمرض په حالت کي دعتق اقرار وکړي نو هغه له ثلث المال څخه معتبر کيږي. او قاعده دا ده چي اقوىٰ ادنىٰ دفع کوي او ليري کوي. نو ځکه په مذکوره مسئله کي په قرض سره دعتق دليري کولو او دفع کولو تقاضا دا ده چي عتق بالکل باطل او ختم سي. لېکن څرنګه چي عتق تر واقع کېدلو وروسته بيا دباطلېدلو احتمال نه لري. نو ځکه په ظاهري اعتبار سره خو موږ هغه نه باطلوو. لېکن په معنوي او باطني اعتبار سره به هغه باطلوو. او په معنوي اعتبار سره دباطلېدلو صورت همدا دی چي عتق نافذ کړی سی او پر غلام سعايه واجب کړی سي. نو ځکه موږ (امام صاحب) په مذکوره مسئله کي پر غلام سعايه واجب کړې ده.

ولأن الدين إلخ: دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله بل دليل دی. حاصل يې دا دی چي قرض له عتق څخه مخکي او مقدم دی: ځکه د حالت صحت وطرف ته د قرض دمنسوب کولو لاره صفا ده. حال دا چي د دغه حالت صحت وطرف دعتق دمنسوب کولو لاره صفا نه ده: ځکه که هغه ته منسوب کړی سي نو يوه خرابي خو دا لازميږي چي د ابعدُ الاوقات (حالت صحت) وطرف ته به د هغه نسبت وسي. حال دا چي امر حادث د اقرب الاوقات (حالت مرض) وطرف ته منسوب کيږي او بله خرابي دا لازميږي چي دلته معتق مقروض دی (ځکه مخکي په حالت صحت کي قرض موجود دی) او کله چي په مرضُ کي الموت کي مقروض کس غلام آزاد کړي. نو هغه مفت نه آزاديږي (يا په بله وينا دا چي مخکي دمُعتق مقروضُ کېدل په حالت

مرض کې د عتق له مفت واقع کېدلو څخه مانع دي). نو ځکه په دې حواله سره هم دا غلام به مفت نه آزادیږي.
بلکې پر هغه به د خپل قیمت په اندازه سعی او کټه کول او د مړي وارث (څوی) ته ورکول لازم وي.

که پر مړي یو کس د قرض دعوی وکړي او بل کس د امانت، نو د کوم یوه په باره کې به فیصله کیږي؟

وَعَلىٰ هٰذَا الْخِلَافُ إِذَا مَاتَ الرَّجُلُ وَتَرَكَ أَلْفَ دِرْهَمٍ او پر همدغه اختلاف دي که چیرې یو سړی مړ سو او زر درهمه یې پرېښودل فَقَالَ رَجُلٌ: لِيْ عَلَى الْمَيِّتِ أَلْفُ دِرْهَمٍ دَيْنٌ نو یو سړي وویل: چې زما پر مړي زر درهمه قرض باندې دی وَقَالَ الْآخَرُ: كَانَ لِيْ عِنْدَهُ أَلْفُ دِرْهَمٍ وَدِيْعَةٌ او بل سړي وویل: چې د مړي سره زما زر درهمه امانتاً ایښودل سوي وه فَعِنْدَهُ الْوَدِيْعَةُ أَقْوىٰ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ودیعت زیات قوي دی وَعِنْدَهُمَا سَوَاءٌ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز [قرض او ودیعت دواړه] سره برابر دي.

اللغات: ﴿دَین﴾ قرض. ﴿ودیعة﴾ امانت، هغه مال کوم چې یو چا ته په امانت ایښول سوي وي.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو سړی مثلاً مړ سو او د هغه میراث او ترکه زر درهمه ده. بیا یو سړی راغلی او د زید وارث ته یې وویل چې زید زما مقروض وو او پر هغه زما زر درهمه قرض باندې وو. او بل کس راغلی او ویې ویل چې زید ته ما زر درهمه په امانت ایښي وه. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د امانت والا (صاحب ودیعت) قول معتبر دی او دا زر درهمه به هغه ته ورکول کیږي. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د امانت او قرض دواړه مدعیان په دې زرو درهمو کې برابر شریکان کیږي: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې قرضخواه د قرض مدعي دی او د قرض تعلق د عَین سره نه وي بلکې قرض پر ذمه واجب وي (او دلته موجوده زر درهمه عین دي). او د امانت خاوند د امانت (ودیعت) مدعي دی او د امانت تعلق د عین (موجوده زرو درهمو) سره دی. نو په دې حواله سره دلته ودیعت اقوىٰ دی. لهذا په مذکوره مسئله کې چې کله د ودیعت مدعي موجود دی چې د هغه تعلق د عَین سره دی. نو هغه به د قرض مدعي دفع کړي؛ نو ځکه موجوده زر درهمه به هغه (صاحبِ ودیعت) ته ورکول کیږي.

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې قرضخواه که څه هم د قرض مدعي دی او قرض پر ذمه واجب دی کوم چې د عَین سره تعلق نه لري. خو د مقروض (زید) تر مرګ وروسته د قرضخواه حق وعین (موجوده زرو درهمو) ته منتقل سوی دی چې د امانت خاوند (صاحب ودیعت) د هغه د امانت کېدلو مدعي دی. نو ګوکې دواړه د عَین مدعیان دي. نو ځکه دواړه به په دې زرو درهمو کې شریکان کیږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم

فَصْلٌ

که یو څوک د حقوق الله (روژه، لمونځ، زکاة، حج وغیره) وصیت وکړي نو په کوم ترتیب سره به اداء کول کیږي

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى بِوَصَايَا مِنْ حُقُوْقِ اللهِ تَعَالىٰ فرمايي: او چا چې له حقوق الله څخه د څو وصتیونو وصیت کړی وي قُدِّمَتِ الْفَرَائِضُ مِنْهَا نو له هغه وصیتونو څخه به فرائض مخکې کول کیږي قَدَّمَهَا الْمُوْصِيْ أَوْ أَخَّرَهَا برابره ده موصي هغوی مخکې کړي وي او که یې وروسته کړي وي مِثْلَ الْحَجِّ وَالزَّكَاةِ وَالْكَفَّارَاتِ لکه حج. زکاة او کفارات لِأَنَّ الْفَرِيْضَةَ أَهَمُّ مِنَ النَّافِلَةِ ځکه چې فرض له نفلو څخه زیات مهم دي وَالظَّاهِرُ مِنْهُ الْبِدَايَةُ بِمَا هُوَ الْأَهَمُّ او ښکاره د موصي له طرفه په زیات مهم سره شروع کول دي.

اللغات: ﴿قُدِّمت﴾ د تفعیل له بابه د واحد غائب ماضي صیغه ده: مقدم کېدل. مخکې کول کېدل.

﴿بدایة﴾ البداءة: ابتداء او شروع کول. اول کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که د یو سړي پر ذمه د الله تعالیٰ څو حقوق مثلاً لمونځونه یا روژې یا حج یا زکاة. کفاره. نذر او صدقه فطر وه. او هغه یې د اداء کولو وصیت وکړی او بیا مړ سو. نو پر وارثانو اداء کول واجب دي چې د مړي له ثلث مال څخه به هغوی اداء کوي او د دې خبرې خیال به ساتل کیږي چې وارثان به تر ټولو مخکې فرائض اداء کوي که څه هم مړي د فرائضو وصیت له نوافلو څخه مؤخر کړی وي. لېکن وارثان به اول صرف فرائض اداء کوي او بیا به نوافلو ته توجه کوي: ځکه فرائض له نوافلو څخه اهم دي او قاعده دا ده چې اول اهم اداء کول کیږي. بیا تر هغه وروسته چې کوم پر دویم او دریم نمبر وي. د هغو نوبت راځي. او ظاهر حال هم دا دی چې د موصي مقصد د اهم مخکې کول دي (ځکه پر کوم کس چې مثلاً قرض باندې وي. نو هغه عموماً په صدقاتو او خیراتو نه مشغولیږي). نو ځکه دلته چې پر موصي کوم حقوق واجب دي. له هغوی څخه به اول اهم اداء کول کیږي او وروسته به غیر اهم یعني نوافل وغیره اداء کول کیږي.

دلته دا خبره یاد ساتل پکار دي چې که مذکوره سري د دغه حقوقو د اداء کولو وصیت نه وو کړی. نو بیا پر وارثانو د هغه اداء کول واجب نه دي، بلکې هغوته د اداء کولو او نه اداء کولو ترمینځ اختیار دی.

که ټوله وصیتونه په قوت کې سره برابر وي، نو کوم یو به مخکې کول کیږي؟

فَإِنْ تَسَاوَتْ فِي الْقُوَّةِ بیا که ټوله وصیتونه په قوت کې سره برابر وي بُدِئَ بِمَا قَدَّمَهُ الْمُوصِيْ نو په هغه وصیت به شروع کول کیږي کوم چې موصي مخکې کړی وي إِذَا ضَاقَ عَنْهَا الثُّلُثُ کله چې ثلث له هغه ټولو وصیتونو څخه تنګ سي لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّهُ يَبْتَدِئُ بِالْأَهَمِّ ځکه ښکاره همدا ده چې موصي به په اهم یوه شروع کوي وَذَكَرَ الطَّحَاوِيُّ أَنَّهُ يَبْتَدِئُ بِالزَّكَاةِ وَيُقَدِّمُهَا عَلَى الْحَجِّ او امام طحاوي رَحِمَهُ الله ذکر کړي دي چې وارث به په زکاة سره شروع کوي او هغه به پر حج مخکې کوي وَهُوَ إِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ أَبِي يُوسُفَ او همدا له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو راویت دی وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ أَنَّهُ يُقَدِّمُ الْحَجَّ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه بل روایت دا دی چې وارث به حج مخکې کوي وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ او همدا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی.

اللغات: ﴿بُدِئَ﴾ د فتح له بابه ماضي مجهوله ده: شروع کول. اول کول. ﴿ضَاقَ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: تنګېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د موصي ټوله وصیتونه په قوت او مرتبه کې سره برابر وي یعني ټوله فرائض وي. یا ټوله واجبات وي او د میراث ثلث د هغوی د اداء کولو لپاره نا کافي وي، نو په دې صورت کې چې موصي کوم یو مخکې ذکر کړی وي. هغه به اداء کول کیږي. مثلاً د هغه پر ذمه زکاة هم وي او حج هم وي او موصي حج مخکې بیان کړی وي، نو حج به پر زکاة مخکې کول کیږي: ځکه د موصي له بیان څخه همدا ښکاره کیږي (یعني ظاهر حال همدا دی) چې موصي هغه وصیت مخکې کړی دی کوم چې د ده په نیز اهم دی. نو ځکه هغه به مخکې کول کیږي.

وذکر الطحاوي إلخ: امام طحاوي رَحِمَهُ الله فرمایي چې که حج او زکاة دواړه د موصي پر ذمه واجب وي. نو وارث به زکاة پر حج مخکې اداء کوي او بیا به حج اداء کوي. همدا له مام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دی او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله بل روایت دا دی چې په دې صورت کې به حج پر زکاة مخکې کول کیږي. او همدا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول هم دی.

يادونه: كېداى سي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله ته يو روايت دا ترلاسه سوى وي چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز حج به پر زكاة مخكې كول كيږي. كنې په اكثره شروحو او كتابو كې د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دا بيان سوى دى چې د هغه په نېز زكاة به پر حج مخكې كول كيږي.

د پورتنۍ مسئلې دلائل

وَجْهُ الْأُولٰى أَنَّهُمَا وَإِنِ اسْتَوَيَا فِي الْفَرِيْضَةِ د اول روايت دليل دا دى چې حج او زكاة دواړه كه څه هم په فرضيت كې سره برابر دي فَالزَّكَاةُ تَعَلَّقَ بِهَا حَقُّ الْعِبَادِ ليكن د زكاة سره د بندګانو حق متعلق دى فَكَانَ أَوْلٰى نو زكاة به اولىٰ وي وَجْهُ الْأُخْرىٰ أَنَّ الْحَجَّ يُقَامُ بِالْمَالِ وَالنَّفْسِ د دويم روايت دليل دا دى چې حج په مال او ځان دواړو سره اداء كول كيږي وَالزَّكَاةُ بِالْمَالِ قَصْرًا عَلَيْهِ او زكاة فقط پر مال منحصر په مال سره اداء كول كيږي [يعني زكاة اداء كول صرف پر مال منحصر دي] فَكَانَ الْحَجُّ أَقْوىٰ نو ځكه حج به زيات قوي وي ثُمَّ تُقَدَّمُ الزَّكَاةُ وَالْحَجُّ عَلَى الْكَفَّارَاتِ بيا به حج او زكاة پر كفاراتو مخكې كول كيږي لِمَزِيَّتِهِمَا عَلَيْهَا فِي الْقُوَّةِ ځكه دا دواړه [حج او زكاة] په قوت كې پر ټولو كفاراتو افضل دي إِذْ قَدْ جَاءَ فِيْهِمَا مِنَ الْوَعِيْدِ مَا لَمْ يَأْتِ فِي الْكَفَّارَاتِ ځكه د دې دواړو په باره كې داسې وعيدونه دي راغلي دي كوم چې د كفارې په باره كې نه دي راغلي وَالْكَفَّارَةُ فِي الْقَتْلِ وَالظِّهَارِ وَالْيَمِيْنِ مُقَدَّمَةٌ عَلٰى صَدَقَةِ الْفِطْرِ او د قتل او ظهار او يمين كفاره پر صدقهٔ فطر مخكې ده لِأَنَّهُ عُرِفَ وُجُوْبُهَا بِالْقُرْآنِ دُوْنَ صَدَقَةِ الْفِطْرِ ځكه د هغوى وجوب په قرآن سره معلوم سوى دى. نه د صدقهٔ فطر وَصَدَقَةُ الْفِطْرِ مُقَدَّمَةٌ عَلَى الْأُضْحِيَةِ او صدقهٔ فطر [سرسايه] پر قرباني مخكې ده لِلْاِتِّفَاقِ عَلٰى وُجُوْبِهَا وَالْاِخْتِلَافِ فِي الْأُضْحِيَةِ ځكه چې د صدقهٔ فطر پر وجوب اتفاق دى او په قرباني كې اختلاف دى وَعَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ يُقَدَّمُ بَعْضُ الْوَاجِبَاتِ عَلَى الْبَعْضِ او پر همدغه قياس بعضې واجبات به پر بعضو مخكې كول كيږي قَالَ: وَمَا لَيْسَ بِوَاجِبٍ فرمايي: او كوم اوصيتونه

چي واجب نه وي قُدِّمَ مِنۡهُ مَاقَدَّمَهُ الۡمُوۡصِيۡ نو له هغوی څخه به هغه مخکي کول کیږي کوم چي موصي مخکي کړي وي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی وَصَارَ كَمَا إِذَا صَرَّحَ بِذٰلِكَ او دا داسي سوه لکه موصي چي د هغه صراحت کړی وي.

اللغات: ﴿مزية﴾ فضیلت، زیاتوب، اهمیت (ارزښت). ﴿عُرِف﴾ د ضرب له بابه ماضي مجهوله ده: پېژندل کېدل، معلومېدل.

تشریح: **مسئله**: دا ده چي که پر موصي حج او زکاة دواړه واجب وي، نو یو روایت دا دی چي زکاة به له حج څخه مخکي کول کیږي (تر حج به مخکي اداء کول کیږي)؛ دلیل یې دا دی چي حج او زکاة که څه هم دواړه په فرضیت کي سره برابر دي، لېکن د زکاة سره د حقُ الله تر څنګ حقُ العباد هم متعلق دی، نو ځکه د حج په نسبت به زکاة اولیٰ او اقویٰ وي او د هغه اداء به له حج څخه مخکي کول کیږي.

دویم روایت دا دی چي حج به له زکاة څخه مخکي کول کیږي؛ ځکه حج په مال او ځان دواړه سره اداء کیږي، حال دا چي زکاة صرف په مال سره اداء کیږي، او ښکاره ده چي په کوم عبادت کي مال او ځان دواړه لګول کیږي، دا به له هغه عبادت څخه یقیناً اولیٰ وي چي هلته صرف د مال معامله وي، نو ځکه حج به له زکاة څخه مخکي کول کیږي.

ثم تُقدَّم الخ: د دې حاصل دا دی چي د زکاة، حج او د کفارې د اجتماع په صورت کي به حج او زکاة له کفارې څخه مخکي کول کیږي؛ ځکه حج او زکاة د اسلام په ارکانو کي شامل دي او هغو ته پر کفاراتو ترجیح او فوقیت حاصل دی. همدارنګه د حج او زکاة نه اداء کولو په هکله چي کوم وعیدونه وارد سوي دي، هغه د کفاراتو په سلسله کي نه دي وارد سوي، نو ځکه حج او زکاة به له کفاراتو څخه مخکي اداء کول کیږي.

ها! په کفاراتو کي به بعضي پر بعضو مخکي کول کیږي مثلاً د قتل کفاره د یمین او ظهار له کفارې څخه اقویٰ ده؛ ځکه د قتل په کفاره کي د "رقبة مؤمنة" (مؤمن غلام آزادول) شرط دي، او د یمین کفاره بیا د ظهار له کفارې څخه مخکي ده؛ ځکه چي د یمین کفاره د الله د نامه د بې حرمتۍ کولو په خاطر واجبیږي، حال دا چي د ظهار کفاره پر خپل ځان د ښځي د حرامولو په وجه واجبیږي.

او کفارات بیا له صدقةُ الفطر څخه اقویٰ او مقدّم دي؛ ځکه د کفاراتو وجوب په کتابُ الله سره دی او د صدقةُ الفطر وجوب په حدیث سره دی، او په کتابُ الله سره ثابت شی له هغه شي څخه اقویٰ دی کوم چي په حدیث سره ثابت وي.

وصدقة الفطر إلخ: او صدقة الفطر له قرباني (اضحیه) څخه اقوی او مخکې ده: ځکه د صدقة الفطر پر وجوب د فقهاؤ اتفاق دی. حال دا چې د قرباني په وجوب کې د فقهاؤ اقوال مختلف دي. او متفق علیه شی له مختلف فیه شي څخه اقوی وي. وعلی هٰذا القیاس: یعني همدا ډول دیوې نوع چې څومره اُمور پر مړي واجب وي، هغوی به د خپل مراتبو مطابق مخکې او وروسته کول کیږي. لکه څرنګه چې په کفاراتو کې د دې مثال ذکر سو.

ومالیس بواجب إلخ: د دې حاصل دا دی چې کوم وصیتونه واجب نه وي. بلکې د نفل او تطوّع له قبیلې څخه وي، په هغوی کې به هاغه وصیت مخکې کول کیږي کوم چې موصي مخکې بیان کړی وي. مثلاً که موصي د خپل ځان له طرفه د نفلي حج او نفلي اعتاق وصیت کړی وي. نو په دې صورت کې چې موصي کوم یو مخکې بیان کړی وي، هغه به وارثان هم مخکې کوي: دلیل مخکې تېر سو چې ظاهرِ حال همدا دی چې موصي هغه یو مخکې بیانوي کوم چې د ده په نېز اهم وي (یعني کوم چې زیات مهم وي). نو ځکه هغه به مخکې کول کیږي. لکه څرنګه چې په هغه صورت کې مخکې کول کیږي کله چې موصي دا خبره صراحتاً (په ښکاره الفاظو) کړې وي چې ما کوم وصیت مخکې بیان کړی دی. تاسې هم هاغه مخکې اداء کړئ!. نو همداسې کله چې هغه د دې خبرې صراحت نه وي کړی لېکن په ذکر او بیان کې یې یو مخکې کړی وي. نو هاغه به مخکې کول کیږي.

. په حق الله او حق العبد کې به کوم یو مخکې کول کیږي؟

قَالُوْا: إِنَّ الثُّلُثَ يُقْسَمُ عَلٰى جَمِيْعِ الْوَصَايَا فقهاؤ فرمایلي دي: چې ثلث به پر ټولو وصیتونو تقسیمول کیږي مَاكَانَ لِلّٰهِ تَعَالٰى وَمَاكَانَ لِلْعَبْدِ [یعني] کوم وصیتونه چې د الله تعالیٰ لپاره وي او کوم چې د بنده لپاره وي فَمَا أَصَابَ الْقُرَبَ نو کوم مقدار چې قرباتو ته ورسیږي صُرِفَ إِلَيْهَا عَلَى التَّرْتِيْبِ الَّذِيْ ذَكَرْنَاهُ نو هغه به قرباتو ته په هاغه ترتیب سره ګرځول کیږي [پکښې مصرفول کیږي] کوم چې مونږ ذکر کړی وَيُقْسَمُ عَلٰى عَدَدِ الْقُرَبِ او هغه [ثلث] به د قرباتو پر شمېر تقسیمول کیږي وَلَا يُجْعَلُ الْجَمِيْعُ كَوَصِيَّةٍ وَاحِدَةٍ او ټوله قربات به دیوه وصیت په څېر نه ګرځول کیږي لِأَنَّهُ

إِنْ كَانَ الْمَقْصُوْدُ بِجَمِيْعِهَا رِضَا اللهِ تَعَالٰى ځکه که څه هم په ټولو سره د الله رضا مقصود ده فَكُلُّ وَاحِدَةٍ فِيْ نَفْسِهَا مَقْصُوْدٌ لیکن هر یو قربت بذات خود مقصود دی فَتَنْفَرِدُ كَمَا تَنْفَرِدُ وَصَايَا الْآدَمِيِّيْنَ نو ځکه هر قربت به داسې منفرد کیږي لکه څرنګه چې د ځو خلګو وصیتونه منفرد کیږي.

اللغات: ﴿أصاب﴾ د افعال د باب ماضي ده: رسېدل (په حصه کې راتلل). ﴿صُرِفَ﴾ د ضرب باب ماضي مجهوله ده: ګرځول، مصرفول، خرچول. ﴿ينفرد﴾ د انفعال د باب مضارع ده: منفرد کېدل، یوازینی کېدل، علیحده کېدل او جلا کېدل.

تشریح: له دې ځایه مصنف رَحِمَهُ الله نوې مسئله بیان کړې ده. صورت د مسئلې دا دی که یو سړي د حقوقُ الله او حقُ العبد دواړو په باره کې څو وصیتونه کړي وي مثلاً د حج، زکاة او کفارې وصیت یې کړی وي او د دې تر څنګ دیو بنده مثلاً د زید لپاره یې د ثلث مال وصیت کړی وي، نو دلته اول درې حقوقُ الله دي او څلورم وصیت د حقُ العبد دی، په داسې صورت کې به کومه طریقه اختیارول کیږي؟.

نو فرمایي چې اولاً به ثلث څلور حصې کړل سي او له هغه څخه به یوه حصه د حقُ العبد لپاره وټاکل سي یعني زید ته به ورکول سي، او د حقوقُ الله (قرباتو) لپاره چې کومې درې حصې پاته سوې، نو په دوی کې به هاغه طریقه اختیارول کیږي کوم چې څه مخکې بیان سوه، یعني په مذکوره دریو قرباتو (حج، زکاة او کفاره) کې به زکاة مخکې کول کیږي، یعني په پاته دریو حصو کې به له مذکوره دریو قرباتو څخه اول زکاة اداء کول کیږي، د زکاة تر اداء کولو وروسته چې د ثلث کوم مقدار پاته سو، نو بیا به په هغه کې حج له کفارې څخه مخکې کول کیږي، او د کفارې لپاره که چیرې څه مقدار پاته سو، نو هغه به هم اداء کول کیږي، کنې نه به اداء کول کیږي.

(نو د پورتنی تشریح په رڼا کې د عبارت حاصل دا سو چې ثلث ته به پر ټولو وصیتونو یعني د حقوق الله او حق العبد پر مجموعې تقسیم کړی سي یعني د دې مجموعې پر عددِ رؤوس به تقسیم کړی سي. نو د ثلث کوم مقدار چې د حقوق الله په حصه کې راسي. په هغه مقدار کې به له حقوق الله څخه اول هغه حق مخکې کړی سي چې د هغه د مخکې کولو بیان تېر سو).

ویقسم علی عدد الخ: یعني ثلث به د قرباتو (حقوق الله) پر عدد تقسیمول کیږي او داسي به نه کیږي چي ټوله قربات یو وصیت وشمېرل سي او ثلث صرف دوې حصې کړل سي (بلکي داسي به کیږي لکه په پورتني صورت کي چي درې سره قربات جلا وصیتونه شمېرل سوي دي او څلور حصې کړل سوی دی. درې حصې د قرباتو [حقوق الله] لپاره او یوه حصه د حق العبد لپاره)، ځکه که څه هم په حقوق الله کي د ټولو وصیتونو مقصود ثواب او رضاء الهي ده، لېکن د هر قربت مقصود جلا دی، نو ځکه هر یو به جلا، جلا شمېرل کیږي، لکه څرنګه چي کله د مختلفو خلګو لپاره وصیت سوی وي، نو ټوله جلا، جلا شمېرل کیږي، مثلاً یو چا د فقیرانو او مسافرانو او لارویانو لپاره وصیت وکړی، نو له دوی څخه هر فریق جلا شمېرل کیږي او د هر فریق لپاره یوه جلا حصه ایستل کیږي که څه هم د ټولو مقصود قربت دی، نو همداسي به په څو قرباتو کي هم هر قربت جلا شمېرل کیږي.

د حج د وصیت پوره کولو طریقه

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰی بِحَجَّةِ الْإِسْلَامِ فرمایي: او چا چي د حج اسلام وصیت کړی وي أَحَجُّوْا عَنْهُ رَجُلًا مِنْ بَلَدِهٖ نو وارثان به د هغه [موصي] له طرفه د هغه له ښار څخه په یو سړي حج کوي یَحُجُّ رَاكِبًا چي هغه سړی به په سپارلی سره حج کوي لِأَنَّ الْوَاجِبَ لِلّٰهِ تَعَالٰی الْحَجُّ مِنْ بَلَدِهٖ ځکه واجب د الله تعالیٰ لپاره د هغه [موصي] له ښار څخه حج کول دي [یعني پر هغه له خپل ښار څخه د الله تعالیٰ لپاره حج واجب سوی دی] وَلِهٰذَا يُعْتَبَرُ فِيْهِ مِنَ الْمَالِ مَا يَكْفِيْهِ مِنْ بَلَدِهٖ په همدې وجه په هغه [حج واجبدلو] کي دومره مال معتبر دی کوم چي د سړي لپاره د هغه له ښار څخه کافي وي وَالْوَصِيَّةُ لِأَدَاءِ مَا هُوَ الْوَاجِبُ عَلَيْهِ او وصیت د هغه شي د اداء کولو لپاره وي کوم چي پر سړي واجب وي وَإِنَّمَا قَالَ رَاكِبًا او امام قدوري رَحِمَهُ الله [په دې وجه] "راكبًا" [په سپارلی سره] فرمایلي دي لِأَنَّهٗ لَا يَلْزَمُهٗ أَنْ يَحُجَّ مَاشِيًا ځکه چي پر سړي په پښو [پیاده] حج کول لازم نه دي فَانْصَرَفَ إِلَيْهِ عَلَى الْوَجْهِ الَّذِيْ وَجَبَ عَلَيْهِ نو ځکه د هغه [بل سړي] وطرف ته به په هغسي توګه حج ګرځي په کومه توګه چي خپله پر سړي [موصي] واجب دی.

اللغات: ﴿راكب﴾ د فتح د باب فاعل دی: سپرېدونکی، سپور. ﴿ماشي﴾ د ضرب د باب فاعل دی: په پښو (پیاده) تلونکی. ﴿انصرف﴾ د انفعال د باب ماضي ده: ګرځېدل، راجع کېدل.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که پر یو سړي حج فرض سو. لیکن په خپل ژوند کي هغه حج نه وکړی سو او د مرګ په وخت کي هغه دا وصیت وکړی چي زما له طرفه دي حج وکړی سي، نو د هغه پر وارثانو لازم دي چي د موصي له طرفه د بل سړي په ذریعه حج وکړي او هغه ته د و مره مال او پیسې ورکړي چي هغه سړی د سپارلي په ذریعه د موصي له ښار څخه حج وکړی سي: ځکه دا حجِ بدل دی کوم چي د موصي له طرفه اداء کول کیږي. او څرنګه چي پر موصي له خپل ښار څخه د سپارلي په ذریعه حج کول لازم وه. ځکه چي د موصي سره مال موجود وو. په همدې وجه پر هغه حج فرض سوی وو. لهذا په کومه توګه چي اصل حج فرض وو. نو حجِ بدل به هم په هغسي توګه اداء کوي د دې لپاره چي بدل په هره توګه د اصل مماثل سي.

که له ثلث مال څخه د حج وصیت پوره نه کړی سي نو کومه طریقه به اختیاول کیږي؟

قَالَ: فَإِنْ لَمْ تَبْلُغِ الْوَصِيَّةُ النَّفَقَةَ فرمایي: که چیري وصیت [د حج] نفقې ته نه ورسیږي [یعني که چیري د وصیت مقدار (ثلث) د حج د خرچې لپاره کافي نه وي] أَحَجُّوْا عَنْهُ مِنْ حَيْثُ تَبْلُغُ نو وارثان به د هغه [موصي] له طرف څخه له هغه ځایه حج کوي له کومه ځایه چي رسېدلای سي [یعني له کوم ځای او ښار څخه چي د وصیت مقدار د حج اداء کولو لپاره کافي وي] وَفِي الْقِيَاسِ لَا يُحَجُّ عَنْهُ او په قیاس کي د هغه [موصي] له طرفه به حج نه کول کیږي لِأَنَّهُ أَمَرَ بِالْحَجَّةِ عَلَى صِفَةٍ عَدِمْنَاهَا فِيْهِ ځکه موصي په داسي صفت سره د حج کولو حکم کړی دی چي هغه صفت موږ په دې مال کي معدوم مېندلی دی غَيْرَ أَنَّا جَوَّزْنَاهُ خو موږ دا وصیت [په دې وجه] جائز ګرځولی دی لِأَنَّا نَعْلَمُ أَنَّ الْمُوصِيَ قَصَدَ تَنْفِيْذَ الْوَصِيَّةِ ځکه چي موږ ته معلومه ده چي موصي د وصیت نافذولو اراده کړې ده فَيَجِبُ تَنْفِيْذُهَا مَا أَمْكَنَ نو ځکه د هغه نافذول به واجب وي تر څو چي ممکنه وي وَالْمُمْكِنُ فِيْهِ مَا ذَكَرْنَاهُ او په دې کي هاغه صورت [او طریقه] ممکنه ده کوم چي موږ ذکر کړه وَهُوَ أَوْلَى مِنْ إِبْطَالِهَا رَأْسًا او هغه صورت د وصیت له بالکل باطلولو څخه زیات غوره دی وَقَدْ فَرَّقْنَا بَيْنَ هٰذَا وَبَيْنَ الْوَصِيَّةِ بِالْعِتْقِ مِنْ قَبْلُ او موږ د دې [حج د وصیت] او د عتق د وصیت په مېنځ کي فرق مخکي بیان کړی دی.

اللغات: ﴿نفقة﴾ خرچه (خرڅ)، لګښت. ﴿عدمنا﴾ د سمع له بابه د جمع متکلم ماضي صیغه ده: نېستول، نه مېندل. ﴿جوّزنا﴾ د تفعیل له بابه مخکنۍ صیغه ده: جائز ګرځول، اجازه ورکول. ﴿رأسًا﴾ بالکل (بالکلیه)، په پوره توګه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که یو سړي (مثلاً زید) وصیت وکړی چې زما په مال سره دي زموږ له ښار څخه زما له طرفه حج وکړی سي، لیکن د هغه د مال ثلث د هغه (زید) له ښار څخه د حج لپاره ناکافي وو خو په هغومره مال له کابل ښار څخه حج کېدلای سو، نو استحساناً به له کابل څخه حج کول کیږي، لیکن د قیاس تقاضا دا ده چې په دې صورت کي به د موصي (زید) له طرفه حج نه کول کیږي؛ ځکه موصي له خپل ښار څخه د حج کولو وصیت کړی دی او له کابل څخه په حج کولو کي دا صفت معدوم دی، لهذا من کلّ وجه د هغه وصیت نافذول ممکن نه دي، نو ځکه دا وصیت باطل دي.

د استحسان دلیل دا دی چې د موصي مقصد د حج فریضه اداء کول دي، لهذا تر څو چې او له کومه ځایه چې دا ممکنه وي، دغه وصیت به پوره کول کیږي، او دا په هغه صورت کي پوره کیږي کوم چې موږ بیان کړی دی چې د موصي له ښار څخه بغیر له بل ښار (کابل) څخه حج وکړی سي او وصیت بالکل باطل نه کړی سی؛ ځکه قاعده دا ده چې "ما لایُدرَکُ کله لایُترَکُ کله" یعني کوم شی چې د خپل ټولو لوازماتو سره نه سي حاصلول کېدای (لکه دلته چې حج خاص د موصي له ښار څخه نه سي کېدلای)، هغه شی بالکلیه پرېښوول کېدای هم نه سي.

وقد فرقنا إلخ: صاحب د هدایې فرمایي چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز په وصیت بالحج او وصیت بالعتق کي چې کوم فرق دی، هغه مخکي موږ بیان کړی دی.

د حج په لاره کي د مړ کېدونکي کس د حج وصیت کول (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَمَنْ خَرَجَ مِنْ بَلَدِهِ حَاجًّا فرمایي: او څوک چې له خپل ښار څخه حج کونکی [د حج په اراده] ووتی فَمَاتَ فِي الطَّرِيقِ بیا په لاره کي مړ سو وَأَوْصَى أَنْ يُحَجَّ عَنْهُ او دا وصیت یې وکړی چې د هغه له طرفه دي حج وکړی سي يُحَجُّ عَنْهُ مِنْ بَلَدِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د هغه له طرفه به د هغه له خپل ښار څخه حج کول کیږي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز وَهُوَ قَوْلُ زُفَرَ او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يُحَجُّ عَنْهُ مِنْ حَيْثُ بَلَغَ اِسْتِحْسَانًا او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چې د هغه له طرفه به له هغه ځای څخه حج کول کیږي چیري چې هغه رسېدلی وي بناء بر استحسان وَعَلَى هٰذَا الْخِلَافِ إِذَا مَاتَ الْحَاجُّ عَنْ غَيْرِهِ فِي الطَّرِيقِ او پر همدغه اختلاف دي کله چې د بل چا له

طرفه حج کونکی کس په لاره کي مړ سي لَهُمَا: أَنَّ السَّفَرَ بِنِيَّةِ الْحَجِّ وَقَعَ قُرْبَةً د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی: چي د حج په نیت سره سفر قربت واقع سو وَسَقَطَ فَرْضُ قَطْعِ الْمَسَافَةِ بِقَدْرِهِ او د هغه په اندازه د مسافې پرېکولو فریضه ساقطه سوه وَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللهِ او د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نېز د هغه [مړ سوي موصي] لپاره اجر ثابت سو فَيَبْتَدِئُ مِنْ ذٰلِكَ الْمَكَانِ نو ځکه [اوس] به له هاغه ځای څخه شروع کیږي كَأَنَّهُ مِنْ أَهْلِهِ ګواکي [یعني داسي به ګڼل کیږي] چي موصي [اوس] د هغه ځای له خلکو څخه دی بِخِلَافِ سَفَرِ التِّجَارَةِ په خلاف د تجارت د سفر لِأَنَّهُ لَمْ يَقَعْ قُرْبَةً ځکه چي هغه قربت نه واقع کیږي فَيُحَجُّ عَنْهُ مِنْ بَلَدِهِ نو ځکه د هغه [تاجر موصي] له طرفه به د هغه له خپل ښار څخه حج کول کیږي وَلَهُ: أَنَّ الْوَصِيَّةَ تَنْصَرِفُ إِلَى الْحَجِّ مِنْ بَلَدِهِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي دا وصیت د موصي له خپل ښار څخه د حج کولو وطرف ته ګرځي عَلَى مَا قَرَّرْنَاهُ د هغه تفصیل مطابق کوم چي [مخکي] موږ بیان کړی أَدَاءً لِلْوَاجِبِ عَلَى الْوَجْهِ الَّذِي وَجَبَ [د دې لپاره] چي واجب په هغه توګه اداء کړی سي په کومه توګه چي واجب سوی دی [یا په بله وینا دا چي حج په کوم صفت او طریقه سره پر هغه واجب سوی دی. په هغه صفت سره اداء کړی سي].

اللغات: ﴿حاجّ﴾ د نصر د باب فاعل دی: حج کونکی. ﴿قربة﴾ نېکي، د نېکۍ کار. عبادت.
﴿تنصرف﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ګرځېدل. راجع کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که یو سړی (مثلاً زید) له خپل کور څخه د حج په اراده ووتی. په لاره کي هغه ناروغه سو او هغه دا وصیت وکړی چي زما له طرفه دي حج وکړی سي بیا هغهٔ مړ سو. نو د هغه (زید) پر وارثانو د هغه له طرفه حج اداء کول لازم دي. او په دې صورت کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي د هغه (زید) له طرفه به حج د هغه له خپل ښار څخه اداء کول کیږي یعني د حج اداء کولو لپاره به یو کس د هغه له ښار څخه استول کیږي. امام زفر رَحِمَهُ الله هم د دې قائل دی. لیکن صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي په کوم ځای کي دا سړی (زید) وفات سوی دی. له هغه ځای څخه به د ده له طرفه د حج لپاره یو څوک استول کیږي. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دا قول پر استحسان مبني دی.

همدارنګه که یو څوک د موصي له طرفه د حج بدل لپاره روان وي او په لاره کې هغه وفات سي.
نو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز د هغه وفات له ځای څخه به یو څوک استول کیږي، لیکن د امام صاحب او امام زفر رَحِمَهُمَا الله په نیز به د موصي له ښار څخه استول کیږي.

لهما إلخ: د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې کله یو څوک له کور څخه د حج په نیت وتلی وي، نو څومره مسافه چې هغه پرېکړې وي، هغه ټوله قربت شمېرل کیږي او د هغه مسافې په اندازه د ده له غاړې څخه د مسافې فریضه ساقطیږي او ده ته د هغومره مسافې پرېکولو پوره ثواب حاصلیږي، لهذا له کومه ځایه چې د مړي (زید) له طرفه مسافه پاته سوې وي، له هاغه ځایه به یو څوک د حج اداء کولو لپاره استول کیږي، او داسې به ګڼل کیږي چې مړی (زید) د همدې ځای اوسېدونکی دی، نو ځکه د هغه له طرفه به له همدې ځایه حج کول کیږي.

د دې په خلاف که یو څوک د تجارت په نیت مکې مکرّمې ته روان وي او په لاره کې هغه ناروغه سي او په همدې دوران کې هغه د حج وصیت وکړي او مړ سي، نو بالاتفاق د هغه له طرفه به د هغه له خپل ښار څخه حج کول کیږي؛ ځکه دغه کس چې څومره مسافه پرېکړې ده، هغه قربت نه ده واقع سوې او نه په دې مقدار کې د هغه له طرفه فریضه ساقطه سوې ده، نو ځکه د هغه له طرفه بالاتفاق د هغه له ښار څخه حج کول کیږي.

وله أن الوصیة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې کله حاجي د حج له پوره کولو څخه مخکې مړ سي، نو د هغه سفر د حج لپاره نه شمېرل کیږي بلکې هغه او تاجر دواړه سره برابر دي، لو څرنګه چې د تاجر په وصیت کې د هغه له ښار څخه حج کول کیږي، همداسې به د دغه کس (زید) په وصیت کې هم د حج ابتداء د هغه له ښار څخه کیږي؛ ځکه مخکې دا مسئله ذکر سوه چې که یو څوک د حج وصیت وکړي، نو حج به د هغه له ښار څخه کول کیږي د دې لپاره چې حج په کومه تو ګه پر اصل واجب وو، په هاغه توګه سره بدل او نائب هم دا حج بدل اداء کړي.



بَابُ الْوَصِيَّةِ لِلْأَقَارِبِ وَغَيْرِهِمْ

(دا) باب د قريبانو او غیرِ قريبانو لپاره د وصيت کولو (په بيان کي) دی

تشريح: مخکي تر دې د عامو خلکو لپاره د وصيت کولو مسائل بيان سول، اوس په دې باب کي د خاصو خلکو لپاره د وصيت کولو مسائل بيانول کيږي او دا مُسلمه خبره ده چي عام او اکثر له خاص څخه مخکي وي، نو ځکه صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د عموم والا بابونه مخکي بيان کړي دي، اوس له دې ځايه مخصوص بابونه بيانوي. (احسن الهدايه)

د همسايه ګانو لپاره د وصيت کولو بيان

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى لِجِيْرَانِهِ فرمايي: او څوک چي د خپلو همسايه ګانو لپاره وصيت وکړي فَهُمُ الْمُلَاصِقُوْنَ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [مراد د] هغوی جوخت [د کور سره متصل] همسايه ګان دي وَقَالَا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي هُمُ الْمُلَاصِقُوْنَ وَغَيْرُهُمْ مِمَّنْ چي [مراد د] هغوی جوخت همسايه ګان دي او غيرِ جوخت همسايه ګان دي يعني هغه خلک يَسْكُنُ مَحَلَّةَ الْمُوْصِيْ وَيَجْمَعُهُمْ مَسْجِدُ الْمَحَلَّةِ کوم چي د موصي په محله کي اوسيږي او کوم چي د محلې مسجد هغوی جمع کوي وَهٰذَا اِسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَقَوْلُهٗ قِيَاسٌ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول قياس دی لِأَنَّ الْجَارَ مِنَ الْمُجَاوَرَةِ ځکه چي جار له مجاورة څخه [مشتق] دی وَهِيَ الْمُلَاصَقَةُ حَقِيْقَةً او مجاورة په حقيقت کي جوختوالی [او اتصال] دی وَلِهٰذَا يَسْتَحِقُّ الشُّفْعَةَ بِهٰذَا الْجِوَارِ په همدې وجه جار په همدغه [ملاصق] جوار سره [يعني جارِ ملاصق] د شفعې مستحق کيږي وَلِأَنَّهٗ لَمَّا تَعَذَّرَ صَرْفُهٗ إِلَى الْجَمِيْعِ او ځکه کله چي د ټولو همسايه ګانو وطرف ته د وصيت ګرځول ناممکن دي يُصْرَفُ إِلٰى أَخَصِّ الْخُصُوْصِ نو هغه به ګرځول کيږي تر ټولو زيات خاص [ځانګړي] همسايه ته وَهُوَ الْمُلَاصِقُ او هغه [اخص الخصوص] جوخت همسايه دی [يعني جار ملاصق] وَجْهُ الْاِسْتِحْسَانِ أَنَّ هٰؤُلَاءِ كُلَّهُمْ يُسَمَّوْنَ جِيْرَانًا عُرْفًا د استحسان دليل دا دی چي هغوی ټوله په عُرف کي په همسايه

ګانو سره نومول کیږي [یعني په عرف کې مذکوره ټولو کسانو ته جیران وېل کیږي] وَقَدْ تَأَيَّدَ بِقَوْلِهِ ﷺ [1]: «لَا صَلَاةَ لِجَارِ الْمَسْجِدِ إِلَّا فِي الْمَسْجِدِ» او د نبي کریم ﷺ په دې فرمان سره دې تائید کیږي: چې د مسجد د همسایه لمونځ نه کیږي مګر په مسجد کې وَفَسَّرَهُ بِكُلِّ مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ او [حضرت علي رضي الله عنه] د دې [جَار] تفسیر په هر هغه کس سره کړی دی کوم چې اذان اوري وَلِأَنَّ الْمَقْصِدَ بِرُّ الْجِيرَانِ او ځکه چې [د موصي] مقصود د همسایه ګانو سره نېکي کول دي وَاسْتِحْبَابُهُ يَنْتَظِمُ الْمُلَاصِقَ وَغَيْرَهُ او د نېکۍ مستحب کېدل ملاصق او غیر ملاصق دواړو همسایه ګانو لره شامل دي إِلَّا أَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ الِاخْتِلَاطِ خو له اختلاط څخه چاره نشته [یعني د موصي او موصی له همسایه تر مینځ څه ناڅه اختلاط ضروري دی] وَذَلِكَ عِنْدَ اتِّحَادِ الْمَسْجِدِ او دا اختلاط [دلته] د مسجد د یو والي په وخت کې دی.

اللغات: ﴿جیران﴾ جمع د جَار ده: همسایه، ﴿ملاصقون﴾ د مفاعلې له بابه د جمع مذکر فاعل صیغه ده: جوخت، متصل، یو د بل سره لګېدلی، ﴿مجاورة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: متصل کېدل، ور سره لګېدل. ﴿يُسمّون﴾ د تفعیل له بابه د جمع مذکر غائب مضارع مجهول صیغه ده: نومول کېدل، بلل کېدل. ﴿تأيّد﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: قوي کېدل، تائید والا کېدل. ﴿نداء﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، نَادَىٰ يُنَادِي مُنَادَاةً وَنِدَاءً: رابلل، مراد: اذان. ﴿بِرّ﴾ د نصر د باب مصدر دی. بَرَّ بِرًّا وَمَبَرَّةً: نېکي کول، اطاعت کول، ښه سلوک کول. ﴿لا بُدّ﴾ چاره نشته. ضروري ده.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که خالد دا وصیت وکړي چې زما له مال څخه یو ثلث (دریمه حصه) زما د همسایه ګانو لپاره ده. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له دې څخه هغه همسایه ګان مرادیږي چې د هغوی کورونه د موصي (خالد) د کور سره جوخت او متصل وي. او قیاس هم د دې تقاضا کوي، لېکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د متصلو همسایه ګانو سره. سره هغه همسایه ګان هم مرادیږي کوم چې د موصي په محله (کلي) کې اوسیږي او هغه خلک هم مرادیږي کوم چې د محلې په مسجد کې لمونځونه کوي. او دا قول پر استحسان مبني دی.

[1] تخریج: أخرجه الحاكم في المستدرك في كتاب الصلاة، حديث رقم: ٨٩٨/ ٢٦٥.

دامام صاحب رَحِمَهُ الله د قول دلیل دا دی چې لفظ د "جَار" له مجاورة څخه مشتق دی او د مجاورة حقیقي او اصلي معنیٰ ده: ملاصقة او اتصال. لهذا دغه معنیٰ ته په کتلو سره چې د کومو همسایه ګانو کورونه د موصي د کور سره جوخت او متصل وي، صرف هغوی به د دغه وصیت مستحق وي. همدا وجه ده چې په شفعه کې هم اول صرف جارِ ملاصق مستحق کیږي او د هغه په وجود کې د محلې یا د مسجد همسایه د شفعې نه مستحق کیږي، لهذا جارِ ملاصق چې څرنګه نور همسایه ګان له شفعې څخه محروم کوي، همداسې به یې له وصیت څخه هم محروم کوي.

ولأنه لمّا تعذر إلخ: دامام صاحب رَحِمَهُ الله دویم دلیل دا دی چې موصي د مطلقو همسایه ګانو لپاره وصیت کړی دی او په دغه اطلاق کې د هغه تمام همسایه ګان شامل دي، خو څرنګه چې تمام همسایه ګانو ته له ثلث څخه حصه ورکول ناممکن او متعذر دي، نو ځکه وصیت به د مطلق فرد کامل یعني د اخصُ الخاص همسایه ګانو وطرف ته ګرځول کیږي، او اخصُ اخاص همسایه ګان هماغه دي چې کورنه یې د موصي د کور سره جوخت او متصل وي. نو ځکه په دې حواله سره به هم له جیران څخه ملاصق او متصل همسایه ګان مرادیږي.

وجه الاستحسان إلخ: د استحسان دلیل دا دی چې کوم خلک په یوه محله کې اوسیږي او په یوه مسجد کې لمونځونه کوي، عُرفاً هغوی ټولو ته یو د بل همسایه ګان ویل کیږي؛ د دې تائید د نبي کریم ﷺ په دې فرمان سره هم کیږي "لاصلاة لجَار المسجد إلّا في المسجد" چې د مسجد د همسایه لمونځ صرف په مسجد کې قبلیږي او له حضرت علي ﷺ څخه د دې تفسیر دا نقل سوی دی چې کوم څوک هم د مسجد اذان اوري هغه جَار دی. له دې څخه معلومه سوه چې جَار صرف هغه کس نه دی چې کور یې د مسجد سره متصل وي. نو همدغسې په مذکوره مسئله کې به هم د جَار او جِیران اطلاق د هغه همسایه ګانو سره خاص نه وي چې د هغوی کورونه د موصي د کور سره متصل وي. بلکې په دې کې به هغه ټوله خلک داخلیږي کوم چې د موصي د محلې اوسېدونکي وي او د هغه د مسجد لمونځ کونکي وي.

ولأن المقصد إلخ: دویم دلیل دا دی چې په دغه وصیت سره د موصي مقصد دا دی چې د خپلو همسایه ګانو سره نېکي او احسان وکړي او دا مستحب کار دی، لیکن دغه د نېکۍ مستحب کېدل فقط د جارِ ملاصق لپاره مخصوص نه دی، بلکې ملاصق او غیرِ ملاصق دواړو لره شامل دي، او پاته سوه دا خبره چې د موصي او موصیٰ لهٗ همسایه ترمینځ څه نا څه اختلاط کېدل خو پکار دي، نو فرمایي

دلته (د غیر ملاصق سره) اختلاط په مسجد سره راځي یعني په یوه مسجد کي د لمونځ کولو په وجه اختلاط ثابت دی.

د همسایه په باره کي د امام شافعي رَحِمَهُ الله رایه او د هغه جواب

وَمَا قَالَهُ الشَّافِعِيُّ: اَلْجِوَارُ إِلَى أَرْبَعِينَ دَارًا بَعِيدٌ او کوم څه چي امام شافعي رَحِمَهُ الله ویلي دي: چي همسایه والی تر څلویښتو کورونو پوري دی دا لیري خبره ده وَمَا يُرْوَى [1] فِيهِ ضَعِيفٌ او په دې باره کي چي کوم حدیث روایت کیږي هغه ضعیف دی قَالُوا: وَيَسْتَوِي فِيهِ السَّاكِنُ وَالْمَالِكُ مشایخو فرمایلي دي: چي په دې [جَار (همسایه)] کي اوسېدونکی او مالک سره برابر دي [یعني ساکن کوم چي په کور کي د کرایې وغیره په توګه اوسیږي او د کور اصلي مالک وي دواړه سره برابر دي] وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثَى وَالْمُسْلِمُ الذِّمِّيُّ [همدارنګه] نر او ښځه او مسلمان او ذمي [سره برابر دي] لِأَنَّ اِسْمَ الْجَارِ يَتَنَاوَلُهُمْ ځکه چي نوم د "جَار" دوی ټولو لره شاملیږي وَيَدْخُلُ فِيهِ الْعَبْدُ السَّاكِنُ عِنْدَهُ او په دې [جَار] کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز اوسېدونکی غلام هم داخلیږي لِإِطْلَاقِهِ ځکه چي [لفظ د] جَار مطلق دی وَلَا يَدْخُلُ عِنْدَهُمَا او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دا غلام نه [پکښې] داخلیږي لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ لَهُ وَصِيَّةٌ لِمَوْلَاهُ ځکه چي د غلام لپاره وصیت د هغه د مالک لپاره وصیت دی وَهُوَ غَيْرُ سَاكِنٍ حال دا چي مالک اوسېدونکی نه دی.

اللغات: ﴿جوار﴾ همسایه والی (همسایه کېدل). ﴿ساکن﴾ د ضرب د باب فاعل دی: اوسېدونکی. استوګن. ﴿الذَّکَر﴾ مذکر.

تشریح: فرمایي چي له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه کوم دا خبره نقل سوې ده چي جوار او همسایه والی تر څلویښتو کورونو پوري دی یعني له هر طرف څخه تر لسو کورونو پوري (یعني له هر طرف څخه لس کورونه د کور په جوار کي داخل دي او د هغوی اوسېدونکي جیران [همسایه ګان] شمېرل کیږي). دا خبره له فهم څخه لیري ده او په دې باره کي چي امام شافعي رَحِمَهُ الله په کوم روایت سره دلیل نیولی دی

هغه ضعیف دی. او امام شافعي رَحِمَهُ الله د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په دې روایت سره دلیل نیولی دی کوم چې په بیهقي کې نقل سوی دی "عن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عن النبي ﷺ قال: أوصاني جبرئيل عليه السلام بالجار إلى أربعين دارا عشرة من هٰهنا وعشرة من هٰهنا وعشرة من هٰهنا وعشرة من هٰهنا" لیکن دا روایت ضعیف او ناقابلِ استدلال دی: ځکه د دې په راویانو کې یو روای منکر الحدیث دی.

قالوا ويستوی إلخ: مشایخ رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې په لفظ د "جَار" کې مالک او کرایه دار، نر او ښځه، مسلمان او ذمي ټوله داخلیږي: ځکه چې لفظ د "جَار" دوی ټولو لره شامل دی. همدارنګه که یو غلام د موصي په محله کې په کرایه اوسیږي، نو هغه هم په جَار کې داخلیږي: ځکه لفظ د "جَار" مطلق دی. لیکن د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز غلام په هغه کې نه داخلیږي: ځکه د غلام لپاره چې کوم وصیت سوی دی، هغه په حقیقت کې د هغه د مالک لپاره وصیت دی او مالک یې د دې محلې اوسېدونکی نه دی. نو ځکه د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز عبد ساکن په وصیت کې نه داخلیږي.

د خسرخېلو مصداق (د اصهارُ په وصیت کې کوم کسان داخلیږي؟)

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى لِأَصْهَارِهٖ فرمایي: او څوک چې د خپل خسرخېلو [خسرګنیو] لپاره وصیت وکړي فَالْوَصِيَّةُ لِكُلِّ ذِیْ رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنِ امْرَأَتِهٖ نو دا وصیت د هغه د ښځې د هر ذو رحم محرم قریب لپاره دی لِمَا رُوِيَ: أَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ [1] لَمَّا تَزَوَّجَ صَفِيَّةَ ځکه روایت سوی دی: چې کله نبي ﷺ د حضرت صفیه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره نکاح وکړه أَعْتَقَ كُلُّ مَنْ مَلَكَ مِنْ ذِیْ رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهَا نو هر هغه کس آزادول وکړه کوم چې د هغې د یو ذو رحم محرم مالک وو [یعني د حضرت صفیه (رض) ذوي رحم محرم قریبان چې د کومو صحابه وو په ملکیت کې وه. هغوی د حضرت صفیه (رض) په اکرام کې هغوی آزاد کړل] إِكْرَامًا لَهَا د هغې د اکرام [او احترام] لپاره وَكَانُوا يُسَمَّوْنَ أَصْهَارَ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ او هغوی به [یعني د حضرت صفیه ذوي رحم محرم به] د نبي کریم ﷺ په خسرخېلو سره نومول کېدل وَهٰذَا التَّفْسِيرُ اِخْتِيَارُ مُحَمَّدٍ وَأَبِيْ عُبَيْدَةَ او دغه تفسیر د امام محمد او د ابو عبیده اختیار کړی سوی دی.

---

[1] تخريج: أخرجه أبو داؤد في كتاب العتق، باب بيع المكاتب إذا فسخت المكاتبة، حديث رقم: ۳۹۳۱. (احسن الهدایه)

اللغات: ﴿أصهار﴾ جمع د صِهْرٌ ده: خسر، خسرخیل (خسرګنی، سخرګنی)، القرابة بالزواج، أهل بیت المرأة. ﴿لتزوّج﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: نکاح کول، واده کول.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي څوک د خپل خسر خېلو (اصهار) لپاره وصیت وکړي، نو په دې وصیت کي د ښځي ټوله ذو رحم محرم قریبان داخلیږي او هغوی ټولو ته وصیت (موصیٰ به) حاصلیږي؛ د دې دلیل دا دی چي نبي کریم ﷺ چي کله د حضرت صفیې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره نکاح وکړه، نو په هغه وخت کي چي د هغې څومره ذو رحم محرم قریبان د صحابه وو په ملکیت کي (غلامان) وه، ټولو هغه آزاد کړل او هغوی ته د نبي کریم ﷺ اصهار او خسرخېل ویل کېدل.

یادونه: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله دلته حضرت صفیه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ذکر کړې ده، لېکن دا به یاد کاتب سهو وي، یا به د مصنف رَحِمَهُ الله تسامح وي؛ ځکه د اصهارُ دا واقعه د حضرت صفیه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نکاح په هکله نه ده، بلکي دا واقعه د حضرت جویریه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نکاح په هکله نقل سوې ده. حضرت جویریه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په غزوهٔ بنو المصطلق کي د څو قیدیانو سره په قید راوستل سوه او د ثابت بن قیس رضي الله عنه په حصه کي راغله، لېکن بیا هغې د ثابت بن قیس رضي الله عنه سره کتابت وکړی او د نبي کریم ﷺ دربار ته حاضره سوه او نبي ﷺ ته یې وویل چي آیا زه د کتابت اداء کولو په باره کي ستا څخه سوال وکړم، نو نبي ﷺ وفرمایل چي آیا ته له دې څخه بهتر شی غواړې!، نو هغې وویل چي هغه بهتر څه شی دی، نو نبي ﷺ وفرمایل هغه دا چي ستا بدل کتابت زه اداء کړم او ستا سره نکاح وکړم، هغې دا منظور کړه او نبي کریم ﷺ بدل کتابت اداء کړی او د هغې سره یې نکاح وکړه، کله چي صحابه په دې خبر سوه چي نبي کریم ﷺ د حضرت جویریه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره نکاح کړې ده. نو د کومو صحابه وو په قبضه کي چي د بنو مصطلق قیدي غلامان وه، دوی هغه ټوله آزاد کړل چي دا خلک خو د نبي کریم ﷺ خسرخېل دي. همدا ده اصل واقعه، لېکن دلته سهواً د حضرت جویریه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا پر ځای د حضرت صفیه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نوم لیکل سوی دی.

د پورتنۍ مسئلې نور وضاحت

وَكَذَا يَدْخُلُ فِيهِ كُلُّ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْ زَوْجَةِ أَبِيهِ او همدارنګه په دې کي داخلیږي د هغه [موصي] د پلار د ښځي هر ذو رحم محرم وَزَوْجَةِ ابْنِهِ او د هغه د ځوی د ښځي هر ذو رحم محرم وَزَوْجَةِ كُلِّ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ او د موصي د هر ذی رحم محرم د ښځي هر ذو رحم محرم [دا ټوله پکښي

داخلیږي] لِأَنَّ الْكُلَّ أَصْهَارٌ ځکه چي دا ټوله خسرخېل دي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي لفظ د اصهار عام دی، لهذا څرنګه چي په دې کي د موصي د خپلي ښځي ذو رحم محرم قربیان (خسرګنی) داخل دي. همداسي په دې کي د هغه د پلار د ښځي ذو رحم محرم قربیان او د هغه د ځوی د ښځي ذو رحم محرم قربیان او د هغه د هر ذو رحم محرم قریب د ښځي ذو رحم محرم قربیان پکښي داخل دي؛ ځکه چي دا ټوله خسرخېل دي او په لفظ د اصهار کي داخل دي. (لېکن دا د عربو عرف دی او زموږ په عرف کي له دې څخه فقط د سړي خسرګنی مرادیږي (اشرف الهدایه))

اصهار تر کوم وخته پوري د وصیت مستحق کیږي؟

وَلَوْ مَاتَ الْمُوصِيْ وَالْمَرْأَةُ فِيْ نِكَاحِهِ او که موصي [وصیت کونکی] مړ سي او ښځه د هغه په نکاح کي وي أَوْ فِيْ عِدَّتِهِ مِنْ طَلَاقٍ رَجْعِيٍّ یا د هغه د طلاقِ رجعي په عده کي وي فَالصِّهْرُ يَسْتَحِقُّ الْوَصِيَّةَ نو خسر [خسرخېل] د وصیت مستحق کیږي وَإِنْ كَانَتْ فِيْ عِدَّةٍ مِنْ طَلَاقٍ بَائِنٍ او که ښځه د هغه د طلاقِ بائن په عده کي وي لَا يَسْتَحِقُّهَا نو خسرخېل د وصیت نه مستحق کیږي لِأَنَّ بَقَاءَ الصِّهْرِيَّةِ بِبَقَاءِ النِّكَاحِ ځکه چي د خسرتوب بقاء د نکاح په بقاء سره وي [یعني خسرخېلي او خېښي هغه وخت پاتیږي کله چي د سړي (موصي) او ښځي تر مینځ نکاح پاته وي] وَهُوَ شَرْطٌ عِنْدَ الْمَوْتِ او دا د نکاح بقاء [د موصي] د مرګ په وخت کي شرط ده.

اللغات: ﴿صهریة﴾ خسرتوب (سخرتوب). د خسرتوب قرابت.

تشریح: صورت د مسئلې خو بالکل ښکاره دی چي که د موصي د مرګ په وخت کي ښځه د هغه په نکاح کي وي، یا د هغه د طلاقِ رجعي په عده کي وي، نو اصهار (خسرخېل) د وصیت مستحق کیږي؛ ځکه په دې صورتونو کي نکاح پاته ده او د نکاح پاتېدلو په وجه د صِهریّت (خسرتوب) قرابت پاته دی. لېکن که ښځه د طلاقِ بائن په عده کي وي، نو بیا اصهار د وصیت نه مستحق کیږي؛ ځکه چي د نکاح نه پاتېدلو په وجه د صهریت قرابت ختم سو. او اصهار هغه وخت د وصیت مستحق کیږي کله چي د موصي د مرګ په وخت کي نکاح پاته وي.

د اخښیانو مصداق (د اختانُ په وصیت کې څوک داخلیږي؟)

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى لِأَخْتَانِهِ فرمايي: او څوک چې د خپلو اخښیانو لپاره وصیت وکړي فَالْوَصِيَّةُ لِزَوْجِ كُلِّ ذَاتِ رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ نو دا وصیت د هغه [موصي] د هري ذو رحم محرم ښځي د خاوند لپاره دی [مثلاً د موصي د خور د خاوند لپاره وغیره] وَكَذَا مَحَارِمُ الْأَزْوَاجِ او همدارنګه د خاوندانو محارم هم [پکښي داخل دي] لِأَنَّ الْكُلَّ يُسَمّٰى خَتَنًا ځکه ټولو ته ختن ویل کیږي قِيْلَ: هٰذَا فِيْ عُرْفِهِمْ ویل سوي دي: چې دا د هغو [اهل کوفه] په عُرف کې دي وَفِيْ عُرْفِنَا لَا يَتَنَاوَلُ إِلَّا أَزْوَاجَ الْمَحَارِمِ او زموږ په عُرف کې دا نه شاملیږي مګر صرف د محارمو خاوندانو لره [مثلاً د لور خاوند وغیره] وَيَسْتَوِيْ فِيْهِ الْحُرُّ وَالْعَبْدُ وَالْأَقْرَبُ وَالْأَبْعَدُ او په دې کې آزاد او غلام. لیري او نژدې ټوله برابر دي لِأَنَّ اللَّفْظَ يَتَنَاوَلُ الْكُلَّ ځکه لفظ [د ختن] ټولو لره شاملیږي.

اللغات: ﴿أُختان﴾ جمع د خَتَن ده (بفتح الخاء والتاء): اخښی، كل من كان من جهة المرأة كأبيها وأخيها، وكذلك زوج البنت أو زوج الأخت. د ښځي (مايني) ورور، د لور خاوند، د خور خاوند او داسي نور (معجم لغة الفقهاء). ﴿لا يتناول﴾ د تفاعل له بابه د نفي صيغه ده: شاملېدل. ﴿أقرب﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات نژدې.

تشریح: **صورت د مسئلي**: دا دی که یو سړی د خپلو اخښیانو (أَختان) لپاره وصیت وکړي. نو په دې وصیت کې د موصي د هري ذو رحم محرم ښځي خاوند داخلیږي. مثلاً د خور خاوند. د لور خاوند. د امه خاوند او داسي نور. دغه ټولو ته دا وصیت (موصیٰ به) حاصلیږي. او که چیري مذکوره وصیت د ښځي له طرفه وي (یعني ښځه د خپلو أختانو لپاره وصیت وکړي)، نو د هغې د خاوند ذو رحم محرم قریبان په دې کې داخلیږي: ځکه دوی ټولو ختن ویل کیږي. خو په دې هکله د بعضي مشایخو قول دا دی چې دا صرف د اهلِ کوفې عُرف دی، کنې زموږ په عُرف کې له "أَخْتَان" څخه د محارمو ښځو خاوندان مرادیږي.

او کله چې له دې څخه مراد د محارمو ښځو خاوندان دي. نو بیا په دې خاوندانو کې عموم دی. برابره هغه آزاد وي او که غلام وي. د موصي نژدې قریب وي او که لیري: ځکه چې لفظ د "خَتَن" دغه ټولو لره شامل دی.

د اقاربو (قريبانو) په وصيت کي کوم کسان داخليږي؟

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى لِأَقَارِبِهٖ فرمايي: او څوک چي د خپلو قريبانو لپاره وصيت وکړي فَهِيَ لِلْأَقْرَبِ فَالْأَقْرَبِ مِنْ كُلِّ ذِيْ رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ نو دا وصيت د موصي له ذو رحم محرم څخه د اقرب فالاقرب [دېر نژدې ذو رحم محرم] لپاره دى وَلَا يَدْخُلُ فِيْهِ الْوَالِدَانِ وَالْوَلَدُ او په دې کي مور وپلار او بچي نه داخليږي وَيَكُوْنُ ذٰلِكَ لِلْاِثْنَيْنِ فَصَاعِدًا او دا وصيت به [په هغو کي] د دوو کسانو يا زياتو لپاره وي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ او دا [حکم] د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دى وَقَالَ صَاحِبَاهُ❁: الْوَصِيَّةُ لِكُلِّ مَنْ يُنْسَبُ إِلٰى أَقْصٰى أَبٍ لَهٗ فِي الْإِسْلَامِ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي دا وصيت د هر هغه کس لپاره دى کوم چي په اسلام کي د موصي د آخري پلار وطرف ته منسوب کيږي وَهُوَ أَوَّلُ أَبٍ أَسْلَمَ او هغه [د اسلام آخري پلار] اول هغه پلار دى کوم چي مسلمان سوى وي أَوْ أَوَّلُ أَبٍ أَدْرَكَ الْإِسْلَامَ وَإِنْ لَمْ يُسْلِمْ يا اول هغه پلار دى کوم چي [زمانه د] اسلام ميندلې وي که څه هم هغه مسلمان سوى نه وي عَلٰى حَسَبِ مَا اخْتَلَفَ فِيْهِ الْمَشَايِخُ په مطابق د هغه اختلاف کوم چي مشايخو کړى دى [د مشايخو د اختلاف مطابق] وَفَائِدَةُ الْاِخْتِلَافِ تَظْهَرُ فِيْ أَوْلَادِ أَبِيْ طَالِبٍ او د اختلاف فايده د ابو طالب په اولاد کي ښکاره کيږي فَإِنَّهٗ أَدْرَكَ الْإِسْلَامَ وَلَمْ يُسْلِمْ. ځکه ابو طالب د اسلام زمانه وميندله لېکن مسلمان نه سو لَهُمَا: أَنَّ الْقَرِيْبَ مُشْتَقٌّ مِنَ الْقَرَابَةِ د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دى: چي قريب له قرابت څخه مشتق دى فَيَكُوْنُ اِسْمًا لِمَنْ قَامَتْ بِهٖ نو قريب به د هر هغه چا نوم وي چي په هغه سره قرابت قائم وي [د هغه سره د موصي قرابت موجود وي] فَيَنْتَظِمُ بِحَقِيْقَتِهٖ مَوَاضِعَ الْخِلَافِ نو قريب به د خپل حقيقت [حقيقي معنى] په اعتبار سره مواضع خلاف لره [هم] شامل وي [يعني غير ذوي المحارم او ليري قريبان] وَلَهٗ: أَنَّ الْوَصِيَّةَ أُخْتُ الْمِيْرَاثِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دى: چي وصيت د

❁ قال صاحب القول الراجح: هذا الاختلاف اختلاف عصر وزمان، لأنه قال في حاشية الهداية...وفي المبسوط: كان هذا في زمن محمد رَحِمَهُ الله؛ لأنّ ما كان في زمنه في أقرباء الإنسان الذين ينسبون إلى أقصى أب له كثرة، وأما في زماننا ففيهم كثرة ولا يمكن احصاؤهم، فتصرّف الوصية إلى أولاد ابيه وجدّه وجدّ أبيه و أولاد أمّه وجدّته وجدّة أمّه، ولا تصرف الوصية إلى أكثر من ذلك (القول الراجح ج:۲، ص:۳۸۲) بحواله حاشية الهداية (ج:۴، ص:۴۸۰).

میراث خور ده وَفِي الْمِيرَاثِ يُعْتَبَرُ الْأَقْرَبُ فَالْأَقْرَبُ او په میراث کې د الاقرب فالاقرب اعتبار کول کیږي وَالْمُرَادُ بِالْجَمْعِ الْمَذْكُورِ فِيهِ اِثْنَانِ [همدارنګه] په میراث کې په ذکر سوي جمع سره مراد دوه [فرده] وي فَكَذَا فِي الْوَصِيَّةِ نو همداسې به په وصیت کې هم [له جمع څخه دوه فرده مراد] وي.

اللغات: ﴿أقارب﴾ جمع د قریبٌ ده: قریبان. خپلوان. ﴿فصاعدًا﴾ یا تر دې زیات. ﴿أقصٰی﴾ د اسم تفضیل صیغه ده: دآخري درجې، تر ټولو لیرې.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که څوک د خپلو قریبانو (اقرباؤ) لپاره وصیت وکړي. نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دغه وصیت د هغه په ذو رحم محرم قریبانو کې اقرب فالاقرب ته حاصلیږي (یعني که أقرب موجود وي. نو تر هغه أبعد ته وصیت نه حاصلیږي)، او په دې وصیت کې به کم از کم دوه دا قریبان داخلیږي، او د موصي اولاد او مور وپلار په دې وصیت کې نه داخلیږي.

صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې د قریبانو(اقرباؤ) په وصیت کې هغه ټوله خلک داخلیږي چې هغوی د موصي وهغه آخري پلار ته منسوب وي کوم چې اول اسلام قبول کړی وی. لکه حضرت علي ﷺ چې اول اسلام قبول کړی دی نو که د هغه د خاندان یو فرد د خپلو قریبانو (اقرباؤ) لپاره وصیت وکړي.نو تر حضرت علي ﷺ پوري د هغه ټوله اولاده د مذکوره وصیت مستحق کیږي.

یا د دې مطلب دا دی چې د موصي هغه پلار کوم چې تر ټولو مخکې د اسلام زمانه میندلې وي او هغه مسلمان سوی نه وي، لکه ابو طالب چې هغه تر ټولو مخکې د اسلام زمانه ومیندله او مسلمان نه سو. نو د دغه قول په اعتبار سره که د حضرت علي ﷺ د خاندان یو کس د خپلو قریبانو لپاره وصیت وکړي، نو په دې وصیت کې د حضرت علي ﷺ د اولاد تر څنګ د حضرت جعفر او د حضرت عقیل رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اولاد هم داخلیږي؛ ځکه دغه هر یو د ابوطالب ځوی دی چې د هغه اولاد د ابو طالب اولاده کیږي. لیکن د اول قول (یعني د أوّل أبِ أسلم) په اعتبار سره فقط د حضرت علي ﷺ اولاده د مذکوره وصیت مستحق کیږي. په "وفائدة الاختلاف إلخ" سره مصنف رَحِمَهُ الله همدا بیان کړی دی.

لهما إلخ: په مذکوره مسئله کې د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې أقرباء جمع د قریب ده. او قریب له قرابت څخه مشتق دی، نو قریب هر هغه کس دی چې د هغه سره د انسان قرابت قائم وي. لهذا کوم کسان چې د موصي له خپل خاندان څخه وي برابره ده هغه ذو رحم محرم وي او که نه وي. قرابت د هر یوه سره موجود او متعلق دی. نو ځکه ټولو ته به قریب ویل کیږي او هر یو به د دغه

وصیت مستحق کیږي که څه هم هغه ذو رحم محرم نه وي او لیري قریب وي. په "مواضع الخلاف" سره مصنف رَحِمَهُ الله همدا بیان کړی دی.

وله إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي وصیت د میراث خور ده او په میراث کي د اقرب فالاقرب په اعتبار سره استحقاق ثابتیږي، نو ځکه په وصیت کي به هم د اقرب فالاقرب اعتبار سره استحقاق ثابتیږي. همدارنګه په میراث کي له جمع څخه کم از کم دوه فرده مرادیږي (یعني د جمع أقل مقدار دوه فرده دي)، نو ځکه په وصیت کي به هم له جمع څخه کم از کم دوه فرده مرادیږي، نو ځکه موږ د اقرب فالاقرب په اعتبار سره. په مذکوره مسئله کي استحقاق ثابت کړی دی او کم از کم دوه قریبان مو د دې وصیت حقدار ګرځولي دي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول تعلیل

وَالْمَقْصِدُ مِنْ هٰذِهِ الْوَصِيَّةِ تَلَاقِيْ مَا فَرَطَ فِيْ إِقَامَةِ وَاجِبِ الصِّلَةِ او د دغه وصیت مقصد د هغه کوتاهی [او لا پروایی] تلافي کول دي کومه کوتاهي چي موصي د واجبي صله رحمی په اداء کولو کي کړې ده وَهُوَ يَخْتَصُّ بِذِي الرَّحِمِ الْمَحْرَمِ مِنْهُ او دا [د صله رحمی وجوب] د موصي د ذو رحم محرم سره خاص دی وَلَا يَدْخُلُ فِيْهِ قَرَابَةُ الْوِلَادِ او په دې کي ولادتي قرابت [یعني اولاد او مور و پلار] نه داخلیږي فَإِنَّهُمْ لَا يُسَمَّوْنَ أَقْرِبَاءَ ځکه هغوی په قریبانو سره نه نومول کیږي وَمَنْ سَمّٰى وَالِدَهُ قَرِيْبًا او څوک چي خپل پلار په قریب سره نوموي كَانَ مِنْهُ عُقُوْقًا نو دا [په قریب سره نومول] به د هغه له طرفه نافرماني وي وَهٰذَا لِأَنَّ الْقَرِيْبَ فِيْ عُرْفِ اللِّسَانِ مَنْ يَتَقَرَّبُ إِلَىٰ غَيْرِهِ بِوَسِيْلَةِ غَيْرِهِ او دا ځکه چي قریب په ژبني عرف کي هغه کس دی کوم چي د د غیر سره د غیر [بل چا] په واسطه نژدېکت لري [یعني چي دیو چا سره د بل چا په واسطه قرابت لري] وَتَقَرُّبُ الْوَالِدِ وَالْوَلَدِ بِنَفْسِهِ لَا بِغَيْرِهِ او د پلار او بچي قرابت بذات خود وي نه په بل چا سره وَلَا مُعْتَبَرَ بِظَاهِرِ اللَّفْظِ بَعْدَ انْعِقَادِ الْإِجْمَاعِ عَلَىٰ تَرْكِهِ او د ظاهر لفظ پر ترک [پرېښودلو] د اجماع منعقد کېدلو څخه وروسته ظاهر لفظ لره هیڅ اعتبار نسته فَعِنْدَهُ يُقَيَّدُ بِمَا ذَكَرْنَاهُ نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز اقرباء به په هغه څه سره مقید کیږي کوم چي موږ [څه مخکي] ذکر کړل وَعِنْدَهُمَا بِأَقْصَى الْأَبِ فِي الْإِسْلَامِ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په

نېږ په اسلام کي په آخري پلار سره [مقيد کيږي] وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ بِالْأَبِ الْأَدْنٰى او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېږ په نژدې پلار سره [مقيد کيږي].

اللغات: ﴿تلافی﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: کمي پوره کول. د تاوان بدله ورکول (د فوت سوي شي د نقصان عوض ورکول)، د تاوان جبيره. ﴿يتقرّب﴾ د تفعل د باب مضارع ده: قربت لټول. قربت لرل. ﴿فرط﴾ د نصر او ضرب د باب ماضي ده. د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: کوتاهي کول. قصور. ﴿صلة﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه ځيني دا دي: صله رحمي. (د قريب سره) ښه سلوک کول. عطيه. ﴿يختصّ﴾ د افتعال د باب مضارع ده: مختص کېدل. خاص کېدل. ﴿عَقوق﴾ د نصر د باب مصدر دی. عَقَّ يَعُقُّ عَقُوْقًا و مُعَقَّةً: د پلار نافرماني کول او شفقت نه کول او سپکاوی کول.

تشريح: امام صاحب رَحِمَهُ الله له قريبانو (اقرباؤ) څخه ذو رحم محرم قريبان مراد کړي دي. د هغه يو دليل خو مخکي بيان سو، او دويم دليل دا دی چي د قريبانو لپاره په وصيت کولو سره د موصي مقصد دا وي چي د خپل هغه کمي او لاپروايي تلافي وکړي کوم چي له موصي څخه په صله رحمي کي واقع سوې ده (ځکه شريعت د صله رحمي حکم کړی دی او له قطع رحمي څخه يې منع کړې ده او د قاطع الرحم په هکله سخت وعيد راغلی دی. نو موصي په دې وصيت سره په صله رحمي کي د واقع سوي کمي تلافي کوي) او صله رحمي فقط د ذو رحم محرم سره خاص ده، نو ځکه په دې حواله سره به هم له اقرباؤ څخه ذو رحم محرم قريبان مراديږي؛ لېکن په دې کي اولاد او مور و پلار په دې وجه نه داخليږي ځکه چي دوی په قريبانو (اقرباؤ) کي داخل نه دي او دوی ته قريبان نه ويل کيږي. لکه څرنګه چي په قرآن کي هم والدين له اقرباؤ څخه جلا سوي دي چي ﴿الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ﴾، نو معلومه سوه چي په اقرباؤ کي والدين داخل نه دي او کله چي والدين له اقرباؤ څخه خارج سوه نو اولاد هم ځني خارج سو، نو ځکه دوی ته قريبان نه ويل کيږي او کوم بدبخته چي خپل پلار ته قريب وايي لکه څرنګه چي د بعضي احمقانو طريقه همدا وي چي کله پر يو معمولي منصب راسي نو په پلار شرميږي او خلکو ته وايي چي دا زموږ يو قريب دی، نو داسي څوک د پلار نافرمانه او ستر احسان فراموشه دی.

همدارنګه په عرف لساني کي هم قريب هغه چا ته وايي چي د هغه سره د انسان قرابت د بل چا په واسطه وي (د بل چا په ذريعه د دوی تر مينځ قرابت حاصل وي)، حال دا چي د اولاد او مور و پلار تر مينځ

قرابت بلا واسطه وي او بذات خود يو د بل سره قرابت لري. نو ځکه په دي حواله سره هم اولاد او مور وپلار د قريبانو له فهرس څخه وځي.

ولا معتبر بظاهر اللفظ إلخ: يعني لفظ د اقرباء (قريبان) که څه هم په ظاهري اعتبار سره د موصي تمام قريبانو او تمام ذوي رحم محرم لره شامل دی که هغه هر څومره ليري وي (نو د ظاهر لفظ په اعتبار سره د اقرب فالاقرب اعتبار نه سي پکښې کېدلای). خو څرنګه چې دلته بالاجماع د ظاهر لفظ اعتبار نه دی سوی (ځکه که د لفظ د ظاهر اعتبار وسي. نو بيا خو ټوله انسانان هم د موصي په اقرباؤ کې داخليږي چې ټوله په يوه پلار آدم عليه السلام کې سره شريکان دي)، لهذا کله چې د ظاهر اعتبار نه دی سوی. نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د اقرباؤ په وصيت کې به د هغه قيدونو اعتبار کيږي کوم چې مخکې ذکر سوه چې له اقرباؤ څخه مراد د موصي اقرب فالاقرب دی له ذو رحم محرم قريبانو څخه. ويكون ذلك للاثنين فصاعداً....

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز له اقرباؤ څخه په اسلام کې د آخري پلار ټوله اولاد مراد دی (لکه مخکې چې ذکر سوه). او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز له اقرباؤ څخه د نژدې پلار اولاد مراد دی يعني کوم پلار چې نژدې وي د هغه رالاندي اولاد ټوله په اقرباؤ کې داخليږي.

د امامانو د اختلاف ثمره (په اکاګانو او ماماګانو کې او په داسي نور وکې څوک زيات اقرب دي؟)

قَالَ: وَإِذَا أَوْصَى لِأَقَارِبِهِ فرمايي: او څوک چې د خپلو قريبانو لپاره وصيت وکړي وَلَهُ عَمَّانِ وَخَالَانِ او د هغه دوه اکاګان او دوه ماماګان وي فَالْوَصِيَّةُ لِعَمَّيْهِ عِنْدَهُ اعْتِبَارًا لِلْأَقْرَبِ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د اقرب [نژدې ترين قريب] په اعتبار کولو سره دا وصيت د هغه د دوو اکاګانو لپاره دی كَمَا فِي الْإِرْثِ لکه څرنګه چې په ميراث کې کيږي وَعِنْدَهُمَا بَيْنَهُمْ أَرْبَاعًا او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دا وصيت د دوی [دواړو اکاګانو او ماماګانو] تر مينځ په څلورو حصو سره دی إِذْ هُمَا لَا يَعْتَبِرَانِ الْأَقْرَبَ ځکه چې صاحبين رحمهما الله د اقرب اعتبار نه کوي وَلَوْ تَرَكَ عَمًّا وَخَالَيْنِ او که موصي [خپل ترشا] يو اکا او دوه ماماګان پرې ايښې وي فَلِلْعَمِّ نِصْفُ الْوَصِيَّةِ نو د اکا لپاره د وصيت نصف [نيمه حصه] ده وَالنِّصْفُ لِلْخَالَيْنِ او نصف د دوو ماماګانو لپاره دی لِأَنَّهُ لَا بُدَّ مِنَ اعْتِبَارِ مَعْنَى الْجَمْعِ ځکه چې د جمع د معنى اعتبار کول ضروري دي وَهُوَ الِاثْنَانِ فِي الْوَصِيَّةِ او د جمع معنى [يعني د جمع اقل مقدار] په وصيت کې دوه دي كَمَا فِي الْمِيرَاثِ لکه څرنګه

چي په میراث کي [دوه] دي بِخِلَافِ مَا إِذَا أَوْصَى لِذِي قَرَابَتِهِ په خلاف د هغه صورت کله چي موصي د خپل قرابت والا لپاره وصیت وکړي حَيْثُ يَكُونُ لِلْعَمِّ كُلُّ الْوَصِيَّةِ نو [په دې صورت کي] ټوله وصیت د اکا لپاره دی لِأَنَّ اللَّفْظَ لِلْفَرْدِ ځکه چي دا لفظ [ذي قرابة] د یوه نفر لپاره دی فَيُحْرِزُ الْوَاحِدُ كُلَّهَا نو ځکه یو نفر [اکا] به ټوله وصیت اخلي إِذْ هُوَ الْأَقْرَبُ ځکه چي همهاغه اقرب دی وَلَوْ كَانَ لَهُ عَمٌّ وَاحِدٌ او که د هغه [موصي] یو اکا وي فَلَهُ نِصْفُ الثُّلُثِ نو د هغه لپاره د ثلث نصف [نیمه حصه] ده لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ بیان کړی.

اللغات: ﴿عمّ﴾ اکا، ﴿خال﴾ ماما، ﴿يُحرِزُ﴾ د افعال د باب مضارع ده: جمع کول او ذخیره کول.

تشریح: په دې عبارت کي د وصیت په هکله څلور مسائل بیان سوي دي:

(۱)... که څوک د خپلو قریبانو لپاره وصیت وکړي او د هغه په قریبانو کي دوه اکاګان او دوه ماماګان وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز ټوله وصیت د دواړو اکاګانو لپاره دی؛ ځکه د هغه په نېز د اقرب فالاقرب اعتبار کېږي او اکا (تره) له ماما څخه اقرب دی، نو ځکه اکاګان به مخکي کول کېږي او وصیت (موصیٰ به) به همدوی ته ورکول کېږي.

او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز ټوله وصیت به څلور حصې کول کېږي او ټولو ته به برابره، برابره حصه ورکول کېږي؛ ځکه دا وصیت د قریبانو (اقاربو) لپاره سوی دی او په قریبانو کي ماماګان هم داخل دي، نو ځکه هغوی به هم په دې وصیت کي شریکان کېږي.

(۲)... ولوترك عمّا وخالين الخ: دویمه مسئله دا ده چي که موصي د قریبانو (اقاربو) لپاره وصیت کړی وي او د هغه په قریبانو کي صرف یو اکا او دوه ماماګان وي، نو په دې صورت کي نصف وصیت د اکا لپاره دی او بل نصف د دواړو ماماګانو لپاره دی؛ ځکه اقارب د جمع صیغه ده، او د جمع اقل مقدار (کمترین مقدار) دوه دي نو د جمع لپاره کم از کم دوه فرده ضروري دي، چي دلته یو فرد او فریق اکا دی او بل فریق دوه ماماګان دي، نو ځکه دلته به اکا او ماماګان دواړه د وصیت مستحق کېږي او هر فریق ته به نصف، نصف ورکول کېږي لکه څرنګه چي په میراث کي هم داسي تقسیم جاري دی.

(۳)... بخلاف ما إذا الخ: دریمه مسئله دا ده چي که د جمع صیغه (قریبان) استعمال نه کړي بلکي د واحد صیغه استعمال کړي او داسي ووایي چي زما د قرابت والا لپاره یا زما د قریب لپاره وصیت دی، او د موصي په قریبانو کي یو اکا او دوه ماماګان وي، نو په دې صورت کي ټوله وصیت د اکا لپاره دی

او ماماګان محرومیږي؛ ځکه دلته اکا د موصي اقرب دی او د اقرب په وجود کې ابعد ته هیڅ حق نه حاصلیږي. نو ځکه په مذکوره صورت کې به صرف اکا د وصیت مستحق کیږي. نه ماماګان.

(۴)... ولوکان له عم الخ: څلورمه مسئله دا ده چې که موصي د خپلو قریبانو (اقاربو) لپاره وصیت وکړي، او د هغه په قریبانو کې صرف یو اکا وي. نو د هغه اکا لپاره نصف وصیت یعني نصف ثلث دی او مابقي نصف د موصي د وارثانو لپاره دی؛ ځکه اقارب د جمع صیغهٔ ده او د جمع اقل مقدار دوه فرده دي. نو ځکه د هریوه لپاره به نصف وي یعني نصف د اکا لپاره او نصف به وارثانو ته واپس کول کیږي، چې د جمع پر مقتضا عمل وسي.

د امامانو د اختلاف ثمره (د اکا او عمه قرابت د ماما او خاله له قرابت څخه اقویٰ دی)

وَلَوْ تَرَكَ عَمًّا وَعَمَّةً وَخَالًا وَخَالَةً او که موصي [خپل ترشا] یو اکا، یوه عمه، یو ماما او یوه خاله پرې اینښي وي فَالْوَصِيَّةُ لِلْعَمِّ وَالْعَمَّةِ بَيْنَهُمَا بِالسَّوِيَّةِ نو وصیت د اکا او عمه لپاره دی د دواړو ترمینځ په برابرۍ سره [یعني د هریوه لپاره نصف وصیت دی] لِاسْتِوَاءِ قَرَابَتِهِمَا ځکه چې د دوی دواړو قرابت سره برابر دی وَهِيَ أَقْوٰى او دا [د اکا او عمه] قرابت زیات قوي دی [د ماما او خاله له قرابت څخه] وَالْعَمَّةُ وَإِنْ لَمْ تَكُنْ وَارِثَةً او عمه که څه هم وارثه [میراث خوره] نه ده فَهِيَ مُسْتَحِقَّةٌ لِلْوَصِيَّةِ خو هغه د وصیت حقداره ده كَمَا لَوْ كَانَ الْقَرِيبُ رَقِيقًا أَوْ كَافِرًا لکه کله چې [د موصي] قریب غلام یا کافر وي وَكَذَا إِذَا أَوْصٰى لِذَوِي قَرَابَتِهِ او همدارنګه کله چې موصي وصیت وکړي د خپل قرابت والا وو لپاره [یعني موصي داسې ووایي چې زما د قرابت والا وو لپاره دا وصیت دی...] أَوْ لِأَقْرِبَائِهِ یا [هغه وصیت وکړي] د خپلو قریبانو لپاره أَوْ لِأَنْسِبَائِهِ یا د خپل نسب والا وو لپاره [نو هم مخکینی حکم دی] فِيْ جَمِيعِ مَا ذَكَرْنَا په هغه ټولو تفصیلاتو کې کوم چې موږ [مخکې] ذکر کړل [چې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نیز دا وصیت له ذو رحم محرم څخه د اقرب فالاقرب لپاره دی او داسې نور. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا اللهُ په نیز ذو رحم محرم شرط نه دي او نه اقرب فالاقرب...] لِأَنَّ كُلَّ ذٰلِكَ لَفْظُ جَمْعٍ ځکه چې دا هریو د جمع لفظ دی وَلَوِ انْعَدَمَ الْمَحْرَمُ او که چیرې ذو رحم محرم معلوم سي [یعني که په مذکوره مسئلو کې د موصي لپاره هیڅ ذو رحم محرم نه وي] بَطَلَتِ الْوَصِيَّةُ نو وصیت باطلیږي لِأَنَّهَا مُقَيَّدَةٌ بِهٰذَا الْوَصْفِ ځکه چې وصیت په دغه وصف سره مقیّد دی.

اللغات: ﴿بالسّوية﴾ په برابری سره. ﴿وارثة﴾ د ضرب له بابه دواحد مؤنث فاعل صیغه ده: میراث ترلاسه کونکې، میراث خوره. ﴿مقيدة﴾ د تفعیل له بابه د واحد مؤنث مفعول صیغه ده: قید کړی سوی، مشروط.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که یو څوک د خپلو قریبانو (اقرباؤ) لپاره وصیت وکړي او د هغه په قریبانو کې اکا، عمه، خاله او ماما موجود وي، نو په دې صورت کې صرف اکا او عمه د وصیت مستحق کیږي او هر یوه ته به نصف وصیت ورکول کیږي، او خاله او ماما محرومیږي؛ ځکه د اکا او عمه قرابت د خاله او ماما له قرابت څخه اقوی دی، او عمه که څه هم د خپل وراره (موصي) وارثه نه ده، لیکن هغه د ده په قریبانو کې داخله ده او عمه تر خاله او ماما نژدې قرابت والا ده. نو ځکه هغه به د اکا سره د وصیت مستحقه کیږي. مثال یې دا دی لکه څوک چې د خپلو قریبانو لپاره وصیت وکړي او د هغه په قریبانو کې صرف غلامان یا کافر قریبان موجود وي. نو که څه هم هغوی د موصي وارثان نه سي کېدلای خو بیا هم هغوی د دې وصیت مستحق کیږي، نو همدغه حال د عمه هم دی.

وكذا إذا أوصى إلخ: د دې حاصل دا دی چې که یو څوک د خپل قرابت والا وو (ذوي قرابت) لپاره وصیت وکړي، یا د خپلو قریبانو (اقرباؤ) لپاره وصیت وکړي، یا د خپل نسب والا وو (انسباؤ) لپاره وصیت وکړي، نو په دې صورتونو کې هاغه حکم او تفصیل دی کوم چې څه مخکې د قریبانو (اقاربو) لپاره د وصیت کولو په بیان کې ذکر سو؛ ځکه ذوي قرابت او انسباء هم د اقرباء او اقارب په څېر د جمع صیغې دي، لهذا کوم حکم چې د اقرباؤ دی، هغه به د دوی هم وي.

او که موصي د قریبانو لپاره وصیت کړی وي او د موصي هیڅ ذو رحم محرم نه وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز وصیت باطلیږي؛ ځکه د قریبانو لپاره د وصیت کولو غرض صله رحمي ده او صله رحمي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز د ذو رحم محرم سره خاص ده، لهذا کله چې دا وصف معدوم سو، نو موصوف یعني مذکوره وصیت به هم باطلیږي.

که د "اهل فلان" لپاره وصیت وکړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى لِأَهْلِ فُلَانٍ فرمایي: او څوک چې د فلانکي د اهل لپاره وصیت وکړي فَهِيَ عَلٰى زَوْجَتِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دا وصیت د هغه [فلانکي] پر ښځي [محمول] دی وَقَالَا[1]: يَتَنَاوَلُ مَنْ يَعُوْلُهُمْ وَتَضُمُّهُمْ نَفَقَتُهُ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چې دا

[1] القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، انظر للتوضيح والتفصيل [القول الراجح ج:۲، ص:۳۸۳]

وصیت هغه کسانو لره شاملیږي چي موصي د هغوی د معاش کفالت کوي او چي د موصي نفقه هغوی سره جمع کوي [یعني هغه کسان کوم چي د موصي په عیال او پالنه کي وي او موصي هغو ته نفقه ورکوي] اِعْتِبَارًا لِلْعُرْفِ د عُرف په اعتبار کولو سره وَهُوَ مُؤَيَّدٌ بِالنَّصِّ او دا په نص [آیت] سره تائید سوي دي قَالَ اللهُ تَعَالٰى: ﴿وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ﴾ [یوسف: ۹۳] الله تعالیٰ فرمایلي دي [چي یوسف ﷺ وویل...]: او تاسي خپل ټوله اهل ما ته راولئ! وَلَهُ: أَنَّ اسْمَ الْأَهْلِ حَقِيقَةٌ فِي الزَّوْجَةِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي نوم د "اهل" د ښځي [مايني] لپاره حقیقت دی [یعني حقیقي معنیٰ یې زوجه ده] يَشْهَدُ بِذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى چي په دې هکله د الله تعالیٰ دا فرمان دی ﴿وَسَارَ بِأَهْلِهِ﴾ [القصص: ۲۹] او هغه [حضرت موسیٰ ﷺ] روان [رهي] سو سره له خپل ښځي [خپل زوجه محترمه یې رهي کړه] وَمِنْهُ قَوْلُهُمْ: تَأَهَّلَ بِبَلْدَةِ كَذَا او له همدې څخه د عربو دا قول دی: چي هغه په فلانکي ښار کي اهل داره سو [یعني زوجه یې وکړه (واده یې وکړی)] وَالْمُطْلَقُ يَنْصَرِفُ إِلَى الْحَقِيقَةِ او مطلق لفظ د حقیقت [حقیقي معنیٰ] وطرف ته ګرځي.

اللغات: ﴿یعولهم﴾ د نصر د باب مضارع ده. عَالَ يَعُولُ: د دې باب څو معناوي دي چي د صلې په بدلون سره یې معنیٰ هم بدلیږي. کله چي د دې باب په صله کي اولاد وغیره ذکر سي، نو معنیٰ یې ده: د معاش کفالت کول. یعني د خوراک، څښاک او کپړو خرچه او ذمه واري په خپله غاړه اخیستل.

﴿تضمهم﴾ د نصر د باب مضارع ده. ضَمَّ يَضُمُّ ضَمًّا. د دې باب څو معناوي دي: ضمول. جمع کول (سره یو ځای کول). خپل طرف ته کشول. قبضه کول. ﴿سَارَ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: تګ کول. روانېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که څوک داسي وصیت وکړي چي د فلانکي (مثلاً د حامد) د اهل لپاره زما له مال څخه دومره مال ورکړئ!، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز له "اهل" څخه مراد زوجه (مانینه) ده او صرف زوجه د دې وصیت مستحقه کیږي. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز په "اهل" کي هغه ټوله کسان داخلیږي کوم چي د سړي (موصي) په عیال کي داخل وي یعني هغه کسان چي سړی د هغو د نفقې ذمه واره وي او خرچه ورکوي لکه ښځه، بچیان، غلام او نوکر وغیره.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې په عُرفِ عام کې دا ټوله خلک په "اهل" کې داخل شمېرل کېږي، او بل دا چې د قرآن کريم په دې آيت سره هم د دې تائيد کېږي ﴿وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ﴾، يعني حضرت يوسف عليه السلام خپلو ورونو ته وويل چې تاسې خپل اهل وعيال ما ته را ولېږئ!، نو دلته په "اهل" کې ټوله داخل دي يعني ښځه او بچيان او خادمان، نو ځکه د "اهل" لپاره چې کوم وصيت سوی وي، په هغه کې به هم ښځه او بچيان او خادمان ټوله داخلېږي.

دامام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د "اهل" د لفظ حقيقي معنیٰ صرف زوجه ده؛ لکه څرنګه چې په قرآن کې د حضرت موسیٰ عليه السلام په هکله ذکر سوي دي ﴿وَسَارَ بِأَهْلِهِ﴾ يعني موسیٰ عليه السلام خپله ښځه رهي کړه، دلته له "اهل" څخه د هغه زوجه مراد ده، همدارنګه د عربو په محاوره کې هم له "اهل" څخه زوجه مرادېږي لکه څرنګه چې عرب وايي "تأهّل ببلدة كذا" يعني فلانکي سړي په فلانکي ښار کې اهل داره سو يعني واده يې وکړی او زوجه يې پيدا کړه، معلومه سوه چې "اهل" په حقيقت کې د زوجه لپاره وضع سوی دی، او د يو قرينې پر بنياد په هغه کې عموم راځي او مجازاً د نورو لپاره استعمالېږي، لکه څرنګه چې د حضرت يوسف عليه السلام په قول کې د "أجمعين" اضافه دا ښيي چې له اهل څخه دلته له زوجه څخه بغير نور کسان هم مراد دي، او که اهل مطلق ذکر وي، نو له هغه څخه صرف زوجه مرادېږي او بلا وجه په هغه کې عموم پيدا کول مناسب نه دي.

د "آل فلان" لپاره د وصيت کولو حکم

قَالَ: وَلَوْ أَوْصَى لِآلِ فُلَانٍ فرمايي: او څوک چې د فلانکي د آل لپاره وصيت وکړي فَهُوَ لِأَهْلِ بَيْتِهِ نو دا وصيت د هغه د کورنۍ لپاره دی لِأَنَّ الْآلَ الْقَبِيلَةُ الَّتِي يُنْسَبُ إِلَيْهَا ځکه آل هغه قبيله ده چې انسان د هغې وطرف ته منسوب کول کېږي وَلَوْ أَوْصَى لِأَهْلِ بَيْتِ فُلَانٍ او که څوک د فلانکي د کورنۍ لپاره وصيت وکړي يَدْخُلُ فِيهِ أَبُوهُ وَجَدُّهُ نو په دې وصيت کې د هغه پلار او نيکه داخلېږي لِأَنَّ الْأَبَ أَصْلُ الْبَيْتِ ځکه چې پلار د کور اصل دی.

اللغات: ﴿أوصى﴾ د افعال د باب ماضي ده: وصيت کول. ﴿جدّ﴾ نيکه.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو سړی د يو چا (مثلاً د حامد) د آل لپاره وصيت وکړي، نو دا وصيت د موصیٰ لهٗ (حامد) د کورنۍ لپاره دی او د هغه ټوله کورنۍ د دې وصيت مستحقه کېږي.

او که یو سړی د یو چا د اهلِ بیت (کورنۍ) لپاره وصیت وکړي، نو په دې وصیت کې د هغه د کورنۍ سره د هغه پلار او نیکه هم داخلیږي؛ ځکه د کورنۍ اصل خو همدا پلار او نیکه دي او له همدوی څخه کورنۍ په وجود کې راغلې ده.

د "اهل نسب" یا د "اهل جنس" لپاره د وصیت کولو حکم

وَلَوْأَوْصٰى لِأَهْلِ نَسَبِهِ أَوْلِجِنْسِهِ او که موصي د خپل اهلِ نسب [نسب والا] لپاره یا د خپل جنس لپاره وصیت وکړي فَالنَّسَبُ عِبَارَةٌ عَمَّنْ يُنْسَبُ إِلَيْهِ نو نسب عبارت دی له هغو خلکو څخه چې د هغه وطرف ته موصي منسوب کول کیږي وَالنَّسَبُ يَكُوْنُ مِنْ جِهَةِ الْآبَاءِ او نسب د پلرونو له طرفه وي وَجِنْسُهُ أَهْلُ بَيْتِ أَبِيْهِ دُوْنَ أُمِّهِ او د موصي جنس د هغه د پلار کورنۍ ده، نه د مور کورنۍ لِأَنَّ الْإِنْسَانَ يَتَجَنَّسُ بِأَبِيْهِ ځکه چې انسان د خپل پلار له جنسه کیږي [د پلار له جنس څخه شمېرل کیږي] بِخِلَافِ قَرَابَتِهِ په خلاف د هغه د قرابت حَيْثُ تَكُوْنُ مِنْ جَانِبِ الْأُمِّ وَالْأَبِ ځکه چې قرابت د مور او پلار دواړو له طرفه وي.

اللغات: ﴿جهة﴾ طرف، اړخ. ﴿آباء﴾ جمع د أبٌ ده: پلرونه، پلار، نیکه وغیره.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که موصي د خپل اهلِ نسب (نسب والا) لپاره وصیت وکړي، یا د خپل جنس لپاره وصیت وکړي، نو په دې دواړو صورتونو کې په وصیت کې د موصي د کورنۍ هغه خلک داخلیږي کوم چې د موصي سره په نسب کې شریکان وي. یعني هغه خلک چې د موصي نسب کوم چا ته رسیږي د هغو نسب هم هغه ته رسیږي. د مثال په توګه که د حضرت علي ﷜ د خاندان یو کس د خپل اهلِ نسب یا د خپل جنس لپاره وصیت وکړي، نو په دې وصیت کې هغه ټول موجوده کسان داخلیږي چې د هغو نسب د پلار له طرفه حضرت علي ﷜ ته رسیږي (یعني چې د پلار له طرفه هغوی علویان وي). ځکه د نسب اعتبار د پلار له طرفه کیږي، نه د مور له طرفه. او له "جنس" څخه هم د موصي د پلار کورنۍ او خاندان مراد دي؛ ځکه چې انسان د خپل پلار د کورنۍ هم جنسه وي، نه د مور د کورنۍ.

لیکن لفظ د "قرابت" د دواړو لپاره عام دی، نو که څوک د خپل قرابت والا (اهلِ قرابت) لپاره وصیت وکړي، نو په هغه کې د مور او پلار دواړو کورنۍ او قریبان داخلیږي او ټول له د وصیت مستحق کیږي؛ ځکه قرابت عام دی.

د قبيلې د يتيمانو، ړندو، شلانو او د کونډو ښځو لپاره د وصيت کولو حکم

وَلَوْ أَوْصٰى لِأَيْتَامِ بَنِيْ فُلَانٍ او که هغه وصيت وکړي د فلانکي زېو د يتيمانو لپاره أَوْ لِعُمْيَانِهِمْ يا د هغو د ړندو [ړندیانو] لپاره أَوْ لِزَمْنَاهُمْ يا د هغو د شلانو [شل وشوټ کسانو] لپاره أَوْ لِأَرَامِلِهِمْ يا د هغو د کونډو ښځو [کونډیانو] لپاره إِنْ كَانُوْا قَوْمًا يُحْصَوْنَ نو که هغوی [موصیٰ لهم] دومره کسان وي چې شمېرل کېدلای سي دَخَلَ فِي الْوَصِيَّةِ فُقَرَاؤُهُمْ وَأَغْنِيَاؤُهُمْ ذُكُوْرُهُمْ وَإِنَاثُهُمْ نو په وصيت کې د هغو فقيران او مالداران [شتمن] نر او ښځې ټوله داخليږي لِأَنَّهُ أَمْكَنَ تَحْقِيْقُ التَّمْلِيْكِ فِيْ حَقِّهِمْ ځکه چې د هغو په حق کې تمليک ثابتول ممکن دي [ځکه چې بې شمېره نه دي. بلکې شمېرل کېدلای سي] وَالْوَصِيَّةُ تَمْلِيْكٌ او وصيت تمليک [مالک جوړول] دي [چې په هغه کې موصیٰ له د موصیٰ به مالک جوړول کيږي] وَإِنْ كَانُوْا لَا يُحْصَوْنَ او که هغوی [موصیٰ لهم] نه سي شمېرل کېدلای فَالْوَصِيَّةُ فِي الْفُقَرَاءِ مِنْهُمْ نو وصيت له دوی څخه د فقيرانو لپاره دی [يعني د دوی د محتاجانو او غريبانو لپاره دی] لِأَنَّ الْمَقْصُوْدَ مِنَ الْوَصِيَّةِ الْقُرْبَةُ ځکه چې مقصود له وصيت څخه عبادت [او ثواب ترلاسه کول] دي وَهِيَ فِيْ سَدِّ الْخَلَّةِ وَرَدِّ الْجَوْعَةِ او هغه د حاجت په ختمولو کې او د لوږې په لیرې کولو کې دي وَهٰذِهِ الْأَسَامِيْ تُشْعِرُ بِتَحَقُّقِ الْحَاجَةِ او دغه نومونه [يتيمان. شلان وغيرهم] د حاجت [احتياج] د ثابتېدلو خبر ورکوي فَجَازَ حَمْلُهُ عَلَى الْفُقَرَاءِ نو ځکه پر فقيرانو [محتاجانو] د هغه حمل کول جائز دي.

اللغات: ﴿أيتام﴾ جمع د يتيم ده. ﴿أرامل﴾ جمع د أَرْمَلَةٌ او أَرْمَلٌ ده: کونډه. او کونډ. يعني هغه ښځه چې خاوند نه لري. او هغه سړی چې ښځه نه لري. ﴿يحصون﴾ د افعال له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صيغه ده: شمېرل کېدل. ﴿قربة﴾ نېکي او د نېکۍ کار. عبادت. ﴿تمليك﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مالک کول. مالک جوړول. ﴿سدّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: بندول. ختمول. خَلَّة: حاجت. ضرورت. سَدُّ خَلَّة: حاجت ختمول. ضرورت پوره کول. ﴿جوعة﴾ وږه (لوږه). ﴿أسامي﴾ جمع د إسم ده: نومونه. ﴿تشعر﴾ د افعال د باب مضارع ده: احساس ورکول. اطلاع او خبر ورکول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که څوک د يوې قبيلې يا مثلاً د يو کلي د يتيمانو لپاره وصيت وکړي. يا د يوې قبيلې د ړندو (ړندیانو) يا د شلانو لپاره وصيت وکړي. يا د يوې قبيلې د کونډو ښځو

(کونډیانو) لپاره وصیت وکړي، نو دې ته به کتل کیږي چې موصی لهم (یعني یتیمان. یا ړندیان. یا شلان...) شمېرل کېدلای سي، که نه؟ که چیري اول صورت وي یعني هغوی شمېرل کېدلای سي، نو په دې صورت کې د موصی لهم هر فرد په وصیت کې داخلیږي، برابره ده هغه فقیر او محتاج وي او که مالدار وي، په هر صورت کې ټوله د وصیت مستحق کیږي؛ ځکه کله چې د موصی لهم احصاء او شمېر ممکن دی، نو هغوی د وصیت مالک جوړول ممکن دي، نو ځکه هغوی ټوله به د وصیت مستحق کیږي که څه هم هغوی مالداران (شتمن) وي.

او که چیري د موصی لهم احصاء او شمېر ممکن نه وي، نو په دې صورت کې له هغو څخه صرف فقیران او محتاجه کسان د وصیت مستحق کیږي او کوم چې مالداران دي، هغوی له وصیت څخه محرومیږي؛ ځکه په دې صورت کې د موصي مقصد او غرض دا وي چې د موصی لهم حاجت او ضرورت دفع سي او د هغو لوږه ختمه سي، او د یتیمانو، ړندیانو، شلانو له نامه څخه هم غربت او محتاجي ښکاریږي چې داسي کسان عموماً غریبان او محتاجه وي؛ نو همدوی ته په وصیت ورکولو سره د موصي مقصد حاصلیږي، نو ځکه په مذکوره صورت کې به وصیت په موصی لهم کې پر فقیرانو او غریبانو حمل کول کیږي.

د قبیلې د ځوانانو او بې واده کسانو لپاره د وصیت کولو حکم

بِخِلَافِ مَا إِذَا أَوْصٰى لِشُبَّانِ بَنِيْ فُلَانٍ وَهُمْ لَا يُحْصَوْنَ په خلاف د هغه صورت کله چې موصي د فلانکی زیو د ځوانانو لپاره وصیت وکړي حال دا چې هغوی شمېرل کېدلای نه سي [یعني بې شمېره وي] أَوْ لِأَيَامٰى بَنِيْ فُلَانٍ وَهُمْ لَا يُحْصَوْنَ یا د فلانکی زیو د بې واده کسانو لپاره وصیت وکړي حال دا چې هغوی شمېرل کېدلای نه سي حَيْثُ تَبْطُلُ الْوَصِيَّةُ نو وصیت باطلیږي لِأَنَّهٗ لَيْسَ فِي اللَّفْظِ مَا يُنْبِئُ عَنِ الْحَاجَةِ ځکه په دې [د شبان او ایامی] په لفظ کې داسي څه نسته کوم چې د حاجت [احتیاج] خبر ورکړي فَلَا يُمْكِنُ صَرْفُهٗ إِلَى الْفُقَرَاءِ نو ځکه د فقیرانو [محتاجانو] وطرف ته د هغه ګرځول ممکن نه دي وَلَا يُمْكِنُ تَصْحِيْحُهٗ تَمْلِيْكًا فِيْ حَقِّ الْكُلِّ او نه د ټولو [ځوانانو او بې واده کسانو] په مالک جوړولو سره د دغه وصیت صحیح کول ممکن دي [وضاحت به یې په تشریح کې وسي] لِلْجَهَالَةِ الْمُتَفَاحِشَةِ د ډېر زیات جهالت په وجه وَتَعَذُّرِ الصَّرْفِ إِلَيْهِمْ او د دوی ټولو وطرف ته د وصیت ګرځولو د متعذر

کېدلو په وجه [چي ټولو ته وصیت راجع کول او حصه پکښي ورکول نا ممکن دي] وَفِي الْوَصِيَّةِ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ يَجِبُ الصَّرْفُ إِلَى اثْنَيْنِ مِنْهُمْ او د فقیرانو او مسکینانو لپاره د وصیت کولو په صورت کي له هغو څخه دوو کسانو ته وصیت ګرځول [دوو فقیرانو او مسکینانو ته ورکول] واجب دي اِعْتِبَارًا لِمَعْنَى الْجَمْعِ د جمع د معنیٰ په اعتبار کولو سره وَأَقَلُّهُ اثْنَانِ فِي الْوَصَايَا او په وصیتونو کي د جمع اقل مقدار دوه دي عَلَىٰ مَا مَرَّ لکه [مخکي] چي تېر سوه.

اللغات: ﴿شُبَّان﴾ جمع د شَابٌّ ده: ځوان. ﴿أَيَامَىٰ﴾ جمع د أَيِّمٌ ده: بې واده ښځه. برابره ده هغه باکره وي او که مطلقه یا کونډه وي، همدارنګه بې واده سړی، برابره ده هغه مخکي واده کړی وي او که یې نه وي کړي (معجم لغة الفقهاء). ﴿صَرْف﴾ د ضرب د باب مصدر دی: ګرځول، خرچول (مصرفول).

تشریح: **صورت د مسئلي**: دا دی که څوک د یوې قبیلې یا مثلاً د یو کلي د ځوانانو لپاره وصیت وکړي. یا د یوې قبیلې د بې واده خلګو یا د بې واده ښځو لپاره وصیت وکړي. او هغه ښځي یا هغه ځوانان او خلګ دومره زیات وي چي شمېرل کېدلای نه سي، نو وصیت باطلېږي: ځکه دلته دوه صورتونه دي او هغه دواړه نا ممکن او متعذر دي. یو خو هغه مخکینی صورت دی چي مذکوره وصیت په شبان او ایامیٰ (ځوانانو او بې واده کسانو) کي صرف د فقیرانو او غریبانو لپاره وګرځول سي. دا صورت نا ممکن دی: ځکه د شبان او ایامیٰ (یعني د ځوانانو او بې واده کسانو) د لفظ څخه هیڅ د فقر او حاجت معنیٰ نه ښکارېږي لکه څرنګه چي د ایتام او عمیان (یتیمانو او ړندیانو) د لفظ څخه د فقر او احتیاج معنیٰ ښکارېږي. لهذا دلته د هغو د فقراؤ لپاره وصیت متعین کول متعذر دي. او بل صورت دا دی چي مذکوره وصیت د ټولو ځوانانو او ټولو بې واده کسانو لپاره وګرځول سي او ټوله د وصیت (موصیٰ به) مالکان کړل سي، دا صورت هم نا ممکن دی: ځکه دلته موصیٰ لهم بې شمېره دي چي شمېرل یې ممکن نه دي او د بې شمېره کېدلو په وجه په هغوی کي جهالت فاحشه دی. او جهالت فاحشه د وصیت له نفاذ څخه مانع دی. لهذا کله چي دواړه صورتونه نا ممکن دي. نو ځکه موږ په مذکوره مسئله کي وصیت باطل ګرځولی دی.

وفي الوصيّة إلخ: د دې حاصل دا دی چي که یو څوک د فقیرانو او مسکینانو (فقراء او مساکین) لپاره وصیت وکړي، نو کم از کم دوو فقیرانو او دوو مسکیانو ته وصیت (موصیٰ به) ورکول ضروري دي: ځکه فقراء او مساکین دواړه د جمعي صیغې دي او د جمع فرد اقل (کمترین فرد) دوه دي. نو ځکه د هر فریق دوو نفرو ته وصیت ورکول ضروري دي.

د "بنو فلان" (فلانکی زیو) لپاره د وصیت کولو حکم

وَلَوْ أَوْصٰى لِبَنِيْ فُلَانٍ فرمايي: او كه څوک د فلانكي زيو لپاره وصيت وكړي يَدْخُلُ فِيْهِمُ الْإِنَاثُ فِيْ قَوْلِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ أَوَّلِ قَوْلِهِ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله د اول قول مطابق په هغه [بنو فلان] كي ښځي [هم] داخليږي وَهُوَ قَوْلُهُمَا او همدا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دى لِأَنَّ جَمْعَ الذُّكُوْرِ يَتَنَاوَلُ الْإِنَاثَ ځكه چي جمع مذكر ښځو لره [هم] شامليږي ثُمَّ رَجَعَ بيا امام صاحب رَحِمَهُ الله [له دې قول څخه] رجوع وكړه وَقَالَ: يَتَنَاوَلُ الذُّكُوْرَ خَاصَّةً او ويې فرمايل: چي دا جمع [بنو فلان] فقط نارينه وو لره شامليږي لِأَنَّ حَقِيْقَةَ الْاِسْمِ لِلذُّكُوْرِ ځكه د دې لفظ [بنو] حقيقت د نارينه وو لپاره دى وَانْتِظَامُهُ لِلْإِنَاثِ تَجَوُّزٌ او ښځو لره دا لفظ شامليدل د مجاز په توګه دي وَالْكَلَامُ لِحَقِيْقَتِهِ او كلام د خپل حقيقت لپاره وي [يعني پر خپل حقيقي معنىٰ حمل كول كيږي] بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ بَنُوْ فُلَانٍ اِسْمَ قَبِيْلَةٍ أَوْ فَخِذٍ په خلاف د هغه صورت كله چي بنو فلان د يوې قبيلې يا د يوې پښې نوم وي حَيْثُ يَتَنَاوَلُ الذُّكُوْرَ وَالْإِنَاثَ نو [په دې صورت كي] هغه نارينه وو او ښځينه وو دواړه لره شامليږي لِأَنَّهُ لَيْسَ يُرَادُ بِهَا أَعْيَانُهُمْ ځكه چي مراد په هغه سره د دوى اعيان نه وي إِذْ هُوَ مُجَرَّدُ الْاِنْتِسَابِ كَبَنِيْ آدَمَ ځكه هغه محض انتساب دى لكه بنو آدم وَلِهٰذَا يَدْخُلُ فِيْهِ مَوْلَى الْعَتَاقَةِ وَالْمُوَالَاةِ وَحُلَفَاؤُهُمْ په همدې وجه په هغه كي مولى العتاقه، مولى الموالاة او د دوى حلفاء داخليږي.

اللغات: ﴿إناث﴾ جمع د أُنثى ده: ماده، ښځينه. ﴿فخذ﴾ په قوم كي يو پښه. جلا پښه. په عربو كي د قوم او قبيلې د بيان او پيژندګلوۍ لپاره شپږ نومان استعمالول كېده چي هغه به تر تشريح وروسته ذكر كړو. ﴿مولى العتاقة﴾ د يو سړي يا د يو قوم له طرفه آزاد كړى سوى غلام چي ولاء يې هغه ته حاصليږي. نو دا غلام د هغه سړي له قوم او قبيلې څخه شمېرل كيږي نو ځكه د بنو فلان په وصيت كي هغه هم داخليږي، حال دا چي د هغو له اولاد څخه نه دى. ﴿مولى الموالاة﴾ هغه كس چي د يو سړي سره يې د دوستۍ او وروګلوۍ تړون كړى وي...چي كه زه مړ سوم نو زما ميراث ستا دى...(وضاحت يې مخكي تېرسو). داسي كس د هغه سړي له قبيلې څخه شمېرل كيږي. او بل تفسير يې دا دى چي هغه كس كوم چي د يو سړي يا د يو قوم پر لاس مسلمان سوى وي، نو دا كس له هغو څخه شمېرل كيږي او مولى الموالاة ورته ويل كيږي. ﴿حلفاء﴾ جمع د حليفٌ ده: هغه كس چي يو

سړي یا یو قوم د هغه سره د کومک او مدد کولو تړون کړی وي (چې د ضرورت په وخت کې به موږ او تاسې یو د بل نصرت کوو). د تناصر تړون کونکی (د تناصر پر تړون قسم اخیستونکی).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چې که څوک د بنو فلان (فلانکی زیو) لپاره وصیت وکړي، نو د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز په دغه وصیت کې د بنو فلان نارینه او ښځینه ټول داخلیږي (دا په هغه صورت کې چې بنو فلان د یو قبیلې نوم نه وي. یعني موصي د یو سړي د زامنو لپاره وصیت کړی وي)، او همدا د امام صاحب رَحِمَهُ الله اول قول دی؛ ځکه "جمع مذکر" مؤنث لره هم شاملیږي. لیکن امام صاحب رَحِمَهُ الله وروسته له خپل دې قول څخه رجوع وکړه او هغه وفرمایل چې په بنو فلان کې یوازې نارینه (سړیان) داخلیږي او ښځې نه پکښې داخلیږي؛ ځکه د "بنو" لفظ د سړیانو (نارینه زامنو) لپاره خاص دی او د مجاز په توګه ښځو لره شاملیږي، او لفظ پر خپله حقیقي معنیٰ حمل کول زیات غوره دي پر مجازي معنیٰ له حمل کولو څخه، نو ځکه له "بنو" څخه به صرف نارینه خلګ مرادیږي.

بخلاف ما إذا کان إلخ: د دې حاصل دا دی چې که "بنو فلان" د یوې قبیلې یا د یوې پښې (فخذ) نوم وي، یعني موصي د یوې قبیلې یا د یوې پښې لپاره وصیت وکړي (مثلاً د ښادیزو لپاره یا د ښادیزي قوم د یوې پښې لپاره) وصیت وکړي؛ نو بیا په بنو فلان (ښادیزو) کې نر او ښځې ټول داخلیږي؛ ځکه په دې صورت کې له "بنو فلان" څخه مراد صرف سړیان نه وي، بلکې ښځې هم مراد وي (لکه څرنګه چې زموږ عرف هم داسې دی)؛ ځکه دا خو محض انتساب دی یعني فقط د نسبت لپاره "بنو" ته اضافت کول کیږي. لکه څرنګه چې په "بنو آدم" سره د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ټوله اولاد ته نسبت کول کیږي. او په بنو فلان (ښادیزو) کې د هغو مولی العتاقه، مولی الموالات او د هغو حلفاء ټول داخلیږي. لنډه دا چې په دې صورت کې امام صاحب رَحِمَهُ الله هم په بنو فلان کې ښځې داخلوي.

﴿د قبیله، فخذ او داسې نورو وضاحت﴾

په عربي ژبه کې د قوم او قبیلې د پېژندګلوۍ لپاره تقریباً شپږ نومان استعمالیږي: ① شعب: د ډیرو قومونو او قبیلو مجموعه ته وایي، مثلاً ربیعه او مضر "شعب" دي (یا مثلاً په پښتو کې غلجي و دُراني او کرلاني وغیره د عربي ژبې پر بناء "شعب" دي). ② قبیله: دا تر شعب کوچنی وي، مثلاً کنانه "قبیله" ده. ③ عمارة: دا تر قبیلې کوچنی وي، مثلاً قریش "عماره" ده. ④ بطن: دا تر عمارې کوچنی وي. مثلاً قصی "بطن" دی. ⑤ فخذ: له بطن څخه کوچنی وي، مثلاً هاشم "فخذ" دی. ⑥ فصیلة: دا له فخذ څخه هم کوچنی وي. مثلاً عباس "فصیله" ده.

لکه څرنګه چې په پښتو ژبه کې هم په دې سلسله کې څو الفاظ استعمالیږي. مثلاً قوم او ټبر، پښه (خېل)، کهول او داسې نور.

د "ولد فلان" یا د "ورثه فلان" لپاره د وصیت کولو حکم

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى لِوَلَدِ فُلَانٍ فرمایي: او څوک چي د فلانکي د ولد لپاره وصیت وکړي فَالْوَصِيَّةُ بَيْنَهُمْ نو وصیت د هغو [اولاد فلان] تر مینځ [مشترک] دی وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثٰى فِيْهِ سَوَاءٌ او مذکر او مؤنث په دې کي سره برابر دي لِأَنَّ اِسْمَ الْوَلَدِ يَنْتَظِمُ الْكُلَّ انْتِظَامًا وَاحِدًا ځکه لفظ د ولد ټولو لره په یوه شمول سره شاملیږي وَمَنْ أَوْصٰى لِوَرَثَةِ فُلَانٍ او څوک چي د فلانکي د وارثانو لپاره وصیت وکړي فَالْوَصِيَّةُ بَيْنَهُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ نو وصیت د هغو تر مینځ [مشترک] دی د نارینه [سړي] لپاره د دوو ښځو د حصې په څېر لِأَنَّهُ لَمَّا نَصَّ عَلٰى لَفْظِ الْوَرَثَةِ ځکه کله چي موصي د وارثانو په لفظ سره صراحت وکړی آذَنَ ذٰلِكَ بِأَنَّ قَصْدَهُ التَّفْضِيْلَ نو هغه د دې خبر ورکړی چي د هغه اراده [نارینه ته پر ښځي] د فضیلت ورکولو ده كَمَا فِي الْمِيْرَاثِ لکه څرنګه چي په میراث کي دي.

اللغات: ﴿ینتظم﴾ د افتعال د باب مضارع ده: شاملېدل، مشتمل کېدل، څو شیان سره جمع کول. ﴿نص﴾ د نصر د باب ماضي ده: صراحت کول، په صراحت سره بیانول، په ښکاره الفاظو سره ذکر کول. ﴿تفضیل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: فضیلت ورکول، ترجیح ورکول.

تشریح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... که څوک د فلانکي د ولد لپاره وصیت وکړي مثلاً داسي ووایي چي زما له مال څخه دي دومره مال د حُسین اولاد ته ورکول سي!، نو په دې وصیت کي د فلانکي (حُسین) ځامن او لوڼي ټول داخلیږي، لهذا په وصیت کي به ټوله شریکان کیږي.

(۲)... دویمه مسئله دا ده که څوک د فلانکي د وارثانو لپاره وصیت وکړي مثلاً داسي ووایي چي دومره مال دي د حُسین وارثانو (میراث خورو) ته ورکول سي!، نو وصیت (موصیٰ به) به د هغه په وارثانو کي د "للذّکر مثل حظ الأنثیین" مطابق تقسیمول کیږي، یعني د هغه په وارثانو کي چي هري ښځي ته څومره حصه رسیږي، هغومره دوې حصې به هر سړي ته ورکول کیږي؛ ځکه کله چي موصي په صراحت سره د وارثانو (میراث خورو) یادونه کړې ده، نو دا واضحه خبره ده چي موصي په وارثانو کي سړیانو ته پر ښځو ترجیح ورکول غواړي او د ترجیح طریقه همدا ده چي په وارثانو کي د "للذّکر مثل حظ الأنثیین" مطابق تقسیم وکړی سي، لکه څرنګه چي په میراث کي همدا طریقه جاري ده.

د "موالي" لپاره د وصیت کولو حکم او تفصیل

وَمَنْ أَوْصٰى لِمَوَالِيْهِ او څوک چي د خپل "موالي" لپاره وصیت وکړي وَلَهُ مَوَالٍ أَعْتَقَهُمْ او د هغه [موصي] څه موالي داسي وي کوم چي هغه [موصي] آزاد کړي وي وَمَوَالٍ أَعْتَقُوْهُ او څه موالي داسي وي چي هغو موصي آزاد کړی وي فَالْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌ نو وصیت باطل دی وَقَالَ الشَّافِعِيُّ فِيْ بَعْضِ كُتُبِهِ: إِنَّ الْوَصِيَّةَ لَهُمْ جَمِيْعًا او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي په خپل بعضي کتابو کي فرمايي: چي وصیت د هغو ټولو لپاره دی وَذَكَرَ فِيْ مَوْضِعٍ آخَرَ أَنَّهُ يُوْقَفُ حَتّٰى تَصَالَحُوْا او په بل ځای کي يې ذکر کړي دي چي دا وصیت به درول کیږي [توقف به کیږي] تر دې چي هغوی ټوله صلح وکړي لَهُ: أَنَّ الِاسْمَ يَتَنَاوَلُهُمْ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چي [د موالي] لفظ هغوی ټولو لره شامل دی لِأَنَّ كُلًّا مِنْهُمْ يُسَمّٰى مَوْلًى ځکه له هغوی څخه هر يوه ته مولیٰ ويل کیږي فَصَارَ كَالْإِخْوَةِ نو هغه د إخوة [ورونو] په څېر سو [چي هغه هر قسم ورونو لره شامل دی] وَلَنَا: أَنَّ الْجِهَةَ مُخْتَلِفَةٌ او زموږ دلیل دا دی: چي جهت مختلف دی لِأَنَّ أَحَدَهُمَا يُسَمّٰى مَوْلَى النِّعْمَةِ ځکه له هغوی دواړو څخه يو فريق ته مولی النعمة ويل کیږي وَالْآخَرُ مُنْعَمٌ عَلَيْهِ او بل فريق ته منعم عليه ويل کیږي فَصَارَ مُشْتَرَكًا نو دا مشترک لفظ سو فَلَا يَنْتَظِمُهُمَا لَفْظٌ وَاحِدٌ فِيْ مَوْضِعِ الْإِثْبَاتِ نو ځکه يو لفظ [موالي] به د اثبات په ځای کي دواړو قسمونو لره نه شامليږي بِخِلَافِ مَا إِذَا حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ مَوَالِيَ فُلَانٍ په خلاف د هغه صورت کله چي موصي قسم واخلي چي د فلانکي د مواليو سره به خبري نه کوي حَيْثُ يَتَنَاوَلُ الْأَعْلٰى وَالْأَسْفَلَ نو دا قسم اعلیٰ او اسفل [دواړه ډوله مواليو] لره شامليږي لِأَنَّهُ مَقَامُ النَّفْيِ ځکه چي دا د نفي مقام دی وَلَا تَنَافِيْ فِيْهِ او په هغه کي هيڅ منافات نسته.

اللغات: ﴿موالي﴾ جمع د مَوْلیٰ ده: آزادونکی مالک، آزاد کړی سوی غلام (دا لفظ د دغه دواړو معناوو لپاره استعماليږي). ﴿تصالحوا﴾ د تفاعل له بابه د جمع مذکر غائب ماضي صيغه ده: يو د بل سره صلح کول، پر يو خبره اتفاق کول. ﴿يتناول﴾ د تفاعل د باب مضارع ده. د دې باب له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: شامليدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې حامد مثلاً مخکې غلام وو. او د هغه یو مالک وو. یا یې ډېر مالکان وه. بیا هغه یوه مالک یا ډېرو مالکانو حامد آزاد کړی. نو دوی د حامد موالي سول. او تر دې وروسته حامد هم څو غلامان رانیول او آزاد یې کړل. نو حامد د هغو مولیٰ سو او غلامان د حامد موالي سول (ځکه مولیٰ مُعتِق او مُعتَق دواړو ته ویل کیږي او جمع یې موالي راځي. کما ذکرنا). اوس که حامد د خپل موالیو لپاره وصیت وکړي چې مثلاً زما له مال څخه دې دومره مال زما موالیو ته ورکول سي او دا ښکاره نه کړي چې زما مراد له موالي څخه څوک دي؟ مُعتَق او که مُعتِق. نو په دې صورت کې څه حکم دی؟.

زموږ په نېز حکم دا دی چې دا وصیت باطل دی.

او له امام شافعي رَحِمَهُ الله څخه په دې باره کې دوه قوله نقل سوي دي:

① د شوافعو په بعضې کتابو کې دي چې دا وصیت د ټولو موالیو (مُعتِق او مُعتَق دواړو) لپاره دی او د ټولو په مینځ کې به وصیت نافذول کیږي.

② دویم قول دا دی چې د دغه وصیت په هکله به توقف کول کیږي. او کله چې دواړه قسمه موالي پر دې خبره صلح او اتفاق وکړي چې د وصیت مال زموږ او ستاسو تر مینځ نیم په نیمه دی یعني مُعتِق او مُعتَق ټوله موالي په خپل مینځ کې د نصف، نصف وصیت په اخیستلو باندي راضي سي، نو بیا به دا وصیت نافذول کیږي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې لفظ د مَوَالِي هر قسم موالیو لره شامل دی (یعني هم معتِق لره او هم معتَق لره) لکه څرنګه چې لفظ د إِخْوَة هر قسم ورونو لره شامل دی. نو ځکه په موالیو کې به د موصي (حامد) معتِق او معتَق دواړه قسمه موالي شامل او داخل وي. او ټوله به د وصیت حقداره وي.

زموږ دلیل دا دی چې د لفظ په اعتبار سره موالي که څه هم دواړه قسمه موالیو لره شامل دی. لیکن د معنیٰ په اعتبار سره هغه دواړو لره شامل نه دی؛ ځکه د دواړو جهات مختلف دي. یوه ته په دې اعتبار سره موالي ویل کیږي چې هغه "مولیٰ نعمة" یعني معتِق (آزادونکی) دی او بل ته په دې اعتبار سره موالي ویل کیږي چې هغه "مُنعَم علیه" یعني معتَق (آزاد کړی سوی) دی یا په بله وینا دا چې یو د آزادۍ انعام ورکونکی او پر بل د آزادۍ انعام سوی دی، نو لفظ د موالي عام نه سو بلکې مشترک سو. او قاعده دا ده چې کله مشترک لفظ په موضعِ اثبات (مثبت مقام) کې مستعمل وي، نو هغه خپل ټولو افرادو لره نه شاملیږي یعني کوم افراد چې په هغه کې داخل وي. هغوی ټولو لره نه شاملیږي؛ ځکه په

مشترک کي عموم نه وي، همدارنګه دا هم ممکنه نه ده چي له هغه افرادو څخه یو فرد مراد کړي سي ځکه چي دا ترجیح بلا مجرح ده، نو ځکه دلته د وصیت له باطلولو څخه بغیر بله چاره نسته.

او که مشترک لفظ په موضع نفي (منفي مقام) کي وي، نو هلته عموم پکښي راځي، مثلاً که څوک قسم واخلي چي زه به د فلانکي د موالیو سره خبري نه کوم، نو په دې کي هر قسم موالي شاملیږي یعني مُعتِق هم او مُعتَق هم، ځکه مشترک لفظ د نفي په مقام کي عموم فایده کوي او د عموم په تو که اعلیٰ او اسفل ټولو لره شاملیږي.

د "موالي" لپاره د وصیت کولو نور وضاحت

وَيَدْخُلُ فِيْ هٰذِهِ الْوَصِيَّةِ مَنْ أَعْتَقَهُ فِي الصِّحَّةِ وَالْمَرَضِ او په دغه وصیت کي هغه موالي [ټوله] داخلیږي کوم چي موصي په [خالت د] صحت او مرض کي آزاد کړي وي وَلَا يَدْخُلُ مُدَبَّرُوْهُ وَأُمَّهَاتُ أَوْلَادِهِ او د موصي مدبر غلامان او اُمِ ولد مینځي نه [پکښي] داخلیږي لِأَنَّ عِتْقَ هٰؤُلَاءِ يَثْبُتُ بَعْدَ الْمَوْتِ ځکه چي د دوی عتق [د موصي] تر مرګ وروسته ثابتیږي وَالْوَصِيَّةُ تُضَافُ إِلٰى حَالَةِ الْمَوْتِ او وصیت [د موصي] د مرګ وحالت ته مضاف کیږي فَلَا بُدَّ مِنْ تَحَقُّقِ الِاسْمِ قَبْلَهُ نو تر مرګ مخکي د لفظ [عتق او مولیٰ (آزاد کرده)] ثابتېدل ضروري دي وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ أَنَّهُمْ يَدْخُلُوْنَ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دا دی چي دوی هم [په وصیت کي] داخلیږي لِأَنَّ سَبَبَ الِاسْتِحْقَاقِ لَازِمٌ ځکه چي [د دوی] د استحقاق سبب لازم دی وَيَدْخُلُ فِيْهِ عَبْدٌ قَالَ لَهُ مَوْلَاهُ: إِنْ لَمْ أَضْرِبْكَ فَأَنْتَ حُرٌّ او په دې کي هغه غلام هم داخلیږي چي هغه ته مالک ویلي وي: که ما ته نه وو هلې نو ته آزاد یې! لِأَنَّ الْعِتْقَ يَثْبُتُ قُبَيْلَ الْمَوْتِ عِنْدَ تَحَقُّقِ عَجْزِهِ ځکه عتق تر مرګ لږ مخکي د هغه [مالک] د عاجزي د ثابتېدلو په وخت کي ثابتیږي [یعني تر مرګ څه مخکي چي له ضرب څخه مالک عاجزه سي، نو د مذکوره غلام عتق ثابتیږي].

اللغات: ﴿مدبروه﴾ جمع د مُدَبَّر ده: هغه غلام چي مالک د هغه آزادي پر خپل مرګ معلقه کړې وي (یعني هغه ته یې ویلي وي چي زما تر مرګ وروسته ته آزاد یې!). ﴿اُمهات اولاده﴾ جمع د اُمِّ وَلَد ده (د هلک مور)، هغه مینځي ته وایي چي مالک (مولیٰ) د هغې سره وطي وکړي او د هغه وطي په نتیجه کي له مینځي څخه بچی پیدا سي.

تشریح : صورت د مسئلې : دا دی که موصي د خپل "موالي" لپاره وصیت وکړي او د ده په موالیو کي صرف آزاد کړل سوي غلامان وي، نو په دغه وصیت کي هغوی ټوله داخلیږي که څه هم موصي هغوی بعضي په حالت د صحت کي او بعضي یې په حالت د مرض کي آزاد کړي وي؛ ځکه ټوله د ده موالي کیږي او په موالیو کي داخل دي، نو ځکه ټوله به د وصیت مستحق کیږي. ها! د موصي مدبر غلامان او اُمِ ولد مینځي له دغه وصیت څخه مستثنیٰ دي او هغوی په وصیت کي نه داخلیږي: ځکه د مدبر او اُمِ ولد عتق د موصي تر مرګ وروسته ثابتیږي، نو د وصیت د مستحق کېدلو لپاره د موصي د مرګ په وخت کي د هغو آزادېدل ضروري دي، حال دا چي وصیت تر مرګ وروسته حالت مضاف کیږي نو د موصي د مرګ په وخت کي هغوی آزا نه دي، نو ځکه هغوی به د وصیت هم نه مستحق کیږي.

وعن أبي یوسف إلخ : فرمایي چي د مدبر او اُمِ ولد په هکله له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه یو روایت دا نقل سوی دی چي په مذکوره وصیت کي مدبر غلامان او اُم ولد مینځي هم داخلیږي: ځکه که څه هم فی الحاله هغوی آزاد نه دي، لېکن د هغو د آزادی سبب پوخ او لازمي دی چي د موصي تر مرګ وروسته حتماً هغوی آزادیږي.

ویدخل فیه إلخ : د دې حاصل دا دی چي که موصي خپل غلام ته داسي ویلي وي چي که چیري ما ته نه ووهلې، نو ته آزاد یې! او تر وهلو مخکي موصي مړ سوی وي، نو دا غلام هم په مذکوره وصیت کي داخلیږي؛ ځکه کله چي موصي د مرګ تر وخته پوري هغه نه ووهلی، نو د مرګ په وخت کي له وهلو (ضرب) څخه د موصي عجز متحقق سو، لهذا تر مرګ مخکي هغه آزاد سو، نو ځکه هغه به د موصي د وصیت مستحق وي، ځکه د وصیت د استحقاق لپاره چي کوم شی شرط وو. هغه موجود سو.

د موالیو لپاره د وصیت کولو په صورت کي د هغو اولاد هم په وصیت کي داخلیږي

وَلَوْ كَانَ لَهُ مَوَالٍ وَأَوْلَادُ مَوَالٍ وَمَوَالِي مُوَالَاةٍ او که د موصي لپاره موالي وي او د موالیو اولاد وي او د موالاة [عقدِ موالاة] موالي وي يَدْخُلُ فِيهَا مُعْتَقُوهُ وَأَوْلَادُهُمْ دُونَ مَوَالِي الْمُوَالَاةِ نو په دې وصیت کي د موصي آزاد کرده غلامان [موالي] او د هغو اولاد داخلیږي، نه د موالاة موالي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُمْ يَدْخُلُونَ أَيْضًا وَالْكُلُّ شُرَكَاءُ او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چي موالی الموالاة هم [پکښې] داخلیږي او ټوله سره شریکان دي لِأَنَّ الِاسْمَ يَتَنَاوَلُهُمْ عَلَى السَّوَاءِ ځکه چي لفظ د موالي

ټولو لره په برابره توګه شامليږي وَمُحَمَّدٌ يَقُوْلُ: اَلْجِهَةُ مُخْتَلِفَةٌ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي جهت مختلف دی فِي الْمُعْتَقِ الْإِنْعَامُ وَفِي الْمَوَالِي عَقْدُ الْإِلْتِزَامِ چي په معتَق کي د انعام جهت دی او په موالي [موالی الموالاة] کي د عقد التزام جهت دی [يعني د عقدِ موالاة د التزام جهت] وَالْإِعْتَاقُ لَازِمٌ او اعتاق لازم دی فَكَانَ الْإِسْمُ لَهُ أَحَقَّ نو ځکه دا لفظ [د موالي] به صرف د معتَق لپاره زيات لائق وي وَلَا يَدْخُلُ فِيْهِمْ مَوَالِي الْمَوَالِيْ او په موالي [مُعتَقينو] کي د موالیو موالي [د مُعتقينو مُعتَقين] نه داخليږي لِأَنَّهُمْ مَوَالِي غَيْرِهِ حَقِيْقَةً ځکه چي هغوی په حقيقت کي له موصي څخه بغير د بل چا موالي دي بِخِلَافِ مَوَالِيْهِ وَأَوْلَادِهِمْ په خلاف د موصي د خپل موالیو او د هغوی د اولاد [نو هغوی په دې وجه په وصيت کي داخليږي] لِأَنَّهُمْ يُنْسَبُوْنَ إِلَيْهِ بِإِعْتَاقٍ وُجِدَ مِنْهُ ځکه چي دا [موالي او اولاد يې] د داسي اعتاق په وجه د موصي وطرف ته منسوب دي کوم چي د موصي له طرفه موجود [واقع] سوی دی وَبِخِلَافِ مَا إِذَا لَمْ يَكُنْ لَهُ مَوَالٍ وَلَا أَوْلَادُ الْمَوَالِيْ او په خلاف د هغه صورت کله چي د موصي لپاره نه موالي وي او نه د موالیو اولاد [نو بيا په وصيت کي موالی الموالی داخليږي] لِأَنَّ اللَّفْظَ لَهُمْ مَجَازٌ ځکه چي لفظ [د موالي] د هغو [موالی الموالی] لپاره مجاز دی فَيُصْرَفُ إِلَيْهِ عِنْدَ تَعَذُّرِ اعْتِبَارِ الْحَقِيْقَةِ نو ځکه د حقيقت [حقيقي معنی] د اعتبار متعذر کېدلو په وخت کي به دا لفظ [موالي] د مجاز وطرف ته کرځول کيږي.

اللغات: ﴿على السواء﴾ په برابري سره، ﴿تعذُّر﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: متعذر کېدل، ناممکن کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که موصي د خپل "موالي" لپاره وصيت وکړي، او د موصي لپاره درې قسمه موالي دي ① موالي (کوم چي موصي آزاد کړي دي)، ② د هغو اولاد، ③ موالي الموالاة يعني هغه خلک چي د موصي پر لاس يې اسلام راوړی دی او د هغه سره يې د دوستي عقد کړی دی. نو په داسي صورت کي د جمهورو د قول مطابق صرف د موصي موالي (آزاد کرده غلامان) او د هغو اولاد په وصيت کي داخليږي، او موالي الموالاة نه پکښې داخليږي او هغوی د وصيت نه مستحق کيږي. او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت دا دی چي موالي الموالاة هم په وصيت کي داخليږي او هغوی د موالیو او د هغو د اولاد سره په وصيت کي شريکان کيږي؛ ځکه لفظ د موالي عام دی او دوی

ټولو ته په برابره توګه شامل دی او ټولو ته موالي ویل کیږي. او څرنګه چي موصي مطلق د موالي لفظ استعمال کړی دی. نو ځکه هر قسم موالي به په هغه کي شامل او داخل وي.

لیکن د جمهورو له طرفه امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ته امام محمد رَحِمَهُ الله دا جواب ورکړی دی چي لفظ د موالي که څه هم عام دی. لیکن د هغه جهات مختلف دی (لکه مخکي چي هم ذکر سوه)، ځکه یو فریق (آزاد کرده غلامان) د مُعتَق او مُنعَم علیهم کېدلو په وجه موالي دی او بل فریق (موالي الموالاة) د عقدِ موالاة د التزام کولو په وجه موالي دي. او د جهاتو د اختلاف باوجود دلته ترجیح ممکنه ده.

ځکه د مُنعَم علیهم (آزاد کرده غلامانو) په حق کي اعتاق لازم دی کوم چي نه سي فسخ کېدلای. نو ځکه صرف همدوی د "موالي" جوړېدلو او د وصیت مستحق کېدلو زیات لائق دي. نو ځکه موږ صرف همدوی د وصیت مستحق ګرځولي دي او په موالی الموالاة کي اعتاق نسته او موالاة د فسخ احتمال لري. نو ځکه موالی الموالاة د موصي په وصیت کي نه دي داخل کړل سوي.

همدارنګه د موصي د موالیو موالي (د مُعتَقینو مُعتَقین) هم په دې وصیت کي نه داخلیږي یعني د موصي آزاده کرده غلامانو چي خپل کوم غلامان آزاد کړي دي. هغوی هم د وصیت نه مستحق کیږي؛ ځکه هغوی د موصي موالي نه دي. بلکي د بل چا (یعني د موصي د موالیو) موالي دي.

د دې په خلاف د موصي د موالیو اولاد په دې وجه په دغه وصیت کي داخلیږي او د وصیت مستحق کیږي؛ ځکه د موالیو اولاد د موصي د اعتاق په وجه د موصي وطرف ته منسوب دی او د موالیو په واسطه سره هغوی هم د موصي موالي دي. نو ځکه کوم چي بلا واسطه د موصي موالي دي. د هغو په متابعت کي به اولاد هم د موصي د موالیو په فهرس کي شاملیږي او د وصیت به مستحق کیږي.

او که د موصي لپاره نه موالي وي او نه د موالیو اولاد. بلکي صرف موالی الموالي (د مُعتَقینو مُعتَقین) وي. نو په دې صورت کي هغوی د وصیت مستحق کیږي؛ ځکه د "موالی" لفظ د موالیو (آزاد کرده غلامانو) لپاره حقیقت دی او د موالی الموالیٓ لپاره مجاز دی. او څرنګه چي دلته موالي نسته او د دې لفظ پر حقیقي معنیٰ عمل کول ناممکن دي. نو ځکه اوس به د موالي پر مجازي معنیٰ عمل کول کیږي نو اوس به موالی الموالاة د وصیت مستحق کیږي. ځکه د فقهي دا مشهوره قاعده ده "إذا تعذر العمل على الحقيقة يُصار إلى المجاز" چي کله پر حقیقت (حقیقي معنی) عمل کول متعذر وي نو د مجاز وطرف ته رجوع کول کیږي. او څرنګه چي دلته د "موالي" په حقیقي معنی عمل کول نا ممکن دي. نو ځکه په مجازي معنیٰ عمل کول کیږي.

د موالیو لپاره د وصیت کولو په صورت کې که صرف یو معتق او څو موالی الموالي وي

وَلَوْكَانَ لَهُ مُعْتَقٌ وَاحِدٌ وَمَوَالِي الْمَوَالِيْ او که د موصي لپاره [صرف] یو آزاد کړی سوی غلام وي او نور د موالیو موالي [د مُعتَقینو مُعتَقین] وي فَالنِّصْفُ لِمُعْتَقِهِ نو نصف وصیت د هغه د آزاد کړی سوی غلام لپاره دی وَالْبَاقِيْ لِلْوَرَثَةِ او پاته نصف د وارثانو لپاره دی لِتَعَذُّرِ الْجَمْعِ بَيْنَ الْحَقِيقَةِ وَالْمَجَازِ ځکه چې د حقیقت او مجاز تر مینځ جمع ناممکنه ده.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که موصي د خپل "موالي" لپاره وصیت وکړي، حال دا چې د هغه په موالیو کې صرف یو آزاد کړی سوی غلام (مُعتَق) وي او نور موالی الموالي (د مُعتَقینو مُعتَقین) وي یعني نور هغه غلامان وي کوم چې د موصي غلام آزاد کړي وي، نو په دې صورت کې نصف وصیت (نیم موصیٰ به) به د هغه یوه معتَق لپاره دی او پاته نصف به وارثانو ته ورکول کیږي؛ ځکه که موږ پاته نصف موالی الموالی ته ورکړو، نو په یوه شي کې به د حقیقت او مجاز یعني د معتَق او موالی الموالی دواړو اجتماع لازمه سي، حال دا چې د حقیقت او مجاز اجتماع متعذره او ناممکنه ده. نو ځکه په دې صورت کې په حقیقت له عمل کولو څخه وروسته پاته مال به وارثانو ته ورکول کیږي، د دې لپاره چې د حقیقت او مجاز اجتماع لازمه نه سي.

د موالیو لپاره د وصیت کولو په صورت کې د ځوی او پلار موالي په وصیت کې نه داخلیږي

وَلَا يَدْخُلُ فِيْهِ مَوَالٍ أَعْتَقَهُمُ ابْنُهُ أَوْ أَبُوْهُ او په دې کې هغه موالي [آزاد کرده غلامان] نه داخلیږي کوم چې د موصي ځوی یا د هغه پلار آزاد کړي وي لِأَنَّهُمْ لَيْسُوا بِمَوَالِيْهِ لَا حَقِيقَةً وَلَا مَجَازًا ځکه چې هغوی د موصي موالي نه دي نه حقیقتاً او نه مجازاً وَإِنَّمَا يُحْرِزُ مِيْرَاثَهُمْ بِالْعُصُوْبَةِ او موصي خو د عصوبت په وجه د هغوی میراث حاصلوي بِخِلَافِ مُعْتَقِ الْمُعْتَقِ په خلاف [د موصي] د معتَق معتَق [یعني هغه آزاد غلام کوم چې (د موصي) آزاد کړی سوي غلام آزاد کړی وي] لِأَنَّهُ يُنْسَبُ إِلَيْهِ بِالْوَلَاءِ ځکه چې هغه د ولاء په ذریعه د موصي وطرف ته منسوب کول کیږي.

اللغات: ﴿أعتق﴾ د افعال باب ماضي ده: آزادول. ﴿يُحرز﴾ د افعال د باب مضارع ده: جمع کول او ذخیره کول. ﴿عصوبة﴾ عصبه کېدل، عصبه والی.

تشریح: صورت د مسئلې: که موصي د خپل موالیو (آزاد کرده غلامانو) لپاره وصیت وکړي، نو په دغه وصیت کې هغه موالي نه داخلیږي کوم چې د موصي پلار یا د موصي ځوی آزاد کړي وي؛ ځکه د پلار یا ځوی موالي خو نه حقیقتاً د موصي موالي دي او نه مجازاً، نو آخر پر کوم بنیاد مونږ هغوی د دغه وصیت مستحق وګرځوو.

وانما یحرز إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د موصي د پلار یا د هغه د ځوی له موالیو څخه یو مولیٰ مړ سي او د موصي پلار یا ځوی غائب وي، نو په دې صورت کې موصي د عصوبت په وجه د هغه مولیٰ د میراث مستحق کیږي او دا استحقاق د سببي عصوبت پر بنیاد وي یعني په دې صورت کې موصي د هغو وارث کیږي (د عصوبت دوه قسمه دي: نسبي او سببي)، لیکن هغوی (پلار او ځوی) په هیڅ صورت کې هم د موصي د وصیت نه مستحق کیږي.

بخلاف معتق المعتق إلخ: یعني د موصي د معتَق معتَق (یا په بله وینا مولی المولیٰ) یعني د موصي آزاد کرده غلام چې کوم غلام آزاد کړی دی، هغه د موصي د وصیت مستحق کیږي په دې شرط کله چې د موصي لپاره نه موالي وي او نه د هغوی اولاد وي (او مخکې چې د موالی الموالي کوم صورت ذکر سو په هغه کې د موصي موالي او د هغوی اولاد موجود وو)، نو کله چې هغوی نه وي، نو بیا معتَقُ المعتَق د وصیت مستحق کیږي؛ ځکه د معتَقُ المعتَق ولاء د موصي وطرف ته مجازاً منسوب کیږي، په خلاف د ځوی د معتَق؛ ځکه چې د هغه د ولاء د موصي وطرف ته نه حقیقتاً منسوب کیږي او نه مجازاً.

یادونه: د هدایې په بعضي نسخو کې عبارت داسي دی "بخلاف معتق البعض"، لیکن صحیح عبارت "بخلاف معتق المعتق" دی؛ ځکه معتق البعض صرف د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز په وصیت کې داخلیږي، نه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز، ځکه معتق البعض د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز د مکاتب په څیر دی، والمکاتب لایدخل تحت الوصیة للموالی، فکذا معتق البعض، لکه څرنګه چې په بنایه، عنایه او داسي نورو شروحو کې د دې پوره وضاحت سوی دی.



بَابُ الْوَصِيَّةِ بِالسُّكْنٰى وَالْخِدْمَةِ وَالثَّمَرَةِ

(دا) باب د استوګنې، خدمت او د مېوې د وصيت کولو (په بيان کې) دی

تشريح: مخکې تر دې د هغه وصايا (وصيتونو) بيان وو کوم چې د اعيانو سره متعلق وه. او س له دې ځايه د هغه وصايا وو بيان دی کوم چې د منافعو سره متعلق دي لکه په کور وغيره کې اوسېدل. د غلام او نوکر خدمت او د باغ مېوه. او دا ښکاره خبره ده چې اعيان له منافعو څخه مؤخر وي. نو ځکه دا باب د اعيانو تر وصيت وروسته بيان کړی سو.

د غلام د خدمت يا د کور د استوګنې يا د بل شي د منافعو وصيت جائز دی، که نه؟

قَالَ: وَتَجُوزُ الْوَصِيَّةُ بِخِدْمَةِ عَبْدِهٖ وَسُكْنٰى دَارِهٖ سِنِيْنَ مَعْلُوْمَةً فرمايي: او جائز دي وصيت کول د خپل غلام د خدمت او د خپل کور د استوګنې د څو معلومو کالو لپاره وَتَجُوْزُ بِذٰلِكَ أَبَدًا او د دې شيانو [منافعو] وصيت د همېشه لپاره کول [هم] جائز دي لِأَنَّ الْمَنَافِعَ يَصِحُّ تَمْلِيْكُهَا فِي حَالَةِ الْحَيَاةِ بِبَدَلٍ وَغَيْرِ بَدَلٍ ځکه د ژوند په حالت کې په بدل او غير بدل [دواړو] سره د منافعو تمليک صحيح دی فَكَذَا بَعْدَ الْمَمَاتِ نو همداسې به تر مرګ وروسته هم [صحيح] وي لِحَاجَتِهٖ د موصي د حاجت په وجه كَمَا فِي الْأَعْيَانِ لکه څرنګه چې په اعيانو کې کيږي وَيَكُوْنُ مَحْبُوْسًا عَلٰى مِلْكِهٖ فِيْ حَقِّ الْمَنْفَعَةِ او موصىٰ به [غلام يا کور] د موصي پر ملکيت محبوس پاتېږي حَتّٰى يَتَمَلَّكَهَا الْمُوْصٰى لَهٗ عَلٰى مِلْكِهٖ تر دې چې موصىٰ لهٗ به د موصي پر ملکيت د دې منفعت مالک کيږي كَمَا يَسْتَوْفِي الْمَوْقُوْفُ عَلَيْهِ مَنَافِعَ الْوَقْفِ عَلٰى حُكْمِ مِلْكِ الْوَاقِفِ لکه څرنګه چې موقوف عليه د وقف منافع د واقف د ملکيت پر حکم ترلاسه کوي.

اللغات: ﴿سکنٰی﴾ اوسېدنه، استوګنه ﴿تمليك﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مالک کول، مالک جوړول. ﴿يتملّك﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: مالک جوړېدل. ﴿يستوفي﴾ د استفعال د باب مضارع ده: پوره اخيستل، ترلاسه کول.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که یو څوک د خپلو منافعو وصیت وکړي، مثلاً د یو چا لپاره د خپل غلام د خدمت وصیت وکړي (چي زما تر مرګ وروسته به زما غلام ستا خدمت کوي). یا د خپل کور د استوګني وصیت وکړي. یا د یو چا لپاره د خپل باغ د میوې وصیت وکړي. نو په دې ټولو صورتونو کي وصیت صحیح او جائز دی، په دې شرط چي د منافعو د اخیستلو مودت معلوم او متعیّن وي. یا د همېشه لپاره دا وصیت سوی وي؛ ځکه څرنګه چي انسان په خپل ژوند کي په اُجرت یا بلا اُجرته یو څوک د منافعو مالک جوړولای سي، نو همداسي هغه تر خپل مرګ وروسته هم یو څوک د منافعو مالک کولای سي؛ ځکه ځیني وخت د هغه دې ته حاجت او ضرورت وي. او بل دا چي کله د عَین یعني د غلام او کور وغیره وصیت کول صحیح دي، نو د هغه د منافعو وصیت کول به په درجه اولیٰ صحیح وي. خو د منافعو د وصیت په صورت کي موصیٰ لهٗ صرف د منافعو مالک کیږي، نه د عَین، او عَین اصل د موصي په ملکیت کي پاتیږي، لکه څرنګه چي د وقف کولو په صورت کي وقف سوی شی اصل د واقف په ملکیت کي پاتیږي او موقوف علیه صرف د هغه د منافعو مالک کیږي، نو همداسي دلته به هم موصیٰ لهٗ صرف منافع ترلاسه کوي او اصل شی یعني عَین به صرف د موصي په ملکیت کي وي.

د منافعو وصیت د مقرره وخت لپاره وي او که د همېشه لپاره وي په هر صورت کي جائز دی

وَتَجُوْزُ مُؤَقَّتًا وَمُؤَبَّدًا او دا [د منافعو] وصیت جائز دی د ټاکلي وخت لپاره او د همېشه لپاره كَمَا فِي الْعَارِيَةِ لکه څرنګه چي په عاریت کي دي فَإِنَّهَا تَمْلِيْكٌ عَلٰى أَصْلِنَا ځکه عاریت زموږ پر اصل تملیک دی بِخِلَافِ الْمِيْرَاثِ په خلاف د میراث لِأَنَّهُ خِلَافَةٌ فِيْمَا يَتَمَلَّكُهُ الْمُوْرِثُ ځکه چي میراث خلافت [خلیفه کېدل] دی د هغه شي د کوم شي چي مورث [مړی] مالک دی وَذٰلِكَ فِيْ عَيْنٍ تَبْقٰى او خلافت په داسي عین [شي] کي کیږي کوم چي باقي پاتیږي وَالْمَنْفَعَةُ عَرَضٌ لَا يَبْقٰى او منفعت عرض دی کوم چي باقي نه پاتیږي وَكَذَا الْوَصِيَّةُ بِغَلَّةِ الْعَبْدِ وَالدَّارِ او همدارنګه د کور او غلام د اُجرت وصیت کول لِأَنَّهُ بَدَلُ الْمَنْفَعَةِ ځکه چي دا اُجرت د منفعت بدل دی فَأَخَذَ حُكْمَهَا نو دا اُجرت به د منفعت حکم واخلي وَالْمَعْنٰى يَشْمَلُهُمَا او معنیٰ [یعني د موصي حاجت] دې دواړو [منفعت او اُجرت] لره شاملیږي.

اللغات: ﴿مؤقت﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: د ټاکلي وخت والا، د مقرره وخت لپاره. ﴿مؤبد﴾ مخکنی صیغه ده: همېشنی، د همېشه لپاره. ﴿عاريّة﴾ په عاریت (په خواست) اخیستل سوی شی، عاریتاً ورکول سوی شی، دإعاره معنیٰ ده: "تمليكُ المنافع بلا عوض على أن ترد العين" یعني چي څوک یو چا ته یو شی مفت (بېله عوضه) ورکړي او ورته ووایي چي ته خپل نفع ځني واخله! (یعني د هغه شي د نفع مالک یې کړي). یا په بله وینا دا چي یو سړی بل چا ته خواست وکړي چي تریو څو وخته ستا فلانکی شی (مثلاً موټر سایکل) راکړه!، او هغه شی ورکړي چي ته خپل کار ځني واخله! او تر کار اخیستلو وروسته یې بیرته ما ته وسپاره!، نو دې ته عاریتاً ورکول وایي. ﴿تمليك﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: مالک کول، مالک جوړول. ﴿عرض﴾ بذات نه قائمېدونکی شی. ﴿غلّة﴾ د غَلَّة د لفظ څلور معناوي دي: ① د ځمکي پیداوار، کوم څه چي له ځمکي څخه اخیستل کیږي، حاصلات، آمدن، له ځمکي څخه راتونکی فصل او دانې، لکه غنم، وریجي او داسي نور. ② أجرت او کرایه، یعني پر کور، دوکان او داسي نورو چي کومه کرایه اخیستل کیږي. ③ د غلام أجرت، یا په بله وینا د غلام مزدوري او ګټه (محاصل)، یعني غلام چي په خپل محنت او مزدوري سره کوم مال ګټي، ④ هغه کوټه دراهم کوم چي یې بیتُ المال (سرکار) نه قبلوي لېکن تاجران یې قبلوي، دلته دویمه او دریمه معنیٰ مراد ده.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي د منافعو وصیت مؤبد او مؤقت دواړه قسمه جائز دی، یعني د همېشه لپاره هم د منافعو وصیت جائز دی او د ټاکلي وخت لپاره هم دا وصیت جائز دی: ځکه منافع د عاریت په څېر دي او عاریت زموږ د اصل مطابق تملیک دی، نو ځکه منافع به هم د تملیک له قبیلې څخه وي؛ د دې په خلاف میراث دی نو میراث تملیک نه دی، بلکي خلافت دی (یعني وارث ته د مړي د خلیفه او نائب کېدلو په توګه میراث حاصلیږي، نه د مالک جوړېدلو په توګه). او خلافت په باقي پاتېدونکو اعیانو کي جاري کیږي، حال دا چي منافع عرض دي او هغه باقي هم نه پاتیږي، نو ځکه په منافعو کي به خلافت یعني میراث نه جاري کیږي.

وكذا الوصية إلخ: یعني څرنګه چي د غلام او کور د منافعو وصیت جائز دی، همداسي له غلام او کور څخه د حاصلېدونکي کرایې او أجرت وصیت کول هم جائز دي؛ ځکه دغه کرایه او أجرت د غلام او کور د منافعو بدل دی، لهذا کوم حکم چي د مبدل دی، هغه به د بدل هم وي او د مبدل (منافعو) وصیت جائز دی، نو ځکه د بدل وصیت به هم جائز وي.

د خدمت د وصیت په صورت کي که غلام له ثلث څخه خارج سي (حکم او تفصیل)

قَالَ: فَإِنْ خَرَجَتْ رَقَبَةُ الْعَبْدِ مِنَ الثُّلُثِ فرمايي: نو که د دې غلام رقبه له ثلث څخه ووځي يُسَلَّمُ إِلَيْهِ لِيَخْدُمَهُ نو غلام به هغه [موصىٰ لهٔ] ته سپارل کيږي لِأَنَّ حَقَّ الْمُوصٰى لَهُ فِي الثُّلُثِ لَا تُزَاحِمُهُ الْوَرَثَةُ ځکه د موصیٰ لهٔ حق په ثلث [درييمه حصه] کي دی چي په هغه کي وارثان د ده نه مزاحم کيږي وَإِنْ كَانَ لَا مَالَ لَهُ غَيْرُهُ او که له دې غلام څخه بغير د موصي لپاره نور مال نه وي خَدَمَ الْوَرَثَةَ يَوْمَيْنِ وَالْمُوصٰى لَهُ يَوْمًا نو غلام به دوې ورځي د وارثانو خدمت کوي او يوه ورځ د موصیٰ لهٔ لِأَنَّ حَقَّهُ فِي الثُّلُثِ وَحَقَّهُمْ فِي الثُّلُثَيْنِ ځکه چي د موصیٰ لهٔ حق په ثلث کي دی او د وارثانو حق په دوو ثلثو کي دی كَمَا فِي الْوَصِيَّةِ فِي الْعَيْنِ لکه څرنګه چي د عَين په وصيت کي کيږي وَلَا تُمْكِنُ قِسْمَةُ الْعَبْدِ أَجْزَاءً او د اجزاؤ [حصه. حصه کولو] په توګه د غلام تقسيم ممکن نه دی لِأَنَّهُ لَا يَتَجَزَّأُ ځکه چي غلام جزء. جزء [حصه. حصه] نه کيږي فَصِرْنَا إِلَى الْمُهَايَاةِ نو ځکه موږ د مهاياة [په نوبت سره د خدمت اخيستلو] وطرف ته رجوع وکړه إِيْفَاءً لِلْحَقَّيْنِ د دواړو حقونو د پوره کولو لپاره بِخِلَافِ الْوَصِيَّةِ بِسُكْنَى الدَّارِ إِذَا كَانَتْ لَا تَخْرُجُ مِنَ الثُّلُثِ په خلاف د کور د استوګني د وصيت کولو کله چي هغه کور له ثلث څخه نه وځي حَيْثُ تُقْسَمُ عَيْنُ الدَّارِ ثَلَاثًا لِلِانْتِفَاعِ نو [په دې صورت کي] به د کور عين [ذات] پر دريو حصو تقسيمول کيږي د نفع اخيستلو لپاره لِأَنَّهُ يُمْكِنُ الْقِسْمَةُ بِالْأَجْزَاءِ ځکه [په دې صورت کي] په اجزاؤ [حصو] سره تقسيم ممکن دی وَهُوَ أَعْدَلُ او همدا [په حصو سره تقسيم] عدل ته زيات نژدې دی لِلتَّسْوِيَةِ بَيْنَهُمَا زَمَانًا وَذَاتًا د زمان او ذات په اعتبار سره د دوی دواړو تر مينځ د برابرۍ راتللو په وجه [يعني په دې وجه أعدل دی چي په داسي تقسيم سره د موصیٰ لهٔ او وارثانو تر مينځ په وخت او د کور په ذات کي برابري راځي] وَفِي الْمُهَايَاةِ تَقْدِيْمُ أَحَدِهِمَا زَمَانًا او په مهاياة کي له دوی دواړو [موصیٰ لهٔ او وارثانو] څخه د يوه مخکي کول ستي.

اللغات: ﴿رقبة﴾ غاړه. د غلام ذات. ﴿موصٰى له﴾ د چا لپاره چي وصيت سوی وي. ﴿لا تزاحم﴾ د مفاعلي له بابه د نفي صيغه ده: مقابل کېدل. مقابله کول. ﴿لايتجزّى﴾ د تفعّل له بابه د نفي صيغه ده: جزء. جزء کېدل. حصه. حصه کېدل. ټوټه ټوټه کېدل. ﴿مهاياة﴾ د مفاعلي د باب مصدر دی: ديو

شي منافع په نوبت سره تقسیمول چي مثلاً یوه ورځ به دا سړی نفع ځني اخلي او بله ورځ به دا سړی نفع ځني اخلي، په نوبت. نوبت سره یو کار کول. ﴿ایفاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: (حق) پوره کول. پوره اداء کول، پوره ور کول. ﴿أعدل﴾ د کرُم له باب څخه اسم تفضیل دی. زیات عدل او انصاف والا. زیات برابري کونکی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که زید مثلاً د خالد لپاره د خپل غلام د خدمت وصیت وکړي او له دې غلام څخه بغیر د موصي (زید) سره دومره مال نورهم وي کوم چي د غلام له قیمت څخه دوه ثلثه یا تر دې زیات وي (یا په بله وینا دا چي د موصي سره د غلام د قیمت په اندازه دوچنده نور مال هم موجود وي) یعني غلام له ثلث څخه وځي، نو هغه غلام به موصیٰ لهٗ (خالد) ته پوره سپارل کیږي د دې لپاره چي هغه د موصیٰ لهٗ خدمت کوي: ځکه چي موصیٰ لهٗ د موصي په مال کي د ثلث مستحق دی نو په ثلث کي د موصي وارثان د موصیٰ لهٗ مزاحم نه دي، نو ځکه هغه غلام به موصیٰ لهٗ ته سپارل کیږي.

او که له هغه غلام څخه بغیر د موصي سره نور مال نه وي، نو بیا به د غلام تقسیم داسي کیږي چي هغه به یوه ورځ د موصیٰ لهٗ خدمت کوي او دوې ورځي به د وارثانو خدمت کوي: ځکه چي موصیٰ لهٗ د یوه ثلث مستحق دی او وارثان د دوو ثلثو. نو ځکه د دوی تر مینځ به د همدې دریو حصو په حساب سره د غلام خدمت هم تقسیمول کیږي. لکه څرنګه چي د عَین شي د وصیت په صورت کي د هغه عَین تقسیم په همداسي حصو سره کیږي. او څرنګه چي غلام دوه ځایه کول او په حصو سره تقسیمول ممکن نه دي، نو ځکه دواړو فریقو ته د خپل حق ور کولو لپاره د مهایاة وطرف ته رجوع سوې ده، د دې لپاره چي دواړو ته خپل حق ترلاسه سي.

د دې په خلاف که یو څوک دیو سړي لپاره د کور د استوګني وصیت وکړي (چي زما تر مرګ وروسته به مثلاً خالد زما په کور کي اوسیږي)، او له هغه کور څخه بغیر د موصي سره نور مال نه وي، نو په دې صورت کي به د وارثانو او موصیٰ لهٗ (خالد) تر مینځ کور په دریو حصو سره تقسیمول کیږي (یعني یوه حصه [یو ثلث] به موصیٰ لهٗ او دوې حصې [دوه ثلثه] به وارثانو ته ورکول کیږي). د دې لپاره چي دواړو فریقو ته خپله حصه ورسیږي او له هغه څخه نفع ترلاسه کړی سي، او داسي کول ممکن هم دي ځکه په دې کي د حصو په حساب سره د کور تقسیم ممکن دی او په دې صورت کي به د زمان او ذات دواړو په اعتبار سره دواړه فریقه (مَوصیٰ لهٗ او وارثان) نفع واخیستلی سي، چي په یوه وخت کي په دې یوه کور کي به دواړو ته یو ځای خپله حصه ترلاسه سي. له ذات څخه مراد کور او ځای دی.

په پورتني صورت کي کور د وخت په اعتبار سره تقسيمول (حکم او تفصيل)

وَلَوِ اقْتَسَمُوا الدَّارَ مُهَايَاةً مِنْ حَيْثُ الزَّمَانِ او که هغوی د وخت په اعتبار سره د مهاياة په توګه کور تقسيم کړي تَجُوزُ أَيْضًا نو هم جائز دي لِأَنَّ الْحَقَّ لَهُمْ ځکه چي حق د هغوی دی إِلَّا أَنَّ الْأَوَّلَ وَهُوَ الْأَعْدَلُ أَوْلَىٰ خو اول کوم چي اعدل دی اولیٰ دی وَلَيْسَ لِلْوَرَثَةِ أَنْ يَبِيعُوا مَا فِي أَيْدِيهِمْ مِنْ ثُلُثَيِ الدَّارِ او وارثانو ته دا حق نسته چي د هغوی په قبضه کي چي د کور کوم دوه ثلثه دي هغه خرخ کړي وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّ لَهُمْ ذٰلِكَ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه روايت سوی دی چي وارثانو ته د دې حق سته لِأَنَّهُ خَالِصُ مِلْكِهِمْ ځکه دا خالص د هغو ملکيت دی وَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّ حَقَّ الْمُوصَىٰ لَهُ ثَابِتٌ فِي سُكْنَىٰ جَمِيعِ الدَّارِ د ظاهر روايت دليل دا دی چي د موصیٰ لهٗ حق د ټوله کور په استوګنه کي ثابت دی بِأَنْ ظَهَرَ لِلْمَيِّتِ مَالٌ آخَرُ وَتَخْرُجُ الدَّارُ مِنَ الثُّلُثِ په دې توګه چي د مړي لپاره نور مال ښکاره سي او کور له ثلث څخه وځي وَكَذَا لَهُ حَقُّ الْمُزَاحَمَةِ فِيمَا فِي أَيْدِيهِمْ إِذَا خَرِبَ مَا فِي يَدِهِ او همدارنګه موصیٰ لهٗ ته د مزاحم کېدلو حق [هم] سته د کور په هغه حصه [دوو ثلثو] کي کوم چي د وارثانو په قبضه کي دی کله چي هغه حصه خرابه سي کوم چي د موصیٰ لهٗ په قبضه کي ده وَالْبَيْعُ يَتَضَمَّنُ إِبْطَالَ ذٰلِكَ او بيع [خرڅول] د دې حق باطلولو لره متضمن دي فَمُنِعُوا عَنْهُ نو ځکه وارثان به له بيع څخه منع کول کيږي.

اللغات: ﴿مهاياة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی. په تېر عبارت کي يې معنیٰ ذکر سوه چي د يو شي منافع په نوبت سره تقسيمول چي مثلاً يوه ورځ يا يوه مياشت به زه په دې کور کي اوسېږم او بله مياشت به ته پکښي اوسيږي. ﴿أعدل﴾ د کرُم له باب څخه اسمِ تفضيل دی. د دې معنیٰ هم په تېر عبارت کي ذکر سوه. عَدَلَ يَعْدُلُ عَدَالَةً: عدل کول، انصاف کول. ﴿يتضمّن﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: ضمناً شاملېدل.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي اعدل او غوره همدا ده چي په مذکوره مسئله کي په اجزاؤ او حصو سره کور تقسيم کړی سوی دی: ځکه په دې تقسيم کي د موصیٰ لهٗ او وارثانو تر مينځ زياته برابري راځي. خو که موصیٰ لهٗ او وارثان د مهاياة په توګه تقسيم وکړي چي مثلاً يوه مياشت به دا کور د موصیٰ لهٗ لپاره وي او دوې مياشتي د وارثانو لپاره. نو دا هم جائز دي. خو اولیٰ او غوره اول صورت دی.

او په اول صورت کې چې د وارثانو په قبضه کې د کور کوم دوه ثلثه دي. دوی که د هغه خرڅول وغواړي، نو د وارثانو لپاره دا جائز دي. که نه؟، نو ظاهر روایت دا دی چې د وارثانو لپاره دا جائز نه دي چې هغه خرڅ کړي، او له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی چې د هغه خرڅول جائز دي؛ ځکه دا دوه ثلثه خالص د وارثانو خپل ملکیت دی، نو دوی خالص په خپل حق کې تصرف کونکي دي.

وجه الظاهرالخ: د ظاهر روایت د دلیل حاصل دا دی چې که له دې کور څخه بغیر د مړي (موصي) سره نور مال وي او دا کور له ثلث څخه وځي، نو موصی لهٔ ته خو په ټوله کور کې د استوګنې حق حاصلیږي. همدارنګه که د موصی لهٔ حصه خرابه او ضایع سي، نو بیا کومه حصه چې د وارثانو په قبضه کې ده، په هغه کې موصی لهٔ ته د مزاحمت حق هم حاصلیږي چې په هغه کې د وارثانو مزاحم سي او د خپلې حصې په اندازه له وارثانو څخه مطالبه وکړي، لهذا کله چې حکم داسې دی نو که موږ وارثانو ته د هغو د حق (دوو ثلثو) د خرڅولو اجازه ورکړو، نو د موصی لهٔ دا حق به باطل سي. نو ځکه موږ وارثان له بیع څخه منع کړي دي.

د استوګنې د وصیت والا کور د موصی لهٔ تر مرګ وروسته د وارثانو کیږي

قَالَ: فَإِنْ كَانَ مَاتَ الْمُوصٰى لَهٗ فرمایي: بیا که چیرې موصی لهٔ مړ سي عَادَ إِلَى الْوَرَثَةِ نو موصی به [کور] وارثانو ته واپس راګرځي لِأَنَّ الْمُوصِيَ أَوْجَبَ الْحَقَّ لِلْمُوصٰى لَهٗ لِيَسْتَوْفِيَ الْمَنَافِعَ عَلٰى حُكْمِ مِلْكِهٖ ځکه موصي د دې لپاره د موصی لهٔ لپاره حق ثابت کړی وو چې هغه د موصي د ملکیت پر حکم منافع ترلاسه کړی سي فَلَوِ انْتَقَلَ إِلٰى وَارِثِ الْمُوصٰى لَهٗ نو که موصی به د موصی لهٔ د وارث وطرف ته منتقل سي اِسْتَحَقَّهَا ابْتِدَاءً مِنْ ذٰلِكَ الْمُوصِيْ مِنْ غَيْرِ مَرْضَاتِهٖ نو وارث به د هغه موصي له طرفه د موصي له خوښې څخه بغیر ابتداءً د منافعو مستحق سي وَذٰلِكَ لَا يَجُوْزُ او دا جائز نه دي وَلَوْ مَاتَ الْمُوصٰى لَهٗ فِيْ حَيَاةِ الْمُوصِيْ او که چیرې موصی لهٔ د موصي په ژوند کې مړ سي بَطَلَتْ نو وصیت باطلیږي لِأَنَّ إِيْجَابَهَا تَعَلَّقَ بِالْمَوْتِ ځکه چې د وصیت ایجاب د موصي پر مرګ معلق دی عَلٰى مَا بَيَّنَّاهُ مِنْ قَبْلُ د هغه تفصیل مطابق کوم چې موږ مخکې بیان کړی.

اللغات: ﴿عاد﴾ د نصر د باب ماضي ده: راګرځېدل، بيرته راتلل. ﴿يستوفى﴾ د استفعال د باب مضارع ده: پوره اخيستل، ترلاسه كول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی كه موصي مثلاً خالد ته د استوګنې لپاره د وصيت په توګه كور وركړی وي او خالد يې د دې كور مالک نه وي جوړ كړی، نو تر څو چې موصیٰ لهٗ يعنې خالد ژوندی وي، تر هغه وخته پورې به له كور څخه نفع اخلي او كله چې موصیٰ لهٗ مړ سي، نو دا كور د موصي د وارثانو وطرف ته منتقل كيږي او د موصیٰ لهٗ (خالد) وارثانو ته نه حاصليږي؛ ځكه موصي وموصیٰ لهٗ ته د خپل ملكيت پر بقاء له دې كور څخه د نفع اخيستلو (پكښې اوسېدلو) اجازه وركړې وه. او س كه مړ، دا كور د موصیٰ لهٗ وارثانو ته وركړو. نو د موصي له رضاء څخه بغير به ابتداءً په دې كې د وارثانو استحقاق ثابت كړی سي، حال دا چې د بل چا په كور كې د كور له مالک څخه بغير استحقاق ثابتول جائز نه دي، نو ځكه د موصیٰ لهٗ تر مرګ وروسته به هغه كور د موصي وارثانو ته حاصليږي. نه د موصیٰ لهٗ وارثانو ته.

ولومات إلخ: د دې حاصل دا دی چې كه د موصي په ژوند كې موصیٰ لهٗ مړ سي، نو وصيت باطليږي؛ ځكه د موصي له طرفه وصيت كېدل "ايجاب" دی او د موصیٰ لهٗ له طرفه دا وصيت قبلول "قبول" دی، او د موصیٰ لهٗ د قبلولو اثر د موصي تر مرګ وروسته ښكاره كيږي. لېكن دلته قبلونكی (يعنې موصیٰ لهٗ) د موصي تر مرګ مخكې مړ شوی دئ، نو د قبول لاره بنده سوه. نو ځكه د موصي ايجاب يعنې وصيت كول باطل سوه. صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې مخكې په "فصل في اعتبار حالة الوصية" مورډ د دې بيان كړی دی.

د يو سړي لپاره د خپل غلام د مزدورۍ وصيت كول يا د كور د كرايې وصيت كول (حكم او تفصيل)

وَلَوْ أَوْصٰى بِغَلَّةِ عَبْدِهٖ أَوْ دَارِهٖ او كه چيرې موصي د خپل غلام يا د خپل كور د اُجرت وصيت وكړي فَاسْتَخْدَمَهُ بِنَفْسِهٖ أَوْ سَكَنَهَا بِنَفْسِهٖ بيا موصیٰ لهٗ خپله له غلام څخه خدمت واخلي يا خپله په كور كې استوګن سي قِيْلَ: يَجُوْزُ ذٰلِكَ نو ويل سوي دي: چې دا جائز دي لِأَنَّ قِيْمَةَ الْمَنَافِعِ كَعَيْنِهَا فِيْ تَحْصِيْلِ الْمَقْصُوْدِ ځكه چې د منافعو قيمت [اُجرت] د مقصود په حاصلولو كې د عين منافع په څېر دی وَالْأَصَحُّ أَنَّهٗ لَا يَجُوْزُ او زيات صحيح قول دا دی چې دا جائز نه دي لِأَنَّ الْغَلَّةَ دَرَاهِمُ أَوْ

دَنَانِيرُ ځکه چي [د غلام یا کور] أجرت دراهم یا دنانیر دي وَقَدْ وَجَبَتِ الْوَصِيَّةُ بِهَا او وصیت په همدوی [دراهمو او دنانیرو] سره ثابت سوی دی وَهٰذَا اِسْتِيفَاءُ الْمَنَافِعِ او دا [خدمت اخیستل او استوګنه] د منافعو حاصلول دي وَهُمَا مُتَغَايِرَانِ حال دا چي دا دواړه [أجرت اخیستل او منافع حاصلول] یو له بل ځخه بېل دي وَمُتَفَاوِتَانِ فِي حَقِّ الْوَرَثَةِ او د ورثانو په حق کي متفاوت دي فَإِنَّهُ لَوْ ظَهَرَ دَيْنٌ ځکه که [پر مړي] قرض ښکاره سي يُمْكِنُهُمْ أَدَاؤُهُ مِنَ الْغَلَّةِ بِالِاسْتِرْدَادِ مِنْهُ بَعْدَ اسْتِغْلَالِهَا نو وارثانو لره ممکن [او جائز دي] چي له دې أجرت ځخه قرض اداء کړي [په دې توګه] چي أجرت له موصیٰ لهٗ ځخه واپس واخلي وروسته تر دې چي موصیٰ لهٗ له منافعو ځخه أجرت حاصل کړی وي[یعني د منافعو د أجرت تر حاصلولو وروسته له موصیٰ لهٗ ځخه دا أجرت واپس اخیستل او قرض په اداء کول د وارثانو لپاره ممکن دي] وَلَا يُمْكِنُهُمْ مِنَ الْمَنَافِعِ بَعْدَ اسْتِيفَائِهَا بِعَيْنِهَا او د عینِ منافع تر حاصلولو وروسته له منافعو ځخه قرض اداء کول د وارثانو لپاره ممکن نه دي.

اللغات: ﴿غلّة﴾ څه مخکي ذکر سوه چي د غلّة د لفظ ځلور معناوي دي چي له هغوی ځخه یوه معنیٰ یې د أجرت ده، یعني د کور أجرت (پر کور وغیره چي کومه کرایه اخیستل کیږي)، یا د غلام أجرت او ګټه (یعني غلام چي په خپل محنت او مزدورۍ سره کوم مال ګټي). ﴿سکن﴾ د نصر د باب ماضي ده: اوسېدل، استېدل. ﴿استیفاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: پوره اخیستل، تر لاسه کول.

تشریح: **صورت د مسئلي**: دا دی که زید مثلاً د خالد لپاره دا وصیت وکړي چي زما تر مرګ وروسته دي زما د فلانکي غلام أجرت (مزدوري) خالد ته ورکول کیږي، یا زما د فلانکي کور أجرت (کرایه) دي خالد ته ورکول کیږي، لېکن خالد (موصیٰ لهٗ) د أجرت اخیستلو پر ځای هغه غلام د خپل ځان خادم جوړ کړي، یا خپله په هغه کور کي استوګن سي، نو د خالد (موصیٰ لهٗ) د دغه فعل په جواز او عدمِ جوز کي د مشایخو رَحِمَهُمُ الله دوه قوله دي: ① د بعضي حضراتو قول دا دی چي د خالد دا فعل صحیح او جائز دی او دلیل یې دا دی چي کله موصي (زید) و خالد ته د غلام او کور د أجرت اخیستلو اختیار ورکړی دی، نو خالد ته به د عینِ منافع د حاصلولو اختیار هم وي؛ ځکه چي د مقصود په تحصیل کي أجرت اخیستل یا منافع حاصلول دواړه سره برابر دي (یعني موصیٰ لهٗ که د غلام او کور أجرت اخلي یا که له غلام ځخه د خدمت منفعت او له کور ځخه د استوګني منفعت اخلي. په هر یوه سره مقصود حاصلول کیږي)، نو ځکه د موصیٰ لهٗ (خالد) لپاره أجرت اخیستل یا منافع اخیستل دواړه جائز دي.

والأصح إلخ: ② او د دویم او اصح قول مطابق موصیٰ لهٔ (خالد) ته فقط د اُجرت اخیستلو حق سته او د منافعو د حاصلولو حق ورته نسته؛ ځکه موصیٰ به اُجرت دی. منافع نه دي او د اُجرت او منافعو تر مینځ ښکاره تضاد او تغایر دی. او دا شیان د وارثانو په حق کي هم متفاوت دي. ځکه که چیري تر وصیت وروسته ښکاره سي چي پر مړي د خلکو قرض باندي دی. نو وارثانو ته دا حق سته چي موصیٰ لهٔ چي کوم اُجرت اخیستی دی، هغه ځني واخلي او قرض په اداء کړي. لېکن که چیري موصیٰ لهٔ منافع حاصل کړي وي (یعني له غلام څخه یې خدمت اخیستی وي یا په کور کي اوسېدلی وي) نو ښکاره ده چي په هغه سره قرض نه سي اداء کېدلای. نو ځکه په دې حواله سره هم له موصیٰ به (اجرت) څخه بغیر بل شی یعني منافع حاصلول د موصیٰ لهٔ لپاره جائز نه دي.

د غلام د خدمت او د کور د استوګني موصیٰ لهٔ هغه غلام او کور په اُجرت نه سي ورکولای

وَلَيْسَ لِلْمُوصٰى لَـهُ بِالْخِدْمَـةِ وَالسُّكْنٰى او د چا لپاره چي [د غلام] د خدمت او [د کور] د استوګني وصیت سوی وي هغه ته دا حق نسته أَنْ يُؤَاجِرَ الْعَبْدَ أَوِ الدَّارَ چي هغه غلام او کور په اُجرت ورکړي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَهُ ذٰلِكَ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي هغه ته د دې حق سته لِأَنَّهُ بِالْوَصِيَّةِ مَلَكَ الْمَنْفَعَةَ ځکه چي د وصیت په وجه موصیٰ لهٔ د منفعت مالک سو فَيَمْلِكُ تَمْلِيكَهَا مِنْ غَيْرِهِ بِبَدَلٍ أَوْ غَيْرِ بَدَلٍ نو ځکه موصیٰ لهٔ به دا ملکیت [او اختیار] لري چي بل څوک د دې منفعت مالک جوړ کړي په بدل [عوض] سره یا بغیر له بدله [بلا عوضه] لِأَنَّهَا كَالْأَعْيَانِ عِنْدَهُ ځکه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز منافع د اعیانو په څېر دي بِخِلَافِ الْعَارِيَةِ په خلاف د عاریت لِأَنَّهَا إِبَاحَةٌ عَلٰى أَصْلِهِ وَلَيْسَ بِتَمْلِيكٍ ځکه عاریت د هغه د اصل مطابق اباحت دی او تملیک نه دی.

اللغات: ﴿موصىٰ لهٔ﴾ د چا لپاره چي وصیت سوی وي (د چا په حق کي چي دیو شي وصیت سوی وي).

﴿یواجر﴾ د افعال د باب مضارع ده: په اجاره (په اُجرت) ورکول، په کرایه ورکول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که څوک د بل چا لپاره د خپل غلام د خدمت یا د خپل کور د استوګني وصیت وکړي، نو په دې صورت کي موصیٰ لهٔ ته صرف د خدمت اخیستلو او اوسېدلو حق سته او دا حق ورته نسته چي مذکوره غلام یا کور په اُجرت او کرایه ورکړي. لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز موصیٰ لهٔ ته دا حق سته چي هغوی په کرایه ورکړي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي موصیٰ لهٔ د وصیت په وجه د غلام او کور د منفعت (یعني د خدمت اخیستلو او د اوسېدلو) مالک سو. نو ځکه موصیٰ لهٔ به بل څوک هم د هغوی د منفعت مالک کولای سي. برابره ده عوض څني اخلي او که بلا عوضه یې مالک جوړوي. په هر صورت کي هغه ته دا حق حاصل دی: ځکه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز منفعت د عَین په څېر دی او موصیٰ لهٔ بالعَین ته دا حق سته چي بل څوک د عَین مالک جوړ کړي. نو ځکه موصیٰ لهٔ بالمنفعة ته به هم دا حق او اختیار وي چي بل څوک د منفعت مالک جوړ کړي.

بخلاف العارية إلخ: فرمايي د عاريت مسئله د وصیت په خلاف ده. یعني که څوک یو چا ته په عاريت یو شی ورکړي. نو مستعير هغه شی بل چا ته په عاريت نه سي ورکولای: ځکه د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نیز عاريت اباحت دی. تملیک نه دی. لهذا کله چي مستعير خپله د دې مستعار شي مالک نه دی. نو بل څوک به څنګه د هغه مالک جوړ کړي! دا د فقهي قاعده ده چي "مَنْ لَايَمْلِكُ شَيْئًا لَايُمَلِّكُهٗ" یعني څوک چي د یو شي مالک نه وي. هغه بل څوک د دې شي مالک نه سي جوړولای.

زموږ دليل

وَلَنَا: أَنَّ الْوَصِيَّةَ تَمْلِيكٌ بِغَيْرِ بَدَلٍ مُضَافٍ إِلَى مَا بَعْدَ الْمَوْتِ او زموږ دلیل دا دی: چي وصیت بغیر له بدله [بلا عوضه] تملیک دی کوم چي تر مرګ وروسته [وخت] ته مضاف دی فَلَا يَمْلِكُ تَمْلِيكَهُ بِبَدَلٍ نو ځکه موصیٰ لهٔ به په بدل [عوض] سره د هغه د مالک جوړولو ملکیت [او اختیار] نه لري اِعْتِبَارًا بِالْإِعَارَةِ پر اعاره [عاريت] په قیاس کولو سره فَإِنَّهَا تَمْلِيكٌ بِغَيْرِ بَدَلٍ فِي حَالَةِ الْحَيَاةِ عَلَى أَصْلِنَا ځکه زموږ د اصل مطابق اعاره [عاريت] د ژوند په حالت کي بغیر له بدله تملیک دی وَلَا يَمْلِكُ الْمُسْتَعِيرُ الْإِجَارَةَ او مستعير د اجارې [په اُجرت ورکولو] ملکیت نه لري لِأَنَّهَا تَمْلِيكٌ بِبَدَلٍ ځکه چي اجاره په بدل [عوض] سره مالک جوړول دي كَذَا هٰذَا نو همداسي دا هم دي وَتَحْقِيقُهُ أَنَّ التَّمْلِيكَ بِبَدَلٍ لَازِمٌ او د دې تحقیق دا دی چي په بدل سره مالک جوړول لازم دي وَبِغَيْرِ بَدَلٍ غَيْرُ لَازِمٍ او بغیر له بدله [بلا عوضه] مالک جوړول لازم نه دي وَلَا يَمْلِكُ الْأَقْوَى بِالْأَضْعَفِ وَالْأَكْثَرَ بِالْأَقَلِّ او اقویٰ د اضعف په ذریعه او اکثر د اقل په ذریعه په ملکیت کي نه داخلیږي وَالْوَصِيَّةُ تَبَرُّعٌ غَيْرُ لَازِمٍ او

وصیت یو غیرِ لازم تبرع ده إِلَّا أَنَّ الرُّجُوعَ لِلْمُتَبَرِّعِ لَا لِغَيْرِهِ لیکن د رجوع کولو حق صرف متبرع لره دی، نه بل چا لره وَالْمُتَبَرِّعُ بَعْدَ الْمَوْتِ لَا يُمْكِنُهُ الرُّجُوعُ او تر مرګ وروسته متبرع [موصي] لره هم رجوع کول ممکن نه دي فَلِهٰذَا انْقَطَعَ نو په همدې وجه رجوع منقطع سوه أَمَّا هُوَ فِي وَضْعِهِ فَغَيْرُ لَازِمٍ او کوم چې وصیت کول دي نو هغه د خپل وضع په اعتبار سره لازم نه دي.

اللغات: ﴿تمليك﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: مالک کول. مالک جوړول. ﴿اعارة﴾ د افعال د باب مصدر دی، څه مخکي يې معنیٰ ذکر سوه چې يو شی عاريتاً ورکول (په عاريت ورکول) چې د هغه معنیٰ ده": "تمليكُ المنافع بلا عوض علىٰ أن تردّ العين" يعني چې څوک يو چا ته يو شی بلا بدله (مفت) ورکړي او ورته ووايي چې ته خپل نفع څني واخله! (يعني د هغه شي د نفع يې مالک کړي). مثلاً زيد وحامد ته خواست وکړي چې د يو څو وخت لپاره ستا فلانکی شی (مثلاً موټر سايکل) راکړه!. او خالد هغه شی ورکړي چې ته خپل کار څني واخله! او تر کار اخيستلو وروسته يې بيرته راکړه!. نو دې ته عاريتاً ورکول وايي، او زيد (په خواست اخيستونکي) ته مُسْتَعِيْر وايي او خالد ته مُعِيْر وايي او هغه شي ته مُسْتَعَار وايي، ﴿تبرع﴾ تفعّل د باب اسمِ مصدر دی: داسي کار کوم چې د انسان پر ذمه واجب نه وي لکه وصيت، هبه او داسي نور، نېکي او احسان. بلا عوضه ورکړه (مفت ورکونه).

تشريح: په دې عبارت کي د مخکنی مسئلې په هکله زموږ دليل بيان سوی دی. د دليل حاصل دا دی چې د عاريت په څېر وصيت هم بغير له بدله او بلا عوضه (مفت) تمليک دی کوم چې تر مرګ وروسته وخت ته مضاف دی. لهذا کله چې موصي بغير له بدله د مُوصىٰ لهٗ لپاره وصيت کړی دی او بلا عوضه يې هغه د مُوصىٰ بهٖ (خدمت او سُکنیٰ) مالک جوړ کړی دی. نو مُوصىٰ لهٗ ته هيڅکله دا حق نسته چې پر مُوصىٰ بهٖ (خدمت او سُکنیٰ) باندي عوض واخلي او په عوض سره بل څوک د هغه مالک جوړ کړي، لکه څرنګه چې مستعير بل څوک د مستعار شي مالک نه سي جوړولای او نه هغه په کرايه ورکولای سي، نو همداسي به مُوصىٰ لهٗ هم يو څوک د مُوصىٰ بهٖ مالک نه سي جوړولای او نه به هغه په اجاره او کرايه ورکولای سي.

د دې نور تحقيق دا دی چې تمليک بالبدل لازم وي او تمليک بدون البدل غيرِ لازم وي او قاعده دا ده چې د اضعف شي په ذريعه اقویٰ شی د سړي په ملکيت کي نه سي داخلېدلای او نه د اقل شي په ذريعه اکثر شی په ملکيت کي داخلېدلای سي. او څرنګه چې وصيت اضعف دی ځکه چې هغه غيرِ لازم تبرع ده او اجاره اقویٰ ده ځکه چې هغه لازم عقد او لازم تبرع ده، نو ځکه د وصيت په ذريعه اجاره

د موصیٰ لهٗ په ملکیت کې نه سي داخلېدلای، لهٰذا موصیٰ لهٗ ته به د اجارې او تملیک حق او ملکیت نه وي چې موصیٰ بهٖ په اجاره او کرایه ورکړي او بل څوک د هغه مالک جوړ کړي: او وصیت که څه هم غیر لازم عقد دی او غیر لازم تبرّع ده، لېکن په تبرّع کې صرف متبرّع ته د رجوع حق حاصل دی (چې هغه دلته موصي دی)، لهٰذا د موصي تر مرګ وروسته دا حق ختمیږي او د موصي تر مرګ وروسته هیچا ته دا حق نسته.

زموږ دويم دليل

وَلِأَنَّ الْمَنْفَعَةَ لَيْسَتْ بِمَالٍ عَلَى أَصْلِنَا او ځکه چې زموږ د اصل مطابق منفعت مال نه دی وَفِي تَمْلِيكِهَا بِالْمَالِ إِحْدَاثُ صِفَةِ الْمَالِيَّةِ فِيهَا او د مال په ذریعه د منفعت په مالک کولو کې په منفعت کې د مالیت صفت پیدا کول ستنه [یعني که موصیٰ لهٗ د مال په ذریعه څوک د منفعت مالک جوړ کړي (په اجاره يې ورکړي) نو منفعت به مال وګرځي] تَحْقِيقًا لِلْمُسَاوَاةِ فِي عَقْدِ الْمُعَاوَضَةِ په عقد معاوضه کې د مساوات ثابتولو لپاره فَإِنَّمَا تَثْبُتُ هٰذِهِ الْوِلَايَةُ لِمَنْ يَمْلِكُهَا تَبَعًا لِمِلْكِ الرَّقَبَةِ او دغه ولایت خو صرف هغه کس لره ثابتیږي کوم چې د ملک رقبه په متابعت کې د منفعت مالک سوی وي أَوْ لِمَنْ يَمْلِكُهَا بِعَقْدِ الْمُعَاوَضَةِ یا هغه کس لره کوم چې د عقد معاوضه په ذریعه د منفعت مالک سوی وي حَتَّى يَكُونَ مُمَلِّكًا لَهَا بِالصِّفَةِ الَّتِي تَمَلَّكَهَا چې دا کس به د منفعت مالک جوړونکی سي په هغه صفت سره چې په هغه سره دا کس د منفعت مالک سوی دی أَمَّا إِذَا تَمَلَّكَهَا مَقْصُودَةً بِغَيْرِ عِوَضٍ لېکن کله چې یو کس بغیر له عوضه د مقصود منفعت مالک سوی وي ثُمَّ مَلَّكَهَا بِعِوَضٍ بیا دا کس په عوض سره [یو څوک] د منفعت مالک جوړ کړي كَانَ مُمَلِّكًا أَكْثَرَ مِمَّا تَمَلَّكَهُ مَعْنًى نو معناً به دا کس تر هغه څه د زیات مالک جوړونکی سي د کوم څه چې هغه مالک سوی دی وَهٰذَا لَا يَجُوزُ او دا جائز نه دي.

اللغات: ﴿منفعة﴾ د یو شي نفع، فایده، ﴿أصل﴾ بنیاده، قاعده کلیه، ﴿إحداث﴾ د افعال د باب مصدر دی: نوی پیدا کول، ﴿مساواة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: برابري، یو د بل سره برابرېدل، ﴿مملک﴾ د تفعیل د باب فاعل دی: مالک کونکی، مالک جوړونکی، ﴿تملّك﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: مالک کېدل، ﴿عوض﴾ بدل.

تشریح: دا زموږ دویم دلیل دی او حاصل یې دا دی چې زموږ د اصل مطابق منفعت مال نه دی. اوس که چیرې موږ موصیٰ لهٗ بالخدمة یا بالسکنیٰ ته دا حق او اختیار ورکړو چې موصیٰ بهٖ (خدمت یا سکنیٰ) په اجاره ورکړي، نو منفعت (خدمت او سکنیٰ) کوم چې مال نه دی، هغه به مال وګرځول سي: ځکه چې اجاره عقد معاوضه دی چې په هغه کې له دواړو طرفونو څخه مال ضروري دی. لهذا کله چې له دواړو طرفونو څخه مال ضروري دی نو په عقد معاوضه کې د مساوات پیدا کولو لپاره به غیر مال (منفعت) مال ګرځول کیږي. حال دا چې موصیٰ لهٗ ته دا حق نسته چې په غیر مال کې د مال صفت پیدا کړي، نو ځکه په دې حواله سره هم موصیٰ لهٗ ته دا حق نسته چې موصیٰ بهٖ په اُجرت ورکړي.

فإنما تثبت إلخ: د دې حاصل دا دی چې په منفعت کې صرف دوه کسان د مال صفت پیدا کولای سي: ① یو هغه کس کوم چې د ملک رقبه په توګه د منفعت مالک سوی وي، لکه مشتري او وارث. ② دویم هغه کس کوم چې د عقد معاوضه په ذریعه د منفعت مالک سوی وي، لکه مستأجر. نو دې دواړو ته دا حق سته چې پر کوم صورت دوی د منفعت مالک سوي دي یعنې د عوض (ثمن) او اُجرت په بدله کې، پر هاغه صفت یعنې د عوض او اُجرت په بدله کې بل څوک د دې منفعت مالک جوړ کړي. لېکن څوک چې بلا عوضه او په مفته توګه د وصیت په ذریعه د منفعت مالک سوی دی، هغه ته هیڅکله دا حق نسته چې د عوض په بدله کې بل څوک د دې منفعت مالک جوړ کړي. کنې دا به لازمه سي چې د څومره شي هغه خپله مالک نه دی، بل څوک به د هغه مالک جوړ کړي. حالانکې دا جائز نه دي، نو ځکه زموږ فیصله دا ده چې په مذکوره مسئله کې موصیٰ لهٗ د اُجرت په بدله کې بل څوک د موصیٰ بهٖ (خدمت او سکنیٰ) مالک نه سي جوړولای.

د خدمت د وصیت والا غلام له خپل ښار څخه بهر ایستل

وَلَيْسَ لِلْمُوْصٰى لَهٗ أَنْ يُخْرِجَ الْعَبْدَ مِنَ الْكُوْفَةِ او موصیٰ لهٗ ته دا حق نسته چې هغه [موصیٰ بالخدمة] غلام له کوفې څخه وباسي إِلَّا أَنْ يَّكُوْنَ الْمُوْصٰى لَهٗ وَأَهْلُهٗ فِيْ غَيْرِ الْكُوْفَةِ مګر دا چې موصیٰ لهٗ او د هغه کورنی په غیر کوفه [بل ښار] کې وي فَيُخْرِجُهٗ إِلٰى أَهْلِهٖ لِلْخِدْمَةِ هُنَالِكَ نو بیا دا غلام هلته خپل کورنی ته د خدمت لپاره باسلای سي إِذَا كَانَ يَخْرُجُ مِنَ الثُّلُثِ [په دې شرط] کله چې غلام له ثلث څخه وځي لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ إِنَّمَا تَنْفُذُ عَلٰى مَا يُعْرَفُ مِنْ مَقْصُوْدِ الْمُوْصِيْ ځکه وصیت پر هماغه طریقه نافذیږي کومه طریقه چې د موصي مقصود معلومه سي [چې د موصي مقصود او غرض په دې توګه د وصیت نافذ بدل دي] فَإِذَا كَانُوْا فِيْ مِصْرِهٖ نو کله چې د موصیٰ لهٗ اهل [کورنی] د موصي په ښار کې وي

نَمَقْصُودُهُ أَنْ يُمَكِّنَهُ مِنْ خِدْمَتِهِ فِيْهِ نو د موصي مقصود دا دی چي موصیٰ لهٗ ته په همدې ښار کي له غلام څخه د خدمت اخیستلو قدرت ورکړي بِدُوْنِ أَنْ يُلْزِمَهُ مَشَقَّةُ السَّفَرِ بغیر له دې چي موصي پر غلام د سفر مشقت لازم کړي وَإِذَا كَانُوْا فِي غَيْرِهِ او کله چي د موصي اهل په بل ښار کي وي فـ...دُهُ أَنْ يَحْمِلَ الْعَبْدَ إِلٰى أَهْلِهِ لِيَخْدُمَهُمْ نو د موصي مقصود دا دی چي موصیٰ لهٗ دا غلام خپل کور... ته بوځي د دې لپاره چي د هغو خدمت وکړي.

اللغات: ﴿تنفذ﴾ د نصر د باب مضارع ده: نافذېدل، جاري کېدل او پوره کېدل.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که زيد مثلاً د خالد لپاره د خپل غلام د خدمت وصيت وکړي، نو آيا خالد ته دا حق سته چي هغه غلام له ښار څخه بهر وباسي، نو فرمايي چي د دې مدار د موصي (زيد) پر اراده او د هغه پر اجازه دی، او موصي اوس ژوندی نه دی لهذا په قرائنو سره به دا معلومول کيږي.

نو که چيري موصي او موصیٰ لهٗ (زيد او خالد) دواړه د يوه ښار مثلاً د کوفې اوسېدونکي وي او د موصیٰ لهٗ (خالد) اهل وعيال هم په کوفه کي اوسيږي، نو موصیٰ لهٗ ته دا حق نسته چي غلام له کوفې څخه بهر بوځي؛ ځکه دلته د موصي (زيد) مقصد دا وو چي غلام صرف په همدې کوفه کي د موصیٰ لهٗ خدمت کوي او پر غلام د سفر مشقت لازم نه وي.

او که چيري د موصیٰ لهٗ (خالد) اهل وعيال په کوفه کي نه اوسيږي، بلکي بهر په يو بل ښار کي اوسيږي، نو په دې صورت د موصي مقصد دا وو چي موصیٰ لهٗ دا غلام د ځان سره خپل اهل ته بوځي چي هلته د دوی خدمت وکړي، نو ځکه په دې صورت کي موصیٰ لهٗ ته دا حق سته چي دا غلام بهر وباسي. لېکن په دې صورت کي هم موصیٰ لهٗ ته صرف هغه وخت د بهر ايستلو حق سته کله چي غلام له ثلث څخه وځي، يعني له دې غلام څخه بغير د موصي لپاره نور دوه ثلثه مال يا تر دې زيات وي، لېکن که دا غلام له ثلث څخه نه وځي، نو بيا موصیٰ لهٗ ته دا حق نسته چي غلام بهر وباسي مگر هغه وخت چي وارثان د دې اجازه ورکړي.

د خپل غلام يا کور د أجرت د وصيت کولو حکم

وَلَوْ أَوْصٰى بِغَلَّةِ عَبْدِهِ أَوْ بِغَلَّةِ دَارِهِ او که چيري يو څوک د خپل غلام د أجرت يا د خپل کور د أجرت وصيت وکړي يَجُوْزُ أَيْضًا نو دا هم جائز دي لِأَنَّهُ بَدَلُ الْمَنْفَعَةِ ځکه چي دا أجرت د منفعت بدل دی فَأَخَذَ حُكْمَ الْمَنْفَعَةِ فِي جَوَازِ الْوَصِيَّةِ بِهِ نو دا بدل [أجرت] به د منفعت حکم واخلي د وصيت جائز

کېدلو په هکله كَيْفَ وَأَنَّهُ عَيْنٌ حَقِيقَةً څرنګه به جائز نه وي! حال دا چي أجرت په حقیقت کي عین دی لِأَنَّهُ دَرَاهِمُ أَوْ دَنَانِيرُ ځکه چي أجرت خو دراهم دي یا دنانیر دي فَكَانَ بِالْجَوَازِ أَوْلَىٰ نو ځکه أجرت به په جواز سره اولیٰ وي [یعني په درجه اولیٰ به جائز وي] وَلَوْلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ او که له هغه [غلام یا کور] څخه بغیر د موصي لپاره نور مال نه وي كَانَ لَهُ ثُلُثُ غَلَّةِ تِلْكَ السَّنَةِ نو د موصیٰ لهٗ لپاره د هغه کال د أجرت ثلث [دریمه حصه] ده لِأَنَّهُ عَيْنُ مَالٍ يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ بِالْأَجْزَاءِ ځکه چي أجرت عین مال دی کوم چي په اجزاؤ [حصو] سره د تقسیم احتمال لري.

اللغات: څه مخکي ذکر سوه چي د غلة د لفظ څلور معناوي دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ یې د أجرت ده. یعني د کور أجرت (پر کور وغیره چي کومه کرایه اخیستل کیږي) یا د غلام أجرت او ګټه (یعني غلام چي کوم مال ګټي). ﴿عین﴾ معیّن، متعیّن کېدونکی شی.

تشریح: دا مسئله څه مخکي بیان سوه او هلته یې جواز معلوم سو. لیکن صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د آینده مسئلې (کوم چي په راروان بل عبارت کي ذکر سوې ده) لپاره د تمهید په توګه دا مسئله دوباره بیان کړې ده. صورت د مسئلې خو ښکاره دی چي که یو څوک دیو چا لپاره د خپل غلام د أجرت یا د خپل کور د أجرت او کرایې وصیت وکړي، نو دا وصیت جائز او صحیح دی؛ ځکه دا أجرت د منفعت (خدمت او سکنیٰ) بدل دی، نو د وصیت جائز کېدلو په هکله به بدل (أجرت) د مبدل یعني د منفعت حکم واخلي، او تاسي ته معلومه ده چي د منفعت (خدمت او سکنیٰ) وصیت جائز دی. نو د بدل وصیت به په درجه اولیٰ جائز وي. او بل دا چي بدل (أجرت او کرایه) خو دراهم یا دنانیر دي او دراهم و دنانیر حقیقتاً عین دي او د عین وصیت بالکل جائز دی. نو ځکه د بدل وصیت خو به ښه شکه جائز وي..

ولولم یکن الخ: د دې حاصل دا دی چي که له موصیٰ به یعني له غلام یا کور څخه بغیر د موصي سره نور مال نه وي او د هغه وارثان په دې خبره راضي نه وي چي د موصیٰ به ټوله أجرت موصیٰ لهٗ ته ورکول سي. نو په دې صورت کي به موصیٰ لهٗ ته د کال د أجرت ثلث ورکول کیږي؛ ځکه دا أجرت عین دی او د اجزاؤ (حصو) په ذریعه د هغه تقسیمول ممکن دي، نو ځکه تقسیم بالاجزاء به کیږي. او تقسیم بالمهایاة به نه کیږي. (احسن الهدایه)

که په مذکوره صورت کي موصیٰ لهٗ د کور ثلث په کرایه ورکول وغواړي نو جائز نه دي

فَلَوْ أَرَادَ الْمُوصٰى لَهٗ قِسْمَةَ الدَّارِ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْوَرَثَةِ بیا که چیري موصیٰ لهٗ د خپل ځان او وارثانو تر مینځ د کور تقسیمولو [وېش کولو] اراده وکړي لِيَكُوْنَ هُوَ الَّذِيْ يَسْتَغِلُّ ثُلُثَهَا د دې لپاره چي همدا موصیٰ لهٗ خپله د کور ثلث په اُجرت [په کرایه] ورکړي لَمْ يَكُنْ لَهٗ ذٰلِكَ نو هغه ته د دې حق نسته إِلَّا فِيْ رِوَايَةٍ عَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ مګر له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه په یوه روایت کي [موصیٰ لهٗ ته د دې حق سته] فَإِنَّهٗ يَقُوْلُ: الْمُوصٰى لَهٗ شَرِيْكُ الْوَارِثِ ځکه هغه فرمایي: چي موصیٰ لهٗ د وارث شریک دی وَلِلشَّرِيْكِ ذٰلِكَ او شریک ته د دې حق سته فَكَذٰلِكَ لِلْمُوصٰى لَهٗ نو همداسي به موصیٰ لهٗ ته هم د دې حق وي إِلَّا أَنَّا نَقُوْلُ: الْمُطَالَبَةُ بِالْقِسْمَةِ تَبْتَنِيْ عَلٰى ثُبُوْتِ الْحَقِّ لِلْمُوصٰى لَهٗ فِيْمَا يُلَاقِيْهِ الْقِسْمَةُ خو موږ [په جواب کي] وایو: چي د تقسیم مطالبه د موصیٰ لهٗ لپاره په هغه شي کي د حق پر ثابتېدلو مبني ده چي د هغه شي سره تقسیم متصل کیږي إِذْ هُوَ الْمُطَالِبُ ځکه چي هم هاغه مطالب دی وَلَا حَقَّ لَهٗ فِيْ عَيْنِ الدَّارِ او په عین کور کي د موصیٰ لهٗ هیڅ حق نسته وَإِنَّمَا حَقُّهٗ فِي الْغَلَّةِ او د هغه حق خو صرف [د کور] په اُجرت کي دی فَلَا يَمْلِكُ الْمُطَالَبَةَ بِقِسْمَةِ الدَّارِ نو ځکه موصیٰ لهٗ ته به د کور تقسیمولو د مطالبې ملکیت [او اختیار] نه وي.

اللغات: ﴿تبتني﴾ د افتعال د باب مضارع ده: مبني کېدل.

تشریح: مخکي ذکر سوه چي د موصیٰ لهٗ لپاره د کور د اُجرت وصیت جائز دی او که له دې کور څخه بغیر د موصي سره نور مال نه وي نو موصیٰ لهٗ ته د اُجرت ثلث حاصلیږي. اوس که چیري موصیٰ لهٗ اراده وکړي چي دا کور تقسیم کړي او د کور ثلث واخلي او خپله هغه په کرایه ورکړي او د هغه اُجرت اخلي، نو د جمهورو د قول مطابق موصیٰ لهٗ ته د دې حق او اختیار نسته. خو له امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله څخه د یوه روایت مطابق موصیٰ لهٗ ته د دې حق سته. د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي د موصي په میراث کي موصیٰ لهٗ د موصي د وارث شریک دی. او شریک ته د کور د تقسیمولو د مطالبې حق سته. نو ځکه موصیٰ لهٗ ته به هم دا حق وي چي د کور د تقسیم مطالبه وکړي...

د جمهورو د قول دلیل دا دی چې موصیٰ لهٗ ته د کور تقسیمولو د مطالبې حق او اختیار هغه وخت سته کله چې په کور کې د هغه حق ثابت وي او دلته حالت دا دی چې په کور کې د موصیٰ لهٗ حق نسته بلکې د هغه حق صرف د کور په اُجرت (کرایه) کې دی، نو ځکه هغه ذا اُجرت خو په هره توګه تقسیمولای سي. لېکن د کور د تقسیم مطالبه نه سي کولای.

د یوه کس لپاره د غلام د خدمت او د بل کس لپاره د غلام د رقبې وصیت کول (حکم او تفصیل)

وَلَوْ أَوْصٰى لَهُ بِخِدْمَةِ عَبْدِهٖ وَلِآخَرَ بِرَقَبَتِهٖ او که موصي د یو چا لپاره د خپل غلا د خدمت وصیت وکړي او د بل چا لپاره د غلام د رقبې [وصیت وکړي] وَهُوَ يَخْرُجُ مِنَ الثُّلُثِ او هغه غلام له ثلث ځخه وځي فَالرَّقَبَةُ لِصَاحِبِ الرَّقَبَةِ نو رقبه [یعني غلام] د رقبې والا لپاره دی وَالْخِدْمَةُ عَلَيْهَا لِصَاحِبِ الْخِدْمَةِ او پر هغه [غلام] خدمت دی د خدمت والا لپاره لِأَنَّهٗ أَوْجَبَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا شَيْئًا مَعْلُومًا ځکه چې موصي له دوی دواړو ځخه د هر یوه لپاره د معلوم شي ایجاب کړی دی عَطْفًا مِنْهُ لِأَحَدِهِمَا عَلَى الْآخَرِ له خپل طرفه له دوی ځخه د یوه پر بل په عطف کولو سره [یعنی أنه عطف قوله "لآخر برقبته" بالواو على قوله "أوصى له بخدمة عبده"] فَتُعْتَبَرُ هٰذِهِ الْحَالَةُ بِحَالَةِ الْاِنْفِرَادِ نو دغه د عطف حالت به د انفراد په حالت باندې قیاسول کیږي.

اللغات: ﴿رقبة﴾ غاړه، د غلام ذات. ﴿أوجب﴾ د افعال د باب ماضي ده: ایجاب کول، واجبول او ثابتول. ﴿انفراد﴾ د انفعال د باب مصدر دی: یوازې والی، یو کېدل، منفرد کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که زید مثلاً د خالد لپاره د خپل غلام د خدمت وصیت وکړي او د حامد لپاره د خپل غلام د رقبې (ذات) وصیت وکړي او یو پر بل عطف کړي مثلاً په یوه ویناداسې ووایي چې زما دا غلام د حامد لپاره دی او د خالد خدمت به کوي، او غلام له ثلث ځخه وځي، نو د موصیٰ لهٗ بالخدمة (خالد) لپاره خدمت دی او د موصیٰ لهٗ بالرقبه (حامد) لپاره رقبه یعنې غلام دی؛ ځکه موصي له دوی ځخه د هر یوه لپاره په علیحده توګه د یو معلوم شي ایجاب کړی دی. نو ځکه له دوی ځخه هر یوه ته به د هغه مطابق خپله حصه ورکول کیږي. لکه کله چې موصي په انفرادي توګه د هر یوه لپاره جلا، جلا وصیت کړي وای، نو هم به د هغه مطابق دوی ته خپله حصه ورکول کېدای. یعنې د عطف والا حالت به پر انفرادي حالت قیاسول کیږي.

ثُمَّ لَمَّا صَحَّتِ الْوَصِيَّةُ لِصَاحِبِ الْخِدْمَةِ بیا کله چې د خدمت والا لپاره وصیت صحیح دی فَلَوْ لَمْ يُوْصِ فِي الرَّقَبَةِ نو که موصي د رقبې په باره کې هیڅ وصیت نه وای کړی لَصَارَتِ الرَّقَبَةُ مِيْرَاثًا لِلْوَرَثَةِ نو رقبه [غلام] به د وارثانو لپاره میراث ګرځېدلی وای مَعَ كَوْنِ الْخِدْمَةِ لِلْمُوْصٰى لَهٗ سره د دې چې [د غلام] خدمت به د موصیٰ لهٗ لپاره وای فَكَذَا إِذَا أَوْصٰى بِالرَّقَبَةِ لِإِنْسَانٍ آخَرَ نو همداسي کله چې موصي د بل کس لپاره د رقبې وصیت کړی وي [نو همدا حکم به وي] إِذِ الْوَصِيَّةُ أُخْتُ الْمِيْرَاثِ ځکه چې وصیت د میراث خور ده مِنْ حَيْثُ إِنَّ الْمِلْكَ يَثْبُتُ فِيْهِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ په دې حیثیت سره چې ملکیت په دواړو کې تر مرګ وروسته ثابتیږي وَلَهَا نَظَائِرُ او دغه مسئلې لره ځو مثالونه سته وَهُوَ مَا إِذَا أَوْصٰى بِأَمَةٍ لِرَجُلٍ وَبِمَا فِيْ بَطْنِهَا لِآخَرَ او هغه دا چې کله موصي د مینځې وصیت د یوه سړي لپاره وکړي او د هغې په نس کې د موجود بچي وصیت د بل سړي لپاره وکړي وَهِيَ تَخْرُجُ مِنَ الثُّلُثِ او هغه مینځه له ثلث څخه وځي أَوْ أَوْصٰى لِرَجُلٍ بِخَاتَمٍ وَلِآخَرَ بِفَصِّهِ یا د یوه سړي لپاره د ګوتمې وصیت وکړي او د بل سړي لپاره د هغې د غمي وصیت وکړي أَوْ قَالَ: هٰذِهِ الْقَوْصَرَّةُ لِفُلَانٍ وَمَا فِيْهَا مِنَ التَّمْرِ لِفُلَانٍ یا داسي ووایي: چې دغه ټوکرۍ د فلانکي لپاره ده او کومه خرما چې پکښې موجوده ده هغه د فلانکي لپاره ده كَانَ كَمَا أَوْصٰى نو دا به هغسي وي لکه څرنګه چې موصي وصیت کړی دی وَلَا شَيْءَ لِصَاحِبِ الظَّرْفِ فِي الْمَظْرُوْفِ فِيْ هٰذِهِ الْمَسَائِلِ كُلِّهَا او په دغه ټولو [دریو] مسئلو کې به د ظرف والا لپاره په مظروف کې هیڅ حصه نه وي.

اللغات: ﴿قَوْصَرَةٌ﴾ او ﴿قَوْصَرَّةٌ﴾: ټوکرۍ، له مزرو او داسي نورو لرګیو څخه جوړه سوې ټوکرۍ چې په هغه کې خرماوي ساتل کیږي. ﴿ظرف﴾ لوښی، هر هغه څه چې په هغه کې بل څه قرار نیسي. هر هغه شی چې په هغه کې بل شی اېښول کیږي. ﴿مظروف﴾ هغه شی کوم چې په ظرف کې اېښول سوی وي.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې کله د غلام د رقبې وصیت د یو چا (مثلاً د حامد) لپاره وي او د خدمت وصیت یې د بل چا (خالد) لپاره وي، نو دا صحیح دي؛ ځکه که موصي د یو چا لپاره د رقبې

وصیت نه وای کړی او صرف د خدمت وصیت یې کړې وای، نو ښکاره ده چې رقبه به د وارثانو لپاره وای او خدمت د موصیٰ لهٔ لپاره. او په دې صورت کې هیڅ اشکال نه کېدل پکار دي: ځکه وصیت د میراث خور ده، ځکه څرنګه چې په میراث کې د مورث تر مرګ وروسته د وارثانو لپاره ملکیت ثابتیږي. نو همداسې په وصیت کې هم د موصي تر مرګ وروسته د موصیٰ لهٔ لپاره ملکیت ثابتیږي. حاصل دا چې کله په یوه غلام کې موصیٰ لهٔ او وارثان ټوله شریک کېدلای سي. نو په هغه کې به دوه موصیٰ لهٔ په درجه اولیٰ شریک کېدلای سي چې دیوه لپاره به د غلام د خدمت وصیت صحیح وي او د بل لپاره به د رقبې وصیت صحیح وي.

ولها نظائر إلخ: یعني په یوه شي کې د دوو کسانو اشتراک او اجتماع صرف دا نه چې په مذکوره مسئله کې صحیح ده بلکې د دې نور هم ډېر مثالونه سته چې له هغوی څخه درې مثالونه دلته بیان سوي دي.

(۱)... که څوک وصیت وکړي چې زما فلانکۍ حامله مینځه مثلاً د خالد لپاره ده او د هغې په نس کې چې کوم بچی (حمل) دی، هغه د حامد لپاره دی. او هغه مینځه د موصي د مال له ثلث څخه وځي، نو دا وصیت صحیح دی.

(۲)... که څوک د خپلې ګوتمۍ وصیت د خالد لپاره وکړي او د ګوتمۍ د غمي وصیت د حامد لپاره وکړي، نو دلته هم وصیت مشترک دی او صحیح دی.

(۳)... که څوک وصیت وکړي چې دا ټوکرۍ د خالد لپاره ده او په هغې کې چې کومه مېوه ده. هغه د حامد لپاره ده، نو د وصیت مطابق ټوکرۍ د خالد کیږي او مېوه د حامد کیږي.

تاسي وګورئ! په دې دریو سره مثالونو کې موصیٰ به یو شی دی او هغه په جلا جلا حواله سره د دوو کسانو تر مینځ مشترک دی، لهذا څرنګه چې په دې مثالونو کې په مشترکه توګه دیوه شي وصیت صحیح دی، نو همداسې به په مذکوره مسئله کې هم دیوه غلام وصیت په مشترکه توګه (د خدمت او رقبې په حواله سره) د دوو کسانو لپاره صحیح وي.

ولا شيء إلخ: یعني دا کوم درې مثالونه چې ذکر سول، په هغوی کې مینځه، ګوتمۍ او ټوکرۍ ظرف دي او بچی (حمل) او غمی او مېوه مظروف دي، نو ځکه نه ظرف والا (خالد) ته په مظروف کې حصه حاصلیږي او نه مظروف والا (حامد) ته په ظرف کې حصه حاصلیږي.

په مذکوره پورتنۍ مسئله کې د دواړو وصیتونو تر مینځ د فصل کولو حکم

أَمَّا إِذَا فَصَلَ أَحَدُ الْإِيجَابَيْنِ عَنِ الْآخَرِ فِيهَا لیکن کله چې موصي په دې مسئله کې له دوو ایجابونو څخه یو ایجاب له بل څخه جلا کړی وي [د دواړو تر مینځ یې فصل کړی وي] فَكَذٰلِكَ الْجَوَابُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نو همداسې جواب [حکم] دی د امام ابویوسف رَحِمَهُ الله په نېز وَعَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ الْأَمَةُ لِلْمُوصٰى لَهُ بِهَا او د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول مطابق مینځه د هغه کس لپاره ده د کوم یوه لپاره چې د مینځې وصیت سوی دی وَالْوَلَدُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ او بچی د هغوی دواړو تر مینځ نیم په نیمه دی وَكَذٰلِكَ فِي أَخَوَاتِهَا او همدا ډول [حکم دی] د دې مسئلې [مسئلة الأمة] په اخواتو کې لِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ بِإِيجَابِهِ فِي الْكَلَامِ الثَّانِي تَبَيَّنَ د امام ابویوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې د موصي د دویم کلام په ایجاب کولو سره دا خبره ښکاره سوه أَنَّ مُرَادَهُ مِنَ الْكَلَامِ الْأَوَّلِ إِيجَابُ الْأَمَةِ لِلْمُوصٰى لَهُ بِهَا دُونَ الْوَلَدِ چې له اول کلام څخه د موصي مراد د موصی لهٔ لپاره د مینځې ایجاب دی، نه د بچې. وَهٰذَا الْبَيَانُ مِنْهُ صَحِيحٌ وَإِنْ كَانَ مَفْصُولًا او د موصي له طرفه دا بیان صحیح دی که څه هم هغه [له اول کلام] څخه جلا کړی سوی دی لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ لَا تُلْزِمُ شَيْئًا فِي حَالِ حَيَاةِ الْمُوصِي ځکه چې وصیت د موصي د ژوند په حالت کې هیڅ شی نه لازموي فَكَانَ الْبَيَانُ الْمَفْصُولُ فِيهِ وَالْمَوْصُولُ سَوَاءً نو ځکه په دې کې به مفصول بیان او متصل بیان سره برابر وي كَمَا فِي وَصِيَّةِ الرَّقَبَةِ وَالْخِدْمَةِ لکه څرنګه چې [د غلام] د رقبې او خدمت په وصیت کې [دواړه سره برابر] دي وَلِمُحَمَّدٍ: أَنَّ اسْمَ الْخَاتَمِ يَتَنَاوَلُ الْحَلْقَةَ وَالْفَصَّ او د امام محمد رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې لفظ د خاتم [ګوتمۍ] حلقې او غمي دواړو لره شاملیږي وَكَذٰلِكَ اِسْمُ الْجَارِيَةِ يَتَنَاوَلُهَا وَمَا فِي بَطْنِهَا او همدارنګه لفظ د جاریه هغې [مینځې] لره او د هغې په نس کې موجود بچي دواړو لره شاملیږي وَاسْمُ الْقَوْصَرَةِ كَذٰلِكَ او لفظ د ټوکرۍ هم داسې دی [چې هغه ټوکرۍ او مافیها (مېوې) دواړو لره شاملیږي] وَمِنْ أَصْلِنَا أَنَّ الْعَامَّ الَّذِي مُوجَبُهُ ثُبُوتُ الْحُكْمِ عَلٰى سَبِيلِ الْإِحَاطَةِ بِمَنْزِلَةِ الْخَاصِّ او زموږ اصل دا دی چې د کوم عام موجب [مقتضا] چې د احاطې په توګه د حکم ثابتېدل وي هغه د خاص په درجه کې دی.

اللغات: ﴿فصل﴾ د ضرب د باب ماضي ده: جلا کول، علیحده کول، جلا ذکر کول. ﴿تبيّن﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: څرګندېدل، واضح کېدل.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي په مخکښی مذکوره مسئلو کي دا حکم هغه وخت دی کله چي د دواړو وصیتونو ذکر او بیان موصلاً (متصلاً) وي. خو که چیري مفصولاً وي یعني موصي مثلاً اول د مینځي وصیت د خالد لپاره وکړي او بیا په یو بل شي لګیا سي او تر هغه وروسته د مینځي د بچي (حمل) وصیت د حامد لپاره وکړي، نو اوس څه حکم دی؟.

فرمایي چي په دې صورت کي د امام ابو یوسف او امام محمد رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی. امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چي دا صورت هم د مخکښي مسئلې په څېر دی یعني کوم حکم چي د وصل د صورت دی، هاغه حکم د فصل د صورت هم دی چي مینځه د خالد کیږي او بچی د حامد کیږي.

لېکن د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز د وصل او فصل حکم سره جلا دی. د فصل په صورت کي د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز مینځه د خالد کیږي خو د هغې په بچي کي خالد او حامد دواړه شریکان کیږي چي دواړو ته به نصف، نصف (نیمه حصه) ور کول کیږي.

او د دوی دا اختلاف د ګوتمۍ او غمي. او د ټوکرۍ او مېوې په وصیت کي هم دی.

لأبي یوسف إلخ: د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چي په مذکوره مسئله کي د موصي دویم کلام (یعني د بل چا احامدا لپاره د مینځي د بچي وصیت کول) بیان تغییر نه دئ بلکي دا دویم کلام بیان تفسیر دی، او کله چي دا دویم کلام تغییر نه دی نو په هغه کي وصل ضروري نه دی، ځکه وصل د تغییر لپاره ضروري دی. لهذا کله چي موصي په دویم کلام سره د حامد لپاره د بچي وصیت وکړی، نو له دې څخه دا خبره ښکاره سوه چي په اول کلام سره د موصي مراد فقط د مینځي وصیت دی او په هغه وصیت کي بچی داخل نه دی. بلکي د بچي وصیت د بل چا (حامد) لپاره دی او د موصي دا بیان صحیح دی که څه هم دا تر فصل وروسته دی ځکه چي دا بیان تغییر نه دی: او بیان تغییر ځکه نه دی چي د موصي په ژوند کي په وصیت سره هیڅ شی نه لازمیږي بلکي په وصیت سره د موصي تر مرګ وروسته شی لازمیږي، لهذا کله چي تر لازمېدلو مخکي د موصي له طرفه بیان راغلی، نو دا به محض بیان تفسیر وي. نو ځکه اوس دغه بیان که موصولاً وي او که مفصولاً وي د ټولو حکم سره برابر دی.

مثال یې دا دی لکه څوک چي د یوه کس مثلاً د خالد لپاره د خپل غلام د رقبې وصیت وکړي او د بل کس مثلاً د حامد لپاره د هغه د خدمت وصیت وکړي، نو برابره ده موصولاً یې وکړي او که

مفصولاً. په هر صورت کي همدا حکم دی چي د خالد لپاره خدمت دی او د حامد لپاره رقبه یعني غلام دی.

ولمحمد إلخ: د امام محمد رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چي خاتم یعني ګوتمۍ او مینځه او تو کری دري سره عام لفظونه دی، ځکه د خاتم (ګوتمی) لفظ هم حلقې (کړۍ) لره شامل دی او هم غمي لره شامل دی، همدارنګه د جاریه (مینځي) لفظ هم مینځي لره شامل دی او هم ما فی بطنها (حمل) لره شامل دی، همدارنګه د قوصره لفظ ټوکري او مافیها (مېوې) دواړو لره شامل دی. او قاعده دا ده چي د کوم عام تقاضا په محیطه توګه د حکم ثابتېدل وي او کوم عام چي برسبیل احاطه شاملېږي. هغه عام د خاص (قطعي) په درجه کي دی، یعني هغه عام هم قطعي دي، لهذا خاتم وغیره د خپل معنیٰ په باره کي قطعي دي، نو اوس چي کله موصي د ګوتمی وصیت د خالد لپاره وکړی نو په خاتم کي حلقه او غمي (همدارنګه په جاریه کي مینځه او بچی او په قوصره کي ټوکری او مېوه..) دواړه په قطعیت سر داخل دي او کله چي موصي تر فصل وروسته د غمي وصیت د حامد لپاره وکړی. نو اوس صورت دا سو چي په حلقه (او په مینځه او ټوکری) کي خو هیڅ تعارض نسته هغه خو فقط د خالد دي، خو په غمي (او بچي او مېوه) کي تعارض راغلی، نو د عام تقاضا دا ده چي غمی (او بچی او مېوه) هم د خالد سي او د خاص تقاضا دا ده چي هغه د حامد سي، او عام او خاص دواړه قطعي دي، نو موږ د تعارض ختمولو لپاره غمی (او مېوه او بچی) د دواړو تر مینځ مشترک وګرځوی او د هر یوه لپاره مو نصف (نیمه حصه) وټاکله، ځکه د تعارض ختمولو یو لاره همدا ده چي په غمي یا بچي یا مېوه کي د دواړو اشتراک ثابت کړی سي او دواړو ته نصف، نصف ورکول سي. همدا د مصنف رَحِمَهُ الله د کلام خلاصه ده. د وضاحت لپاره وګورئ! نور الأنوار (ص: ۷۳).

دُ پورتني تقریر نور وضاحت او د امام محمد له طرفه د امام ابو یوسف د دلیل جواب

فَقَدِ اجْتَمَعَ فِي الْفَصِّ وَصِيَّتَانِ نو په غمي کي دوه وصیتونه جمع سول وَكُلٌّ مِنْهُمَا وَصِيَّةٌ بِإِيجَابٍ عَلَى حِدَةٍ او له دوی څخه هر یو په بېل [جلا] ایجاب سره وصیت دی فَيُجْعَلُ الْفَصُّ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ نو ځکه غمی به د دوی تر مینځ نیم په نیمه کول کیږي وَلَا يَكُونُ إِيجَابُ الْوَصِيَّةِ فِيهِ لِلثَّانِي رُجُوعًا عَنِ الْأَوَّلِ او په دې کي به د دویم لپاره د وصیت ایجاب له اول څخه رجوع نه وي كَمَا إِذَا أَوْصَى لِلثَّانِي بِالْخَاتَمِ لکه [په هغه صورت کي] کله چي موصي د دویم یوه لپاره د ګوتمی وصیت وکړي [او د اول یوه لپاره یې د ګوتمي د غمي وصیت کړی وي] بِخِلَافِ الْخِدْمَةِ مَعَ الرَّقَبَةِ په خلاف د رقبې سره د

خدمت [د وصیت کولو] لِأَنَّ اِسْمَ الرَّقَبَةِ لَا يَتَنَاوَلُ الْخِدْمَةَ ځکه چې لفظ د رقبه خدمت لره نه شامليږي وَإِنَّمَا يَسْتَخْدِمُهُ الْمُوْصٰى لَهُ بِحُكْمِ أَنَّ الْمَنْفَعَةَ حَصَلَتْ عَلٰى مِلْكِهِ او موصیٰ لهٗ له رقبې ځخه د دې حکم په وجه خدمت اخلي چې منفعت د هغه پر ملکیت حاصل سوی دی فَإِذَا أَوْجَبَ الْخِدْمَةَ لِغَيْرِهِ بيا کله چې موصي له هغه [موصیٰ لهٗ بالرقبه] ځخه بغیر د بل چا لپاره د خدمت ایجاب وکړي لَا يَبْقٰى لِلْمُوْصٰى لَهُ فِيْهِ حَقٌّ نو بیا په خدمت کې د موصیٰ لهٗ هیڅ حق نه پاتیږي بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَ الْكَلَامُ مَوْصُوْلًا په خلاف د هغو صورت کله چې کلام موصول [متصلا] وي لِأَنَّ ذٰلِكَ دَلِيْلُ التَّخْصِيْصِ وَالْاِسْتِثْنَاءِ ځکه چې دا د تخصیص او استثناء کولو دلیل دی فَتَبَيَّنَ أَنَّهُ أَوْجَبَ لِصَاحِبِ الْخَاتَمِ الْحَلْقَةَ خَاصَّةً دُوْنَ الْفَصِّ نو دا څرګنده سوه چې موصي د ګوتمۍ والا لپاره صرف د حلقې ایجاب کړی دی، نه د غمي.

اللغات: ﴿موصول﴾ د ضرب د باب مفعول دی: وصل سوی، متصل. ﴿تخصيص﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: یو شي خاص کول (خاصول)، متعینول، عام شی خاص ګرځول.

تشریح: په دې عبارت کې د مخکیني تفصیل نور وضاحت کوي فرمايي چې په مذکوره مسئله کې د غمي (او د بچي او مېوې) په باره کې دوه وصیتونه جمع دي او دواړه په جلا، جلا ایجاب سره ثابت سوي دي، نو اوس دلته دوه صورتونه دي: ① یو صورت دا دی چې دغه غمی د دواړو (خالد او حامد) تر مینځ مشترک وګرځول سي. ② دویم صورت دا دی چې دویم ایجاب له اول ځخه رجوع وګرځول سي. خو دا دویم صورت او طریقه دلته مناسب نه ده، بلکې اول صورت زیات مناسب دی، نو ځکه پر هغه عمل سوی دی او هغه له اول ځخه رجوع نه دی ګرځول سوی.

مثال یې دا دی لکه موصي چې اول د خالد لپاره د غمي وصیت وکړي او تر دې وروسته د حامد لپاره د خاتم (ګوتمۍ) وصیت وکړي، نو په دې صورت کې غمی د خالد کیږي او په حلقه کې دواړه شریک کیږي.

بخلاف الخدمة إلخ: دا د امام محمد رَحِمَهُ الله له طرفه و امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ته جواب دی، امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله مذکوره دري مسئلې (یعني د حامله مینځي او د خاتم او قوصره د وصیت مسئلې) د خدمت او رقبې د وصیت پر مسئله قیاس کړي وې، د جواب حاصل دا دی چې ستاسي دا قیاس مع الفارق دی: ځکه لفظ د رقبه په هیڅ توګه هم خدمت لره شامل او داخل نه دی، حال دا چې خاتم خو غمي

لره شامل دی او غمی پکښې داخل دی، همدارنګه په مینځه کې هم ما فی بطنها داخل دی. نو کله چې په مقیس علیه او مقیس کې دومره قدر تفاوت دی، نو آخر به قیاس څنګه صحیح وي!.

او پاتې سو دا سوال چې کله رقبه خدمت لره شامل نه ده نو بیا د کوم کس لپاره چې د رقبې (غلام) وصیت سوی وی (مثلاً خالد) او د بل چا لپاره د رقبې د خدمت وصیت سوی نه وي، نو هغه کس (خالد) ته ولې له رقبې (غلام) څخه د خدمت اخیستلو حق سته؟.

نو د دې جواب دا دی چې موصیٰ لهٗ (خالد) ته چې کوم د خدمت اخیستلو حق حاصل سوی دی، هغه پر دې بناء نه دی چې رقبه خدمت لره شامل ده، بلکې پر دې بناء دی چې دلته منافع "خدمت" د موصیٰ لهٗ پر ملکیت حاصلیږي.

لېکن بیا که چیري موصي د خدمت ایجاب د بل چا لپاره وکړی، نو اوس په خدمت کې د اول موصیٰ لهٗ (خالد) حق پاته نه سو.

او دلته د اشتراک قول نه دی اختیار کړی سوی؛ ځکه رقبه له مخکې څخه خدمت لره شامل نه ده، نو ځکه مورږ وویل چې رقبه به د اول موصیٰ لهٗ لپاره وي او خدمت به یې د بل موصیٰ لهٗ لپاره وي.

بخلاف ما إذا إلخ: یعني که چیري په مذکوره دریو مسئلو کې دویم ایجاب موصولاً وي، یعني موصي د دویم چا لپاره متصلاً د غمي (یا د بچي یا د مېوې) وصیت وکړي، نو په دې صورت کې به دا دویم کلام یعني دویم وصیت د استثناء او تخصیص دلیل وي او دا به ګڼل کیږي چې موصي د اول موصیٰ لهٗ لپاره صرف د حلقې (او مینځې او توکرۍ) ایجاب کړی دی او هغه ته صرف حلقه ورکوي. او غمی (او بچی او مېوه) هغه دویم چا ته ورکوي. نو ځکه په دې صورت کې به غمی وغیره د دویم موصیٰ لهٗ لپاره وي او په هغه کې به د اول موصیٰ لهٗ (صاحب خاتم وغیره) هیڅ حق نه وي.

د باغ د مېوې د وصیت کولو حکم او تفصیل

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى لِآخَرَ بِثَمَرَةِ بُسْتَانِهِ فرمایي: او څوک چې د بل چا لپاره د خپل باغ د مېوې وصیت وکړي ثُمَّ مَاتَ بیا هغه موصي [وصیت کونکی] مړ سي وَفِيْهِ ثَمَرَةٌ او په باغ کې مېوه [موجوده] وي فَلَهُ هٰذِهِ الثَّمَرَةُ وَحْدَهَا نو د موصیٰ لهٗ لپاره یوازي همدا [موجوده] مېوه ده [نه وروسته پیدا کېدونکې مېوه] وَإِنْ قَالَ: لَهُ ثَمَرَةُ بُسْتَانِيْ أَبَدًا او که موصي ویلي وي: چې د هغه لپاره همېشه د زما د باغ مېوه ده فَلَهُ هٰذِهِ الثَّمَرَةُ وَثَمَرَتُهُ فِيْمَا يَسْتَقْبِلُ مَا عَاشَ نو د هغه لپاره د دغه مېوه [هم] ده او په مستقبل کې د

باغ راټلونکې مېوه [هم] ده تر څو چي هغه ژوندی وي وَإِنْ أَوْصٰى لَهُ بِغَلَّةِ بُسْتَانِهِ او که موصي د هغه لپاره د خپل باغ د پیداوار [حاصلاتو] وصیت وکړي فَلَهُ الْغَلَّةُ الْقَائِمَةُ وَغَلَّتُهُ فِيمَا يُسْتَقْبَلُ نو د موصیٰ لهٗ لپاره موجوده پیداوار او په مستقبل کي راتلونکی پیداوار [ټوله] دي وَالْفَرْقُ أَنَّ الثَّمَرَةَ اِسْمٌ لِلْمَوْجُودِ عُرْفًا او فرق دا دی چي ثمره [مېوه] عرفاً د موجوده مېوې نوم دی فَلَا يَتَنَاوَلُ الْمَعْدُومَ إِلَّا بِدَلَالَةٍ زَائِدَةٍ نو ځکه له يو زائد دلالت څخه بغير به هغه معدومه مېوې لره نه شامليږي مِثْلُ التَّنْصِيصِ عَلَى الْأَبَدِ [زائد دليل] لکه د أبد [همېشه توب] تصریح کول لِأَنَّهُ لَا يَتَأَبَّدُ إِلَّا بِتَنَاوُلِ الْمَعْدُومِ ځکه معدوم لره له شاملېدلو څخه بغير مېوه نه ابدي کيږي وَالْمَعْدُومُ مَذْكُورٌ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا او معدوم مذکور دی [يعني د ذکر کولو قابل دی] که څه هم [في الحاله] هغه هيڅ شی نه دی أَمَّا الْغَلَّةُ فَتَنْتَظِمُ الْمَوْجُودَ او کوم چي پیداوار دی نو هغه [عرفاً] موجوده پیداوار لره هم شامليږي وَمَا يَكُونُ بِعَرَضِ الْوُجُودِ مَرَّةً بَعْدَ أُخْرٰى عُرْفًا او کوم پیداوار چي يو تر بل وروسته د وجود [پيدا کېدلو] پر مقام وي [يعني وروسته حاصلېدونکی پیداوار] هغه لره هم شامليږي.

اللغات: ﴿بستان﴾ باغ. ﴿غلة﴾ مخکي ذکر سوه چي د غَلَّة د لفظ څلور معناوي دي: ① د ځمکي پیداوار، کومه مېوه وغيره چي له ځمکي څخه اخيستل کيږي، حاصلات، آمدن. له ځمکي څخه راتونکی فصل او دانې. ② أجرت او کرايه، يعني پر کور، دوکان او داسي نورو چي کومه کرايه اخيستل کيږي. ③ د غلام أجرت، يا په بله وينا د غلام مزدوري او ګټه (محاصل)، يعني غلام چي په خپل محنت او مزدوري سره کوم مال ګټي. ④ هغه کوټه دراهم کوم چي يې بيتُ المال (سرکار) نه قبلوي لېکن تاجران يې قبلوي. دلته اوله معنیٰ مراد ده. ﴿عرض﴾ د دې لفظ ډېر معناوي دي: پېش کېدل وغيره. عرض الوجود: د وجود پر پېشګاه، د وجود پېش کېدلو پر مقام. ﴿لا يتناول﴾ د تفاعل له بابه د نفي صيغه ده: شاملېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که زید مثلاً د خالد لپاره د خپل باغ د مېوې وصیت وکړي. مثلاً داسې ووایي چې زما تر مرګ وروسته دې زما د باغ مېوه خالد ته ورکول سي. بیا موصي (زید) مړ سي. نو د هغه په باغ کې چې فی الحاله کومه مېوه موجوده وي. موصیٰ لهٗ (خالد) صرف د هغه مېوې مستحق کیږي او د آینده مېوې نه مستحق کیږي. ها! که چیري موصي داسې وصیت وکړي چې زما د باغ مېوه د همېشه لپاره د خالد ده. یعني په ابدي توګه د هغه لپاره د مېوې وصیت وکړي. نو بیا د دغه کال او د آینده کلونو یعني تر څو چې موصیٰ لهٗ (خالد) ژوندی وي. تر هغه وخته پوري موصیٰ لهٗ د موصي د باغ د مېوې مستحق کیږي او په خپل ټوله ژوند کې به د هغه مېوه اخلي.

د دې په خلاف که موصي د خالد لپاره د خپل باغ د پیداوار او آمدن وصیت وکړي، نو موصیٰ له به د دې کال پیداوار هم اخلي او د آینده کلونو پیداوار به هم اخلي، که څه هم موصي د ابدیّت او همېشه توب صراحت نه وي کړی، بیا هم موصیٰ لهٗ (خالد) خپل ټوله ژوند د هغه مستحق کیږي.

والفرق أن الثمرة إلخ: صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چې په ثمره او غلّة یعني په مېوه او پیداوار کې فرق دا دی چې په عُرف کې ثمره هغه مېوې ته وایي کوم چې فی الحاله موجوده وي. نو ځکه د ثمرة په وصیت کې به هغه مېوه نه داخلیږي کوم چې معدومه وي او فی الحاله موجوده نه وي. ها! که چیري یو زائد لفظ داسې ذکر کړی سي کوم چې د همېشتوب پر معنیٰ دلالت وکړي لکه د أبد د لفظ صراحت کول. نو بیا د آینده وخت مېوه هم د ثمرة په وصیت کې شاملیږي.

ځکه په ثمره (مېوه) کې بذاتِ خود. که دوام نسته خو که چیري په هغه کې د دوام او ابدیّت ثابتولو لفظ ذکر سوی وو، نو بیا به په هغه کې د آینده وخت مېوه هم داخلول کیږي کوم چې فی الحاله معدومه وي، او معدوم که څه هم فی الحاله هیڅ شی نه دی، لېکن بیا هم هغه ذکر کېدلای سي (قابلِ ذکر دی)، لهذا که چیري صراحتاً د هغه ذکر وسي نو تأبید به ثابتیږي.

او پاته سو لفظ د غلّة (پیداوار)، نو هغه د عُرف او وضع دواړو په اعتبار سره مؤبد دی او موجود او معدوم دواړو لره شامل دی: ځکه پیداوار (آمدن) هماغه دی کوم چې یوماً فیوماً تر لاسه کیږي. نو ځکه د غلّة په لفظ سره د وصیت کولو په صورت کې به په دائمي توګه د موصیٰ لهٗ لپاره پیداوار ثابتیږي، که څه هم موصي د تأبید صراحت نه وي کړی. صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله په را روان عبارت کې په یو مثال سره د دې نور وضاحت کړی دی.

په یو مثال سره د پورتني تقرير وضاحت

يُقَالُ: فُلَانٌ يَأْكُلُ مِنْ غَلَّةِ بُسْتَانِهِ وَمِنْ غَلَّةِ أَرْضِهِ وَدَارِهِ ویل کیږي: چې فلانکی کس د خپل باغ پیداوار [حاصلات] خوري او د خپلې ځمکې او کور پیداوار [خوري] فَإِذَا أُطْلِقَتْ بیا کله چې [لفظ د] غله مطلق وویل سي يَتَنَاوَلُهُمَا عُرْفًا غَيْرَ مَوْقُوفٍ عَلَى دَلَالَةٍ أُخْرَى نو هغه عرفاً موجود او معدوم [ما يكون بعرض الوجود] دواړو لره شامليږي کوم چې پر يو بل دلالت [دلیل] نه موقوف کیږي أَمَّا الثَّمَرَةُ إِذَا أُطْلِقَتْ او هر چې [لفظ د] ثمره چې کله مطلق وویل سي لَا يُرَادُ بِهَا إِلَّا الْمَوْجُودُ نو په هغه سره صرف موجود [موجوده میوه] مراديږي فَلِهَذَا يَفْتَقِرُ الِانْصِرَافُ إِلَى دَلِيلٍ زَائِدٍ نو په دې وجه [د أبد وطرف ته] ګرځېدل [ابدي کېدل] په يو زائد دليل ته محتاج وي.

اللغات: ﴿غلّة﴾ پیداوار، حاصلات، څه مخکې د دې تفصيلي معنیٰ ذکر سوه. ﴿يفتقر﴾ د افتعال د باب مضارع ده: محتاج کېدل. ﴿انصراف﴾ د انفعال د باب مصدر دی: ګرځېدل.

تشريح: مخکې ذکر سوه چې د ثمرة او غلة (میوه او پیداوار) تر مینځ فرق دی چې په اول کې تأبید نسته او په دویم کې سته. دلته صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله په يو مثال سره د دې نور وضاحت کړی دی.

حاصل د عبارت دا دی چې کله د يو چا په باره کې مثلاً دا پوښتنه وسي چې فلانکی څه خوري يا مثلاً له کومه یې خوري يعني ضروريات له کومه پوره کوي؟، نو په جواب کې داسې ویل کیږي چې فلانکی د خپل باغ پیداوار (آمدن) يا د خپلې ځمکې پیداوار خوري، لېکن د میوې په هکله داسې نه ویل کیږي چې هغه د خپل باغ میوه خوري: ځکه میوه همېشه نه خوړل کیږي.

کله چې د دواړو تر مینځ دا فرق څرګند سو، نو دا خبره معلومه سوه چې کله لفظ د غله (پیداوار) مطلق وویل سي، نو هغه عرفاً موجود او معدوم (غیر موجود) دواړو لره شامليږي او دواړو لره د شاملېدلو لپاره بل زائد دليل ته ضرورت نه وي چې مثلاً لفظ د أبد ور سره ذکر کړی سي.

او کله چې لفظ د ثمره (میوه) مطلق وویل سي، نو له دې څخه صرف هغه میوه مراديږي کوم چې موجوده وي، نو ځکه د أبد وطرف ته د ګرځولو (او معدوم لره د شاملېدلو) لپاره يو زائد دليل ته ضرورت پېښ سو.

د پسونو او مېږو د وړيو، شيدو يا بچيانو د وصيت کولو حکم

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى لِرَجُلٍ بِصُوْفِ غَنَمِهٖ أَبَدًا فرمايي: او څوک چې ديو سړي لپاره په همېشه توګه د خپلو مېږو [او پسونو] د وړيو وصيت وکړي أَوْ بِأَوْلَادِهَا أَوْ بِلَبَنِهَا يا د هغوی د اولاد [وريانو] يا شيدو [وصيت وکړي] ثُمَّ مَاتَ بيا موصی [وصيت کونکی] مړ سي فَلَهٗ مَا فِيْ بُطُوْنِهَا مِنَ الْوَلَدِ نو د موصیٰ لهٗ لپاره هغه بچيان [وريان] دي کوم چې د هغوی په نسونو کي [موجود] وي وَمَا فِيْ ضُرُوْعِهَا مِنَ اللَّبَنِ او هغه شيدې دي کوم چې د هغوی په غولانځو کي [موجود] وي وَمَا عَلٰى ظُهُوْرِهَا مِنَ الصُّوْفِ او هغه وړۍ دي کوم چې د هغوی پر شاګانو [موجوده] وي يَوْمَ يَمُوْتُ الْمُوْصِيْ په کومه ورځ چې موصي مړ سي [يعني د موصي د مرګ په ورځ چې د هغوی په نسونو کي...إلخ] سَوَاءٌ قَالَ أَبَدًا أَوْ لَمْ يَقُلْ برابره ده موصي أبداً [د همېشه لپاره] ويلي وي او که نه وي لِأَنَّهٗ إِيْجَابٌ عِنْدَ الْمَوْتِ ځکه چې وصيت [د موصي] د مرګ په وخت کي ايجاب دی فَيُعْتَبَرُ قِيَامُ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ يَوْمَئِذٍ نو ځکه د دې شيانو موجودېدل به [د موصي] د مرګ په ورځ معتبر وي وَهٰذَا بِخِلَافِ مَا تَقَدَّمَ او دا د مخکنۍ مسئلې په خلاف دي وَالْفَرْقُ أَنَّ الْقِيَاسَ يَأْبٰى تَمْلِيْكَ الْمَعْدُوْمِ او فرق دا دی چې قياس د معدوم [ناموجوده شي] د تمليک انکار کوي لِأَنَّهٗ لَا يَقْبَلُ الْمِلْكَ ځکه چې معدوم ملکيت نه قبلوي إِلَّا أَنَّ فِي الثَّمَرَةِ وَالْغَلَّةِ الْمَعْدُوْمَةِ جَاءَ الشَّرْعُ بِوُرُوْدِ الْعَقْدِ عَلَيْهَا خو [څرنګه چې] په معدومه مېوه او معدوم پيداوار کي شريعت وارد سوی دی پر دوی [معدومه مېوه او غله] د عقد په باره کي [يعني کله چې د دوی د عقد په باره کي شريعت وارد سوی دی چې دا جائز دي] كَالْمُعَامَلَةِ وَالْإِجَارَةِ لکه مساقات او اجاره [له معامله څخه مساقات مراد دی چې مخکي يې باب تېر سو] فَاقْتَضٰى ذٰلِكَ جَوَازَهٗ فِي الْوَصِيَّةِ بِالطَّرِيْقِ الْأَوْلٰى نو ځکه دا به په درجه اولیٰ د دوی د جائز کېدلو مقتضي وي لِأَنَّ بَابَهَا أَوْسَعُ ځکه چې د وصيت باب ډېر وسيع دي [چې په هغه کي ډېر ګنجائش کېدلای سي] أَمَّا الْوَلَدُ الْمَعْدُوْمُ وَأُخْتَاهُ او کوم چې معدوم بچی دی او د هغه دوې خوندي [يعني صوف معدوم او لبن معدوم] فَلَا يَجُوْزُ إِيْرَادُ الْعَقْدِ عَلَيْهَا أَصْلًا نو پر هغوی د عقد واردول بالکل جائز نه دي وَلَا تُسْتَحَقُّ بِعَقْدٍ مَا او نه هغوی په يو عقد سره مستحق کېدلای

سي [یعني نه دیو عقد په ذریعه په هغوی کي د چا حق ثابتېدلای سي] فَكَذٰلِكَ لَايَدْخُلُ تَحْتَ الْوَصِيَّةِ نو همداسي به تر وصیت لاندي [هم] نه داخلیږي بِخِلَافِ الْمَوْجُوْدِ مِنْهَا په خلاف له دوی څخه د موجود [یعني موجود بچی. وړی او شیدي] لِأَنَّهُ يَجُوْزُ اسْتِحْقَاقُهَا بِعَقْدِ الْبَيْعِ تَبَعًا ځکه چي په عقد بیع سره تبعاً [د تابع په توګه] د هغوی [موجوداتو] مستحق کېدل جائز دي وَبِعَقْدِ الْخُلْعِ مَقْصُوْدًا او په عقدِ خلع سره مقصوداً [د مقصود په توګه د هغوی مستحق کېدلو جائز دي] فَكَذَا بِالْوَصِيَّةِ نو همداسي به په وصیت سره هم [د هغوی استحقاق جائز] وي.

اللغات: ﴿صوف﴾ وړی. د پسونو او مېږو وړېښته. ﴿غنم﴾ د "غَـنَم" لفظ اسم جنس دی. مذکر او مؤنث دواړو لره شاملیږي. همدارنګه پسونه. مېږي (ګډي). او بزې (وزې) ټول په دې لفظ کي داخل دي. په قرینه سره به یې معنیٰ متعیّنول کیږي. او دې ته د "غَـنَم" ویلو وجه دا ده چي پسونه او بزې نه د جهاد آلې دي او نه د دفاع آلې دي بلکي د هر چا لپاره غنیمت دي. ﴿ضروع﴾ جمع د ضَرْعٌ ده: غولانځه (د څاروي د بدن هغه برخه چي شیدې پکښي زېرمه کیږي). ﴿ظهور﴾ جمع د ظَهْرٌ ده: شا. ملا.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي که زید مثلاً د خالد لپاره دا وصیت وکړي چي هغه ته دي همېشه زما د پسونو وړی ورکول کیږي. یا د هغوی اولاد (وریان) دي ورکول کیږي. یا هغه ته دي همېشه زما د مېږو یا بزو (وزو) شیدې ورکول کیږي او بیا موصي (زید) مړ سي. نو موصیٰ لهٗ (خالد) ته به هاغه وړی یا شیدې او اولاد (وریان) ورکول کیږي کوم چي د موصي د مرګ په وخت کي موجود وي: ځکه وصیت د همدې مړګ په وخت کي ایجاب ګرځي (لکه مخکي چي ذکر سوه). لهذا د موصي تر مرګ وروسته د دې شیانو موجودېدل ضروري دي. نو ځکه د موصي د مرګ په وخت کي چي کومي وړی. شیدې او بچیان (وریان) موجود وي. موصیٰ لهٗ به صرف د هغوی مستحق کیږي او د معدوم یعني د آینده پیدا کېدونکو وړیو او شیدو او بچیانو به نه مستحق کیږي. که څه هم موصي په هغه کي د تأبید شرط لګولی وي.

د دې په خلا ثمرة او غلة دي. نو ثمرة (مېوه) د تأبید په صراحت سره مؤبد کیږي او معدوم لره شاملیږي او غلة (پیداوار) بیا خپله پر تأبید او دوام دلالت کوي (لکه مخکي چي ذکر سوه). نو ځکه په هغوی کي به په تأبید سره ابدیت او دائمیت ثابتیږي او هغوی به د موجود تر څنګ معدوم لره هم شاملیږي. لېکن په صوف. اولاد او لبن کي په هیڅ توګه ابدیت نه ثابتیږي او معدوم (آینده صوف وغیره) لره نه شاملیږي.

والفرق إلخ: له دې ځایه د دې فرق وجه ذکر کوي چې صُوف (وړی)، اولاد (بچیان) او لبن (شیدې) د تأبید د صراحت باوجود ولي معدوم لره نه شاملیږي؟ او ثمرة د تابید په صراحت سره ولي معدوم لره شاملیږي؟، نو فرمایي چې د قیاس تقاضا همدا ده چې د معدوم تملیک نه سي کېدلای (یعني بل څوک د هغه مالک نه سي جوړول کېدلای)؛ ځکه معدوم چې کله خپله ملکیت نه قبلوي، نو بل څوک ... د هغه مالک کېدلای سي!.

سوال: ثمرة او غلّة (مېوه او پیداوار) خو هم معدوم دي، حال دا چې په غله (پیداوار) کي تاسي د أبد له صراحت څخه بغیر او په ثمره (مېوه) کي د أبد په صراحت سره هغه پر معدوم مشتمل ګرځولی دی، د دې څه وجه ده؟.

جواب: د قیاس تقاضا خو همدا ده، خو څرنګه چې په ثمره او غله کي د مساقاة او اجارې په هکله شریعت وارد سوی دی او د دوی د معدوم کېدلو باوجود شریعت مساقاة او اجاره جائز ګرځولې ده (یعني په ثمره کي مساقات او په غله کي اجاره)، لهذا کله چې د دوی د معدوم کېدلو باوجود شریعت دوی جائز ګرځولي دي، نو د دوی وصیت خو به په دجه اولیٰ جائز او ثابت وي؛ ځکه چې د وصیت باب ډېر وسیع دی. لېکن صُوف، اولاد او لبن کوم چې تر اوسه معدوم وي دا ټوله داسي شیان دي چې پر هغوی د معدوم کېدلو په صورت کي هیڅ عقد نه سي کېدلای او نه په یو عقد سره د هغوی استحقاق ثابتېدلای سي، نو ځکه هغوی په وصیت کي نه سي داخلېدلای.

بخلاف الموجود منها إلخ: خو له هغوی (صُوف، اولاد او لبن) څخه چې کوم شیان فی الحاله موجود دي، نو د هغوی استحقاق د عقدِ بیع په ضمن کي تبعاً ثابتیږي، د مثال په توګه که یو څوک پسه یا مېږه رانیسي، نو تبعاً د هغه وړی، شیدې او بچی هم په بیع کي داخلیږي، همدارنګه په خلع کي مقصوداً دا شیان داخلیږي، مثلاً که ښځه خپل خاوند ته ووایي چې زما د مینځې یا زما د بزې په نس کي چې کوم بچی دی، د هغه په عوض کي زما سره خلع وکړه! او خاوند یې قبول کړي، نو قصداً پر هغه بچي خلع صحیح کیږي او هغه بچی به خاوند ته ورکول کیږي، نو کله چې دا درې شیان (کله چې موجود وي) تبعاً په بیع کي داخلیږي او په خلع کي قصداً داخلیږي، نو بیا به دوی په وصیت کي هم داخلیږي کله چې موجود وي او په دوی کي به وصیت صحیح کیږي. لېکن په معدوم کي نه صحیح کیږي، او د تأبید تعلق صرف د معدوم سره دی، نو ځکه موږ وایو چې د تأبید د صراحت باوجود په دوی کي تأبید نه ثابتیږي او معدوم لره نه شاملیږي.



بَابُ وَصِيَّةِ الذِّمِّيِّ

(دا) باب د ذمي د وصيت (په بيان کي) دی

تشريح: مخکي تر دې د مسلمانانو د وصيت احکام بيان سول. اوس له دې ځايه د ذميانو د وصيت په هکله احکام او مسائل بيانول کيږي؛ ځکه د معاملاتو په حق کي ذميان د مسلمانانو تابع دي او ښکاره خبره ده چي د تابع نوبت تر متبوع وروسته راځي.

د ذمي يهودي يا نصراني عبادت خانه د هغوی تر مرګ وروسته ميراث ګرځي

قَالَ: وَإِذَا صَنَعَ يَهُودِيٌّ أَوْ نَصْرَانِيٌّ بِيعَةً أَوْ كَنِيسَةً فِي صِحَّتِهِ فرمايي: او کله چي يو يهوي يا نصراني بيعه [ګرجا] يا کنيسه [کليسا] د خپل روغتيا په حالت کي جوړه کړي ثُمَّ مَاتَ بيا هغه مړ سي فَهُوَ مِيرَاثٌ نو هغه [بيعه او کنيسه] ميراث ده لِأَنَّ هٰذَا بِمَنْزِلَةِ الْوَقْفِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ځکه چي دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د وقف په درجه کي دي وَالْوَقْفُ عِنْدَهُ يُورَثُ وَلَا يَلْزَمُ او وقف د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز ميراث کيږي او نه لازميږي فَكَذَا هٰذَا نو همداسي به دا هم وي وَأَمَّا عِنْدَهُمَا فَلِأَنَّ هٰذِهِ مَعْصِيَةٌ او پاته سو د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز نو [په دې وجه ميراث کيږي] ځکه چي دا معصيت دی فَلَا تَصِحُّ عِنْدَهُمَا نو ځکه د دوی په نيز به صحيح نه وي.

اللغات: ﴿صنع﴾ د فتح د باب ماضي ده: جوړول. ﴿بِيعة﴾ (بكسر الباء): د يهودو او نصارىٰ وو عبادت خونه (عبادت خانه)، ګرجا. ﴿كنيسة﴾ د نصارىٰ وو (عيسايانو)، يهودو او عامو کفارو معبد (عبادت ځای)، يعني دا لفظ عام دی، کليسا.

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی که يو ذمي يهودي عبادت خانه (کنيسه) جوړه کړي، يا يو ذمي نصراني عبادت خانه (بيعه) جوړه کړي او د صحت په حالت کي يې جوړه کړي، بيا هغه مړ سي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا کنيسه او بيعه ميراث کيږي او د هغه په وارثانو کي به تقسيمول کيږي؛ ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا تعمير د وقف په درجه کي دی (ځکه چي هغه ذمي دا په خپل ژوند کي جوړ کړی دی. نو وصيت خو نه سي کېدلای بلکي وقف به وي) او وقف د امام صاحب رَحِمَهُ الله

په نېز لازم نه ګرځي بلکې میراث کیږي، نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دا عبادت خانه به د مړي په وارثانو کې تقسیمول کیږي.

د دې په خلاف د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز وقف که څه هم لازمیږي. لېکن صرف هغه وقف لازمیږي کوم چې معصیت نه وي او کنیسه او بیعه معصیت دي. لهذا د هغه وقف له سره صحیح نه دی او کله چې یې وقف صحیح نه دی، نو هغه به میراث کیږي او په میراث کې به تقسیمول کیږي.

که ذمي د یو معین قوم لپاره په خپل کور کې د عبادت خانې جوړولو وصیت وکړي؟

قَالَ: وَلَوْأَوْصٰى بِذٰلِكَ لِقَوْمٍ مُّسَمِّيْنَ فرمایي: او که هغه [یهودي یا نصراني] د دې [بیعه یا کنیسه د جوړولو] وصیت د یو معین قوم لپاره وکړي فَهُوَمِنَ الثُّلُثِ نو دا وصیت له ثلث څخه [معتبر] دی مَعْنَاهُ إِذَا أَوْصٰى أَنْ تُبْنٰى دَارُهُ بِيْعَةً أَوْ كَنِيْسَةً د دې مطلب دا دی چې کله هغه دا وصیت وکړي چې د هغه کور دې بیعه یا کنیسه جوړه کړل سي فَهُوَجَائِزٌ مِنَ الثُّلُثِ نو دا وصیت له ثلث څخه جائز دی لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ فِيْهَا مَعْنَى الِاسْتِخْلَافِ وَمَعْنَى التَّمْلِيْكِ ځکه په وصیت کې د استخلاف او تملیک معنیٰ سته وَلَهُ وِلَايَةُ ذٰلِكَ او ذمي لره د دې [استخلاف او تملیک دواړو] ولایت سته فَأَمْكَنَ تَصْحِيْحُهُ عَلٰى اِعْتِبَارِ الْمَعْنَيَيْنِ نو ځکه د دواړو معناوو په اعتبار سره د هغه صحیح ګرځول ممکن دي.

اللغات: ﴿مسمّين﴾ د تفعیل له بابه د جمع مذکر مفعول صیغه ده: نومول سوي، متعین، ټاکل سوي. ﴿بیعة﴾ او کنیسة: د تېر عبارت په لغاتو کې یې وضاحت وسو.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که ذمي د یو معین قوم او معین جماعت لپاره دا وصیت وکړي چې هغوی دې زما په کور کې بیعه یا کنیسه جوړه کړي او زما کور دې بیعه یا کنیسه وګرځول سي. نو د هغه دا وصیت جائز او صحیح دی او د هغه د مال په ثلث (درېیمه حصه) کې نافذیږي: ځکه په وصیت کې دوې معناوې سته: ① استخلاف (یعني مُوصي په وصیت سره مُوصیٰ لهٗ په موصیٰ به کې د ځان خلیفه جوړوي)، ② تملیک (یعني یا هغه د موصیٰ به مالک جوړوي)، او ذمي لره د استخلاف ملکیت (اختیار) هم سته او د تملیک ملکیت هم ور لره سته، نو ځکه د دواړو معناوو په اعتبار کولو سره د هغه وصیت وصحیح دی، نو د استخلاف د معنیٰ په اعتبار کولو سره موږ په ثلث کې د هغه وصیت جائز

وګرځوي او د تملیک د معنیٰ په رعایت کولو سره مورږ وویل چې د یو معیّن قوم لپاره د هغه وصیت صحیح دی. د دې لپاره چې معیّن قوم کما حقهٔ د وصیت (موصیٰ به) مالک جوړ کړل سي.

که مذکوره وصیت د غیر معیّن قوم لپاره وکړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِنْ أَوْصَى بِدَارِهِ كَنِيسَةً لِقَوْمٍ غَيْرِ مُسَمَّيْنَ فرمایي: او که هغه د یو غیر معیّن قوم لپاره د خپل کور د کنیسه ګرځولو وصیت وکړي جَازَتِ الْوَصِيَّةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز وصیت جائز دی وَقَالَا ❁: الْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چې وصیت باطل دی لِأَنَّ هٰذِهِ مَعْصِيَةٌ حَقِيقَةً ځکه چې دا په حقیقت کې معصیت دی وَإِنْ كَانَ فِي مُعْتَقَدِهِمْ قُرْبَةٌ که څه هم هغه د ذمیانو په عقیده کې قربت دی. وَالْوَصِيَّةُ بِالْمَعْصِيَةِ بَاطِلَةٌ او د معصیت وصیت باطل دی لِمَا فِي تَنْفِيذِهَا مِنْ تَقْرِيرِ الْمَعْصِيَةِ ځکه چې د هغه په نافذولو کې د معصیت ثابتول سته وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ هٰذِهِ قُرْبَةٌ فِي مُعْتَقَدِهِمْ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې دغه د دوی په عقیده کې قربت دی وَنَحْنُ أُمِرْنَا بِأَنْ نَتْرُكَهُمْ وَمَا يَدِينُونَ او مورږ ته حکم سوی دی چې هغوی او خپل دین [عقیده] سره پرېږدو فَتَجُوزُ بِنَاءً عَلَى اعْتِقَادِهِمْ نو ځکه دا وصیت به د دوی پر اعتقاد په بناء کولو سره جائز وي أَلَا يَرَى أَنَّهُ لَوْ أَوْصَى بِمَا هُوَ قُرْبَةٌ حَقِيقَةً مَعْصِيَةٌ فِي مُعْتَقَدِهِمْ آیا نه ګوري! چې که ذمي د یو داسې شي وصیت وکړي کوم چې په حقیقت کې قربت وي [لېکن] د ذمیانو په عقیده کې معصیت وي لَا تَجُوزُ الْوَصِيَّةُ اِعْتِبَارًا لِاعْتِقَادِهِمْ نو د دوی د عقیدې په اعتبار کولو سره وصیت جائز نه دی فَكَذَا عَكْسُهُ نو همداسې به د هغه برعکس [هم] وي.

اللغات: ﴿معصية﴾ ګناه، نافرماني، د ګناه کار. ﴿مُعتقد﴾ د افتعال د باب مفعول دی: د کوم څه چې انسان عقیده لري (کوم څه چې انسان خپل دین او عقیده ګرځولې وي)، اعتقاد. ﴿قربة﴾ نېکي، د نېکۍ کار، عبادت. ﴿يدينون﴾ د ضرب له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صیغه ده: دین اختیارول. عقیده لرل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که ذمي د یو غیر معیّن قوم لپاره د کنیسه (کلیسا) جوړولو وصیت وکړي، مثلاً داسې ووایي چې زما په کور کې دې کنیسه جوړه کړل سي او دا نه وښیي چې د

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، انظر للتوضيح [القول الراجح ج:۲، ص:۳۸۴] ۱

جوړولو حق کومو خلکو لره دی او څوک دي يې جوړه کړي؟، نو د دې وصيت په جواز کې دامام صاحب او د صاحبينو رَحِمَهُمُ الله اختلاف دی. دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په دغه صورت کې هم وصيت جائز دی، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز دا وصيت باطل دی.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې دا په حقيقت کې يو معصيت دی او د معصيت وصيت باطل دی که څه هم د ذميانو په دين او عقيده کې کنيسه او بيعه جوړول قربت او عبادت دی. لېکن زمونږ په نيز دا معصيت دی او د دغه وصيت په نافذولو کې د معصيت اثبات لازميږي. کوم چې په هيڅ صورت کې صحيح نه دی.

ولأبي حنيفة إلخ: دامام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دليل دا دی چې کنيسه او بيعه جوړول د ذميانو په عقيده کې قربت او عبادت دی او موږ ته دا حکم سوی دی چې ذميان او خپل دين سره پرېږدو او د هغوی په اعتقاد کار نه ولرو!. نو ځکه په حقيقت کې د معصيت کېدلو باوجود به د ذميانو اعتقاد او دين ته په کتلو سره دا وصيت جائز ګرځول کيږي، همدا وجه ده که ذمي په خپل کور کې د مسجد جوړولو وصيت وکړي، نو في نفسه خو دا وصيت قربت دی، لېکن څرنګه چې د ذميانو په خپله عقيده کې دا معصيت دی او د جواز او د عدم جواز مدار د دوی پر عقيده دی، نو ځکه د دوی عقيدې ته په کتلو سره د ذمي د مسجد جوړولو وصيت باطل دی.

پر امام صاحب رَحِمَهُ الله د يو واردېدونکي اعتراض جواب

ثُمَّ الْفَرْقُ لِأَبِي حَنِيفَةَ بَيْنَ بِنَاءِ الْبِيعَةِ وَالْكَنِيسَةِ وَبَيْنَ الْوَصِيَّةِ بِهِ بيا دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د بيعه او کنيسه جوړولو په مينځ کې او د هغه د وصيت کولو په مينځ کې فرق دی أَنَّ الْبِنَاءَ نَفْسَهُ لَيْسَ بِسَبَبٍ لِزَوَالِ مِلْكِ الْبَانِي چې نفس بناء [جوړول] د باني [جوړونکي] د ملکيت زائلېدلو سبب نه دي وَإِنَّمَا يَزُولُ مِلْكُهُ بِأَنْ يَصِيرَ مُحْرَزًا خَالِصًا لِلَّهِ تَعَالَى او د باني ملکيت په دې تو ګه زائليږي چې هغه محرز [محفوظ] او د الله تعالیٰ لپاره خالص سي كَمَا فِي مَسَاجِدِ الْمُسْلِمِينَ لکه د مسلمانانو په مسجدونو کې وَالْكَنِيسَةُ لَمْ تَصِرْ مُحْرَزَةً لِلَّهِ تَعَالَى حَقِيقَةً او کنيسه په حقيقت کې د الله تعالیٰ لپاره محرزه نه وي فَتَبْقَى مِلْكًا لِلْبَانِي نو کنيسه به د باني لپاره ملکيت پاته سي فَتُورَثُ عَنْهُ نو ځکه کنيسه به د باني له طرفه ميراث کيږي وَلِأَنَّهُمْ يَبْنُونَ فِيهَا الْحُجُرَاتِ وَيَسْكُنُونَهَا او ځکه چې

دوی [يهودو او نصاری] په کنيسه کي خوني [کوټي] جوړي او په هغوی کي اوسيږي فَلَمْ يَتَحَرَّزْ لِتَعَلُّقِ حَقِّ الْعِبَادِ بِهِ نو هغه محرزه نه سوه. د هغه سره د بندګانو د حق متعلق کېدلو په وجه وَفِي هٰذِهِ الصُّوْرَةِ يُوْرَثُ الْمَسْجِدُ أَيْضًا لِعَدَمِ تَحَرُّزِهِ او په دغه صورت کي د محرز نه کېدلو په وجه مسجد هم ميراث کيږي بِخِلَافِ الْوَصِيَّةِ په خلاف د وصيت لِأَنَّهُ وُضِعَ لِإِزَالَةِ الْمِلْكِ ځکه چي وصيت [د موصي] د ملکيت زائلولو لپاره وضع سوی دی إِلَّا أَنَّهُ امْتَنَعَ ثُبُوْتُ مُقْتَضَاهُ فِيْ غَيْرِ مَا هُوَ قُرْبَةٌ عِنْدَهُمْ خو په هغه شي کي د وصيت د مقتضٰی ثابتېدل ممتنع دي کوم چي د دوی په نېز قربت نه وي فَبَقِيَ مَا هُوَ قُرْبَةٌ عَلٰى مُقْتَضَاهُ نو د هغه شي وصيت کوم چي قربت وي پر خپل مقتضٰی به باقي پاته وي فَيَزُوْلُ مِلْكُهُ نو د باني [موصي] ملکيت به زائل سي فَلَا يُوْرَثُ نو ځکه هغه به [د موصي د وارثانو ترمينځ] نه ميراث کيږي.

اللغات: ﴿بناء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: جوړول، تعميرول. ﴿بانی﴾ له مخکيني باب څخه د فاعل صيغهٔ ده: جوړونکی، تعميرونکی. ﴿تورث﴾ د افعال له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع صيغه ده. د دې باب له معناوو څخه يوه معنٰی ده: ميراث ګرځېدل. ميراث کېدل. ﴿مُحرز﴾ د افعال د باب مفعول دی. د دې باب څو معناوي دي: محفوظ (خوندي کړل سوی). ذخيره کړل سوی. جمع کړل سوی. ﴿حُجرات﴾ جمع د حُجْرَةٌ ده: خونه. هر احاطه کړی سوی ځای.

تشريح: په دې عبارت کي د يو اعتراض جواب ورکول سوی دی کوم چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله پر مسلک وارديږي چي کله ذمي د کنيسه يا د بيعه د جوړولو وصيت وکړي، نو امام صاحب رَحِمَهُ الله هغه جائز ګرځوي خو که چيري ذمي په خپل ژوند کي کنيسه او بيعه جوړه کړي، نو امام صاحب هغه باطل او غيرِ لازم ګرځوي او په هغه کي ميراث جاري کوي. آخر د دې څه وجه ده؟ د همدې په جواب کي صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چي په بناء او وصيت کي فرق دی. لهذا دواړو ته په يوه نظر کتل صحيح نه دي. هغه فرق دا دی چي په نفسِ بناء (جوړولو) سره د باني ملکيت نه زائليږي: ځکه د کنيسه يا د بيعه په جوړولو سره به په هغه صورت کي د باني ملکيت زائلېدلای کله چي دا خالص د الله لپاره محرز وای. حال دا چي په کنيسه کي يهود خپل د استوګني لپاره حجري او ځايونه جوړوي او پکښي اوسيږي او په دې حواله د هغه سره حقُ العباد متعلق کيږي. لهذا کله چي په

کنیسه او بیعه کې د باني ملکیت باقي دی نو ښکاره ده چې د هغه تر مرګ وروسته به د هغه د وارثانو تر مینځ میراث کیږي او تقسیمیږي او په هغه کې به وصیت باطلیږي.
د دې په خلاف د مسلمانانو چې کوم مسجدونه دي. هغوی خالص د الله لپاره محرز او وقف وي او د واقف ملکیت په کامله توګه له مسجد څخه زائلیږي. په همدې وجه په دې مسجد کې وراثت نه جاري کیږي. ها! که چیرې یو مسلمان په عارضي توګه په خپله ځمکه کې مسجد جوړ کړي. بیا پر هغه ځمکه خپل کور جوړ کړي. نو د عدم إحراز په وجه دا مسجد هم میراث کیږي او په وارثانو کې تقسیمږي.
د دې په خلاف وصیت دی. نو وصیت خو وضع سوی د همدې لپاره دی چې له موصیٰ بهٖ څخه د موصي ملکیت زائل سي او هغه د موصیٰ لهٗ په ملکیت کې داخل سي، خو دلته به د دې خیال ساتل کیږي چې وصیت صرف په همغه شي کې صحیح او مؤثر کیږي کوم چې د ذمیانو په اعتقاد کې قربت وي او کوم شی چې د دوی په اعتقاد کې قربت نه وي، په هغه کې وصیت نه صحیح کیږي او نه پکښې مؤثر کیږي. او په کوم شي کې چې وصیت صحیح کیږي، له هغه څخه د موصي ملکیت زائلیږي او د ملکیت له زوال څخه وروسته دا شی د موصي په وارثانو کې نه سي تقسیمېدلای (ځکه چې هغه د دوی د مورث [موصي] په ملکیت کې پاته نه دی).
د ذمي د وصیت اقسام
ثُمَّ الْحَاصِلُ أَنَّ وَصَايَا الذِّمِّيِّ عَلَىٰ أَرْبَعَةِ أَقْسَامٍ بیا حاصل دا دی چې د ذمي وصیتونه پر څلور قسمه دي مِنْهَا أَنْ تَكُونَ قُرْبَةً فِي مُعْتَقَدِهِمْ وَلَا تَكُونَ قُرْبَةً فِي حَقِّنَا له هغوی څخه یو دا دی چې هغه وصیت د ذمیانو په عقیده کې قربت وي او زموږ په حق کې قربت نه وي وَهُوَ مَا ذَكَرْنَاهُ او دا هاغه دی کوم چې موږ ذکر کړی وَمَا إِذَا أَوْصَى الذِّمِّيُّ بِأَنْ تُذْبَحَ خَنَازِيرُهُ وَتُطْعَمَ الْمُشْرِكِينَ او دا چې ذمي داسي وصیت وکړي چې د هغه خنزیران دي ذبح کړل سي او په مشرکانو دي وخوړل سي وَهٰذِهِ عَلَى الْخِلَافِ إِذَا كَانَ لِقَوْمٍ غَيْرِ مُسَمَّيْنَ او دا صورت پر اختلاف دی. کله چې وصیت د غیر معین [نا متعین] قوم لپاره وي كَمَا ذَكَرْنَاهُ لکه څرنګه چې [څه مخکې] موږ ذکر کړه وَالْوَجْهُ مَا بَيَّنَّاهُ او وجه [دلیل] هاغه دی کوم چې موږ [هلته] بیان کړی.
اللغات: ﴿قربة﴾ نېکي او د نېکۍ کار. عبادت. ﴿غیر مسمّین﴾ غیر نومول سوی. نا متعین. نا معلوم.

تشريح: د صاحبينو او د امام صاحب رَحِمَهُمَا الله د اختلاف او دلائلو له بيان څخه وروسته اوس صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د خلاصې په توګه فرمايي چې ورور! د ذمي وصيتونه پر څلور قسمه دي. له هغوى څخه يو قسم دا دى چې ذمي د داسې شي وصيت وكړي كوم چې د دوى په حق كي قربت وي او زموږ په حق كي معصيت او زحمت وي لكه د بيعه او كنيسه د جوړولو وصيت. يا مثلاً د ذمي دا وصيت چې زما خنزيران دي ذبح كړل سي او مشركانو ته دي وركول سي. نو دا هم د هغه په حق كي قربت دى او زموږ په حق كي معصيت دى. اوس كه دا وصيت د غير معين قوم لپاره وي. نو په دې كي د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مخكينى اختلاف دى يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دا وصيت جائز دى او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز باطل دى: او مخكي چې د دوى كوم دلائل ذكر سول. هغه په دې كي هم جاري كيږي.

دويم قسم

وَمِنْهَا إِذَا أَوْصَى بِمَا يَكُونُ قُرْبَةً فِي حَقِّنَا وَلَا يَكُونُ قُرْبَةً فِي مُعْتَقَدِهِمْ او له هغه قسمونو څخه بل قسم دا دى چې كله ذمي د داسې شي وصيت وكړي كوم چې زموږ په حق كي قربت وي او د ذميانو په عقيده كي قربت نه وي كَمَا إِذَا أَوْصَى بِالْحَجِّ لكه كله چې هغه د حج وصيت وكړي أَوْ بِأَنْ يُبْنَى مَسْجِدٌ لِلْمُسْلِمِينَ يا دا وصيت وكړي چې د مسلمانانو لپاره دي يو مسجد جوړ كړى سي أَوْ بِأَنْ يُسْرَجَ فِي مَسَاجِدِ الْمُسْلِمِينَ يا دا وصيت وكړي چې د مسلمانانو په مسجد كي دي څراغونه ولګول سي فَهٰذِهِ الْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌ بِالْإِجْمَاعِ نو دغه وصيت بالاجماع باطل دى اِعْتِبَارًا لِاعْتِقَادِهِمْ د ذميانو د اعتقاد په اعتبار كولو سره إِلَّا إِذَا كَانَ لِقَوْمٍ بِأَعْيَانِهِمْ مګر دا چې كله دا وصيت د يو معين قوم لپاره وي (نو بيا جائز دى) لِوُقُوعِهِ تَمْلِيكًا ځكه (په دې صورت كي) وصيت تمليك واقع كيږي لِأَنَّهُمْ مَعْلُومُونَ ځكه چې هغه قوم (چې د هغوى لپاره وصيت سوى دى) معلوم دي وَالْجِهَةُ مَشُوْرَةٌ او جهت مشهوره ده (يعني د وصيت كوم جهت چې ذمي بيان كړى دى چې زما مال دي په حج يا په بناء المسجد يا په إسراج في المساجد كي صرف كړى سي. دا د ذمي له طرفه صرف مشهوروده. ضروري امر نه دى).

اللغات: ﴿يسرج﴾ د افعال له بابه د مضارع مجهولي صيغه ده. د دې باب دوې معناوي دي: څراغ روښانه كول (لګول). پر آس زين ايښوول. ﴿تمليك﴾ د تفعيل د باب مصدر دى: مالک كول. مالک جوړول.

تشریح: د ذمي د وصیت دویم قسم دا دی چې هغه د داسې شي وصیت وکړي کوم چې زموږ په حق کې قربت وي لېکن د ذمیانو په عقیده او دین کې قربت نه وي. مثلاً ذمي دا وصیت وکړي چې زما له مال څخه دې په یو مسلمان حج وکړی سي (د حج لپاره دې مال او نفقه ورکول سي). یا زما له مال څخه دې د مسلمانانو عبادت خانه (مسجد) جوړ کړی سي. یا زما له مال څخه دې د مسلمانانو په مساجدو کې څراغونه ولګول سي. نو په دې صورتونو کې که چیرې وصیت د غیر معین قوم او جماعت لپاره وي، نو بیا د ذمیانو د عقیدې په اعتبار کولو سره بالاتفاق دا وصیت باطل دی. او که دا وصیت د معیّن قوم او معلوم جماعت لپاره وي. نو جائز دی: ځکه چې دلته موصیٰ لهم متعیّن او معلوم دي نو د دې وصیت مطلب به دا وي چې ذمي (موصي) دا معیّن قوم د دغه مال مالکان جوړ کړل.

او ذمي چې دلته کوم دا جهت بیان کړی دی چې زما دا مال دې په حج کې صرف کړی سي یا د مسجد په جوړولو یا د څراغو په لګولو کې دې صرف کړی سي، نو دا به د هغه له طرفه صرف مشوره شمېرل کیږي او د هغه له طرفه به ضروري امر نه ګرځول کیږي. نو ځکه موصیٰ لهم چې چیرې هم د دغه موصیٰ به مال مصرفول وغواړي. هغو ته به د دې اختیار وي.

دریم قسم

وَمِنْهَا إِذَا أَوْصَى بِمَا يَكُونُ قُرْبَةً فِي حَقِّنَا وَفِي حَقِّهِمْ او له هغوی څخه بل قسم دا دی چې کله ذمي د داسې شي وصیت وکړي کوم چې زموږ او د دوی [تولو] په حق کې قربت وي كَمَا إِذَا أَوْصَى بِأَنْ يُسْرَجَ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ لکه کله چې هغه دا وصیت وکړي چې په بیت المقدس کې دې څراغونه ولګول سي أَوْ يُغْزَى التُّرْكُ وَهُوَ مِنَ الرُّومِ یا [دا وصیت وکړي چې] د ترک یعني د روم والا سره دې جنګ وکړی سي وَهٰذَا جَائِزٌ او دا جائز دی سَوَاءٌ كَانَ الْقَوْمُ بِأَعْيَانِهِمْ أَوْ بِغَيْرِ أَعْيَانِهِمْ برابر ده قوم معیّن وي او که غیر معیّن وي لِأَنَّهُ وَصِيَّةٌ بِمَا هُوَ قُرْبَةٌ حَقِيقَةً ځکه چې دا د داسې شي وصیت دی کوم چې حقیقتاً قربت دی وَفِي مُعْتَقَدِهِمْ أَيْضًا او د دوی په عقیده کې هم [قربت دی]:

اللغات: ﴿يُغزىٰ﴾ د افعال له بابه د مضارع مجهولي صیغه کول: جنګ او غزا لره ایستل. جهاد او غزا ته استول.

تشریح: دا د ذمي د وصیت دریم قسم دی کوم چې زموږ په نېز هم قربت دی او د دوی په عقیده کې هم قربت دی. مثلاً ذمي په بیتُ المقدس کې د څراغو د لګولو وصیت وکړي. یا د رومیانو سره د غزا کولو وصیت وکړي (چې مثلاً زما آسونه یا زما زغري دې د رومیانو سره په جنګ کې استعمال کړل سي او

داسي نور)، څرنګه چې زموږ او د دوی ټولو په نيز دا قربت دی. نو ځکه مطلقاً دا وصيت جائز دی. برابره ده موصیٰ لهم معیّن وي او که نه وي. په هر صورت کې وصيت جائز او صحيح دی؛ ځکه د وصيت صحيح کېدلو مدار پر قربت دی او دلته له دواړو طرفونو څخه قربت موجود دی.

خلورم قسم

وَمِنْهَا إِذَا أَوْصَى بِمَا لَا يَكُونُ قُرْبَةً لَا فِي حَقِّنَا وَلَا فِي حَقِّهِمْ او له هغوی څخه بل قسم دا دی چې ذمي د داسي شي وصيت وکړي کوم چې نه زموږ په حق کې قربت وي او نه د ذميانو په حق کې كَمَا إِذَا أَوْصَى لِلْمُغَنِّيَاتِ وَالنَّائِحَاتِ لکه کله چې هغه د بدلچیو [سروز ګرو] او نوحه کونکو ښځو لپاره وصيت وکړي فَإِنَّ هٰذَا غَيْرُ جَائِزٍ نو دا جائز نه دي لِأَنَّهُ مَعْصِيَةٌ فِي حَقِّنَا وَفِي حَقِّهِمْ ځکه چې دا زموږ او د دوی [ټولو] په حق کې معصيت دی إِلَّا أَنْ يَكُونَ لِقَوْمٍ بِأَعْيَانِهِمْ مګر دا چې دا وصيت د يو معيّن قوم لپاره وي. فَيَصِحُّ تَمْلِيكًا وَاسْتِخْلَافًا نو بيا صحيح دی د تمليک او استخلاف دواړو په اعتبار سره.

اللغات: ﴿مُغنيات﴾ جمع د مُغنّية ده: بدله او سندره ويونکې ښځه (سروز ګره ښځه)، هغه ښځه چې د هغې پېشه سروز، بدله او سندره ويل وي او همدا يې خپل کسب ګرځولی وي. ﴿نائحات﴾ جمع د نَائحةٌ ده: ژړونکې ښځه، کومه ښځه چې پر مړي ژړاوې کوي، هغه ښځه کومه چې په اُجرت او کرايه سره ژړا کوي چې د هغې کسب او پېشه همدا ژړا وي. ﴿استخلاف﴾ د استفعال د باب مصدر دی: خليفه ټاکل، خليفه جوړول.

تشريح: د ذمي له وصيتونو څخه دا آخري او څلورم قسم دی چې د هغه حاصل دا دی چې که ذمي د يو داسي شي وصيت وکړي کوم چې نه زموږ په حق کې قربت وي او نه د ذميانو په حق کې قربت وي، مثلاً هغه د سندرغاړو سروز ګرو ښځو يا د نوحه کونکو ښځو لپاره وصيت وکړي، نو دا وصيت جائز نه دی؛ ځکه سندرې او بدلې (ګانې) ويل او نوحه کول زموږ په حق کې هم معصيت دی او د ذميانو په حق کې هم معصيت دی او د معصيت وصيت صحيح نه دی.

ها! که چيرې دا وصيت د يو معيّن قوم لپاره وي؛ نو بيا دا وصيت صحيح دی. لېکن من حيث القربت نه. بلکې من حيث التمليک والاستخلاف (لکه مخکې چې د دې وضاحت وسو)، او په تمليک او استخلاف کې قربت نه کتل کيږي.

د بدعتیانو د وصیت حکم او تفصیل

وَصَاحِبُ الْهَوىٰ إِنْ كَانَ لَا يُكَفَّرُ او بدعت والا که چیري هغه [د خپل بدعت په وجه] کافر نه ګرځول کیږي فَهُوَ فِي حَقِّ الْوَصِيَّةِ بِمَنْزِلَةِ الْمُسْلِمِيْنَ نو د وصیت په حق کي هغه د مسلمانانو په درجه کي دی لِأَنَّا أُمِرْنَا بِبِنَاءِ الْأَحْكَامِ عَلَى الظَّاهِرِ ځکه چي موږ ته پر ظاهر د احکامو د مبني کولو حکم سوی دی وَإِنْ كَانَ يُكَفَّرُ او که هغه [بدعتي] کافر ګرځول کیږي فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُرْتَدِّ نو هغه د مرتد په درجه کي دی فَيَكُوْنُ عَلَى الْخِلَافِ الْمَعْرُوْفِ فِي تَصَرُّفَاتِهِ بَيْنَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَصَاحِبَيْهِ نو دا به پر هغه اختلاف وي کوم چي د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله په مینځ کي د مرتد د تصرفاتو په هکله پیژندل سوی [او مشهوره] دی وَفِي الْمُرْتَدَّةِ الْأَصَحُّ أَنَّهُ تَصِحُّ وَصَايَاهَا او د مرتده ښځي په باره کي زیات صحیح قول دا دی چي د هغې وصیتونه صحیح کیږي لِأَنَّهَا تَبْقَى عَلَى الرِّدَّةِ ځکه چي مرتده ښځه پر ارتداد باقي پاتېدلای سي بِخِلَافِ الْمُرْتَدِّ په خلاف د مرتد سړي لِأَنَّهُ يُقْتَلُ أَوْ يُسْلِمُ ځکه چي هغه به قتلول کیږي یا به اسلام راوړي.

اللغات: ﴿هوىٰ﴾ د نفس میلان، خواهش. خپل خوښ شي ته میلان کول بغیر له دې چي په هغه کي د شریعت حکم ته وکتل سي (معجم وسیط). صاحب الهوىٰ: مراد بدعتي (احسن الهدایه). ﴿لا يُكفر﴾ د تفعیل له بابه د نفي صیغه ده. تکفیر: د دې باب یوه معنیٰ ده: کفر ته منسوب کول. کافر ګرځول. کافر ګڼل.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی چي که د اهلِ هویٰ او بدعتیانو بدعت د کفر حدٔ ته نه وي رسېدلی (چي د هغه په وجه دوی کافران وګرځول سي)، نو د وصیت په حق کي دوی د مسلمانانو په درجه کي دي او په کومو اُمورو کي چي د مسلمانانو وصیت نافذیږي. په هغه کي د دوی وصیت هم نافذیږي: ځکه موږ ته دا حکم سوی دی چي پر ظاهرِ حال حکم مبني کړو او پر ظاهر حکم ولګوو. لهذا د ظاهر حال مطابق به موږ دا د اسلام دعویٰ کونکي خلک مسلمانان ګڼو او د هغو وصیت به نافذوو. لېکن که د بدعتي بدعت د کفر حدٔ ته رسېدلی وي (چي د هغه په وجه بدعتي کافر ګرځول کېدلای سي) نو هغه د مرتد په درجه کي دی. او د مرتد په هکله د امام صاحب او صاحبینو رَحِمَهُمُ الله اختلاف مخکي (د هدایه ثاني په آخر کي) پیژندل سوی او مشهوره دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز د مرتد تصرفات موقوف

کيږي او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز د هغه تصرفات نافذيږي. نو پر همدغه اختلاف د هغه وصيت هم دی.

لېکن که وصيت کونکې ښځه وي او هغه سخته بدعتي وي. نو د مرتد والي باوجود هغه د وصيت په حق کې د ذميه ښځې په درجه کې ده او د ذميه ښځې په څېر به د هغې تصرفات نافذيږي؛ ځکه ښځه په ارتداد باقي پاتېدلای سي. لېکن سړی که مرتد وي نو هغه په ارتداد قائم نه سي پاتېدلای: ځکه چې په شريعت کې د هغه مخ ته صرف دوې لارې دي: ① قتل. ② يا اسلام. لهذا مرتد سړی د وصيت په حق کې د ذمي په درجه کې نه سي کېدلای.

د مستأمن حربي وصيت

قَالَ: وَإِذَا دَخَلَ الْحَرْبِيُّ دَارَنَا بِأَمَانٍ فرمايي: او کله چې حربي کافر زموږ دار [دارالاسلام] ته په امان اخيستلو سره داخل سي فَأَوْصٰى لِمُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ بِمَالِهِ كُلِّهِ بيا هغه د يو مسلمان يا ذمي لپاره د خپل ټوله مال وصيت وکړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّ امْتِنَاعَ الْوَصِيَّةِ بِمَا زَادَ عَلَى الثُّلُثِ لِحَقِّ الْوَرَثَةِ ځکه چې له ثلث څخه د زيات مال وصيت ممتنع کېدل د وارثانو د حق په وجه دي وَلِهٰذَا تَنْفُذُ بِإِجَازَتِهِمْ په همدې وجه دا [تر ثلث د زيات مال] وصيت د وارثانو په اجازه سره نافذيږي وَلَيْسَ لِوَرَثَتِهِ حَقٌّ مَرْعِيٌّ او د مستأمن حربي وارثانو لره څه داسې حق نسته چې د هغه رعايت وکړی سي لِكَوْنِهِمْ فِي دَارِ الْحَرْبِ ځکه د هغه وارثان په دارُ الحرب کې دي إِذْ هُمْ أَمْوَاتٌ فِي حَقِّنَا ځکه چې هغوی [حربيان] زموږ په حق کې مړه دي وَلِأَنَّ حُرْمَةَ مَالِهِ بِاعْتِبَارِ الْأَمَانِ او ځکه چې د مستأمن حربي د مال حرمت د امان په وجه دی وَالْأَمَانُ كَانَ لِحَقِّهِ لَا لِحَقِّ وَرَثَتِهِ او امان د هغه د حق په وجه دی. نه د هغه د وارثانو د حق په وجه وَلَوْ كَانَ أَوْصٰى بِأَقَلَّ مِنْ ذٰلِكَ او که مستأمن حربي له ټوله مال څخه د کم مال وصيت وکړي أُخِذَتِ الْوَصِيَّةُ وَيُرَدُّ الْبَاقِيْ عَلٰى وَرَثَتِهِ نو د وصيت په اندازه به اخيستل کيږي او پاته مال به د مستأمن وارثانو ته واپس کول کيږي وَذٰلِكَ مِنْ حَقِّ الْمُسْتَأْمَنِ أَيْضًا او دا هم د مستأمن حق په وجه دي وَلَوْ أَعْتَقَ عَبْدَهُ عِنْدَ الْمَوْتِ او که مستأمن حربي د مرګ په وخت کې خپل غلام آزاد کړي أَوْ دَبَّرَ عَبْدَهُ يا خپل غلام مدبر جوړ کړي فِيْ دَارِ الْإِسْلَامِ په دار الاسلام کې فَذٰلِكَ

صَحِيْحٌ مِنْهُ مِنْ غَيْرِ اعْتِبَارِ الثُّلُثِ نو دا د هغه له طرفه د ثلث له اعتبار کولو څخه بغير صحيح دی لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿مرعي﴾ د فتح د باب مفعول دی: رعايت کړی سوی. لحاظ کړی سوی (ملحوظ). ﴿مستأمن﴾ د استفعال له بابه اسم فاعل دی: امان غوښتونکی، امان اخيستونکی. هغه حربي کافر کوم چي امان طلب کړي او دار الاسلام ته راسي، او د دار اسلام له طرفه هغه ته د هغه پر ځان او مال امان ورکول سي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که يو حربي کافر امان طلب کړي او د امن په وېزه دار الاسلام ته راسي او بيا په دار الاسلام کي د يو مسلمان يا ذمي لپاره د خپل ټوله مال وصيت وکړي، نو دا وصيت جائز او صحيح دی که څه هم هغه د خپل مال له ثلث (درېيمي حصې) څخه د زيات مال وصيت وکړي؛ ځکه له ثلث څخه د زيات مال وصيت د وارثانو د حق په وجه ممتنع دی. حال دا چي د دغه مستأمن حربي د مال سره د هغه د وارثانو هيڅ حق متعلق نه دی؛ ځکه چي د هغه وارثان حربي کافران دي او حربيان زموږ په حق کي د مړو په درجه کي دي، همدارنګه د دې مستأمن حربي (موصي) د مال حرمت د هغه د خپل امان په وجه دی او امان صرف مستأمن حربي (موصي) ته حاصل دی. د هغه وارثانو ته حاصل نه دی. نو ځکه په دې حواله سره به هم د وارثانو د حق رعايت نه کول کيږي او د موصي په ټوله مال کي به وصيت صحيح وي.

ولو كان أوصى إلخ: د دې حاصل دا دی چي که حربي مستأمن د خپل ټوله مال وصيت نه وي کړی. بلکي د څه مال وصيت يې کړی وي. نو هغه چي د څومره مال وصيت کړی وي. هغومره مال به ځني اخيستل کيږي او ما بقي مال به د هغه وارثانو ته واپس کول کيږي. لېکن دا واپس کول د دغه مستأمن حربي (موصي) د حق په وجه دي. نه د وارثانو د حق په وجه. او په دې وجه به هغه ما بقي مال د ده وارثانو ته ورسپارل کيږي چي د مستأمن د حق رعايت وسي او د ده مال صحيح ځای ته ورسيږي.

ولو أعتق عبدا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که مستأمن حربي په دار الاسلام کي مړ سي او د مرګ په وخت کي هغه خپل غلام آزاد کړي يا يې مدبر جوړ کړي، نو دا اعتاق او تدبير صحيح دی او په هغه کي به د ثلث اعتبار نه کيږي بلکي په ټوله غلام کي اعتاق او تدبير صحيح دی؛ ځکه د ثلث اعتبار د وارثانو د حق په وجه کيږي. حال دا چي د حربي کافر وارثان زموږ په حق کي مړه دي. نو ځکه د هغو د حق رعايت به نه کيږي.

د مستأمن حربي لپاره د مسلمان یا ذمي د وصیت کولو حکم

وَكَذٰلِكَ لَوْ أَوْطٰى لَهُ مُسْلِمٌ أَوْ ذِمِّيٌّ بِوَصِيَّةٍ او همدارنګه که چیري د مستأمن حربي لپاره یو مسلمان یا ذمي وصیت وکړي جَازَ نو جائز دي لِأَنَّهُ مَا دَامَ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ ځکه تر څو چي هغه په دار الاسلام کي وي فَهُوَ فِي الْمُعَامَلَاتِ بِمَنْزِلَةِ الذِّمِّيِّ نو هغه په معاملاتو کي د ذمي په درجه کي دی وَلِهٰذَا تَصِحُّ عُقُودُ التَّمْلِيكَاتِ مِنْهُ فِي حَالِ حَيَاتِهِ په همدې وجه د مسلمان له طرفه د هغه په خپل ژوند کي د مستأمن حربي سره د تملیکاتو عقود [معاملات] کول صحیح دي وَيَصِحُّ تَبَرُّعُهُ فِي حَيَاتِهِ او د مسلمان په خپل ژوند کي [د مستأمن حربي سره] د هغه تبرّع کول صحیح دي فَكَذَا بَعْدَ مَمَاتِهِ نو همداسي د مسلمان تر مرګ وروسته هم [صحیح] دي وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ او له شیخینو رَحِمَهُمَا الله څخه روایت دی چي دا جائز نه دي لِأَنَّهُ مُسْتَأْمَنٌ مِنْ أَهْلِ الْحَرْبِ ځکه چي هغه داسي مستأمن [امان اخیستونکی] دی کوم چي له حربیانو څخه دی إِذْ هُوَ عَلَى قَصْدِ الرُّجُوعِ ځکه چي هغه د رجوع پر اراده دی [چي دارالحرب ته واپس ځي] وَيُمَكَّنُ مِنْهُ او هغه ته د رجوع قدرت [هم] ورکول کیږي وَلَا يُمَكَّنُ مِنْ زِيَادَةِ الْمُقَامِ عَلَى السَّنَةِ إِلَّا بِالْجِزْيَةِ او له جزیه ورکولو څخه بغیر تر یوه کال د زیات وخت پاتېدلو قدرت نه ورکول کیږي.

اللغات: ﴿جزية﴾ مالیه. ټکس. هغه مالیه چي کفار یې اسلامي حکومت ته ورکوي او اسلامي حکومت د هغه په مقابله کي دوی ته امان ورکوي او د دوی د ځان او مال د حفاظت ذمه واري اخلي.

تشریح: صُورت د مسئلي: دا دی که یو مسلمان یا ذمی د حربي مستأمن لپاره د یو شي وصیت وکړي، یا په خپل ژوند کي د هغه سره عقود یعني بیع، اجاره او یا بله معامله وکړي. یا تبرّع مثلاً هغه ته یو شی هبه کړي. نو دا ټوله شیان جائز او صحیح دي او په دې کي د شریعت له طرفه هیڅ بندیز او ممانعت نشته. لهذا په خپل ژوند کي مسلمان د مستأمن حربي سره عقود کولای سي. همدغه ډول تر مرګ وروسته هم مسلمان د هغه سره عقد وصیت کولای سي: ځکه وصیت د موصي تر مرګ

وروسته ثابتیږي او د هغه د جواز او صحت وجه دا ده چې مستأمن حربي چې تر څو په دارُ الاسلام کي پاته وي، تر هغه وخته پوري په عقودو او معاملاتو کي هغه د ذمي په درجه کي وي او د ذمي سره د مسلمان عقود او وصایا صحیح دي، نو ځکه د مستأمن حربي سره به هم دا صحیح وي.

وعن أبي إلخ: فرمایي چې له شیخینو رَحِمَهُمَا الله څخه په غیر ظاهر روایت کي نقل سوي دي چې د مستأمن حربي لپاره د مسلمان وصیت جائز نه دی: ځکه چې هغه حربي کافر دی او دارُالحرب ته د تللو اراده او ژمنه د هغه په زړه کي ده، او هغه خو صرف د یو څو وخت لپاره دارُ الاسلام ته راغلی دی او له جزیه ورکولو څخه بغیر هغه دلته تر یوه کال زیات وخت نه سي پاتېدلای. لهذا د هغه په حق کي وصیت فایده نه کوي، نو ځکه د هغه لپاره د مسلمان وصیت صحیح نه دی.

که ذمي له ثلث مال څخه د زیات مقدار یا د خپل یوه وارث لپاره وصیت وکړي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ أَوْصَى الذِّمِّيُّ بِأَكْثَرَ مِنَ الثُّلُثِ او که چیري ذمي له ثلث [دریمي حصې] څخه د زیات مال وصیت وکړي أَوْ لِبَعْضِ وَرَثَتِهِ یا د خپل بعضي وارثانو لپاره وصیت وکړي لَا يَجُوزُ نو جائز نه دي اِعْتِبَارًا بِالْمُسْلِمِينَ په مسلمانانو باندي په قیاسولو سره لِأَنَّهُمْ اِلْتَزَمُوا أَحْكَامَ الْإِسْلَامِ فِيمَا يَرْجِعُ إِلَى الْمُعَامَلَاتِ ځکه چې ذمیانو د اسلام د احکامو التزام کړی دی په هغه اُمورو کي کوم چې معاملاتو ته راجع دي [یعني د معاملاتو سره په اړوند اُمورو کي ذمیانو اسلامي احکام پر ځان لازم کړي] وَلَوْ أَوْصَى لِخِلَافِ مِلَّتِهِ او که ذمي د خپل ملت د خلاف [بل ملت والا] لپاره وصیت وکړي جَازَ نو جائز دي اِعْتِبَارًا بِالْإِرْثِ په وراثت باندي په قیاسولو سره إِذِ الْكُفْرُ كُلُّهُ مِلَّةٌ وَاحِدَةٌ ځکه چې کفر ټوله یو ملت دی وَلَوْ أَوْصَى لِحَرْبِيٍّ فِي دَارِ الْإِسْلَامِ او که ذمي په دارُ الاسلام کي د یو حربي لپاره وصیت وکړي لَا يَجُوزُ نو جائز نه دي لِأَنَّ الْإِرْثَ مُمْتَنِعٌ لِتَبَايُنِ الدَّارَيْنِ ځکه چې د دارینو [دارُ الاسلام او دارُ الحرب] د تباین په وجه وراثت ممتنع دی وَالْوَصِيَّةُ أُخْتُ الْمِيرَاثِ او وصیت د میراث خور ده.

اللغات: ﴿التزموا﴾ د افتعال له بابه د جمع مذکر غائب ماضي صیغه ده: پر ځان لازمول. ﴿تباین﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: یو له بل څخه جلا کېدل، علیحده کېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که ذمي کافر د خپل مال له ثلث (دریمې حصې) څخه د زیات مال وصیت وکړي. یا په خپلو وارثانو کي صرف دیوه وارث لپاره وصیت وکړي (یو وارث په وصیت سره خاص کړي). نو دا وصیت جائز نه دی: ځکه په معاملاتو کي ذمي زموږ د اسلام احکام پر ځان لازم کړي دي (لکه مخکي چي هم ذکر سوه): او د مسلمان لپاره دا جائز نه دي چي د خپل مال له ثلث څخه د زيات مقدار وصيت وکړي. يا د خپل بعضي وارثانو لپاره وصيت وکړي. نو ځکه د ذميانو لپاره هم دا کار جائز نه دی.

ولو أوصی لخلاف ملّته إلخ: مثلاً يهودي ذمي د نصراني ذمي لپاره وصيت وکړي. نو دا وصيت جائز دی: ځکه چي يهودي ذمي د نصراني ذمي وارث کېدلای سي: ځکه کفر ملت واحده دی. لهذا کله چي د دين د اختلاف باوجود يو کافر د بل کافر وارث کېدلای سي. نو يو کافر د بل کافر لپاره وصيت هم کولای سي.

خو که ذمي په دارالاسلام کي د داسي حربي لپاره وصيت وکړي کوم چي په دارالحرب کي وي. نو دا وصيت جائز نه دی: ځکه دارالاسلام او دارالحرب يو له بل څخه جلا دي او د دوی ترمينځ تباين او توپير دی. او د همدې تباين په وجه د دوی ترمينځ ميراث هم ممتنع دی. او څرنګه چي وصيت د ميراث خور ده. نو ځکه وصيت به هم ممتنع او ناجائز وي. فقط والله أعلم وعلمهٔ أتم



بَابُ الْوَصِيِّ وَمَا يَمْلِكُهُ

(دا) باب دوصي او د هغه څه (په بیان کي) دی چي وصي د هغه ملکیت(اختیار) لري (یعني دوصي داختیاراتو په بیان کي دی)

تشریح: دموصي (وصیت کونکي) تر مرګ وروسته چي کوم کس د هغه د مالونو او د هغه د جایداد حفاظت او انتظام کوي او موصي ددغه کارونو لپاره هغه ټاکلی وي، داسي کس ته وصي وایي، څرنګه چي دوصي احکام دموصیٰ لهٗ له احکامو او مسائلو څخه کم دي او دموصیٰ لهٗ احکام زیات دي، نو ځکه اول دموصیٰ لهٗ احکام او مسائل بیان کړل سوه، اوس په دې باب کي دوصي (موصیٰ الیه) احکام او مسائل بیانول کیږي.

دموصي په موجودیت او غیر موجودیت کي دوصایت (وصي والي) دقبلولو او ردولو حکم

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى إِلٰى رَجُلٍ فرمایي: او څوک چي یو سړي ته وصیت وکړي [یعني دځان وصي یې جوړ کړي] فَقَبِلَ الْوَصِيُّ فِيْ وَجْهِ الْمُوْصِيْ او وصي دموصي مخ ته وصایت قبول کړي وَرَدَّهَا فِيْ غَيْرِ وَجْهِهٖ او د ده په نا موجودیت کي وصي هغه رد کړي فَلَيْسَ بِرَدٍّ نو دا رد نه دی لِأَنَّ الْمَيِّتَ مَضٰى لِسَبِيْلِهٖ مُعْتَمِدًا عَلَيْهِ ځکه چي مړی [موصي] پر خپله لاره ولاړی [مړ سو] په داسي حال کي چي هغه پر وصي اعتماد کونکی وو فَلَوْ صَحَّ رَدُّهٗ فِيْ غَيْرِ وَجْهِهٖ فِيْ حَيَاتِهٖ أَوْ بَعْدَ مَمَاتِهٖ نو که چیري د هغه په نا موجودیت کي د هغه په ژوند کي یا د هغه تر مرګ وروسته دوصي رد صحیح سي صَارَ مَغْرُوْرًا مِنْ جِهَتِهٖ نو هغه به د وصي له طرفه دوکه سوی [فرېب خورده] وګرځي فَرُدَّ رَدُّهٗ نو ځکه دوصي رد به ردول کیږي بِخِلَافِ الْوَكِيْلِ بِشِرَاءِ عَبْدٍ بِغَيْرِ عَيْنِهٖ أَوْ بِبَيْعِ مَالِهٖ په خلاف د هغه کس کوم چي د یو غیر معین غلام درانیولو وکیل وي یا د هغه د مال خرڅولو وکیل وي حَيْثُ يَصِحُّ رَدُّهٗ فِيْ غَيْرِ وَجْهِهٖ نو د هغه [وکیل] رد د مؤکل په نا موجودیت کي هم صحیح کیږي لِأَنَّهٗ لَا ضَرَرَ هُنَاكَ ځکه چي

هلته هیڅ ضرر نسته لِأَنَّهُ حَيٌّ قَادِرٌ عَلَى التَّصَرُّفِ بِنَفْسِهِ ځکه چي مؤکل ژوندی دی او بذات خود پر تصرّف کولو قدرت لرونکی دی.

اللغات: ﴿قَبِلَ﴾ د سمع د باب ماضي ده: قبلول. منل. ﴿ردّ﴾ د نصر د باب ماضي ده: واپس کول. ردّ کول. ﴿مضٰی﴾ د ضرب د باب ماضي ده. د دې باب څو معناوي دي: تېرېدل. تلل او داسي نور. کله چي یې په صله کي سَبِيْل راسي لکه دلته. نو د مړ کېدلو معنیٰ ورکوي. مثلاً مضٰی سَبِیله یا لسبیله یا بسبیله: مړ سو. ﴿مغرور﴾ د نصر له بابه د اسم مفعول صیغه ده: دوکه کړی سوی (چا ته چي دوکه ورکول سوې وي). ﴿ضرر﴾ نقصان. تاوان.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي یو سړي مثلاً خالد په خپل مرضُ الموت کي حامد خپل وصي جوړ کړی او حامد د هغه مخ ته دا وصایت (وصي کېدل) قبول کړی. او بیا د خالد په ناموجودیت کي وصي یعني حامد وصایت ردّ کړی او انکار یې وکړی. نو د وصي دغه ردّ کول او انکار کول معتبر نه دي: ځکه موصي (خالد) پر حامد اعتماد وکړی او هغه یې خپل وصي مقرر کړی او حامد هم د هغه مخ ته وصیت قبول کړي او اوس هغه غریب له دنیا څخه تللی دی. نو اوس که موږ د موصي تر مرګ وروسته یا د موصي په خپل ژوند کي د هغه په ناموجودیت کي د وصي ردّ او انکار صحیح وګرځوو. نو په دې سره به موصي ته ضرر ورسیږي چي د هغه مالونه به ضایع سي او هغه به د وصي له طرفه دوکه کړی سي. حال دا چي مسلمان ته دوکه ورکول حرام دي. نو ځکه د وصي له حرام کاري او د موصي له دوکه کېدو څخه د بچ کېدلو لپاره موږ دلته د وصي ردّ بالکل نامعتبر او ردّ کړی دی.

بخلاف الوکیل إلخ: یعني که چیري خالد مثلاً حامد د یو غیرِ معیَّن غلام د رانیولو لپاره وکیل جوړ کړي. یا یې د خپل یو مال د خرڅولو لپاره وکیل جوړ کړی. او وکیل (حامد) د مؤکل (خالد) په ناموجودیت کي دا وکالت (وکیل کېدل) ردّ کړی او انکار یې وکړی، نو دا ردّ صحیح دی او معتبر دی: ځکه په وکالت کي په دغه ردّ او انکار سره هیڅ ضرر نه پېښیږي: ځکه مؤکل (خالد) ژوندی دی او پر تصرف قادر دی. لهذا له وکیل څخه بغیر هم د هغه کار کیږي. نو ځکه دلته د وکیل ردّ او نکار معتبر دی.

د موصي په موجودیت کې د وصایت د ردولو حکم

فَإِنْ رَدَّهَا فِي وَجْهِهِ بیا که چیرې وصي د موصي مخ ته وصایت رد کړي فَهُوَ رَدٌّ نو دا رد دی (یعنې په دې سره وصایت ردیږي او ختمیږي) لِأَنَّهُ لَيْسَ لِلْمُوصِي وِلَايَةُ إِلْزَامِهِ التَّصَرُّفَ ځکه چې موصي ته پر وصي د تصرف لازمولو ولایت نسته وَلَا غُرُورَ فِيهِ او نه په دې صورت کې دوکه شته لِأَنَّهُ يُمْكِنُهُ أَنْ يُنِيبَ غَيْرَهُ ځکه چې موصي لره دا ممکن دي چې له هغه څخه بغیر بل څوک نائب جوړ کړي وَإِنْ لَمْ يَقْبَلْ وَلَمْ يَرُدَّ حَتَّى مَاتَ الْمُوصِي او که وصي نه (وصایت) قبول کړی او نه یې رد کړی تر دې چې موصي مړ سو فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ قَبِلَ نو هغه ته اختیار دی که خوښه یې وي نو قبول دې یې کړي وَإِنْ شَاءَ لَمْ يَقْبَلْ او که خوښه یې وي نو (وصایت) دې نه قبلوي لِأَنَّ الْمُوصِيَ لَيْسَ لَهُ وِلَايَةُ الْإِلْزَامِ ځکه چې موصي لره (پر وصي) د لازمولو ولایت نسته فَبَقِيَ مُخَيَّرًا لهذا وصي اختیار من پاته سو فَلَوْ أَنَّهُ بَاعَ شَيْئًا مِنْ تَرِكَتِهِ بیا که وصي د موصي له میراث څخه یو شی خرڅ کړی فَقَدْ لَزِمَتْهُ نو پر هغه وصایت لازم سو لِأَنَّ ذَلِكَ دَلَالَةُ الْالْتِزَامِ وَالْقَبُولِ ځکه دا خرڅول (پر ځان د وصایت) د لازمولو او قبلولو دلیل دی وَهُوَ مُعْتَبَرٌ بَعْدَ الْمَوْتِ او قبول (د موصي) تر مرګ وروسته معتبر دي.

اللغات: ﴿إلزام﴾ د افعال د باب ماضي ده: پر چا یو شی لازمول. ﴿غرور﴾ د نصر د باب ماضي ده: دوکه ورکول (فریب ورکول). ﴿مُخيَّر﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: اختیار ورکول سوی. اختیار من.

﴿التزم﴾ د افتعال د باب ماضي ده: پر ځان لازمول. په خپله ذمه (په خپله غاړه) اخیستل.

تشریح: مخکې ذکر سوه چې که وصي (حامد) تر قبول وروسته د موصي (خالد) په ناموجودیت کې وصایت رد کړي. نو دا رد صحیح نه دی. لیکن که وصي د موصي مخ ته هغه رد کړي او انکار وکړي. نو دا رد صحیح او معتبر دی: ځکه چې موصي ته پر وصي د هیڅ شي د لازمولو حق نسته. د موصي مخ ته د رد او انکار په وجه د وصي له طرفه دوکه هم نسته: ځکه چې موصي له هغه څخه بغیر بل څوک هم د هغه نائب جوړولای سي. نو ځکه د موصي مخ ته د وصي رد او انکار کول صحیح دي. همدا خبره په عبارت کې بیان کړی سوې ده.

وإن لم یقبل إلخ: د دې حاصل دا دی چې که د موصي مخ ته وصي نه وصایت قبول کړي او نه یې رد کړي او موصي مړ سي. نو بیا وصي ته اختیار دی که خوښه یې وي. وصایت دې قبول کړي. کنې

هغه دي رد کړي: ځکه کله چي موصي ته د إلزام ولايت حاصل نه دی. نو ابتداءً خو پر وصي دا وصايت لازم سوی نه وو. او څرنګه چي اوس موصي مړ سوی دی. لهذا اوس وصي ته د ردّ او قبول دواړو اختيار سته. او په همدې صورت کي که چيري وصي د موصي له ميراث څخه يو شی خرڅ کړي. نو بيا پر هغه وصايت لازميږي: ځکه د موصي له ميراث څخه د شي پر خرڅولو اقدام کول د هغه له طرفه د وصايت قبلولو او پر ځان د وصايت لازمولو دليل دی او د موصي تر مرګ وروسته قبول او التزام معتبر دی.

که وصي د موصي له ميراث څخه يو شی خرڅ کړي نو دا بيع نافذه ده که نه؟

وَيَنْفُذُ الْبَيْعُ او دا بيع نافذيږي لِصُدُوْرِهٖ مِنَ الْوَصِيِّ د وصي له طرفه د دې بيع د صادرېدلو په وجه وَسَوَاءٌ عَلِمَ بِالْوِصَايَةِ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ او برابره ده وصي په وصايت [يعني د ځان په وصي کېدلو] خبر وي او که خبر نه وي [په هر صورت کي بَيع نافذيږي] بِخِلَافِ الْوَكِيْلِ إِذَا لَمْ يَعْلَمْ بِالتَّوْكِيْلِ فَبَاعَ په خلاف د وکيل کله چي هغه په توکيل [يعني د ځان په وکيل کېدلو] خبر نه وي او خرڅول وکړي حَيْثُ لَا يَنْفُذُ نو هغه بيع نه نافذيږي لِأَنَّ الْوِصَايَةَ خِلَافَةٌ ځکه چي وصي کېدل [د مړي (موصي)] خليفه کېدل دي لِأَنَّهٗ يَخْتَصُّ بِحَالِ انْقِطَاعِ وِلَايَةِ الْمَيِّتِ ځکه وصايت د مړي د ولايت منقطع کېدلو د حالت سره خاص دی فَتَنْتَقِلُ الْوِلَايَةُ إِلَيْهِ نو ولايت [وصايت] به د وصي وطرف ته منتقل سي وَإِذَا كَانَتْ خِلَافَةً او کله چي وصايت خلافت دی لَا تَتَوَقَّفُ عَلَى الْعِلْمِ نو هغه به پر علم [خبرېدلو] نه موقوف کيږي كَالْوِرَاثَةِ لکه وارثت [وارث کېدل] أَمَّا التَّوْكِيْلُ إِنَابَةٌ او پاته سو وکيل کول نائب جوړول دي لِثُبُوْتِهٖ فِيْ حَالِ قِيَامِ وِلَايَةِ الْمُنِيْبِ ځکه چي هغه د مُنيب [نائب جوړونکي] د ولايت د موجود والي په حالت کي هم ثابتيږي فَلَا يَصِحُّ مِنْ غَيْرِ عِلْمِهٖ نو د وکيل له خبرېدلو څخه بغير به توکيل نه صحيح کيږي كَإِثْبَاتِ الْمِلْكِ بِالْمَبِيْعِ وَالشِّرَاءِ لکه د بيع او شراء [خرڅولو او رانيولو] په ذريعه د ملکيت ثابتول وَقَدْ بَيَّنَّا طَرِيْقَ الْعِلْمِ وَشَرْطَ الْإِخْبَارِ فِيْمَا تَقَدَّمَ مِنَ الْكُتُبِ او د علم [خبرېدلو] لار او د إخبار [خبرولو] شرط موږ په مخکيني کتابونو کي بيان کړي دي.

اللغات: ﴿صدور﴾ د نصر د باب مصدر دی: صادرېدل. واقع کېدل. ﴿توکيل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: وکيل جوړول. وکيل جوړېدل (وکيل کېدل)، ﴿يختص﴾ د افتعال د باب مضارع ده: خاص

کېدل. ﴿انقطاع﴾ دانفعال د باب مصدر دی: پرېکېدل، ختمېدل. ﴿لا يتوقف﴾ د تفعّل له بابه د نفي صيغه ده: موقوف کېدل، موقوف پاتېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که وصي د موصي له ميراث (ترکه) څخه يو شی خرڅ کړي. نو د هغه بيع نافذيږي، برابره ده وصي په وصايت خبر وي او که نه وي او دا بيع د نافذېدلو سره. سره د وصايت قبلولو دليل هم دی. د دې په خلاف که يو سړی مثلاً خالد د خپل يو سامان د خرڅولو لپاره حامد وکيل جوړ کړي او وکيل (حامد) په دې توکيل خبر نه سي او بيا په همدې ناخبرۍ کي وکيل هغه سامان خرڅ کړي. نو د هغه بيع نه نافذيږي. د وصايت او توکيل تر مينځ فرق دا دی چې وصايت خلافت دی او توکيل انابت دی. خلافت دا دی چې په هغه کي د "اصل" يعني د "موصي" تر مرګ وروسته "خليفه" يعني "وصي" ته د تصرّف اختيار حاصليږي. او انابت دا دی چې په هغه کي د "اصل" يعني د "مُنيب" (نائب جوړونکی) په موجوديت کي هم "نائب" يعني "وکيل" لره د تصرّف اختيار پاتيږي. اوس د خلافت او انابت په هکله يوه قاعده دا ده چې د خلافت په ثبوت کي علم (خبرېدلو) لره ضرورت نسته او په هغه له خبرېدلو څخه بغير هم خليفه لره خلافت ثابتيږي. لکه څرنګه چې په وراثت کي علم او خبر ته ضرورت نه وي چې بغير له خبرېدلو څخه هم وراثت ثابتيږي. همدغه ډول د وصي له خبرېدلو څخه بغير د هغه په حق کي وصايت هم ثابتيږي. د دې په خلاف په انابت کي چې تر څو نائب په هغه خبر نه وي، تر هغه وخته پوري نيابت نه ثابتيږي. لکه د بيع وشراء په ذريعه د ملکيت اثبات. مثلاً خالد د حامد لپاره يو پُسه رانيوی او خالد په هغه خبر نه سو، په همدې حال کي خالد په هغه پُسه کي څه تصرف وکړی. نو پر هغه بيع نه لازميږي: ځکه خالد تر اوسه د دې بيع په هکله خبر سوی نه دی او بغير له علم او خبر څخه وکالت نه لازميږي.

صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي چې د علم او خبر طريقه او د إخبار شرط موږ د هدايې په څو کتابونو کي بيان کړی دی يعني په کتاب أدب القاضي (فصل القضاء بالمواريث)، کتاب الوکالة او کتاب الشفعة کي. لنډه دا چې کله دا ثابته سوه چې وصايت خلافت دی او په هغه کي علم او خبرېدل ضروري نه دي. نو د همدغه قاعدې پر بناء موږ وويل چې وصي که په وصايت خبر وي او که نه وي. په هر صورت کي د هغه بيع نافذيږي. او وکيل که په وکالت خبر نه وي، نو بيا د هغه وکالت نه معتبر کيږي.

د موصي تر مرګ وروسته وصايت ردول او بیا قبلول (حکم او تفصيل)

وَإِنْ لَمْ يَقْبَلْ حَتَّى مَاتَ الْمُوصِيْ او که چیري وصي [وصایت] قبول نه کړی تر دې چې موصي مړ سو فَقَالَ: لَا أَقْبَلُ بیا وصي ووېل: چې زه [وصایت] نه قبلوم ثُمَّ قَالَ: أَقْبَلُ بیا یې ووېل: چې زه [هغه] قبلوم فَلَهُ ذٰلِكَ إِنْ لَمْ يَكُنِ الْقَاضِيْ أَخْرَجَهُ مِنَ الْوَصِيَّةِ حِيْنَ قَالَ لَا أَقْبَلُ نو وصي ته د دې حق سته [په دې شرط] که چیري قاضي د هغه د "لا أقبل" تر ویلو وروسته هغه له وصیت څخه ایستلی نه وي لِأَنَّ بِمُجَرَّدِ قَوْلِهِ لَا أَقْبَلُ لَا يَبْطُلُ الْإِيْصَاءُ ځکه چې محض د هغه د "لا أقبل" په وینا سره وصي کېدل [وصایت] نه باطلیږي لِأَنَّ فِيْ إِبْطَالِهِ ضَرَرًا بِالْمَيِّتِ ځکه چې د هغه [وصایت] په باطلولو کې د مړي ضرر دی وَضَرَرُ الْوَصِيِّ فِي الْإِبْقَاءِ او [د وصایت] په پاته کولو کې د وصي چې کوم ضرر دی مَجْبُوْرٌ بِالثَّوَابِ هغه په ثواب سره تلافي کړی سوی [پوره کړی سوی] دی ایعني د هغه ضرر تلافي په ثواب سره کیږي کوم ثواب چې د وصایت په خاطر وصي ته حاصلیږي] وَدَفْعُ الْأَوَّلِ وَهُوَ أَعْلَىٰ أَوْلَىٰ او اول ضرر دفع کول (حال دا چې هغه اعلیٰ دی) زیات غوره دي ایعني د موصي ضرر دفع کول اولیٰ دي] إِلَّا أَنَّ الْقَاضِيَ إِذَا أَخْرَجَهُ عَنِ الْوِصَايَةِ مګر دا چې کله قاضي وصي له وصایت څخه وباسي يَصِحُّ ذٰلِكَ نو دا [إخراج] صحیح دي لِأَنَّهُ مُجْتَهَدٌ فِيْهِ ځکه چې هغه [د قاضي فیصله] مجتهد فیه ده إِذْ لِلْقَاضِيْ وِلَايَةُ دَفْعِ الضَّرَرِ ځکه چې قاضي لره د ضرر دفع کولو ولایت سته وَرُبَّمَا يَعْجِزُ عَنْ ذٰلِكَ. او ځیني وخت موصي له هغه [د وصایت له ذمه واری] څخه عاجزه وي فَيَتَضَرَّرُ بِبَقَاءِ الْوِصَايَةِ لهذا د وصایت په باقي پاتېدلو سره وصي ضررمن کیږي فَيَدْفَعُ الْقَاضِي الضَّرَرَ عَنْهُ نو قاضي له وصي څخه ضرر لیري کوي وَيُنَصِّبُ حَافِظًا لِمَالِ الْمَيِّتِ مُتَصَرِّفًا فِيْهِ او د مړي [موصي] د مال لپاره یو ساتونکی او د هغه په مال کې تصرف کونکی مقرر کوي فَيَنْدَفِعُ الضَّرَرُ مِنَ الْجَانِبَيْنِ نو [په دې توګه] به له دواړو طرفونو څخه ضرر لیري سي ایعني له مړي (موصي) او وصي دواړو څخه] فَلِهٰذَا يَنْفُذُ إِخْرَاجُهُ نو ځکه د قاضي إخرج [د وصي ایستل] به نافذیږي فَلَوْ قَالَ بَعْدَ إِخْرَاجِ الْقَاضِيْ إِيَّاهُ: أَقْبَلُ بیا د قاضي له طرفه د وصي تر ایستل کېدلو وروسته که چیري وصي ووایي: چې زه [وصایت] قبلوم لَمْ يُلْتَفَتْ إِلَيْهِ نو د

هغه وطرف ته به توجّه نه کیږي لِأَنَّهُ قَبِلَ بَعْدَ بُطْلَانِ الْوِصَايَةِ بِإِبْطَالِ الْقَاضِيْ ځکه چې وصي د قاضي په باطلولو سره د وصایت تر باطلېدلو وروسته [وصایت] قبول کړی دی.

اللغات: ﴿مجبور﴾ د نصر له بابه د اسم مفعول صیغه ده: د کوم څه چې جبران سوی وي، تلافي کړی سوی، پوره کړی سوی. ﴿مجرّد﴾ محض، خالي، یوازي. ﴿إیصاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: یو چا ته وصیت کول، وصي جوړول (د وصیت نافذونکی کس ټاکل، داسي څوک مقرر کول کوم چې وصیت نافذ او پوره کړي). ﴿يتضرّر﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: ضرر من کېدل (تاواني کېدل). ضرر او نقصان ور رسېدل. ﴿وِصَايَة﴾ او وَصَايَة: وصي والی، وصي کېدل.

وصایة وګوره چې بفتح الواو دی او که بکسر الواو. بیا یې په ټوله کتاب کې بدل کړه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که یو سړی بل څوک مثلاً حامد خپل وصي جوړ و کړي او هغه وصي (حامد) د موصي په ژوند کې نه وصایت قبول کړي او نه یې ردّ کړي، بیا کله چې موصي مړ سي، نو وصي (حامد) ووایي "لا أقبل" چې دا وصایت ما ته قبول نه دی، بیا څه وخت وروسته ووایي چې "أقبل" ما ته قبول دی. نو په دې صورت کې حکم دا دی چې که د وصي د "لا أقبل" تر ویلو وروسته قاضي هغه له وصایت څخه نه وي خارج کړی، نو دوباره د هغه "أقبل" ویل صحیح دي: ځکه محض د "لا أقبل" په ویلو سره دا وصي له وصایت څخه نه وځي او د هغه لپاره دوباره د وصایت قبلول صحیح او جائز دي تر څو چې قاضي هغه خارج کړی نه وي. او دا جواز په دې وجه دی چې د وصایت په باطلولو کې د مړي (موصي) ضرر دی ځکه چې وصي نه وي نو دا امکان او خطره وي چې د موصي مالونه به ضایع سي او د وصایت په پاته کولو کې که څه هم څه نا څه د وصي ضرر دی خو د وصایت د ذمه واری اخیستلو او پوره کولو چې کوم ثواب هغه ته حاصلیږي، په هغه ثواب سره د وصي د ضرر د تلافي کیږي.

او دا بیان داسي هم کېدلای سي چې دلته دوه ضررونه سره جمع دي: ① د مړي (موصي) ضرر، ② د وصي ضرر، او له دغه دواړو څخه د مړي ضرر اقویٰ دی، لهذا هغه به دفع کول کیږي او ادنیٰ یعني د وصي ضرر به زغمل کیږي؛ ځکه دا د فقهي قاعده ده: :إذا اجتمع مَفسدتان، رُوعي أعظمهما ضررًا بإرتکاب أخفهما" یعني کله چې په یوه مسئله کې دوې خرابیانې سره جمع سي، نو له هغوی څخه سپکه او ادنیٰ خرابي اختیارول کیږي چې لویه او اقویٰ خرابي دفع کړل سي، نو په مذکوره مسئله کې

هم د وصي ضرر أخف دی. لهذا هغه به زغمل کیږي او د موصي ضرر اقوی دی. نو ځکه هغه به دفع کول کیږي.

إلا أن القاضي إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د وصي د "لا أقبل" له وینا څخه وروسته سمدستي قاضي هغه له وصایت څخه خارج کړي. نو د قاضي دغه إخراج صحیح او معتبر دی؛ ځکه د قاضي دا فعل او فیصله له اجتهادي أمورو څخه ده او په أمور اجتهادیه وو کي د قاضي فیصله لازمیږي؛ ځکه چي قاضي ته د ضرر دفع کولو ولایت حاصل دی. نو ځکه د هغه إخراج به لازمیږي نو تر دې وروسته که وصي هر څومره "أقبل". "أقبل" ووایي. وصایت د هغه په حق کي نه راګرځي.

وربما یعجز عن إلخ: د دې حاصل دا دی چي ځیني وخت وصي نا اهله او ناتوانه وي او د وصایت د ذمه واریو په پوره کولو قادر نه وي. نو ځکه قاضي هغه خارجوي او د هغه پر ځای د مړي د مال د حفاظت او په هغه کي د تصرف کولو لپاره یو بل څوک وصي مقرر کوي. او د قاضي په دغه فعل سره له موصي او وصي دواړو څخه ضرر دفع کیږي. نو ځکه موږ وایو چي د قاضي إخراج به نافذیږي او تر إخراج وروسته د وصي هیڅ خبره به د وصایت په هکله نه اورېدل کیږي.

نا اهل کس وصي مقرزول او قاضي لره د هغه د ایستلو حکم

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى إِلٰى عَبْدٍ أَوْ كَافِرٍ أَوْ فَاسِقٍ فرمایي: او څوک چي غلام یا کافر یا فاسق کس وصي جوړ کړي أَخْرَجَهُمُ الْقَاضِيْ عَنِ الْوِصَايَةِ نو قاضي به هغوی له وصایت [وصي کېدلو] څخه باسي وَنَصَّبَ غَيْرَهُمْ او له هغوی څخه بغیر نور کسان به دروي وَهٰذَا اللَّفْظُ يُشِيْرُ إِلٰى صِحَّةِ الْوَصِيَّةِ او دغه لفظ د وصیت [وصایت] صحیح کېدلو ته اشاره کوي لِأَنَّ الْإِخْرَاجَ يَكُوْنُ بَعْدَهَا ځکه چي ایستل تر صحیح کېدلو وروسته کېدلای سي وَذَكَرَ مُحَمَّدٌ فِي الْأَصْلِ أَنَّ الْوَصِيَّةَ بَاطِلَةٌ او امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي ذکر کړي دي چي دا وصیت باطل دی قِيْلَ: مَعْنَاهُ فِيْ جَمِيْعِ هٰذِهِ الصُّوَرِ أَنَّ الْوَصِيَّةَ سَتُبْطَلُ ویل سوي دي: د دې معنیٰ دا ده چي په دغه ټولو صورتونو کي به وصیت ژر باطلول کیږي وَقِيْلَ: مَعْنَاهُ فِي الْعَبْدِ بَاطِلٌ حَقِيْقَةً او ویل سوي دي: چي په غلام کي د هغه معنیٰ حقیقتاً باطلېدل دي لِعَدَمِ وِلَايَتِهِ وَاسْتِبْدَادِهِ ځکه چي غلام لره ولایت او استقلال نسته وَفِيْ غَيْرِهِ مَعْنَاهُ سَتُبْطَلُ او له غلام څخه بغیر په نورو کي د هغه معنیٰ د "ستبطل" ده [چي ژر به باطلول کیږي]

وَقِيْلَ: فِي الْكَافِرِ بَاطِلٌ أَيْضًا او ویل سوي دي: چي په کافر کي هم باطل دی لِعَدَمِ وِلَايَتِهِ عَلَى الْمُسْلِمِ ځکه چي کافر ته پر مسلمان ولایت نسته.

اللغات: ﴿أَوْصٰى﴾ د افعال د باب ماضي ده: وصيت کول، وصي جوړول، وصي ټاکل. ﴿استبداد﴾ د استفعال د باب مضارع ده: مستقل کېدل، خود مختاره کېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی که څوک یو غلام خپل وصي جوړ کړي، یا یو کافر یا فاسق کس خپل وصي جوړ کړي، نو د قاضي ذمه واري دا ده چي هغه به دا درې سره کسان له وصایت څخه خارجوي او د دوی پر ځای به آزاد، مسلمان او دیندار خلک دروي. صاحب د هدایې فرمایي چي د امام قدوري رَحِمَهُ الله دا وینا "أخرجهم" د دې خبري دلیل دا دی چي د دغه کسانو وصي جوړول صحیح دي؛ ځکه إخراج په هماغه صورت کي ثابتیږي کله چي هغو ته مخکي وصایت حاصل سوی وي.

او په مبسوط کي امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایلي دي چي دا وصيت باطل دی، لېکن دا بطلان د کومي درجې دی؟، په دې کي د مشایخو مختلف اقوال دي، فقیه ابو اللیث رَحِمَهُ الله فرمایي چي له بطلان څخه مراد دا دی چي د غلام، کافر او فاسق وصيت د باطل ګرځولو قابل دی او هغه ژر باطلول پکار دی. لهذا د مایؤول په اعتبار سره فهي باطلة ویل سوي دي.

د بعضي حضراتو قول دا دی چي د غلام په حق کي دا بطلان پر خپل حقیقیت محمول دی. یعني د هغه په حق کي له سره وصيت باطل دی؛ ځکه نه غلام پر چا ولایت لري او نه هغه ته پر خپل ځان ولایت سته، او نه هغه ته استقلال او خود مختاري حاصله ده. بلکي هغه خو همېشه د ما تحتی ژوند تېروي، نو ځکه د هغه په حق کي خو واقعي وصيت باطل دی.

وقیل الخ: او یو قول دا دی چي د کافر په حق کي هم بطلان پر خپل حقیقت دی؛ ځکه کافر ته پر مسلمان ولایت نسته او هغه د دې قابل نه دی چي د مسلمان ولي جوړ سي. (احسن الهدایه)

د پورتنی مسئلې نور وضاحت

وَوَجْهُ الصِّحَّةِ ثُمَّ الْإِخْرَاجُ أَنَّ الْأَصْلَ النَّظَرُ ثَابِتٌ او [د دې وصایت] د صحیح کېدلو او بیا [د قاضي] د ایستلو وجه دا ده چي اصل مصلحت [او شفقت] ثابت دی لِقُدْرَةِ الْعَبْدِ حَقِيْقَةً د غلام د حقیقتًا قادر کېدلو په وجه وَوِلَايَةِ الْفَاسِقِ عَلٰى أَصْلِنَا وَوِلَايَةِ الْكَافِرِ فِي الْجُمْلَةِ او زموږ د اصل مطابق د فاسق د ولایت په وجه او فی الجمله د کافر د ولایت په وجه إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَتِمَّ النَّظَرُ خو دا مصلحت [او شفقت]

پوره نه دی لِتَوَقُّفِ وِلَايَةِ الْعَبْدِ عَلٰى إِجَازَةِ الْمَوْلٰى د مالک پر اجازه د غلام د ولايت موقوف کېدلو په وجه وَتَمَكُّنِهِ مِنَ الْحَجْرِ بَعْدَهَا او د مالک د قادر کېدلو په وجه تر اجازې وروسته [د غلام] پر بنديز لګولو [او پر اجازه ختمولو] وَالْمُعَادَاةِ الدِّينِيَّةِ الْبَاعِثَةِ لِلْكَافِرِ عَلٰى تَرْكِ النَّظَرِ فِيْ حَقِّ الْمُسْلِمِ او د هغه ديني دښمنۍ په وجه کوم چې د کافر پارونکې ده د مسلمان په حق کې د مصلحت [او شفقت] پر پرېښوولو وَاتِّهَامِ الْفَاسِقِ بِالْخِيَانَةِ او په خيانت سره د فاسق د متهم کېدلو په وجه فَيُخْرِجُهُ الْقَاضِيْ مِنَ الْوِصَايَةِ نو ځکه قاضي به دوی هريو له وصايت څخه باسي وَيُقِيْمُ غَيْرَهُ مُقَامَهُ او د هغه پر ځای به بل څوک درولي إِتْمَامًا لِلنَّظَرِ د مصلحت بشپړولو په غرض سره وَشُرِطَ فِي الْأَصْلِ أَنْ يَكُوْنَ الْفَاسِقُ مَخُوْفًا عَلَيْهِ فِي الْمَالِ او په مبسوط کې دا شرط لګول سوی دی چې فاسق داسې وي چې پر هغه د مال په باره کې [د خيانت] بېره وي وَهٰذَا يَصْلُحُ عُذْرًا فِيْ إِخْرَاجِهِ وَتَبْدِيْلِهِ بِغَيْرِهِ او دا خبره [چې فاسق مخوف عليه في المال وي] د عذر جوړېدلو صلاحيت لري د فاسق په ايستلو کې او په بل چا سره د هغه په بدلولو کې [چې د هغه پر ځای بل څوک ودرول سي].

اللغات: ﴿نظر﴾ شارحينو د دې لفظ دوې معناوې نقل کړي دي: مصلحت (ښېګڼه)، شفقت. ﴿لم يتمّ﴾ د ضرب د باب مضارع ده: پوره کېدل، بشپړ کېدل. ﴿اتّهام﴾ د افتعال د باب مصدر دی: متهم کېدل، تورن او تومتي کېدل. ﴿في الجملة﴾ په يو درجه کې. ﴿مَخُوْف﴾ د سمع د باب مفعول دی.

مخوف عليه: پر کوم چا چې د يو شي بېره وي، له چا څخه چې د يو ضرر او تاوان بېره وي.

تشريح: کومو حضراتو چې د غلام، فاسق او کافر لپاره وصايت هم صحيح ګرځولی دی او د قاضي إخرج يې هم صحيح ګرځولی دی؛ د هغو دليل دا دی چې وصايت ځکه صحيح دی چې په دغه درېو کسانو کې هم د مصلحت او شفقت ماده سته او دوی مصلحت غوښتونکي او مشفق کېدلای سي، لېکن د دوی مصلحت او شفقت ناقص او نا بشپړ دی، نو ځکه د قاضي صاحب له طرفه د دوی خارجول او معزوله کول هم صحيح دي. اوس پاته سو دا سوال چې په دغه کسانو کې مصلحت او شفقت څنګه دی؟ نو د دې جواب دا دی چې غلام حقيقتاً پر تصرّف قادر دی او عاقل بالغ غلام ښه او ګټمن تصرّف کولای سي، همدارنګه زموږ د اصل مطابق فاسق هم د تصرّف حامل دی. او پاته سو کافر نو په يو درجه نه درجه کې هغه ته هم دا ولايت حاصل دی؛ ځکه چې کافر، مسلمان او غلام په رانيولو سره د هغه مالک کېدلای سي، لهذا په دې حوالو سره په غلام، کافر او فاسق ټولو کې

مصلحت او شفقت موجود دی، لېکن دا مصلحت ناقص او نا تمام دی، ځکه چي د غلام ولایت د هغه د مالک پر اجازه موقوف دی که چیري هغه اجازه ورکړي خو سمه ده کنې هغه غلام همېشه عاجزه دی، همدارنګه غلام ته حاصلېدونکې اجازه حتمي او قطعي هم نه وي. بلکي عارضي وي او هر وخت چي مالک وغواړي، هغه سلبولای سي.

پاته سو کافر نو هغه خو د اسلام او مسلمانانو دښمن وي او دا دښمني هغه د مسلمان په حق کي د مصلحت او شفقت پر ختمولو مجبوره کولای سي. او پاته سو فاسق نو هغه په خیانت سره متهم وي او هر وخت دا خطره ور سره تړلې وي چي خیانت به وکړي، نو له هغه شخصه د مسلمان د مصلحت او خیر توقع نسته. نو دغه وجوهاتو ته په کتلو سره قاضي لره دا حق سته چي د دې کسانو وصایت رد کړي او د دوی پر ځای ایمانداره او امانتدار خلګ ودري او د وصایت ذمه واري ور وسپاري.

وشرط الخ: فرمایي چي د فاسق د وصایت د ردولو لپاره امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کي دا شرط لګولی دی چي د هغه په باره کي به دا بېره او اندېښنه وي چي په مال کي غلا او خیانت کوي او مال ضایع کوي، او دا بېره او اندېښنه داسي عذر دی چي د هغه په وجه فاسق له وصایت شخصه خارجول کېدلای سي چي د هغه پر ځای بل څوک ودرول سي؛ ځکه چي په وصي ټاکلو سره د موصي (مړي) مقصد دا وو چي زما تر مرګ وروسته هغه زما د اولاد او زما د مالونو حفاظت کوي، حال دا چي د حفاظت پر ځای د هغه په باره کي د خیانت او مال ضایع کولو بېره او خطره سته.

خپل غلام وصي جوړول (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَمَنْ أَوْصَى إِلَى عَبْدِ نَفْسِهِ فرمایي: او څوک چي خپل غلام وصي جوړ کړي وَفِي الْوَرَثَةِ كِبَارٌ حال دا چي په وارثانو کي لویان [بالغ وارثان] وي لَمْ تَصِحَّ الْوَصِيَّةُ نو وصیت نه صحیح کیږي لِأَنَّ لِلْكَبِيرِ أَنْ يَمْنَعَهُ ځکه چي لوی [بالغ] لره دا حق سته چي غلام منع کړي أَوْ يَبِيعَ نَصِيبَهُ فَيَمْنَعَهُ الْمُشْتَرِي یا [له غلام شخه] خپله حصه خرڅه کړي نو مشتري به غلام منع کړي فَيَعْجِزُ عَنِ الْوَفَاءِ بِحَقِّ الْوِصَايَةِ نو غلام به د وصایت د حق له پوره کولو شخه عاجزه سي فَلَا يُفِيدُ فَائِدَتَهُ نو وصایت به خپله فایده نه ورکړي وَإِنْ كَانُوا صِغَارًا كُلُّهُمْ او که وارثان ټول کوچنیان [نا بالغه] وي فَالْوَصِيَّةُ إِلَيْهِ جَائِزَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو بیا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خپل غلام وصي جوړول

جائز دي وَلَا تَجُوزُ عِنْدَهُمَا ❁ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز جائز نه دي وَهُوَ الْقِيَاسُ او همدا قیاس دی وَقِيلَ: قَوْلُ مُحَمَّدٍ مُضْطَرِبٌ فِيهِ او ویل سوي دي: چي د امام محمد رَحِمَهُ الله قول په دې هکله مضطرب دی يَرْوِي مَرَّةً مَعَ أَبِي حَنِيفَةَ وَتَارَةً مَعَ أَبِي يُوسُفَ کله د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره روایت کول کیږي او کله بیا د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله سره وَجْهُ الْقِيَاسِ أَنَّ الْوِلَايَةَ مُنْعَدِمَةٌ د قیاس دلیل دا دی چي [په غلام کي] ولایت نېستي دی لِمَا أَنَّ الرِّقَّ يُنَافِيهَا ځکه چي غلامتوب د ولایت منافي دی وَلِأَنَّ فِيهِ إِثْبَاتَ الْوِلَايَةِ لِلْمَمْلُوكِ عَلَى الْمَالِكِ او ځکه چي په دې کي د مملوک لپاره پر مالک ولایت ثابتول سته وَهٰذَا قَلْبُ الْمَشْرُوعِ او دا د مشروع امر چپه اړول دي [ځکه مشروع دا ده چي مالک لره پر مملوک ولایت سته] وَلِأَنَّ الْوِلَايَةَ الصَّادِرَةَ مِنَ الْأَبِ لَا تَتَجَزَّأُ او ځکه چي د پلار له طرفه صادرېدونکی ولایت نه متجزي کیږي وَفِي اعْتِبَارِ هٰذِهِ تَجْزِئَتُهَا او د وصیت په معتبر کولو کي د ولایت متجزي کول سته لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُ بَيْعَ رَقَبَتِهِ ځکه چي غلام د خپل ذات د خرڅولو ملکیت [اختیار] نه لري وَهٰذَا نَقْضُ الْمَوْضُوعِ او دا د موضوع ماتېدل دي.

اللغات: ﴿کِبار﴾ جمع د کَبِیرٌ ده: لوی، مراد: بالغ. ﴿وَفاء﴾ د ضرب د باب مصدر دی: پوره کول، پوره اداء کول. ﴿قلب﴾ د ضرب مصدر دی: چپه اړول، ګرځول، نسکورول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي که یو سړی خپل غلام وصي جوړ کړي او د هغه سړي ټول وارثان (ځامن وغیره) یا بعضي وارثان بالغه وي، نو د هیڅ امام په نېز هم دا وصیت صحیح نه دی: ځکه کوم چي بالغ وارثان دي، په هغوی کي هر یوه ته دا حق سته چي دا مذکوره غلام له تصرف څخه منع کړي، یا په غلام کي خپله حصه پریږ چا خرڅه کړي او څوک چي دا حصه رانیسي، هغه دا غلام له تصرف څخه منع کړي او غلام د وصایت د ذمه وارۍ له اداء کولو څخه عاجزه سي او وصایت فایده من ثابت نه سي؛ لهذا کله چي دلته په وصي جوړولو کي د موصي هیڅ فایده نسته، نو ښکاره ده چي دا غلام وصي جوړول بېکاره دي، نو ځکه فقهاء په دې صورت کي وصیت باطل ګرځولی دی.

❁ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، لأن قوله استحسان انظر للتوضيح [القول الراجح: ۳۸۴]

وإن كانوا صغارًا إلخ: ها! که چیري د موصي ټوله وارثان کوچني او نا بالغه وي او خپله پر تصرف کول قادر نه وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خپل غلام وصي جوړول جائز دي، لېکن د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز په دې صورت که هم هغه ناجائز دي او همدا قياس دی. د بعضې حضراتو قول دا دی چې په دې صورت کي د امام محمد رَحِمَهُ الله مسلک نه دی څرګند سوی. هغه کله د امام صاحب رَحِمَهُ الله سره وي او کله بيا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره لیدل کيږي.

وجه القياس إلخ: د قياس او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې د وصايت د ذمه وارۍ اخيستلو لپاره دا ضروري ده چې موصي به له اهلِ ولايت څخه وي، حال دا چې په غلام کي د ولايت اهليت نسته؛ ځکه چې هغه رقيق او تر غلامۍ لاندې دی، او رقيت (غلامتوب) د ولايت منافي دی. او بله خبره دا ده چې غلام مملوک دی او بادار يې مالک دی، اوس که موږ د غلام وصايت صحيح وګرځوو. نو قلبِ مشروع به لازم سي يعني غلام کوم چې مملوک دی هغه به د وصايت په وجه د خپل بادار د مال او خپله د بادار مالک سي، حالانکي دا صحيح نه ده. او د غلام د وصايت په صحيح ګرځولو کي دريمه خرابي دا لازميږي چې د پلارله طرفه حاصلېدونکی ولايت غيرٌ متجزي وي، يعني له پلار څخه چې ځامنو ته کوم ولايت حاصليږي، هغه جزء جزءاو ټوټه ټوټه نه کيږي، حال دا چې غلام ته له موصي څخه کوم ولايت حاصليږي، هغه متجزي وي؛ ځکه غلام د موصي مال او سامان خو خرڅولای سي لېکن خپل ځان نه سي خرڅولای حال دا چې غلام هم د موصي مال دی او د هغه په ملکيت کي دی، او د ولايت متجزي کېدل نقضِ موضوع ده (لأن الوصي إنما يملك الولاية من الموصي، وولايته لا تتجزأ، إذ لا يقال: إن ولايته في بعض دون بعض، فلو ثبت التجزئ في ولاية الموصى، ثبت في ولاية الوصي، لكنه غير متجزئ، فكان عائدًا على موضوعه بالنقض [عنايه]). نو ځکه دغه خرابيو ته په کتلو سره خپل غلام وصي جوړول صحيح نه دي، که څه هم د موصي وارثان کوچني او نابالغه وي.

په پورتني مسئله کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل

وَلَهُ: أَنَّهُ مُخَاطَبٌ مُسْتَبِدٌ بِالتَّصَرُّفِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې غلام مخاطب دی [او] په تصرف کولو سره مستقل دی فَيَكُونُ أَهْلًا لِلْوِصَايَةِ نو ځکه هغه به د وصايت [وصي کېدلو] اهل وي وَلَيْسَ لِأَحَدٍ عَلَيْهِ وِلَايَةٌ او پر هغه هيچا ته ولايت نسته فَإِنَّ الصِّغَارَ وَإِنْ كَانُوا مُلَّاكًا ځکه کوچنيان [نا بالغان] که څه هم مالکان دي لَيْسَ لَهُمْ وِلَايَةُ الْمَنْعِ خو هغو لره [د غلام] د منع کولو

ولایت نسته فَلَا مُنَافَاةَ نو ځکه هیڅ منافات نسته وَإِيصَاءُ الْمَوْلَى إِلَيْهِ يُؤْذِنُ بِكَوْنِهِ نَاظِرًا لَهُمْ او مالک چي هغه غلام موصي جوړ کړی دی دا د دې خبر ورکوي چي هغه د کوچنیانو لپاره مصلحت غوښتونکی [او مشفق] دی وَصَارَ كَالْمُكَاتَبِ او هغه د مکاتب په څېر سو وَالْوِصَايَةُ قَدْ تَتَجَزَّأُ عَلَى مَا هُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ او وصایت د هغه قول مطابق متجزي کیږي کوم چي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روایت سوی دی أَوْ نَقُولُ: يُصَارُ إِلَيْهِ كَيْ لَا يُؤَدِّيَ إِلَى إِبْطَالِ أَصْلِهِ یا موږ وایو: چي د هغه وطرف ته به د دې لپاره رجوع کول کیږي چي اصل ایصاء د باطلولو سبب نه وګرځي وَتَغْيِيرُ الْوَصْفِ لِتَصْحِيحِ الْأَصْلِ أَوْلَى او د اصل د صحیح ګرځولو لپاره د وصف بدلول زیات غوره دي.

اللغات: ﴿مستبد﴾ د استفعال د باب فاعل دی: مستقل، یوازینی. ﴿مُلَّاك﴾ جمع د مَالِك ده: مالک، خاوند، څښتن. ﴿ناظر﴾ د نصر د باب فاعل دی: نګران، ساتونکی او پام کونکی، د مصلحت رعایت کونکی (مصلحت غوښتونکی)، مشفق (شفقت کونکی).

تشریح: مخکي د امام صاحب رَحِمَهُ الله قول ذکر سو چي که د موصي وارثان کم عمره او نابالغه وي، نو بیا خپل غلام د ځان وصي جوړول جائز او صحیح دي؛ په دې هکله د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي غلام عاقل او بالغ دی او د عقل او بلوغ په وجه په اُمورو مخاطب دی، نو ځکه په تصرّف کي مستقل او خود مختاره دی او پر هغه بل هیڅ ته هم ولایت حاصل نه دی چي هغه منع کړي او بندیز پرې ولګوي، ځکه د وصي وارثان که څه هم د هغه مالکان دي، لیکن د خپل کم عمرۍ په وجه هغو ته د غلام منع کولو حق نسته، نو ځکه د هغه ولایت ثابت دی او د رقیت سره د هغه ټکر نسته. او بل دا چي کله موصي هغه خپل وصي جوړ کړی دی، نو دا د دې خبري څرګند دلیل دی چي دا غلام د موصي لپاره مصلحت غوښتونکی او د هغه معتمد غلام دی. نو ځکه د هغه وصایت صحیح دي. او لکه څرنګه چي که موصي خپل مکاتب د ځان وصي جوړ کړي نو صحیح دي. نو همداسي که هغه خپل رقیق د ځان وصي جوړ کړي نو دا هم صحیح او جائز دي.

والوصاية إلخ: او پاته سو د وصایت د متجزي کېدلو خبره کوم چي صاحبینو رَحِمَهُمَا الله کړې ده. نو د هغه دوه جوابه دي: ① اول جواب خو یې دا دی چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله د یوه روایت مطابق د هغه په نیز وصایت متجزي کیږي، لهذا په دې حواله سره اعتراض کول بې ځایه دي. ② او دویم جواب یې دا دی چي که موږ وصایت متجزي نه وګرځوو او تجزي نه پکښې ومنو، نو د اصل ایصاء باطل

کول به لازم سي لکه ځرنګه چي صاحبينو رَحِمَهُمَا الله کړي دي، حال دا چي که په هغه کي تجزی ومنل سي نو صرف دايصاء په وصف کي به تغير راسي، او دا خو معلومه خبره ده چي په اصل کي صرف تغیر راتلل د هغه له باطلولو ځخه اولیٰ او غوره دي، نو ځکه په وصيت کي به تجزی منل کيږي او هغه به له باطليدلو ځخه همدارنګه د عاقل بالغ کس کلام به له لغو کېدلو ځخه ساتل کيږي.

داسې څوک وصي جوړول ګوم چي د وصايت له ذمه واريو ځخه عاجزه وي

قَالَ: وَمَنْ أَوْصَى إِلَى مَنْ يَعْجِزُ عَنِ الْقِيَامِ بِالْوَصِيَّةِ فرمايي: او څوک چي داسي کس وصي جوړ کړي کوم چي د وصيت له اداء کولو ځخه عاجزه وي ضَمَّ إِلَيْهِ الْقَاضِيْ غَيْرَهُ نو قاضي دي د هغه سره بل څوک [هم] يو ځای کړي رِعَايَةً لِحَقِّ الْمُوْصِيْ وَالْوَرَثَةِ د موصي او وارثانو د حق د رعايت کولو لپاره. وَهٰذَا لِأَنَّ تَكْمِيْلَ النَّظَرِ يَحْصُلُ بِضَمِّ الْآخَرِ إِلَيْهِ او دا ځکه چي د مصلحت بشپړتيا [کامل مصلحت او شفقت] د وصي سره د بل چا په يو ځای کولو سره حاصليږي لِصِيَانَتِهِ وَبَعْضِ كِفَايَتِهِ د وصي د حفاظت په وجه او د هغه د ځه کفايت په وجه [يعني د بل چا په ضمولو سره د وصي صيانت او حفاظت هم کيږي او ځه کفايت يې هم کيږي چي هغه بل څوک په بعضي اُمورو کي د وصي مددګار او کافي کيږي] فَيَتِمُّ النَّظَرُ بِإِعَانَةِ غَيْرِهِ نو د هغه بل چا په مدد کولو سره به مصلحت [او شفقت] تام سي.

اللغات: ﴿صيانة﴾ د ضرب د باب مصدر دی: حفاظت کول، ساتل او ژغورل. ﴿کفايـة﴾ د ضرب د باب مصدر دی: کافي کېدل، همدارنګه هغه ځه کوم چي کافي او له بل ځخه څوک مستغني کړي. ﴿إعانة﴾ د افعال د باب مصدر دی: مدد کول، کومک کول.

تشريح: صورت د مسئلې خو واضح او آسانه دی چي که يو سړی نا اهله کس د ځان وصي جوړ کړي کوم چي د وصايت له ذمه واريو ځخه عاجزه وي، نو په دې صورت کي د قاضي ذمه واري دا ده چي د هغه کس سره يو بل هوښيار او قادر کس هم شامل کړي او هغوی دواړو ته د وصايت د ذمه واريو د اخيستلو او پوره کولو حکم وکړي؛ د دې لپاره چي د موصي او د هغه د وارثانو ټولو رعايت وسي؛ ځکه په داسي کولو سره د دوی په حق کي کامل مصلحت او شفقت حاصليږي، او د دغه عاجز وصي صيانت او حفاظت هم کيږي چي په بعضي اُمورکي به هغه بل کس د ده کفايت کوي، لهذا کله چي هغه بل کس د ده مُعين او مرستيال سي، نو مصلحت او شفقت به تام او بشپړ سي.

که وصي دقاضي مخ ته دخپلي عاجزۍ اونا اهلۍ شکايت وکړي نو څه حکم دی؟

وَلَوْ شَكَا إِلَيْهِ الْوَصِيُّ ذٰلِكَ او که چیري وصي قاضي ته د خپل عجز شکایت وکړي لَا يُجِيبُهُ حَتّٰى يَعْرِفَ ذٰلِكَ حَقِيْقَةً نو قاضي به د هغه خبره نه مني تر دې چي حقيقتاً دا معلومه کړي لِأَنَّ الشَّاكِيَ قَدْ يَكُوْنُ كَاذِبًا تَخْفِيفًا عَلٰى نَفْسِهِ ځکه چي شکایت کونکی ځیني وخت پر خپل ځان د آساني کولو په خاطر درواغ ویونکی وي وَإِذَا ظَهَرَ عِنْدَ الْقَاضِيْ عَجْزُهُ أَصْلًا او کله چي د قاضي په نېز د هغه عاجزي په یقیني توګه ښکاره سي اِسْتَبْدَلَ بِهِ نو قاضي به هغه بدل کړي [د ده پر ځای به بل څوک وصي مقرر کړي] رِعَايَةً لِلنَّظَرِ مِنَ الْجَانِبَيْنِ د دواړو طرفونو د مصلحت [او شفقت] په رعایت کولو سره وَلَوْ كَانَ قَادِرًا عَلَى التَّصَرُّفِ أَمِيْنًا فِيْهِ او که چیري وصي پر تصرّف قادر وي او په تصرّف کي امانتداره وي لَيْسَ لِلْقَاضِيْ أَنْ يُخْرِجَهُ نو بیا قاضي ته دا حق نسته چي هغه [له وصایت څخه] خارج کړي لِأَنَّهُ لَوِ اخْتَارَ غَيْرَهُ ځکه که چیري قاضي بل څوک اختیار کړي [یعني د ده پر ځای بل څوک وصي مقرر کړي] كَانَ دُوْنَهُ نو هغه به تر ده کمتر [او نا اهله] وي لِمَا أَنَّهُ كَانَ مُخْتَارَ الْمَيِّتِ وَمَرْضِيَّهُ ځکه چي دئ د مړي [له طرفه] منتخب کړی سوی او د هغه [له طرفه] خوښ کړی سوی دی فَإِبْقَاؤُهُ أَوْلٰى نو د ده باقي پرېښوول زیات غوره دي وَلِهٰذَا قُدِّمَ عَلٰى أَبِي الْمَيِّتِ په همدې وجه دئ د مړي [موصي] پر پلار مخکي کول کیږي مَعَ وُفُوْرِ شَفَقَتِهِ سره د دې چي د پلار شفقت بشپړ وي فَأَوْلٰى أَنْ يُقَدَّمَ عَلٰى غَيْرِهِ نو پر بل چا به په درجه اولیٰ مخکي کول کیږي.

اللغات: ﴿لا يُجيبه﴾ د افعال له بابه د نفي صیغه ده: د څه جواب ورکول، قبلول او منل. ﴿تخفیف﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: سپکول، آساني کول. ﴿مرضيّ﴾ د سمع د باب مفعول دی: خوښ کړی سوی (خوښ). ﴿وفور﴾ د ضرب د باب مصدر دی: پوره کېدل، بشپړ کېدل، زیاتېدل.

تشریح: صورت د مسئلي: دا دی که چیري خپله وصي د قاضي مخ ته د خپلي عاجزۍ شکایت وکړي چي زه د وصایت ذمه واري نه سم پوره کولای او د وصي کېدلو اهل نه یم، نو قاضي به محض د دغه شکایت په وجه هغه له وصایت څخه نه باسي؛ ځکه ځیني خلک د ځان هوسایۍ او ځان خلاصولو لپاره په دې هکله درواغ جوړوي. نو ځکه قاضي ته پکار دي چي ښه تحقیق او پلټنه

وکړي او په تحقيق سره چي کله دا څرګنده سي چي واقعي دغه وصي مجبوره دی او د وصايت ذمه واري نه سي اداء کولای. نو د هغه پر ځای به بل قادر کس وصي جوړ کړي، د دې لپاره چي د دواړو رعايت او حفاظت وسي يعني د وارثانو د حق رعايت هم وسي او د وصي هم رعايت سي.

ولو كان إلخ: د دې حاصل دا دی چي که وصي پر تصرف قادر وي او په دې هکله امانتداره وي، نو قاضي ته دا حق نسته چي هغه له وصايت څخه وباسي او د هغه پر ځای بل څوک ودروي: ځکه هغه د مړي (موصي) له طرفه ټاکل سوی او خوښ کړی سوی وصي دی، او کېدلای سي چي قاضي کوم څوک د هغه پر ځای مقرر کړي. هغه به له ده څخه خراب او بې ايمانه وي،نو ځکه بلا وجه او بلا عذره قاضي ته دا حق نسته چي د مړي له طرفه ټاکل سوی وصي ليري کړي. او بل دا چي کله د موصي پلار موجود وي، نو د هغه وصي د هغه تر پلار مخکي او مقدم کول کيږي حال دا چي د پلار شفقت کامل او تر ټولو زيات وي، لهذا کله چي وصي تر پلار هم مخکي کول کيږي، نو تر نورو خلکو به په درجه اولیٰ مخکي کول کيږي کله چي په هغه کي هيڅ کمي نه وي او پر دې کار قادر وي،نو ځکه قاضي به له هغه څخه بغير بل څوک نه دروي، بلکي د وصايت کار به صرف د هغه پر ذمه پرېږدي.

که وارثان قاضي ته د وصي شکايت وکړي نو څه حکم دی؟

وَكَذَا إِذَا شَكَا الْوَرَثَةُ أَوْ بَعْضُهُمُ الْوَصِيَّ إِلَى الْقَاضِي او همدارنګه کله چي وارثان يا بعضي د دوی قاضي ته د وصي شکايت وکړي فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَعْزِلَهُ نو قاضي ته پکار نه دي چي هغه [سمدستي] معزوله کړي حَتَّى يَبْدُوَ لَهُ مِنْهُ خِيَانَةٌ تر دې چي د قاضي مخ ته د هغه خيانت ښکاره سي لِأَنَّهُ اِسْتَفَادَ الْوِلَايَةَ مِنَ الْمَيِّتِ ځکه چي هغه [وصي] له مړي څخه ولايت حاصل کړی دی غَيْرَ أَنَّهُ إِذَا ظَهَرَتِ الْخِيَانَةُ مګر کله چي [د هغه] خيانت ښکاره سي فَالْمَيِّتُ إِنَّمَا نَصَبَهُ وَصِيًّا لِأَمَانَتِهِ نو مړي [موصي] خو هغه د خپل امانت په وجه وصي ټاکلی وو وَقَدْ فَاتَتْ او [اوس] امانت فوت سو وَلَوْ كَانَ فِي الْأَحْيَاءِ او که چيري هغه [موصي] له ژونديو څخه وای لَأَخْرَجَهُ مِنْهَا نو دا وصي به يې له وصايت څخه ايستلی وای فَعِنْدَ عَجْزِهِ يَنُوبُ الْقَاضِي مَنَابَهُ لهذا د موصي د عاجزۍ په وخت کي به قاضي د هغه نائب کيږي كَأَنَّهُ لَا وَصِيَّ لَهُ ګواکي د هغه لپاره ګردسره وصي سته نه.

اللغات: ﴿يعزل﴾ د ضرب د باب مضارع ده: معزوله کول، له منصبه ليري کول، ګوښه کول او برطرفه کول. ﴿تبدو﴾ د نصر د باب مضارع ده: ښکاره کېدل، څرګنېدل. ﴿استفاد﴾ د استفعال د باب مصدر دی: حاصلول او ترلاسه کول، فايده حاصلول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که د موصي ټوله وارثان يا بعضي وارثان قاضي ته د وصي شکايت يووسي، نو قاضي لره پکار دي چې محض د شکايت په اورېدلو سره هغه معزوله نه کړي، هو! کله چې د وصي خيانت د قاضي مخ ته څرګند او ثابت سي، بيا دي هغه معزوله کړي، لېکن سمدستي به قاضي هيڅ فيصله نه کوي؛ ځکه موجوده وصي ته د مړي له طرفه ولايت حاصل سوی دی، نو ځکه د هغه په خارجولو کي به تلوار نه کيږي، لېکن کله چې د هغه خيانت ښکاره سي، نو بيا د هغه په خارجولو کي به ځنډ نه کيږي او سمدستي به هغه د معزولۍ په شپېړه وهل کيږي؛ ځکه موصي هغه د خپل امانتدارۍ په وجه وصي ټاکلی وو، حال دا چې هغه خائن ثابت سو او ښکاره ده چي که موصي ژوندی وای نو هغه به يې له وصايت څخه ايستلی او ګوښه کړی وای، لېکن اوس د مرګ په وجه هغه له ايستلو او ګوښه کولو څخه عاجزه دی، نو ځکه اوس به د هغه له طرفه قاضي د هغه د نائب په توګه وصي برطرفه کوي او دا به ويل کيږي چي مړي (موصي) هيڅ وصي هم ټاکلی نه دی، نو ځکه قاضي به له نوي سره بل څوک وصي مقرر کوي.

په يوه وخت کي دوه نفره وصيان جوړول (حکم او تفصيل)

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى إِلَى اثْنَيْنِ فرمايي: او څوک چي دوو کسانو ته وصيت وکړي [يعني دوه کسان د خان وصيان جوړ کړي] لَمْ يَكُنْ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ دُوْنَ صَاحِبِهِ نو په هغوی کي د يوه لپاره دا حق نسته چي له خپل ملګري [بل وصي] څخه بغير [تنها] تصرّف وکړي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز [يعني يوه وصي ته تنهاد تصرف کولو حق نسته بلکي په تصرف کي د دواړو اجتماع ضروري ده] إِلَّا فِيْ أَشْيَاءَ مَعْدُوْدَةٍ نُبَيِّنُهَا إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى مګر په څو شيانو کي چي هغه به ان شاء الله [څه وروسته] موږ بيان کړو [چي هلته تقريباً پنځلس شيان بيان سوي دي] وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ ۞: يَنْفَرِدُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالتَّصَرُّفِ فِيْ جَمِيْعِ الْأَشْيَاءِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي له دوی څخه هر

۞ القول الراجح: قول الطرفين رَحِمَهُمَا الله، انظر للتفصيل [القول الراجح ج:۲، ص:۳۸۵]

وصي په ټولو شیانو کي په تصرف کولو سره منفرد [او خود مختاره] دی [هر یوه ته تنهاد تصرف کولو حق سته] لِأَنَّ الْوِصَايَةَ سَبِيلُهَا الْوِلَايَةُ ځکه چي د وصایت طریقه ولایت دی وَهِيَ وَصْفٌ شَرْعِيٌّ لَا تَتَجَزَّأُ او ولایت یو شرعي وصف دی کوم چي نه متجزي کیږي فَيَثْبُتُ لِكُلٍّ مِنْهُمَا كَمَلًا نو ځکه له دوی څخه د هر یوه لپاره به دا ولایت په کامله توګه ثابتیږي كَوِلَايَةِ الْإِنْكَاحِ لِلْأَخَوَيْنِ لکه دوو ورونو لپاره د نکاح کولو ولایت [چي په کامله توګه ثابتیږي] وَهٰذَا لِأَنَّ الْوِصَايَةَ خِلَافَةٌ او دا ځکه چي وصایت خلافت دی وَإِنَّمَا تَتَحَقَّقُ إِذَا انْتَقَلَتِ الْوِلَايَةُ إِلَيْهِ عَلَى الْوَجْهِ الَّذِي كَانَ ثَابِتًا لِلْمُوصِي او خلافت هغه وخت متحقق کیږي کله چي د وصي طرف ته په هماغه طریقه سره ولایت منتقل سي څرنګه چي د موصي لپاره ثابت وو وَقَدْ كَانَ بِوَصْفِ الْكَمَالِ او د موصي لپاره دا ولایت د کمال په وصف سره [په کامله توګه] ثابت وو وَلِأَنَّ اخْتِيَارَ الْأَبِ إِيَّاهُمَا يُؤْذِنُ بِاخْتِصَاصِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالشَّفَقَةِ او ځکه چي د پلار له طرفه د دوی دواړو [وصیانو] اختیارول خبر ورکوي له دوی څخه د هر یوه د خاص کېدلو په شفقت سره [یعني موصي چي دوه کسان وصیان ټاکلي دي دغه د دې خبر ورکوي چي له دوی څخه هر یو په شفقت سره مختص دی] فَيُنَزَّلُ ذٰلِكَ مَنْزِلَةَ قَرَابَةِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نو دا اختصاص به د هر یوه د قرابت په منشله ګرځول کیږي.

اللغات: ﴿معدودة﴾ د نصر له بابه د مفعول صیغه ده: څو شمېرل سوي (شیان). ﴿يؤذن﴾ د افعال د باب مضارع ده: اګاه کول، خبر ورکول. ﴿ينزّل﴾ د تفعیل د باب مضارع مجهوله ده: شوه کول (صحیح همدا ده چي په دې معنیٰ د تفعیل له باب څخه مستعمل دی). ينزّل منزلة: یو شی د بل په درجه کي شوه کول (د بل شي په منزله ګرځول)، یو څه د بل څه پر ځای اېښوول. د بل شي قائم مقام کول. ﴿المَنْزِلة﴾ مکان او مرتبه، درجه.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي که یو څوک دوه کسان خپل وصیان وټاکي، نو د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز له څو شیانو او اُمورو څخه بغیر نور د ټولو اُمورو په تصرف کي د دواړو وصیانو اجتماع ضروري ده. او هر یوه ته په انفرادي توګه د تصرف کولو حق نسته (او هغه څو شیان به څه وروسته

ذکر سي). لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز له دوی څخه هر یو په کامله توګه وصي دی او هر یوه ته په هر شي او هر امر کي د انفراداً تصرّف کولو حق سته. په دې هکله امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله درې دلیلونه پېش کړي دي:

①... اول دلیل دا دی چي وصایت د ولایت په ذریعه ثابتیږي؛ ځکه موصي د خپل مال او جایداد ولایت او ذمه واري وصي ته سپاري، او ولایت یو شرعي وصف دی چي په هغه کي تجزّی او تقسیم نه سي کېدلای. نو ځکه دغه ولایت به په دواړو وصیانو کي د هر یوه لپاره په کامله توګه ثابتیږي. او په کامله توګه د هغه د ثابتېدلو مطلب دا دی چي هر یو په خپل تصرّف کي آزاد وي او بل یوه ته محتاج نه وي. مثلاً که دیوې انجلۍ دوه وروڼه وي، نو دوی دواړه د هغې د نکاح کولو مکمّل اختیار لري او هر یو د هغه په هکله خود مختاره دی او بل یوه ته محتاج نه دی. نو همداسي دلته به هم هر موصي خودمختاره وي او په خپل تصرّف کي به بل وصي ته محتاج نه وي.

②... دویم دلیل دا دی چي وصایت خلافت دی او د خلیفه لپاره چي کوم خلافت ثابتیږي، هغه د خپل هغه ټولو اوصافو او لوازماتو سره ثابتیږي کوم چي د اصل لپاره ثابت وي او څرنګه چي د اصل یعني د موصي لپاره دا ولایت په کامله توګه ثابت دي، نو ځکه په کامله توګه به د هغه د خلیفه ګانو "وصیانو" لپاره هم ثابتیږي. او کمال هماغه وخت ثابتیږي کله چي هر وصيّ په تصرّف کي آزاد او خود مختاره وي.

③... درېیم دلیل دا دی چي کله مړي (موصي) دوه کسان وصیان وټاکل، نو د دې خبري اعلان یې وکړی چي هغه د دوی دواړو شفقت او مصلحت مختصّ او اهم ګڼي، او د دواړو دغه اهمیت او اختصاص بالشفقه ته به دا درجه ورکول کیږي چي ګواکي د موصي سره د دوی دواړو قرابت دی (یعني ګواکي دواړه د موصي قربیان دي). او د قرابت په وجه چي کوم ولایت حاصلیږي هغه کامل وي (یعني د قریب لپاره په کامله توګه ولایت ثابتیږي). نو ځکه د دوی دواړو لپاره به هم په کامله توګه ولایت او وصایت ثابتیږي او په ټوله اُمورو کي به دوی هر یوه ته د انفراداً تصرّف کولو ملکیت او اختیار وي.

په پورتني مسئله کي د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل

وَلَهُمَا: أَنَّ الْوِلَايَةَ تَثْبُتُ بِالتَّفْوِيْضِ د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی: چي ولايت په تفويض سره ثابتيږي فَيُرَاعٰی وَصْفُ التَّفْوِيْضِ نو ځکه د تفويض د وصف رعايت به کول کيږي وَهُوَ وَصْفُ الْاِجْتِمَاعِ او هغه [د تفويض وصف] د اجتماع وصف دی إِذْ هُوَ شَرْطٌ مُفِيْدٌ ځکه چي اجتماع مفيد شرط دی وَمَا رَضِيَ الْمُوْصِيْ إِلَّا بِالْمُثَنّٰى او موصي نه دی راضي سوی مګر په دوو [وصيانو] سره وَلَيْسَ الْوَاحِدُ كَالْمُثَنّٰى او يو د دوو په څېر نه دی بِخِلَافِ الْأَخَوَيْنِ فِي الْإِنْكَاحِ په خلاف د دوو ورونو په نکاح کولو کي لِأَنَّ السَّبَبَ هُنَالِكَ الْقَرَابَةُ ځکه چي هلته [د ولايتِ انکاح] سبب قرابت دی وَقَدْ قَامَتْ بِكُلٍّ مِنْهُمَا كَمَلًا او قرابت په دوی دواړو کي د هر يوه [ورور] سره په کامله توګه قائم [موجود] دی وَلِأَنَّ الْإِنْكَاحَ حَقٌّ مُسْتَحَقٌّ لَهَا عَلَى الْوَلِيِّ او ځکه چي نکاح کول [ښځه په نکاح ورکول] داسي حق دی کوم چي د ښځي لپاره پر ولي واجب دی حَتّٰى لَوْ طَالَبَتْهُ بِإِنْكَاحِهَا مِنْ كُفْوٍ يَخْطُبُهَا تر دې چي که ښځه له ولي [سرپرست] څخه د داسي کفو کس سره د خپل نکاح کولو مطالبه وکړي کوم چي هغې ته د نکاح پېغام واستوي يَجِبُ عَلَيْهِ نو پر ولي نکاح کول واجب دي وَهٰهُنَا حَقُّ التَّصَرُّفِ لِلْوَصِيِّ او دلته د تصرف حق وصي لره دی وَلِهٰذَا يَبْقٰى مُخَيَّرًا فِي التَّصَرُّفِ په همدې وجه وصي په تصرف کي اختيار من پاتيږي فَفِي الْأَوَّلِ أَوْفٰى حَقًّا عَلٰى صَاحِبِهِ نو په اول صورت کي ولي [ورور] داسي حق اداء کړی دی کوم چي د هغه پر ملګري [دويم ورور] باندي واجب دی فَصَحَّ نو ځکه هغه صحيح دی وَفِي الثَّانِي اسْتَوْفٰى او په دويم صورت کي وصي [د اول وصي] حق اخيستی دی لِأَنَّ وِلَايَةَ التَّصَرُّفِ لَهُمَا ځکه چي د تصرف ولايت دوی دواړو اوصيانو لره سته أَصْلُهُ الدَّيْنُ الَّذِيْ عَلَيْهِمَا وَلَهُمَا د دې اصل هغه قرض دی کوم چي پر دوو کسانو باندي وي او [هغه قرض کوم چي] د دوو کسانو لپاره وي.

اللغات: ﴿تفويض﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ورسپارل. ﴿يُراعٰی﴾ د مفاعلې د باب مضارع مجهول هدہ: رعايت کول. لحاظ کول. ﴿إنكاح﴾ د افعال د باب مصدر دی: د بل چا نکاح کول. ﴿كفو﴾ برابر. سيال. مثلاً که دوه کسان په نسب او کسب (پېشه) کي سره برابر وي نو يوه ته د بل کفو

وايي. ﴿يخطب﴾ د نصر د باب مضارع ده: د نکاح پيغام استول (مرکه استول). ﴿استوفى﴾ د استفعال د باب ماضي ده: پوره اخيستل. ترلاسه کول. ﴿دَين﴾ قرض.

تشريح: په دې عبارت کې د طرفينو رَحِمَهُمَا الله دليل بيان سوی دی. حاصل يې دا دی چې د وصي لپاره چې کوم د وصايت ولايت ثابت سوی دی. هغه د تفويض يعني د موصي د ورسپارلو او ورکولو په وجه ثابت سوی دی. نو ځکه په هغه کې به د تفويض د وصف پوره رعايت کول کيږي. او موصي د اجتماع په وصف سره تفويض کړی دی. نو ځکه د وصي په حق کې به هم د اجتماع په وصف سره هغه منتقل کيږي: ځکه دا د اجتماع وصف يو مفيد شرط دی: ځکه چې د يوه په مقابله کې د دوو قوت اقوىٰ او ظاهر دی. او بل دا چې موصي دلته په دوو وصيانو راضي سوی دی. لهذا صرف يوه وصي ته د تصرف اختيار ورکول د موصي د رضامندۍ هم خلاف دي او د تفويض د وصف هم مخالف دي، نو ځکه موږ وايو چې صرف يوه وصي ته د تصرف اختيار ورکول او د وصايت ذمه واري ورسپارل صحيح نه دي.

بخلاف الأخوين إلخ: دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قياس جواب دی. حاصل يې دا دی چې د وصايت والا مسئله د دوو ورونو د نکاح پر مسئله قياسول صحيح نه دي؛ ځکه د ولايتِ انکاح سبب قرابت دی (يعني چا ته خپله انجلۍ په نکاح ورکول د دې ولايت قريب لره حاصل دی) او قرابت د دوو ورونو لپاره په کامله توګه ثابت دی. نو ځکه د خور په نکاح ورکولو کې هر يو په کامله توګه خود مختاره او مستقل دی او په دې تصرف کې يو بل ته محتاج نه دی.

دويمه خبره دا ده چې د بې واده انجلۍ نکاح کول د هغې پر ولي لازم شُده حق دی. تر دې چې که يو سړی د يو چا انجلۍ تمرکه وکړي او د نکاح پيغام ورواستوي او هغه سړی د انجلۍ کفو وي. نو د انجلۍ د مطالبې په صورت کې پر ولي د هغې نکاح کول واجب دي، حال دا چې پر وصي هيڅ شی هم واجب نه دي، په همدې وجه هر وصي په تصرف کې اختيارمن دی. اوس که په مخکنۍ مسئله کې يعني د نکاح په مسئله کې يو ورور تنها د خور نکاح وکړي، نو ګواکې هغه له بل ورور څخه د يو لازم او واجب کار بوج ليري کړی او د هغه سره يې آساني اختيار کړه. نو ځکه د هغه يوه ورور دا فعل صحيح دی، لېکن څرنګه چې په دويمه مسئله يعني د وصايت په مسئله کې پر دوو وصيانو هيڅ شی هم واجب نه دی، لهذا که يو وصي تنها يو کار او تصرف وکړي. نو په حقيقت کې هغه د بل وصي حق سلب کړی: نو ځکه دلته د هغه يوه وصي فعل صحيح نه دی. بلکې د دواړو اجتماع او په ګډه کار کول ضروري دي (إلّافي أشياء معدودة).

أصله الدّين الذی عليهما ولهما إلخ: په دې عبارت سره صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله د مذكوره مسئلې يعني د انكاح د مسئلې او د وصايت د مسئلې تخريج بيان كړې ده. فرمايي چې د ولايت انكاح مثال داسې دى لكه د يو سړي چې پر دوو كسانو مثلاً د زيد پر خالد او حامد دواړو قرض باندې وي او بيا خالد د حامد قرض هم اداء كړي. نو دا د ولايت انكاح مثال دى. ګواكي په دې صورت كې خالد د حامد واجب حق اداء كړى او د هغه سره يې آسانې اختيار كړه. او د وصايت مثال دا دى چې پر زيد مثلاً د خالد او حامد دواړو قرض باندې دى او بيا خالد خپل قرض او د حامد قرض (دواړه قرضونه) واخيستل. نو خالد په دې اخيستلو سره د حامد حق سلب كړي. لهذا په دې سره د حامد حق نه اداء كيږي. دا د وصايت مثال سو.

(اشياء معدودة) په كومو شيانو كې د دواړو وصيانو اجتماع ضروري نه ده

او هر وصي ته تنها د تصرف حق په كومو أمورو كې حاصل دى؟

بِخِلَافِ الْأَشْيَاءِ الْمَعْدُوْدَةِ په خلاف د څو شيانو لِأَنَّهَا مِنْ بَابِ الضَّرُوْرَةِ لَا مِنْ بَابِ الْوِلَايَةِ ځكه چې هغوى د ضرورت له باب څخه دي، نه د ولايت له باب څخه وَمَوَاضِعُ الضَّرُوْرَةِ مُسْتَثْنَاةٌ أَبَدًا او د ضرورت ځايونه همېشه مستثنىٰ وي وَهِيَ مَا اسْتَثْنَاهُ فِي الْكِتَابِ وَأَخَوَاتِهَا او دا هغه شيان دي كوم چې يې په قدوري [متن] كې مستثنىٰ كړي دي فَقَالَ نو امام قدوري رَحِمَهُ الله فرمايلي دي إِلَّا فِيْ شِرَاءِ كَفَنِ الْمَيِّتِ وَتَجْهِيْزِهِ مګر [هر وصي ته له خپل ملګري څخه بغير (تنها) د تصرف كولو حق سته] د مړي [موصي] د كفن په رانيولو كې او د مړي په تجهيز كې لِأَنَّ فِي التَّأْخِيْرِ فَسَادَ الْمَيِّتِ ځكه چې په ځنډ كولو كې د مړي [دبدن] خرابېدل سته وَلِهٰذَا يَمْلِكُهُ الْجِيْرَانُ عِنْدَ ذٰلِكَ په همدې وجه د ځنډ په وخت كې همسايه ګان د تجهيز ملكيت [اختيار] لري وَطَعَامِ الصِّغَارِ وَكِسْوَتِهِمْ او د كوچنيانو په خوراك او د هغوى په كپړه راوړلو كې لِأَنَّهُ يُخَافُ مَوْتُهُمْ جُوْعًا وَعُرْيًا ځكه چې د وږې [الوږي] او لڅوالي په وجه د هغوى مرګ بېره سته.

اللغات: ﴿معدودة﴾ د نصر له بابه د مفعول صيغه ده: څو شمېرل سوي (شيان)، ﴿تجهيز﴾ د تفعيل مصدر دى. د دې باب خپله معنىٰ ده: يو شى تيارول. چمتو كول. تجهيز الميت: مړى د ښخولو لپاره تيارول (يعني غسل او كفن وركول). او په تجهيز كې هغه ټول أمور داخل دي كوم چې قبر ته د دننه

کولو تر وختـه مړی هغه تـه محتـاج وي (اشرف الهدایه). ﴿جوع﴾ د نصر د باب مصدر دی: وږه (لوږه).
﴿عریان﴾ د سمع له بابه د فاعل صیغه ده: لڅ (لوڅ). لغړ. بربنډ.

تشریح: فرمایي چي بعضي شیان داسي دي کوم چي د اجتماع له وصف څخه خارج دي او له دواړو وصیانو څخه هر وصي هغه تنها هم کولای سي: ځکه چي دا شیان د ضرورت له قبیل څخه دی او د ضرورت مواقع همېشه مستثنیٰ وي. مصنف رحمه الله دلته تقریباً پنځلس شیان او صورتونه ذکر کړي دي چي هغه به موږ په ترتیب سره بیان کړو:

①... که د مړي (موصي) لپاره کفن رانیولو ته ضرورت پېښ سي او دواړه وصیان موجود نه وي. نو صرف یو وصي هم هغه رانیولای سي. او بل وصي ته به انتظار نه کیږي.

②... همدارنګه د مړي په تجهیز کي به بل وصي ته انتظار نه کیږي. ځکه په انتظار کولو او په تأخیر کولو کي د مړي د خرابېدلو خطره سته. نو ځکه بل وصي تـه به انتظار نـه کیږي. همدا وجه ده که د مړي دواړه وصیان موجود نه وي. نو د مړي همسایه ګان به د هغه تجهیز او تکیفین کوي او هیچا ته به انتظار نه کوي.

③... که د موصي د کوچنیانو (بچیانو) لپاره خوراک راوړلو ته ضرورت پېښ سي. نو تنها یو وصي هم هغه رانیولای سي او بل وصي ته به نه انتظار نه کیږي، ځکه که انتظار وسي. نو دا بېره سته چي د سختي وږي څخه به ماشومان ناروغه او مړه سي.

④... همدارنګه که د موصي د کوچنیانو لپاره کپړو رانیولو تـه ضرورت پېښ سي. نو تنها یو وصي هم هغه رانیولای سي او د دې لپاره به بل وصي ته انتظار نه کیږي: ځکه که انتظار وسي. نو دا بېره سته چي د کپړو د نشتوالي او لڅوالي په وجه به کوچنیان د سخت یخ یا ګرمی له کبله ناروغه او مړه سي.

هر وصي ته تنها د تصرف حق په کوموشیانو کي حاصل دی؟

وَرَدِّ الْوَدِيعَةِ بِعَيْنِهَا او د متعین ودیعت په واپس کولو کي وَرَدِّ الْمَغْصُوبِ او د غصب کړی سوي شي په واپس کولو کي وَالْمُشْتَرىٰ شِرَاءً فَاسِدًا او په فاسد رانیولو سره د رانیول سوي شي په واپس کولو کي وَحِفْظِ الْأَمْوَالِ او د مالونو په حفاظت کولو کي وَقَضَاءِ الدُّيُونِ او د قرضونو په اداء کولو کي لِأَنَّهَا لَيْسَتْ مِنْ بَابِ الْوِلَايَةِ ځکه چي دا شیان د ولایت له باب څخه نه دي فَإِنَّهُ يَمْلِكُهُ الْمَالِكُ وَصَاحِبُ الدَّيْنِ إِذَا ظَفِرَ بِجِنْسِ حَقِّهِ ځکه [د ودیعت] مالک او د قرض مالک د هغه [د اخیستلو] ملکیت

لري کله چي دوی د خپل حق پر جنس بريالي سي [يعني خپل د وديعت شی او خپل د قرض مال په لاس ورسي او ترلاسه يې کړي. نو اخيستلای يې سي] وَحِفْظُ الْمَالِ يَمْلِكُهُ مَنْ يَقَعُ فِي يَدِهِ او د مال د حفاظت کولو خو [هر] هغه کس مالک کيږي د چا په قبضه کي چي مال واقع سي فَكَانَ مِنْ بَابِ الْإِعَانَةِ نو دا د اعانت له باب څخه سوه [نه د ولايت له باب څخه] وَلِأَنَّهُ لَا يُحْتَاجُ فِيهِ إِلَى الرَّأْيِ او ځکه چي په دې کي رايي ته ضرورت نسته وَتَنْفِيذِ وَصِيَّةٍ بِعَيْنِهَا [همدارنګه هر وصي ته تنها د تصرف کولو حق سته] د متعين وصيت په نافذولو کي وَعِتْقِ عَبْدٍ بِعَيْنِهِ او د متعين غلام په آزادولو کي لِأَنَّهُ لَا يُحْتَاجُ فِيهِ إِلَى الرَّأْيِ ځکه چي په هغه کي رايي ته ضرورت نسته وَالْخُصُومَةِ فِي حَقِّ الْمَيِّتِ او د مړي د حق په هکله په خصومت کولو کي لِأَنَّ الِاجْتِمَاعَ فِيهَا مُتَعَذِّرٌ ځکه چي په خصومت [دعوی] کولو کي اجتماع ستونزمنه ده وَلِهَذَا يَتَفَرَّدُ بِهَا أَحَدُ الْوَكِيلَيْنِ په همدې وجه له دوو وکيلانو څخه يو وکيل په خصومت کولو سره متفرد کيږي وَقَبُولِ الْهِبَةِ او د هبې په قبلولو کي لِأَنَّ فِي التَّأْخِيرِ خِيفَةَ الْفَوَاتِ ځکه په ځنډ کولو کي [د هبې] د فوتېدلو بېره سته وَلِأَنَّهُ يَمْلِكُهُ الْأُمُّ وَالَّذِي فِي حِجْرِهِ او ځکه چي د دې [هبه قبلولو] ملکيت لري مور او هغه کس چي بچی د هغه په پالنه کي وي [يعني دا کسان هم د بچي لپاره د هبې قبلولو اختيار لري] فَلَمْ يَكُنْ مِنْ بَابِ الْوِلَايَةِ نو دا [هبه قبلول] د ولايت له باب څخه نه سوه وَبَيْعِ مَا يُخْشَى عَلَيْهِ التَّوَى وَالتَّلَفُ [همدارنګه هر وصي ته تنها د تصرف کولو حق سته] د هغه شي په خرڅولو کي چي د هغه د هلاکېدلو او تلف کېدلو [بېره] وي لِأَنَّ فِيهِ ضَرُورَةً لَا تَخْفَى ځکه په دې کي ضرورت دی کوم چي پټ نه دی وَجَمْعِ الْأَمْوَالِ الضَّائِعَةِ او د متفرقه [خواره] مالونو په جمع کولو کي لِأَنَّ فِي التَّأْخِيرِ خَشْيَةَ الْفَوَاتِ ځکه چي په ځنډ کولو کي [د مالونو] د فوتېدلو بېره سته وَلِأَنَّهُ يَمْلِكُهُ كُلُّ مَنْ وَقَعَ فِي يَدِهِ او ځکه چي هر هغه کس د دې [مال جمع کولو] ملکيت لري چي د هغه په لاس کي مال واقع سي فَلَمْ يَكُنْ مِنْ بَابِ الْوِلَايَةِ نو دا د ولايت له باب څخه نه سوه.

اللغات: ﴿ظفر﴾ بری ترلاسه کول، کامیابېدل، یو شی ترلاسه کول (حاصلول). ﴿خيفة﴾ بېره، خطره. ﴿حِجْر﴾ غېږه، پالنه او روزنه (پرورش او تربيه). ﴿التوىٰ﴾ د سمع د باب مصدر دی: هلاکېدل، بربادېدل، ضايع کېدل (داسي ضايع کېدل چي بيا يې هيڅ اُميد نه وي).

تشریح: په کوموپو شیانو کې چې د دواړو وصیانو اجتماع ضروري نه ده او هر وصي ته تنهاد تصرف حق حاصل دی او بل وصي ته به انتظار نه کیږي، له هغوی څخه څلور خو مخکې ذکر سول، او یوولس صورتونه دلته ذکر کول کیږي چې د ټولو شمیر پنځلسو ته رسیږي:

⑤... که چیرې د موصي سره د یو چا متعین شی (مثلاً صندوخ) امانتاً ایښوول سوی وي، نو د هغه په واپس کولو کې د دواړو وصیانو اجتماع ضروري نه ده، بلکې کله چې دواړه موجود نه وي نو یو وصي هم هغه واپس کولای سي، او بل وصي ته به انتظار نه کیږي.

⑥... همدارنګه که موصي یو شی غصب کړی وي، نو هغه هم یو وصي ورته واپس کولای سي او بل وصي ته به انتظار نه کیږي.

⑦... که مشتري د شراء فاسد په توګه یو شی رانیولی وي، نو هغه شی هم یو وصي ورته واپس کولای سي او د دواړو اجتماع ضروري نه ده.

⑧... او د موصي د مالونو حفاظت او صیانت هم یو وصي تنها کولای سي او د هغوی د حفاظت کولو لپاره به بل وصي ته انتظار نه کیږي.

⑨... همدارنګه که پر مړي د خلګو قرضونه باندې وي، نو هغه هم یو وصي تنها اداء کولای سي، او د هغوی په اداء کولو کې به بل وصي ته انتظار نه کیږي.

د دغه ټولو اُمورو د تنها جائز کېدلو وجه دا ده چې دغه اُمور د ولایت د باب سره تعلّق نه لري؛ ځکه چاته چې د موصي له طرفه ولایت حاصل نه وي، هغه هم دا اُمور ترسره کولای سي؛ ځکه د ودیعت مالک (مودِع) چې کله هم راسي او ده ته خپل سامان حاصل سي، نو دئ خپله هغه اخیستلای سي، همدارنګه د قرض مالک (قرضخواه) ته چې کله د خپل حق جنس حاصل سي، نو دئ خپله هغه اخیستلای سي، او په شراء فاسد کې هم دغه حالت دی چې مالک هغه ور کولای سي. او پاته سوه د مالونو د حفاظت مسئله، نو د هغه لپاره صرف وصي مخصوص نه دی، بلکې د هر چا لاس ته چې د موصي مال راسي، د هغه حفاظت کولای سي، نو دا حفاظت هم د اعانت او ضرورت له باب څخه دی چې په هغه کې د بل چا رایې ته هیڅ ضرورت نسته چې داسي وویل سي چې د دواړو (وصیانو) په جمع کېدلو سره به په رایه کې مضبوطي پیدا سي.

وتنفيذ وصية إلخ: ⑩... لسم شی چې په هغه کې د دواړو وصیانو اجتماع ضروري نه ده، هغه معین وصیت دی مثلاً که موصي د یو معیّن کس لپاره وصیت کړی وي، نو د هغه په نافذولو کې هم د دواړو اجتماع ضروري نه ده بلکې یو وصي تنها هغه نافذولای سي او بل وصي ته د انتظار کولو ضرورت نسته.

⑪... همدارنګه که د یو معین غلام د آزادولو خبره وي. نو هغه هم یو وصي تنها آزادولای سي او د دواړو اجتماع ضروري نه ده.

⑫... که د مړي (موصي) د حق په باره کي خصم درولو ته ضرورت پېښ سي چي هغه د مړي د حق ترلاسه کولو لپاره خصومت (دعویٰ) وچلوي. نو دا کار هم یو وصي تنها کولای سي: ځکه د خصومت په باب کي حکم دا دی چي د دواړو داجتماع په صورت کي به هم صرف یو وصي تنها خصومت کوي. د دې لپاره چي د دواړو په خصومت کولو سره د قاضي په مجلس کي شور او غالمغال جوړ نه سي. همدا وجه ده که د یو چا له طرفه دوه وکیلان ټاکل سوي وي. نو بیا هم صرف یو وکیل به تنها خصومت کوي.

⑬... که څوک د موصي د بچیانو لپاره هبه وکړي. نو هغه هم یو وصي قبلولای سي او د دواړو اجتماع ضروري نه ده: ځکه که بل ته انتظار وسي. نو کېدلای سي چي هبه کونکی هبه پرېږدي او انکار وکړي. په همدې وجه دا اختیار مور ته هم ورکول سوی دی چي د بچي لپاره هبه قبوله کړي. همدارنګه د کوم چا په پالنه او روزنه کي چي یو بچی وي. هغه هم د بچي لپاره هبه قبلولای سي. لهذا کله چي د بچي مور او د هغه پالونکی هبه قبلولای سي. نو د بچي وصي خو به په درجه اولیٰ هغه قبلولای سي. برابره ده بل وصي (دویم وصي) موجود وي او که نه وي. لنډه دا چي هبه قبلول هم د ولایت له باب څخه نه دي.

وبیع مایخشیٰ علیه إلخ: ⑭... همدارنګه هغه شیان چي د هغوی د ضایع کېدلو او خرابېدلو بېره وي مثلاً شیدې. غوښي وغیره. نو هغه هم یو وصي تنها خرڅولای سي. ځکه چي په دې کي ضرورت متحقق دی.

⑮... همدارنګه که د موصي مال متفرق وي او دلته و هلته پروت وي. نو هغه هم یو وصي تنها جمع کولای سي او د هغوی د جمع کولو لپاره بل وصي ته د انتظار کولو ضرورت نسته: ځکه که انتظار وسي. نو د هغوی د فوت کېدلو او ضایع کېدلو احتمال سته. لهذا کوم وصي چي حاضر وي. هغه به یې جمع کوي. او څرنګه چي دا کار له وصي څخه بغیر بل هر هغه څوک هم کولای سي چي د هغه لاس ته د موصي مال راسي (یعني دا کار فقط د هغه کس لپاره مخصوص نه دی چي هغه ته د مړي [موصي] له طرفه ولایت حاصل وي لکه وصي. بلکي هر هغه کس د مال حفاظت کولای سي چي په لاس کي یې مال واقع سي. نو وصي خو یې په درجه اولیٰ کولای سي). لهذا ښکاره ده چي دا کار د ولایت له باب څخه نه دی. او کله چي د ولایت له باب څخه نه دی. نو د هغه په کولو کي یو او دوه دواړه سره برابر دي۔

د بيع او قبضې په صورت کې د دواړو وصيانو اجتماع ضروري ده

وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ: وَلَيْسَ لِأَحَدِ الْوَصِيَّيْنِ أَنْ يَبِيْعَ وَيَتَقَاضٰى او په جامع صغير کې دي: او له دوو وصيانو څخه يوه ته دا حق نشته چې بيع وکړي يا قبضه وکړي وَالْمُرَادُ بِالتَّقَاضِيْ الْاِقْتِضَاءُ او مراد له تقاضي څخه [پر قرض] قبضه کول [قرض اخيستل] دي كَذَا كَانَ الْمُرَادُ مِنْهُ فِيْ عُرْفِهِمْ همدا له هغه څخه د اهلِ کوفه [کوفيانو] په عرف کې مراد دي [خو زموږ په عرف کې د تقاضی مراد تقاضا او طلب دی] وَهٰذَا لِأَنَّهُ رَضِيَ بِأَمَانَتِهِمَا جَمِيْعًا فِي الْقَبْضِ او دا ځکه چې په قبضه کولو کې موصي د دوی دواړو په امانت راضې سوی دی وَلِأَنَّهُ فِيْ مَعْنَى الْمُبَادَلَةِ او ځکه چې قبضه کول د مبادلې په معنیٰ سره دي لَا سِيَّمَا عِنْدَ اخْتِلَافِ الْجِنْسِ خصوصاً د جنس د اختلاف په وخت کې عَلٰى مَا عُرِفَ لکه څرنګه چې دا پېژندل سوې ده فَكَانَ مِنْ بَابِ الْوِلَايَةِ نو ځکه دا به د ولايت له باب څخه وي.

اللغات: ﴿التقاضی﴾ د تفاعل د باب مصدر دی. د دې باب څو معناوي دي چې له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: د يو شي طلب کول او پر هغه قبضه کول. ترلاسه کول. ﴿الاقتضاء﴾ د افتعال د باب مصدر دی. د دې باب هم څو معناوي دي چې له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: د حق (قرض) طلب کول او اخيستل. قبضه پر کول. حق اخيستل، ﴿مبادلة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: يو شی د بل شي په بدله کې ورکول. يو په بل سره بدلول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي مثلاً زيد دوه کسان د ځان وصيان ټاکلي وي. نو د موصي (زيد) تر مرګ وروسته له هغوی څخه يوه وصي ته دا حق نشته چې د موصي له مال څخه يو. شی خرڅ کړي يا د موصيٰ پر قرض قبضه وکړي کوم چې پر يو چا باندي وي (يعني د موصي له مقروض څخه قرض واخلي). نو يوه وصي ته دا حق نشته؛ ځکه چې موصي (زيد) د دواړو پر اجتماعي امانت اعتماد کړی وو او د دواړو په اجتماع راضی سوی وو.

دويمه وجه دا ده چې د دې (بيع او قبضې) تعلق د ولايت د باب سره دی. نو ځکه دا په هغه څو مستثنیٰ شيانو کې نه داخليږي (کوم چې ژر مخکې ذکر سول)؛ ځکه په دې کې په هر صورت کې د "مبادله" معنیٰ موجوده وي. برابره ده جنس متحد وي او که مختلف وي. او د اختلاف جنس په صورت کې خو د "مبادله" د معنیٰ وجود زيات ښکاره دی. نو ځکه د بيع (خرڅولو) يا قبضه کولو لپاره د دواړو وصيانو اجتماع ضروري ده او تنها يوه وصي ته دا حق نشته.

که موصي دوه کسان جلا، جلا وصيان جوړ کړي، نو څه حکم دی؟

وَلَوْ أَوْصٰى إِلٰى كُلِّ وَاحِدٍ عَلَى الْإِنْفِرَادِ او که چیري موصي د هریوه لپاره په انفرادي توګه وصیت کړی وي [یعني هریو یې جلا. جلا وصي جوړ کړی وي] قِيْلَ: يَتَفَرَّدُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالتَّصَرُّفِ نو ویل سوي دي: چي له دوی څخه هریو په تصرّف کي متفرّد [او خود مختاره] کیږي بِمَنْزِلَةِ الْوَكِيْلَيْنِ إِذَا وَكَّلَ كُلُّ وَاحِدٍ عَلَى الْإِنْفِرَادِ د دوو وکیلانو په درجه کي کله چي مؤکل هریو په انفرادي توګه وکیل جوړ کړی وي [نو هغوی هم هریو په تصرف کي منفرد او خودمختاره وي] وَهٰذَا لِأَنَّهُ لَمَّا أَفْرَدَ او دا ځکه چي کله موصي [هر وصي] مفرد کړی [یعني کله چي موصي هریو منفرد وصي جوړ کړی] فَقَدْ رَضِيَ بِرَأْيِ الْوَاحِدِ نو هغه [تنها] دیوه وصي په رایه باندي راضي سو وَقِيْلَ: الْخِلَافُ فِي الْفَصْلَيْنِ وَاحِدٌ او ویل سوي دي: چي اختلاف په دواړو صورتونو کي یو دی لِأَنَّ وُجُوْبَ الْوَصِيَّةِ عِنْدَ الْمَوْتِ ځکه چي د وصیت واجبېدل د مرګ په وخت کي وي [د مرګ په وخت کي واجبیږي] بِخِلَافِ الْوَكِيْلَيْنِ په خلاف د دوو وکیلانو لِأَنَّ الْوَكَالَةَ تَتَعَاقَبُ ځکه چي وکالت یو تر بل وروسته کیږي [دیوه وکالت د بل تر وکالت وروسته ثابتیږي].

اللغات: ﴿انفراد﴾ د انفعال د باب مصدر دی: یوازي والی (یوازي کېدل)، علیحده کېدل. ﴿یتفرّد﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: یوازیني کېدل (په یو کار کي تنها کېدل، په یو کار سره مستقل کېدل). ﴿تتعاقب﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: یو تر بل وروسته کېدل، وروسته واقع کېدل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که موصي دوه کسان وصیان جوړ کړي وي، خو هریو یې په جلا او انفرادي توګه وصي جوړ کړی وي، نو د بعضي حضراتو رایه دا ده چي په دې صورت کي هر وصي په تصرّف کولو کي متفرّد او یو بل ته محتاج نه دی بلکي هر یو تنها هم د تصرّف کولو مستحق دی او د دواړو اجتماع ضروري نه ده؛ لکه کله چي یو سړی دوه کسان په جلا، جلا توګه وکیلان جوړ کړي وي، نو هغوی هر یو تنها د تصرّف کولو مستحق کیږي او په یوه تصرّف کي د دواړو اجتماع ضروري نه ده؛ ځکه کله چي موصي دوو کسانو ته د وصایت ذمه واري سپارلې ده او دواړه یې په جلا. جلا توګه وصیان ټاکلي دي، نو موصي د هریوه په انفرادي رایه خوشاله دی او د دوی د رایي اجتماع ته محتاج نه دی، نو ځکه د هر وصي انفرادي تصرّف به صحیح او جائز وي.

وقیل إلخ: فرمایي چي د بعضي حضراتو رایه دا ده چي په دواړو صورتونو کي یعني برابره ده موصي دوه کسان یو ځای وصیان کړي وي. یا یې په جلا. جلا توګه یې وصیان کړي وي (په دې دواړو صورتونو کي) د طرفینو او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله اختلاف جاري دی. د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د وصي لپاره تنها تصرّف کول جائز دي؛ ځکه چي وصیت د مرګ په وخت کي واجبیږي او د مرګ په وخت کي د هر وصي د بل وصي سره اجتماع کیږي برابره ده انفرادي وصیت وي او که اجتماعي. د دې په خلاف که چیري وکالت انفرادي وي، نو په هغه کي اجتماع نه کیږي؛ ځکه چي وکالت د تعاقب په توګه یو تر بل وروسته ثابتیږي. لهذا په کوم وخت کي چي یو وکیل وي. په بل وخت کي هغه وکیل نه وي. او د طرفینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د دغه قول پر بنیاد د اجتماع او انفراد دواړو حکم سره یو دی. یعني تنها یوه وصي ته د تصرّف کولو حق نسته.

که له دواړو وصیانو څخه یو وصي مړ سي، نو څه حکم دی؟

فَإِنْ مَاتَ أَحَدُهُمَا بیا که له دوو وصیانو څخه یو مړ سي جَعَلَ الْقَاضِيْ مَكَانَهُ وَصِيًّا آخَرَ نو قاضي به د هغه پر ځای بل وصي مقرّر کړي أَمَّا عِنْدَهُمَا فَلِأَنَّ الْبَاقِيَ عَاجِزٌ عَنِ التَّفَرُّدِ بِالتَّصَرُّفِ هر چي د طرفینو رَحِمَهُمَا الله نو ځکه چي پاته [ژوندی] وصي له تنها تصرّف کولو څخه عاجزه دی فَيَضُمُّ الْقَاضِيْ إِلَيْهِ وَصِيًّا آخَرَ نو ځکه قاضي به د هغه سره بل وصي یو ځای کوي نَظَرًا لِلْمَيِّتِ عِنْدَ عَجْزِهِ د مړي د مصلحت [او شفقت] لپاره د پاته وصي د عاجزه کېدلو په وخت کي وَعِنْدَ أَبِيْ يُوْسُفَ الْحَيُّ مِنْهُمَا وَإِنْ كَانَ يَقْدِرُ عَلَى التَّصَرُّفِ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز له دوی څخه ژوندی [پاته] وصي که څه هم پر تصرّف قادر دی فَالْمُوْصِيْ قَصَدَ أَنْ يَخْلُفَهُ مُتَصَرِّفَانِ فِيْ حُقُوْقِهِ خو موصي اراده دا کړې ده چي د هغه په حقوقو کي دوه تصرّف کونکي کسان د هغه خلیفه [نائبان] سي وَذٰلِكَ مُمْكِنُ التَّحَقُّقِ بِنَصْبِ وَصِيٍّ آخَرَ مَكَانَ الْمَيِّتِ او د موصي دا مقصد ممکن الثبوت [هم] دی د مړه وصي پر ځای د بل وصي په ټاکلو سره وَلَوْ أَنَّ الْمَيِّتَ مِنْهُمَا أَوْصٰى إِلَى الْحَيِّ او که چیري له دې دواړو وصیانو څخه مړ کېدونکی وصي وصیت وکړي و ژوندي [پاته] وصي ته [یعني ژوندی وصي د ځان وصي جوړ کړي] فَلِلْحَيِّ أَنْ يَتَصَرَّفَ وَحْدَهُ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ نو د ظاهر روایت مطابق ژوندي وصي لره دا اختیار سته چي تنها [یوازي] تصرّف وکړي بِمَنْزِلَةِ مَا إِذَا أَوْصٰى إِلٰى شَخْصٍ آخَرَ لکه په هغه صورت

کله چې هغه [مړ کېدونکي وصي] بل چا ته وصيت کړی وي [يعني له ژوندي وصي څخه بغير بل څوک يې د ځان وصي جوړ کړی وي نو په دې صورت کې هم هر وصي تنها د تصرف کولو اختيار ستـه] وَلَا يَحْتَاجُ الْقَاضِي إِلَى نَصْبِ وَصِيٍّ آخَرَ او قاضي د بل وصي ټاکلو ته ضرورت مند نه دی [يعني په مذکوره صورت کې دې ته ضرورت نسته چې قاضي بل وصي مقرر کړي] لِأَنَّ رَأْيَ الْمَيِّتِ بَاقٍ حُكْمًا بِرَأْيِ مَنْ يَخْلُفُهُ ځکه چې د مړي [مړه وصي] رايه د هغه د خليفه [ژوندي وصي] په رايې سره حکماً باقي پاتـه ده وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ لَا يَنْفَرِدُ بِالتَّصَرُّفِ او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چې ژوندی وصي تنها تصرف نه سي کولای لِأَنَّ الْمُوصِيَ مَا رَضِيَ بِتَصَرُّفِهِ وَحْدَهُ ځکه چې موصي تنها د هغه په تصرف سره نه دی راضي سوی بِخِلَافِ مَا إِذَا أَوْصَى إِلَى غَيْرِهِ په خلاف د هغه صورت کله چې مړه وصي بل چا ته وصيت کړی وي [يعني له ژوندي وصي څخه بغير بل څوک يې وصي ټاکلی وي] لِأَنَّهُ يَنْفُذُ تَصَرُّفُهُ بِرَأْيِ الْمُثَنَّى ځکه چې [په دې صورت کې] د ژوندي وصي تصرف د دوو کسانو په رايه سره نافذيږي [يو ژوندی وصي او دويم هغه بل ټاکل سوی وصي] كَمَا رَضِيَهُ الْمُتَوَفَّى لکه څرنګه چې وفات سوی موصي هم په دې راضي سوی وو.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی که يو سړي دوه وصيان ټاکلي وي او بيا له هغوی څخه يـو وصي مړ سي، نو قاضي ته پکار دي چې د هغه پر ځای بل وصي مقرر کړي او دا حکم خو د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز ښکاره دی چې د دوی په نيز تنها يو وصي تصرف نه سي کولای. او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز که څه هم يو وصي تنها تصرف کولای سي لېکن موصي د دوو وصيانو په ټاکلو سره دا اراده کړې وه چې تر ما وروسته به زما په مال او حقوقو کې دوه کسان تصرف کونکي وي او بغير له ستونزې څخه د مړه وصي پر ځای د بل وصي په مقرر کولو سره دا کار ممکن هم دی. نو ځکه د امام ابويوسف رَحِمَهُ الله په نيز هم حکم دا دی چې د مړه وصي پر ځای به بل وصي مقرر کړي چې د هغه او موصي په حق کې مصلحت او شفقت متحقق سي.

ولوأن الميت الخ: د دې حاصل دا دی چې که يو سړي دوه کسان وصيان ټاکلي وي (مثلاً خالد او حامد). بيا له هغوی څخه يو وصي (مثلاً خالد) مړ سي او د مرګ په وخت کې هغه خپل ملګری يعني بل وصي (حامد) خپل وصي مقرر کړي او خپل ټول اختيارات هغه ته وسپاري. نو د ظاهر روايت مطابق

ژوندی وصي (حامد) تنها تصرف کولای سي او قاضي ته د بل وصي د مقررولو څه ضرورت نسته؛ ځکه کوم وصي چي ژوندی دی (یعني حامد). د هغه په رایه کي د مړه وصي رایه هم شامله ده او په دې حواله سره د هغه مقصد په کامله توګه حاصل سوی دی. او که چیري مړه وصي د ژوندي وصي پر ځای بل څوک خپل وصي مقرر کړي وای. نو صحیح به وای. لهذا کله چي یې خپل ملګری وصي مقرر کړی. نو هم به وصیت صحیح وي.

وعن أبي حنیفة إلخ: له امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ څخه د حسن بن زیاد رَحِمَهُ اللهُ یو روایت دا دی چي ژوندی وصي (حامد) تنها تصرف نه سي کولای: ځکه موصي فقط د یوه وصي په تصرف سره نه دی راضي سوی. ها! که چیري مړه وصي (خالد) له ژوندي وصي څخه بغیر بل څوک وصي جوړ کړی وي. نو بیا تصرف نافذیږي: ځکه اوس په هغه کي د دوو کسانو رایه شامله سوې ده. لهذا څرنګه چي موصي ابتداءً د دوو کسانو په رایه راضي سوی وو. همداسي به هغه انتهاءً هم د دوو کسانو په رایه راضي وي او د هغه مقصد به حاصل سي.

وصي د خپل مرګ په وخت کي بل څوک وصي ټاکلای سي، که نه؟

وَإِذَا مَاتَ الْوَصِيُّ وَأَوْصَىٰ إِلَىٰ آخَرَ او کله چي وصي مړ سي او بل چا ته وصیت وکړي (یعني پر خپل ځای بل څوک وصي جوړ کړي) فَهُوَ وَصِيُّهُ فِي تَرِكَتِهِ وَتَرِكَةِ الْمَيِّتِ الْأَوَّلِ عِنْدَنَا نو هغه د ده وصي کیږي د ده په میراث کي او د اول مړي (موصي) په میراث کي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَكُونُ وَصِيًّا فِي تَرِكَةِ الْمَيِّتِ الْأَوَّلِ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي: چي هغه د اول مړي په میراث کي نه وصي کیږي اِعْتِبَارًا بِالتَّوْكِيلِ فِي حَالَةِ الْحَيَاةِ د ژوند په حالت کي پر توکیل (وکیل جوړولو) باندي په قیاس کولو سره الْجَامِعُ بَيْنَهُمَا أَنَّهُ رَضِيَ بِرَأْيِهِ لَا بِرَأْيِ غَيْرِهِ او د دې دواړو (إیصاء او توکیل) تر مینځ جامع شی دا دی چي اول مړي (موصي) د خپل وصي په رایه راضي سوی دی. نه د بل چا په رایه وَلَنَا: أَنَّ الْوَصِيَّ يَتَصَرَّفُ بِوِلَايَةٍ مُنْتَقِلَةٍ إِلَيْهِ او زموږ دلیل دا دی چي وصي د هغه ولایت په سبب تصرف کوي کوم چي (د موصي له طرفه) وصي ته منتقل سوی دی فَيَمْلِكُ الْإِيصَاءَ إِلَىٰ غَيْرِهِ نو ځکه هغه به د بل وصي جوړولو ملکیت (اختیار) لري كَالْجَدِّ لکه نیکه أَلَا يُرَىٰ أَنَّ الْوِلَايَةَ الَّتِي كَانَتْ ثَابِتَةً لِلْمُوصِي آیا نه ګوري چي کوم ولایت د موصي لپاره ثابت وي تَنْتَقِلُ إِلَى الْوَصِيِّ فِي الْمَالِ وَإِلَى الْجَدِّ فِي النَّفْسِ هاغه

ولايت د مال په سلسله کې وصي ته منتقل کيږي او په نفس کې نيکه ته [منتقل کيږي] ثُمَّ الْجَدُّ قَائِمٌ مُقَامَ الْأَبِ فِيمَا انْتَقَلَ إِلَيْهِ بيا نيکه د پلار قائم مقام دی په هغه ولايت کې کوم چې نيکه ته منتقل سي فَكَذَا الْوَصِيُّ نو همداسي وصي [هم] دی.

اللغات: ﴿توکيل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: وکيل کول، وکيل جوړول. ﴿إيصاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: يو چا ته وصيت کول، وصي جوړول (داسي څوک مقرر کول کوم چې وصيت نافذ او پوره کړي)، ﴿جد﴾ نيکه.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې زيد مثلاً خالد خپل وصي جوړ کړی او حامد يې هم وصي جوړ کړی، بيا خالد مړ سو او هغه هم د مرګ په وخت کې حامد خپل وصي جوړ کړی، نو زموږ په نېز حامد د خالد هم وصي کيږي او د اول موصي يعني د زيد هم وصي کيږي، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز حامد صرف د دويم موصي يعني د خالد وصي کيږي، لېکن د اول موصي يعني د زيد نه وصي کيږي؛ امام شافعي رَحِمَهُ الله دا د حالتِ حيات پر توکيل قياس کړی دی مثلاً که زيد په خپل ژوند کې حامد وکيل جوړ کړي او خالد بيا حامد وکيل جوړ کړي، نو دا توکيل نه صحيح کيږي؛ ځکه چې زيد صرف د خالد په رايه اضي سوی دی، نه د حامد. نو همداسي په مذکوره مسئله کې هم چې کله زيد هغوی دواړه وصيان ټاکلي دي، نو هغه به صرف ديوه په وصايت راضي نه وي.

ولنا إلخ: دا زموږ دليل دی، حاصل يې دا دی چې وصي د هغه ولايت په ذريعه تصرف کوي کوم ولايت چې هغه ته د موصي له طرفه منتقل سوی او حاصل سوی دی، او څرنګه چې موصي ته د وصي جوړولو (وصي ټاکلو) حق سته (چې يو څوک خپل وصي جوړ کړي)، نو ځکه دويم وصي ته به هم د وصي جوړولو حق وي، د مثال په توګه نيکه د نکاح په ولايت کې د پلار قائم مقام دی او پلار ته دا حق سته چې د خپل بچي د نکاح کولو لپاره وصي وټاکي، لهذا نيکه ته هم دا حق سته چې د دې خپل لمسي د نکاح لپاره وصي وټاکي، نو همدغسي د مال وغيره په سلسله کې به هم دويم وصي ته د بل وصي د ټاکلو حق او اجازه وي. (احسن الهدايه)

د مذکوره دلیل نور وضاحت

وَهٰذَا لِأَنَّ الْإِيصَاءَ إِقَامَةُ غَيْرِهِ مُقَامَهُ فِيمَا لَهُ وِلَايَتُهُ او دا ځکه چي ایصاء [وصي جوړول] بل څوک خپل قائم مقام جوړول دي په هغه شي کي چي موصي لره د هغه ولایت سته وَعِنْدَ الْمَوْتِ كَانَتْ لَهُ وِلَايَةٌ فِي التَّرِكَتَيْنِ او د مرګ په وخت کي موصي لره په دواړو میراثونو کي ولایت سته فَيُنَزَّلُ الثَّانِي مَنْزِلَتَهُ فِيهِمَا لهذا دویم وصي به په دواړو میراثونو کي د اول وصي په منزله ګرځول کیږي وَلِأَنَّهُ لَمَّا اسْتَعَانَ فِي ذٰلِكَ مَعَ عِلْمِهِ أَنَّهُ قَدْ تَعْتَرِيهِ الْمَنِيَّةُ قَبْلَ تَتْمِيمِ مَقْصُودِهِ بِنَفْسِهِ او ځکه کله چي موصي په دې هکله مدد طلب کړی دی سره د دې چي موصي په دې خبر دی چي وصي ته مرګ پېښېدلای سي د موصي د مقصود له پوره کېدلو څخه مخکي وَهُوَ تَلَافِي مَا فَرَطَ مِنْهُ او د موصي مقصود د خپل هغه کوتاهۍ [او لا پروایۍ] تلافي ده کوم چي له موصي څخه صادره سوې ده صَارَ رَاضِيًا بِإِيصَائِهِ إِلَى غَيْرِهِ نو موصي په دې راضي سو چي هغه [وصي] بل څوک وصي جوړ کړي بِخِلَافِ الْوَكِيلِ په خلاف د وکیل لِأَنَّ الْمُوَكِّلَ حَيٌّ ځکه چي مؤکل [وکیل جوړونکی] ژوندی دی يُمْكِنُهُ أَنْ يُحَصِّلَ مَقْصُودَهُ بِنَفْسِهِ چي د هغه لپاره دا ممکنه ده چي خپل مقصود په خپله حاصل کړي فَلَا يَرْضَى بِتَوْكِيلِ غَيْرِهِ وَالْإِيصَاءُ إِلَيْهِ لهذا مؤکل به د بل چا په وکیل جوړولو او د هغه په وصي جوړولو راضي نه وي [چي وکیل بل څوک وکیل یا وصي جوړ کړي].

اللغات: ﴿إیصاء﴾ د افعال د باب مصدر دی، د تېر عبارت په لغاتو کي یې وضاحت وسو. ﴿یُنـزَّل﴾ د تفعیل د باب مضارع مجهوله ده: شوه کول (صحیح همدا ده چي د تفعیل له باب څخه دی). یُنـزَّل منـزلةً: یو شی د بل په درجه کي شوه کول (د بل شي په منزله ګرځول)، یو څه د بل څه پر ځای اېښوول. د بل شي قائم مقام کول. ﴿الْمَنْزِلة﴾ مکان او مرتبه، درجه. ﴿استعان﴾ د استفعال د باب مصدر دی: د مدد طلب کول (مرسته غوښتل)، مدد اخیستل. ﴿تعتریه﴾ د افتعال د باب مضارع ده: پېښېدل. ﴿الْمَنِيَّة﴾ مرګ (مرینه)، جمع: مَنَايَا. ﴿تتمیم﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: پوره کول، پوره کېدل (بشپړېدل). ﴿فَرَطَ﴾ د نصر د باب ماضي ده، د دې باب څو معناوي نقل سوي دي: مخکي کېدل. کوتاهي کول. له حد څخه تېرېدل. تېزي کول او تکلیف ور کول وغیره. او کله چي یې په صله کي مِنْ ذکر سي لکه

دلته. نو معنیٰ یې ده: له چا څخه مخکې یو کوتاهي او لا پروایي کېدل. بغیر له سوچ او احساسه څخه نې صادرېدل.

تشریح: په دې عبارت کې د مخکینې دلیل نور وضاحت کوي فرمایي چې د وصي جوړولو (وصي ټاکلو) مطلب دا دی چې موصي ته د کومو شیانو ولایت او اختیار حاصل دی. موصي په هغوی کې بل څوک (وصي) خپل قائم مقام جوړوي.

او په مذکوره مسئله کې چې کله وصي (خالد) مړ سو. په هغه وخت کې وصي ته په دواړو میراثونو کې ولایت او اختیار حاصل وو یعني په خپل میراث کې هم او د موصي په میراث کې هم. نو هغه دویم وصي (حامد) به د اول وصي (خالد) په درجه ګرځول کیږي او په دواړو میراثونو کې به ولایت ورکول کیږي.

ولأنه لما استعان إلخ: دویمه خبره دا هم ده چې کله موصي یو کس خپل وصي جوړ کړي. نو په دغه ایصاء سره د موصي مقصد دا دی چې د خپل مال په هکله چې له موصي څخه کومه کوتاهي او لا پروایي صادره سوې ده. په وصي سره د هغه تلافي وسي. حالانکې دا هم کېدلای سي چې د موصي دغه مقصد پوره نه سي یعني وصي مړ سي، او موصي هم په دې خبر دی چې که دا وصي مړ سي نو زما مقصد به پوره نه سي، لېکن په دې د خبرېدلو باوجود پر ایصاء د هغه اقدام کول د دې خبرې دلیل دی چې موصي په دې خبره بالکل راضي دی چې وصي له خپل ځانه څخه بغیر بل څوک وصي جوړ کړي او د موصي مقصود پوره سي. (یا په بله وینا دا چې کله موصي په دې خبر دی چې کېدلای سي زما وصي مړ سي او زما مقصد به پوره نه سي. خو بیا هم هغه وصي جوړوي. نو د دې واضح مقصد دا دی چې موصي د خپل وصي په دې فعل سره راضي دی چې هغه یو څوک خپل وصي مقرر کړي).

او پاته سوه د وکیل مسئله نو هغه جلا ده: ځکه چې مؤکل خپله ژوندی دی او هغه خپل مقاصد خپله هم حاصلولای سي، نو کله چې هغه یو څوک (خالد) خپل وکیل جوړ کړی دی. نو هغه په دې سره راضي نه دی چې دا وکیل (خالد) بیا بل څوک (حامد) په مینځ کې راولي او خپل وکیل یې جوړ کړي یا د مرګ په وخت کې بل څوک خپل وصي جوړ کړي، نو په دې حواله سره په ایصاء او توکیل کې فرق دی، لهذا ایصاء پر توکیل قیاسول قیاس مع الفارق دی.

د موصي اختيارات وصي ته حاصلیږي (وصي د موصي خليفه او نائب دی)

قَالَ: وَمُقَاسَمَةُ الْوَصِيِّ الْمُوصَى لَهُ عَنِ الْوَرَثَةِ جَائِزَةٌ فرمايي: او د وصي تقسيم کړل د موصی لهٗ سره د وارثانو له طرفه جائز دی وَمُقَاسَمَتُهُ الْوَرَثَةَ عَنِ الْمُوصَى لَهُ بَاطِلَةٌ او د وصي تقسيم کول د وارثانو سره د موصی لهٗ له طرفه باطل دی لِأَنَّ الْوَارِثَ خَلِيفَةُ الْمَيِّتِ ځکه چي وارث د مړي خليفه دی حَتَّى يَرُدَّ بِالْعَيْبِ همدا وجه ده چي وارث د عيب په وجه [مبيع] واپس کولای سي وَيُرَدُّ عَلَيْهِ بِهِ او د عيب په وجه پر وارث [مبيع] واپس کېدلای سي وَيَصِيرُ مَغْرُورًا بِشِرَاءِ الْمُوَرِّثِ [همدارنگه] د مورث [مړي] د رانيولو په وجه وارث مغرور [دوکه سوی] گرځي وَالْوَصِيُّ خَلِيفَةُ الْمَيِّتِ أَيْضًا او وصي هم د مړي خليفه دی فَيَكُونُ خَصْمًا عَنِ الْوَارِثِ إِذَا كَانَ غَائِبًا نو که وارث غائب وي نو وصي د هغه له طرفه خصم کېدلای سي فَصَحَّتْ قِسْمَتُهُ عَلَيْهِ نو ځکه پر وارث د وصي تقسيم صحيح دی حَتَّى لَوْ حَضَرَ وَقَدْ هَلَكَ مَا فِي يَدِ الْوَصِيِّ همدا وجه ده که وارث حاضر سي په داسي حال کي چي هغه مال هلاک سوی وي کوم چي د وصي په قبضه کي وي لَيْسَ لَهُ أَنْ يُشَارِكَ الْمُوصَى لَهُ نو وارث ته دا حق نسته چي د موصی لهٗ سره [په مال کي] شريک سي.

اللغات: ﴿مقاسمة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: وېش او تقسيم کول، تقسيمول او حصه جلا کول.

﴿مغرور﴾ د نصر له بابه د اسم مفعول صيغه ده: دوکه کړی سوی (چا ته چي دوکه ورکول سوې وي).

﴿خصم﴾ خصومت کونکی. د حق په هکله دعوی پورته کونکی او نزاع کونکی، مدعي او مدعی عليه دواړو باندي د دې لفظ اطلاق کیږي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي وصي د موصي د وارثانو له طرفه د موصی لهٗ سره د ميراث تقسيم او وېش کولای سي، لېکن وصي ته دا حق نسته چي د موصی لهٗ له طرفه د هغه د نائب په توگه د وارثانو سره تقسيم وکړي؛ ځکه چي موصی لهٗ د مړي (مورث) خليفه نه دی لېکن وارث او وصي دواړه د مړي (مورث) خليفه دي، همدا وجه ده که مړي يو شی رانيولی وي او بيا په هغه کي يو عيب وموندل سي، نو وارث د دې عيب په وجه هغه شی (مبيع) بائع ته واپس کولای سي. همدارنگه که مورث يو شی خرڅ کړی وي او بيا هغه عيبجن وخېژي، نو د عيب په وجه هغه شی وارث ته واپس کېدلای سي، همدارنگه که مړي يو مينځه رانيولې وي او د ده تر مرگ وروسته هغه مينځه د يو

چا په حصه کې راسي او له وارث څخه د هغې يو بچې پيدا سي لېکن بيا يو بل څوک په هغه مينځه دعوىٰ وکړي چې دا څو زما مينځه ده او خپله دعوىٰ ثابته کړي، نو هغه بچې آزاديږي، لېکن وارث ته به د هغه قيمت ورکول کيږي؛ ځکه بائع مړي ته دوکه ورکړې ده. لهذا دا دوکه د وارث په حق کې هم ثابتيږي؛ ځکه چې وارث هم د مړي خليفه دى او وصي هم د مړي خليفه دى او د وارث د ناموجود والي په صورت کې وصي ته دا حق سته چې د وارث له طرفه تقسيم وکړي او د هغه تقسيم صحيح دى. همدا وجه ده چې په تقسيم کې وصي کوم مال د غائب وارث لپاره اخيستى وي که چيرې هغه هلاک سي او بيا وارث حاضر سي، نو بيا وارث ته دا حق نسته چې د موصىٰ لهٗ سره په مال کې شريک سي.

د موصىٰ لهٗ حيثيت (د مړي خليفه وصي دى، نه موصىٰ لهٗ)

أَمَّا الْمُوصَى لَهُ فَلَيْسَ بِخَلِيفَةٍ عَنِ الْمَيِّتِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ کوم چې موصىٰ لهٗ دى نو هغه په هر اعتبار سره د مړي خليفه نه دى لِأَنَّهُ مَلَكَهُ بِسَبَبٍ جَدِيدٍ ځکه چې موصىٰ لهٗ د نوي سبب په ذريعه د وصيت [موصىٰ به] مالک سوى دى وَلِهٰذَا لَا يُرَدُّ بِالْعَيْبِ وَلَا يُرَدُّ عَلَيْهِ په همدې وجه نه موصىٰ لهٗ د عيب په وجه هغه [موصىٰ به] واپس کولاى سي او نه پر موصىٰ لهٗ واپس کېدلاى سي وَلَا يَصِيرُ مَغْرُورًا بِشِرَاءِ الْمُوصِي [همدارنګه] د موصي په رانيولو سره هغه مغرور [دوکه سوى] نه ګرځي فَلَا يَكُونُ الْوَصِيُّ خَلِيفَةً عَنْهُ عِنْدَ غَيْبَتِهِ نو د موصىٰ لهٗ د غائبوالي په وخت کې به وصي د هغه خليفه نه کيږي حَتَّى لَوْ هَلَكَ مَا أُفْرِزَ لَهُ عِنْدَ الْوَصِيِّ تر دې چې که هغه مال هلاک سي کوم چې [په تقسيم کې] د وصي سره د موصىٰ لهٗ لپاره را جلا کړى سوى وي كَانَ لَهُ ثُلُثُ مَا بَقِيَ نو د موصىٰ لهٗ لپاره د مابقي مال ثلث دى لِأَنَّ الْقِسْمَةَ لَمْ تَنْفُذْ ځکه چې تقسيم نافذ سوى دى غَيْرَ أَنَّ الْوَصِيَّ لَا يَضْمَنُ خو [په دې صورت کې] وصي نه ضامن کيږي لِأَنَّهُ أَمِينٌ فِيهِ ځکه چې هغه په دې باره کې امين دى وَلَهُ وِلَايَةُ الْحِفْظِ فِي التَّرِكَةِ او هغه لره په ميراث کې د حفاظت ولايت سته فَصَارَ كَمَا إِذَا هَلَكَ بَعْضُ التَّرِكَةِ قَبْلَ الْقِسْمَةِ نو دا داسي سو لکه تر تقسيم مخکې چې د ميراث څه حصه هلاکه سي فَيَكُونُ لَهُ ثُلُثُ الْبَاقِي نو د موصىٰ لهٗ لپاره به د پاته مال ثلث وي لِأَنَّ الْمُوصَى لَهُ شَرِيكُ الْوَارِثِ ځکه چې موصىٰ لهٗ د وارث شريک دى فَيَتْوَى مَا تَوِيَ مِنَ الْمَالِ الْمُشْتَرَكِ عَلَى الشَّرِكَةِ لهذا له مال مشترک څخه چې کومه

حصه هلاکه سي هغه به پر شرکت هلاکیږي وَيَبْقَى مَابَقِيَ عَلَى الشَّرِكَةِ او کوم چي پاته سي هغه به [هم] پر شرکت پاتیږي.

اللغات: ﴿أفرز﴾ د افعال د باب ماضي ده: د بل چا له مال څخه خپل مال جلا کول. علیحده کول.

﴿یتویٰ﴾ د سمع د باب مضارع ده: هلاکېدل. ضایع کېدل.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي موصیٰ لهٗ د مړي (موصي) خلیفه نه دی لکه څرنګه چي وصيٰ د مړي خلیفه دي: ځکه چي موصیٰ لهٗ د یو نوي سبب یعني د وصیت په ذریعه د موصیٰ به مالک سوی دی. او هغه لره خو نه قدیم ملکیت حاصل دی او نه هغه لره څه ابدي سبب سته. همدا وجه ده که په موصیٰ به کي عیب ولیدل سي. نو نه موصیٰ لهٗ هغه شی د موصي وارثانو ته واپس کولای سي. او نه د موصي مشتري د عیب په وجه هغه شی موصیٰ لهٗ ته واپس کولای سي. همدارنګه موصیٰ لهٗ د موصي په شراء سره مغرور هم نه ګرځي (صورت یې مخکي ذکر سو).

همدا وجه ده که چیري موصیٰ لهٗ غائب وي او وصي د وارثانو سره د مړي (موصي) میراث تقسیم کړي او د موصیٰ لهٗ حصه را جلا کړي او بیا هغه حصه هلاکه سي. نو په ما بقی میراث کي موصیٰ لهٗ ته ثلث (دریمه حصه) حاصلیږي: ځکه چي دا تقسیم د موصیٰ لهٗ په نا موجودیت کي سوي وو. لهذا دا ګردسره نافذ سوی نه وو. او کله چي تقسیم نافذ سوی نه دی نو ښکاره خبره ده چي د موصیٰ لهٗ چي کوم حق دی یعني د میراث ثلث هغه به ورته حاصلیږي (ځکه مخکي ذکر سوه چي د موصیٰ لهٗ حق د میراث په ثلث کي دی).

غیرأن الوصی إلخ: د دې حاصل دا دی چي د وصي سره چي کوم د موصیٰ لهٗ لپاره راجلا کړی سوی مال او حصه هلاکه سوې ده. وصي د هغه نه ضامن کیږي (یعني د هغه ضمان [تاوان] پر وصي نه لازمیږي): ځکه وصي د دغه مال په باره کي امین دی او هغه ته د مال د حفاظت کولو ولایت حاصل دی. او پر امین ضمان نه لازمیږي. نو ځکه پر وصي به هم ضمان نه لازمیږي. د دې مثال داسي دی لکه تر تقسیم مخکي چي د میراث څه حصه هلاکه سي. نو موصیٰ لهٗ ته د ما بقی مال ثلث حاصلیږي. نو ځکه په مذکوره مسئله کي چي کوم د موصیٰ لهٗ لپاره را جلا کړی سوی مال هلاک سوی دی. هغه به هم له میراث څخه هلاک شمېرل کیږي او موصیٰ لهٗ ته به د ما بقی میراث ثلث ورکول کیږي. او کوم څه مال چي هلاک سوی دی هغه به مشترک هلاک ګڼل کیږي او کوم چي پاته دی هغه به هم په مشترکه توګه باقي ګڼل کیږي: ځکه چي موصیٰ لهٗ په میراث کي د وارثانو سره شریک دی.

که وصي په تقسیم کي د غائب موصى لهٔ حصه را جلاکړي نو څه حکم دی؟

قَالَ: فَإِنْ قَاسَمَ الْوَرَثَةَ فرمايي: نو که وصي د وارثانو سره تقسیم وکړي وَأَخَذَ نَصِيبَ الْمُوصَى لَهُ او وصي د موصى لهٔ حصه واخلي فَضَاعَ بیا هغه [څني] ضايع سي رَجَعَ الْمُوصَى لَهُ بِثُلُثِ مَا بَقِيَ نو موصى لهٔ به د مابقي مال په ثلث سره رجوع کوي لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿قَاسَمَ﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: وېش او تقسیم کول. تقسیمول او خپله حصه اخيستل. ﴿نصيب﴾ حصه، برخه.

تشريح: دا مسئله اوس څه مخکي بيان سوه، صرف دلته عبارت د جامع صغير دی او هلته عبارت د علامه مرغيناني رَحِمَهُ الله دی، نور فرق یې نسته.

که د موصي د حج لپاره را جلاکړی سوی مال د وصي سره هلاک سي نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِنْ كَانَ الْمَيِّتُ أَوْصَى بِحَجَّةٍ فرمايي: او که چیري مړي د حج وصيت کړی وي فَقَاسَمَ الْوَرَثَةَ نو [د مړي] وصي د وارثانو سره تقسيم وکړی فَهَلَكَ مَا فِي يَدِهِ بيا هغه مال هلاک سو کوم چي د وصي په قبضه کي وو حُجَّ عَنِ الْمَيِّتِ مِنْ ثُلُثِ مَا بَقِيَ نو د مړي له طرفه به د مابقي مال له ثلث څخه حج کول کیږي [دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله مسلک دی] وَكَذٰلِكَ إِنْ دَفَعَهُ إِلَى رَجُلٍ لِيَحُجَّ عَنْهُ فَضَاعَ فِي يَدِهِ او همدارنګه که وصي يو سړي ته دا مال ورکړی وي د دې لپاره چي هغه د مړي له طرفه حج وکړي بيا دا مال د هغه سړي په قبضه کي ضايع سي [نو هم دغه حکم دی] وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: إِنْ كَانَ مُسْتَغْرِقًا لِلثُّلُثِ او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي که هغه [هلاک سوی مال] ثلث لره غرقونکی وي [يعني هغه پوره ثلث وي او د هغه په اخيستلو کي توله ثلث ځي] لَمْ يَرْجِعْ بِشَيْءٍ نو وصي به په هيڅ شي سره رجوع نه کوي [يعني له مابقی ميراث څخه به هيڅ نه اخلي] وَإِلَّا يَرْجِعُ بِتَمَامِ الثُّلُثِ کنې [يعني که ثلث لره مستغرق نه وي نو] په پوره ثلث سره به رجوع کوي وَقَالَ مُحَمَّدٌ ۞: لَا يَرْجِعُ بِشَيْءٍ او امام

۞ القول الراجح: قول أبي حنيفة رَحِمَهُ الله، لأن قوله مسئلة المتن، انظر للتوضيح [القول الراجح ج:۲، ص:۳۸۶]

محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په هيڅ شي سره به رجوع نه كوي لِأَنَّ الْقِسْمَةَ حَقُّ الْمُوصِي ځكه چي تقسيم د موصي حق دى وَلَوْ أَفْرَزَ الْمُوصِي بِنَفْسِهِ مَالًا يُخْرَجُ عَنْهُ او كه موصي خپله مال جلا كړى وي د دې لپاره چي [په هغه سره] د موصي له طرفه حج وكړى سي فَهَلَكَ بيا هغه مال هلاک سي لَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ وَبَطَلَتِ الْوَصِيَّةُ نو پر موصي هيڅ شى نه لازميږي او وصيت باطليږي فَكَذَا إِذَا أَفْرَزَهُ وَصِيُّهُ الَّذِي قَامَ مَقَامَهُ نو همداسي كله چي د موصي هغه وصي مال جلا كړى وي كوم چي د موصي قائم مقام دى [نو هم به هيڅ شى نه لازميږي او وصيت به باطليږي].

اللغات: ﴿مستغرق﴾ د استفعال د باب فاعل دى: ډوبونكى. غرقونكي (لاندي كونكى)، احاطه كونكى.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دى كه زيد مثلاً دا وصيت وكړي چي زما له مال څخه دي زما له طرفه حج وكړى سي او بيا هغه مړ سي. بيا د هغه (زيد) وصي د هغه د وارثانو سره د ميراث تقسيم وكړي او د مړي (زيد) له طرفه د حج كولو لپاره ثلث مال را جلا كړي. خو بيا دا مال د وصي سره هلاک سي. يا وصي يو بل چا ته د حج كولو لپاره دا مال وركړي او بيا د هغه سره دا مال هلاک سي. نو په دې صورت كي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز حكم دا دى چي د مړي چي كوم ټوله ميراث دى يعني له دغه هلاک سوي مال څخه بغير چي كوم مال پاته دى. د هغه په ثلث سره به د مړي له طرفه حج كول كيږي.

امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي كوم مال چي وصي جلا كړى وو، كه هغه پوره ثلث وي چي د هغه په اداء كولو كي ټوله ثلث ځي. نو بيا وصي ته له پاته ميراث څخه ديوې روپې د اخيستلو حق هم نسته. ليكن كه هغه مال تر ثلث كم وي. نو څومره مقدار چي كم وي. بس صرف هغومره مقدار به مال اخيستل كيږي د دې لپاره چي ثلث پوره سي.

امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي برابره ده وصي د ثلث په اندازه مال جلا كړى وي او كه تر هغه يې كم جلا كړى وي. په هر صورت كي له ما بقى ميراث څخه وصي ته د مال اخيستلو حق نسته: ځكه چي تقسيم كول د موصي حق دى او كه چيري خپله موصي تقسيم وكړي او د خپل حج لپاره مال را جلا كړي او بيا هغه مال هلاک سي. نو وصيت باطليږي او موصي لره دوباره د مال اخيستلو حق نه پاتيږي. لهذا كله چي خپله د موصي لپاره دوباره د مال اخيستلو حق نسته. نو د هغه د وصي لپاره به هم دا حق نه وي: ځكه چي وصي صرف د موصي نائب او د هغه قائم مقام دى.

د امام ابو یوسف او امام صاحب رَحِمَهُ الله دلائل

وَلِأَبِي يُوسُفَ: أَنَّ مَحَلَّ الْوَصِيَّةِ الثُّلُثُ او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې د وصیت محل ثلث [دریمه حصه] ده فَيَجِبُ تَنْفِيذُهَا مَا بَقِيَ مَحَلُّهَا لهذا تر څو چې د وصیت محل [ثلث] پاته وي تر هغه وخته پورې د وصیت نافذول واجب دي وَإِذَا لَمْ يَبْقَ او کله چې محل باقي پاته نه سي بَطَلَتْ نو وصیت باطلیږي لِفَوَاتِ مَحَلِّهَا د محل د فوتېدلو په وجه وَلِأَبِي حَنِيفَةَ أَنَّ الْقِسْمَةَ لَا تُرَادُ لِذَاتِهَا بَلْ لِمَقْصُودِهَا د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې تقسیم بذات خود نه مرادیږي بلکې د خپل مقصود په وجه مرادیږي وَهُوَ تَأْدِيَةُ الْحَجِّ او هغه [د تقسیم مقصود] د حج اداء کول دي فَلَمْ تُعْتَبَرْ دُونَهُ نو ځکه له هغه [حج اداء کولو] څخه بغیر به تقسیم معتبر نه وي وَصَارَ كَمَا إِذَا هَلَكَ قَبْلَ الْقِسْمَةِ او دا داسې سو لکه کله چې تر تقسیم مخکې مال هلاک سي فَيُحَجُّ بِثُلُثِ مَا بَقِيَ نو د ما بقی مال په ثلث سره حج کول کیږي وَلِأَنَّ تَمَامَهَا بِالتَّسْلِيمِ إِلَى الْجِهَةِ الْمُسَمَّاةِ او ځکه چې د تقسیم بشپړتیا د هغه جهت وطرف ته په ورسپارلو سره کیږي کوم چې [د موصي له طرفه] متعین سوی دی [یعني تقسیم هغه وخت تامیږي کله چې د موصي په متعین کړه جهت کې مال صرف کړی سي] إِذْ لَا قَابِضَ لَهَا ځکه چې د هغه جهت لپاره خو هیڅ قابض نسته فَإِذَا لَمْ يُصْرَفْ إِلَى ذَلِكَ الْوَجْهِ لهذا کله چې مال هغه وجه [جهت] ته صرف نه کړی سي [یا په بله وینا دا چې کله مال په دې مذکوره طریقه سره صرف نه کړی سي] لَمْ يَتِمَّ نو تقسیم به پوره نه سي فَصَارَ كَهَلَاكِهِ قَبْلَهَا نو دا داسې سو لکه تر تقسیم مخکې مال هلاکېدل.

اللغات: ﴿تنفیذ﴾ د تفعیل مصدر دی: نافذول. ﴿تأدیة﴾ مخکنی صیغه ده: اداء کول. ﴿مسمّاة﴾ د تفعیل له بابه د واحد مؤنث مفعول صیغه ده: نومول سوی. متعین سوی. ټاکل سوی.

تشریح: د امام محمد رَحِمَهُ الله دلیل خو مخکې تېر سو. دلته د امام او یوسف او امام صاحب رَحِمَهُمَا الله دلیلونه بیانوي: د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چې دغه د حج وصیت دی او د وصیت د نافذېدلو محل ثلث (دریمه حصه) ده. لهذا تر څو چې د مال ثلث باقي پاته وي. تر هغه وخته پورې به د وصیت نافذول واجب وي. او کله چې د وصیت د نافذېدلو محل (ثلث) باطل سي. نو وصیت به باطلیږي.

ولأبي حنيفة إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله د دلیل حاصل دا دی چې تقسیم بذات خود مطلوب نه دی بلکې په تقسیم سره چې کوم څه مقصود وي د هغه حاصلېدل او ترلاسه کېدل د تقسیم اصل مطلوب دی او دلته اصلي مطلوب د حج اداء کول دي. نو تر څو چې حج اداء سوی نه وي. تر هغه وخته به تقسیم لره اعتبار نه وي او داسي به ګڼل کیږي چې تر اوسه هیڅ تقسیم سوی نه دی. نو ځکه د ما بقي مال په ثلث سره به حج کول کیږي.

او بل دا چې د تقسیم تکمیل او بشپړتیا هغه وخت کیږي کله چې مال په هغه جهت کي صرف کړی سي او ورسپارل سي کوم جهت چې موصي متعین کړی وي. یعني د حج په ادائنه کي مال صرف کړی سي ځکه د حج ادائنه پر مال نه سي قابض کېدلای. لېکن څرنګه چې دلته مال هلاک سوی دی او د موصي په متعین کرده جهت کي هغه نه دی صرف کړی سوی. نو تقسیم تام نه سو. لهذا دغه تقسیم لره به اعتبار نه وي. او دا داسي سو لکه تر تقسیم مخکي د مال هلاکېدل. او په داسي صورت کي د ما بقي مال په ثلث سره حج کول کیږي، نو همداسي به دلته هم کول کیږي.

که قاضي د وارثانو په حکم میراث تقسیم کړي او ثلث د غائب موصی لهٗ لپاره جلا کړي (حکم)

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى بِثُلُثِ أَلْفِ دِرْهَمٍ فرمایي: او چا چې د زرو درهمو د ثلث [دریمي حصې] وصیت وکړی فَدَفَعَهَا الْوَرَثَةُ إِلَى الْقَاضِيْ بیا وارثانو هغه زر درهمه قاضي ته ورکړل فَقَسَمَهَا وَالْمُوْصٰى لَهٗ غَائِبٌ نو قاضي هغه تقسیم کړل په داسي حال کي چې موصیٰ لهٗ غائب دی فَقِسْمَتُهٗ جَائِزَةٌ نو د قاضي تقسیم جائز دی لِأَنَّ الْوَصِيَّةَ صَحِيْحَةٌ ځکه چې دا وصیت صحیح دی وَلِهٰذَا لَوْ مَاتَ الْمُوْصٰى لَهٗ قَبْلَ الْقَبُوْلِ همدا وجه ده که موصیٰ لهٗ [د وصیت] له قبلولو څخه مخکي مړ سي تَصِيْرُ الْوَصِيَّةُ مِيْرَاثًا لِوَرَثَتِهٖ نو وصیت د هغه د وارثانو لپاره میراث ګرځي وَالْقَاضِيْ نُصِبَ نَاظِرًا او قاضي [د مسلمانانو د اُمورو لپاره] د نګران [او مصلح] په توګه ټاکل سوی دی لَا سِيَّمَا فِيْ حَقِّ الْمَوْتٰى وَالْغُيَّبِ خصوصاً د مړو او د غائبو کسان په حق کي وَمِنَ النَّظَرِ إِفْرَازُ نَصِيْبِ الْغَائِبِ وَقَبْضُهٗ او له نظر [نګرانی] څخه د غائب د حصې جلا کول او پر هغه قبضه کول دي [یعني په تقسیم کي د غائب موصی لهٗ حصه را جلا کول او قبضه پرې کول دا هم له نظر او مصلحت څخه دي کوم چې د قاضي کار دی] فَنَفَذَ ذٰلِكَ وَصَحَّ نو ځکه دا تقسیم به نافذیږي او صحیح به وي حَتّٰى لَوْ حَضَرَ الْغَائِبُ وَقَدْ هَلَكَ الْمَقْبُوْضُ تر دې چې که غائب حاضر سي په داسي حال کي چې [د هغه د حصې] قبضه کړی سوی مال هلاک سوی

وي لَمْ يَكُنْ لَهُ عَلَى الْوَرَثَةِ سَبِيلٌ نو هغه له پر وارثانو هیڅ لاره نسته.

اللغات: ﴿نُصِبَ﴾ د ماضي مجهولي صیغه ده. له ضرب او نصر دواړو څخه راځي همدارنګه د تفعیل له باب څخه هم راځي یعني نُصِّبَ: درول، مقرر کول (ټاکل). ﴿نـاظر﴾ نګران، ساتونکی او پام کونکی، د مصلحت رعایت کونکی (مصلحت غوښتونکی). ﴿إفراز﴾ د افعال د باب مصدر دی: د یو چا حصه جلا کول، د یو چا له مال څخه خپل مال جلا کول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د یو سړي مثلاً د زید میراث زر درهمه دي او زید دا وصیت وکړي چې زما له میراث څخه دي یو ثلث خالد ته ورکول سي او د زید وارثانو د میراث ټوله مال یعني زر درهمه قاضي ته ورکړل او قاضي هغه مال د وارثانو او موصیٰ لهٗ (خالد) تر مینځ تقسیم کړی، نو د قاضي دا تقسیم صحیح دی، برابره ده موصیٰ لهٗ د تقسیم په وخت کي غائب وي او که حاضر وي؛ ځکه چې د موصي (زید) له طرفه د موصیٰ لهٗ لپاره دا وصیت صحیح دی. همدا وجه ده چې که موصي د موصیٰ لهٗ لپاره وصیت وکړي خو موصیٰ لهٗ د وصیت له قبلولو څخه مخکي مړ سي، نو دا وصیت (موصیٰ بهٖ) د هغه حق ګرځي او په وراثت کي یې داخلیږي او د هغه وارثانو ته حاصلیږي. له دې څخه معلومه سوه چې وصیت صحیح دی او کله چې وصیت صحیح دی. نو د قاضي تقسیم به هم صحیح وي؛ ځکه چې د قاضي کار همدا دی چې د مسلمانانو د مسائلو نګراني وکړي او حل یې کړي او کوم کسان چې مړه وي یا د قضا په وخت کي حاضر نه وي، د هغوی د نګرانی او مصلحت (ښېګني) په خاطر د هغوی د حقونو حفاظت او ساتنه وکړي. او د غائب موصیٰ لهٗ حق جلا کول او پر هغه قبضه کول هم د هغه د حق نګراني او ساتنه ده او د هغه لپاره مصلحت او ښېګنه ده. او په تقسیم سره قاضي همدا کړي دي، نو ځکه د هغه تقسیم به صحیح او نافذ وي.

او د موصیٰ لهٗ لپاره جلا کړی سوی مال که چیري د قاضي سره هلاک سي. نو د موصیٰ لهٗ قصه ختمیږي او په دې باره کي موصیٰ لهٗ ته بیا له وارثانو څخه د پوښتني او غوښتني هیڅ حق نسته.

د قرضخواهانو په نا موجودیت کي د وصي لپاره د بیع کولو حکم

قَالَ: وَإِذَا بَاعَ الْوَصِيُّ عَبْدًا مِنَ التَّرِكَةِ بِغَيْرِ مَحْضَرٍ مِنَ الْغُرَمَاءِ فرمایي: او که چیري وصي د غرماؤ [قرضخواهانو] په نا موجودیت کي له میراث څخه یو غلام خرڅ کړي فَهُوَ جَائِزٌ نو دا جائز دي لِأَنَّ الْوَصِيَّ قَائِمٌ مَقَامَ الْمُوصِي ځکه چې وصي د موصي قائم مقام دی وَلَوْ تَوَلَّى حَيًّا بِنَفْسِهِ او که چیري

موصي د ژوند په حالت کې په خپله بيع کړې وای يَجُوزُ بَيْعُهُ بِغَيْرِ مَحْضَرٍ مِنَ الْغُرَمَاءِ نو د قرضخواهانو په نا موجوديت کې به د هغه بيع جائز وی وَإِنْ كَانَ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ که څه هم هغه [موصي] په خپل مرض الموت کې وای فَكَذَا إِذَا تَوَلَّاهُ مَنْ قَامَ مَقَامَهُ نو همداسي [به بيع جائز وي] کله چې د موصي قائم مقام [وصي] د بيع متولي وي وَهٰذَا لِأَنَّ حَقَّ الْغُرَمَاءِ مُتَعَلِّقٌ بِالْمَالِيَّةِ لَا بِالصُّوْرَةِ او دا ځکه چې د قرضخواهانو حق د ماليت سره متعلق دی، نه د صورت سره وَالْبَيْعُ لَا يُبْطِلُ الْمَالِيَّةَ او بيع ماليت نه باطلوي لِفَوَاتِهَا إِلَى خَلَفٍ ځکه چې ماليت د خليفه [بدل] وطرف ته فوتيږي وَهُوَ الثَّمَنُ او هغه [خليفه] ثمن دی بِخِلَافِ الْعَبْدِ الْمَدْيُوْنِ په خلاف د مقروض غلام لِأَنَّ لِلْغُرَمَاءِ حَقَّ الْاِسْتِسْعَاءِ ځکه چې قرضخواهانو لره [په غلام باندي] د سعی کولو حق سته وَأَمَّا هٰهُنَا فَبِخِلَافِهِ او هر چې دلته نو د هغه په خلاف دي.

اللغات: ﴿محضر﴾ د نصر له باب څخه مصدر ميمي دی: حضور، موجوديت (موجودګي)، ﴿غرماء﴾ جمع د "غَرِيْمٌ" ده: د قرض مالک، قرضخواه (له مقروض څخه ترض غوښتونکی)، هغه څوک چې پر بل چايې قرض (پور) باندي وي، ﴿تولّٰى﴾ د تفعّل د باب ماضي ده، د دې باب څو معناوي دي چې له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: د يو کار ذمه واري اخيستل او کول (په غاړه اخيستل او کول)، ﴿استسعاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی، اِسْتَسْعٰى يَسْتَسْعِيْ اِسْتِسْعَاءً: په غلام سعی او کوښښ کول، خواري په کښل، د مال ګټلو لپاره کسب او مزدوري په کول (مال په ګټل).

تشريح: صورت د مسئلي: دا دی چې زيد مثلاً خالد خپل وصي ټاکلی دی او پر زيد د څو خلکو قرضونه باندي دي، اوس که چيري خالد (وصي) د دغه خلکو (قرضخواهانو) په نا موجوديت کې د زيد له ميراث څخه يو غلام خرڅ کړي، نو د هغه دا خرڅول جائز دي؛ ځکه که چيري خپله موصي يعني زيد داسي وکړي چې په خپل مرض الموت کې د خپلو قرضخواهانو په نا موجوديت کې خپل غلام خرڅ کړي، نو هم جائز دي، لهذا کله چې خپله د موصي لپاره دا فعل جائز دی، نو د هغه د وصي او قائم مقام (خالد) لپاره به هم دا فعل (بيع) جائز او صحيح وي.

په دې هکله بل دليل دا دی چې د قرضخواهانو حق د غلام د ماليت سره متعلق دی، نه د هغه د ذات او صورت سره، او بيع ماليت نه فوت کوي؛ ځکه چې د هغه ماليت د خليفه يعني د ثمن وطرف ته فوت کيږي (يعني د هغه په بدله کې ثمن او پيسې ورته حاصليږي)، نو د غلام د ذات خرڅولو باوجود

چې د کوم شي سره د قرضخواهانو حق متعلق دی يعني ماليت (قيمت) هغه پاتـه دی. نو ځکه دا بيع جائز ده.

د دې په خلاف که خپله پر غلام قرض باندې وي. نو د هغه د مالک يا وصي لپاره دا جائز نه دي چې د هغه د قرضخواهانو په ناموجوديت کې هغه خرڅ کړي؛ ځکه چې دلته د قرضخواهانو حق د غلام د ماليت سره هم متعلق دی او د هغه د ذات سره هم متعلق دی. په دې معنیٰ چې قرضخواهانو ته دا حق سته چې دا غلام خرڅ نه کړي بلکې په هغه سعی او ګټه وکړي او خپل قرضونه په اداء کړي. حال دا چې که مالک يا وصي دا غلام خرڅ کړي نو د قرضخواهانو دغه حق فوتيږي. نو ځکه په دې صورت کې د غلام مالک يا وصي تـه د هغو په ناموجوديت کې د غلام د خرڅولو حق نسته. لېکن دلته د متن مسئله له دغه صورت څخه جلا ده، نو ځکه په هغه کې د غلام خرڅول جائز دي. که څه هم د هغه قرضخواهان غائب وي.

د پورتنی مسئلې بل صورت

قَالَ: وَمَنْ أَوْصٰى بِأَنْ يُبَاعَ عَبْدُهُ فرمايي: او څوک چې دا وصيت وکړي چې د هغه غلام دې خرڅ کړی سي وَيَتَصَدَّقَ بِثَمَنِهِ عَلَى الْمَسَاكِيْنِ او د غلام ثمن (قيمت) دې پر مسکينانو صدقه کړی سي فَبَاعَهُ الْوَصِيُّ وَقَبَضَ الثَّمَنَ نو وصي هغه خرڅ کړی او پر ثمن يې قبضه وکړه [ثمن يې له مشتري څخه واخيستی] فَضَاعَ فِيْ يَدِهِ بيا هغه ثمن د ده په لاس کې هلاک سو فَاسْتُحِقَّ الْعَبْدُ بيا غلام مستحق وختی ضَمِنَ الْوَصِيُّ نو وصي ضامن کيږي لِأَنَّهُ هُوَ الْعَاقِدُ ځکه چې همدا وصي عقد کونکی دی فَتَكُوْنُ الْعُهْدَةُ عَلَيْهِ نو ځکه ذمه واري به [هم] پر هغه وي وَهٰذِهِ عُهْدَةٌ او دا ذمه واري ده لِأَنَّ الْمُشْتَرِيَ مِنْهُ مَا رَضِيَ بِبَذْلِ الثَّمَنِ إِلَّا لِيُسَلِّمَ لَهُ الْمَبِيْعَ ځکه له وصي څخه [د غلام] رانيونکی کس صرف په دې وجه د ثمن په خرچ کولو [ورکولو] راضي سوی دی چې مبيع [غلام] هغه ته ورسپارل سي وَلَمْ يُسَلَّمْ حال دا چې مبيع هغه ته نه دی سپارل سوی فَقَدْ أَخَذَ الْوَصِيُّ الْبَائِعُ مَالَ الْغَيْرِ بِغَيْرِ رِضَاهُ نو خرڅونکي وصي د بل چا مال [ثمن] د هغه له رضا څخه بغير اخيستی دی فَيَجِبُ عَلَيْهِ رَدُّهُ نو ځکه پر وصي د دې مال [ثمن] واپس کول واجب دي [چې د ثمن ضمان (تاوان) به ورکوي] وَيَرْجِعُ فِيْمَا تَرَكَ الْمَيِّتُ او وصي به رجوع کوي په هغه مال [ميراث] کې کوم چې مړي پرې ايښی دی [يعني وصي چې د ثمن په ضمان (تاوان) کوم څه مال ورکړی دی. هغه به د مړي له ميراث څخه اخلي] لِأَنَّهُ عَامِلٌ

لَهُ ځکه چې وصي د همدې مړي [موصي] لپاره کار کونکی دی فَيَرْجِعُ عَلَيْهِ نو ځکه پر هغه به رجوع کوي كَالْوَكِيْلِ لکه وکيل [چې پر خپل مؤکل رجوع کوي] وَكَانَ أَبُوْحَنِيْفَةَ يَقُوْلُ أَوَّلًا: لَا يَرْجِعُ او امام صاحب رَحِمَهُ الله به اول فرمایل: چې وصي به رجوع نه کوي لِأَنَّهُ ضَمِنَ بِقَبْضِهِ ځکه چې وصي د خپل قبضې [ثمن اخيستلو] په وجه ضامن سوی دی ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مَا ذَكَرْنَا بيا امام صاحب رَحِمَهُ الله زموږ د ذکر سوي قول وطرف ته رجوع وکړه وَيَرْجِعُ فِيْ جَمِيْعِ التَّرِكَةِ او وصي به په ټوله میراث کې رجوع کوي وَعَنْ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ يَرْجِعُ فِي الثُّلُثِ او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه روایت دی چې وصي به په ثلث کې رجوع کوي لِأَنَّ الرُّجُوْعَ بِحُكْمِ الْوَصِيَّةِ ځکه چې رجوع کول د وصيت د حکم په وجه دي فَأَخَذَ حُكْمَهَا نو رجوع به د وصيت حکم واخلي وَمَحَلُّ الْوَصِيَّةِ الثُّلُثُ او د وصيت محل ثلث [دریمه حصه] ده وَجْهُ الظَّاهِرِ أَنَّهُ يَرْجِعُ عَلَيْهِ بِحُكْمِ الْغُرُوْرِ د ظاهر روایت دلیل دا دی چې وصي پر مړي د دوکه ورکولو په حکم سره رجوع کوي وَذٰلِكَ دَيْنٌ عَلَيْهِ او دا پر مړي قرض دی وَالدَّيْنُ يُقْضٰى مِنْ جَمِيْعِ التَّرِكَةِ او قرض له ټوله میراث څخه اداء کول کیږي.

اللغات: ﴿يتصدق﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: صدقه کول. خیراتول. ﴿عهدة﴾ ذمه واري. ﴿بذل﴾ د نصر د باب ماضي ده: خرچول (خرچ کول)، مصرفول. ﴿التركة﴾ (په کسره د راء سره) او التِرْكَة: مړی چې تر خپل شا کوم مال پرېږدي. میراث.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که یو سړي مثلاً خالد دا وصیت وکړی چې زما فلانکی غلام دې خرڅ کړی سي او د هغه ثمن دې پر مسکینانو صدقه کړی سي، نو د خالد وصي د هغه د وصیت مطابق غلام خو خرڅ کړی. لېکن د هغه ثمن د وصي سره هلاک سو. یا هغه غلام د بل چا مستحَق وختی (یعني بل چا دعوی وکړه چې دا زما غلام دی او خپله دعوی یې ثابته کړه)، نو وصي د هغه ثمن ضامن کیږي یعني مشتري ته به د ثمن ضمان (تاوان) ورکوي: ځکه چې همدا وصي وصي د بيع عقد کړی دی (یعني همدا وصي هغه مستحَق غلام خرڅ کړی دی). او په بيع کې ټوله حقوق د عاقد وطرف ته راجع کیږي او د ثمن حفاظت کول هم له حقوقو څخه یو حق دی. نو ځکه دا حق به هم د عاقد یعني د وصي سره متعلق وي او همدا وصي به تر ګرېوان نیول کیږي.

دویمه خبره دا ده چې کله غلام د بل چا مستحَق وختی، نو په دې صورت کې چې مشتري و بائع یعني وصي ته کوم ثمن ورکړی دی، هغه بلا عوضه سو. حال دا چې بيع مبادلة المال ته وایي. نو

د مشتري د ثمن ورکولو منشا دا ده چي غلام (مبيع) مشتري ته وسپارل سي. حال دا چي د استحقاق (مستحق ختلو) په وجه غلام هغه ته نه وسپارل سو. نو ځکه بائع چي له مشتري څخه کوم ثمن اخيستی دی، هغه د ده له رضاء او خوښی څخه بغير سو، او ښکاره ده چي کله له رضا څخه بغير بائع د مشتري مال اخيستی دی، نو د هغه واپس کول ضروري دي، نو په دې وجه هم پر بائع (وصي) باندي د ثمن ضمان لازميږي چي هغه به مشتري ته ورکوي.

ويرجع فيما ترك إلخ: يعني وصي ته دا حق سته چي د ضمان مقدار د موصي له ميراث څخه واپس واخلي (يعني وصي چي د ثمن کوم ضمان ورکړی دی. هغه د موصي له مال څخه واخلي)؛ ځکه چي وصي د موصي لپاره کار کوي او د موصي د وصيت په وجه هغه غلام خرڅ کړی دی، لهذا څرنګه چي وکيل د مؤکل لپاره کار کوي نو که پر وکيل يو ضمان لازم سي او هغه ورکړي، نو وکيل هغه د ضمان مقدار د مؤکل له مال څخه اپس اخلي، نو همداسي وصي به هم په ضمان کي ورکول سوی مال د موصي له مال څخه واپس اخلي.

امام صاحب رَحِمَهُ الله مخکي د دې خبري قائل وو چي وصي ته د رجوع حق نسته چي په ضمان کي ورکول سوی مال د موصي له ميراث څخه واپس واخلي؛ ځکه چي هغه د خپلي قبضې په وجه ضمان اداء کړی دی، او اوس د غلام د مستحَق ختلو په وجه وصيت باطل سوی دی او د مړي د ميراث سره د وارثانو حق متعلق سوی دی او وصي د موصي لپاره عامل وو، نه د وارثانو لپاره. نو ځکه هغه ته به د وارثانو په مال کي د رجوع حق نه وي. لېکن وروسته امام صاحب رَحِمَهُ الله له دغه قول څخه رجوع وکړه او د وصي لپاره د رجوع د جواز قائل سو.

ويرجع على إلخ: فرمايي چي د ظاهر روايت مطابق وصي به د موصي په ټوله ميراث کي رجوع کوي، نه فقط په ثلث کي، کله چي ضمان له ثلث څخه زائد وي؛ ځکه موصي وهغه (وصي) ته دوکه ورکړې ده. او د همدې دوکې (غرور) له کبله په آخر کي پر وصي ضمان واجب سوی دی، نو ځکه دا ضمان پر موصي قرض سو او قرض له ټوله مال څخه اداء کول کيږي. لهذا دا ضمان به هم له ټول مال څخه اداء کول کيږي. خو له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه يو روايت دا دی چي وصي ته صرف تر ثلث المال پوري د رجوع حق سته او له ثلث څخه په زائد کي هغه ته دا حق نسته؛ ځکه چي وصي ته دا حق د وصيت په وجه حاصل سوی دی او د وصيت محل ثلث مال دی، نو ځکه دا به هم د وصيت په حکم سره وي او صرف تر ثلث المال پوري به وصي ته د رجوع حق حاصل وي.

په مذکوره مسئله کې که د وصي پر ځای قاضي يا د هغه امين وي (حکم او تفصيل)

بِخِلَافِ الْقَاضِيْ أَوْ أَمِيْنِهِ إِذَا تَوَلَّى الْبَيْعَ په خلاف د قاضي يا د هغه د امين کله چې هغه [قاضي يا امين] د دې بيع ذمه واري اخلي [يعني دا غلام خرڅ کړي بيا...] حَيْثُ لَا عُهْدَةَ عَلَيْهِ نو پر هغه [قاضي يا امين] هيڅ ذمه واري نسته لِأَنَّ فِيْ إِلْزَامِهَا الْقَاضِيَ تَعْطِيْلُ الْقَضَاءِ ځکه چې پر قاضي د ذمه وارۍ په لازمولو کې د قضات معطل کول سته إِذْ يَتَحَامَى عَنْ تَقَلُّدِ هٰذِهِ الْأَمَانَةِ حَذَرًا عَنْ لُزُوْمِ الْغَرَامَةِ ځکه چې د تاوان لازمېدلو له بيرې څخه به قاضي د دغه امانت له اخيستلو څخه ځان ساتي فَتَتَعَطَّلُ مَصْلَحَةُ الْعَامَّةِ نو د عام ولس مصلحت به معطله سي وَأَمِيْنُهُ سَفِيْرٌ عَنْهُ كَالرَّسُوْلِ او د قاضي امين د هغه سفير دی لکه قاصد [استازی] وَلَا كَذٰلِكَ الْوَصِيُّ او وصي داسي نه دی لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ الْوَكِيْلِ ځکه چې وصي د وکيل په درجه کې دی وَقَدْ مَرَّ فِيْ كِتَابِ الْقَضَاءِ او دا په کتاب القضاء کې تېر سوي دي فَإِنْ كَانَتِ التَّرِكَةُ قَدْ هَلَكَتْ بيا که [د موصي] ميراث هلاک سي أَوْ لَمْ يَكُنْ بِهَا وَفَاءٌ يا په ميراث کې [د ضمان لپاره] پوره [کافي] مقدار نه وي [يعني د ميراث په ټوله مال سره ضمان نه پوره کېږي او نه اداء کېږي] لَمْ يَرْجِعْ بِشَيْءٍ نو وصي به په هيڅ شي سره رجوع نه کوي كَمَا إِذَا كَانَ عَلَى الْمَيِّتِ دَيْنٌ آخَرُ لکه کله چې پر مړي بل قرض باندي وي [نو هغه رجوع نه کوي].

اللغات: ﴿تَوَلّٰی﴾ د تفعل د باب ماضي ده، د دې باب څو معناوي دي چې له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: د يو کار ذمه واري اخيستل کول. ﴿أمين﴾ امانت ساتونکی، څوک چې د يو شي د ساتنې او نګرانۍ ذمه واري واخلي. ﴿تعطيل﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: شنډول، بېکاره کول، له کاره اچول، بې حاصله کول. ﴿يتحامى﴾ د تفاعل د باب مضارع ده: ځان ساتل، پرهېز کول. ﴿تقلّد﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: په غاړه اخيستل، (د امانت) بار پورته کول. ﴿غرامة﴾ د سمع له بابه اسم مصدر دی: تاوان (نقصان)، جرمانه. ﴿وفاء﴾ پوره کول، پوره اداء کول، مراد ځني دومره مقدار دی کوم چې د ضمان د اداء کولو لپاره کافي نه وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که د وصي پر ځای قاضي دا بيع کړې وي (يعني قاضي هغه غلام خرڅ کړی وي). بيا د قاضي سره د غلام ثمن هلاک سي يا غلام مستحق وخيږي، نو پر قاضي هيڅ ضمان (تاوان) نه لازمېږي؛ ځکه که پر قاضي ضمان لازم کړی سي، نو هيڅوک به هم د قضاوت

منصب نه قبلوي او د ضمان لازمېدلو له بېرې څخه به د هیچا په مسئله او معامله کې لاس نه وهي او د خلکو مصلحتونه به معطله پاته سي. په همدې وجه پر قاضي ضمان نه لازمیږي.

همدارنګه که دا بیع د قاضي امین کړې وي، نو پر هغه هم ضمان نه لازمیږي؛ ځکه د قاضي امین ګواکې د قاضي سفیر او ترجمان دی او د هغه د قاصد (استازي) په څېر دی. حال دا چې وصي داسې نه دی، بلکې وصي خپله عاقد دی او هغه د وکیل په درجه کې دی، او پر وکیل ضمان لازمیږي، نو ځکه پر وصي به هم ضمان لازمیږي.

فإن كانت الخ: د دې تعلق د مخکنۍ مسئلې سره دی. حاصل یې دا دی چې که چیرې د مړي میراث هلاک سي، یا د هغه میراث دومره کم وي چې د دې قرض (ضمان) اداء کولو لپاره نا کافي وي یعنې د میراث په ټوله مال سره دا ضمان نه اداء کیږي، نو په دې صورت کې وصي ته د رجوع حق نسته. لکه څرنګه په هغه صورت کې وصي ته د رجوع حق نه حاصلیږي کله چې پر مړي (موصي) بل قرض باندې وي، نو همداسې د میراث د هلاکېدلو یا کمېدلو په صورت کې هم هغه ته د رجوع حق نه حاصلیږي.

د نا بالغ بچي قبضه کړی سوی مال که د وصي سره هلاک سي (حکم او تفصیل)

قَالَ: وَإِنْ قَسَمَ الْوَصِيُّ الْمِيْرَاثَ فرمایي: او که وصي میراث تقسیم کړی فَأَصَابَ صَغِيْرًا مِنَ الْوَرَثَةِ عَبْدٌ نو له وارثانو څخه یو کوچني [نابالغه وارث] ته غلام ورسېدی [یعنې په حصه کې یې یو غلام راغلی] فَبَاعَهُ وَقَبَضَ الثَّمَنَ نو وصي هغه خرڅ کړی او پر ثمن یې قبضه وکړه [ثمن یې له مشتري څخه واخیستی] فَهَلَكَ وَاسْتُحِقَّ الْعَبْدُ بیا هغه ثمن هلاک سو او غلام [د یو چا] مستحق وختی رَجَعَ فِيْ مَالِ الصَّغِيْرِ نو وصي به د هغه کوچني په مال کې رجوع کوي لِأَنَّهُ عَامِلٌ لَهُ ځکه چې وصي د هغه کوچني لپاره کار کونکی دی وَيَرْجِعُ الصَّغِيْرُ عَلَى الْوَرَثَةِ بِحِصَّتِهِ او کوچنی به د خپلې حصې مطابق پر وارثانو رجوع کوي لِانْتِقَاضِ الْقِسْمَةِ بِاسْتِحْقَاقِ مَا أَصَابَهُ د تقسیم د ماتېدلو په وجه د هغه څه [غلام] په استحقاق سره کوم چې کوچني ته رسېدلی دی [یعنې د بچي په حصه کې چې کوم غلام راغلی دی، د هغه د مستحق ختلو په وجه تقسیم مات سو].

اللغات: ﴿أصاب﴾ د افعال د باب ماضي ده: رسېدل. ﴿انتقاض﴾ د افتعال د باب مصدر دی: ماتېدل.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې د مړي وصي د هغه میراث تقسیم کړی او د مړي په وارثانو کې یو کوچنی هلک هم دی چې د هغه په حصه کې یو غلام راغلی. بیا وصي د هغه کوچني هلک

غلا خرخ کړي او د هغه ثمن يې د ځان سره خوندي کړي. خو بيا دا ثمن د وصي سره هلاک سو، يا هغه غلام د يو چا مستحق وختی. نو پر وصي د هغه د ثمن ضمان (تاوان) واجبيږي، خو وصي به بيا دا ضمان د صغير له مال څخه وپس اخلي: ځکه وصي دلته د صغير لپاره کار کونکی دی. لهذا ضمان وغيره اصلاً د همدې صغير په مال کې واجب دی. نو ځکه وصي به هغه له صغير څخه اخلي او صغير به بيا له نورو وارثانو څخه خپله حصه دوباره اخلي. ځکه کله چې د صغير حصه مستحقه وختله نو تقسيم مات سو. لهذا کله چې تقسيم مات سو. نو ښکاره ده چې اوس به بيا تقسيم کيږي او له ميراث څخه به صغير ته خپله حصه ورکول کيږي.

که وصي د يتيم په مال کې حواله قبوله کړي، نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِذَا احْتَالَ الْوَصِيُّ بِمَالِ الْيَتِيمِ فرمايي: او کله چې وصي د يتيم د مال حواله قبوله کړي فَإِنْ كَانَ خَيْرًا لِلْيَتِيمِ نو که دا [حواله قبلول] د يتيم په حق کې خير وي جَازَ نو جائز دي وَهُوَ أَنْ يَكُونَ أَمْلَأَ او هغه دا چې محتال عليه مالدار وي [چې د دې مال په اداء کولو باندې قدرت لري] إِذِ الْوِلَايَةُ نَظَرِيَّةٌ ځکه چې دا ولايت پر مصلحت [او شفقت] مبني دی وَإِنْ كَانَ الْأَوَّلُ أَمْلَأَ او که اول [مقروض محيل] مالدار وي لَا يَجُوزُ نو دا [حواله قبلول] جائز نه دي لِأَنَّ فِيهِ تَضْيِيعَ مَالِ الْيَتِيمِ عَلَى بَعْضِ الْوُجُوهِ ځکه چې په دې کې پر بعضي صورتونو د يتيم د مال ضايع کول سته [او هغه دا چې که محتال عليه مالدار نه وي. نو په اداء کولو کې به تأخير وکړي. وانتأخير تضييع من وجه].

اللغات: ﴿احتال﴾ د افتعال د باب ماضي ده: حواله قبلول. ﴿أملأ﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات مال والا. شتمن. ﴿نظرية﴾ پر مصلحت مبني. پر شفقت مبني (شارحينو يې همدغه دوې معناوي کړي دي). ﴿تضييع﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: ضايع کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې پر يو سړي مثلاً پر خالد د يو يتيم قرض باندې دی او د يتيم وصي چې کله له خالد (مقروض) څخه د هغه مطالبه وکړه. نو خالد هغه وصي د حامد وطرف ته حواله کړي چې زما قرض به حامد درکړي او وصي دا حواله قبوله کړه او حامد (محتال عليه) هم قبوله کړه. نو که چيرې حامد کوم چې محتال عليه دی مالدار (شتمن) وي. نو وصي لره حواله قبلول جائز دي: ځکه په دې کې د يتيم مصلحت او فايده ده چې د يتيم حق او مال به هغه ته ژر حاصل سي او د وصي ولايت مبني بر مصلحت و شفقت دی. او مصلحت و شفقت په همدې کې دی چې يتيم ته خپل مال ژر حاصل سي.

او که چیري مقروض (یعني خالد) خپله هم مالدار وي او قرض اداء کولای سي. نو بیا دا حواله قبلول جائز نه دي؛ ځکه چي په دې کي د یتیم د مال په ادائینه کي د تأخیر امکان سته (چي محتال علیه به تاخیر پکښي وکړي او په ځند سره به یې اداء کړي) او تأخیر هم من وجه تضییع او اتلاف دی. حال دا چي د وصیت پر مصلحت وشفقت مبني دی نو په کوم صورت کي د بچي مصلحت (ښېګنه) نه وي. د هغه په اختیارولو کي هیڅ خیر او مصلحت نسته. نو ځکه په دې صورت کي حواله قبلول جائز نه دي.

د وصي د تصرفاتو د انعقاد شرط

قَالَ: وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْوَصِيِّ وَلَا شِرَاؤُهُ إِلَّا بِمَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِي مِثْلِهِ فرمایي: او جائز نه دي د وصي بیع او د هغه شراء [خرڅول او رانیول] مګر په هغه مقدار سره چي په هغو مره مقدار کي خلک خساره زغمي لِأَنَّهُ لَا نَظَرَ فِي الْغَبْنِ الْفَاحِشِ ځکه چي په غبنِ فاحش [زیاته خساره] کي مصلحت [او شفقت] نسته بِخِلَافِ الْيَسِيرِ په خلاف د غبنِ یسیر [یعني معمولي خساره] لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ التَّحَرُّزُ عَنْهُ ځکه چي له هغه څخه بچ کېدل ناممکن دي فَفِي اعْتِبَارِهِ انْسِدَادُ بَابِهِ نو د هغه په اعتبار کولو کي د وصایت د دروازې بندېدل سته وَالصَّبِيُّ الْمَأْذُونُ وَالْعَبْدُ الْمَأْذُونُ وَالْمُكَاتَبُ يَجُوزُ بَيْعُهُمْ وَشِرَاؤُهُمْ بِالْغَبْنِ الْفَاحِشِ او د مأذون [اجازه ورکول سوي] بچي او د مأذون غلام او د مکاتب بیع او شراء په غبنِ فاحش سره [هم] [جائز دي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز لِأَنَّهُمْ يَتَصَرَّفُونَ بِحُكْمِ الْمَالِكِيَّةِ ځکه چي دا کسان د مالکیت په حکم سره تصرف کوي وَالْإِذْنُ فَكُّ الْحَجْرِ او اجازه ورکول د بندیز لیري کول دي بِخِلَافِ الْوَصِيِّ په خلاف د وصي لِأَنَّهُ يَتَصَرَّفُ بِحُكْمِ النِّيَابَةِ الشَّرْعِيَّةِ نَظَرًا ځکه چي وصي د شرعي نائب والي په حکم سره بناء بر مصلحت [و شفقت] تصرف کوي فَيَتَقَيَّدُ بِمَوْضِعِ النَّظَرِ لهذا دا تصرف به د مصلحت په مقام سره مقید وي وَعِنْدَهُمَا لَا يَمْلِكُونَهُ او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نیز دا کسان [مأذون بچی وغیره] د دغه تصرف ملکیت نه لري لِأَنَّ التَّصَرُّفَ

بِالْفَاحِشِ مِنْهُ تَحَرُّزٌ لَا ضَرُورَةَ فِيهِ ځکه چي په غبن فاحش سره تصرّف کول داسي تبرّع ده چي د هغه هیڅ ضرورت نشته وَهُمْ لَيْسُوا مِنْ أَهْلِهِ او دا کسان د تبرّع اهل نه دي.

اللغات: ﴿يتغابن﴾ د تفاعل له بابه د نفي صيغه ده. تَغَابَنَ يَتَغَابَنُ تَغَابُنًا: د دې باب خپله معنیٰ ده: يو بل ته (په قيمت وغيره کي) نقصان رسول. يو بل ته دوکه ورکول. لیکن شارحینو یې دا معناوي هم ذکر کړي دي: دوکه خوړل (دوکه کېدل). خساره زغمل (تاوان برداشتول). دوکه او فریب ګڼل. مثلاً په يو علاقه کي د پسه بازاري قيمت عموماً سل [۱۰۰] درهمه وي او له هغه څخه نه زياتول کیږي. اوس که يو شوک يو نيم سل [۱۵۰] درهمه د هغه قيمت ولګوي. نو پنځوس درهمه د هغه پر قيمت اضافه کول بيخي زيات ګڼل کيږي او خلک یې نه زغمي. نو دومره زياتوب ته "غبنِ فاحش" وايي. او که د هغه قيمت يو سل ولس [۱۱۰] درهمه ولګوي او صرف لس درهمه پرې اضافه کړي نو صحيح دي ځکه چي لس درهمه بيخي زيات نه ګڼل کيږي او خلک یې زغمي. نو دې معمولي زياتوب ته "غبنِ يسير" وايي او داسي سودا ته "ما يتغابن الناس" وايي. ﴿فاحش﴾ د کرُم د باب فاعل دی. د دې لفظ له معناوو څخه يوه معنیٰ ده: له حدّ څخه تېر. ډېر زيات. ﴿يسير﴾ معمولي. لږ. غوندي. ﴿تحرز﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: بچ کېدل. ساتل کېدل. ځان ساتل او پرهيز کول. ﴿انسداد﴾ د انفعال د باب مصدر دی بندېدل. ﴿فَلَق﴾ د نصر د باب مصدر دی: لیري کول او ختمول. خلاصول. ﴿الحِجْر﴾ بنديز. ممانعت. پابندي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي وصي ته د دې پوره اختيار سته چي د مړي (موصي) د بچیانو لپاره خرڅول او رانيول (بيع و شراء) وکړي او د هغوی په اُمورو او مالونو کي تصرّف وکړي. لیکن شرط دا دی چي وصي په غبنِ فاحش سره تصرّف نه وکړي. لهذا که چيري وصي په غبنِ فاحش سره بيع و شراء وکړي، نو د هغه تصرّف نه جائز کيږي. ها! که په غبنِ يسير سره تصرّف وکړي، نو بيا یې تصرّف جائز کيږي او هغه به نافذول کيږي؛ ځکه معمولي خساره خو په هر تصرّف کي کيږي او له هغه څخه بچ کېدل مشکل دي. لهذا معمولي خساره به زغمل کيږي. لیکن غبنِ فاحش په هيڅ صورت کي د زغملو وړ نه دی؛ ځکه چي د وصي وصايت پر مصلحت و شفقت مبني دی او په غبنِ فاحش کي هيڅ مصلحت و شفقت نشته.

والصبي المأذون إلخ: فرمايي چي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د مأذون بچي او د مأذون غلام او د مکاتَب تصرّفات په غبنِ فاحش سره هم جائز دي؛ ځکه چي دا کسان د مالک والي په توګه تصرّف کوي. نه د نائب والي په توګه. ځکه کله چي دوی ته د تصرّف اذن (اجازت) حاصل دی. نو اوس دوی په تصرّف کي مالکان او خود مختاره دي، نائبان نه دي. لهذا دوی که په غبنِ يسير سره تصرّف وکړي او که په غبنِ فاحش سره تصرّف وکړي. په هر صورت کي د دوی تصرّف جائز دی. حال دا چي وصي شرعاً د مصلحت و شفقت پر بناء د نائب په توګه تصرّف کوي يعني بناء بر مصلحت شريعت

هغه د موصي نائب جوړ کړی دی. نو ځکه د هغه تصرف په مصلحت وشفقت سره مقيد دی. او څرنګه چي په غبنِ فاحش کي د مصلحت و شفقت اړخ معدوم دی (يعني په هغه کي د بچي او غلام او مکاتب لپاره هيڅ مصلحت [ښېګڼه] نسته). نو ځکه دوصي لپاره په غبنِ فاحش سره د تصرف کولو اختيار نسته.

وعندهما لا يملكونه إلخ: د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز مأذون بچی، مأذون غلام او مکاتب په غبنِ فاحش سره د تصرف کولو هيڅ ملکيت او اختيار نه لري؛ ځکه په غبنِ فاحش سره تصرف کول يو ډول تبرّع ده او دا کسان د تبرّع اهل نه دي.

د وصي په بيع کي به بيع نامه او وصيت نامه دواړه جلا، جلا ليکل کيږي، نه يو ځای

وَإِذَا كُتِبَ كِتَابُ الشِّرَاءِ عَلَى وَصِيٍّ او کله چي پر وصي د رانيولو خط [بيع نامه] وليکل سي كُتِبَ كِتَابُ الْوَصِيَّةِ عَلَى حِدَةٍ نو د وصيت خط [وصيت نامه] به جلا وليکل سي وَكِتَابُ الشِّرَاءِ عَلَى حِدَةٍ او د رانيولو خط [بيع نامه] به جلا وليکل سي لِأَنَّ ذَلِكَ أَحْوَطُ ځکه چي دا احوط دي [يعني په دې کي زيات احتياط دی] وَلَوْ كُتِبَ جُمْلَةً او که چيري [وصيت نامه او بيع نامه] يو ځای وليکل سي عَسَى أَنْ يَكْتُبَ الشَّاهِدُ شَهَادَتَهُ فِي آخِرِهِ مِنْ غَيْرِ تَفْصِيلٍ نو کېدلای سي چي ګواه خپله ګواهي په آخر کي بغير له تفصيله وليکي فَيَصِيرُ ذَلِكَ حَمْلًا لَهُ عَلَى الْكَذِبِ نو دا به پر درواغو د هغه باعث [پارونکی] وګرځي ثُمَّ قِيلَ: يُكْتَبُ: اِشْتَرَى مِنْ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ بيا ويل سوي دي: داسي به ليکل کيږي: چي هغه له فلانکي شخصه کوم چي د فلانکي ځوی دی رانيولی دی وَلَا يُكْتَبُ: مِنْ فُلَانٍ وَصِيِّ فُلَانٍ او داسي به نه ليکل کيږي: چي له فلانکي شخصه کوم چي د فلانکي وصي دی [رانيولي دي] لِمَا بَيَّنَّا د هغه دليل په وجه کوم چي موږ بيا کړی دی وَقِيلَ: لَا بَأْسَ بِذَلِكَ او ويل سوي دي: چي په دې کي هيڅ پروا نسته لِأَنَّ الْوِصَايَةَ تُعْلَمُ ظَاهِرًا ځکه چي وصايت په ښکاره معلوميږي.

اللغات: ﴿كتاب﴾ مکتوب، خط. ﴿أحوط﴾ دا سم تفضيل صيغه ده: زيات احتياط والا. زيات محتاط. ﴿جملة﴾ يو ځای. پر يوه ځای. ﴿عسى﴾ ممکنه ده. کېدلای سي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که له وصي شخصه يو شوک شی رانيسي او بيا پر هغه د "بيع نامه" د ليکلو نوبت راسي، نو هلته به بيع نامه او وصيت نامه پر يوه ځای او په يوه صفحه کي نه ليکل

کیږي. بلکي دواړه به جلا. جلا لیکل کیږي: ځکه عموماً داسي کیږي چي د وصیت ګواهان او د بیع ګواهان سره جلا، جلا وي، نو اوس که د بیع نامه د لیکلو په وخت کي وصیت نامه هم په هغه صفحه کي ولیکل سي. نو کوم چي د بیع ګواهان دي. هغه به د صفحې په آخر کي خپلي امضاوي (لاسلیکونه) وکړي چي له هغه څخه به په ښکاره دا معلومیږي چي دا کسان د وصیت او بیع دواړو ګواهان دي، حال دا چي هغوی فقط د بیع ګواهان دي. نو ځکه زیات احتیاط په دې طریقه کي دی چي د دواړو خطونه جلا، جلا وي.

ثم قیل یکتب إلخ: کله چي بیع نامه لیکل کیږي یعني قاضي یا مشتري یا د دوی په حکم سره چي کوم څوک بیع نامه لیکي، نو د هغه الفاظ به داسي لیکي چي "فلاني کس له فلان بن فلان څخه فلانکی شی رانیوی"، او داسي به نه لیکي چي "فلاني کس له فلاني څخه کوم چي د فلاني وصي دی دا شی رانیوی"، د دې لپاره چي په لیکنه کي هم وصیت او بیع یو ځای سره ذکر نه سي. ځکه چي دا د احتیاط خلاف دي، ځکه ځیني وخت له دې څخه هم دوکه پېښېدلای سي. لهذا داسي نه کول پکار دي.

وقیل إلخ: د بعضي حضراتو رایه دا ده چي په دې کي څه حرج نسته (کله چي بیع نامه او وصیت نامه جلا، جلا ولیکل سي): ځکه په عامه توګه خلګو ته معلومه او مشهوره وي چي دا د فلانکي وصي دی، نو د شهرت پر بنیاد په بیع نامه کي دا الفاظ لیکل کیږي، نور په دې هر څوک پوهیږي چي کوم څه چي بیع نامه ده هغه جلا ده او د وصایت ذکر په هغه کي تابع دی.

وصي د بالغ وارث د سامان خرڅولو اختیار لري او که نه؟

قَالَ: وَبَيْعُ الْوَصِيِّ عَلَى الْكَبِيْرِ الْغَائِبِ جَائِزٌ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا فِي الْعَقَارِ فرمایي: او پر غائب لوی [بالغ] د وصي بیع له جایداد څخه بغیر بل په هر شي کي جائز ده لِأَنَّ الْأَبَ يَلِيْ مَا سِوَاهُ ځکه چي پلار [موصي] د جایداد له بیع [خرڅولو] څخه د ماسوا [یعني د بل شي د خرڅولو] ولایت لري وَلَا يَلِيْهِ او د جایداد د بیع [خرڅولو] ولایت نه لري فَكَذَا وَصِيُّهُ فِيْهِ نو همداسي به د هغه وصي وي په دې [بیع العقار] کي [یعني هغه به هم له بیع العقار څخه ماسوا د بل شي د خرڅولو ولایت لري] وَكَانَ الْقِيَاسُ أَنْ لَا يَمْلِكَ الْوَصِيُّ غَيْرَ الْعَقَارِ أَيْضًا او قیاس دا دی چي وصي له جایداد څخه بغیر د بل شي [د خرڅولو] هم ملکیت نه لري لِأَنَّهُ لَا يَمْلِكُهُ الْأَبُ عَلَى الْكَبِيْرِ ځکه چي [د ولایتِ حقیقیه په توګه] پلار پر کبیر د هغه ملکیت نه لري [خو د حفاظت او مصلحت پر بناء پلار پر کبیر د هغه ملکیت او ولایت لري] إِلَّا أَنَّا

اسْتِحْسَانَاهُ خو بناء بر استحسان مور، دا بيع [دغير العقار] جائز ګرځولې ده لِمَا أَنَّهُ حِفْظٌ ځکه چي دا [بيع دغير العقار] د حفاظت ذريعه ده لِتَسَارُعِ الْفَسَادِ إِلَيْهِ ځکه چي د غيرالعقار [منقولاتو] وطرف ته خرابي ژر راځي [يا په بله وينا دا چي د هغه وطرف ته خرابوالی تېزي او وړاندیتوب کوي يعني ژر خرابيږي] وَحِفْظُ الثَّمَنِ أَيْسَرُ او د ثمن حفاظت کول زيات آسانه دي وَهُوَيَمْلِكُ الْحِفْظَ او وصي د حفاظت ملکيت [او اختيار] لري أَمَّا الْعَقَارُ فَمُحَصَّنٌ بِنَفْسِهِ او کوم چي جايداد دی نو هغه خپله خوندي [محفوظ] دی.

اللغات: ﴿عقار﴾ غيرِ منقولي جايداد، هغه څه چي له يوه ځای څخه بل ځای ته نقل کېدلای نه سي، لکه ځمکه او داسي نور. ﴿يلي﴾ د ضرب د باب مضارع ده: ولي کېدل، ولايت لرل. ﴿تسارع﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: تېزي کول، وړاندیتوب کول.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي د مړي وصي ته د هغه د بچيانو په مالونو کي د تصرّف کولو (بيع و شراء) حق حاصل دی، لېکن که د مړي يو لوی (بالغ) بچی وي او هغه چيري غائب وي، نو آيا وصي د هغه سامان خرڅولای سي، که نه؟، په دې باره کښ د قياس او استحسان دوې جلا فيصلې دي. د قياس تقاضا او فيصله دا ده چي وصي ته دا حق نسته چي د کبير غائب په مال کښ تصرّف وکړي، لېکن استحساناً وصي ته دا حق سته چي له جايداد څخه بغير د هغه په نور مال او سامان (منقولاتو) کي تصرّف وکړي او خرڅ يې کړي؛ ځکه چي وصي د موصي قائم مقام دی يعني د کبير (لوی بچي) د پلار قائم مقام دی، او پلار ته له جايداد څخه بغير په نورو شيانو (منقولاتو) کي د کبير پر مال ولايت حاصل دی، نو ځکه وصي ته به هم له جايداد څخه بغير پر نور مال ولايت حاصل وي او هغه ته به د دې پوره اختيار وي چي د کبير غائب مال او سامان خرڅ کړي؛ ځکه چي په نور مال (منقولاتو) کي د خرابېدلو او ضايع کېدلو بېره سته، حال دا چي مال خرڅول او د هغه د ثمن حفاظت کول زيات آسانه دي، او وصي ته د همدې حفاظت کولو ولايت او اختيار حاصل دی.

او د جايداد (عقار) د خرڅولو اختيار ځکه ورته نسته چي د هغه د ضايع کېدلو بېره او خطره نسته. بلکي جايداد (ځمکه وغيره) بذاتِ خود محفوظ دي، لهذا د هغه د حفاظت کولو څه ضرورت نسته.

وصي ته په مال سره د تجارت کولو اختيار نسته

قَالَ: وَلَا يَتَّجِرُ فِي الْمَالِ فرمايي: او وصي به په مال کي تجارت نه کوي لِأَنَّ الْمُفَوَّضَ إِلَيْهِ الْحِفْظُ دُوْنَ التِّجَارَةِ ځکه چي هغه ته سپارل سوی کار [د مال] حفاظت کول دي، نه تجارت کول.

اللغات: ﴿لَايَتَّجِرُ﴾ د نصر له بابه د نفي صيغه ده. د افتعال له بابه هم راځي يعني لَا يَتَّجِرُ: تجارت او کاروبار کول، سوداګري کول. ﴿مفوّض﴾ د تفعيل د باب مفعول دی: ورسپارل سوی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې وصي ته دا اختيار نسته چې د موصي په مال سره تجارت او کاروبار وکړي؛ ځکه چې موصي د خپلو مالونو د حفاظت او ساتنې لپاره هغه وصي ټاکلی دی، نه د تجارت لپاره. لهذا د هغه مالونه به په تجارت او کاروبار نه بندوي.

د ورور وغيره د وصي لپاره د تصرّف کولو حکم

وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ وَمُحَمَّدٌ او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: وَصِيُّ الْأَخِ فِي الصَّغِيْرِ وَالْكَبِيْرِ الْغَائِبِ چې د ورور وصي د کوچني ورور او لوی غائب ورور په باره کې داسې دی بِمَنْزِلَةِ وَصِيِّ الْأَبِ فِي الْكَبِيْرِ الْغَائِبِ لکه د پلار وصي د غائب ځوی په باره کې وَكَذَا وَصِيُّ الْأُمِّ وَوَصِيُّ الْعَمِّ او همداسې د مور وصي او د اکا وصي دی وَهٰذَا الْجَوَابُ فِي تَرِكَةِ هٰؤُلَاءِ او دغه جواب [حکم] د دې کسانو د ميراث په باره کې دی لِأَنَّ وَصِيَّهُمْ قَائِمٌ مُقَامَهُمْ ځکه چې د دوی وصي د دوی پر ځای ولاړ دی وَهُمْ يَمْلِكُوْنَ مَا يَكُوْنُ مِنْ بَابِ الْحِفْظِ او دوی د هغه اُمورو ملکيت [اختيار] لري کوم چې د حفاظت له باب څخه وي فَكَذَا وَصِيُّهُمْ نو همداسې به د دوی وصي هم وي [يعني وصي به يې هم د هغه اُمورو اختيار لري].

اللغات: ﴿يملكون﴾ د ضرب له بابه د جمع مذکر غائب مضارع صيغه ده: مالک کېدل، ملکيت او اختيار لرل.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې د يو سړي مثلاً د خالد دوه وروڼه دي او له دوی څخه يو صغير (نابالغ) دی او بل کبير (بالغ ورور) دی کوم چې غائب دی او خالد د ځان لپاره يو وصي هم ټاکلی دی، بيا خالد مړ سو، نو آيا د خالد وصي د هغه د دواړو وروڼو په مال کې (کوم چې له خالد څخه دوی ته په ميراث کې حاصل سوی دی) تصرّف کولای سي، که نه؟، نو فرمايي چې کوم حکم د پلار د وصي وو د غائب کبير (بالغ بچی) په حق کې، هاغه حکم دلته د دواړو وروڼو په حق کې د ورور د وصي دی. يعني د ورور (خالد) وصي له جايداد (عقار) څخه بغير د دوی نور مال او سامان خرڅولای سي. خو د دوی په جايداد کې تصرف نه سي کولای.

او همدا حکم د مور د وصي او د اکا د وصي دی: يعني د دوی وصي لره هم دغه اختيار ات سته چې وصي د دوی د وارثانو له جايداد څخه بغير په نور مال او سامان کې تصرف کولای سي؛ ځکه

چي وصي د خپل موصي قائم مقام وي، او موصي يعني ورور، مور او اکا ته دغه اختيارات حاصل دي. لهذا دا حکم به د هغو د وصي هم وي.

لیکن وصي ته چي کوم دا اختيارات حاصل دي دا صرف په هغه مال کي ورته حاصل دي، کوم چي د هغه د موصي له طرفه وارثانو ته په ميراث کي حاصل سوی وي، لیکن هغه مال کوم چي له مخکي څخه د وارثانو (خپل مال) دی، په هغه کي وصي ته د تصرّف کولو حق نسته.

له وصي او نيکه څخه کوم يو د بچيانو د مال زيات حقدار دی؟

قَالَ: وَالْوَصِيُّ أَحَقُّ بِمَالِ الصَّغِيرِ مِنَ الْجَدِّ فرمايي: او وصي د بچي د مال زيات حقدار دی له نيکه څخه وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: الْجَدُّ أَحَقُّ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي نيکه زيات حقدار دی لِأَنَّ الشَّرْعَ أَقَامَهُ مُقَامَ الْأَبِ حَالَ عَدَمِهِ ځکه شريعت د پلار د نشتوالي په حالت کي نيکه د هغه قائم مقام کړی دی حَتَّى أَحْرَزَ الْمِيرَاثَ همدا وجه ده چي هغه ميراث اخلي فَيُقَدَّمُ عَلَى وَصِيِّهِ نو ځکه هغه به د پلار پر وصي مخکي کول کيږي وَلَنَا: أَنَّ بِالْإِيصَاءِ تَنْتَقِلُ وِلَايَةُ الْأَبِ إِلَيْهِ زموږ دليل دا دی: چي د وصيت کولو [وصي جوړولو] په وجه د پلار ولايت د وصي وطرف ته منتقل کيږي فَكَانَتْ وِلَايَتُهُ قَائِمَةً مَعْنًى لهذا د پلار ولايت د معنیٰ په اعتبار سره موجود دی فَيُقَدَّمُ عَلَيْهِ نو ځکه وصي به پر نيکه مخکي کول کيږي كَالْأَبِ نَفْسِهِ لکه خپله پلار [چي پر نيکه مخکي کول کيږي] وَهٰذَا لِأَنَّ اخْتِيَارَهُ الْوَصِيَّ مَعَ عِلْمِهِ بِقِيَامِ الْجَدِّ يَدُلُّ عَلَى او دا ځکه چي د پلار وصي اختيارول [يعني پلار چي وصي اختيار کړی] سره د دې چي هغه د نيکه په وجود خبر دی دا پر دې دلالت کوي أَنَّ تَصَرُّفَهُ أَنْظَرُ لِبَنِيهِ مِنْ تَصَرُّفِ أَبِيهِ چي د وصي تصرّف د هغه د زامنو لپاره زيات مصلحت [ښېګڼي] والا دی د هغه د پلار [نيکه] له تصرف څخه فَإِنْ لَمْ يُوصِ الْأَبُ لیکن که پلار وصيت نه وي کړی [يعني وصي يې نه وي اختيار او مقرر کړی] فَالْجَدُّ بِمَنْزِلَةِ الْأَبِ نو بيا نيکه د پلار په درجه کي دی لِأَنَّهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَيْهِ وَأَشْفَقُهُمْ عَلَيْهِ ځکه چي نيکه بچي ته تر ټولو خلکو زيات نژدې دی او تر ټولو زيات پر هغه مهربانه دی حَتَّى يَمْلِكَ الْإِنْكَاحَ دُونَ وَصِيٍّ همدا وجه ده چي نيکه د نکاح کولو ملکيت [اختيار] لري، نه وصي غَيْرَ أَنَّهُ يُقَدَّمُ عَلَيْهِ وَصِيُّ الْأَبِ فِي التَّصَرُّفِ خو د پلار وصي به په تصرف کي پر نيکه

مخکې کول کېږي لِمَا بَيَّنَّاهُ د هغه دليل په وجه کوم چې موږ بيان کړی.

اللغات: ﴿أحق﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات حقدار. ﴿أحرز﴾ د افعال د باب ماضي ده: ذخيره کول. اخيستل او خوندي کول. ﴿إيصاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: وصيت کول. څوک د ځان وصي جوړول. ﴿أنظر﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: زيات مصلحت والا. زيات شفقت والا.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی که د مُوصي پلار يعني نيکه هم موجود وي او د پلار وصي هم موجود وي، نو په دې صورت کې کوم يو د مُوصي د بچيانو (کوچنيانو) په مال کې د تصرّف کولو زيات حقدار دی، نو فرمايي چې زموږ په نيز وصي زيات حقدار دی، لېکن د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نيز نيکه مخکې او زيات حقدار دی؛ د امام شافعي رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې شريعت د پلار په نا موجوديت کې نيکه د هغه قائم مقام ګرځولی دی، همدا وجه ده چې نيکه ته د پلار ميراث حاصليږي (يعني د پلار چې کوم ميراث وي، هغه نيکه اخلي)، لېکن وصي ته هيڅ ميراث نه حاصليږي. نو ځکه نيکه به پر وصي مخکې کول کېږي.

ولنا إلخ: زموږ دليل دا دی چې کله موصي خپل وصي مقرر کړي، نو د پلار ولايت د وصي وطرف ته منتقل سو، ګواکې د وصي په صورت کې معناً د پلار ولايت قائم او موجود دی، نو ځکه وصي به پر نيکه مخکې کول کېږي، لکه که چيري پلار خپله موجود وای نو هغه به هم پر نيکه مخکې کېدلای. لهذا وصي به هم مخکې کول کېږي.

او بل دا چې کله پلار په دې خبر دی چې زما پلار يعني د بچيانو نيکه موجود دی خو بيا هم خپل وصي مقرر کوي، نو د دې ښکاره مطلب همدا دی چې هغه پر خپل نيکه وصي ته ترجيح ورکوي او د نيکه په مقابله کې وصي د خپلو بچيانو په حق کې زيات مصلحت والا ګڼي، نو ځکه په دې حواله سره به هم وصي پر نيکه مخکې کول کېږي.

فإن لم إلخ: د دې حاصل دا دی چې که پلار خپل وصي مقرر کړی نه وي، نو بيا نيکه د پلار په درجه کې دی چې همدا نيکه به د بچيانو (لمسيانو) په مال کې تصرّف کوي، همدا وجه ده چې نيکه ته د نکاح کولو ولايت هم حاصل دی. نو ځکه د وصي د نشتوالي په صورت کې به د تصرّف کولو ولايت هم هغه ته حاصل وي. لېکن که چيري وصي موجود وي، نو بيا په تصرّف کې هغه له نيکه څخه مخکې کېږي د مذکوره دليل په وجه. فقط والله أعلم وعلمه أتم



فَصْلٌ فِي الشَّهَادَةِ

(دا) کتاب په (بیان د احکامو د) "ګواهۍ" کي دی

تشریح: مخکې تر دې صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د وصیت احکام بیان کړل. اوس له دې ځایه د شهادت (ګواهۍ) احکام بیانوي. له وصیت څخه د شهادت د مؤخر کولو وجه دا ده چې وصیت اصل دی او شهادت عارض دی، او ښکاره ده چې عارض له اصل څخه مؤخّر او وروسته وي، نو ځکه یې د شهادت احکام د وصیت تر احکامو وروسته بیان کړي دي.

که دوه وصیان د بل چا د وصي کېدلو ګواهي ورکړي، نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِذَا شَهِدَ الْوَصِيَّانِ أَنَّ الْمَيِّتَ أَوْصَى إِلَى فُلَانٍ مَعَهُمَا فرمایي: او کله چې دوه وصیان دا ګواهي ورکړي چې مړي د دوی دوارو سره فلانکي ته [هم] وصیت کړی دی [یعني فلانکی یې هم زموږ سره وصي جوړ کړی دی. خو فلانکی (مشهود لهٗ) د دې دعویٰ نه وکړي] فَالشَّهَادَةُ بَاطِلَةٌ نو ګواهي باطله ده [چې نه به قبلول کیږي] لِأَنَّهُمَا مُتَّهَمَانِ فِيهَا ځکه چې دا دواړه په خپله ګواهۍ کي متهم دي لِإِثْبَاتِهِمَا مُعِينًا لِأَنْفُسِهِمَا ځکه چې دوی [په خپله ګواهي] سره د خپلو ځانو لپاره یو مرستیال ثابتوي قَالَ: إِلَّا أَنْ يَدَّعِيَهَا الْمَشْهُودُ لَهُ فرمایي: مګر دا چې مشهود لهٗ د وصایت [وصي کېدلو] دعویٰ وکړي [نو د دوی ګواهي به قبلول کیږي] وَهٰذَا اسْتِحْسَانٌ او دا استحسان دی وَهُوَ فِي الْقِيَاسِ كَالْأَوَّلِ او دا [د ګواهۍ قبلول...] په قیاس کي د اول صورت په څېر دی [چې دا ګواهي به نه قبلول کیږي. له اول صورت څخه مراد دا دی چې کله مشهود لهٗ د وصایت دعویٰ نه وکړي] لِمَا بَيَّنَّا مِنَ التُّهْمَةِ د هغه تهمت په وجه کوم چې موږ بیان کړی وَجْهُ الِاسْتِحْسَانِ أَنَّ لِلْقَاضِي وِلَايَةَ نَصْبِ الْوَصِيِّ ابْتِدَاءً د استحسان دلیل دا دی چې قاضي ته ابتداءً د وصي درولو [مقرّرولو] ولایت سته أَوْ ضَمَّ آخَرَ إِلَيْهِمَا بِرِضَاهُ بِدُونِ شَهَادَتِهِمَا یا د دوو وصیانو سره د هغوی له ګواهۍ څخه بغیر د بل وصي د ضمولو ولایت ورته سته فَيَسْقُطُ بِشَهَادَتِهِمَا مُؤْنَةُ التَّعْيِينِ عَنْهُ نو د هغوی په ګواهۍ سره [صرف] د وصي متعیّنولو مشقت له

قاضي څخه ساقطیږي أَمَّا الْوِصَايَةُ تَثْبُتُ بِنَصْبِ الْقَاضِيْ او کوم چي وصایت [وصي کېدل] دي هغه د قاضي په درولو [مقرّرولو] سره ثابتیږي.

اللغات: ﴿متهمان﴾ تثنیه د مُتَّهَمٌ ده، د افتعال د باب مفعول دی: تورن، تومتي، پر چا چي څه تهمت وي، ﴿ضمّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: یو څه د بل سره یو ځای کول، ور سره اضافه کول، ﴿مؤنة﴾ مشقت، بار، خرچ او لګښت.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي زید مثلاً خالد او حامد د ځان وصیان جوړ کړل، بیا دې دواړو ګواهي ورکړه چي موصي (زید) زموږ سره شاکر هم وصي جوړ کړی دی، نو که چیري شاکر هم دا دعویٰ وکړه چي هو! موصي زه هم وصي ټاکلی یم، نو بیا د دواړو وصیانو ګواهي مقبوله ده، لېکن که مشهود لهٗ یعني شاکر دعویٰ نه وکړي، نو د دوی ګواهي باطله ده لهذا هغه به نه قبلول کیږي؛ ځکه په دې صورت کي دواړه وصیان په خپله ګواهۍ کي متهم او تورن دی؛ ځکه په دې صورت کي دوی په خپله ګواهۍ سره د ځان لپاره یو مُعین او مرستیال مقرّر کوي، او د متهم کس ګواهي نه قبلیږي.

خو د مشهود لهٗ (شاکر) د دعوې کولو په صورت کي فقهاؤ د وصیانو ګواهي استحساناً معتبره منلې ده، کنې قیاساً په دې صورت کي هم د دوی ګواهي باطله ده؛ د استحسان دلیل دا دی چي قاضي ته ابتداءً هم د وصي مقرّرولو ولایت حاصل دی (چي د مړي له طرفه وصي مقرّر کړي) همدارنګه قاضي ته د یوه وصي سره د بل وصي د ضمولو (یو ځای کولو) ولایت هم حاصل دی په دې شرط چي هغه بل وصي کوم چي ور سره ضمول کیږي په وصایت راضي وي، او د دغه ضمّ لپاره د نورو وصیانو ګواهي ضروري نه ده، لهذا کله چي بغیر له ګواهۍ څخه قاضي ته د وصي مقرّرولو او ضمولو حق حاصل دی، نو په ګواهۍ سره به هم هغه ته دا حق حاصل وي، خو د ګواهۍ په صورت کي له قاضي څخه د تعیین مشقت ختمیږي چي وصي د هغه له کوښښ او تعیین څخه بغیر د ګواهانو د ګواهۍ په وجه متعیّن کیږي، یا په بله وینا دا چي کله قاضي ته خپله د وصي مقرّر کولو ولایت حاصل دی، نو دلته د وصیانو د ګواهۍ د قبلولو مطلب دا سو چي د دغه دریم وصي مقرّرول (درول) خو قاضي کړي دي، خو د دواړو وصیانو د ګواهۍ په وجه قاضي صرف د وصي د تعیین (متعینولو) له مشقت څخه خلاص سو، لنډه دا چي د وصایت ثبوت د دوی په ګواهۍ سره نه بلکي د قاضي په مقرّرولو سره سوی دی.

که دوه زامن د يو چا د وصي کېدلو ګواهي ورکړي، نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَكَذٰلِكَ الِابْنَانِ فرمايي: او همدارنګه دوه زامن مَعْنَاهُ إِذَا شَهِدَا أَنَّ الْمَيِّتَ أَوْصٰى إِلٰى رَجُلٍ يعني کله چي دوه زامن دا ګواهي ورکړي چي مړي فلانکي کس ته وصيت کړی دی [يعني زموږ مړه پلانکی فلانکی کس خپل وصي جوړ کړی دی] وَهُوَ يُنْكِرُ حال دا چي هغه [فلانکی] انکار کوي [نو وصيت باطل دی] لِأَنَّهُمَا يَجُرَّانِ إِلٰى أَنْفُسِهِمَا نَفْعًا بِنَصْبِ حَافِظٍ لِلتَّرِكَةِ ځکه چي دوی دواړه [په خپله ګواهی سره] خپلو ځانو ته نفع کشوي د ميراث لپاره د ساتونکي [نګران] په درولو سره وَلَوْ شَهِدَا يَعْنِي الْوَصِيَّيْنِ لِوَارِثٍ صَغِيرٍ بِشَيْءٍ مِنْ مَالِ الْمَيِّتِ أَوْ غَيْرِهِ او که چيري دوی دواړه يعني دوه وصيان د يو کوچني وارث لپاره د مړي له مال [ميراث] څخه يا له بل مال څخه د يو شي ګواهي ورکړي فَشَهَادَتُهُمَا بَاطِلَةٌ نو د دوی ګواهي باطله ده لِأَنَّهُمَا يُظْهِرَانِ وِلَايَةَ التَّصَرُّفِ لِأَنْفُسِهِمَا فِي الْمَشْهُودِ بِهِ ځکه چي دوی دواړه [په خپل دغه ګواهی سره] د خپلو ځانو لپاره په مشهود به مال کي د تصرف ولايت ښکاره کوي.

اللغات: ﴿يجران﴾ د نصر له بابه د تثنيه غائب مضارع صيغه ده: کشول، را منتقل کول. ﴿نَصْب﴾ د نصر او ضرب له باب څخه مصدر دی: درول، مقرر کول (ټاکل). ﴿مشهود﴾ د سمع له بابه د مفعول صيغه ده. مشهود به: د کوم شه په باره کي چي ګواهي ورکول سوې وي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که د مړي دوو زامنو دا ګواهي ورکړه چي زموږ پلار فلانکی سړی مثلاً حامد خپل وصي جوړ کړی وو، او حامد د دې انکار وکړی، نو د دوی ګواهي باطليږي او په دې سره وصايت نه ثابتيږي؛ ځکه دا دوه زامن په خپله ګواهی کي متهم دي يعني د خپلي نفعي او فايدې لپاره دا ګواهي ورکوي (او نفع دا) چي زموږ د پلار د ميراث د حفاظت لپاره يو نګران پيدا سي او زموږ مال له ضايع کېدلو څخه خوندي سي، نو ځکه د دوی ګواهي باطليږي.

ولو شهدا إلخ: د دې حاصل دا دی چي که د يو مړي دوه وصيان وي او د هغه وارث کوچنی بچی (نا بالغ) وي، اوس که دغه دواړو وصيانو د هغه بچي لپاره له ميراث څخه د يو مال ګواهي ورکړه چي دا مال د دغه بچي دی، يا له ميراث څخه بغير د بل مال په هکله يې دا ګواهي ورکړه چي هغه مال د دغه بچي دی، نو د هغوی ګواهي باطله ده او نه به قبلول کيږي؛ ځکه دا دوه وصيان په خپله ګواهی کي متهم دي؛ ځکه په دغه ګواهی کي د دوی نفع ده په دې توګه چي که هغه مال د دې بچي لپاره ثابت سي او د بچي په ملکيت کي داخل سي، نو دوی ته پر هغه هم د تصرف ولايت او اختيار حاصليږي؛ لهذا

دوی په خپله ګواهۍ کې متهم دي او د متهم ګواهي باطله او غیرِ مقبوله وي. نو ځکه د دوی ګواهي به هم باطله وي.

که د مړي دوه وصیان د بالغ وارث په حق کې ګواهي ورکړي، نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِنْ شَهِدَا لِوَارِثٍ كَبِيرٍ فِي مَالِ الْمَيِّتِ فرمايي: او که دوو وصیانو د مړي په مال [میراث] کې د لوی [بالغ] وارث لپاره ګواهي ورکړه لَمْ يَجُزْ نو جائز نه دي وَإِنْ كَانَ فِي غَيْرِ مَالِ الْمَيِّتِ او که ګواهي د مړي له مال څخه بغیر په بل مال کې وي جَازَ نو جائز دي وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ او دا د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نیز دي وَقَالَا[*]: إِنْ شَهِدَا لِوَارِثٍ كَبِيرٍ او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چې که دواړه وصیان د لوی [بالغ] لپاره ګواهي ورکړي تَجُوزُ فِي الْوَجْهَيْنِ نو په دواړو صورتونو کې جائز دي لِأَنَّهُ لَا يَثْبُتُ لَهُمَا وِلَايَةُ التَّصَرُّفِ فِي التَّرِكَةِ إِذَا كَانَتِ الْوَرَثَةُ كِبَارًا ځکه چې [په دغه ګواهۍ سره] د دې دواړو وصیانو لپاره په میراث کې د تصرّف ولایت نه ثابتیږي کله چې وارثان لویان وي فَعَرِيَتْ عَنِ التُّهْمَةِ نو ګواهي له تهمت څخه خالي سوه وَلَهُ: أَنَّهُ يَثْبُتُ لَهُمَا وِلَايَةُ الْحِفْظِ وَوِلَايَةُ بَيْعِ الْمَنْقُولِ عِنْدَ غَيْبَةِ الْوَارِثِ او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې د وارث د غائبوالي په وخت کې د دې دواړو لپاره د حفاظت کولو ولایت او د نقل کېدونکي مال د خرڅولو ولایت ثابتیږي فَتَحَقَّقَتِ التُّهْمَةُ نو تهمت ثابت سو بِخِلَافِ شَهَادَتِهِمَا فِي غَيْرِ التَّرِكَةِ په خلاف له میراث څخه بغیر په بل مال کې د دوی دواړو [وصیانو] د ګواهۍ لِانْقِطَاعِ وِلَايَةِ وَصِيِّ الْأَبِ عَنْهُ ځکه چې له هغه [غیرِ میراث (بل مال)] څخه د پلار د وصي ولایت منقطع دی لِأَنَّ الْمَيِّتَ أَقَامَهُ مُقَامَ نَفْسِهِ فِي تَرِكَتِهِ لَا فِي غَيْرِهَا ځکه چې مړي هغه [وصي] صرف په خپل میراث کې د ځان قائم مقام کړی دی، نه په بل مال کې.

اللغات: ﴿عريت﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: خالي کېدل. ﴿تحققت﴾ د تفعل له بابه مخکنۍ صیغه ده: موجودېدل او ثابتېدل. ﴿غيبة﴾ غائب والی، نا موجودیت (غیر موجودګي). ﴿انقطاع﴾ د انفعال د باب مصدر دی: پرې کېدل، ختمېدل.

---

[*] القول الراجح: قول ابي حنيفة رَحِمَهُ الله، انظر للتوضيح [القول الراجح ج:۲، ص:۳۸۷]

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که دمړي دوه وصیان د بالغ وارث په حق کي گواهي ورکړي. او هغه گواهي دمړي د مال یعني دمیراث په هکله وي، نو جائز نه ده، لېکن که له میراث څخه بغیر د یو بل مال په هکله وي، نو جائز ده؛ دا حکم دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز دی، صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چې کله گواهي د بالغ وارث (کبیر) لپاره وي، نو مطلقاً جائز ده برابره ده د میراث په باره کي وي او که له هغه څخه بغیر د بل مال په باره کي وي.

د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله دلیل دا دی چې کله وارثان لویان او بالغان وي او گواهي له هغو څخه د یوه په حق کي وي، نو ښکاره ده چې وصیانو ته په دغه گواهۍ سره د تصرّف ولایت نه حاصلېږي، لهذا په دغه گواهۍ کي د هغو نفع نسته چې متّهم وګرځي، نو ځکه د بالغ وارث په حق کي به دا گواهي مقبوله وي.

ولہ إلخ: د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې کله گواهي دمړي د مال (میراث) په هکله وي، نو هغوی خامخا متهم کېږي، ځکه که څه هم د وارث په موجودیت کي وصیانو ته د تصرّف ولایت نه حاصلېږي، لېکن د وارث په نا موجودیت کي وصیانو ته د هغه د مال د حفاظت کولو او د هغه د منقولي مال (سامان وغیره) د خرڅولو ولایت خامخا حاصلېږي، لهذا تهمت ثابتېږي، نو ځکه دمړي د مال (میراث) په هکله به د دوی گواهۍ خو باطله او غیر مقبوله وي. ها! دمړي له مال څخه بغیر د بل مال په هکله د دوی گواهي مقبوله ده؛ ځکه چې له میراث څخه بغیر په بل مال کي وصیانو ته د ولایت حق نسته، ځکه موصي هغوی صرف په خپل مال او میراث کي وصیان جوړ کړي دي، نه له میراث څخه بغیر په بل څه کي، نو ځکه له میراث څخه بغیر په بل مال کي هغو ته د تصرّف ولایت هم حاصل نه دی، لهذا په دې صورت کي به هغوی په خپله گواهۍ کي متهم نه وي، نو ځکه د بل مال په هکله به د هغو گواهي جائز او مقبوله وي.

که څلور خلک یو د بل لپاره پر مړي د قرض یا د وصیت گواهي ورکړي، نو څه حکم دی؟

قَالَ: وَإِذَا شَهِدَ رَجُلَانِ لِرَجُلَيْنِ عَلَى مَيِّتٍ بِدَيْنٍ أَلْفِ دِرْهَمٍ فرمایي: او کله چې دوه سړي د نورو دوو سړیو لپاره پر مړي د یو زر درهمو د قرض گواهي ورکړي وَشَهِدَ الْآخَرَانِ لِلْأَوَّلَيْنِ بِمِثْلِ ذٰلِكَ او دا نورو دوو سړیو [مشهود لهما] د اول دوو سړیو لپاره په همدې ډول گواهي ورکړه جَازَتْ شَهَادَتُهُمَا نو د دوی دواړو [یعني د هر فریق] گواهي جائز ده فَإِنْ كَانَتْ شَهَادَةُ كُلِّ فَرِيقٍ لِلْآخَرِ بِوَصِيَّةِ أَلْفِ دِرْهَمٍ او که د هر فریق گواهي د بل فریق لپاره د یو زر درهمو د وصیت گواهي وي لَمْ تَجُزْ نو جائز نه ده وَهٰذَا

قَوْلُ أَبِيْ حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ او دا د طرفينو رَحِمَهُمَا الله قول دی وَقَالَ أَبُوْيُوْسُفَ* : لَا تُقْبَلُ فِي الدَّيْنِ أَيْضًا او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي په قرض کي به هم دا ګواهي نه قبلول کيږي وَأَبُوْ حَنِيْفَةَ فِيمَا ذَكَرَ الْخَصَّافُ مَعَ أَبِيْ يُوْسُفَ او امام صاحب رَحِمَهُ الله د هغه روايت مطابق کوم چي امام خصاف ذکر کړی دی د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره دی وَعَنْ أَبِيْ يُوْسُفَ مِثْلُ قَوْلِ مُحَمَّدٍ او له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول په څېر روايت سوی دی

اللغات: ﴿دَين﴾ قرض (قرضه)، پور. ﴿لا تُقبل﴾ د سمع له بابه د نفي مجهول صيغه ده: قبلول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي يو سړی مثلاً زيد مړ سو او بيا دوو خلکو مثلاً خالد او حامد دا ګواهي ورکړه چي د شاکر او عُمر پر زيد زر درهمه قرض باندي دی او شاکر او عمُر هم دا ګواهي ورکړه چي د خالد او حامد پر زيد زر درهمهٔ قرض باندي دی، نو دا ګواهي جائز ده، لهذا هغه به قبلول کيږي، لېکن که هر فريق د بل فريق په هکله دا ګواهي ورکړه چي مړي (زيد) د هغو لپاره د زرو درهمو وصيت کړی دی، نو دا ګواهي جائز نه ده.

په وصيت کي د ګواهۍ نه جائز کېدل متفق عليه دي، لېکن د قرض په هکله د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نېز ګواهي جائز ده چي هغه به قبلول کيږي، لېکن د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نېز جائز نه ده چي نه به قبلول کيږي بلکي هغه به ردول کيږي.

وأبوحنيفة إلخ: فرمايي چي د امام خصاف رَحِمَهُ الله د روايت مطابق امام صاحب رَحِمَهُ الله هم د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله سره يو ځای دی، لېکن له امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله څخه بل روايت د امام محمد رَحِمَهُ الله د قول په څېر نقل سوی دی چي دا ګواهۍ جائز ده چي هغه به قبلول کيږي.

د پورتنی مسئلې دلائل

وَجْهُ الْقَبُوْلِ أَنَّ الدَّيْنَ يَجِبُ فِي الذِّمَّةِ او د ګواهۍ قبلېدلو وجه دا ده چي قرض پر ذمه واجبيږي وَهِيَ قَابِلَةٌ لِحُقُوْقٍ شَتّٰى او ذمه مختلفه حقونه قبلولای سي فَلَا شِرْكَةَ نو شرکت نسته وَلِهٰذَا لَوْ تَبَرَّعَ أَجْنَبِيٌّ بِقَضَاءِ دَيْنِ أَحَدِهِمَا همدا وجه ده که يو اجنبي کس له دوی دواړو څخه د يوه فريق د قرض په

* القول الراجح: قول ابي يوسف رَحِمَهُ الله، انظر للتفصيل [القول الراجح ج:۲، ص:۳۸۸]

اداء کولو سره تبرّع وکړي [احساناً د یوه فریق قرض اداء کړي] لَيْسَ لِلْآخَرِ حَقُّ الْمُشَارَكَةِ نو بل فریق ته [په هغه کي] د شرکت کولو حق نسته وَجْهُ الرَّدِّ أَنَّ الدَّيْنَ بِالْمَوْتِ يَتَعَلَّقُ بِالتَّرِكَةِ او د ګواهۍ رد کېدلو دلیل دا دی چي د مرګ په وجه قرض د میراث سره متعلق کیږي إِذِ الذِّمَّةُ خَرِبَتْ بِالْمَوْتِ ځکه چي د مرګ په وجه ذمه خرابه [ضایع] سوه وَلِهَذَا لَوْ اسْتَوْفَى أَحَدُهُمَا حَقَّهُ مِنَ التَّرِكَةِ همدا وجه ده نه له دواړو فریقو څخه یو فریق له میراث څخه خپل حق [قرض] ترلاسه کړي يُشَارِكُهُ الْآخَرُ فِيهِ نو بل فریق [هم] په هغه کي ور سره شریک کیږي فَكَانَتِ الشَّهَادَةُ مُثْبِتَةً حَقَّ الشَّرِكَةِ نو دا ګواهي د شرکت د حق ثابتونکې سوه فَتَتَحَقَّقُ التُّهْمَةُ لهذا تهمت ثابت سو بِخِلَافِ حَالِ حَيَاةِ الْمَدْيُونِ په خلاف د مقروض د ژوند د حالت لِأَنَّهُ فِي الذِّمَّةِ لِبَقَائِهَا لَا فِي الْمَالِ ځکه چي [د ژوند په حالت کي] قرض پر ذمه [واجب] وي د ذمې د پاتېدلو په وجه، نه په مال کي فَلَا يَتَحَقَّقُ الشَّرِكَةُ نو شرکت به نه ثابتیږي.

اللغات: ﴿شتّی﴾ جمع د شَتِيتٌ ده: مختلف او متفرق، یو له بل څخه جلا. بېلا بېل. ﴿تبرّع﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: غیر واجب کار کول. احساناً یو کار کول (چي پر هغه د څه عوض طلب نه وي)، بلا عوضه کول، مفت یو شی ورکول. ﴿استوفٰی﴾ د استفعال د باب ماضي ده: پوره اخیستل. ترلاسه کول. ﴿مدیون﴾ د ضرب له بابه د مفعول صیغه ده: مقروض (پور ړی).

تشریح: مخکي چي د ګواهۍ د قبول او رد په هکله کوم دوه قولونه بیان سول، په دې عبارت کي د هغوی دواړو دلیلونه بیان سوي دي، نو د ګواهۍ د مقبولیت (چي هغه به قبول کیږي) دلیل دا دی چي قرض د انسان پر ذمّه (غاړه) واجب وي او ذمّه مختلفه حقوق قبلولای سي. یعني د یوې ذمې سره د څو خلکو حقوق متعلق کېدلای سي په انفرادي توګه هم او په اجتماعي توګه هم. لهذا کله چي مذکوره دواړو فریقو جلا، جلا یو د بل لپاره ګواهي ورکړه، نو دا ګواهي د مشهودٌ له فریق لپاره سوه، نه د شاهدانو (ګواهانو) لپاره، او کله چي ګواهي د ګواهانو لپاره نه سوه، نو ښکاره ده چي ګواهان په خپله ګواهۍ کي متهم هم نه سول، نو ځکه د هغو ګواهي به قبول کیږي. همدا وجه ده که د مړي (زید) له طرفه یو څوک تبرعاً له مذکوره دواړو فریقو څخه د یوه فریق قرض اداء کړي، نو په هغه کي بل فریق نه شاملیږي او نه شریک کیږي؛ ځکه د هر یوه فریق ګواهي له بل فریق څخه جلا او علیحده ده.

وجه الردّ إلخ: فرمايي چي د ګواهۍ د رد او نا مقبوليت د قول (چي هغه به نه قبلول کيږي) دليل دا دی چي کله مقروض (زيد) مړ سو، نو اوس پر ذمه قرض باقي پاته نه سو؛ ځکه په مرګ سره ذمه معدومه سوه، اوس پر ذمه واجب سوی قرض د هغه د ميراث سره متعلق سو. او کله چي د قرض تعلّق د ذمې سره نه بلکي د ميراث سره سو، نو شرکت ثابت سو (يعني د مړي په ميراث کي دواړه فريقه مشترک سول چي هر فريق ته به له هغه څخه قرض ورکول کيږي)، ځکه چي د هر فريق په حق کي ګواهي ورکول سوې ده، نو دا ګواهي د شرکت ثابتونکې سوه، او کله چي شرکت ثابت سو، نو تهمت ثابت سو چي په دې ګواهي سره هر فريق خپل قرض ترلاسه کول غواړي، او تهمت د ګواهۍ له مقبوليت څخه مانع دی.

دلته د شرکت يو دليل دا هم دی چي که له دواړو فريقو څخه يو فريق له ميراث څخه خپل قرض واخلي، نو بل فريق په هغه کي شريک کيږي. او همدا د بل فريق پکښي شريک کېدل د شرکت دليل دی. د دې په خلاف که مقروض خپله ژوندی وي، نو قرض د هغه د ذمې سره متعلق وي. او په ذمه کي شرکت نه ثابتيږي، نو ځکه په هغه صورت کي ګواهي مقبوله ده او د مقروض د مرګ په صورت کي ګواهي سرده او غير مقبوله ده.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

قَالَ: وَلَوْ شَهِدَا أَنَّهُ أَوْصٰى لِهٰذَيْنِ الرَّجُلَيْنِ بِجَارِيَتِهِ فرمايي: او که دوو کسانو دا ګواهي ورکړه چي مړي د دغه دوو سړيو لپاره د خپلې مينځې وصيت کړی دی وَشَهِدَ الْمَشْهُوْدُ لَهُمَا او مشهود لهما سړيو [يعني د کومو دوو سړيو لپاره چي ګواهي ورکول سوې ده. هغوی] دا ګواهي ورکړه أَنَّ الْمَيِّتَ أَوْصٰى لِلشَّاهِدَيْنِ بِعَبْدِهِ چي مړي د دې دوو ګواهانو لپاره د خپل غلام وصيت کړی دی جَازَتِ الشَّهَادَةُ بِالْاِتِّفَاقِ نو ګواهي بالاتفاق جائز ده لِأَنَّهُ لَا شِرْكَةَ ځکه چي شرکت نسته فَلَا تُهْمَةَ نو تهمت [هم] نسته.

اللغات: ﴿جارية﴾ مينځه. ﴿شهادة﴾ ګواهي.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که دوو کسانو مثلاً خالد او حامد دا ګواهي ورکړه چي مړي مثلاً زيد خپله مينځه د شاکر او عُمر لپاره وصيت کړې ده او دا بل فريق (يعني شاکر او عُمر) د اول فريق (خالد او حامد) لپاره دا ګواهي ورکړه چي مړي (زيد) خپل غلام د دوی لپاره وصيت کړی دی. نو دا ګواهي جائز او مقبوله ده چي هغه به قبلول کيږي که څه هم هغه د وصيت سره متعلق ده. او په دې کي د هيڅ اختلاف هم نسته؛ ځکه چي دلته مشهود به جلا، جلا دي (په يوه ګواهۍ کي مينځه ده او په بله ګواهۍ کي غلام دی). لهذا شرکت معدوم دی او کله چي شرکت معدوم دی، نو تهمت هم معدوم دی او د ګواهۍ د مقبوليت لاره بلکل صفا ده.

د پورتنۍ مسئلې بل صورت

وَلَوْ شَهِدَا أَنَّهُ أَوْصٰى لِهٰذَيْنِ الرَّجُلَيْنِ بِثُلُثِ مَالِهِ او که چیرې دوو کسانو دا ګواهي ورکړه چې مړي د دغه دوو سړیو لپاره د خپل مال د درېیمي حصې وصیت کړی دی وَشَهِدَ الْمَشْهُوْدُ لَهُمَا أَنَّهُ أَوْصٰى لِلشَّاهِدَيْنِ بِثُلُثِ مَالِهِ او مشهود لهما سړیو دا ګواهي ورکړه چې مړي د دې دوو ګوهانو لپاره د خپل مال د درېیمي حصې وصیت کړی دی فَالشَّهَادَةُ بَاطِلَةٌ نو ګواهي باطله ده وَكَذَا إِذَا شَهِدَ الْأَوَّلَانِ أَنَّ الْمَيِّتَ أَوْصٰى لِهٰذَيْنِ الرَّجُلَيْنِ بِعَبْدٍ او همدارنګه کله چې اولو دوو کسانو دا ګواهي ورکړه چې مړي د دغه دواړو سړیو لپاره د غلام وصیت کړی دی وَشَهِدَ الْمَشْهُوْدُ لَهُمَا أَنَّهُ أَوْصٰى لِلْأَوَّلَيْنِ بِثُلُثِ مَالِهِ او مشهود لهما سړیو دا ګواهي ورکړه چې مړي د اولو دوو کسانو لپاره د خپل مال د درېیمي حصې وصیت کړی دی فَهِيَ بَاطِلَةٌ نو [هم] ګواهي باطله ده لِأَنَّ الشَّهَادَةَ فِيْ هٰذِهِ الصُّوْرَةِ مُثْبِتَةٌ لِلشَّرِكَةِ ځکه چې ګواهي په دغه صورت کې د شرکت ثابتونکې ده.

اللغات: ﴿ثُلُث﴾ او ثُلْث: درېیمه حصه. ﴿مشهود﴾ د سمع له بابه د مفعول صیغه ده. مشهود لهما: د کوم دوو کسانو لپاره چې ګواهي ورکول سوې وي. ﴿مُثْبِتَة﴾ د افعال له بابه د مؤنث مفعول صیغه ده: ثابتونکې.

تشریح: مخکې دا خبره تېره سوه چې په کوم صورت کې چې ګواهي د شرکت ثابتونکې وي، نو ګواهي باطلېږي، د هغه مطابق دلته دوې مسئلې بیان سوي دي:

(۱)... که دوو کسانو مثلاً خالد او حامد دا ګواهي ورکړه چې مړي (زید) د فلانکي او فلانکي مثلاً د شاکر او عُمر لپاره د خپل مال د ثلث (درېیمي حصې) وصیت کړی دی او شاکر او عُمر (کوم چې مشهود لهمادي) هم دا ګواهي ورکړه چې مړي د هغو (خالد او حامد) لپاره د خپل مال د ثلث وصیت کړی دی، نو دا ګواهي باطله ده، او هیڅ فریق ته هم څه نه حاصلېږي؛ ځکه چې دلته مشهود به یو (ثلث) دی او په مذکوره ګواهۍ سره په هغه کې شرکت ثابت کړی سوی دی، نو ځکه دا ګوهي باطله ده.

(۲)... که اول فریق (خالد او حامد) دا ګواهي ورکړه چې مړي د دویم فریق (شاکر او عُمر) لپاره د خپل غلام وصیت کړی دی او دویم فریق دا ګواهي ورکړه چې مړي د اول فریق لپاره د خپل ثلث مال وصیت کړی دی، نو دا ګواهي هم باطله ده؛ ځکه دلته مشهود به که څه هم لفظاً مختلف دی، لېکن معناً یو دی؛ ځکه غلام هم مال دی او په ثلث کې داخل دی (ځکه چې وصیت په ثلث کې جاري کېږي)، لهذا شرکت ثابت سو. او کومه ګواهي چې د شرکت ثابتونکې وي، هغه باطلېږي، نو ځکه دا ګواهي هم باطله ده. فقط والله أعلم وعلمه أتم

كِتَابُ الْخُنْثٰی

(دا) کتاب د "نر ښځي" (د احکامو په بیان کي) دی

تشریح: په یوه انسان کي هغه که نارینه وي او که ښځینه وي عموماً یوه آله وي، او په انسان کي د دوو آلو جمع کېدل ډېر نادر دي او کله نا کله داسي کیږي (چي داسي انسان ته خُنثیٰ او نر ښځی [نرګدی] وايي)،

لهذا کله چي دا نادر دي، نو ځکه صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله د خنثیٰ د احکامو او مسائلو کتاب تر ټولو په آخر کي بیان کړی دی.

فَصْلٌ فِیْ بَیَانِهٖ

(دا) فصل د "خنثیٰ" (د پېژندني) په بیان کي دی

د خنثیٰ تعریف او پېژندنه

قَالَ: وَإِذَا كَانَ لِلْمَوْلُوْدِ فَرْجٌ وَذَكَرٌ فرمايي: او کله چي بچي لره فرج او ذَکَر دواړه وي فَهُوَ خُنْثٰی نو هغه خنثیٰ [نر ښځی] دی فَإِنْ كَانَ يَبُوْلُ مِنَ الذَّكَرِ بیا که هغه له ذکر څخه متیازي کولې فَهُوَ غُلَامٌ نو هغه هلک دی وَإِنْ كَانَ يَبُوْلُ مِنَ الْفَرْجِ او که له فرج څخه یې متیازي کولې فَهُوَ أُنْثٰی نو هغه ښځه ده لِأَنَّ النَّبِيَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ سُئِلَ عَنْهُ كَيْفَ يُوَرَّثُ؟ [1] ځکه له نبي کریم ﷺ څخه د خنثیٰ په هکله پوښتنه وسوه چي هغه ته به میراث څنګه ورکول کیږي؟ [د سړیو په څېر او که د ښځو؟ یا په بله وینا دا چي خنثیٰ څنګه وارث کیږي، د سړیو په څېر او که د ښځو؟] فَقَالَ: مِنْ حَيْثُ يَبُوْلُ نو نبي کریم ﷺ وفرمایل: چي له کوم ځایه چي هغه متیازي کوي [یعني که له ذکر څخه متیازي کوي نو د سړیو میراث به ورکول کیږي او

[1] تخریج: أخرجه البیهقی فی کتاب الفرائض، باب میراث الخنثی، حدیث رقم: ۱۲۵۱۸. (احسن الهدایه)

که له فرج څخه نو د ښځو...] وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه مِثْلُهُ او له حضرت علي رضي الله عنه څخه د همدې په څېر روایت سوی دی وَلِأَنَّ الْبَوْلَ مِنْ أَيِّ عُضْوٍ كَانَ او ځکه متيازي چي له كوم اندام څخه وي فَهُوَ دَلَالَةٌ عَلَى أَنَّهُ هُوَ الْعُضْوُ الْأَصْلِيُّ الصَّحِيحُ نو هغه پر دې خبره دليل دی چي هماغه صحيح اصلي اندام دی وَالْآخَرُ بِمَنْزِلَةِ الْعَيْبِ او بل اندام [چي له هغه څخه متيازي نه وځي] د عيب په درجه کي دی.

اللغات: ﴿مولود﴾ د ضرب له بابه د مفعول صيغه ده: پيدا کېدونکی، بچی. ﴿فَرْج﴾ د ښځي شرمګاه. ﴿ذَكَر﴾ د نارينه تناسلي (زېږنی) اندام، تناسلي آله. ﴿خنثی﴾ نر ښځی کوم چي ذکر او فرج دواړه لري. ﴿يبول﴾ د نصر د باب مضارع ده: متيازي (بولي) کول. ﴿يورث﴾ د ضرب له بابه د مضارع مجهولي صيغه ده: وارث کېدل، چا ته ميراث حاصلېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چي که ديو بچي هم د نارينه اندام (ذَكَر) وي او هم يې ښځينه اندام (فَرْج) وي يعني په پيدايشي توګه په هغه کي د نر او ښځي دواړو آلې او علامات وي، داسي محترم ته خنثیٰ وايي (چي زموږ په اصطلاح نر ښځي او نرګډی ورته وايي)، او د هغه حکم دا دی چي که هغه له ذَكَر څخه متيازي کوي، نو هغه هلک دی، او که له فرج څخه متيازي کوي، نو انجلۍ ده او د مؤنث په صف کي داخله ده؛ دليل يې دا دی چي کله له نبي کريم ﷺ څخه د خنثیٰ په هلکه پوښتنه وسوه چي داسي انسان ته به څنګه ميراث ورکول کيږي؟، د سړيو ميراث به ورکول کيږي او که د ښځو په څېر حصه به ورکول کيږي او ښځه به شمېرل کيږي، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چي داسي انسان چي له کومه اندامه څاځي، د هغه اعتبار وکړئ!، يعني که هغه له ذَكَر څخه متيازي کوي نو هغه نارينه وګڼئ او د سړيانو ميراث ورکړئ! او که له فرج څخه متيازي کوي نو ښځه يې وګڼئ او د ښځو ميراث ورکړئ!. همداسي فيصله له حضرت علي رضي الله عنه څخه هم نقل سوې ده، کوم چي په مصنف عبد الرزاق کي مذکوره ده.

په دې هکله عقلي دا دی چي داسي انسان چي کوم له اندام څخه متيازي کوي، نو هغه د دې خبري دليل دی چي همدا يې اصلي او حقيقي اندام دی او همدا اندام يې صحيح دی او هغه دويم اندام د عيب په درجه کي دی، نو ځکه د داسي انسان د مذکر يا مؤنث شمېرلو په هکله به د هغه د متيازو (بولو) د مقام اعتبار کيږي.

كه خنثیٰ له دواړو لارو څخه متيازي كوي، نو څه حكم دى؟

وَإِنْ بَالَ مِنْهُمَا او كه هغه له دواړو څخه متيازي كوي فَالْحُكْمُ لِلْأَسْبَقِ نو حكم د مخكيني يوه لپاره دى لِأَنَّ ذَٰلِكَ دَلَالَةٌ أُخْرَىٰ عَلَىٰ أَنَّهُ هُوَ الْعُضْوُ الْأَصْلِيُّ ځكه چي دا بل دليل دى پر دې خبره چي هماغه اصلي اندام دى.

اللغات: ﴿أسبق﴾ د اسم تفضيل صيغه ده: تر ټولو مخكني. مخكي كېدونكى.

تشريح: فرمايي چي كه خنثیٰ (نربنځى) له خپل ذكر او فرج دواړو څخه متيازي كوي. نو د دې اعتبار به كيږي چي اول د هغه له كوم اندام څخه متيازي وځي. يعني د هغه له ذكر څخه مخكي وځي او كه له فرج څخه او د همدې مطابق به پر هغه د مذكر يا مؤنث فيصله كول كيږي: ځكه له كوم يوه څخه چي مخكي متيازي وځي، دا د هغه د اصلي اندام كېدلو دليل دا دى چي همدا يې اصلي او حقيقي اندام دى: ځكه متيازي مخكي له هغه لاري څخه وځي كوم چي د ده اصلي نالي ده او تر هغه وروسته له بلي لاري څخه متيازي وتل د مرض او عيب علامت دى چي هغه لره اعتبار نسته. همدارنګه له كومي لاري څخه چي اولاً متيازي وځي. د هغه هيڅ معارض موجود نه دى. نو ځكه هغه به يې اصلي اندام ګڼل كيږي او د هغه مطابق به فيصله كول كيږي.

كه د خنثیٰ له دواړو اندامونو څخه يو ځاى متيازي وځي، نو څه حكم دى؟

وَإِنْ كَانَا فِي السَّبْقِ عَلَى السَّوَاءِ او كه دواړه اندامونه [د متيازو] په مخكيوالي كي سره برابر وي فَلَا مُعْتَبَرَ بِالْكَثْرَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز [د متيازو] زياتوب لره اعتبار نسته وَقَالَا: يُنْسَبُ إِلَىٰ أَكْثَرِهِمَا بَوْلًا او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي: چي هغه [مولود خنثیٰ] به له دواړو اندامونو څخه د زياتو متيازو والا لره منسوبول كيږي لِأَنَّهُ عَلَامَةُ قُوَّةِ ذَٰلِكَ الْعُضْوِ وَكَوْنِهِ عُضْوًا أَصْلِيًّا ځكه چي دا [د متيازو كثرت] د هغه اندام د قوي كېدلو او د هغه د اصلي كېدلو دليل دى وَلِأَنَّ لِلْأَكْثَرِ حُكْمَ الْكُلِّ فِي أُصُولِ الشَّرْعِ او ځكه چي د شريعت په اُصولو كي زيات يوه لره د كُل حكم حاصل وي فَيَتَرَجَّحُ بِالْكَثْرَةِ نو ځكه د زياتوب په وجه به راجح كيږي [يعني ترجيح به د كثرت په وجه وي] وَلَهُ:

أَنَّ كَثْرَةَ الْخُرُوْجِ لَيْسَ يَدُلُّ عَلَى الْقُوَّةِ د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چې د وتلو زياتوب [زياتي متيازي وتل] پر قوت دلالت نه كوي لِأَنَّهُ قَدْ يَكُوْنُ لِاتِّسَاعٍ فِي أَحَدِهِمَا وَضِيْقٍ فِي الْآخَرِ ځکه چې دا زياتوب ځيني وخت له دوى څخه ديوه اندام د پراخوالي او دبل د تنګوالي په وجه وي وَإِنْ كَانَ يَخْرُجُ مِنْهُمَا عَلَى السَّوَاءِ او كه چيرې له دواړو څخه په برابره توګه متيازي وځي فَهُوَ مُشْكِلٌ بِالْاِتِّفَاقِ نو بالاتفاق هغه خنثیٰ مشكل دی لِأَنَّهُ لَا مُرَجِّحَ ځکه چې [په دې صورت کې] هيڅ ترجيح وركونكى نسته.

اللغات: ﴿سبق﴾ د نصر او ضرب له باب څخه مصدر دی: مخکې كېدل، وړانديتوب كول. ﴿يترجّح﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: راجح كېدل، غالب كېدل. ﴿اتساع﴾ د افتعال د باب مصدر دی: پراخوالی، پراخ كېدل.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی كه چيرې له دواړو اندامونو څخه يو ځای متيازي وځي يا په بله وينا دا چې د متيازو په خروج كې يو اندام له بل څخه اسبق او مخكې نه وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دې ته "خنثیٰ مشكل" وايي او د هغه د متيازو د قلت او كثرت اعتبار به نه كيږي، لېكن د صاحبينو رَحِمَهُ الله په داسې صورت كې به د متيازو د قلت او كثرت اعتبار كيږي يعني كه زياتي متيازي د هغه له ذكر څخه وځي، نو هغه به مذكر ګڼل كيږي او كه د هغه له فرج څخه وځي، نو هغه به مؤنث ګڼل كيږي او د همدې مطابق به فيصله كول كيږي، لېكن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز قلت او كثرت لره اعتبار نسته.

د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله دليل دا دی چې له كوم اندام څخه چې زياتي متيازي را وځي، دا د هغه اندام د قوي كېدلو او اصلي كېدلو دليل دی، او بل دا چې په شريعت كې د "للأكثر حكم الكل" أصول هم جاري دی، لهذا دې ته په كتلو سره به د اكثره متيازو والا اندام لره ترجيح حاصله وي او د هغه مطابق به فيصله كول كيږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چې له يوه اندام څخه زياتي متيازي وتل د هغه اندام د قوي كېدلو دليل نه دی؛ ځكه ځيني وخت داسي كيږي چې د يوه اندام لاره پراخه وي او د بل لاره تنګه وي. لهذا د لاري د پراخوالي او تنګۍ په وجه متيازي زياتي او كمي وځي. نه د اندام د قوت او كمزورۍ په وجه. لهذا دا به د قوت او اصليت دليل نه وي.

وإن كان يخرج إلخ: فرمايي چې كه له دواړو اندامونو څخه په برابره توګه متيازي وځي او داسي نه وي چې له يوه اندام څخه زياتي او له بل څخه كمي وځي. نو دا د امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله ټولو په نيز خنثیٰ مشكل دی؛ ځكه چې د هغه په حق كي هيڅ مُرَجِّح دليل نسته چې د هغه يوه طرف ته ترجيح وركول سي.

د بالغ خنثیٰ د جنس پېژندلو بيان

قَالَ: وَإِذَا بَلَغَ الْخُنْثٰى فرمايي: او كله چې خنثیٰ بالغ سي وَخَرَجَتْ لَهُ اللِّحْيَةُ او د هغه ږيره را ووځي أَوْ وَصَلَ إِلَى النِّسَاءِ يا هغه ښځو ته رسيږي فَهُوَ رَجُلٌ نو هغه سړی [نارينه] دی وَكَذَا إِذَا احْتَلَمَ كَمَا يَحْتَلِمُ الرَّجُلُ او همدارنګه كله چې د خلكو د احتلام په څېر هغه احتلام سي أَوْ كَانَ لَهُ ثَدْيٌ مُسْتَوٍ يا د هغه تي [سينه] برابره وي لِأَنَّ هٰذِهِ مِنْ عَلَامَاتِ الذُّكْرَانِ ځكه دا شيان د نارينه وو [سړيو] له نښو څخه دي وَلَوْ ظَهَرَ لَهُ ثَدْيٌ كَثَدْيِ الْمَرْأَةِ او كه د ښځو د تيو په څېر هغه لره تي ښكاره سي أَوْ نَزَلَ لَهُ لَبَنٌ فِي ثَدْيِهِ يا د هغه په تيو كي شيدې راسي أَوْ حَاضَ يا هغه ته حيض راسي أَوْ حَبِلَ يا هغه حمل والا سي أَوْ أَمْكَنَ الْوُصُولُ إِلَيْهِ مِنَ الْفَرْجِ يا د فرج د لاري هغه ته رسېدل ممكن وي فَهُوَ امْرَأَةٌ نو هغه ښځه ده لِأَنَّ هٰذِهِ مِنْ عَلَامَاتِ النِّسَاءِ ځكه چې دا د ښځو له نښو څخه دي وَإِنْ لَمْ يَظْهَرْ إِحْدٰى هٰذِهِ الْعَلَامَاتِ او كه له دغه نښو څخه يوه نښه ښكاره نه سي فَهُوَ خُنْثٰى مُشْكِلٌ نو هغه خنثیٰ مشكل دی وَكَذَا إِذَا تَعَارَضَتْ هٰذِهِ الْمَعَالِمُ او همدارنګه كله چې دغه علامې [نښې] سره متعارضه سي.

اللغات: ﴿احتلم﴾ د افتعال د باب ماضي ده: احتلام کېدل (شیطان خطا ایستل). په خوب کي مني وتل. بلوغ (بالغ کېدل. چي د هغه نښه په خوب کي مني وتل دي). ﴿ثدي﴾ تي (تيان). سينه. ﴿ذُكران﴾ جمع د ذَکَر ده چي د هغه يوه معنیٰ ده: نارينه (نر). ﴿حاض﴾ د ضرب د باب ماضي ده: ښځي ته حيض راتلل. حايضه کېدل. ﴿حَبِل﴾ د سمع د باب ماضي ده: حامله کېدل (بلاربېدل). ﴿معالم﴾ جمع د مَعْلَمٌ ده: علامت. نښه (نښاني).

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي مخکيني ټوله تفصيل هغه وخت دی کله چي خنثیٰ کوچنی او نابالغ وي. خو کله چي هغه بالغ سي. نو بيا به د بلوغ نښو (علاماتو) ته کتل کيږي او د هغه نښو مطابق به پر هغه فيصله کول کيږي. نو که تر بلوغ وروسته د هغه ږيره راسي. يا هغه د ښځي پر وطي کولو قادر سي. يا د خلکو په څېر هغه ته احتلام راسي. يا د هغه تيان (سينه) د خلکو د تيو په څېر برابره پاته وي او راپورته نه سي. څرنګه چي دا ټوله د خلکو نښي او علامات دي. نو ځکه داسي خنثیٰ به سړی (نارينه) شمېرل کيږي.

او که تر بلوغ وروسته په هغه کي يو ښځينه نښه (علامت) ښکاره سي. مثلاً د هغه تيان د ښځو د تيو په څېر راپورته سي. يا يې په تيو کي شيدې پيدا سي. يا هغه ته حيض را شروع سي. يا حمل پکښي پيدا سي. يا د هغه په فرج کي وطي کول ممکن وي (يا په بله وينا دا چي د فرج د لاري د هغه رحم ته ذکر رسېدلای سي). نو داسي خنثیٰ به ښځه شمېرل کيږي؛ ځکه دا ټوله د ښځو نښي دي.

وإن لم يظهر الخ: او که په خنثیٰ کي تر بلوغ وروسته نه د خلکو له علاماتو څخه يو علامت ښکاره سي او نه د ښځو له علاماتو څخه يو علامت پکښي ښکاره سي. يا متعارض علامات (يعني يو د ښځي او بل د سړي علامت) پکښي ښکاره سي، مثلاً د ښځي په څېر د هغه تيان (سينه) راپورته سي او ږيره يې هم راسي يا داسي نور. نو داسي خنثیٰ ته بالاتفاق خنثیٰ مشکل ويل کيږي، او د هغه په هکله به د مذکر يا مؤنث کېدلو هيڅ حتمي او قطعي فيصله نه کول کيږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم



فَصْلٌ فِيْ أَحْكَامِهِ

(دا) فصل د "خُنثیٰ مشکل" د احکامو په بیان کي دی

د خنثیٰ مشکل د احکامو په هکله اصل (قاعده)

قَالَ رحمه الله: اَلْأَصْلُ فِي الْخُنْثَى الْمُشْكِلِ صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله فرمايي: چې په خنثیٰ مشکل کي اصل دا دی أَنْ يُؤْخَذَ فِيهِ بِالْأَحْوَطِ وَالْأَوْثَقِ فِي أُمُوْرِ الدِّيْنِ چي په هغه کي د دين د اُمورو په باره کي په زيات احتياط والا او په زيات محکم باندي عمل وکړی سي وَأَنْ لَا يُحْكَمَ بِثُبُوْتِ حُكْمٍ وَقَعَ الشَّكُّ فِي ثُبُوْتِهِ او چي د داسي حکم د ثابتېدلو فيصله نه وکړی سي چي د هغه په ثبوت کي شک واقع وي.

اللغات: ﴿أحوط﴾ خلاف قياس د افتعال له باب څخه اسم تفضيل دی او شاذ دی: زيات احتياط والا (بعضو اختلاف پکښي کړی دی). ﴿أوثق﴾ د كَرُم له بابه اسم تفضيل دی: زيات محکم (زيات مضبوط او قوي). او که د ضرب له بابه سي، نو معنیٰ يې ده: زيات باوري او زيات معتبر.

تشريح: فرمايي چي د خُنثیٰ مشکل په هکله په ديني اُمورو کي به په زيات احتياط والا او په زيات محکم صورت عمل کول کيږي، خو کوم حکم چي داسي وي چي د هغه په ثبوت کي شک وي، د هغه د ثبوت حکم او فيصله به نه کول کيږي.

د جماعت په لمانځه کي د خنثیٰ مشکل د درېدلو ځای

قَالَ: وَإِذَا وَقَفَ خَلْفَ الْإِمَامِ. فرمايي: او كله چي خنثیٰ [نربنځی] د امام شاته ولاړ وي قَامَ بَيْنَ صَفِّ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ نو هغه دې د خلكو او ښځو د صف تر مينځ ودرېږي لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ اِمْرَأَةٌ د دې احتمال په وجه چي هغه به ښځه وي فَلَا يَتَخَلَّلُ الرِّجَالَ نو د خلكو [سړيو] په مينځ کي دي نه راځي كَيْ لَا يُفْسِدَ صَلَاتَهُمْ د دې لپاره چي د هغوی لمونځ فاسد نه سي وَلَا النِّسَاءَ او نه دي د ښځو په مينځ کي راځي لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ رَجُلٌ د دې احتمال په وجه چي هغه به سړی وي فَيَفْسُدُ صَلَاتُهُ

نو د هغه خپل لمونځ به فاسد سي ﴿فَإِنْ قَامَ فِي صَفِّ النِّسَاءِ﴾ بیا که هغه د ښځو په صف کي ودرېږي ﴿فَأَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يُعِيدَ صَلَاتَهُ﴾ نو زیاته غوره زما په نېز دا ده چي هغه خپل لمونځ را وګرځوي ﴿لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ رَجُلٌ﴾ د دې احتمال په وجه چي هغه به سړی وي ﴿وَإِنْ قَامَ فِي صَفِّ الرِّجَالِ﴾ او که هغه د خلکو په صف کي ودرېږي ﴿فَصَلَاتُهُ تَامَّةٌ﴾ نو د هغه لمونځ پوره دی ﴿وَيُعِيدُ الَّذِي عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ وَالَّذِي خَلْفَهُ بِحِذَائِهِ صَلَاتَهُمْ احْتِيَاطًا﴾ او هغه کسان دي احتیاطاً خپل لمونځ راوګرځوي کوم چي د ده راسته او چپه طرف ته دي او کوم چي د ده شاته د ده په برابرۍ کي دي ﴿لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ امْرَأَةٌ﴾ د دې احتمال په وجه چي هغه به ښځه وي.

اللغات: ﴿لا يتخلل﴾ د تفعّل له بابه د نفي صیغه ده: مخل کېدل، خلل انداز کېدل، په مینځ کي واقع کېدل. ﴿حذاء﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: مقابل کېدل. بحذائه: په مقابل کي، په برابرۍ کي.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي کله خنثیٰ په جماعت سره لمونځ کوي، نو هغه ته پکار دي چي د خلکو د صف او د ښځو د صف په مینځ کي درېږي او خودي د خلکو یا ښځو په صف کي دي نه درېږي؛ ځکه په خنثیٰ کي د ښځي او سړي (نارینه) دواړو احتمال سته. که هغه واقعتاً ښځه وي، نو د خلکو په صف کي د درېدلو په وجه د هغه خلکو لمونځ فاسدېږي کوم چي د ده راسته او چپه طرف ته دي او کوم چي برابر د ده شا ته دي (که چېري امام د ده د امامت نیت هم کړی وي). او که هغه واقعتاً سړی (نارینه) وي، نو د ښځو په صف کي د درېدلو په وجه د هغه خپل لمونځ فاسدېږي، لهذا زیات احتیاط په همدې کي دی چي هغه د خلکو او ښځو د صف تر مینځ ودرېږي.

فإن قام الخ: فرمايي چي که خنثیٰ مشکل د ښځو په صف کي ودرېږي، نو ښه کار دا دی چي دئ خپل لمونځ راوګرځوي؛ ځکه کېدلای سي چي دئ سړی وي نو لمونځ به يې فاسد سوی دی. لهذا په دې صورت کي احتیاطاً خپل لمونځ راګرځول پکار دي. او که دئ د خلکو په صف کي ودرېږي. نو د ده لمونځ خو پوره سو، لېکن هغه خلک دي احتیاطاً او استحباباً خپل لمونځ راوګرځوي کوم چي د ده راسته او چپه طرف ته یا د ده بالمقابل شاته ولاړ دي؛ ځکه کېدلای سي چي دئ ښځه وي نو د هغو لمونځ به فاسد سوی وي (او دا راګرځول مستحب دي لکه څرنګه چي موږ ذکر کړه. کما في المبسوط: والمراد بالإعادة الإعادة على طريق الاستحباب، لما بيّنا أن محاذاة المرأة الرجل في حقهم موهوم، ومبنى العبادة على الاحتياط، فيستحب لهم أن يعيدو صلاتهم لهذا).

د نا بالغ خنثی لپاره په پرده کې لمونځ کول پکار دي او د هغه د ناستې طريقه

قَالَ [امام محمد رَحِمَهُ الله په مبسوط کې فرمايي] وَأَحَبُّ إِلَيْنَا أَنْ يُصَلِّيَ بِقِنَاعٍ او زياته غوره [زياته خوښه] زموږ په نيز دا ده چې خنثی په نقاب کې لمونځ وکړي لِأَنَّهُ يُحْتَمَلُ أَنَّهُ امْرَأَةٌ ځکه دا احتمال شته چې هغه به ښځه وي وَيَجْلِسُ فِي صَلَاتِهِ جُلُوسَ الْمَرْأَةِ [همدارنګه زياته غوره دا ده] چې هغه په خپل لمانځه کې د ښځو د ناستې په څېر کېښني لِأَنَّهُ إِنْ كَانَ رَجُلًا ځکه که هغه سړی وي فَقَدْ تَرَكَ سُنَّةً نو هغه [صرف] يو سنت پرېښووی وَهُوَ جَائِزٌ فِي الْجُمْلَةِ او دا [پرېښوول د سنت] په يو درجه کې جائز دي وَإِنْ كَانَ امْرَأَةً خو که هغه ښځه وي [او بغير له نقاب څخه لمونځ وکړي يا د خلکو د ناستې په څېر کېښني] فَقَدِ ارْتَكَبَ مَكْرُوهًا نو هغه يو مکروه [مکروه تحريمي] کار وکړی لِأَنَّ السَّتْرَ عَلَى النِّسَاءِ وَاجِبٌ مَا أَمْكَنَ ځکه چې پر ښځو حتی الامکان پرده کول واجب دي وَإِنْ صَلَّى بِغَيْرِ قِنَاعٍ او که هغه له نقاب څخه بغير لمونځ وکړي أَمَرْتُهُ أَنْ يُعِيدَ نو زه هغه ته حکم کوم [په دې سره] چې لمونځ راوګرځوي لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ امْرَأَةٌ د دې احتمال په وجه چې هغه به ښځه وي وَهُوَ عَلَى الِاسْتِحْبَابِ او دا [د راګرځولو حکم] د استحباب په توګه دی وَإِنْ لَمْ يُعِدْ [لهذا] که هغه لمونځ نه راوګرځوي أَجْزَأَهُ نو لمونځ يې ور لره کفايت کوي.

اللغات: ﴿قِنَاع﴾ په عربي ژبه کې نقاب (Mask) ته وايي (يعني د ښځو د مخ پټولو پرده). بورقه (برقع). صاحب د معجم لغة الفقهاء يې داسې تعريف کړی دی: مَا يُسْتَرُ بِهِ الْوَجْه. (معجم لغة الفقهاء: ص: ۳۷۰). او صاحب د معجم الوسيط يې داسې تعريف کړی دی: مَا تُغَطِّي بِهِ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا... وَمَا يُسْتَرُ بِهِ الْوَجْه. نو په دې اعتبار له دې څخه مراد "پوړنی" دی. ﴿سَتْر﴾ د نصر د باب مصدر دی: پرده کول. پرده ساتل (پرده پوشي). ﴿أجزأه﴾ د افعال د باب ماضي ده: کافي کېدل. کفايت کول.

تشريح: صورت د مسئلې: دا دی چې که خنثی بالغ سوی نه وي بلکې مراهق وي. نو هغه ته پکار دي چې د نورو ښځو په څېر په پټ مخ سره په نقاب او بورقه کې لمونځ کوي (او که بالغ سوی وي. نو داسې کول واجب دي). همدارنګه که خنثی بالغ سوی نه وي. نو هغه ته پکار دي چې په لمانځه کې د ښځې په څېر ناسته کوي او د سړي (نارينه) له ناستې څخه پرهېز وکړي؛ ځکه په هغه کې د ښځې

والي احتمال سته چي هغه به ښځه وي. نو ځکه هغه ته پکار دي چي د ښځو په څېر لمونځ کوي. ځکه که چیري هغه سړی ثابت سي. نو د ښځینه ناستي په وجه به هغه صرف د سنت ناستي پرېښوونکی وي، لېکن که هغه د خلکو په څېر لمونځ کوي او وروسته ښځه ثابته سي. نو هغه به د مکروه تحریمي مرتکب وي. ځکه چي ښځو ته حتی الامکان پرده کول ضروري او لازم دي. او د سنت پرېښوول د مکروه تحریمي له ارتکاب څخه سپک او آسانه دي. لهذا د فقهي قاعدې "يُختارُ أهْوَنُ الشَّرَّيْن" پر بناء هغه ته به د سنت پرېښوولو اختیار ورکول کیږي او د مکروه تحریمي له ارتکاب څخه به منع کول کیږي.

وإن صلى إلخ: فرمايي چي که هغه له نقاب او بورقې څخه بغیر لمونځ کوي. نو استحباباً هغه ته به د لمونځ راګرځولو حکم کیږي: ځکه چي د هغه د ښځي والي احتمال هم سته چي کېدلای سي هغه به ښځه وي. لهذا هغه ته په نقاب او پرده کي لمونځ کول پکار دي یا بیا د لمونځ راګرځول پکار او مستحب دي، او کله چي دا د راګرځولو حکم د استحباب په توګه دی. لهذا که هغه له نقاب او پردې څخه بغیر لمونځ وکړي او بیا لمونځ نه راوګرځوي، نو هم څه حرج نسته او د هغه اداء کړی سوی لمونځ جائز او کافي دی.

د خنثیٰ مشکل د سنتولو طریقه

وَتَبْتَاعُ لَهُ أَمَةٌ تَخْتِنُهُ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ او د هغه لپاره دي یوه مینځه رانیول سي چي هغه سنت کړي که چیري د هغه لپاره مال وي لِأَنَّهُ يُبَاحُ لِمَمْلُوكَتِهِ النَّظَرُ إِلَيْهِ رَجُلًا كَانَ أَوْ امْرَأَةً ځکه د هغه د مملوکه مینځي لپاره د هغه وطرف ته کتل روا دي برابره ده هغه سړی وي او که ښځه وي وَيُكْرَهُ أَنْ يَخْتِنَهُ رَجُلٌ او مکروه دي دا چي یو سړی هغه سنت کړي لِأَنَّهُ عَسَاهُ أُنْثَى ځکه کېدلای سي چي هغه ښځه وي أَوْ تَخْتِنَهُ امْرَأَةٌ [او مکروه دي دا چي] یا ښځه هغه سنت کړي لِأَنَّهُ لَعَلَّهُ رَجُلٌ ځکه کېدلای سي چي هغه سړی وي فَكَانَ الِاحْتِيَاطُ فِيمَا قُلْنَا نو احتیاط په هاغه کي دی کوم چي موږ وویل وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ او که د هغه لپاره مال نه وي ابْتَاعَ لَهُ الْإِمَامُ أَمَةً مِنْ بَيْتِ الْمَالِ نو د هغه لپاره دي امام له بیتُ المال څخه یوه مینځه رانیسي لِأَنَّهُ أُعِدَّ لِنَوَائِبِ الْمُسْلِمِينَ ځکه چي بیتُ المال د مسلمانانو د ضروریاتو لپاره تیار کړی سوی دی فَإِذَا خَتَنَتْهُ بیا کله چي مینځه هغه سنت کړي بَاعَهَا

وَرَدَّ ثَمَنَهَا فِي بَيْتِ الْمَالِ نو امام دې هغه خرڅه کړي او د هغې ثمن دې بيتُ المال ته واپس کړي لِوُقُوعِ الْإِسْتِغْنَاءِ عَنْهَا ځکه چې له هغې څخه استغنا واقع سوه [يعني تر سنتولو وروسته هغې ته ضرورت پاتې نه سو].

اللغات: ﴿تبتاع﴾ د افتعال له باب څخه واحد مؤنث غائب مضارع مجهوله ده: رانيول. ﴿تختنه﴾ د ضرب له باب څخه واحد مؤنث غائب مضارع معلومه ده: سنتول (سنت کول). د نارينه په سنتولو کې د هغه د ذکر پوست پرېکول کېږي کوم چې پر حشفه وي. او د ښځې په سنتولو کې د هغې د فرج هغه بعضې را پورته پوستکی پرېکول کېږي کوم چې د پاسه وي. الختان في حق الرجل: قطع جلدة القلفة. وفي حق المرأة: قطع بعض جلدة عالية مشرفة على الفرج (معجم لغة الفقهاء). ﴿نوائب﴾ جمع د نَائِبَةٌ ده: دردونکې پېښه او حادثه، بلا، لوی مشکل کوم چې انسان په مبتلا سي.

تشريح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که "خنثیٰ مشکل" تر اوسه سنت کړی سوی نه وي برابره ده هغه بالغ وي او که نه وي، نو د سنتولو لپاره دې د هغه په خپل مال سره يوه مينځه رانيول سي او مينځه به هغه سنت کړي. او له هغې څخه بغير بل څوک هغه نه سي سنتولای؛ ځکه دا مکروه ده؛ ځکه چې په هغه کې د سړي او ښځې دواړو احتمال سته چې کېدلای سي دا خنثیٰ به ښځه وي يا به سړی وي. او په دواړو صورتونو کې د هغه د سنتولو معامله مشکله ده يعني نه ښځه سړی سنتولای سي او نه سړی ښځه سنتولای سي؛ ځکه چې په دې کې د بل شرمګاه ته کتل لازميږي کوم چې صحيح نه دي. لهذا غوره همدا ده چې د هغه د سنتولو لپاره يوه مينځه رانيول سي او مينځه دا کار تر سره کړي؛ ځکه مينځه چې کله د هغه په ملکيت کې داخله سي. نو بيا د هغې لپاره سنتول او شرمګاه ته کتل جائز دي.

وإن لم يكن له مال إلخ: فرمايي چې که د دې خنثیٰ سره مال نه وي. نو امامُ المسلمين دې له بيتُ المال څخه د هغه د سنتولو لپاره يوه مينځه رانيسي؛ ځکه بيتُ المال د همدې مسلمانانو د اړتياوو او ضرورياتو لپاره جوړول کېږي او په هغه کې د مسلمانانو مالونه جمع کول کېږي. بيا کله چې مينځه هغه سنت کړي او ضرورت پوره سي. نو امام ته پکار دي چې هغه مينځه خرڅه کړي او د هغې ثمن بيرته په بيتُ المال کې جمع کړي چې د مسلمانانو په يو بل کار کې صرف کړی سي.

د خنثیٰ مشکل لپاره د سینګار کولو، وربښم اغوستلو او د داسې نورو شیانو حکم او تفصیل

وَيُكْرَهُ لَهُ فِي حَيَاتِهِ لُبْسُ الْحُلِيِّ وَالْحَرِيْرِ او مکروه دي د خنثیٰ [نربنځي] لپاره په خپل ژوند کي زېورات او وربښمي جامې اغوستل وَأَنْ يَتَكَشَّفَ قُدَّامَ الرِّجَالِ أَوْ قُدَّامَ النِّسَاءِ او [مکروه دي د هغه لپاره] دا چي د خلکو یا ښځو مخ ته ځان لڅ کړي وَأَنْ يَخْلُوَ بِهِ غَيْرُ مَحْرَمٍ مِنْ رَجُلٍ أَوْ امْرَأَةٍ او دا چي د هغه سره نا محرمه سړی یا ښځه خلوت وکړي وَأَنْ يُسَافِرَ مِنْ غَيْرِ مَحْرَمٍ مِنَ الرِّجَالِ یا هغه د نا محرمو خلکو سره سفر وکړي تَوَقِّيًا عَنْ إِحْتِمَالِ الْمُحَرَّمِ د حرام کار له احتمال څخه د بچ کېدلو لپاره وَإِنْ أَحْرَمَ وَقَدْ رَاهَقَ او که خنثیٰ احرام وتړي حال دا چي هغه مراهق وي قَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ: لَا عِلْمَ لِيْ فِيْ لِبَاسِهِ نو امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمايي: چي ما ته د هغه د جامې په باره کي علم [خبر] نسته لِأَنَّهُ إِنْ كَانَ ذَكَرًا ځکه که چیري هغه نارینه وي يُكْرَهُ لَهُ لُبْسُ الْمَخِيْطِ نو د هغه لپاره ګنډل سوې جامې اغوستل مکروه دي وَإِنْ كَانَ أُنْثَى او که هغه ښځینه وي يُكْرَهُ لَهُ تَرْكُهُ نو د هغه لپاره ګنډل سوې جامه پرېښوول مکروه دي وَقَالَ مُحَمَّدٌ❁: يَلْبَسُ لِبَاسَ الْمَرْأَةِ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي: چي هغه به د ښځي جامه اغوندي لِأَنَّ تَرْكَ لُبْسِ الْمَخِيْطِ وَهِيَ اِمْرَأَةٌ أَفْحَشُ مِنْ لُبْسِهِ وَهُوَ رَجُلٌ ځکه [په احرام کي] د ګنډل سوي جامې پرېښوول په داسې حال کي چي هغه ښځه وي زيات بد دي د هغه د ګنډل سوي جامې له اغوستلو څخه په داسې حال کي چي هغه سړی وي وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ او پر هغه هيڅ شی نسته لِأَنَّهُ لَمْ يَبْلُغْ ځکه چي هغه بالغ سوی نه دی [مراهق دی].

❁ القول الراجح: قول محمد رَحِمَهُ الله، فما يذهب من نهج صاحب الهداية فی بيان التعليلات هی ترجيح قول محمد رَحِمَهُ الله علی قول أبی يوسف رَحِمَهُ الله، حيث أخره فی بيان التعليل. والثانی أن قوله أقرب إلی الصواب، إذ هو أستر فی حق النساء، لأن مبنی حالهن علی الستر والخفاء. [القول الراجح ج:٢، ص: ٣٨٩]

اللغات: ﴿حُلِيّ﴾ جمع د حَلْيٌ ده: زیورات، د ښکلا او سینګار شیان او قیمتي غمیان او داسي نور چي په هغوی سره ښکلا ترلاسه کول کیږي. همدا د حِلْيَةٌ معنیٰ ده چي د هغه جمع حِلًى او حُلًى ده. ﴿قُدّام﴾ ضرف مکان دی په معنیٰ سره د أَمَامَ: یعني مخ ته. په مخ کي. ﴿تَوَقِّيًا﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: بچ کېدل، ځان ساتل. پرهېز (پرېز) کول. ﴿راهق﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: بلوغ ته نژدې کېدل.

زېور، پسول (غاړګی او داسي نور د ښکلا شیان کوم چي یې ښځه استعمالوي). جمع: حُلِيّ او حِلِيّ.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چي د خُنثیٰ مشکل لپاره دا مکروه دي چي زیوارت (ګا ڼه) او وریښمي جامي واغوندي، یا د خلکو او ښځو مخ ته ځان لڅ کړي، یا د نا محرمه سړي ﻳ . محرمه ښځي سره خلوت وکړي، یا د نا محرمو خلکو سره سفر وکړي. دا ټوله د هغ . . . دي چي له دې څخه به په ټینګه ځان ساتي، د دې لپاره چي له حرام کار څخه بچ سي (صاحب . . . رَحِمَهُ الله فرمایي چي دا مکروه "مکروه تحریمي" دی. په همدې وجه یې د "توقیًاعن الحرام" ل . . .).

وإن أحرم إلخ: د دې حاصل دا دی چي که خُنثیٰ مشکل د حج یا عمرې لپاره ا . . . ل وغواړي او هغه تر اوسه بالغ سوی نه وي بلکي مراهق وي، نو امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي چي ما ته د هغه د لباس په باره کي علم او خبر نسته چي هغه به په احرام کي څنګه جامه اغوندي؛ ځکه که هغه مُذکّر وي، نو د احرام په حالت کي د هغه لپاره ګنډل سوې جامه اغوستل مکروه دي (ځکه چي د سړي لپاره نا ګنډل سوې جامه [احرام] دی). او که هغه مؤنث وي، نو د هغه لپاره ګنډل سوې جامه نه اغوستل مکروه دي (ځکه چي د ښځي لپاره ګنډل سوې جامه ده). او کله چي د هغه جنس معلوم نه دی، نو د هغه د احرام د جامې په باره کي به څنګه فیصله وسي؟.

د دې په خلاف امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي خنثیٰ مشکل به د احرام په حالت کي د ښځي جامه اغوندي؛ ځکه په دې صورت کي که هغه سړی (نارینه) ثابت سي، نو بیا هم د ډېر بد کار مرتکب به نه وي؛ ځکه د احرام په حالت کي د سړي لپاره ګنډل سوې جامه اغوستل دومره زیات بد نه دي. لکه څرنګه چي د ښځي لپاره د سړي احرام او نا ګنډل سوې جامه اغوستل زیات بد او خطرناک او د ستر خلاف دي. او که خنثیٰ مشکل د ښځي جامه واغوندي او بیا هغه سړی ثابت سي، نو د ښځي د جامې اغوستلو په وجه پر هغه هیڅ ضمان (تاوان) نه واجبیږي؛ ځکه چي هغه نا بالغ دی او پر نا بالغ ضمان نه لازمیږي.

که طلاق یا عتاق پر مذکر بچي مُعلق کړي او بچی خُنثیٰ مشکل پیدا سي (حکم او تفصیل)

وَمَنْ حَلَفَ بِطَلَاقٍ أَوْ عَتَاقٍ إِنْ كَانَ أَوَّلُ وَلَدٍ تَلِدِينَهُ غُلَامًا او څوک چي د طلاق یا آزادی قسم واخلي [چي ته پر ما طلاقه یا ته آزاده یې!] که چیري اول هغه بچی چي ته یې وزېږوي هلک وي ایعني که ته اول بچی هلک وزېږوې نو پر ما طلاقه یا آزاده یې!] فَوَلَدَتْ خُنْثَى بیا هغه خنثیٰ [نرښځی] وزېږوي لَمْ يَقَعْ نو هغه [طلاق یا عتاق] نه واقع کیږي حَتَّى يَسْتَبِينَ أَمْرُ الْخُنْثَى تر دې چي د خنثیٰ حالت څرګند سي [چي هغه واقعي نر دی او که ښځه] لِأَنَّ الْحِنْثَ لَا يَثْبُتُ بِالشَّكِّ ځکه چي حانثوالی د شک په وجه نه ثابتیږي.

اللغات: ﴿عَتَاق﴾ د ضرب له بابه اسم مصدر دی: آزادي. آزادوالی (دا لفظ دلغاتو په کتابو کي د عین په فتحه سره منقول دی). ﴿تلدین﴾ پر وزن د تَفْعِلِيْن په اصل کي تَوْلِدِيْنَ وه. د ضرب له بابه د واحد مؤنث مخاطب صیغه ده: بچی زېږول. ﴿أَمْر﴾ د دې لفظ له معنا وو څخه ځیني دا دي: حال (حالت او کیفیت). شان. ﴿حِنْث﴾ د سمع د باب مصدر دی: حانث کېدل. قسم ماتېدل. قسم نه پوره کول.

تشریح: **صورت د مسئلې**: که یو سړی خپلي ښځي ته داسي قسم واخلي چي که ستا اول بچی هلک پیدا سو، نو ته پر ما طلاقه یې!، یا که ستا اول بچی هلک پیدا سو، نو ته آزاده یې!، لېکن هغه ښځي یا مینځي خُنثیٰ مشکل وزېږوی، نو تر څو چي د هغه خنثي مذکر یا مؤنث کېدل څرګند نه سي او په یقیني توګه معلوم نه سي، تر هغه وخته پوري طلاق یا عتاق نه واقع کیږي؛ ځکه چي د دې خنثیٰ په مذکر کېدلو کي شک دی. او د شک په وجه انسان نه حانث کیږي.

که څوک ووایي چي زما هره مینځه یا غلام آزاد دی او په ملکیت کي یې یو خنثیٰ وي (حکم)

وَلَوْ قَالَ: كُلُّ عَبْدٍ لِي حُرٌّ او که څوک ووایي: چي زما هر غلام آزاد دی أَوْ قَالَ: كُلُّ أَمَةٍ لِي حُرَّةٌ یا ووایي: چي زما هره مینځه آزاده ده وَلَهُ مَمْلُوكٌ خُنْثَى او د هغه یو خنثیٰ مملوک وي ایعني د هغه په ملکیت کي یو خنثیٰ وي] لَمْ يُعْتَقْ نو هغه نه آزادیږي حَتَّى يَسْتَبِينَ أَمْرُهُ تر دې چي د هغه حالت څرګند سي لِمَا قُلْنَا د هغه دلیل په وجه کوم چي موږ ذکر کړی وَإِنْ قَالَ الْقَوْلَيْنِ جَمِيعًا او که دواړي خبري یو ځای وکړي عَتَقَ نو هغه خنثیٰ آزادیږي لِلتَّيَقُّنِ بِأَحَدِ الْوَصْفَيْنِ له دواړو

وصفونو څخه د یوه د یقیني والي په وجه لِأَنَّهٗ لَيْسَ بِمُهْمَلٍ ځکه چي خنثیٰ مهمل نه دی [یعني خالي نه دی عن احد هٰذين الامرين].

اللغات: ﴿مملوك﴾ د ضرب له بابه مفعول دی: کوم څوک چي د بل چا په ملکیت کي وي (د بل چا تر واک او ملکیت لاندي وي) یعني غلام یا مینځه. پر دواړو د هغه اطلاق کیږي. لکه څرنګه چي صاحب د معجم ویلي دي: المملوك: الرقيق من ذَكَرٍ أو أُنثىٰ (معجم لغة الفقهاء). ﴿مُهْمَل﴾ د افعال د باب مفعول دی. د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي چي ځیني یې دا دي: پرېښوول سوی، بېکاره، خالي کړی سوی. ﴿اُمر﴾ د تېر عبارت په لغاتو کي یې وضاحت وسو.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چي که یو سړی داسي وویل چي زما هر غلام آزاد دی، یا زما هره مینځه آزاده ده. حال دا چي د هغه یو مملوک دی او هغه هم خنثیٰ مشکل دی. نو هغه نه آزادیږي:

ځکه کله چي هغه خنثیٰ مشکل دی او د هغه نارینه والی او ښځینه والی تر اوسه واضح او څرګند سوی نه دی. نو هغه خو نه عَبد (غلام) دی او نه اَمة (مینځه) ده. نو ځکه نه آزادیږي.

ها! که چیري هغه سړي دواړي خبري یو ځای وکړې او داسي یې وویل چي زما هره مینځه او غلام آزاد دي، نو په دې صورت کي هغه خنثیٰ مملوک آزادیږي: ځکه چي خنثیٰ په هر صورت کي له دې دوو وصفونو څخه نه خالي کیږي ځکه هغه به سړی وي یا به ښځه وي که څه هم تر اوسه د هغه یو وصف نه دی څرګند سوی، خو هغه له دې دواړو څخه یو خامخا دی. او څرنګه چي مالک غلام او مینځه دواړه آزاد کړي دي. نو ځکه په دې صورت کي هغه آزادیږي.

د جنس په تعیین کي د خنثیٰ خپل قول معتبر نه دی

وَإِنْ قَالَ الْخُنْثٰى: أَنَا رَجُلٌ او که چیري نرښځی ووایي: چي زه سړی [نارینه] یم أَوْ أَنَا امْرَأَةٌ یا زه ښځه یم لَمْ يُقْبَلْ قَوْلُهٗ إِذَا كَانَ مُشْكِلًا، نو د هغه خبره به نه منل کیږي کله چي هغه خنثیٰ مشکل وي [یعني د هغه د نر او ښځي درک نه معلومیږي او دا معلومول مشکل او ستونزمن وي] لِأَنَّهٗ دَعْوىٰ يُخَالِفُ قَضِيَّةَ الدَّلِيْلِ ځکه چي دا داسي دعویٰ ده کوم چي د دلیل د تقاضا خلاف ده وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُشْكِلًا او که هغه خنثیٰ مشکل نه وي يَنْبَغِيْ أَنْ يُقْبَلَ قَوْلُهٗ نو پکار دا ده چي د هغه خبره ومنل سي لِأَنَّهٗ أَعْلَمُ بِحَالِهٖ مِنْ غَيْرِهٖ ځکه چي هغه په خپل حال تر بل چا زیات خبر دی.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې کله ذدې معلومات کول مشکل وي چې دا خنثی مذکر دی او که ښځه؟ یعني کله چې هغه خنثیٰ مشکل وي او هغه ووایي چې زه سړی (نارینه) یم. یا زه ښځه یم. نو د هغه خبره به نه منل کیږي؛ ځکه چې دا یو داسې دعویٰ ده کوم چې د دلیل خلاف ده او دلیل د هغه د خلاف تقاضا کوي؛ ځکه کله چې هغه په یقیني توګه خنثیٰ مشکل دی چې د هغه د نر او ښځې هیڅ درک نه معلومیږي، نو خپل ځان ته نر یا ښځه ویل د هغه د خنثیٰ مشکل کېدلو د دلیل او ثبوت خلاف دي، نو ځکه د هغه خبره به نه منل کیږي.

وإن لم یکن الخ: فرمایي که چیرې هغه خنثیٰ مشکل نه وي او د هغه پر مشکل کېدلو هیڅ قرینه موجوده نه وي، نو د هغه دا خبره او دعویٰ به منل کیږي؛ ځکه په دې صورت کې د هغه دعویٰ د دلیل او ثبوت خلاف نه ده او هغه د نورو په نسبت په خپل حال زیات واقف او خبر دی. نو ځکه په دې صورت کې به د هغه تصدیق کیږي.

د خنثیٰ د غسل او ښخولو احکام

وَإِنْ مَاتَ قَبْلَ أَنْ يَسْتَبِينَ أَمْرُهُ او که خنثیٰ مړ سي مخکي تر دې چې د هغه حالت څرګند سي لَمْ يُغَسِّلْهُ رَجُلٌ وَلَا امْرَأَةٌ نو هغه ته به نه سړی غسل ورکوي او نه ښځه لِأَنَّ حِلَّ الْغُسْلِ غَيْرُ ثَابِتٍ بَيْنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ ځکه چې د سړیو او ښځو تر مینځ د غسل حلال کېدل [روا کېدل] ثابت نه دي فَيُتَوَقَّى لِاحْتِمَالِ الْحُرْمَةِ نو د حرمت د احتمال په وجه به له هغه څخه پرهېز کیږي وَيُتَيَمَّمُ بِالصَّعِيدِ او هغه [خنثیٰ] ته به تیمم ورکول کیږي په خاوره سره [تیمم به ور وهل کیږي] لِتَعَذُّرِ الْغُسْلِ ځکه چې غسل متعذر دی وَلَا يَحْضُرُ إِنْ كَانَ مُرَاهِقًا غُسْلَ رَجُلٍ وَلَا امْرَأَةٍ او که خنثیٰ مراهق وي نو د سړي یا ښځې غسل ته به نه حاضرېږي لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ ذَكَرٌ أَوْ أُنْثَى د دې احتمال په وجه چې هغه به نر وي یا به ښځه وي وَإِنْ سُجِّيَ قَبْرُهُ او که د خنثیٰ [د ښخولو پر مهال د هغه] پر قبر پرده وکړی سي فَهُوَ أَحَبُّ نو دا زیاته غوره ده لِأَنَّهُ إِنْ كَانَ أُنْثَى ځکه که هغه ښځه وي نُقِيمُ وَاجِبًا نو موږ به یو واجب اداء کړو وَإِنْ كَانَ ذَكَرًا او که هغه نر وي فَالتَّسْجِيَةُ لَا تَضُرُّهُ نو پرده کول خو هغه ته ضرر نه کوي.

اللغات: ﴿يستبين﴾ د استفعال د باب مضارع ده: واضح کېدل، څرګندېدل. ﴿يُتوقّٰى﴾ د تفعل له باب څخه مضارع مجهوله ده: ځان ساتل، پرهېز (پرہیز) کول. ﴿صعيد﴾ د ځمکې مخ، خاوره. ﴿سَجّٰى﴾ يُسَجِّيْ تَسْجِيَةً: پر مړي پرده ساتل، د ښځو لو پر مهال د ښځې پر قبر پرده کول. تسجية قبر المرأة: تغطية القبر أثناء دفنها. (معجم لغة الفقهاء)

تشريح: په دې عبارت کې درې مسئلې بيان سوي دي:

(۱)... اوله مسئله دا ده چې که چيرې خُنثیٰ مشکل مړ سي په داسې حال کې چې تر اوسه د هغه د نر او ښځې هيڅ حالت او درک نه وي معلوم سوی (يا په بله وينا دا چې تر اوسه د هغه يو طرف ته ترجيح نه وي ورکول سوې چې هغه نر دی يا ښځه ده)، نو هغه ته به نه سړی غسل ورکوي او نه به ښځه غسل ورکوي؛ ځکه دا حرام او ناروا دي چې سړی ښځې ته يا ښځه سړي ته غسل ورکړي، او خُنثیٰ مشکل نر او ښځه دواړه کېدلای سي، نو ښکاره ده چې هغه ته خو نه سړی غسل ورکولای سي او نه ښځه، د دې لپاره چې د حرام کار له ارتکاب څخه ساتنه وسي، خو هغه ته به په پاکه خاوره سره تيمّم ورکول کيږي.

(۲)... دويمه مسئله دا ده چې که خنثیٰ مشکل مراهق وي (تر اوسه بالغ سوی نه وي)، نو هم به د يو چا په غسل کې نه حاضريږي يعني چې کله يو چا (نر يا ښځې) ته غسل ورکول کيږي، نو هلته به نه حاضريږي؛ ځکه چې خنثیٰ مشکل نر هم کېدلای سي او ښځه هم، او څرنګه چې تر اوسه د هغه يو جهت څرګند سوی نه دی، نو ځکه هغه ته د يو چا په غسل کې د حاضرېدلو اجازه نسته.

(۳)... درېيمه مسئله دا ده چې د خنثیٰ مشکل د ښخولو په وخت کې پرده کول او هغه په پرده سره ښخول ډېر غوره دي لکه څرنګه چې د ښځو د ښخولو په وخت کې همداسې کيږي؛ ځکه که هغه ښځه وي، نو موږ به د يو واجب کار اداء کونکي سو، او که هغه سړی وي، نو هم پرده کول د هغه لپاره څه نقصان مند نه دي؛ ځکه کله چې يو عذر وي مثلاً باران وي يا سخته ګرمي وي يا سخت يخ وي، نو په پرده کولو هيڅ حرج نسته چې د سړي د قبر لپاره د پردې انتظام وکړی سي، او خنثیٰ مشکل کېدل خو له باران وغيره څخه زيات عذر دی، نو ځکه پرده کول به نفع مند وي.

د سړي او ښځي د جنازي سره که د خنثیٰ مشکل جنازه هم حاضره سي نو څه حکم دی؟

وَإِذَا مَاتَ او کله چي خنثیٰ مشکل مړ سي فَصُلِّيَ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ رَجُلٍ وَامْرَأَةٍ او پر هغه او پر یو سړي او یوې ښځي [یو ځای] د جنازې لمونځ وکړی سي وُضِعَ الرَّجُلُ مِمَّا يَلِي الْإِمَامَ نو سړی به د امام سره متصل ایښودل کیږي وَالْخُنْثَىٰ خَلْفَهُ او خنثیٰ د سړي شا ته وَالْمَرْأَةُ خَلْفَ الْخُنْثَىٰ او ښځه د خنثیٰ شا ته فَيُؤَخَّرُ عَنِ الرَّجُلِ لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ امْرَأَةٌ نو خنثیٰ به د دې احتمال په وجه له سړي څخه وروسته [شا ته] کول کیږي چي [کېدای سي] هغه به ښځه وي وَيُقَدَّمُ عَلَى الْمَرْأَةِ لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ رَجُلٌ او هغه به د دې احتمال په وجه پر ښځي مخکي کول کیږي چي [کېدای سي] هغه به سړی وي.

اللغات: ﴿یلي﴾ د حَسِب د باب مضارع ده: متصل کېدل، څرمه کېدل، او د ضرب له باب څخه یې معنیٰ ده: ولایت لرل، ولي کېدل. ﴿یؤخر﴾ د تفعیل له باب څخه مضارع مجهوله ده: مؤخّر کول، وروسته کول.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي که یو وخت دفعتاً درې جنازې حاضري سي چي له هغوی څخه یو سړی وي او بل خنثیٰ مشکل وي او بله ښځه وي او پر دوی ټولو یو ځای د لمونځ کولو نوبت راسي. په داسي صورت کي به د جنازې په ایښوولو کي کوم ترتیب اختیارول کیږي؟، نو فرمایي چي څرنګه د ژوند په حالت کي د دوی تر مینځ ترتیب وو، همداسي به اوس هم هغه ترتیب اختیارول کیږي، یعني څرنګه چي د ژوند په حالت کي د خنثیٰ مقام د سړیو او ښځو د صفونو تر مینځ وو، هغسي به دلته هم کیږي چي د امام سره متصل به اول د سړي جنازه ایښوول کیږي او بیا د خنثیٰ او بیا د ښځي چي د ښځي جنازه به تر ټولو شا ته ایښوول کیږي. نور عبارت واضح دی.

په اجتماعي ښخولو کي د خنثیٰ د ښخولو ترتیب

وَلَوْ دُفِنَ مَعَ رَجُلٍ فِي قَبْرٍ وَاحِدٍ مِنْ عُذْرٍ او که د یو عذر په وجه خنثیٰ د یو سړي سره په قبر کي ښخ کړی سي جُعِلَ الْخُنْثَىٰ خَلْفَ الرَّجُلِ نو خنثی به د سړي شا ته کړی سي لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ امْرَأَةٌ د دې احتمال په وجه چي هغه به ښځه وي وَيُجْعَلُ بَيْنَهُمَا حَاجِزٌ مِنْ صَعِيدٍ او د دوی دواړو تر مینځ به د خاوري یو حائل وګرځول سي [یا په بله وینا دا چي د دوی تر مینځ به په خاوره سره فاصله راوستل سي. چي د

خاوري يوه پوله او بندكى به يې تر مينځ جوړ كړى سي | وَإِنْ كَانَ مَعَ امْرَأَةٍ او كه خنثى د ښځي سره وي يعني د ښځي سره ښخ كړى سي | قُدِّمَ الْخُنْثٰى نو خنثىٰ به مخكي كړى سي لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ رَجُلٌ د دې احتمال په وجه چي هغه به سړى وي وَإِنْ كَانَ يُجْعَلُ عَلَى السَّرِيْرِ نَعْشُ الْمَرْأَةِ او كه د خنثىٰ پر كټ [چارپايي] د ښځي پرده [يا د ښځي شال] واچول سي فَهُوَ أَحَبُّ إِلَيَّ نو دا زما په نېز زياته غوره ده لِاحْتِمَالِ أَنَّهُ عَوْرَةٌ د دې احتمال په وجه چي خنثىٰ به عورت [ښځه] وي وَيُكَفَّنُ كَمَا تُكَفَّنُ الْجَارِيَةُ او خنثىٰ ته دي د انجلۍ د كفن په شڅېر كفن وركول سي وَهُوَ أَحَبُّ إِلَيَّ او دا زما په نېز زياته غوره ده يَعْنِيْ يُكَفَّنُ فِيْ خَمْسِ أَثْوَابٍ يعني په پنځو جامو كي دي كفن وركول سي لِأَنَّهُ إِذَا كَانَ أُنْثٰى ځكه كه هغه ښځه وي فَقَدْ أُقِيْمَتْ سُنَّةٌ نو يو سنت اداء كړى سو وَإِنْ كَانَ ذَكَرًا او كه هغه نر وي فَقَدْ زَادُوْا عَلَى الثَّلَاثِ نو پر دريو كپړو يې اضافه وكړه وَلَا بَأْسَ بِذٰلِكَ او په دې اضافه كي څه حرج نسته.

اللغات: ﴿حاجز﴾ د نصر او ضرب له باب څخه د فاعل صيغه ده: د دوو شيانو تر مينځ فاصل. حائل (حايل). مانع (معجم) ﴿سرير﴾ چارپايي. كټ (چپر كټ). ﴿نعش المرأة﴾ نعش خو هغه كټ ته وايي چي پر هغه مړى اېښودل سوى وي يا په بله وينا جنازه، خو كله چي د دې سره د "مرأة" (ښځي) لفظ اضافه سي نو معنىٰ يې ده: هغه پرده كوم چي د ښځي پر كټ (جنازه) درول كيږي كله چي هغه پر كټ كښېښودله سي. يا هغه څه چي د ښځي جنازه پرې پټول كيږي كله چي هغه پر جنازه كښېښودله سي. د تابوت په شڅېر. مشبك يطبق على المرأة إذا وضعت على على سرير الموتى.

تشريح: **صورت د مسئلي**: دا دى كه د يو عذر په وجه په قبر كي د څو مړو ښخولو ته ضرورت پېښ سي، نو په داسي صورت كي به له دوى څخه اول هغه يو د قبلې په طرف كي مخكي اېښوول كيږي كوم چي د شرافت او تكريم زيات لائق وي. لهذا كه په قبر كي د يوه سړي او يوه خنثىٰ مشكل و ښخولو ته ضرورت پرېوځي. نو د قبلې په طرف كي به اول سړى اېښوول كيږي او خنثىٰ به وروسته د هغه شا ته اېښوول كيږي: ځكه چي په خنثىٰ كي د ښځي والي احتمال سته چي هغه به ښځه وي.

او كه په قبر كي د يوه خنثىٰ او يوې ښځي و ښخولو ته ضرورت وي. نو د قبلې په طرف كي به اول خنثىٰ اېښوول كيږي او ښځه به د هغه شا ته اېښوول كيږي: ځكه چي په خنثى كي د سړي والي (نر والي) احتمال هم سته او سړى تر ښځي مخكي دى.

او په داسي صورتونو کي به د دواړو تر مينځ خاوره هم اچول کيږي چي دواړه سره متصل نه سي او د يوه بدن د بل د بدن سره ونه لګيږي.

وإن كان... نعش المرأة إلخ: يعني د ښځي دا ښوولو په وخت کي چي پر جنازه د هغې د پاسه کومه پرده درول کيږي او هغه پرې پټول کيږي (يا لکه څرنګه چي زموږ په علاقو کي د ښځي پر جنازه شال اچول کيږي) که هغه پر خنثیٰ (نرښځي) هم وسي، نو دا ډېر غوره او بهترين کار دی: ځکه چي په خنثیٰ کي د ښځي والي احتمال سته چي هغه به ښځه وي.

ويكفن إلخ: فرمايي چي خنثیٰ (نرښځی) ته د ښځو په څېر په پنځو کپړو کي کفن ورکول ډېر ښه دي: ځکه که هغه واقعتاً ښځه وي، نو د پنځو کپړو په کفن ورکولو سره به سنت اداء سي. او که هغه واقعتاً سړی وي. نو د هغه په کفن کي به صرف څه اضافه راسي (چي دوې کپړې به پکښي اضافه سي) او په اضافه کي څه حرج نسته. نو ځکه احتياط همدا دی چي خنثیٰ مشکل ته په پنځو کپړو کي کفن ورکول سي. خو که هغه ته په درېو کپړو کي کفن ورکول سي او هغه ښځه وي، نو سنت کفن به پرېښوول سي او د ترک سنت خرابي به پېښه سي.

په ميراث کي به خنثیٰ مشکل ته خومره حصه ورکول کيږي (د امامانو اختلاف او تفصيل)

وَلَوْ مَاتَ أَبُوهُ او که چيري د خنثیٰ مشکل پلار مړ سي وَخَلَفَ ابْنًا او هغه خپل تر شا يو ځوی پرېښودي [او يو دا خنثیٰ مشکل وي] فَالْمَالُ بَيْنَهُمَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ أَثْلَاثًا نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز مال [ميراث] د دوی دواړو تر مينځ په درېو حصو سره دی لِلِابْنِ سَهْمَانِ د ځوی لپاره دوې حصې وَلِلْخُنْثَى سَهْمٌ او د خنثیٰ لپاره يوه حصه وَهُوَ أُنْثَى عِنْدَهُ فِي الْمِيرَاثِ او خنثیٰ د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز په ميراث کي ښځينه ده إِلَّا أَنْ يَتَبَيَّنَ غَيْرُ ذَلِكَ مګر دا چي له هغه [ښځي والي] څخه بغير [نارينه والی] څرګند سي [يعني دا خبره څرګنده او ثابته سي چي دا خنثیٰ نارينه دی] وَقَالَا[①] او صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي لِلْخُنْثَى نِصْفُ مِيرَاثِ ذَكَرٍ وَنِصْفُ مِيرَاثِ أُنْثَى چي د خنثیٰ لپاره د نر د

[①] القول الراجح: قول أبي حنيفة رحمه الله، كما قال العلامة الحصكفي رَحِمَهُ الله: وله (أي للخنثى المشكل) في الميراث أقل النصيبين (أحسن النصيبين)، وبه يفتى. وقالا: نصف النصيبين (أي نصف مجموع حظ الذكر والأنثى) (رد المحتار ج:۵، ص:۵۱۵). وكذا قال العلامة سراج الدين السجاوندي الحنفي رَحِمَهُ الله: للخنثى المشكل أقل النصيبين أعني أسوء الحالين عند أبي حنيفة وأصحابه، وهو قول عامة الصحابة رضي الله عنهم وعليه الفتوىٰ (السراجية ص:۴۹). [القول الراجح ج:۲، ص:۳۹۰]

میراث نیمه حصه او د ښځي د میراث نیمه حصه ده وَهُوَ قَوْلُ الشَّعْبِيِّ او همدا د شعبي رَحِمَهُ الله قول دی وَاخْتَلَفُوْا فِيْ قِيَاسِ قَوْلِهِ او امامانو د شعبي رَحِمَهُ الله د قول د قیاس مطابق [په تخریج] کي اختلاف کړی دی قَالَ مُحَمَّدٌ: اَلْمَالُ بَيْنَهُمَا عَلٰى اِثْنَيْ عَشَرَ سَهْمًا امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي: چي مال [میراث] د دوی دواړو تر مینځ پر دوولسو حصو دی [یعني پر ۱۲ حصو به تقسیمیږي] لِلْاِبْنِ سَبْعَةٌ د ځوی لپاره اُووه حصې وَلِلْخُنْثٰى خَمْسَةٌ او د خنثیٰ لپاره پنځه حصې وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ: اَلْمَالُ بَيْنَهُمَا عَلٰى سَبْعَةٍ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چي مال د دوی دواړو تر مینځ پر اُوو حصو دی لِلْاِبْنِ اَرْبَعَةٌ وَلِلْخُنْثٰى ثَلَاثَةٌ د ځوی لپاره څلور حصې او د خنثیٰ لپاره درې حصې لِاَنَّ الْاِبْنَ يَسْتَحِقُّ كُلَّ الْمِيْرَاثِ عِنْدَ الْاِنْفِرَادِ ځکه چي ځوی د تنها والي په وخت کي [یعني چي یوازي وي] د ټوله میراث مستحق کیږي وَالْخُنْثٰى ثَلَاثَةَ الْاَرْبَاعِ او خنثیٰ د دریو ربعو [یعني چي خنثیٰ یوازي وي نو هغه د دریو څلورمو حصو مستحق کیږي] فَعِنْدَ الْاِجْتِمَاعِ يُقْسَمُ بَيْنَهُمَا عَلٰى قَدْرِ حَقَّيْهِمَا نو [د ځوی او خنثیٰ] د جمع کېدلو په وخت کي به مال د دوی دواړو تر مینځ د دوی د حقونو په اندازه تقسیمول کیږي هٰذَا يَضْرِبُ بِثَلَاثَةٍ وَذٰلِكَ يَضْرِبُ بِاَرْبَعَةٍ [یعني] دا [خنثیٰ] به د دریو په حساب سره اخیستل کوي او هغه [ځوی] به د څلورو په حساب سره اخیستل کوي [یا په بله وینا دا چي خنثیٰ ته به د دریو په حساب سره ورکول کیږي او ځوی ته د څلورو په حساب سره] فَيَكُوْنُ سَبْعَةً نو ټوله به اُووه حصې وي.

اللغات: ﴿أثلاثًا﴾ په دریو حصو سره (چي شی درې حصې کړل سي). ﴿أرباعًا﴾ په څلورو حصو سره (چي څلور حصې کړل سي). ﴿انفراد﴾ د انفعال د باب مصدر دی: یوازي والی (یوازي کېدل). تنها کېدل. ﴿یضرب﴾ د ضرب د باب مضارع ده: په عربي ژبه کي ځیني الفاظ او بابونه لسګونه معناوي لري لکه لفظ د "عَيْن" چي په سلهاوو معناوو سره مستعمل دی. نو د ضرب د باب هم ډېري معناوي نقل سوي دي چي له هغوی څخه یې ځیني دا دي: اخیستل. یو څوک په یو څه کي شریکول (شریک کرځول)، ټاکل او مقررول (مغرب. معجم الوسیط). يقال ضرب له في ماله سهمًا أي جعل له وأعطاه. وقال الفقهاء: فلان يضرب فيه بالثلث: أي يأخذ منه شيئًا بحكم ماله من الثلث

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی چې که یو سړی مړ سي او هغه خپل تر شا دوه بچیان پرېږدي یو ځوی او بل خنثیٰ مشکل (یعني داسي خنثیٰ چي تر اوسه د هغه د نر او ښځي هیڅ جهت نه وي واضح کړی سوی). نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د هغه سړي میراث به درې حصې کول کېږي چي له هغه څخه به دوې حصې د خُنثیٰ ورور ته او یوه حصه خنثیٰ ته ورکول کیږي: ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز خنثیٰ د میراث په باب کي ښځه ده. لهذا د دوی د پلار میراث به د "للذکر مثل حظ الأُنثیین" مطابق د دوی تر مینځ تقسیمول کیږي.

وقالا للخُنثیٰ إلخ: صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي په مذکوره صورت کي به خنثیٰ ته د نارینه او ښځي (هر یوه) نیمه. نیمه حصه ورکول کیږي (چي د هغه مجموعه درې رُبعي [درې څلورمي حصې] کیږي. تفصیل به یې د تشریح په آخر کي ذکر سي) امام شعبي رَحِمَهُ الله هم د دې قائل دی. دا په حقیقت کې د عامر بن شرحبیل رَحِمَهُ الله قول دی او صاحبینو د هغه د قول اتباع کړې ده. خو د حصو د تخریج په طریقه کي د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله اختلاف دی: د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي په مذکوره صورت کي به د مړي میراث پر دوولسو (۱۲) حصو تقسیمول کیږي چي له هغوی څخه به أووه حصې ځوی (د خنثی ورور) ته ورکول کیږي او پنځه حصې به خنثیٰ ته ورکول کیږي. لېکن د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز میراث به پر أوو حصو تقسیمول کیږي چي له هغه څخه به څلور حصې ځوی ته او درې حصې خنثیٰ ته ورکول کیږي. (د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله قول د خنثیٰ لپاره نفع مند دی: ځکه د أوو درې حصې د دوولسو له پنځو حصو څخه څه زیاتي دي یا په بل شکل دا چي $\frac{3}{7}$ له $\frac{5}{12}$ څخه زیات دي. تاسي خپله هم حساب وزنه وکړئ! مثلاً لک روپۍ یو وار پر ۱۲ حصو تقسیم کړئ! او له هغه څخه خنثیٰ ته پنځه حصې ورکړئ!. او بیا لک روپۍ پر ۷ حصو تقسیم کړئ! او له هغه څخه خنثیٰ ته درې حصې ورکړئ! نو تاسي به معلومه سي چي په کوم یوه کي یې نفع څه زیاته ده).

د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چي ځوی که یوازي وي (یعني له ځوی څخه بغیر د پلار بل هیڅ وارث نه وي) نو هغه د ټوله میراث مستحق کیږي. او که خنثیٰ یوازي وي نو هغه د میراث د درېیو حصو مستحق کیږي. لکه څرنګه چي څه مخکي د صاحبینو دا أصول تېر سو چي "للخنثی نصف میراث ذَکَرٍ ونصف میراث أنثی" چي د هغه مجموعه درې حصې (درې رُبعي) کیږي. لنډه دا چي د

يوازي والي په صورت کي چي ځوی او خنثیٰ ته څومره حصه رسيږي. نو د ځوی او خنثیٰ د اجتماع په صورت کي به هم په هغه حساب سره حصه ورکول کيږي (يعني د اجتماع صورت به د انفراد په صورت قياسول کيږي).

لهذا کله چي د يوازي والي (انفراد) په صورت کي خنثیٰ د دريو حصو او ځوی د ټوله ميراث مستحق کيږي. نو که ميراث څلور حصې يا په بله وينا څلور ربعي سي او ځوی (نارينه) يوازي وي نو ټوله ميراث (څلور سره ربعي) د ځوی کيږي چي د هغه نصف دوې ربعي $\frac{2}{4}$ کيږي. او د ښځي ميراث د نارينه د ميراث نصف دی نو په څلورو ربعو کي د هغې حصه دوې ربعي $\frac{2}{4}$ کيږي چي د هغه نصف يوه ربع $\frac{1}{4}$ ده. او کله چي دوې ربعي او يوه ربع سره جمع کړل سي (کوم چي د سړي او ښځي د ميراث نصف دی ځکه سړي (ځوي) د ميراث نصف دوې ربعي دي او د ښځي د ميراث نصف يوه ربع ده. کما ذکرنا.

لهذا دا چي سره جمع کړل سي) نو د هغه مجموعه درې ربعي $\frac{3}{4}$ کيږي. لهذا د خنثیٰ ټوله ميراث درې ربعي $\frac{3}{4}$ دي. او د ځوی ټوله ميراث څلور سره ربعي دي. نو کله چي ځوی او خنثیٰ دواړه په ميراث کي سره جمع سي. نو موږ په همدې حساب سره (يعني د څلورو او دريو په حساب سره) ميراث تقسيم کوو چي د هغه مجموعه اووه حصې کيږي. نو ځکه موږ وويل چي ځوی ته به له اوو څخه څلور حصې $\frac{4}{7}$ او خنثیٰ ته به له اوو څخه درې حصې $\frac{3}{7}$ ورکول کيږي. دا د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله د قول تخريج او تفصيل دی.

په پورتني مسئله کي د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل

وَلِمُحَمَّدٍ: أَنَّ الْخُنْثَى لَوْكَانَ ذَكَرًا او د امام محمد رَحِمَهُ الله دليل دا دی: چي که خنثیٰ نارينه [سړی] وي يَكُوْنُ الْمَالُ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ نو مال [ميراث] به د دوی دواړو [ځوی او خنثیٰ] تر مينځ نيم په نيمه وي وَإِنْ كَانَ أُنْثَى او که هغه ښځه وي يَكُوْنُ الْمَالُ بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا نو مال [ميراث] به د دوی دواړو تر مينځ په دريو حصو سره وي اِحْتَجْنَا إِلَى حِسَابٍ لَهُ نِصْفٌ وَثُلُثٌ نو موږ داسي حساب [يعني داسي عدد] ته محتاج سو چي هغه لره نصف [هم] وي او ثلث [هم] وي وَأَقَلُّ ذٰلِكَ سِتَّةٌ او په هغه کي تر ټولو

کم عدد شپږ ۶ دی [نو مال [میراث] به شپږ ۶ حصې کړل سي] فَفِيْ حَالٍ يَكُوْنُ الْمَالُ بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ لِكُلِّ وَاحِدٍ ثَلَاثَةٌ نو په هغه حالت کي چي مال [میراث] د دوی دواړو تر مینځ نیم په نیمه وي [نو] د هر یوه لپاره به [اله شپږو ۶ څخه] درې ۳ حصې وي وَفِيْ حَالٍ يَكُوْنُ أَثْلَاثًا لِلْخُنْثٰى سَهْمَانِ وَلِلِابْنِ أَرْبَعَةٌ او په هغه حالت کي چي مال [د دوی ترمینځ] په دریو حصو سره وي [نو] د خنثیٰ لپاره به دوې ۲ حصې وي او د ځوی لپاره به څلور ۴ حصې فَسَهْمَانِ لِلْخُنْثٰى ثَابِتَانِ بِيَقِيْنٍ لهذا د خنثیٰ لپاره دوې حصې په یقین سره ثابته دي وَوَقَعَ الشَّكُّ فِي السَّهْمِ الزَّائِدِ او شک په زائده حصه کي واقع سوی دی فَيَتَنَصَّفُ نو هغه به نیمایي [نصف. نصف] کیږي فَيَكُوْنُ لَهُ سَهْمَانِ وَنِصْفٌ نو د خنثیٰ لپاره به دوې نیمې حصې سي فَانْكَسَرَ نو کسر پکښي راغلی فَأَضْعَفَ لِيَزُوْلَ الْكَسْرُ لهذا مخرج [۶] به دوچنده کول کیږي، د دې لپاره چي کسر ختم سي فَصَارَ الْحِسَابُ مِنْ اِثْنَيْ عَشَرَ نو حساب به له دوولسو څخه وګرځي لِلْخُنْثٰى خَمْسَةٌ وَلِلِابْنِ سَبْعَةٌ د خنثیٰ لپاره پنځه ۵ حصې او د ځوی لپاره اُوو ۷ حصې.

تشریح: په دې عبارت کي د امام محمد رَحِمَهُ الله دلیل بیان سوی دی. چي د هغه حاصل دا دی چي که چیري خنثیٰ سړی (مذکر) وي نو د هغه او ځوی تر مینځ به میراث نصف. نصف (نیم په نیمه) تقسیمیږي او که هغه ښځه وي نو د میراث له دریو حصو څخه به هغه ته یوه حصه (یو ثلث) رسیږي. او زموږ د اُصول مطابق خنثیٰ ته د سړي د میراث نصف حاصلیږي او د ښځي د میراث هم نصف ورته حاصلیږي، لهذا د هغه د حساب صحیح کولو او له کسر څخه د خالي کولو لپاره موږ د شپږو ۶ عدد منتخب کړی؛ ځکه چي د ۶ عدد لره نصف هم سته او ثلث یې هم سته. اوس که خنثیٰ سړی وي. نو د هغه او د ځوی دواړو لپاره به د شپږو ۶ نصف یعني درې ۳ وي چي د هغه نصف یو نیم کیږي یعني $1\frac{1}{2}$. او که هغه ښځه وي، نو د هغه لپاره به د شپږو یو ثلث یعني دوه ۲ وي چي د هغه نصف یو ۱ کیږي او پاته څلور حصې به د ځوی لپاره وي، او دغه یو نیم او یو چي سره جمع کړ ک سي کوم چي د خنثیٰ حصه ده نو مجموعه دوه نیم $2\frac{1}{2}$ کیږي (ځکه د خنثیٰ لپاره د سړي د میراث نصف او د ښځي د میراث نصف دی چي دلته د سړي د میراث نصف یو نیم او د ښځي د میراث نصف یو کیږي چي د هغه

مجموعه دوه نیم کیږي). او له شپږو ۶ څخه چې دوه نیم د خنثی سي نو بل طرف ته دريږ نیم ۳ ½ پاته سوه، نو د خنثی لپاره خو دوږ حصې په یقیني توګه ثابته سوږ او له دوو څخه په زائد حصه (دریمه حصه) کې شک دی چې هغه خنثی ته ورکول سي او که نه ورکول سي. څکه که هغه ښځه وي نو د میراث تقاضا دا ده چې دا زائده حصه (دریمه حصه) هغه ته نه ورکول سي کنې د دواړو مساوات به لازم سي، او که هغه سړی (نارینه) وي نو هغه ته دا دوږ حصې نه بلکې تر هغه زیات ورکول پکار دي یعني دريږ حصې کوم چې د ۶ نصف کیږي (یعني که سړی وي نو د میراث [۶] نصف ورکول پکار دي). نو څکه موږ دا زائده یعني دریمه حصه نیمایي کړله او د هغه یو نصف (نیمه حصه) موږ خنثی ته ورکړه او بل نصف مو د هغه ورور ته ورکړی. نو د خنثی حصه دوه نیم ½ ۲ سوه. او د ورور حصه یې دريږ نیم ½ ۳ سوه. لیکن اوس دلته په دواړو حصو کې کسر واقع کیږي. نو کسر (نیم) به پوره ته کړی سي او د خنثی اصل حصې (۲) یعني دوه ته به په مخرج یعني په ۶ کې ضرب ورکول سي چې حاصل ضرب به ۱۲ سي او د هر وارث حصې به دوچنده سي. نو له هغه ۱۲ حصو څخه به پنځه حصې ($\frac{5}{12}$) د خنثی سي او اووه حصې ($\frac{7}{12}$) به د هغه د ورور سي. نو په دې توګه به هر فریق ته بغیر له کسر څخه د هغه حصه ورسیږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول توجیه او دلیل

وَلِأَبِي حَنِيفَةَ: أَنَّ الْحَاجَةَ هٰهُنَا إِلَى إِثْبَاتِ الْمَالِ ابْتِدَاءً او د امام صاحب رَحِمَهُ الله دلیل دا دی: چې دلته ابتداءً د مال ثابتولو لره ضرورت دی وَالْأَقَلُّ وَهُوَ مِيرَاثُ الْأُنْثَى مُتَيَقَّنٌ بِهِ او اقل [کم] مقدار کوم چې د ښځې میراث دی هغه متیقن دی [یعني اقل مقدار متیقن دی. کوم چې دلته د ښځې میراث دی] وَفِيمَا زَادَ عَلَيْهِ شَكٌّ او له هغه [اقل] څخه په زائد مقدار کې شک دی فَأَثْبَتْنَا الْمُتَيَقَّنَ بِهِ قَصْرًا عَلَيْهِ نو څکه موږ [دلته] پر اقل په منحصر کولو سره [په اقل بلندي په عمل کولو سره] متیقن ثابت کړی [کوم چې د ښځې میراث دی] لِأَنَّ الْمَالَ لَا يَجِبُ بِالشَّكِّ څکه چې مال د شک په وجه نه واجبیږي وَصَارَ كَمَا إِذَا كَانَ الشَّكُّ فِي وُجُوبِ الْمَالِ بِسَبَبٍ آخَرَ او دا داسې سوه لکه په یو بل سبب سره چې د مال

په واجبېدلو کي شک راسي فَإِنَّهُ يُؤْخَذُ فِيهِ بِالْمُتَيَقَّنِ بِهِ نو په هغه صورت کي پر متيقن [اقل مقدار] عمل کول کيږي كَذَا هٰهُنَا نو همداسي به دا وي.

اللغات: ﴿متيقن﴾ د تفعل د باب مفعول دی: يقيني کړی سوی (يقيني)، په يقيني توګه ثابت.
﴿قصرًا﴾ د ضرب د باب مصدر دی. د دې باب په صله کي چي عَلیٰ راسي لکه دلته. نو معنیٰ يې ده: واپس کول، منحصر کول. محدود کول. (مصباح اللغات)

تشريح: مخکي ذکر سوه چي په مذکوره صورت کي (يعني کله چي مړی خپل ترشا يو ځوی او يو خنثیٰ مشکل پرېږدي نو) د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز د مړي ميراث به درې حصې کول کيږي چي له هغه څخه به يوه حصه خنثیٰ ته او دوې حصې ځوی (د خنثیٰ ورور) ته ورکول کيږي؛ ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز خنثیٰ مشکل د ميراث په باب کي د ښځي په حکم سره دی (يعني د امام صاحب رَحِمَهُ الله اصول دا دی چي خنثیٰ مشکل به د ميراث په هکله ښځه فرضول کيږي). نو ځکه د هغه په نيز خنثیٰ ته د پلار له ميراث څخه د يوې حصې او د هغه ورور ته د دوو حصو د ورکولو فيصله سوې ده.

د دغه فيصلې په هکله د امام صاحب رَحِمَهُ الله دليل دا دی چي دلته له ميراث څخه د خنثیٰ لپاره ابتداءً د مال ثابتولو ته ضرورت دی، او ابتداءً د مال ثابتولو په وخت کي پر متيقن (يقيني) امر عمل کول کيږي او متيقن اقل مقدار وي (يا په بل عبارت ووايه چي ابتداءً د مال ثابتولو په وخت کي پر اقل عمل کول کيږي؛ ځکه چي اقل متيقن وي). او په مذکوره مسئله کي اقل د ښځي ميراث دی (کوم چي يوه حصه [ثلث] دی) نو همدا د ښځي ميراث متيقن دی او تر هغه په زائد مقدار کي شک دی او د شک په وجه مال نه واجبيږي. نو ځکه موږ د خنثیٰ لپاره اقل او متيقن (يعني يوه حصه [ثلث]) متعين کړی دی. د دې مثال داسي دی لکه په يو بل سبب سره چي د مال په وجوب کي شک راسي. مثلاً يو سړی د زيد لپاره اقرار وکړي او ووايي چي لِزَيْدٍ عَلَيَّ دَرَاهِمُ (پر ما د زيد دراهم باندي دي) او د دراهمو تعيين نه وکړي چي څو دراهم دي، نو په دې صورت کي د دراهمو اقل مقدار يعني درې درهمه متعين کيږي او همدا به مقرلهٗ (زيد) ته ورکول کيږي. نو همدغسي په مذکوره مسئله کي به هم د ميراث اقل مقدار (د ښځي ميراث) کوم چي يوه حصه ده خنثیٰ مشکل ته ورکول کيږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ الله د قول نور وضاحت او تفصيل

إِلَّا أَنْ يَكُونَ نَصِيبُهُ الْأَقَلَّ لَوْ قَدَّرْنَاهُ ذَكَرًا مګر دا چې د خنثىٰ حصه کمه وي [کميږي] که چيرې مورږ هغه نر [نارينه] فرض کړو فَحِينَئِذٍ يُعْطَى نَصِيبَ الِابْنِ فِي تِلْكَ الصُّورَةِ نو په دې صورت کې به خنثىٰ ته د ځوی [نارينه] حصه ورکول کيږي لِكَوْنِهِ مُتَيَقَّنًا بِهِ د هغه د يقيني کېدلو په وجه [ځکه چې په دې صورت کې هغه (يعني دنارينه حصه) اقل مقدار دی او اقل متيقن وي] وَهُوَ أَنْ تَكُونَ الْوَرَثَةُ زَوْجًا وَأُمًّا وَأُخْتًا لِأَبٍ وَأُمٍّ هِيَ خُنْثَى او هغه صورت دا دی چې وارثان [ميراث خوره] يو خاوند وي او يوه مور وي او يوه په پلار او مور شريکه [يعني حقيقي] خور وي چې هغه خنثىٰ وي أَوِ امْرَأَةً وَأَخَوَيْنِ لِأُمٍّ وَأُخْتًا لِأَبٍ وَأُمٍّ هِيَ خُنْثَى يا وارثان يوه ښځه وي او دوه په مور شريک [اخيافي] وروڼه وي او يوه حقيقي خور وي چې هغه خنثىٰ وي فَعِنْدَنَا فِي الْأُولَى لِلزَّوْجِ النِّصْفُ وَلِلْأُمِّ الثُّلُثُ وَالْبَاقِي لِلْخُنْثَى نو زمونږ په نيز په اول صورت کې د خاوند لپاره نصف د او د مور لپاره ثلث [دريمه حصه] ده او پاته حصه د خنثىٰ لپاره ده وَفِي الثَّانِيَةِ لِلْمَرْأَةِ الرُّبُعُ وَلِلْأَخَوَيْنِ لِأُمٍّ الثُّلُثُ وَالْبَاقِي لِلْخُنْثَى او په دويم صورت کې د ښځې لپاره رُبع [څلورمه حصه] ده او د دوو اخيافي ورونو لپاره ثلث دی او پاته حصه د خنثىٰ لپاره ده لِأَنَّهُ أَقَلُّ النَّصِيبَيْنِ فِيهِمَا ځکه چې په دواړو صورتونو کې همدا [باقي (پاته حصه)] له دواړو حصو څخه کمه ده [لهذا په اقل عمل وسو].

اللغات: ﴿نصيب﴾ حصه برخه. ﴿أقل﴾ داسم تفضيل صيغه ده: تر ټولو کم. کمتر. ﴿قدّرنا﴾ د تفعيل له باب څخه د جمع متکلم ماضي صيغه ده: اندازه کول. فرض کول (فرضول). ﴿ربع﴾ څلورمه حصه.

تشريح: مخکې ضمناً ذکر سوه چې د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز (د خنثىٰ په ميراث کې) پر اقل کېدلو بنياد اېښودل سوی دی چې خنثىٰ ته به په ميراث کې اقل حصه ورکول کيږي چې هغه د ښځې حصه ده (ځکه چې اقل متيقن وي) په همدې وجه د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز خنثىٰ د ميراث

په باب کي ښځه فرض کړل سوې ده او د ښځي حصه ورکول سوې ده. لېکن که چیري یو صورت داسي وي چي که په هغه کي خنثیٰ ښځه فرض کړل سي نو هغه ته زیاته حصه رسیږي او که نارینه (سړی) فرض کړل سي نو هغه ته اقلّ (کمه) حصه رسیږي. نو په داسي صورت کي به هغه نارینه فرض کول کیږي چي په أقلّ عمل وسي او هغه ته اقلّ حصه ورکول سي. چي دلته مصنف رَحِمَهُ الله د هغه دوه مثالونه بیان کړي دي:

①... یو مثال دا دی چي مثلاً زینب مړه سوه او د هغې په وارثانو کي یو خاوند (زوج) دی او یوه مور (اُمّ) او یوه حقیقي خور ده کوم چي خنثیٰ ده (یعني زینب خپل تر شا دغه دري وارثان پرېښوول). نو په داسي صورت کي به خنثیٰ (حقیقي خور) مذکر یعني وروړ فرضول کیږي او میراث به ټوله شپږ حصې کول کیږي چي د هغه نصف یعني دري حصې به خاوند ته ورکول کیږي او د هغه ثلث یعني دوې حصې به مور ته ورکول کیږي. او پاته یوه حصه به خنثیٰ خور ته (کوم چي مذکر فرض کړل سوې ده) ورکول کیږي. چي د مسئلې تخریج به داسي وي:

۶
میت

زوج	اُم	حقیقي خور خنثیٰ کوم چي مذکر فرض سوې ده
۳	۲	۱

ځکه که دلته خنثیٰ مؤنث یعني خور فرض کړل سي. نو خنثیٰ به په اصحابُ الفروضو کي داخل سي او حصه به یې زیاته سي او ۶ به په ۸ سره عول سي (یا په بله وړنا دا چي د ۶ حصو پر ځای به ۸ حصې سي) او د مسئلې صورت به بدل سي، چي د مسئلې تخریج به داسي وي:

۶ عول ۸
میت

زوج	اُم	حقیقي خور خنثیٰ
۳ حصې	۲	۳

②... دویم مثال چي که په هغه کي خنثیٰ مؤنث فرض کړل سي نو حصه یې زیاتیږي او که مذکر فرض کړل سي نو حصه یې کمیږي. هغه دا دی چي مثلاً خالد مړ سو او د هغه په وارثانو کي یوه ښځه (زوجه) ده او دوه د مور له طرفه وروڼه (اخیافي وروڼه) دي او یوه حقیقي خور ده کوم چي خنثیٰ ده.

نو په داسي صورت کي به هم خنثیٰ خور ته د مذکر یعني د وروړ درجه ورکول کیږي او وروړ به فرضول کیږي او میراث به تهوله دوولس ۱۲ حصې کول کیږي چي د هغه یوه رُبع (څلورمه) یعني درې ۳ حصې به ښځي (زوجه) ته ورکول کیږي. او د هغه یو ثلث یعني څلور ۴ حصې به دواړو اخیافي ورونو ته ورکول کیږي. او پاته پنځه ۵ حصې به مذکر خنثیٰ ته ورکول کیږي. چي د مسئلې تخریج به داسي وي:

۱۲
میت

یوه حقیقي خور خنثیٰ	دوه اخیافي ورونه	زوجة
۵	۴	۳

ځکه که دلته خنثیٰ مؤنث یعني خور فرض کړل سي، نو خنثیٰ ته به د پنځو پر ځای شپږ حصې ورسیږي او مسئله به په ۱۳ سره عول سي. چي د مسئلې صورت به داسي وي:

۱۲ عول ۱۳
میت

یوه حقیقي خور خنثیٰ	دوه اخیافي ورونه	زوجة
۶	۴	۳

نو ځکه موږ په دې دواړو صورتونو کي خنثیٰ مذکر (نارینه) فرض کړی دی او هغه ته مو له مؤنث څخه کمه حصه ورکړې ده چي په اقل او متیقن عمل وسي. فقط والله أعلم وعلمهٗ أتم



مَسَائِلُ شَتّٰی

بیلابیلي مسئلې

تشريح: عامه توګه د مصنفینو عادت دا وي چې په کتاب یا باب کې چې له دوی څخه کومي داسي مسئلې پاتـه سوې وي چې هغوی بایـد ذکر کړل سي، نو هغـه مسئلې د "مسائل شتّی" یا "مسائل متفرّقـة" یا "مسائل منثوره" په نامه سره په آخر کي بیانوي، نو د همدې مطابق صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله هم په کتابُ الوصایا کي پاتـه سوي (پرېښوول سوي) قابلِ ذکر مسئلې تر دغه عنوان "مسائل شتّی" لاندي بیان کړي دي.

شَتّٰی: جمع د شَتِیْتٌ ده چې د هغه معنیٰ ده: متفرق، یو له بل څخه جلا، بېلا بېل. لکه په قرآن کي هم دا لفظ څو ځایه ذکر سوی دی: وَقُلُوْبُهُمْ شَتّٰی، مِنْ نَبَاتٍ شَتّٰی او داسي نور.

د اصلي ګونګي او عارضي ګونګي د وصیت بیان

قَالَ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغیر کي] فرمایي وَإِذَا قُرِئَ عَلَى الْأَخْرَسِ كِتَابُ وَصِيَّتِهِ او کله چي پر ګونګي کس د هغه د وصیت خط [وصیت نامه] ولوستل سوه فَقِيلَ لَهُ: أَنَشْهَدُ عَلَيْكَ بِمَا فِي هٰذَا الْكِتَابِ بیا هغه ته وویل سوه: آیا موږ پر تا د هغه څه په هکله ګواهان سو کوم چي په دغه خط کي دي فَأَوْمَأَ بِرَأْسِهِ أَيْ نَعَمْ نو ګونګي په خپل سر اشاره وکړه یعني هو! أَوْ كَتَبَ یا یې [د هوکړي] لیکنه وکړه فَإِذَا جَاءَ مِنْ ذٰلِكَ مَا يُعْرَفُ أَنَّهُ إِقْرَارٌ نو کله چي له هغه [یعني د ګونګي له اشارې او لیکني] څخه داسي څه راڅرګند سي چي له هغه څخه دا معلومه سي چي دا اقرار دی فَهُوَ جَائِزٌ نو هغه جائز دي وَلَا يَجُوزُ ذٰلِكَ فِي الَّذِي يُعْتَقَلُ لِسَانُهُ او دا [اشاره او لیکنه...] د هغه کس په هکله جائز نه دي چي [د یو عارض په وجه] د هغه ژبه بنده سوې وي وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: يَجُوزُ فِي الْوَجْهَيْنِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي: چي په دواړو صورتونو کي جائز دي لِأَنَّ الْمُجَوِّزَ إِنَّمَا هُوَ الْعَجْزُ ځکه چي

جائز ګرځونکی شی عاجزي ده [یعني له نطق او وینا څخه د عاجزۍ په وجه دغه اشاره او لیکنه جائز ګرځي]
وَقَدْ شَمِلَ النَّفْصَيْنِ او عاجزي دواړو صورتونو لره شامله ده وَلَا فَرْقَ بَيْنَ الْأَصْلِيِّ وَالْعَارِضِيِّ او د اصلي
او عارضي عاجزۍ تر مینځ هیڅ فرق نسته كَالْوَحْشِيِّ وَالْمُتَوَحِّشِ مِنَ الْأَهْلِيِّ فِيْ حَقِّ الذَّكَاةِ لکه د ذکاة
[ذبح] په حق کي وحشي [ځنګلي] ښاروی او له کورني ښارويو څخه متوحش ښاروی.

اللغات: ﴿فُـرِيَ﴾ د فتح د باب ماضي مجهوله ده: لوستل. ویل. ﴿أُخرس﴾ ګونګی (ګونګ). د همېشه نپاره له ویلو او خبرو کولو څخه عاجز انسان. یعني چي د همېشه لپاره یې ژبه له خبرو څخه بنده وي. ﴿أومیٰ﴾ د افعال د باب ماضي ده: اشاره کول. ﴿وحشي﴾ ځنګلي. ترهېدونکی. ﴿متوحّش﴾ د تفعل د باب فاعل دی: د وحشي په څېر کېدونکی.

تشریح: **صورت د مسئلي**: دا دی چي که یو ګونګي سړي (اخرس) دیو چا لپاره وصیت وکړی او وصیت نامه یې ولیکله (خپله یا په بله چاپې ولیکله) او بیا یو څو کسانو د ده مخ ته هغه وصیت نامه ولوستله او ده ته یې وویل چي آیا موږ پر دغه وصیت نامه ګواهان سو. نو ده په خپل اشاره سره د هو کړي جواب ورکړی یعني سر یې طولاً وښوروی. یا د هو کړي او اقرار په هکله یې خط ولیکی. یا د ده له طرفه داسي کار صادر سو چي له هغه څخه د ده هو کړه او اقرار معلوم سو. نو دا جائز دي او په دې سره وصیتُ نافذیږي. لېکن دا حکم د هغه ګونګي دی کوم چي اصلي حقیقتاً ګونګی وي. او که څوک ګونګی نه وي لېکن د یو عارض په وجه د هغه ژبه بنده سوې وي. نو داسي کس زموږ په نېز ګونګی (أخرس) نه شمېرل کیږي او د هغه اشاره د هو کړي او اقرار دلیل نه کیږي.

وقال الشافعي إلخ: امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمایي چي څرنګه د ګونګي په حق کي اشاره او لیکنه (کتابت) د هو کړي او اقرار دلیل دی. همداسي د هغه چا په حق کي هم اشاره او لیکنه د هو کړي او اقرار دلیل دی چي د یو عارض په وجه د هغه ژبه بنده سوې وي او پر خبرو قادر نه وي: ځکه د اصلي ګونګي په حق کي اشاره او لیکنه په دې وجه هو کړه او اقرار منل سوی دی چي اصلي ګونګی له وینا او خبرو کولو څخه عاجزه وي. نو دا عارضي ګونګی یعني معتقلُ اللسان (د چا چي ژبه بنده سوې وي) هم له وینا او خبرو کولو سره عاجزه وي. او کله چي عجز د دواړو په حق کي ثابت دی. نو ځکه د دواړو حکم به یو وي چي د هر یوه اشاره او لیکنه به د هو کړي او اقرار دلیل وي.

د دې مثال دا دی لکه په وحشي ښارویو کي چي ذکاة اضطراري (زخمي کول) جائز دي چي د هغه وجه وحشي کېدل او ترهېدل دي (یعني په دې وجه چي دوی وحشي او ترهېدونکي ښاروان دي چي ذکاة اختیاري یعني ذبح ته غاړه نه ږدي)، او که یو کورنی ښاروی وحشي سي او وترهیږي. نو بیا په هغه کي

هم ذكاة اضطراري جائز دى؛ ځكه په دواړو كي د هغه د جائز كېدلو وجه له ذكاة اختياري (ذبح كولو) څخه عاجزه كېدل دي. نو همدغسي دلته هم په دواړو ګونګيانو (اصلي ګونګي او معتقلُ اللسان) كي د جواز وجه له نُطق او وينا څخه عاجزه كېدل دي.

د احنافو رايه او دليل

وَالْفَرْقُ لِأَصْحَابِنَا او زموږ د ملګرو [احنافو] لپاره [داخرس او معتقلُ اللسان] د فرق وجه دا ده أَنَّ الْإِشَارَةَ إِنَّمَا تُعْتَبَرُ إِذَا صَارَتْ مَعْهُودَةً مَعْلُومَةً چي اشاره خو هغه وخت معتبره كيږي كله چي هغه معروفه [پېژندل سوې] او معلومه وي وَذٰلِكَ فِي الْأَخْرَسِ دُوْنَ الْمُعْتَقَلِ لِسَانُهُ او دا خبره په اشاره د ګونګي كي سته، نه په [اشاره د] هغه كس كي چي ژبه يې بنده سوې وي حَتّٰى لَوِ امْتَدَّ ذٰلِكَ وَصَارَتْ لَهُ إِشَارَاتٌ مَعْلُوْمَةٌ تر دې چي كه هغه اعتقالُ اللسان [ژب بندي] اوږده سي او د معتقلُ اللسان لپاره [هم] معلومي اشارې وګرځي [يعني د هغه اشارې هم معروفه او معلومه وګرځي] قَالُوْا: هُوَ بِمَنْزِلَةِ الْأَخْرَسِ نو مشايخو فرمايلي دي؛ چي هغه د ګونګي په درجه كي دى وَلِأَنَّ التَّفْرِيْطَ جَاءَ مِنْ قِبَلِهِ او ځكه چي كوتاهي [او لاپروايي] د هغه له طرفه راغلې ده حَيْثُ أَخَّرَ الْوَصِيَّةَ إِلٰى هٰذَا الْوَقْتِ په دې حيثيت سره چي هغه [معتقلُ اللسان] تر دې وخته پوري وصيت وځنډوى أَمَّا الْأَخْرَسُ فَلَا تَفْرِيْطَ مِنْهُ او هر چي ګونګى دى نو د هغه له طرفه هيڅ كوتاهي نسته وَلِأَنَّ الْعَارِضَ عَلٰى شَرَفِ الزَّوَالِ دُوْنَ الْأَصْلِيِّ او ځكه چي عارضي عذر د زائلېدلو [او ختمېدلو] پر څنډه دى. نه اصلي عذر [يعني د عارضي عجز (كوم چي د يو عارض په وجه وي) د ختمېدلو اُميد سته او زايلېدلو ته نژدې دى] فَلَا يَتَقَاسَانِ نو ځكه يو به پر بل نه قياس كيږي وَفِي الْآبِدَةِ عَرَفْنَاهُ بِالنَّصِّ او په وحشي څاروي كي موږ هغه په نص سره پېژندلي دي.

اللغات: ﴿معهودة﴾ د سمع له بابه مفعول دى: معروف يعني پېژندل سوى، معلوم، مشهوره.

﴿معتقل﴾ د افتعال د باب مفعول دى: بند سوى، معتقل اللسان: د چا چي ژبه بنده سوې وي.

﴿تفريط﴾ د تفعيل د باب مصدر دى. د دې باب څو معناوي دي چي له هغوى څخه يوه معنىٰ دا ده: كوتاهي كول، كمي كول، التفريط (كوتاهي او كمي). ﴿آبدة﴾ د سمع له بابه د مؤنث فاعل صيغه ده: ترهېدونكي، وحشي، ځنګلي.

تشریح: مخکي زموږ مسلک ذکر سو چي زموږ په نېز په اخرس او معتقلُ اللسان (اصلي ګونګي او عارضي ګونګي) کي فرق دی چي د اخرس اشاره معتبره ده او د معتقلُ اللسان اشاره معتبره نه ده. نو دلته زموږ له طرفه هغه فرقونه او د فرق وجهي بیانوي چي د دوی تر مینځ کوم فرق دی: ①... اول فرق خو یې دا دی چي اشاره د همغه کس معتبره ده چي د هغه اشارې په خلګو کي معروفه (پېژندل سوي) او معلومه وي او خلک په هغوی پوهیږي او دا ښکاره خبره ده چي اشارې صرف د اخرس (دائمي ګونګي) معروفه او معلومه وي او د معتقلُ اللسان (یعني په عارضي توګه چي د کوم چا ژبه بنده سوې وي د هغه) اشارې معروفه نه وي. نو ځکه صرف د اخرس اشاره به معتبره وي او د معتقلُ اللسان اشارو لره به اعتبار نه وي. ها! که چیري د معتقلُ اللسان د ژبي بندېدلو وخت اوږد سي چي تر ډېري زمانې پوري هغه همداسي ګونګی او ژبه یې بنده وي. نو بیا هغه د اخرس (اصلي ګونګي) په حکم سره ګرځي. (د اوږد والي او امتداد وخت د ځیني حضراتو په وړنا یو کال دی. خو ځیني نورو حضراتو بیا ویلي دي چي کله اعتقال [ژب بندي] د مرګ تر وخته پوري اوږده سي. نو د داسي کس اشاره د اقرار او هو کړي دلیل دی او په هغه سره دلیل نیول جائز دي: ځکه اوس هغه ته داسي عجز لاحق سو چي د زوال اُمید یې نسته. نو داسي کس د اخرس په حکم سره دی (منیه الفتویٰ [اشرف الهدایه])).

②... دویم فرق په اخرس او معتقلُ اللسان کي دا دی چي اخرس قصور واره نه دی او معتقلُ اللسان قصور واره او لا پروایي کونکی دی، په دې توګه چي هغه د ژب بندۍ تر وخته پوري وصیت پرې ایښی وو. او اوس چي کله د هغه ژبه بنده سوه نو وصیت یې وکړی. لهذا په دې کي خو د هغه قصور او کوتاهي ده چي مخکي پر وړنا او خبرو قادر وو لیکن هغه وصیت نه وکړی او د عاجزۍ تر وخته پوري یې وځنډوی. که چیري هغه له مخکي څخه وصیت کړي وای نو اوس به هیڅ ستونزه نه وای.

③... درېیم فرق دا دی چي د اخرس عذر (ژب بندي) اصلي او دائمي ده، حال دا چي د معتقلُ اللسان ژب بندي عارضي ده چي د زایلېدلو امکان یې سته. نو په دې حواله سره هم په دواړو کي فرق دی. لهذا یو به پر بل نه قیاسول کیږي او د دواړو احکام به سره جلا وي.

ولی الآبدة إلخ: او پاته سو د امام شافعي رَحِمَهُ الله قیاس، چي هغه د اخرس او متعقلُ اللسان مسئله پر وحشي او کورني متوحّش ښاروي قیاس کړې وه. نو د هغه جواب دا دی چي په کورني متوحّش ښاروي کي د ذکاة اضطراري د جواز وجه وحشي کېدل او پر وحشي قیاسول نه دي. بلکي په کورني متوحّش ښاروي کي په دې وجه ذکاة اضطراري جائز دی چي د هغه د جواز په هکله نصّ وارد سوی دی. او نصّ د رافع بن خدیج ﷺ روایت دی کوم چي په حاشیه کي مذکوره دی "أنّ بعیرًا من أهل الصدقات ندّ (أبد) فرماه رجلٌ بسهمٍ وسمّی فقتله، فقال ﷺ ...." یعني د صدقې له اوښانو څخه یو

اوښ وترهېدی (وحشي سو). او یو سړي په بسم الله سره هغه اوښ په غشي وویشتی او قتل یې کړی.
نو نبي ﷺ وفرمایل چې د وحشي حیوانانو په څېر دا اوښان هم ترهیږي او وحشي کیږي بهذا کله چې هغوی داسي وکړي، نو تاسي هم هغسي ور سره وکړئ! کوم چې ناسي د دغه اوښ سره وکړه او بیا هغه وخورئ!)، له دغه نص څخه دا خبره څرګنده سوه چې په کورني متوحش څاروي کې د ذکاة اضطراري جائز کېدل د نص پر بناء دي، نه د قیاس پر بناء، او قاعده دا ده چې کوم شی خلاف القیاس په نص سره ثابت وي، پر هغه بل شی قیاسول جائز نه دي. نو ځکه د ګونګي او معتقل اللسان مسئله د متوحش کورني څاروي پر مسئلې قیاسول صحیح نه دي.

د ګونګي د طلاق، عتاق او د بیع و شراء حکم کله چې هغه لیکنه او اشاره کولای سي

قَالَ: وَإِذَا كَانَ الْأَخْرَسُ يَكْتُبُ كِتَابًا فرمایي: او کله چې ګونګی کس خط لیکلای سي أَوْيُومِئُ إِيمَاءً يُعْرَفُ بِهِ یا داسي اشاره کوي کوم چې پېژندل کیږي فَإِنَّهُ يَجُوزُ نِكَاحُهُ وَطَلَاقُهُ وَعَتَاقُهُ وَبَيْعُهُ وَشِرَاؤُهُ نو د هغه نکاح، د هغه طلاق، د هغه آزادول او د هغه خرڅول او رانیول [تول] جائز دي وَيُقْتَصُّ لَهُ وَمِنْهُ او د هغه لپاره به [له بل چا څخه] قصاص اخیستل کیږي او له هغه څخه به [هم] قصاص اخیستل کیږي وَلَا يُحَدُّ وَلَا يُحَدُّ لَهُ او پر هغه [ګونګي] به حد نه جاري کول کیږي او نه به د هغه لپاره [پر بل چا] حد جاري کول کیږي أَمَّا الْكِتَابَةُ فَلِأَنَّهَا مِمَّنْ نَأَى بِمَنْزِلَةِ الْخِطَابِ مِمَّنْ دَنَا کوم چې کتابت [لیکنه] ده نو ځکه چې کتابت د هغه کس له طرفه کوم چې لیري وي د هغه چا د خطاب په درجه کې دی کوم چې نژدې وي [یعني د لیري کس له طرفه کتابت او لیکنه د نژدې کس د خطاب او تکلم په درجه کې ده] أَلَا تَرَى أَنَّ النَّبِيَّ الْعَلِيلَا أَدَّى وَاجِبَ التَّبْلِيغِ مَرَّةً بِالْعِبَارَةِ وَتَارَةً بِالْكِتَابَةِ إِلَى الْغُيَّبِ آیا ته نه ګورې! چې نبي کریم ﷺ د تبلیغ [دین رسولو] فریضه کله په عبارت [الفاظو] سره اداء کړې ده او کله یې غائبینو ته د خط لیکني په ذریعه اداء کړې ده وَالْمُجَوِّزُ فِي حَقِّ الْغَائِبِ الْعَجْزُ او د غائب په حق کي [د کتابت او اشارې] جائز ګرځونکی شی عاجزي ده وَهُوَ فِي حَقِّ الْأَخْرَسِ أَظْهَرُ وَأَلْزَمُ او دا عاجزي د ګونګي په حق کي زیاته ښکاره او [د هغه سره] زیاته لازمه ده.

اللغات: ﴿يُقْتَصُّ﴾ د افتعال [ل] بابه مضارع مجهوله ده: قصاص اخیستل. ﴿نَأَى﴾ د ماضي صیغه ده.
نَأَى نَأْيًا: لیري کېدل. ګوښه کېدل. ﴿دنا﴾ د نصر د باب ماضي ده: نژدې کېدل. ﴿تارةً﴾ کله. یو ځل. ﴿مُجوِّز﴾ د تفعیل د باب فاعل دی: اجازه ورکونکی.

تشریح: **صورت د مسئلې**: دا دی چې که چیرې ګونګی کس پر لیکنه قادر وي یا داسې اشارې کوي کوم چې معروفه او معلومه وي یعنې خلک په پوهیږي. نو د لیکنې او اشارې په ذریعه د هغه نکاح. طلاق. عتاق او د هغه بیع او شراء ټوله جائز کیږي او نافذیږي. همدارنګه که دا ګونګی پر خپل ځان د قصاص اقرار وکړي. نو له هغه څخه به قصاص اخیستل کیږي. همدا ډول که هغه پر بل چا د قصاص دعوی وکړي (چې مثلاً فلانکي زما غاښ کښلی دی. لهذا له هغه څخه دي زما قصاص واخیستل سي) او په بینه سره قصاص ثابت سي. نو د ده لپاره به له هغه بل چا څخه قصاص اخیستل کیږي.

ها! د حد اخیستلو او پر بل چا د حد جاري کولو لپاره د ګونګي لیکنې او اشارې لره اعتبار نسته (یعني که اخرس د لیکنې یا اشارې په ذریعه پر خپل ځان د حد اقرار وکړي یا پر بل چا د حد دعوی وکړي. نو هغه لره اعتبار نسته. لهذا نه به پر هغه حد جاري کول کیږي او نه به د هغه لپاره پر بل چا حد جاري کول کیږي). او له دې څخه بغیر په نورو شیانو کې به د هغه د لیکنې او اشارې اعتبار کیږي. او پاته سو د حد او قصاص تر مینځ فرق او د هغه وجه او دلیل به څه وروسته بیان کړل سي.

د اخرس (ګونګي) د لیکنې او کتابت د جائز کېدلو او معتبر کېدلو دلیل دا دی چې که یو لیرې غائب کس بل چا ته لیک او خط واستوي او د هغه په ذریعه د څه شي خبر ورکړي نو دا جائز او معتبر دي ځکه د لیرې غائب کس له طرفه خط او لیکنه د نږدې کس د خطاب او تکلم (خبري کولو) په درجه کې ده یعني کوم مقام او درجه چې د نږدې کس د تکلم ده. هاغه درجه د لیرې کس د خط او لیکنې هم ده: د دې ښکاره دلیل دا دی چې نبي کریم ﷺ نږدې او حاضرو خلکو ته د خپل مبارک خطاب او تکلم په ذریعه د دین لاربښوونه کوله او غائبینو ته یې د خط او لیکنې په ذریعه د دین لاربښوونه کوله. لنډه دا چې کله د غائب خط او کتابت جائز او معتبر دی نو د اخرس (ګونګي) خط او کتابت به په درجه اولیٰ جائز او معتبر وي: ځکه کومه عاجزي چې د غائب په حق کې ثابته ده چې غائب کس و نورو غائبینو ته پر تکلم قادر نه دی. نو دغه عاجزي خو په اخرس کې له غائب څخه هم زیاته او د هغه سره لازمه ده چې هغه په دائمي توګه له تکلم څخه عاجزه دی. او غائب کس صرف په یو درجه کې له تکلم څخه عاجزه دی او که هغه د غائبینو ځای ته ورسیږي نو د هغه عجز عن التکلم ختمیږي. لېکن د اخرس عجز هیڅکله هم نه ختمیږي. نو ځکه د اخرس لیکنه او د هغه اشاره به په هر حال کې معتبره وي.

د کتابت قسمونه ددد

ثُمَّ الْكِتَابَةُ عَلَىٰ ثَلَاثِ مَرَاتِبَ بيا كتابت [ليكنه] پر دريو درجو ده مُسْتَبِينٌ مَرْسُومٌ [١] مستبين مرسوم كتابت وَهُوَ بِمَنْزِلَةِ النُّطْقِ فِي الْغَائِبِ وَالْحَاضِرِ عَلَىٰ مَا قَالُوا او هغه [مستبين مرسوم كتابت] د غائب او حاضر دواړو په حق كي د وينا كولو په درجه كي دى وَمُسْتَبِينٌ غَيْرُ مَرْسُومٍ [٢] او مستبين غير مرسوم كتابت كَالْكِتَابَةِ عَلَى الْجِدَارِ وَأَوْرَاقِ الْأَشْجَارِ لكه پر دېوال او د درختو پر پاڼو ليكنه وَيُنْوَىٰ فِيهِ او په داسي كتابت كي به [دليكونكي] د نيت طلب كول كيږي [يعني د هغه نيت به معلومول كيږي] لِأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ صَرِيحِ الْكِنَايَةِ ځكه چي دا قسم كتابت د صريح كنايه [كنايهٔ توليه] په درجه كي دى فَلَابُدَّ مِنَ النِّيَّةِ نو ځكه نيت ضروري دى وَغَيْرُ مُسْتَبِينٍ [٣] او غير مستبين كتابت كَالْكِتَابَةِ عَلَى الْهَوَاءِ وَالْمَاءِ لكه په هوا او اوبو باندي ليكنه وَهُوَ بِمَنْزِلَةِ كَلَامٍ غَيْرِ مَسْمُوعٍ او دا قسم كتابت د نا اورېدل سوي كلام په درجه كي دى فَلَا يَثْبُتُ بِهِ الْحُكْمُ نو ځكه د هغه په وجه به حكم نه ثابتيږي.

اللغات: ﴿مستبين﴾ د استفعال د باب فاعل دى: واضح خط او ليكنه كوم چي ويل كېدلاى سي. مراد ځني هغه خط دى كوم چي پر كاغذ او داسي نورو ليكل سوى وي ځكه چي هغه ويل كېدلاى سي. او له غير مستبين ځخه مراد د اوبو او هوا ليكنه ده ځكه چي هغه نه سي ويل كيدلاى.

﴿مرسوم﴾ د نصر د باب مفعول دى. خپله معنىٰ يې ده: ليكل سوى. مراد ځني مُعَنْوَن دى يعني داسي خط او ليكنه چي په شروع كي يې عنوان يعني مِن فلان إلىٰ فلان ليكل سوي وي (حاشيه).

﴿نُطق﴾ د ضرب د باب مصدر دى: وينا كول. خبره كول. ﴿أوراق﴾ جمع د وَرَقٌ ده: پاڼه. ورق الشجر: د درختي پاڼه. ورق الكتاب: د كتاب او ليكني پاڼه.

تشريح: څه مخكي چي د كتابت يادونه وسوه. په دې عبارت كي د هغه قسمونه او حكمونه بيانوي. نو فرمايي چي كتابت يعني ليكنه پر درې قسمه ده:

(١)... مستبين مرسوم كتابت. د دې مطلب دا دى چي خط او ليكنه واضح (څرګنده) وي كوم چي ويل كېدلاى سي او هغه له عنوان هم وي. مثلاً داسي ليكنه سوې وي "من فلان بن فلان إلى فلان بن

فلان" زما له طرفه "فلان بن فلان" آزاد دی یا داسي نور. د مُستبین مرسوم حکم دا دی چي داسي کتابت د حاضر او غائب دواړو په حق کي د نُطق او تکلم نائم مقام دی.

(۲)... مُستبین غیر مرسوم کتابت. یعني خط او لیکنه خو واضح وي (ویل کېدلای سي). لېکن پر هغه عنوان درج نه وي یعني "من فلان بن فلان إلیٰ فلان بن فلان" (یعني د مُرسل او مُرسل إلیه نوم او پته) بانډي درج نه وي. مثلاً پر دېوال یا د درختو پر پاڼو یې لیکنه کړې وای. د دې حکم دا دی چي په داسي لیکنه کي به د لیکونکي نیت پوښتل کیږي او د هغه پر نیت به فیصله کول کیږي: ځکه چي دا قسم خط او لیکنه د صریح کنایه په درجه کي ده. لهذا ځرنګه چي په کنایه کي نیت معلومول کیږي. نو همداسي به په دغه لیکنه کي هم نیت معلومول کیږي او د هغه مطابق به فیصله کول کیږي. (مصنف رَحِمَهُ الله فرمایلي دي لأنه بمنزلة صریح الکنایة. یعني د لیکني دغه قسم داسي دی لکه هغه چي تولا کنایه استعمال کړې وي. نو له صریح الکنایه ځخه مراد "کنایهٔ تولیه" ده او په هغه کي نیت ته ضرورت وي. نو همداسي به دلته هم وي)

(۳)... غیر مُستبین کتابت. یعني داسي خط او لیکنه کوم چي واضح نه وي یعني ته سي ویل کېدلای. لکه په اُوبو کي لیکنه یا په هوا او فضا کي لیکنه (چي د ګوتو په اشارو سره لیکنه وکړي). د دې حکم دا دی چي دا قسم لیکنه د کلام غیر مسموع (نا اورېدل سوي خبري) په درجه کي ده. لهذا ځرنګه چي په نا اورېدل سوې خبره سره هیڅ حکم نه ثابتیږي. نو همداسي په دغه لیکنه سره به هم هیڅ حکم نه ثابتیږي.

د ګونګي د اشارې حکم او تفصیل

وَأَمَّا الْإِشَارَةُ فَجُعِلَتْ حُجَّةً فِي حَقِّ الْأَخْرَسِ فِي حَقِّ هٰذِهِ الْأَحْكَامِ او کوم چي اشاره ده نو هغه د ګونګي په حق کي د دغه احکامو [یعني د نکاح وغیره] په هکله [ځکه] حجت ګرځول سوې ده لِلْحَاجَةِ إِلَىٰ ذٰلِكَ ځکه چي دې احکامو ته ضرورت دی لِأَنَّهَا مِنْ حُقُوقِ الْعِبَادِ ځکه چي دا احکام [نکاح وغیره] له حقوق العباد ځخه دي وَلَا تَخْتَصُّ بِلَفْظٍ دُونَ لَفْظٍ او دا احکام دیوه لفظ نه بل لفظ سره مختص نه دي [یعني د مخصوصه الفاظو سره مختص نه دي] وَقَدْ تَثْبُتُ بِدُونِ اللَّفْظِ او ځیني وخت خو د لفظ ځخه بغیر [هم] دا احکام ثابتیږي وَالْقِصَاصُ حَقُّ الْعَبْدِ أَيْضًا او قصاص هم د بنده حق دی وَلَا حَاجَةَ إِلَى الْحُدُودِ او حدونو ته ضرورت نسته [یعني د نکاح وغیره په څېر حد قذف او داسي نور حدونو ته

ضرورت نسته [لِأَنَّهَا حَقُّ اللهِ تَعَالَى ځکه چې حدونه د الله تعالىٰ حق دي وَلِأَنَّهَا تَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ او ځکه چې حدونه په شبهاتو سره ليرې کيږي [ساقطيږي] وَلَعَلَّهُ كَانَ مُصَدِّقًا لِلْقَاذِفِ او کېدلای سي چې هغه [ګونګي] د قاذف تصديق کونکی وي فَلَا يُحَدُّ لِلشُّبْهَةِ نو د شبهې په وجه به حد نه پرې جاري کول کيږي وَلَا يُحَدُّ أَيْضًا بِالْإِشَارَةِ فِي الْقَذْفِ او په قذف کې به [د ګونګي] د اشارې په وجه هم حد نه پرې جاري کول کيږي لِانْعِدَامِ الْقَذْفِ صَرِيحًا د صراحتاً قذف د نشتوالي په وجه وَهُوَ الشَّرْطُ حال دا چې هغه [صراحتاً قذف] شرط دي [يعني د حد قذف لپاره صراحتاً د زنا تهمت لګول شرط دي]

اللغات: ﴿حجة﴾ د قضاء په محاوره کې د حجت معنىٰ ده: دليل. ﴿تندرئ﴾ د انفعال د باب مضارع ده: ليرې کېدل. دفع کېدل. (ساقطېدل). ﴿قَذْف﴾ د ضرب د باب مصدر دی: پر يو چا صراحتاً يا ضمناً د زنا تهمت لګول. پر يو کس په دوه دروغه د زنا تور لګول. او قاذف له همدې باب څخه فاعل دی.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې مخکې د ګونګي (اخرس) اشاره چې د نکاح او طلاق او د بيع او شراء په احکامو کې حجت او معتبره منل سوې ده او په اشاره سره د ګونګي له طرفه دا عقود جائز او معتبر ګرځول سي دي. هغه د ضرورت او احتياج پر بناء دي: ځکه دا ټوله عقدونه د حقوق العباد سره متعلق دي او د بندګانو د ضرورت په خاطر هغوی صحيح ګرځول سخت ضروري دي. همدا وجه ده چې دغه عقود او احکام د مخصوصه الفاظو يا صرف د عربي ژبې د الفاظو سره مختص نه دي. بلکې په عامو الفاظو او د پښتو. فارسي او هري ژبې په الفاظو سره هغوی منعقد کيږي او ځيني وخت خو له الفاظو څخه بغير هم هغوی منعقد کيږي، لکه څرنګه چې بيع تعاطي ده چې هغه بغير له الفاظو منعقد کيږي. او لکه څرنګه چې د فضولي په نکاح کې پر تکلم او خبرو قدرت وي خو بيا هم هغه نکاح له تکلم څخه بغير منعقد کيږي. لهذا کله چې دغه عقدونه د قادر الکلام کس له طرفه بغير له کلام او الفاظو څخه هم منعقد کيږي. نو څوک چې ګردسره پر کلام قادر نه وي يعني ګونګی (اخرس). د هغه له طرفه خو به په درجه اولىٰ بغير له الفاظو څخه دا منعقد کيږي.

والقصاص إلخ: د دې حاصل دا دی چې قصاص هم حق العبد دی. نو ځکه قصاص هم د ګونګي په اشاره سره ثابتيږي: ځکه چې د هغه اثبات ته هم ضرورت دی. خو حدود (حدونه) د ګونګي په اشاره اوليکنه سره نه ثابتيږي (لکه مخکې چې هم ذکر سوه). نو که هغه په اشاره سره پر خپل ځان د حد قذف اقرار وکړي يا پر بل کس د حد قذف دعوىٰ وکړي. نو دې لره اعتبار نسته. لهذا نه به پر ګونګي حد جاري کول کيږي او نه به پر هغه بل کس حد جاري کول کيږي د چا په خلاف چې ګونګي دعوىٰ

کړې ده: ځکه چې حدود خو يو حق الله دي او د هغوی اثبات لره دومره ضرورت نسته. څومره ضرورت چې د حقوق العباد اثبات لره سته. او دويم دا چې په اشاره کې څو احتمالات وي او دا ضروري نه ده چې د ګونګي اشاره دي نو خامخا پر قذف (تهمت) مبني وي. بلکې دا هم کېدلای سي چې هغه په دې اشاره سره د قاذف تصديق کوي. لهذا د اشارې په ذريعه په قذف ثابتولو کې شک دی او د شک په وجه حدود ساقطيږي لکه څرنګه چې دا د فقهي مشهوره قاعده ده چې "الحُدُوْدُ تَنْدَرِئُ بِالشُّبُهَاتِ". او درېيم دا چې د قذف د ثابتولو لپاره صراحتاً (په ښکاره الفاظو سره) د قذف اقرار کول ضروري دي. حال دا چې په اشاره کې خو هيڅ صراحت هم نسته او بالکل پکښې معدوم دی. نو ځکه په دې حواله هم سره د اشارې په ذريعه قذف وغيره نه سي ثابتېدلای.

په حد او قصاص کې فرق

ثُمَّ الْفَرْقُ بَيْنَ الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ بيا د حدونو او قصاص په مينځ کې فرق دا دی أَنَّ الْحَدَّ لَا يَثْبُتُ بِبَيَانٍ فِيْهِ شُبْهَةٌ چې حد په داسي بيان سره نه ثابتيږي چې په هغه کې شبهه وي أَلَا تَرَىٰ أَنَّهُمْ لَوْ شَهِدُوْا بِالْوَطْءِ الْحَرَامِ آيا ته نه ګورې! چې ګواهان که د ناروا وطي ګواهي ورکړي أَوْ أَقَرَّ بِالْوَطْءِ الْحَرَامِ يا يو څوک [پر خپل ځان] د ناروا وطي اقرار وکړي لَا يَجِبُ الْحَدُّ نو حد نه واجبيږي وَلَوْ شَهِدُوْا بِالْقَتْلِ الْمُطْلَقِ او که ګواهان د مطلق قتل ګواهي ورکړي أَوْ أَقَرَّ بِمُطْلَقِ الْقَتْلِ يا يو څوک [پر خپل ځان] د مطلق قتل اقرار وکړي يَجِبُ الْقِصَاصُ نو قصاص واجبيږي وَإِنْ لَمْ يُوْجَدْ لَفْظُ التَّعَمُّدِ که څه هم [په دې ګواهي او اقرار کې] د تعمد [عمداً قتل کولو] لفظ موجود نه دی وَهٰذَا لِأَنَّ الْقِصَاصَ فِيْهِ مَعْنَى الْعِوَضِيَّةِ او دا ځکه چې په قصاص کې د عوض کېدلو معنیٰ سته لِأَنَّهُ شُرِعَ جَابِرًا ځکه چې قصاص [د قتل] د تلافي کونکي [جبران] په توګه مشروع سوی دی فَجَازَ أَنْ يَثْبُتَ مَعَ الشُّبْهَةِ لهذا د شبهې سره [يعني د شبهې باوجود] د هغه ثابتېدل جائز دي [چې شبهه د هغه لپاره نه مانع کيږي] كَسَائِرِ الْمُعَاوَضَاتِ الَّتِيْ هِيَ حَقُّ الْعَبْدِ لکه هغه ټول معاوضات کوم چې د بنده حق دي [يعني لکه څرنګه چې هغوی د شبهې سره ثابتيږي. نو همداسي به قصاص هم د شبهې سره ثابتيږي] أَمَّا الْحُدُوْدُ الْخَالِصَةُ لِلّٰهِ تَعَالىٰ فَشُرِعَتْ زَوَاجِرَ او پاته سوه حدود کوم چې خالص د الله تعالیٰ حق دي نو هغه د

زواجرو [منع کونکو] په توګه مشروع سوي دي وَلَيْسَ فِيْهَا مَعْنَى الْعِوَضِيَّةِ او په هغوی کي د عوض کېدلو معنیٰ نسته فَلَا تَثْبُتُ مَعَ الشُّبْهَةِ نو ځکه حدود به د شبهي سره نه ثابتيږي لِعَدَمِ الْحَاجَةِ د ضرورت د نشتوالي په وجه [چي د شبهي سره ثابتېدلو ته يې ضرورت نسته].

اللغات: ﴿التعمّد﴾ د تفعّل د باب ده: قصداً کول (په قصده کول). ﴿جابر﴾ تلافي کونکی (هغه شی چي د نقصان او تاوان پر ځای دربږي). جبران کونکی. د نقصان پوره کونکی. ﴿سائر﴾ د دې لفظ دوې معناوي نقل سوي دي: (۱) ټوله (تمام). (۲) باقي (پاته. نور). ﴿زواجر﴾ جمع د زَاجِر ده: منع کونکی. رټونکی او تنبیه ورکونکی.

تشریح: د ګونګي (اخرس) په مسئله کي دا سوال پیدا کېدی چي دلته په قصاص او حدودو کي ولي دومره فرق دی چي د ګونګي په لیکنه او اشاره سره قصاص خو جائز دی او نافذیږي. لېکن د هغه په لیکنه او اشاره سره حدود نه نافذیږي. حال دا چي په ښکاره د دواړو درجه یوه ده.

نو مذکوره عبارت د هغه د جواب په توګه دی چي د حدودو او قصاص تر مینځ فرق سته او هغه فرق دا دی چي په حدودو ګي لږ شبهه هم نه زغمل کیږي او معمولي شبهه د هغوی د ثبوت لپاره مانع ګرځي. حال دا چي په قصاص کي لږ غوندي شبهه هم زغمل کیږي او معمولي شبهه د هغه د ثبوت لپاره مانع نه ګرځي یعني د معمولي شبهي سره هم قصاص ثابتیږي. همدا وجه ده که یو څو خلکو دا ګواهي ورکړه چي فلانکي سړي ناروا وطي کړي دي مثلاً د حیض په حالت کي یې وطي کړي دي یا هغه د مجوسیه ښځي سره وطي کړي دي. یا یو چا خپله دا اقرار وکړی چي ما ناروا وطي کړي دي. نو په دغه ګواهي یا اقرارُ سره حدّ (د زنا حد) نه واجبیږي. لېکن که ګواهانو دا ګواهي ورکړه چي دا کس فلانکي قتل کړی دی. یا یو چا دا اقرار وکړی چي دا کس ما قتل کړی دی. نو قتل ثابتیږي او پر هغه قصاص واجبیږي که څه هم ګواهانو دا صراحت نه وي کړی چي هغه قتل عمد کړی دی. یعني د عمد له صراحت څخه بغیر قصاص واجبول کیږي. حال دا چي په هغه کي د عدم عمد (یعني د قتلِ خطا وغیره) شبهه هم موجوده ده. لېکن بیا هم دا شبهه په قصاص کي زغمل سوې ده او قصاص ثابت کړی سوی؛ د دې وجه دا ده چي په قصاص کي د عوض او بدل کېدلو (عوضیت) معنیٰ سته؛ ځکه چي قصاص حقُ العبد دی او هغه له قاتل څخه د صادرېدونکي ګناه د تلافی لپاره مشروع سوی دی (یعني قصاص د دې لپاره په شریعت کي جاري کړی سوی دی چي د قاتل له طرفه کوم جرم پر مقتول بنده صادر سوی دی. په قصاص سره د هغه تلافي او جبران وسي). او حقوقُ العباد د معمولي شبهي سره هم ثابتیږي. نو ځکه قصاص به هم د معمولي شبهي سره ثابتیږي.

د دې په خلاف په حدودو کي د عوض کېدلو معنیٰ نسته. بلکي حدود خالص د الله تعالیٰ حق دي او هغوی د زواجزو په توګه مشروع سوي دي (یعني حدونه د دې لپاره مشروع سوي دي چي خلک له دې جرمونو (زنا، قذف وغیره) څخه منع سي. او د بنده د حق د تلافي لپاره نه دي مشروع سوي). لهذا د شبهې د پیدا کېدلو په وخت کي (د شبهې سره) د هغوی د ثابتېدلو څه ضرورت نسته. نو ځکه د شبهې په وجه حدود ساقطیږي (په لنډه وینادا چي قصاص جابر [تلافي کونکی] دی او حد زاجر [منع کونکی] دی او په جابر کي د شبهې تحمل کېدلای سي. لېکن په زاجر کي د شبهې تحمل نه سي کېدلای).

د غائب کس خط او لیکنه د قصاص لپاره حجت کېدلای سي که نه؟

وَذُكِرَ فِي كِتَابِ الْإِقْرَارِ أَنَّ الْكِتَابَ مِنَ الْغَائِبِ لَيْسَ بِحُجَّةٍ فِي قِصَاصٍ يَجِبُ عَلَيْهِ او د مبسوط [په كتاب الاقرار كي ذكر سوي دي چي د غائب خط د هغه قصاص په هكله حجت نه دی کوم چي پر ده [یعني پر غائب] واجب وي وَيُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ الْجَوَابُ هُنَا كَذٰلِكَ او احتمال سته چي هلته [یعني په مبسوط کي (د اخرس په هکله)] جواب همداسي وي [چي خط او کتابت د اخرس (ګونګي) په حق کي هم حجت نه دی] فَيَكُونُ فِيهِمَا رِوَايَتَانِ نو په دوی دواړو [یعني په غائب او اخرس] کي به دوه روایتونه سي وَيُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ مُفَارِقًا لِذٰلِكَ او دا احتمال هم سته چي اخرس له غائب څخه جلا وي لِأَنَّهُ يُمْكِنُ الْوُصُولُ إِلَىٰ نُطْقِ الْغَائِبِ فِي الْجُمْلَةِ ځکه چي د غائب نطق [وینا] ته رسېدل فی الجمله [په یو درجه کي] ممکن دي لِقِيَامِ أَهْلِيَّةِ النُّطْقِ ځکه چي [په غائب کي] د نطق اهلیت قائم [موجود] دی وَلَا كَذٰلِكَ الْأَخْرَسُ او ګونګی داسي نه دی لِتَعَذُّرِ الْوُصُولِ إِلَى النُّطْقِ ځکه چي [د هغه] نطق ته رسېدل ناممکن دي لِلْآفَةِ الْمَانِعَةِ د هغه آفت په وجه کوم چي [د نطق] منع کونکی دی.

اللغات: ﴿مفارق﴾ د مفاعلې د باب فاعل دی: یو له بل څخه جلا. بېل.

تشریح: مخکي خو د جامع صغیر عبارت وو چي د هغه حاصل دا وو چي که ګونګی (اخرس) د لیکني یا د اشارې په ذریعه پر خپل ځان د قصاص اقرار وکړي، نو د هغه لیکنه یا اشاره معتبره ده او په دې سره پر هغه قصاص واجبیږي چي د هغه تفصیل مخکي بیان سو.

او دلته د مبسوط په حواله سره دا بیانوي که یو غائب کس د لیکني او کتابت په ذریعه پر خپل ځان د قصاص اقرار وکړي. نو د قصاص واجبېدلو په هکله د هغه لیکنه معتبره نه ده او په دې سره پر هغه قصاص نه واجبیږي. صاحب د هدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي دا احتمال هم کېدلای سي چي په

مبسوط کي داخرس (ګونګي) دليکنې هم دغه حکم وي کوم چي دغائب دليکنې دی يعني داخرس په ليکنه سره به هم پر هغه قصاص نه واجبيږي. لېکن په جامع صغير کي داخرس په ليکنه سره پر هغه قصاص واجب کړی سوی دی. که چيري موږ دمبسوط احتمال داخرس په حق کي معتبر وبسو نو داخرس په هکله به دوه روايتونه سي: (۱) يو دجامع صغير روايت. چي په هغه کي دليکنې په ذريعه د اخرس د قصاص اقرار معتبر دی. (۲) دمبسوط روايت چي هلته دا اقرار معتبر نه دی.

ويحتمل أن يكون مفارقا إلخ: فرمايي چي دلته دا احتمال هم کېدلای سي چي په مبسوط کي کوم حکم ذکر سوی دی. هغه فقط دغائب په حق کي وي او د اخرس (ګونګي) سره د هغه هيڅ تعلق نه وي او دليکنې په ذريعه د قصاص په وجوب کي داخرس او غائب تر مينځ فرق وي: او وجه د فرق يې دا ده چي په غائب کي دنُطق او تکلم اهليت موجود دی او هغه په يو درجه کي پر نطق (وينا) قدرت لرونکی دی چي د هغه نطق او تکلم ته رسېدل ممکن دي. نو ځکه پر نُطق او تکلم د قدرت لرلو په وجه د هغه ليکنه او خط معتبر نه دی ګرځول سوی. لېکن په اخرس کي د آفت په وجه بالکل د نطق اهليت معدوم دی او د هغه په حق کي دنُطق او تکلم هيڅ امکان نسته. نو ځکه د قصاص د وجوب په هکله د هغه ليکنه او کتابت معتبر ګرځول سوی دی.

د هغه کس د اشارې حکم کوم چي پر کتابت (ليکنه) قادر وي

وَدَلَّتِ الْمَسْأَلَةُ عَلَى أَنَّ الْإِشَارَةَ مُعْتَبَرَةٌ وَإِنْ كَانَ قَادِرًا عَلَى الْكِتَابَةِ او دا [دمتن] مسئله پر دې دلالت کوي چي [دګونګي] اشاره معتبره ده که څه هم هغه پر ليکنه قدرت لرونکی وي بِخِلَافِ مَا تَوَهَّمَهُ بَعْضُ أَصْحَابِنَا أَنَّهُ لَا تُعْتَبَرُ الْإِشَارَةُ مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْكِتَابَةِ په خلاف د هغه وهم کوم چي زموږ بعضي ملګرو کړی دی چي پر ليکنې د قدرت سره اشاره معتبره نه ده لِأَنَّهُ حُجَّةٌ ضَرُورِيَّةٌ [دهغو دليل دا دی] چي اشاره دضرورت پر بناء حجت دی وَلَا ضَرُورَةَ او [دلته] ضرورت نسته لِأَنَّهُ جَمَعَ هَهُنَا بَيْنَهُمَا اخو پر ليکنې د قدت لرلو سره داشارې دمعتبر کېدلو دليل دا دی [چي امام محمد رَحِمَهُ اللهُ دلته [په متن کي] داشارې او کتابت تر مينځ جمع کړې ده [يعني دواړه يې يو ځای بيان کړي دي له څه فرق او توقيت څخه بغير] فَقَالَ: أَشَارَ أَوْ كَتَبَ او هغه داسې فرمايلي دي: چي أشار أو كتب وَإِنَّمَا تَسْتَوِيَانِ لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حُجَّةٌ ضَرُورِيَّةٌ او دوی دواړه [اشاره او کتابت] سره برابر دي ځکه چي له دوی څخه هر يو دضرورت پر بناء حجت دی وَفِي الْكِتَابَةِ زِيَادَةُ بَيَانٍ لَمْ يُوجَدْ فِي الْإِشَارَةِ او په کتابت [ليکنه] کي

څه زیات بیان [وضاحت] سته کوم چي په اشاره کي نسته وَفِي الْإِشَارَةِ زِيَادَةُ أَمْرٍ لَا يُوجَدُ فِي الْكِتَابَةِ او په اشاره کي بیا څه زیات داسي خبره سته کوم چي په کتابت کي نسته لِمَا أَنَّهُ أَقْرَبُ إِلَى النُّطْقِ مِنْ آثَارِ الْأَقْلَامِ ځکه چي اشاره د قلم د نښو [یعني د لیکني] په مقابله کي نطق زیاته نژدې ده فَاسْتَوَيَا نو ځکه دوی دواړه سره برابر سول.

اللغات: ﴿كتابة﴾ د نصر د باب مصدر دی: لیکل. لیکنه. ﴿استويا﴾ د افتعال له بابه د تثنیه مذکر غائب مضارع صیغه ده: سره برابر پدل.

تشریح: فرمایي مخکي چي په متن کي (کوم چي د جامع صغیر عبارت دی) دا مسئله ذکر سوه "وَإِذَا كَانَ الْأَخْرَسُ يَكْتُبُ كِتَابًا أَوْ يُومِي إِيمَاءً يُعْرَفُ بِهِ إلخ" (چي تر اوسه د هغې بیان شروع وو). د دغه مسئلې عبارت په ښکاره توګه پر دې دلالت کوي چي لیکنه او اشاره دواړه سره برابر دي او د دواړو حکم یو دی او یوه ته پر بل هیڅ فوقیت او ترجیح حاصله نه ده یعني که چیري اخرس (ګونګی) پر لیکنه قادر وي خو بیا هم هغه په اشاره سره اقرار وکړي نو هم د هغه اشاره جائز او معتبره ده. لهذا له دغه عبارت څخه دا خبره څرګنده سوه چي بعضي حضراتو چي کوم دا وهم کړی دی چي کله اخرس پر لیکنه قادر وي. نو بیا د هغه اشاره معتبره نه ده: چي د هغوی دلیل دا دی چي اشاره حُجّت ضروریه دی یعني اشاره د ضرورت پر بناء حُجّت او معتبره ګرځول سوې ده (چي اخرس له تکلم څخه عاجزه دی) او قاعده دا ده چي "الضَّرُورَةُ تَتَقَدَّرُ بِقَدْرِ الضَّرُورَةِ" یعني کوم شی چي د ضرورت پر بناء ثابت وي هغه صرف د همدې ضرورت په اندازه ثابتیږي. او دا معلومه خبره ده چي کله اخرس پر لیکنه قادر وي نو بیا اشارې ته هیڅ ضرورت نسته. نو ځکه په دې وخت کي به د هغه اشاره بالکل معتبره نه وي.

صاحب دهدایې رَحِمَهُ الله فرمایي چي دا فقط د هغو یو وهم دی کوم چي صحیح نه دی: ځکه چي امام محمد رَحِمَهُ الله په متن (د جامع صغیر په مذکوره عبارت) کي دواړه سره یو ځای له څه فرق او فوقیت څخه بغیر بیان کړي دي. او دا خبره چي اشاره د ضرورت پر بناء ثابته ده صحیح نه ده. بلکي اشاره او کتابت (لیکنه) دواړه د ضرورت پر بناء ثابت دي او دواړه حجت ضروریه دي (کوم چي له تکلم څخه د عاجزه کېدلو پر بنیاد ضرورتاً ثابت دي او اصل خو تکلم او نطق دی). او په دوی کي یوه ته پر بل هیڅ فضیلت او فوقیت حاصل نه دی: ځکه که په یوه اعتبار سره کتابت افضله او قوي دی نو په بل اعتبار سره اشاره افضله ده. یعني کتابت که په دې وجه افضله دی چي هغه تر اشارې زیات واضح او څرګند وي او له هغه څخه په ښه توګه خبره فهمول کیږي. نو اشاره بیا په دې وجه افضله ده چي اشاره نطق او

خبرو ته زياته نژدې ده څکه چي اشاره هم په اعضاو (يعني په سر وغيره) سره کيږي او نطق هم په اعضاو (ژبه) سره کيږي. نو په يوه اعتبار سره کتابت افضله دی او په بل اعتبار سره اشاره افضله ده. لهذا يو پر بل څه فضيلت نه لري بلکي دواړه سره برابر دي. نوځکه پر کتابت د قدرت لرلو باوجود به هم اشاره جائز او معتبره وي.

د هغه کس د اشارې حکم چي د يو عارض په وجه يې ژبه يوه يا دوې ورځي بنده سوې وي

وَكَذٰلِكَ الَّذِيْ صَمَتَ يَوْمًا أَوْ يَوْمَيْنِ لِعَارِضٍ او همدارنګه هغه کس کوم چي د څه عارض په وجه يوه ورځ يا دوې ورځي چپ پاته سي لِمَا بَيَّنَّا فِي الْمُعْتَقَلِ لِسَانُهُ د هغه دليل په وجه کوم چي موږ د هغه کس په هکله بيان کړی چي ژبه يې بنده سوې وي أَنَّ آلَةَ النُّطْقِ قَائِمَةٌ چي د نطق آله موجوده ده وَقِيْلَ: هٰذَا تَفْسِيْرٌ لِمُعْتَقَلِ اللِّسَانِ او ويل سوي دي: چي دا [يعني الذي صمت يوما او يومين] د معتقل اللسان تفسير دی.

اللغات: ﴿صمت﴾ د نصر د باب ماضي ده: خاموش کېدل، چپ پاتېدل. ﴿عارض﴾ د نصر له بابه فاعل دی: عارضېدونکی (پېښېدونکی) آفت او مرض، مانع، حائل. جمع: عَوَارِض. ﴿نُطق﴾ د ضرب د باب مصدر دی: خبره او وينا کول (تکلم کول). النطق: وينا.

تشريح: مخکي ذکر سوه چي د معتقلُ اللسان يعني د هغه کس چي د يو عارض په وجه يې ژبه بنده سوې وي (کوم ته چي موږ عارضي ګونګی ويلي وه) د هغه اشاره معتبره نه ده. چي د هغه عبارت داسي وو "وَلَا يَجُوْزُ ذٰلِكَ فِي الَّذِيْ يُعْتَقَلُ لِسَانُهُ". نو دلته پر هاغه عبارت دا مذکوره عبارت "كَذٰلِكَ الَّذِيْ إلخ" عطف کړې سوی دی (يعني هاغه مخکينی عبارت معطوف عليه دی او دا مذکوره عبارت معطوف دی) يعني څرنګه چي د معتقلُ اللسان اشاره جائز او معتبره نه ده. همداسي د هغه کس اشاره هم معتبره نه ده. کوم چي د يو عارض په وجه تريوې ورځي يا دوو ورځو پوري چپ چاپ پاته وي او ژبه يې بنده وي؛ ځکه په هغه کي هم د نُطق آله يعني ژبه موجوده ده او په يو درجه کي هغه پر نُطق او تکلم قادر دی.

بعضي حضراتو ويلي دي چي دا عبارت د معتقلُ اللسان تفسير دی (او مخکي هم موږ ضمناً اشرف الهدايې په حواله سره د معتقلُ اللسان تفسير بيان کړی يعني که يو کال د هغه ژبه بنده وي نو هغه د اخرس "ګونګي" په حکم سره دی او اشاره يې معتبره ده. لهذا که تريوه کال کم وي نو د هغه اشاره معتبره نه ده. او هلته سو بل قول هم ذکر کړی دی).

که چیري ذبح کړل سوي پسونه او مردار سوي پسونه سره ګډوډ سي، نو څه حکم دی؟

قَالَ [امام محمد رَحِمَهُ الله په جامع صغیر کي] فرمايي وَإِذَا كَانَ الْغَنَمُ مَذْبُوحَةً وَفِيهَا مَيْتَةٌ او کله چي پسونه ذبح کړل سوي وي او په هغوی کي مردار [مردار سوي] پسونه هم وي فَإِنْ كَانَتِ الْمَذْبُوحَةُ أَكْثَرَ نو که مذبوحه پسونه زیات وي تَحَرَّى فِيهَا وَأَكَلَ نو په هغوی کي دي تحری وکړي او [خوری دي] وخوري وَإِنْ كَانَتِ الْمَيْتَةُ أَكْثَرَ أَوْ كَانَا نِصْفَيْنِ او که مردار پسونه زیات وي یا دواړه نیم په نیمه وي لَمْ يُؤْكَلْ نو نه به خوړل کیږي وَهٰذَا إِذَا كَانَتِ الْحَالَةُ حَالَةَ الْإِخْتِيَارِ او دا [حکم] هغه وخت دی کله چي حالت د اختیار حالت وي [نه د اضطرار او ضروت حالت] أَمَّا فِي حَالَةِ الضَّرُورَةِ يَحِلُّ لَهُ التَّنَاوُلُ فِي جَمِيعِ ذٰلِكَ لیکن د ضرورت [او اضطرار] په حالت کي د هغه لپاره په دې صورتونو کي خوړل حلال [روا] دي لِأَنَّ الْمَيْتَةَ الْمُتَيَقَّنَةَ تَحِلُّ لَهُ فِي حَالَةِ الضَّرُورَةِ ځکه [کله چي] په یقین سره مردار سوی څاروی د ده لپاره د ضرورت په حالت کي حلال دی فَالَّتِي تَحْتَمِلُ أَنْ تَكُونَ ذَكِيَّةً أَوْلَى نو هغه څاروی چي احتمال پکښي سته چي هغه به مذبوحه وي په درجه اولیٰ حلال وي [یا په بله وینا دا چي کوم څاروی د مذبوح کېدلو احتمال لري نو هغه به په طریقه اولیٰ سره حلال وي] غَيْرَ أَنَّهُ يَتَحَرَّى خو هغه به تحری کوي لِأَنَّهُ طَرِيقٌ يُوصِلُهُ إِلَى الذَّكِيَّةِ فِي الْجُمْلَةِ ځکه تحری داسي طریقه ده کوم چي هغه په یو درجه کي مذبوح څاروي ته رسوي فَلَا يَتْرُكُهُ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ نو ځکه بغیر له ضرورته به تحری نه پرېږدي.

اللغات: ﴿الغنم﴾ د "غَنَم" لفظ اسم جنس دی. پسونه، بزې (وزې) ټوله په دې لفظ کي داخل دي. مذکر او مؤنث دواړو لره شامل دی. واحد یې من غیر لفظه شَاةٌ دی او له خپل لفظ څخه واحد نه لري. (موږ د آساني لپاره د دې ترجمه په پسونو سره کړې) او دې ته د "غَنَم" ویلو وجه دا ده چي پسونه او بزې نه د جهاد آلې دي او نه د دفاع آلې دي بلکي د هر چا لپاره غنیمت دي (مصباح المنير - معجم لغة الفقهاء). ﴿میتة﴾ مردار سوی (یعني هغه حیوان چي په خپل مرګ مړ سوي وي. اَلْمَيْتَةُ مِنَ الْحَيَوَانِ مَا مَاتَ حَتْفَ أَنْفِهِ (مصباح). ﴿تحرّی﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: طلب او پلټنه کول. غور او فکر کول. د دې اصل معنیٰ ده: طَلَبُ الْأَحْرىٰ. د زیات مناسب او زیات لائق طلب کول. یعني د داسي څه طلب کول کوم چي د دلیل له رویه زیات مناسب وي. ﴿متیقنة﴾ د تفعّل له بابه د واحد مؤنث مفعول صیغه

ده: یقیني کړی سوی (یقیني). په یقیني توګه ثابت. ﴿ذکیة﴾ ذبح کړی سوی. حلال کړی سوی.
﴿یوصله﴾ دافعال د باب مضارع ده. أَوْصَلَ يُوْصِلُ إِيْصَالًا: رسول.

تشریح: صورت د مسئلې: دا دی که په یو ځای کي یا مثلاً په یوه رمه کي څو پسونه ذبح کړل سوي (حلال کړل سوي) وي او څو پکښي خپله مردار سوي وي (یعني بغیر ذبح کولو مړه سوي وي). خو بیا نامعلومه نه کړل سي چي په دې کي کوم پسونه مذبوحه دي او کوم یې مردار دي. نو په دې صورت کي به تر ټولو مخکي ته دې کتل کیږي چي مذبوحه (ذبح کړل سوي) پسونه زیات او غالب دي او که مردار پسونه؟. که چیري مذبوحه پسونه له مردارو پسونو څخه زیات وي. نو مالک دي تحرّي او پلټنه پکښي وکړي او له تحرّی څخه وروسته چي هغه کوم پسونه مذبوحه وګڼي (چي په یو نښاني سره داورته معلومه سي چي دا مذبوحه پسونه دي)، نو د هغه پسونو خوړل د ده لپاره حلال او روا دي لهذا په ښه اطمینان سره هغه خوړلای سي. او که چیري مردار پسونه زیات وي یا مذبوحه او مردار پسونه سره برابر وي، نو بیا د هغوی خوړل حلال او روا نه دي.

وَهٰذَا إِذَا كَانَتْ إِلَخْ: فرمایي چي مذکوره حکم په هغه صورت کي دی کله چي د اضطرار او مخمصې حالت نه وي یعني دا حکم د اختیار په حالت کي دی. لېکن که د اضطرار او مخمصې حالت وي. نو بیا بغیر له څه فرق څخه مذبوحه او مردار ټوله پسونه حلال دي تر دې چي په هغه سره د اضطرار حالت دفع کړی سي، ځکه د اضطرار او مخمصې په حالت کي چي کله د معلوم مردار پسه خوړل هم حلال دي نو په کوم پسه کي چي د مذبوحه کېدلو او حلال کېدلو احتمال وي. د هغه خوړل خو به په درجه اولیٰ روا وي. خو دلته دا خبره په یاد لرئ! چي د اضطرار په حالت کي به هم انسان تحرّی کوي (که چیري د هغه ګنجائش وي). ځکه تحرّي او پلټنه کول داسي شی دی چي د هغه په ذریعه انسان مذبوح ښاروی ترلاسه کولای سي (یا په بله وینا دا چي تحرّی ومذبوح ښاروي ته د رسېدلو ذریعه ده). نو ځکه بېله ضرورته به د اضطرار په حالت کي هم تحرّی نه پرېږدي. ها! که چیري د اضطرار او مخمصې حالت ډیر سخت وي چي په تحرّي کولو او ځنډ کولو سره د انسان د مرګ خطره وي. نو په دې صورت کي له څه تحرّی او پلټني څخه بغیر د هغه لپاره خوړل حلال دي.

دا حکم او تفصیل زموږ په نېز دی او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په دې کي اختلاف دی چي هغه به په راروان عبارت کي ذکر سي.

د امام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب او د احنافو دليل

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَجُوزُ الْأَكْلُ فِي حَالَةِ الِاخْتِيَارِ او امام شافعي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې د اختيار په حالت کې خوړل جائز نه دي وَإِنْ كَانَتِ الْمَذْبُوحَةُ أَكْثَرَ که څه هم ذبح کړل سوي پسونه زيات وي لِأَنَّ التَّحَرِّيَ دَلِيلٌ ضَرُورِيٌّ ځکه چې تحری د ضرورت په وجه دليل دی فَلَا يُصَارُ إِلَيْهِ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ نو ځکه له ضرورت څخه بغير به د هغه وطرف ته رجوع نه کول کيږي وَلَا ضَرُورَةَ او [دلته] هيڅ ضرورت نسته لِأَنَّ الْحَالَةَ حَالَةُ الِاخْتِيَارِ ځکه چې حالت د اختيار حالت دی وَلَنَا: أَنَّ الْغَلَبَةَ تُنَزَّلُ مَنْزِلَةَ الضَّرُورَةِ فِي إِفَادَةِ الْإِبَاحَةِ او زموږ دليل دا دی: چې غالب والی [زيات والی] د روايېنت په فايده کولو کي د ضرورت په منزله ګرځول کيږي أَلَا تَرَى أَنَّ أَسْوَاقَ الْمُسْلِمِينَ لَا تَخْلُو عَنِ الْمُحَرَّمِ وَالْمَسْرُوقِ وَالْمَغْصُوبِ آيا ته نه ګوری! چې د مسلمانانو بازارونه له حرامو شيانو او له غلا کړل سوي او غصب کړل سوي شيانو څخه خالي نه وي وَمَعَ ذَلِكَ يُبَاحُ التَّنَاوُلُ خو د دې سره [د حلالو شيانو] اخيستل جائز دي اِعْتِمَادًا عَلَى الْغَالِبِ پر غالب په اعتماد کولو سره وَهَذَا لِأَنَّ الْقَلِيلَ لَا يُمْكِنُ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ او دا ځکه چې له لږ مقدار څخه بچ کېدل ممکن نه دي وَلَا يُسْتَطَاعُ الِامْتِنَاعُ مِنْهُ او له هغه څخه د منع کېدلو طاقت نسته [يعني له هغه څخه منع کېدل د انسان په وس او اختيار کي نه دي] فَسَقَطَ اِعْتِبَارُهُ دَفْعًا لِلْحَرَجِ نو ځکه د حرج ليري کولو په خاطر د لږ مقدار اعتبار ساقط سو كَقَلِيلِ النَّجَاسَةِ وَقَلِيلِ الِانْكِشَافِ لکه لږ نجاست او لږ لڅوالی بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَا نِصْفَيْنِ په خلاف د هغه صورت کله چې هغوی دواړه [يعني مذبوحه او مردار پسونه] نيم په نيمه وي أَوْ كَانَتِ الْمَيْتَةُ أَغْلَبَ يا مردار سوي پسونه [پکښې] غالب وي لِأَنَّهُ لَا ضَرُورَةَ فِيهِ ځکه چې په هغه کي هيڅ ضرورت نسته.

اللغات: ﴿التحری﴾ د تفعل د باب مصدر دی: طلب او پلټنه کول. طَلَبُ الأَحْرَیٰ. د تېر عبارت په لغاتو کي هم د دې پوره وضاحت وسو. ﴿لا يصار﴾ د ضرب له باب څخه د نفي مجهول صيغه ده. صَارَ يَصِيرُ صَيْرًا وَ صَيْرُورَةً: ګرځېدل. د دې باب په صله چې إِلیٰ ذکر سي نو معنیٰ يې ده: رجوع کول. ﴿تُنَزَّل﴾ د تفعيل د باب مضارع مجهوله ده (صحيح همدا ده چې دلته د تفعيل له بابه مستعمل دی): شوه کول. تنزل منزلةَ: يو شی د بل په درجه کي شوه کول (د بل شي په منزله ګرځول). يو څه د بل څه پر ځای اېښودل. د بل شي قائم مقام کول

﴿المَنزِلة﴾ مکان او مرتبه. درجه. ﴿إفادة﴾ دافعال دباب مصدر دی: فایده ورکول. فایده رسول. ﴿إباحة﴾ دا هم دافعال دباب مصدر دی: مباح کول. روا کول. الإباحة: مباح والی (روایبنت). ﴿أسواق﴾ جمع د سُوْق ده: بازار (داخیستلو او خرڅولو ځای). ﴿التناول﴾ د تفاعل دباب مصدر دی. د دې باب څو معناوي دي چې له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: اخیستل. ترلاسه کول. ﴿احتراز﴾ دافتعال دباب مصدر دی: ځان ساتل (ځان کتل). پرهېز کول. بچ کېدل. ﴿لا یُستطاع﴾ داستفعال له بابه دنفي صیغه ده: وس او طاقت لرل. واک او اختیار لرل. ﴿إنکشاف﴾ دانفعال دباب مصدر دی: ښکاره کېدل. لڅېدل. الانکشاف: اسم مصدر دی: لڅوالی (لوڅوالی).

تشریح: زموږ مذهب خو مخکې ذکر سو چې که مذبوحه (ذبح کړل سوي) پسونه له مردارو پسونو څخه زیات وي. نو له تحرّي او پلټنې څخه وروسته هغه مذبوحه پسونه خوړل حلال او روا دي که څه هم دا ضطرار او مخمصې حالت نه وي بلکې داختیار حالت وي. لېکن دامام شافعي رَحِمَهُ الله مذهب دا دی چې داختیار په حالت کې هغه مذبوحه پسونه خوړل روا نه دي که څه هم د هغوی ذبح (مذبوحه کېدل) په تحرّي سره معلوم سوي وي. برابره ده هغه مذبوحه پسونه زیات او غالب وي او که لږ وي. یا مذبوحه او مردار پسونه سره برابر وي. په هر صورت کې همدا حکم دی چې داختیار په حالت کې هغوی حلال نه دي.

لأن التحرّي إلخ: دامام شافعي رَحِمَهُ الله دلیل دا دی چې تحرّي او پلټنه ضروري دلیل دی یعني داسې دلیل دی کوم چې د ضرورت پر بناء ثابت دی او د ضرورت په وخت کې له هغه څخه کار اخیستل کېږي او قاعده دا ده چې "الضَّرُوْرَةُ تَتَقَدَّرُ بِقَدْرِ الضَّرُوْرَة" (یعني کوم شی چې د ضرورت پر بناء ثابت وي. هغه د ضرورت په اندازه مقدر کېږي. یعني هغه صرف د ضرورت په اندازه [او د ضرورت تر وخته پورې] ثابتېږي). او دلته خو هېڅ ضرورت نسته ځکه چې دا د اضطرار حالت نه دی بلکې داختیار حالت دی. نو ځکه دلته (داختیار په حالت کې) هغه مذبوحه پسونه حلال او روا نه دي که څه هم هغوی غالب او زیات وي او په تحرّي سره د هغوی ذبح (مذبوحه کېدل) معلوم سوي وي.

ولنا إلخ: زموږ دلیل دا دی چې څرنګه د ضرورت او اضطرار په وخت کې روایبنت ثابتېږي. همدغسې د غلبې او زیاتوب په وخت کې هم روایبنت ثابتېږي (یعني کله چې حلال شیان او مردار شیان سره جمع وي او حلال شیان پکښې غالب او زیات وي. نو روایبنت ثابتېږي چې د هغه حلالو شیانو خوړل جائز او روا دي). نو غلبه او زیاتوب د روایبنت او حلت په ثابتولو کې د ضرورت او اضطرار قائم مقام ګرځي. لکه څرنګه چې د مسلمانانو په بازارو کې حرام شیان هم خرڅېږي او د غلا او د غصب (مسروقه او مغصوبه) شیان هم خرڅېږي خو بیا هم د غلبې او کثرت په وجه د حلالو شیانو رانیول جائز او روا ګرځول سوي دي او د قلیل (حرامو شیانو) اعتبار ساقط کړی سوی دی. نو څرنګه چې دلته د قلیل اعتبار نه کېږي او د هغوی په وجه د حلالو شیانو رانیول نه حرامول

کیږي. نو همداسي به د پسونو په دې مذکوره مسئله کې د قلیل (څه مردارو پسونو) اعتبار نه کیږي او د هغوی په وجه به د مذبوحه پسونو خوړل نه حراموول کیږي او له تحری او پلټنې څخه وروسته به هغوی حلال ګرځول کیږي.

وهٰذا لأنّ القلیل إلخ: یعني د لږ مقدار (څه مردارو پسونو) اعتبار په دې وجه هم ساقط سوی دی چې له لږ مقدار څخه احتراز او ځان ساتل ممکن نه دي او له هغه څخه بچ کېدل د انسان په وس کې نه دي. نو ځکه د حرج او ستونزې د لیرې کولو په خاطر لږ مقدار لره اعتبار نه دی ورکول سوی او هغه ساقط کړی سوی دی. لکه څرنګه چې لږ مرداري او لږ عورت لڅېدل هم د حرج او ستونزې د لیرې کولو په خاطر ساقطُ الاعتبار او معاف کړل سوي دي ځکه چې له هغه څخه بچ کېدل ممکن نه دي. نو همداسي په مذکوره مسئله کې هم لږ مقدار معاف ګرځول سوی دی.

بخلاف ما إذا إلخ: او پاته سو هغه صورت چې مذبوحه یعني ذبح کړل سوي (حلال کړل سوي) پسونه او مردار پسونه دواړه نیم په نیمه وي. یا مردار پسونه زیات وي او د اضطرار او مخمصې حالت نه وي بلکې د اختیار حالت وي. نو مخکې ذکر سوه چې په دې صورت کې حلت او روایښت نه ثابتیږي یعني هغه مذبوحه پسونه حلال نه دي او خوړل یې روا نه دي: ځکه په دې صورت کې خو نه څه ضرورت سته او نه د ضرورت قائم مقام یعني غلبه او زیاتوب سته (یعني نه د اضطرار حالت دی او نه مذبوحه پسونه پکښې زیات دي) او له ضرورت څخه بغیر روایښت نه ثابتیږي. نو ځکه په دې صورت کې به روایښت نه ثابتیږي. فقط والله أعلم وعلمه أتم

الحمد لله! د الله ﷻ په عظیم فضل او رحمت سره نن د "۱۴۴۲" هجري کال د "ربیع الثاني" په پنځمه نېټه چې د "۲۰۲۰" میلادي کال د "نومبر" د شلمې نېټې سره سمون لري. د جمعې په مبارکه ورځ د ځانښت پر مهال د "فتح الهدیه" آخري ټوک پای ته ورسېدی. رب لایزال ﷻ دې په خپل فضل او کرم سره د نورو ټوکونو په څېر دا هم مقبول عام او ګرځوي او دا حقیر خدمت دې زمونږ لپاره او زمونږ د مور و پلار، استاذانو او خپرونکي لپاره د آخرت ذخیره وګرځوي.

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ

وَصَلَّى اللهُ عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَصَحْبِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ وَعِتْرَتِهِ أَجْمَعِينَ

بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ

احقر حبیب الرحمٰن مدني

۵/ ربیع الثانی/ ۱۴۴۲ھ

مطابق ۲۰/نومبر/ ۲۰۲۰م